أبى الله عصمة الا لكتابه

التقرير السامي

شرح الجامي

مصنف شیخ الصرف والنحو استاذ الحدیث

مولانا بادشاہ منیر مدظلہ العالی

دوم جلد

ناشر

جامعہ تعلیم القرآن

نور اللہ کمرشل جی ٹی روڈ پشاور: 0314-9074877





عظیم الشان خوشخبری

★ اب مکتبہ اشاعت آپ کے جیب میں ★

دنیا میں کسی بھی جگہ علماء جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف

Play Store اور Website سے بالکل فری انسٹال / ڈاؤن لوڈ کریں۔



انسٹال / ڈاؤن لوڈ کرنے کا طریقہ



Play Store سے " مکتبۃ الاشاعت " انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں مطلوبہ کتاب ڈاؤن لوڈ کریں نیز اپنی کتاب کو Website / Play Store پر مفت شائع کرنے کے لیے بھی رابطہ کریں۔

نوٹ

ویب سائٹ پر جماعت اشاعت التوحید والسنۃ کے تمام تصانیف مثلاً تفاسیر ، فتاویٰ جات ، شروح ، سوانح حیات ، نوٹس ، درس نظامی کے کتب وغیرہ دستیاب ہیں آپ وقتاً فوقتاً Play Store اور website پر چیک کیا کریں مزید معلومات کے لیے دیے گئے واٹس ایپ نمبر پر رابطہ کریں۔ وہاں آپ کو آسانی کے لئے مطلوبہ کتاب کا link دیا جائے گا اور آپ کو بہترین رہنمائی دی جائے گی جس سے آپ کو مطلوبہ کتاب آسانی سے ملے گا۔ پلے سٹور پر ترجمہ و تفسیر یا سورتوں کے نوعیت والے تصانیف دستیاب ہوں ہیں کیونکہ ایک PDF میں اس کا مطالعہ مشکل ہوتا ہے تو ہم نے آسانی کے لیے ہر ایک پارے کے لیے الگ الگ بٹن بنایا ہے تاکہ قارئین کے لیے پڑھنے میں آسانی ہو باقی تمام نوعیت کے تصانیف مندرجہ ذیل ویب سائیٹ پر دستیاب ہوں گے۔ جو Goggle پر مزکورہ ویب سائیٹ میں سرچ کرنے سے یا ہمارے مندرجہ بالا app " مکتبۃ الاشاعت " کو پلے سٹور سے انسٹال کرنے کے بعد ایپ میں سرچ کرنے سے ملیں گے۔ آسانی کے لیے ویب سائیٹ پر links ملاحظہ کیجئے۔ جزاکم اللہ

WhatsApp:0320-1914145

ویب سائیٹ **maktabatulishaat.com** (مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام)

مصنف: مولانا بادشاہ منیر

کمپوزنګ: مفتی محمد سلیمان ساجد

د چاپ ځای: نور اللہ کتوزئی پرنٹرز مرکز جماعت اشاعت توحید والسنت چې ګلۍ روډ پیښور: 0314-9074877

تعداد: 1000

د چاپ کال: 2014ء

قیمت: -/600

ناشر: جامعۃ تعلیم القرآن غالے ډېر

د ملاویدو پته: مکتبۃ الیمان دارالقرآن پنج پیر صوابی

اسلامی کتب خانہ صوابی

المنصوبات

﴿المنصوبات هو ما اشتمل على علم المفعولية﴾تجزيه داسی ده چه (۱) ربط (۲) د عنوان وضاحت او تشریح (۳) تعریف د منصوب (٤) اجمالي اقسام د منصوباتو (٥) وجه د حصر په اقسامو کښ (٦) تفصيل د اقسامو.

ربط:يو معنوى ربط دے بيا معنوى ربط يو دادے چه شارح بيان کړی دے و لما فرغ سره چه مصنف فارغ شو د مرفوعاتو نه نو شروع ئې اوکړه يعنی اراده د شروع ئې اوکړه په منصوباتو کښ .

سوال: نو دا منصوبات او دا مجرورات دواړه په فضلة والي کښ برابر دي نو دا منصوبات ولې په هغې مقدم کوی؟

جواب: (۱) و قدمها دواړه فضله دي خو منصوبات كثير دي په اعتبار د افرادو، اومباحثو سره او مجرورات قليل دی، او بيا كثير الاقسام او كثير المباحث مقدم وی طبعا نو مونږ وضعًا هم مقدم کړه چه وضع د طبع سره برابر شی. (۲) و لخفة النصب يعنی فتحه په نسبة د کسری خفيقه ده نو دايو قسم ته اصل شوه د وجه د خّفة نه او هغه د ثقل د وجی نه فرع شوه او اصل طبعا مقدم وی نو مونږه وضع کښې هم مقدم کړوچی دطبعے سره برابر شی.

سوال: دا خفة چه په نصب کښ راغلی دے نو داپه اعتبار د منصوباتو سره دے او دلته مونږ تقديم په اعتبار د بحث سره وايو نه په اعتبار د منصوباتو او افرادو سره نو د دې د بحث سره څه مناسبة شوه؟

جواب: چه کله په اعتبار د افرادو سره دي تقاضا د تقديم کوله په مجروراتو باندې نو مونږ د بحث په اعتبار هم دا مقدم کړل چه دا بحث دهغې سره موافق شی. (۳) منصوبات معمولات د فعل دي او مجرورات معمولات د حرف دي او فعل عامل قوی دے نو معمول ئې هم قوی دے او حرف عامل ضعيف دے نو معمول ئې هم ضعيف دے او قوی طبعا مقدم وی نو الخ (٤) دا منصوبات معمولات د فعل دي بلا واسطه او مجرورات معمولات د فعل دي خو بالواسطه او هغه معمول چه بلا واسطه وی دا اعلی وی د هغه معمول نه چه بالواسطه وی

نو بيا اعلى طبعا مقدم وى نو الخ فقال المنصوبات.... دا څلور وجوه شول او دويم ربط معنوى موئږ وئيلى وو چې دا كتاب د كافيه په دريو حصو باندې مشتمله دے (١) خطبه (٢) مقدمه الكتاب (٣) مقصود بيا په خطبه كښې درى خبرى وى او مقدمة كښې پنځه خبرى وى او په مقصو كښې درى مباحث وو يو بحث الاسم دويم بحث الفعل دريم بحث الحرف بيا په بحث الاسم كښې درى حصات دي يو مقدمه دويم مقصود دريم خاتمه نو مقدمه كښې درى خبرى دي او په مقصود كښې دوه بابونه دي باب اول معرب كښې او باب ثانى مبنى كښې او خاتمه كښې لس مباحث دى. بيا باب اول كښې پنځه امور دي يو مقدمه چه په لسو خبرو مشتمله ده او بيا مقاصد ثلاثه مقصد اول په مرفوعاتو كښې مقصد ثانى په منصوباتو كښې او مقصد ثالث په مجروراتو كښې او بله يكښې خاتمه وه چه داپه توابعو خمسو كښې ده نو چه فارغ شو ماتن د مقصد اول نه نو شروع ئې اوكړه په مقصد ثانى كښې فقال المنصوبات او هر چه ربط لفظى دے نو دلته په المنصوبات عنوان كښې تراكيب ثلاثه مع البناء جائز دي او د دې تفصيل تير شوى دے په المرفوعات كښې.

تشريح د عنوان: نو دې عنوان كښې په يو صيغه دويم معنى لغوى دريم مناسبة په درميان د معنى لغوى او اصطلاحى كښې څلورم وجه د اتيان د صيغه د جمع پنځم تعين د مفرد د المنصوبات جمع نو دا صيغه د جمع مونث سالم ده جمع د منصوب ده په لغة كښې په معنى د اودرولى شوى سره راځى او مصطلح منصوب ته ځكه منصوب وائى چه يا خو دا حركت چه په دې راځى نوپه هغه باندې شولدى په وخت د تلفظ كښې او د زيرى او يا خو منصوب فضله فى الكلام واقع كيږى نو داپورته كيږى او او درولى كيږى د كلام نه لرے كيږ ى. او دا صيغه د جمع ځكه ذكر كړه چه اشاره ده په دې كښې كثرة ته چه دا ډير دي او پنځمه خبره چه تعيين د مفرد دے نو دا موئږ اوى چه منصوب دے پوره تفصيل په المرفوعات كښې تير دے.

تعريف د منصوب: هغه ماتن كړى دے چه هو ما اشتمل الخ معنى داده چه هو دا جنس منصوب چه دلالت كوى په دې باندې المنصوبات جمع د قبيلى د دلالت د جمع نه په جنس باندې نه د قبيلى د دلالت د جمع نه په افرادو او په فرد باندې دما هغه اسم دے اشتمل چه مشتمل وى د قبيلى د اشتمال د موصوف نه په صفة باندې نه د قبيلى د اشتمال د كل نه په جزء او نه د ظرف نه په مظروف باندې على علم المفعولية په علامه دكون د شئ مفعول هو په منزله د جنس دے نول اسماء پكښې داخل دي على علم ....سره ترى علاوه د منصوباتو

خارج شول او بیا دي مغنی سره ټول اعتراضات دفع شول او هغه بیان شوی دي او شارح هم دا خپره کوی.

والمراد تعیین د معنی د علم کوی چه علامه مراد ده او قرینه پری عدم صحة د دي نورو معانیو دے او بیا کون لفظ سره اشاره ده چه دا یاء په المفعولیة کښ مصدری ده او هغه علامات اربع څلور دي چه یو فتحه ده دا عام ده لفظی او تقدیری دواړه راځی شارح دا ټول مع الامثله ذکر کړی دی.

سوال: فتحه علامه د مفعول وئیل او دغه شان کسره علامه د مفعول وئیل صحیح نه دي ځکه په مررت باحمد کښ فتحه شته دے او علامه د مفعول نه ده دغه شان مررت بمسلمات کښ کسره شته او علامه د مفعول نه ده او دغه شان جاءنی ابوان کښ الف شته او علامه د مفعول نده او دغه شان مررت بمسلمین او بمسلمین کښ یاء شته دے او علامه د مفعول نه ده .

جواب: دا څلور واړه چه مونږ علامات وایو نوبه حثیة د مفعولیة وایو او دا ته چه کوم امثله بیانوی نو دا څه په حیثیة د مجروریة دي لکه اول دوه او اخیرنی او څه د فاعلیة دي لکه دا مینځ والا مثال. بالفاظ دیگر دا څلور واړه علامات د مفعول په هغه مقام کښ دي چه داپه خپل مقام کښ واقع وی او دي امثلو کښ په خپل مقام کښ نه دی راغلی.

سوال: تا اوی چه ......کون الاسم مفعولا دے نو زه به درته اوښایم چه منصوب به وی او مفعول به نه وی لکه راکبا حال په "جاءنی زید راکبا" کښ.

جواب: عن الشارح حقیقة او حکما چه مراد زما عام دے که مفعول حقیقة وو لکه مفاعیل خمسة اوکه حکما وو لکه ملحقات د دي یعنی پکښ علامه د مفعول حقیقی راغلی وی نو دا ملحق دے د مفعول حقیقی سره .

اجمالی اقسام د منصوباتو:نو دا ټول دولس دي (۱) مفعول مطلق (۲) مفعول به (۳) مفعول فیه (٤) مفعول معه (٥) مفعول له (٦) حال (٧) تمیز (٨) مستثنی (٩) اسم د ان و اخواتها (۱۰) خبر د کان و اخواتها (۱۱) المنصوب بلا التی لنفی الجنس (۱۲) خبر د ما ولا المشبهتین بلیس.

وجه د حصر په دي اقسامو کښ:دا عامل د منصوب به خالی نه وی یا به فعل شبه فعل وی یا حرف شبه حرف وی که دا عامل فعل، شبه فعل وو نو دا معمول به ئی خالی نه وی یا

به د مفاعيلو نه وي او يا د ملحقاتو نه که د مفاعيل نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به داجزء د دي فعل وي او يا به نه وي که جزء وو نو مفعول مطلق اوکه جزء نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به دافعل په دې واقع شوی وي يا به دې کښ واقع شوی وي يا به ورسره واقع شوی وي او يا به د دي دوجی نه واقع شوي وي. که اول وو نو مفعول به اوکه دويم وو نو مفعول فيه اوکه دريم وو نو مفعول معه اوه څلورم وو نو مفعول له او که د ملحقاتو نه وو نو بيا به خالي نه وي يا به مبين وي او يا نه که مبين نه وو نو مستثنی اوکه مبيّن وو نو بيا به خالي نه وي يا به بيان د ذات کوی او يا د وصف که بيان د وصف کوی نو حال اوکه د ذات کویٔ نو بيا تمييز اوکه عامل د دې منصوب حرف، شبه حرف وو نو دا معمول به ئی خالي نه وي يا به مسند اليه وي او يا مسند که مسند اليه وو نو بيا به خالي نه وي يا به په کلام موجب کښ واقع وي او يا په کلام غير موجب کښ که په کلام موجب کښ واقع وو نو دا اسم د انّ و اخواتها اوکه کلام غير موجب وو نو دا المنصوب بلا التی لنفی الجنس اوګه دا معمول مسند وو نو بيا به خالي نه وي يا به په کلام موجب کښ واقع وي او يا په کلام غير موجب کښ که په کلام موجب کښ واقع وو نو داخبر د کانَ و اخواتها علاوه د ليس نه اوکه کلام غير موجب وو نو دا خبر د ما ولا المشبهتين بليس سره د ليس نه .

فائده: مراد په شبه حرف سره عندنا افعال ناقصه دي او دا اصطلاح ده دې کښ څوک جامعية مانعية نه ګوری.

المفعول المطلق

تفصيل : فمنه المفعول المطلق اجمالي خبرې (١) ربط (٢) لغوی تحقيق (٣) اصطلاحي تعريف (٤) امثله (٥) احکام.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د اجمال د منصوباتو نه په عنوان د المنصوبات سره نو شروع ئی اوکړه په تفصيل د هغی د اقسامو کښ نو دری سوالات راغلل جوابات بالترتيب دادی چه نفس تفصيل د وجی د دې نه کوی چه تفصيل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او بل دا چه تفصيل ته محتاج هم دے او بل دا چه وجود خارجي معلوم شي

ځکه تعریف سره وجود ذهنی معلومیږی اوپه اقسامو سره وجود خارجي ځکه طلباء د علم په دوه قسمه دي اذکیاء چه تعریف سره شئ پیژنی دویم دغیراذکیاء چه اقسامو سره شئ پیژنی خو د دواړو لحاظ شو او بیا په تفصیل کښ ادا مقدم کوی ځکه ادا جزء دے د فعل شبه فعل نه ځکه فعل اصطلاحي مرکب دے د نسبة ، حدث، زمان نه او ادا حدث پکښ هم ادا مفعول مطلق دے او دانور منصوبات اجزاء نه وو نو داپه منزله د مفرد او ادا نورپه منزله دمرکب شول او مفرد مقدم وی طبعا نو چه په منزله د مفرد وی هغه هم مقدم وی طبعا نو موٴنږ وضعا هم مقدم کړو چه موافقة راشي د وضع د طبع سره. (۲) ادا منصوبات دوه قسمه دي (۱) اصول (۲) فروع نو ادا مفاعیل خمسه اصول دي نو ادا مو مقدم کړل ځکه اصول مقدم وی طبعا په فروعو بانديٍ نو موٴنږ وضعا هم مقدم الخ بیا په دي اصولو کښ موٴنږ مفعول مطلق ځکه مقدم کړو چه ادا مقید نه وو په قید د به، فیه، معه اوله سره نو داپه منزله د مفرد او دانور مقید وو نو هغه په منزله د مرکب نو مفرد مقدم وی طبعا نو چه په منزله د مفرد وی هغه هم مقدم وی طبعا نو موٴنږ ادا وضعا الخ.

او تفصیل داسی کوی چه اول په تعیین د قسم اول اوکړی د منصوباتو نه په منه المفعول المطلق سره دویم په دهغی تعریف اوکړی وهو ما فعله سره دریم په دهغی اقسام بیان کړی و قد یکون للتاکید سره څلورم په دهغی امثله بیان کړی مثل جلست سره او پنځم په دهغی احکام بیان کړی فالاول سره .

ربط لفظی: فا تفصیلیه ده من حرف جاردے مجرور جار مجرور خبر مقدم شو په اعتبار د متعلق سره او المفعول المطلق موصوف ، صفة مبتداء موخره شوه مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه تفصیلیه شوه.

لغوی تحقیق:نو المفعول او المطلق صیغی د اسم مفعول دي لغت کښ المفعول کړده شده او المطلق ازاده کړده شده نه وائی او وجه تسمیه ورله شارح بیانوی په سمی به سره یعنی ادا هغه کړده شده دے چه اطلاق پری کیږی علاوه د قید د به، فیه، معه اوله نه.

سوال ادا خو هم مقید دے په قید د مطلق سره.

جواب: ادا قید نه دے د دي دپاره بلکه ادا دپاره دَ اظهار د معنی د اطلاق دے په دي کښ نه په حیثیة د قید سره.

اصطلاحی تعریف:ماتن کری دے حاصل دادے چه مفعول مطلق کښ به څو خبری وی یو دابه اسم وی دویم دا اسم به تعلق ساتۍ دفعل حقیقی یا حکمی سره دریم دا فعل به ذکر وی مخکښ د دې نه څلورم دا فعل به په دې اسم مشتمل وی د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء باندی. نو اسم په منزله د جنس دے تولو اسماؤ ته شامل دے فعله فاعل په منزله د فصل دے احتراز دے دهغه اسم نه چه ورسره تعلق د فاعل د فعل نه وی راغلی مذکور احتراز دے د هغه مصادرو نه چه فعل ورسره نه وی لکه الضرب واقع شو وغیره بمعناه سره احتراز دے د هغه نه چه په معنی د دې نه وی لکه ضربته تادیبا شارح د هو ضمیر مرجع متعین کوی اسم ما دال دهغه مدلول دے.

والمراد غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا تعریف دې صیح نه دے خارج شو تری نه موتا. شرافة، جسمامة په دې ترکیب کښ چه مات موتا او شرف شرافة او جسم جسماة دې دی موتا، شرافة او جسامة ته خلق مفعول مطلق وائی او تعریف پری صادق نه دے ځکه دا خو فاعل نه دې کری ځکه فعل عبارة دے د ایجاد د شئ نه او دا اشیاء خو فاعل نه دې موجود کری بلکه د دې ایجاد الله کرے دے نو دا تری نه خارج شول نو شارح جواب کوی چه مراد زمونږ قیام د دې فعل دے تر دغه فاعل پوری یعنی دا معنی مصدری چه حدث دے نودابه قائم وی تر فاعل پورې او دا بیا عامه ده که په طریقه د ایجاد او احداث سره وی اویانه وی.

سوال: نو تعریف دې جامع نه شو بلکه خارج شو تری ما ضرب زید ضربا ځکه دې فاعل سره قیام د ضرب نه دے راغلی بلکه نفی راغلی ده.

جواب: بحیث یصح حاصل دادے چه زمونږ مراد د قیام نه یوه خاص معنی ده چه اسناد د دې فعل دے فاعل ته او بیا دا عام دے که په طریقه د اثبات سره وی او که نفی سره نو ما ضرب زید ضربا د ضرب اسناد د زید ته شوی دے خو په طریقه د نفی سره دے.

"لا ان یکون" معنی داسی ده چه داسی نه ده چه وی دا فاعل مؤثر په دې فعل کښ موجودونکی دې لره فقط انما زید دفع د سوال ده چه بناء د متونو په اختصار ده نو زیادة د اسم ولی کوی صرف ما فعله کافی دے.

جواب: حاصل دادے چه دامو ځکه زیات کړو چه تعریف د مفعول مطلق جامع او مانع شی ځکه په دې دا سوال راځی چه فاعل کوم کار کوی نو هغه خو معنی او مدلول وی او دا مدلول او معنی خو مفعول مطلق نه دے بلکه دا الفاظ ده مصادرو دې او دا تری نه خارج

﴿معرب﴾

دي تعريف ورته نه دے شامل ځکه دا مفعول مطلق لفظ دے او معنی او مدلول ځو لفظ نه وی او دا مفعول مطلق ځکه لفظ دے چه دا قسم د منصوب دے او منصوب قسم د معرب دے او معرب قسم د اسم دے او اسم قسم د کلمه دے او ماخوذ په تعريف د کلمه کښ لفظ دے نو دا مفعول مطلق به لفظ وی، نو حاصل داشو چه فاعل کوم کړے دے نو هغه مفعول مطلق نه دے ولی معنی نه ده او چه کوم مفعول مطلق دے نو هغه لفظ دے فاعل نه دے کړے نو ماتن ورسره دا اسم سوا او زيات کړو چه دال دهغه مدلول دے يعنی چه کوم فاعل کړے دے نو دهغی دال دے نو دال ځو اسم دے نو دا مفعول مطلق شو .

سوال: دا ځو بحث د اسم روان دے نو بيا ولی اسم ذکر کوی؟

جواب: او بحث د اسم روان دے ځو دا دپاره د تنبيه د مبتديانو او ماشومانو طلباؤ

مذکور "بمعناه" تعريف د مفعول مطلق شروع دے ديو قيد تفصيل بيان شو دلته نه دنور و قيوداتو تفصيل دے نو فقال مذکور صفة للفعل غرض د شارح ربط لفظی بيانول دي چه دا صفة دے د فعل دپاره او مراد د فعل نه معنی مصدری ده.

سوال: زه به درته اوښايم چه خلق به ورته مفعول مطلق وائی او تعريف د مفعول مطلق به ورته شامل نه وی لکه ضرب الرقاب شو. ځکه مخکښ تری نه فعل مذکور نه دے او خلق وائی دا مفعول مطلق دے جواب عن الشارح چه دا مذکور عام دے که حقيقة وی لکه ضربته ضربا او که حکما وی بيا دا حکما دوه و قسمونو ته شامل دے يو مقدر نه لکه دا مثال چه اصل کښ دا فاضربوا ضرب الرقاب دے او دويم مفعول مطلق د شبه فعل ته ځکه دا حکما فعل دے لکه ضارب ضربا شو نو دا حکما دوه قسمه شو مقدر، شبه فعل و خرج به دا د دي قيد فائده بيانوی چه هغه مصادر چه مخکښ تری نه فعل نه وی مذکور نه حقيقة او نه حکما نو دا خارج دي لکه الضرب واقع علی زيد وغيره بمعناه دا دريم قيد بيانوی او شارح ورله ربط بيانوی چه دا صفة ثانی دے دپاره د فعل وليس المراد دا دفع د سوال ده. چه دا تعريف د مفعول مطلق يو فرد او مثال د مفعول مطلق ته نه دے شامل ځکه تا اوی چه دا مفعول مطلق په معنی د فعل مذکور سره وی اوس فعل خو د ری اشياؤ نه مرکب دے چه يو نسبة بل حدث او بل زمان دے او دا مفعول مطلق ځو صرف حدث دے له جلست جلوسا، قعدت قعودا، ضربت ضربا شو نو دي کښ جلوسا، قعودا او ضربا ته خلق مفعول مطلق وائی نو داځو په معنی د فعل مذکور سره نه شول .

جواب: حاصل دادے چه مقصد دادے چه د فعل مذکور به مشتمل وی په دې باندې د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء باندې نو اوس مثلا ضربت کښې دری اشیاء دي نو داکل شو او ضربا کښې یو شئ دے نو دا جزء شو دغه شان دانور امثله هم دي فخرج به دا اوس د دي قید فائده بیانوی. نوپه دې سره تادیبا خارج شو په ضربت تادیبا کښې دلته دا تادیبا اسم دے او مخکښې تری نه فعل مذکور دے خو دهغې په معنی باندې نه دے.

سوال: نو بیا خو د تعریف د مفعول مطلق نه هغه مفعول مطلق خارج شو چه د فعل نه بعد نه وی بلکه د مصدر نه بعد وی لکه ضربي ضربا شو اوس دا ضربا مفعول مطلق دے او دا ضربي مصدر عامل دے پکښې نو دلته خو اشتمال د کل په جزء نشته بلکه دا دواړو یو شئ دې او تاخو اشتمال شرط کړے دے؟

جواب: دلته اشتمال د کل په جزء باندې شته دے په دې شان سره چې مصدر په حین د عمل کښې په تلویل د ان مع الفعل سره وی نو دا ضربي په تاویل د ان ضربت سره دے نو داکل شو او ضربا جزء شو نو اشتمال د کل په جزء باندې راغلی دے .

سوال: نو دا روستو ضربا هم مصدر دے نو دا دې هم په تاویل د ان مع الفعل سره شی نو بیا یو شئ شو نو بیا اشتمال د کل په جزء رانغلو .

جواب: هر مصدر په تاویل د ان مع الفعل سره نه وی بلکه هغه مصدر چه عامل وی اوس دا اول مصدر عامل دے او دا دویم مصدر مفعول دے.

و کذلك خرج به غرض د شارح په دې عبارت سره دفع دیو بل سوال ده چه دا تعریف د مفعول مطلق دې مانع نه دے دادخول د غیر نه بلکه داخل شو پکښې مفعول به په کرهت کراهتی کښې داکراهتی مفعول به دے او تعریف پری د مفعول مطلق صادق دے څکه دایو اسم دے او پس د فعل نه دے او د فعل په معنی هم دے چه کوم حدث دے په کرهت کښې هغه کراهة دے نو اشتمال هم د کل دے په جزء باندې دے او شئ خو مفعول به دے مفعول مطلق نه دے.

جواب: د دې ترکیب دپاره دوه اعتباره دې یو سره مفعول به گرځی او بل سره مفعول مطلق گرځی. اوس یو اعتبار پکښې دادے چه دا کراهة د فعل په فاعل پوری په کرهت کښې قائم وی او دا فعل تری نه مشتق هم وی نو اوس دا مفعول به نه دے بلکه مفعول مطلق دے څکه

اشتمال یکښ شته دے او عینیة یکښ هم شته دے او دویم اعتبار دا چه دا کراهة د فاعل د فعل سره قائم نه وی بلکه د دغه فعل چه کوم فاعل دے نو دایه دې واقع وی نو دې اعتبار سره مفعول به دے ځکه عینیة نشته دے بلکه مغائرة دے نو فرق لفظا دادے چه مفعول مطلق وی نو مضاف به نه وی اوکه مفعول به وی نو اضافة ئی جائز دے او معنی کښ دا فرق دے چه مفعول مطلق شی نو معنی به شی ......بد ګنړم په بدو ګنړلو سره او دویم معنی به شی چه زه بد ګنړم خپل بد ګنړل او دایه هغه ځائے کښ وئیلی شی چه یو انسان په یو انسان پسی بدی خبری اوکړی او بیا هغه انسان هغه شان نه وی نو دې وائی ما هسی خبری کولی هغه می بد ګنړو ځکه اوس دا خپل بد ګنړل بیانول هغه لره بد ګنړم چه دامی ښه ندی کړی.

اقسام د مفعول مطلق:و قد یکون حاصل دادے چه مفعول مطلق په دری قسمه دے (۱) تاکیدی (۲) نوعی (۳) عددی وجه د حصر یکښ داده چه دا مفعول مطلق به خالی نه وی یا به داهو بهو (عین) جزء وی د مفهوم د دغه فعل نه بغیر د زیادة نه او یا به سره د زیادة نه وی نوکه دا نوعین مفهوم د دغه فعل وو بغیر د زیادة نه نو تاکیدی شو او که زیادت سره وو نو دا زیادت به خالی نه وی یا به په اعتبار د کیفیة سره وی او یا کمیة سره که کیفیة سره وو نو دانوعی اوکه کمیة سره وو نوعددی ان لم یکن غرض د شارح په دې عبارت سره یو تعریف کول دې د مفعول مطلق للتاکید دویم دفع دیو سوال ده چه تاکید خو دوه قسمه دے لفظی او معنوی نو لفظی خویه تکرار د لفظ اول سره وی او معنوی خویه الفاظ معدوده محصوره سره وی لك نفس، کل، اجمع وغیر. او دلته خو نه تکرار شته دے او نه دا الفاظ شته دے نودانه منم چه دا تاکید دے.

جواب: مراد زمونږ د تاکید نه هغه مصطلح تاکید نه دے چه کوم په توابعو کښ دے بلکه مراد د تاکید نه دلته لغوی دے یعنی قوة پیدا کول په دغه معنی د فعل کښ. و النوع ان دل غرض د شارح تعریف کوی د دویم قسم نو دلته یکښ دا دلالت په یوه نوع باندې کول زیادة دے په مفهوم کښ دغه شان عددی هم دے.

سوال: کله چه مفعول مطلق دیاره د نوع او عددشو نو بیا ورته مفعول مطلق وئیل نه دي پکار ځکه تعریف پری صادق نه شو په دې شان سره چه تعریف کښ مونږ اوئ چه بمعناه د فعل په معنی به وی اوس دلته خو بمعناه نه شو ځکه چه زیادت یکښ راغلو نو صحیح ده

چه اشتمال پکښ شته دے خو مع الزیادة دے نو هغه معنی نه شوه چه کومه د فعل وه یعنی معنی مصدری بلکه زیادت پکښ راغلونو دا دوه خارج دي.

جواب: حاصل دادے چه دا معنی د فعل چه ده نو دا عامه ده که مطابقی وی او که تضمنی نو اوس په مفعول مطلق للتاکید کښ دا په معنی مطابقی سره دے او په دي نورو دوه ؤ کښ تضمنی سره دے چه هغه معنی چه دا پری مشتمل دے نو هغه معنی د دي نه جزء دے.

امثله: ماتن امثله بیانوی شارح تعین د ممثل کوی بکسر الجیم په دي جلسة او جلسة کښ تجنیس خطی وو نو دپاره د دفع د التباس شارح تعریف کوی دهر واحد.

احکام: فالاول دا اوس احکام بیانوی دپاره د مفعول مطلق نو حاصل ددی حکم دادے چه مفعول مطلق تاکیدی نه تثنیه او نه جمع کیږی او دا دوه نور چه نوعی او عددی دے دا تثنیه او جمع کیږی.

ای الذی غرض د شارح په دي عبارت سره یو تعین د اول کوی او دویم دفع د وهم کوی چه د اول نه په مراد اول اضافی وی نو بیا دا مفعول مطلق للنوع هم اول دے په نسبة سره عددی ته او دهغی تثنیه او جمع کول خو ناروا ندی نو شارح داوهم دفع کړو چه مراد په اول سره حقیقی دے نه اضافی لانه دال غرض د شارح د دي حکم دپاره دلیل بیانول دی.

حاصل ئی دادے چه مفعول مطلق للتاکید په داسی ماهیة دلالت کوی چه هغه د تعدد سره منافی دے نو هر هغه شئ چه مستلزم وی تعدد لره هغی سره به هم منافی وی لکه تثنیه او جمع شوه فلا یقال سره پری تفریع کوی بخلاف اخویه الذین سره شارح داخوینو تعین کوی چه هغه نوعی او عددی دے لکه مثلاجلست جلستین یا جلسات وغیره شول.

"و قد یکون بغیر لفظه" غرض د ماتن دویم تقسیم دے په مفعول مطلق کښ چه دا مفعول مطلق په اعتبار د لفظ سره په دوه قسمه پاندي دے یومن لفظه دویم من غیر لفظه دے لکه ضربت ضربا داول مثال دے او دا دویم په دوه قسمه دے یو چه مغائرة پکښ ماده کښ وی لکه قعدت جلوسا او دویم چه مغائرة پکښ باب کښ وی لکه انبت الله نباتا انبت مزید او نباتا مجرد دي البته په معنی کښ اتحاد شته دے ای مغائر غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی چه دا مفعول مطلق به غیر وی د لفظ نه نو دا مفعول مطلق خو قسم

د لفظ نه دے کما مر او نه وائی چه غیر لفظ به وی؟ بالفاظ دیگر تا محکښ اوی چه فعل نه مذکور وی او دابه د هغی په معنی باندي وی نو اوس چه دا مفول مطلق بغیر د لفظ د دغه فعل مذکور نه شو نو د فعل مذکور نه نه شو بلکه غیر دهغی نه شو نو دا خو بیا مفعول مطلق نه شو بلکه خارج شو تری نه.

جواب: زما مقصد دادے چه دا مفعول مطلق به لفظ وی خو بدل او غیر به وی د ما قبل فعل مذکور نه یعنی فعل به ورله ذکر وی او دابه لفظ هم وی خو دهغی فعل نه به مغائر وی په لفظ کښې.

سوال: نو داخبره خو د تعریف نه معلومه شوی ده په دې شان سره چه ماتن بمعناه اوی چه اتحاد فی المعنی به وی نو توجه ئې لفظ ته اونکړه نو معلومه شوه چه اتحاد فی اللفظ ضروری نه دے نو ذکر د دې دی مقام کښې مستدرك شول.

جواب: او دا خبره د تعریف نه معلومه شوی ده خو دلته دپاره دیوی فائدی چه دهغه تقلیل دے یعنی داحکم قلیل دے او د دې مقابل حکم کثیر دے ځکه خو قد داخل دے په مضارع باندې بیا دا مغائرة دوه قسمه دے (۱) لفظا (۲) بابا او بیا مصنف چه د مغائرة د باب دپاره کوم مثال پیش کړے دے چه انبته الله نباتا نو دې سره ئې سوال هم دفع کړے دے.

سوال: دا دے چه ځنګه دا قعدت جلوسا مثال د مغائرة لفظا دے نو دا مثال د مغائرة بابا هم دے ولی چه دا قعدت د باب د نصر نه دے او جلوسا د باب ضرب نه دے نو شارح،

جواب: اوکړو چه مراد د اختلاف او مغائرة د باب نه مزید او مجرد کیدل دي نه هغه چه تاذکر کړل لکه انبته الله نباتا کښې یو مزید اوبل مجرد دے بیا ماتن مثال دهغه بیان کړو چه مغائرة پکښې په اعتبار د ماده سره وی او دهغه مثال ئې بیان نه کړو چه مغائرة پکښې په اعتبار د باب سره وی نو دې کښې اشاره کوی چه دا قلیل دے او دا بل کثیر دے اوس په دې مقام کښې دری صورتونه دي چه واقع دې په نزد د عامو نحاتو باندی. (۱) چه لفظا او معنی دواړه اتحاد وی لکه ضربته ضربا (۲) چه لفظا مغائرة وی او معنی اتحاد وی لکه قعدت جلوسا (۳) لفظا او معنی اتحاد وی او بابا مغائرة وی لکه انبته الله نباتا شو. او هر چه څلورم صورت دے چه لفظا، معنی او بابا دری واړه مغائرة پکښې وی نو دا مفعول مطلق نه دے لکه ضربته تادیبا کښې دا تادیبا شو و سیبویه یقدر غرض د شارح په دې عبارت سره بیان

الاختلاف ذکر کوی. هغه داسې چه داموږ کوم تفصیل اوکړو نو دا مسلك دعامو نحاتو دے چه مفعول مطلق من غیر لفظه دے اؤ هر چه رئیس النحاة سیبویه دے نو هغه وائی چه مفعول مطلق من غیر لفظه نشته دے او دا قعدت جلوسا چه راغلی دے نو دایه اعتبارد دتقدیر د د عامل دجلوسا سره دے ای قعدت و جلست جلوسا او انبته الله فنبت نباتا د نو جمهور سیبویه ته وائی چه دلته خو داخبره کوی خو قران کښ الله فرمائی لا یضرونه شیئا نو دلته خو تقدیر د عامل د باب د شیئا ته نشی راتلی ځکه د دې د جنس نه باب نشته دے او خلق خو دي ته هم مفعول مطلق وائی نو هغه جواب کوی چه دلته دا شیئا په معنی د قلیلا سره د ے او دایه اعتبار د موصوف محذوف سره دے اصل کښ دا ضرا قلیلا دے نو ضرا مفعول مطلق دے او دي ته مجازا وائی نو بیا ورته جمهور داخبره کوی چه په دي کښ خو دا تاویل کوی خو په مشهوره مقوله دعربو کښې به څه جواب کوی چه حلفت یمینا دے اوس یمیناً مفعول مطلق دے او دانه په تقدیر د عامل سره دے د دې د جنس نه عامل نشی راتلی او نه په صفة وغیره سره دے.

و قد یحذف کله چه فارغ شو مصنف د اقسامو او د احکامو وجودیونه نو شروع شویه هغه احکام کښ چه عدمیه وی او بیا دا عدم په دوه قسمه دے یو اصلی او دویم عارضی اصلی مقدم وی په وجود پاندې په ممکناتو کښ او عارضی د وجود نه موخر وی نو ځکه ئی روستو کړل بیا دا دوه حکمونه دي یو صریحی چه کله کله حذف د مفعول مطلق په وقت د حصول د قرینه کښ وی دویم ضمنی حکم هغه دادے چه دا مفعول مطلق به ذکر ډیر وی او دا خبره د قد نه معلومیږی چه دا داخل دے په مضارع پاندې نو دوه سوالات راغلل یو چه داحذف ولې کیږی؟ دویم چه راذکرولی اکثر وی نو ذکر اکثر ځکه وی چه فائده اکمله اشمله او اسهله په ذکر کښ ده او حذف ځکه چه قرینه وی کما سیاتی شارح وائی الناصب للمفعول المطلق غرض د شارح په دي عبارة سره دفع د دوه ؤ سوالو ده.(۱) داخو خروج د بحث نه راغئ ځکه بحث د مفعول مطلق شروع دے او ته فعل ته لاړې؟ (۲) ځنګه چه فعل حذف کیږی نو شبه فعل هم حذف کیږی لکه ته دیو کس نه تپوس اوکړې چه زید د چا وهونکی دے نو جواب کښ تاته اوئیلی شی چه ضربا لعمر و ای زید ضارب ضربا لعمرو نو بیا تخصیص د فعل ولې کوی؟

جواب: شارح والي چه ذكر د خاص او مراد عام دے چه ناصب دے نو خروج د بحث نه هم رانغلو ځكه دا دهغې عامل دے او د شئ د عامل نه بحث كول دهغه شئ نه بحث دے او تخصيص هم رانغئ د فعل سره بلكه عام مراد شو نو شبه فعل ته شامل دے۔

سوال: نو بيا به دې الناصب وئيلى وى كنه.

جواب: په تصريح د فعل باندې اشاره ده اصالة د فعل ته په عمل كښ لقيام قرينه په وقت د حصول د قرينے كښ دې معنى سره دفع د سوالاتو اوشوه هغه مخكښ تير شوى دى، جوازا دا حكم په جوازى وى يعنى په حذف جائز سره كقولك مثال بيانوى خير مقدم لكه خوش امديد پخير راغلے سترے مه شى شول نو دا اصل كښ قدمت قدوما خير مقدم دے نو دا قدمت فعل حذف شو او قرينه په نفس حذفية باندې نصب د خير مقدم دے او په تعين د محذوف باندې قرينه حالت د مسافر دے سوال خير مقدم مثال پيش كول دپاره د مفعول مطلق صحيح نه دې ځكه خير اسم تفضيل دے او مفعول مطلق خو مصدرى وى۔

جواب: داپه اصل كښ قدمت قدوما خير) دے او قدوما موصوف او دا خير مقدم وړله صفة دے نو اصل كښ دا قدوما مفعول مطلق دے خو دا حذف شو او دا صفة د دې قائم مقام شو. (۲) داپه اعتبار د مضاف اليه سره مفعول مطلق دے په دې شان سره چه داخير مضاف او مقدم مضاف اليه دے نو دا مقدم مفعول مطلق دے نو مضاف دلته د مضاف اليه نه مصدرية كسب كړو لكه څنګه چه مضاف د مضاف اليه نه تعريف، بناء وغيره كسب كوى نو داسى مصدرية هم دے۔

سوال: داخير خو اسم تفضيل هم نه دے صحيح ولى چې اسم تفضيل د مذكر شى نو هغه په وزن د افعل وى و د مونث نه په وزن د فعلى وى او دلته خو دا يو وزن هم نه دے۔

جواب: دا اسم تفضيل دے او د مذكر نه دے او په وزن د افعل دے خو دې كښ كاروائى شوى ده نو خير شوى دے۔

ووجوبا سماعا هر كله چه فارغ شو مصنف ديو حكم عدمى د مفعول مطلق نه چه حذف د عامل ناصب د مفعول مطلق وو جوازا نو شروع ئې اوكړه په بل حكم كښ چه داهم حذف دعامل ناصب د مفعول مطلق دے وجوبا بيا دا دوه قسمه دے (۱) سماعى چه سمع ئې د عربو نه په داسى طريقه شوى وى چه قانون او ضابطه ترې نه نه جوړيږى (۲) قياسى چه

سمع ئې د عربو نه په داسې طريقه شوې وي چه قانون او ضابطه لرې نه جوړيږي فقال و وجوبا اى حذفا واجبا غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره ده چه دا وجوبا عطف دے په جوازا بانديي او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وي په معطوف کښې نو تقدير د عبارت به شي و قد يحذف الفعل الخ بيا دا وجوبا منصوب وو نو شارح ورله علت د نصب اوښودوچه دا مفعول مطلق دے او دفع د سوال هم اوشوه چه مفعول مطلق کښې خو اشتمال شرط دے او دلته خو داسې فعل نشته چه په وجوبا مشتمل شي نو جواب اوشو چه دا مفعول مطلق مجازى دے نو اشتمال پکښې شرط نه دے نو دا اصل کښې په اعتبار د موصوف مقدر سره دے اى حذفا وجوبا.

سوال دا وجوبا صفة د حذفا صحيح نه دے ولې چه صفة په موصوف حمل وي او دلته خو حمل نه دے صحيح ولې دا حذفا او وجوبا دواړه مصادر دي او په مصادرو کښې حمل په معنى د ترادف سره وي او دلته خو حذف او وجوب جدا جدا دي.

جواب: اى حذفا واجبا اوس حمل دصادرو او نه شو نو ترادف ضرورى نه دے سوال اوس هم حمل دواجبا په حذفا بانديي نه دے صحيح ولې چه دا حمل د ذات دے په وصف بانديي او دانارواد دے.

جواب: او دا ناروا دے خو په هغه مقام کښې چه دا موصوف د صفة د افرادو نه فردنه وي او دلته دا حذف د واجبا د افرادو نه دے نو حمل صحيح دے سماعا دا بل صفة دے د دې حمل هم صحيح نه وو نو شارح اوى سماعيا او منسوب په حکم د مشتقى کښې وى موقوفا الخ غرض د شارح پو تعريف د سماعى کوى دويم دفع د اعتراض ده چه تا دلته سماعى او قياسى اوى نو مسائل د نحوخو ټول په سمع د عربو نه بناء دي نو ته څنګه قياسى وائې.

جواب: او دا خبره ده خو مراد د سماعى نه دادے چه سمع ئې د عربو نه شوې وي په داسې طريقه چه قانون ترې نه نه جوړيږي او د قياسى به هم دې تعريف اوکړى چه سمع د عربو نه داسې شوې وي چه قانون او ضابطه ترې نه جوړيږي نو دلته چه کوم امثله دي نو دا داسې امثله دي چه دې لره څه قانون نشته دے او دا نور چه قاعده ورله وي نو هغه به راشي تفصيلا مع الامثلة نحو سقيا و رعيا دا وضاحت بالمثال دے اى سقاك الله سقيا غرض د شارح تعيين د فعل محذوف کوى چه کوم عامل دے د مفعول مطلق دغه شان دا نور امثله هم دي و الجدع غرض د شارح د جدعا معنى کوى ولې چه دا غير مشهور لفظ وو فانه لم يوجد داخبره

مونږ کړی وه چه چرته حذف وجوبي وی نو هلته څلور اشياء ضروری دي (۱) په نفس حذفية باندي قرينه (۲) په تعيين د محذوف باندي قرينه (۳) سد مسد د محذوف (٤) علت او سبب د حذف نوپه نفس حذفية باندي قرينه دا نصب د دي مصادرو دے چه دامنصوب دي او ناصب موجود نه دے نو عقل د معلومه کړه چه ناصب ورله حذف دے او په تعيين د محذوف باندي قرينه داده چه دا محذوف حتی الامکان د جنس د مذکور نه وی نو د دي مادی نه به محذوف وی. او سد مسد سمع د عربو نه ده بغير د ذکر د عامل ناصبه نه نو دا سمع قائم مقام شوه شارح هم دا وائي چه فانه لم يوجد او علت او سبب دادے چه دا الفاظ اکثر په دعاء کښ مستعمل دي او دا دعائی کلمات دي نو دا ډير استعماليږی او کثرة استعمال تقاضا د تخفيف کوی چه داپه حذف د عامل کښ دے قيل عليه دايو اعتراض دے حاصل ئې دادے چه تا اوی چه دلته حذف د عامل ناصبه واجب دے نو داخلق خو داسی وائي چه حمدت الله حمدا وغيره نو دوی ولی ذکر کوی؟

فاجاب (۱) حاصل دادے چه دا ذکر کول کلام د فصحاء نه دے او زه د فصحاء د کلام ذمه داريم د غير د فصحاء نه يم زمه دار و بعضهم (۲) حاصل دادے چه او حذف د عامل ناصبه واجب دے خو چه کله دا مصادر استعمال شی دلام سره ای حمدا له و اشکرا له وغيره او دلته اعتراض کښ بغير دلام نه دي نو فلا اشکال .

سوال: نو چه کله مراد داسی ده چه حذف وجوبي هغه وخت دے چه مستعمل وی د"لام"سره نو دا توجيه بما لا يرضی به قائله ده ځکه ماتن خو بغير دلام نه ذکر کړی دی.

جواب: عن عبد الرحمان صيب چه مقصود د مصنف اختصار دے نو دالام ئې هم د وجې د اختصار نه پريښودی دے اگرچه قيد لازمی دے. دلته په دي مقام باندي د رضی صيب هم يو تحقيق دے چه دهغې حاصل دادے چه حذف د عامل ناصبه د هغه مصادرونه چه بدون اللام وی نو دا جائز دے واجب نه دے او حذف د عامل ناصبه د هغه مصادرونه چه مضاف وی فاعل ته او يا مفعول ته په واسطه دلام او يا بغير د واسطه نه نو دا واجب دے قياسا نه سماعا.

وقد يحذف الفعل الناصب کله چه فارغ شو ديو حکم وجوبي نه چه سماعی و نو شروع ئې اوکړه په دويم حکم وجوبي کښ چه دا قياسی دے فقال و قياسا شارح اوی و قد يحذف اشاره کوی چه دا قياسا عطف دے په سماعا باندي او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وی

په معطوف کښې ای حذفا قیاسیا هغه زړه خبره ده چه دفع د سوال وه و قد مرّ یعلم له ضابط سره تعریف د قیاسي کوی او دفع دهغه سوال ده فی مواضع شارح ورسره قید د متعدد اولګو غرض د شارح په دې بانديې دفع د سوال ده چه مواضع خو صیغه د جمع کثرة ده او د دې اطلاق په لسو او دلسونه په زیات بانديې کیږی او مصنف خو مواضع غالبا اووه بیان کړی دی نو بیا خو جمع قلت راوړل پکار وو.

جواب: (١) دا مواضع صیغه په معنی د متعددة سره ده او تعدد په اووه کښې هم دے (٢) مصنف صیغه د جمع کثرة راوړی ده نو دا اشاره ده دې خبری ته چه په نفس الامر کښې خو داسې مواضع کثیر دي خو دلته په منها سره تری نه بعض ذکر دی.

سوال: نو دا متن دے او بناء د متونو په اختصار وی نو مختصر عبارت به ئې ونیلی وو ادا مواضع لفظ به ئې پریښودی وو بس ونیلی به وو چه و قیاسا منها.

جواب یو خو په دې کښې نکتة داده چه اشاره پکښې دې ته اوشوه چه فی نفسه خو دا مواضع ډیر دي خو دلته بعض ذکر دې او دویم مصنف طریقه د فصحاء و بلغاء و اختیار کوی چه هغو اول اجمال بیان کړی او بیا تفصیل کوی نو مصنف اول مواضع سره اجمال بیانوی او بیا منها ، منها سره تفصیل کوی ځکه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی.

سوال: هر کله چه مواضع فی نفسه زیات وو نو یا به ئې ټول ذکر کړی وو او یا به ئې یونه ذکر کوو او یا به ئې هغه مواضع ذکر کړی وو چه دلته مذکور نه دي نو ماتن ولی ځلورم صورت اختیار کړو چه دائې ذکر کړل اونورنه.

جواب: ټول ذکر کول تطویل وو او یوهم نه ذکر کول بلکه ټول پریښودل هم صحیح نه وو ځکه د دې مقام حق نه ادا کیدلو او هغه نور ذکر کول او دا پریښودل هم صحیح نه وو ځکه دا مشهور او کثیر الاستعمال دي او هغه داسې نه دي نو مشهور ئې ذکر کړل ځکه دا افضل دی. او په دې تفصیل سره یو بل سوال هم دفع شو چه دا حذف وجوبي دوه قسمه شو. (١) سماعی (٢) قیاسي نو ماتن دا سماعی ولی مقدم کړو؟

جواب: هغه معدود محصور وو نو په منزله د مفرد وه او دا قیاسي خو کثیر دے نو په منزله د مرکب شو او مفرد طبعا مقدم وی په مرکب بانديې نو چه په منزله د مفرد وی دابه هم مقدم وی په هغه چه په منزله د مرکب وی طبعا نو مونږ وضعا هم مقدم کړو چه وضع د

طبع سره موافق شي. فقال منها ما وقع... الخ غرض د ماتن خو اول مقام بیانول دي د دهغه مقاماتو نه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق پکښ واجب دے په حذف وجوبي قیاسي سره د وجې د وجود د قرینې او سد مسد نه نو حاصل دادے چه په اول مقام کښ پنځه شرائط دي (۱) دا مفعول مطلق به مثبت وي (۲) دابه پس د نفی او یا د معنی د نفی نه واقع وي (۳) دا نفی به داخل وي په یو اسم باندې (۵) دا مفعول مطلق به په موضع د خبر کښ واقع وي او دا مفعول مطلق به صلاحیة د خبر نه لري دپاره د دغه اسم چه دا دې ورله خبر شي.

لکه دپاره د اجراء دا مثال چه ما انت الا سیرا دلته دا سیرا مفعول مطلق دے او مثبت دے ځکه اواستثناء پس د نفی نه اثبات پیدا کوي او د نفی نه بعد هم واقع شو ځکه داما نفی ده او دا ما نفی داخل ده په انت باندې چه اسم دے او د اسیرا په موضع د خبر کښ دے او صلاحیة د خبر دپاره د دغه اسم نه لري مګر په تاویل بعید سره ځکه داسې خو نشي وئیلی چه انت سیر ځکه حمل نه دے صحیح نو چه دې مثال کښ ټول شرائط موجود شول نو موثر اوی چه هر ځائے کښ چه داسې مفعول مطلق راشي نو دهغې نه عامل ناصبه حذف کول واجب دي په حذف وجوبي قیاسي سره د وجې د وجود د قرینې او سد مسد نه... اوس عبارت ځنګه دے؟ نو ماتن اوی ما وقع شارح اوی موضع مفعول مطلق غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده.

سوال: دادے چه داما د ځه نه عبارت دے دوه احتماله دي او غونډه سره صحیح نه دي یو داچه دا عبارت شي د مفعول مطلق نه نو بیا به لازم شي حمل د غیر موضع په موضع باندې ځکه معنی به شي چه بعض دهغه مواضع نه یو مفعول مطلق دے نو مفعول مطلق خو موضع نه دے بلکه یو شئ دے چه واقع دے په یو موضع کښ او دویم داچه دا عبارة شي د موضع نه نو بیا به لازم شي خالي والې د صلے د عائد د موصول نه په دې شان سره چه وقع صله ده او ضمیر پکښ مفعول مطلق ته راجع دے او ما موصول خو عبارت شو د موضع نه او دا دواړه کارونه ناروا دي نو شارح جواب اوکړو چه دا زه عبارت وایم د مفعول مطلق نه نو خالي والې د صلې د عائد موصول نه نه لازمیږي او که ته وائې چه حمل د غیر موضع راځي په موضع باندې نودایه حذف د مضاف سره دے اي موضع مفعول مطلق نو اوس معنی شوه چه بعض دهغه مواضع نه یو موضع د مفعو مطلق دے چه واقع وي دا مفعول مطلق الخ نو حمل هم صحیح شو مثبتا او ړید اثباته لانفیه دا دفع د یو سوال ده چه ماتنه ستا په کلام کښ

خو تعارض دے په دې شان سره چه تا اوی چه مثبت به وی یعنی کلام به منفی نه وی او روستو وائی بعد نفی یعنی کلام به مثبت نه وی نو شارح جواب اوکړو چه مراد د مثبت نه هغه دے چه اراده د اثبات ئې شوې وی نو دا کلام به منفی وی او دا مفعلو مطلق به مثبت وی په دې شان سره چه دا الا نه بعد به دا واقع وی او الا اثبات د ما بعد کوی فانه لو ارید دا اوس د دې قید فائده بیانوی د مثبتا نو دې سره احتراز اوشو د مثل دما زید یسیر سیرا چه دلته یسیر فعل ذکر دے ولې چه اراده د اثبات ئې نه ده شوې نو حذف واجب نه دے بعد نصبی داخل .

سوال: ماتن اوی چه بعد نفی او معنی نفی داخل نو مونږ پوښتنه کوو چه دا داخل د نفی سره متعلق دے او که د معنی د نفی سره که هر واحد مراد شی نو هغه بل به خارج شی او که د دواړو سره متعلق شی نو دا خو مفرد دے بیا دا خلاف پکار وو چه مطابقة راشی.

جواب: (۱) فاضل هندی وائی چه داخلا دا دواړو صفة دے خو دا په اعتبار دهر واحد سره دے (۱) شارح جامی وائی چه دا دواړو سره متعلق دے خوپه جانب د معطوفه کښ دا صفة ذکر دے اوپه جانب د معطوف علیه کښ دا صفة محذوف دے قرینه پرې ذکر د دې صفة دے په جانب د معطوف کښ معنی نفی نه مراد انما دے مقصد دادے چه دا مفعول مطلق به په موضع د خبر کښ واقع وی خو صلاحیة د خبر به پکښ نه وی مګر په تاویل بعید سره.

و انما قال علی اسم دا اوس د دې مذکور قید فائده بیانوی چه په اسم باندې دا نفی نه وی داخله بلکه په فعل داخله وی لکه ما سرت الاسیرا او انما سرت سیرا دلته حذف واجب نه دے و انما وصف دې سره د دې بل قید فائده ده چه لا یکون خبرا عنه دے نو دې سره احتراز اوشو د مثل دما سیری الاسیر شدید نه اوس دلته د اسیر مصدر خبر واقع شوی دے نو دابه مرفوع وی په خبریة سره نو دلته دا د مانحن فیه نه نه شو.

او وقع مکررا غرض د ماتن په دې عبارت سره دویم مقام بیانوی دهغه مقاماتو نه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق پکښ واجب دے په حذف وجوبی قیاسی سره د وجی د وجود د قرینې او سد مسد نه فقال او وقع نو دې مقام کښ هم څو خبرې دې (۱) دا مفعول مطلق به مکرر وی (۲) په موضع د خبریة کښ به وی د اسم نه (۲) صلاحیة د خبریة به پکښ نه وی د اسم نه نو دلته هم حذف د عامل ناصبه واجب دے.

سوال: "دکت الارض دکا دکا" کښې دا دکادکا مفعول مطلق مکرر واقع شوی دے او عامل ورسره ذکر دے چه دکت دے.

جواب: مونږ اوې چه په موضع د خبر کښې به وی د اسم نه او دلته دکادکا په موضع د خبر کښې د الارض نه نه دے و انما جمع د فع د سوال ده چه داخو دوه ضابطې دي او دوه مواضع دي نوپه يو منها کښې دي ولې راجمع کړی دی؟

جواب: دا دواړه مې ځکه په يو منها کښې راجمع کړل چه په يو شرط کښې مشترك دي چه وقوع د دې دواړو ده په موضع د خبر کښې.

سوال: نو بيا دې داسې ولې وی چه او وقع مکررا بلکه او مکررا به دې وئيلې وی؟

جواب: اشاره ده دې خبرې ته چه دا ځان لره مستقل موضع دے صرف اشتراك يو شرط کښې دے.

"ما انت الا سيرا" غرض د ماتن امثله پيش کول دي او شارح ورله تعين د فعل محذوف کوی هذان مثالان غرض د شارح په د ی عبارت سره تطبيق د مثال د ممثل سره کوی.

سوال: نو يو مثال کافي وو کنه؟ دوه ولې راوړے؟

جواب عن الشارح: (۱) دوه مثالونه ځکه چه خبر ورکوی چه دا اسم چه واقع دے په ځائے د خبر دا نکره او معرفه دواړه راځی نو يو مثال دپاره د معرفه او بل د نکره شو. (۲) دوه امثله ځکه چه يو مثال دهغه چه دا فعل د مبتداء وی پکښې لکه اول مثال شو چه ستا سير د بل ځانه او دويم مثال دهغې چه دا فعل د مبتداء نه وی بلکه دا فعل د مبتداء مشابه وی د غير سره.

ما يشبه به فعله چه فعل د مبتداء مشابه وی دهغې سره (۳) يو مثال دهغې دے چه دا مفعول مطلق مفرد وی او دويم مثال دهغې چه دا مفعول مطلق پکښې مضاف وی. دا دری جوابات شول.

اوس دلته قرينه په نس حذفية باندې دا نصب ددی مصادر و دے او په تعين د محذوف باندې قرينه داده چه محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکورنه وی او سد مسد قيام د دې مفعول مطلق دے په معونة د ما او الا سره په ځائے او مقام د عامل ناصبه باندې و انما

انت سیرا ای تسیر سیرا تعیین د فعل محذوف کوی شارح دا مثال دهغی دے چه دا پس د معنی د نفی نه وی څکه دا انما په معنی دما او الا سره ده دلته هم په نفس حذفیة باندي قرینه دا نصب د دې سیرا دے او په تعین د محذوف باندې قرینه داده چه دا محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکور نه وی او سد مسد قیام د دې سیرا دے په معونة د انما سره په ځائے د عامل ناصبه محذوفه باندې وزید سیرا سیرا دا مثال د مفعول مطلق مکرر دے دلته په نفس حذفیة باندې قرینه دا نصب دے او په تعیین د محذوف قرینه داده چه دا محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکور نه وی او سد مسد قیام د دې مصدر دے په معونة د تکرار سره په مقام د عامل ناصبه محذوفه باندی.

"ومنها ما وقع" .... الخ هر کله چه فارغ شو مصنف د دوه ؤ مواضعونه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق پکښې واجب دے په حذف وجوبی قیاسی سره نو شروع ئې اوکړه په دریم موضع کښې چه دلته هم دا حکم دے فقال: د "منها ما وقع الخ" شارح وائی: "ای من المواضع الخ" تعیین د مرجع کوی بیا شارح اوی ای موضع مفعول مطلق دا هغه سوال او

جواب ته اشاره ده اوس دلته دې مثال کښې اجراء کوو نو ﴿فشدوا الوثاق فاما منا بعد و اما

فداء﴾ اوس دلته دا منا او فداء مفعول مطلق دے او د دې عامل ناصبه محذوف دے په حذف وجوبی قیاسی سره د وجې د وجود د قرینې او سد مسد نه اوس دلته دا قیاسی دے نو قاعده داسې ده چه یو خو د دې منا او فداء نه مخکښې جمله راغلې ده دویم دا جمله په دې باندې متقدمه ده دریم د دې جملې دپاره یو مضمون هم دے چه شد الوثاق دے څلورم د دې مضمون دپاره یو اثر دے چه محتمل دانواعو کثیره و دے لکه دشد الوثاق دپاره بیا قتلول او غلام کول او احسان کول او فدیه اخستل وغیره پنځم دا مفعول مطلق دهغی اثر دپاره تفصیل او بیان واقع شوی دے، نو اوس خو داموضع قیاسی دے نو مونږ اعلان اوکړو چه چرته هم مفعول مطلق راشی سره د دې شرائطو خمسونه نو دهغی عامل ناصبه به حذف وی په حذف وجوبی قیاسی سره د وجې د وجود د قرینې او سد مسد نه.

تفصیلا لا ثر مضمون جملة ماتن اوی چه تفصیل داثر د مضمون د جملې به وی نو احتراز راغځ دهغه مفعول مطلق نه چه تفصیل واقع وی د مضمون فقط لکه زید یسافر سفره القریب او البعید دلته حذف د عامل ناصبه واجب نه دے بیا ماتن اوی چه اثر د مضمون د جملې به وی نو احتراز کوی دهغه مفعول مطلق نه چه تفصیل وی د اثر د مضمون د مفرد

لکه لزید ضرب فاما ان یتادب تادبا او یهلك هلاکا اوس دلته هم حذف د عامل ناصبه واجب نه دے ځکه دلته دا مفعول مطلق تفصیلِ د اثر د مضمون دفرد دے د جملی نه دے او هغه ضرب دے بیا ماتن اوی متقدمه نو احتراز شو دهغی مفعول مطلق نه چه تفصیل واقع وی اثر د مضمون ده جملی خو دا جمله متقدمة نه وی بلکه موخره وی لکه اما تمون منا او تفدون فداء فشدوا الوثاق دلته هم حذف د عامل ناصب واجب دے.

سوال: مراد د مضمون د جملی نه څه دے؟

جواب: شارح وائی چه مراد د مضمون د جملی نه دادے چه مصدر د دې جملی مضاف شی فاعل او یا مفعول ته لکه ضرب زید نه ضرب زید او د ضرب زید عمروا نه ضرب عمرو زید .

سوال: شارح اوی مصدرها یعنی مصدر د جملی نو مصدر خو د جملی نه وی بلکه د مشتق وی.

جواب: دا د وجی د ادنی ملابسة نه دے ځکه مصدر د مشتق وی خو دا معلومیږی د دې جملی نه.

سوال: نو جمله خو اسمیه هم راځی دهغی مضمون به څنګه وی؟ دا طریقه خو د جملی فعلیه ده.

جواب: دلته زمونږ مقصود جمله فعلیه ده اوکه ته وائی چه د جملی اسمی مضمون به څنګه وی؟ نو مونږ وایو چه دې جملے اسمیی ته به اوکتلی شی که خبر د دې مشتق وی نو دهغی مصدر به مبتداء ته مضاف شی لکه زید قائم نه قیام زید شو اوکه خبر مشتق نه وو نو بیا به د خبر په اخر کښ یاء مصدری اولګولی شی او مبتداء ته به مضاف شی لکه د زید جسم نه جسمیة زید شو او که خبر یاء نه قبلوی نو یا به پری کون داخل کړو او مبتداء به تری نه خبر شی لکه د زید هذا نه کون هذا زیدا و بالاثر شارح مراد د اثر بیانوی چه مراد په اثر سره غرض مطلوب دے .

سوال: نو تعبیر ترے اثر سره ولی کوی؟

جواب: دا ځکه چه غرض د شئ د شئ نه روستو وی لکه چه اثر پس د موثر نه وی او مراد په تفصیل د اثر سره بیان د انواعو مختلفو دے هغه انواع چه دا اثر ورله محتمل دے لکه دلته

شد الوثاق يو مضمون دے او د دي دپاره اثر دے چه هغه انواع محتمله لرى لكه قتلول احسان كول وغيرهما مثل قوله دا اوس وضاحت بالمثال كوى فشدوا الوثاق مضمون ددے شد الوثاق دے او روستو غرض ترى نه منا او فداء دے او دا تفصيل دے دهغه اثر د مضمون د دي جملى تمنون منا و تفدون فداء غرض د شارح په دي عبارت سره هغه عامل ناصبه بيانوى چه محذوف دے اوس دلته لا بدى ده دهغه امور اربعو نه (١) قرينه په نفس حذفية - باندي (٢) په تعيين د محذوف باندي قرينه (٣) سد مسد د عامل ناصبه (٤) علت او سبب د حذف نو په نفس حذفية باندي قرينه دا نصب د منا او فداء دے چه دا منصوب دے او ناصب نه وو موجود نو عقل معلومه كړه چه ناصب محذوف دے او قرينه په تعيين د محذوف باندي هغه دا خبره ده چه دا محذوف حتى الامكان د جنسه د مذكور نه وى او سد مسد هغه قيام دے د دي جمله متقدمه متادية معنى د عامل ناصب لره په مقام د عامل ناصبه باندي او علت تخفيف دے بيا دلته رضي صيب داخبره كړى ده چه دا ديو مثال سره خاص نه دے بلكه هر هغه ځائے چه پكښ طلب د مخاطب نه اوشي په امر سره او روستو ترى نه مفعول مطلق واقع شوى وى دپاره د بيان د اثر د امر لكه مثلا كلوا الطعام فاما نياما بعد او كلاما شو. نو هلته به هم دا حكم وى. ومنها ما وقع للتشبيه كله چه فارغ شو مصنف د دريم مقام نه نو شروع ئ اوكړه په څلورم مقام كښ دهغه مقاماتو نه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق پكښ واجب وى په حذف وجوبي قياسي سره د وجى د وجود د قريني اوسد مسد نه فقال و منهاما اى من تلك غرض د شارح تعيين د مرجع كوى. اى موضع مفعول مطلق غرض د شارح هم هغه وال او جواب دے كما مرا مرارا للتشبيه اوس داهم حذف قياسي دے نو مثال نه به قاعده مستفاده كيرى نو مثال دے مررت به فاذاله صوت صوت حمار اوس په دي مثال كښ صوت حمار مفعول مطلق دے نو يو خو دا مشبه به دے او دويم د مفعول مطلق نه مخكښ يو جمله هم ده چه له صوت دے څلورم دغه جمله په يو اسم باندي مشتمله ده چه دهغه اسم او د مفعول مطلق معنى يوه ده پنځم په دغه جمله كښ د دي اسم دپاره يو صاحب هم دے چه دا ضمير مجرور دے اى له اوس دا پنځه خبرې پكښ راغلى نو مونږ اعلان اوكړو چه هر مفعول مطلق چه واقع شي په داسى طريقه باندي چه مشبه به وى او دافعال جوارح نه وى او مخكښ ترى نه جمله وى او دا جمله په يو اسم هم مشتمله وى چه د مفعول مطلق او دهغه معنى يوه وى او هغه جمله په صاحب د دي اسم هم مشتمله وى نو د دي مفعول مطلق عامل ناصبه به حذف وى په حذف وجوبي قياسي سره د وجى د وجود د قريني او سد مسد نه. اوس ماتن دا ذكر كوى ترتيبا للتشبيه دا اوله

خبره ده چه دا مفعول مطلق به مشبه به وی او بیا دا خکه شرط شو چه دلالت اوکړی په تعین د محذوف باندې څکه دا محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکور نه وی.

سوال: ماتن اوئ چه للتشبیه نو داخو نسبة دے په درمیان د مشبه او مشبه به کښ نو دا امر معنوی شو او مفعول مطلق خو یو امر لفظی دے نو ته اطلاق د امر لفظی په امر معنوی څنګه کوی او بل داچه مثال د ممثل سره مطابق نه دے څکه مثال کښ دی صوت حمار طرف د تشبیه ذکر کړی دے چه مشبه به ده او دلته تشبیه وائی ممثل کښ.

جواب: شارح وائی ان یشبه به امر اخر یعنی مراد دلته مشبه به ده څکه دا مصدر مبنی للمفعول دے و احترز به د دی قید فائده بیانوی چه دی سره احتراز اوشو د لزید صوت صوت حسن نه دلته دا صوت حسن مفعول مطلق دے خو دا مشبه به نه ده په نزد د خلیل ابن احمد باندې نو دلته حذف د عامل به واجب نه وی بلکه دلته به دا صوت حسن مرفوع وی بناء بربدلیة او یا بناء بر صفتیة په خلاف د سیبویه چه دهغه په نزد کلام په اول بناء دے علاجا دا دویم شرط دے شارح وائی ای حال کونه الخ غرض د شارح په دی عبارت سره د علاجا منصوب وو نو علت د نصب بیانی چه داحال دے.

سوال: علاج خو د مریض سره تعلق ساتی نو دلته په کوم مناسبة سره ذکر شو؟

جواب: عنه دالا علی فعل الخ دلته مراد د علاج نه هغه علاج نه دے بلکه مراد دلته هغه فعل دے چه صادریږی د اعضاء ظاهریونه او بیا دا څکه شرط شو چه دلالت اوکړی په تقویت د تشبیه باندې و احترز د دی قید فائده بیانوی چه دی سره احتراز اوشو د مثل د لزید زهد زهد الصلحاء نه ولی دلته زهد مفعول مطلق مشبه به دے خو د افعال قلوب نه دے نو دا به دلته مرفوع وی بناء بر بدلیة بعد جملة د جملی نه بعد به وی او دا څکه شرط شو چه دا معاون سد مسد شی و احترز به د دی قید فائده بیانوی چه دی سره احتراز او شو د مثل د صوت زید صوت حمار نه ولی دلته صوت حمار مفعول مطلق دے او مشبه به هم ده او د افعال جوارح نه هم دے خو بعد جمله نه دے بلکه د مرکب ناقص نه پس راغلی دے نو دابه مرفوع وی بناء بر خبریة صوت زید مبتداء شوه او صوت حمار ورله خبر شو او یا به دا منصوب وی په نزع د خافض سره ای صوت زید کصوت حمار بیا حرف جر حذف شو او دا منصوب شو. مشتملة علی اسم چه دا جمله به په یو اسم هم مشتمله وی کائن دا شارح تعیین د متعلق د جار مجرور کوی ای بمعنی تعین د مرجع کوی او بیا دا خبره چه دا جمله به

په يو داسې اسم مشتمله وی چه د هغې مفعول مطلق او د دې اسم معنى يوه وی دا څلورم شرط شو چه دلالت اوکړی په تعين د محذوف بانديې په اسهله طريقې سره احترز دا د دې قيد فائده بيانوی چه په دې سره احتراز اوشو د مثل د مررت الخ نه دلته دا صوت حمار مفعول مطلق مشبه به او د افعال جوارح نه دے او مخکښ ترې نه جمله هم ده خو دا جمله په يو اسم نه ده مشتمله چه دهغې او د مفعول مطلق معنى يوه شى بلکه ضرب او صوت جدا جدا دې نو حذف به هم واجب نه وی. و على صاحبه شارح ورسره على راوړو اشاره ده چه دا عطف دے په اسم بانديې او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وی په معطوف کښ اى صاحب ذلك تعين د مرجع کوی الذى قام به معناه چه قائم وی په هغې پسې معنى د دغه اسم او دا شرط څکه واق چه دلالت اوکړی په مالا بد منه للفعل بانديې چه هغه فاعل دے نو دې سره به بل تقويت حاصل شی دپاره د راويستلو د فعل محذوف د دې قيد فائده بيانوی چه دې سره احتراز اوشو د مثل د "مررت بالبلد الخ" نه دلته دا صوت حمار مفعول مطلق مشبه به ده او د افعال جوارح نه دے او مخکښ ترې نه جمله هم ده او جمله په اسم بانديې هم مشتمله ده خو په صاحب د دغه اسم بانديې نه ده مشتمله چه په هغې پورې معنى د اسم قائم شى وجه داده چه په کښ دا ضمير بلد ته راجع دے او صوت خو په بلد پورې قائم نه دے بلکه د صوت دپاره څان لره صوت کونکى دے. بلد خو صوت نه کوی نو دلته هم حذف د عامل ناصبه واجب نه دے.

اوس يو جامع مثال دادے چه مررت به فاذا له صوت صوت حمار دلته په دې مثال کښ ټول شرائط موجود شوی دی. دا صوت حمار مفعول مطلق مشبه به هم دے او دافعال جوارح نه هم دے او پس د جملې نه هم دے چه له صوت ده او دا جمله په يو اسم بانديې هم مشتمله ده چه دهغې او د مفعول مطلق معنى يوه ده چه صوت دے او دهغې په صاحب بانديې هم مشتمله ده چه دا ضمير مجرور دے له کښ نو اوس دلته حذف د عامل ناصب د مفعول مطلق واجب دے په حذف وجوبى قياسى سره د وجى د وجود د قرينې او سد مسد نه اى يصوت غرض د شارح تعين د هغه عامل ناصبه کوی بيا دلته هم هغه څلور خبرې دي (۱) نفس حذفية بانديې قرينه (۲) په تعين د محذوف قرينه (۳) سد مسد (٤) او علت د حذف.

نو قرينه په نفس حذفية بانديې لفظ د صوت دے چه دا منصوب وو او ناصب نه وو نو عقل معلومه کړه چه ناصب حذف دے او په تعين د محذوف بانديې قرينه هم داده چه دا

محذوف د جنسه د مذكور نه وی حتی الامكان او سد مسد هغه قيام د دي مفعول مطلق دے په معونة د جمله متقدمه متادية معنى د عامل ناصب لره په مقام د عامل ناصبه باندي من صات الشئ يصوت . غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده سوال دادے چه دا صوت حمار مفعول مطلق نه دے ځکه مفعول مطلق خو مصدر وی او مصدر هغه وی چه اخر کښ تن او یا دن راځی په فارسئ کښ او دلته خو د صوت معنی ده بانگ نو مصدر به هله وو چه بانگ کردن معنی ئ وه نو شارح جواب کوی چه دا اصل کښ صوت دے د تصويت نه په معنى د بانگ کردن بیا دا حذف شو او دا صوت د هغی په مقام قائم شو نو د نائب دپاره حکم د منوب وی نو داهم مصدر شو.

فقوله دا اوس تطبيق د مثال د ممثل سره کوی سره د شرائطو نه و صراخ صراخ الشكلى غرض د ماتن دويم مثال ذکر کوی شارح ورسره و نحو مررت به لګوی اشاره ده چه دا عطف دے په فاذا له الخ باندي او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وی په سر د معطوف کښ شارح بیا دهغی فعل محذوف تعیین کوی او د ځکلی معنی کوی چه دا بوری ښځی ته وائی.

سوال: یو مثال کافی وو دویم ته څه ضرورت وو.

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندي نو (۱) يو مثال دهغی دے چه دا مفعول مطلق پکښ مضاف وی نکری ته لکه اول مثال او دويم هغه چه مضاف وی معرفی ته لکه دا دويم مثال شو (۲) اول مثال دهغی دے چه د دي مفعول مطلق تعلق وی د غیر ذی عقل سره چه حمار دے او دويم مثال دهغی دے چه د دي تعلق وی د ذی عقل سره (۳) اول مثال دهغی دے چه دا اسم او مفعول مطلق یو شئ نه وی لکه صوت د انسان غیر دے د صوت د حمار نه او دويم مثال هغه دے چه یو شی وی نو صراخ د دي انسان صراخ د ثکلی دے کنه. حاصل د دي جواباتو دادے چه دا حکم عام دے دیو نوع او يو شخص سره خاص ندے.

ومنها ما وقع مضمون جملة کله چه فارغ شو مصنف د څلور مواضعونه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق پکښ واجب وو په حذف وجوبي قیاسی سره د وجی د وجود د قرینی او سد مسد نه. نو شروع ئ اوکړه په پنځم موضع کښ چه دلته هم حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق واجب دے په حذف وجوبي قیاسی سره د وجی د وجود د قرینی او سد مسد نه فقال و منها ما وقع الخ ای من تلك الخ تعين د مرجع کوی ما وقع ای موضع الخ دا هغه

سوال او جواب دے چه اول موضع کښې مفصل ذکر شو حاصل د دې موضع دادے چه هر کله مفعول مطلق واقع شوی وی مضمون او حاصل، مفاد، مفهوم د جملې دپاره چه د دې جملې دپاره مفاد او مفهوم.اوحاصل علاوه د دې مفعول مطلق نه نو هلته به حذف د عامل ناصبه د دې مفعول مطلق واجب وی په حذف الخ لکه دلته دا مثال دے چه له علی الف درهم اعترافا دلته دا اعترافا مفعول مطلق دے چه مضمون د دې جملې دے او د دینه علاوه د بل مضمون احتمال هم نه لرې ځکه دلته دا کلمه د علی راغلې ده او دا وضع شوی ده دپاره د الزام د شئ په خپل نفس باندې په طریقه د اقرار او اعتراف په اصطلاح د فقهاء و کښې نو دلته هم حذف د عامل ناصبه الخ.

اوس شارح وائی ای لهذه الجمله نو دا تعین د مرجع کوی مضمونٌ جملة دا مضمون دلته په متن کښې منصوب راغلی دے دا حال دے د ضمیر د وقع نه او یا دا منصوب دے بناء بر خبریة دپاره د وقع چه داپه معنی د کان او یا صار دے ځکه دا وقع کله په معنی دکان او صار راځی نو وقع کښې ضمیر اسم شود دې او مضمون ورله خبر شو. لا محتمل لها غیره ددې جملې ترکیب داسې دے چه لا لنفی الجنس ده محتمل مصدر میمی دے په معنی د احتمال سره اسم دلا دے او لها په اعتبار د متعلق سره خبر دے غیره مفعول به دے دپاره د محتمل معنی داشوه چه نه وی احتمال د دې جملے غیر د دې مفعول مطلق نه د مصادرو نه نحو له وضاحت بالمثال کوی ای اعترفت عترافا شارح تعیین کوی دهغه عامل ناصبه چه محذوف دے فاعترافا غرض د شارح تطبیق د مثال کوی د ممثل سره.

سوال: مضمون د جملې خو تا اوی چه اضافة د مصدر د دې جملې دے فاعل یا مفعول نه او دلته خو دانه دے صحیح؟

جواب: دلته مراد د مضمون د جملې نه هغه نه دے چه کوم مخکښې مراد وو بلکه حاصل، خلاصه مفهوم او مفاد دے او په دې قید سره احتراز اوشو د مضمون د مفرد نه لکه ضربت ضربا نو ضربا حاصل دے خو د جملې نه دے بلکه د ضرب دے.

سوال: ته اوی چه د دې دپاره بل احتمال نشته دے حالانکه د دې دپاره خو بل احتمال هم شته دے ځکه دا جمله خبریه ده چه احتمال د صدق او د کذب لری نو په نفس الامر کښې خو احتمال د کذب هم لرې.

جواب: زمونږ مراد د عدم احتمال نه په اعتبار د مدلول سره دے چه صرف دا اعتراف دے او احتمال خو په اعتبار د دلالت سره لری چه زمونږ مراد نه دے او په دې قید سره احتراز اوشو د دې روستو را روان قسم نه چه هلته احتمال د غیر لری.

بیا دلته هم هغه څلور خبرې دې نو (۱) قرینه په نفس حذفیة باندې نصب د اعترافا دے چه ناصب ورله ذکر نه وو نو عقل معلومه کړه چه ناصب ورله حذف دے (۲) قرینه په تعین د محذوف باندې هم دا خبره ده چه دا محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکور نه وی (۳) سد مسد هغه قیام د دې مصدر دے په معونة د جمله متقدمه متادیة معنی د دې عامل ناصبه لره په مقام د دې عامل ناصبه باندې. دا جمله هم دا معنی د دې اقرار او اعتراف ادا کونکی ده نو دا متادیه شوه . (٤) او علت او سبب د حذف تخفیف دے و یسمی تاکیدا غرض د ماتن په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تاسو دا موضع او داروستو موضع چه راروان دے دا تاسو په یو منها کښ ولی نه ذکر کوئ ځکه چه دې دواړو موضعو کښ مفعول مطلق مضمون د جملې دے نو جدا جدا ولی دا ذکر کوئ؟ نو ماتن جواب اوکړو چه دا جدا جدا دې یوته عند النحاة تاکید لنفسه وائی او دویم ته تاکید لغیره وائی فقال و یسمی الخ ای لنفس الخ تعیین د مرجع کوی لانه انما غرض د شارح په دې عبارت یو قسم وجه دتسمیه او دلیل ذکر کوی نو حاصل دادے چه دا تاکید لنفسه دے ولی چه خپل نفس او ذات موکد کوی او دا عبارت دفع د سوال هم ده چه ته دې ته تاکید لنفسه وائی نو هغه روستو هم تاکید لنفسه دے نو ته دې ته تاکید لنفسه وائي او هغې ته تاکید لغیره دا ولی؟

جواب: چه دې کښ فرق دے هغه داچه دلته دې جمله کښ د بل څه احتمال نشته دے او هغې کښ د بل احتمال هم شته دے نو په دې قسم کښ هغه مغائرة اعتباری هم نشته دے په خلا ف د دې روستو باندې چه هغې کښ احتمال د غیر شته دے نو مغائرة پکښ شته دے او دا خبره چه داهم احتمال د کذب لری نو فقد مر عنه الجواب.

"و منها ما وقع مضمون جملة الخ" کله چه فارغ شو مصنف علیه الرحمة د پنځو هغه مواضعو نه چه هلته حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق واجب دے په حذف وجوبي قیاسی سره د وجی د وجود د قرینې او سد مسد نه نو اوس ئې شروع اوکړه په شپږم مقام کښ دهغه مقاماتو نه چه هلته حذف د عامل ناصبه د مفعول مطلق واجب دے په حذف وجوبي قیاسی سره د وجی د وجود د قرینې او سد مسد نه. فقال و منها ما وقع الخ نو حاصل د دې مقام دادے چه داهر هغه موضع دے چه مفعول مطلق واقع شوی وی حاصل، مفاد او

مضمون ديو جملي چه وى ددى جملي دپاره احتمال د غير ددغه مفعول مطلق خو دا مفعول مطلق تاكيد ديو احتمال اوكړى فقط ځكه ورته تاكيد لغيره وائى مثال زيد قائم حقا دا حقا مفعول مطلق دے پس د جملي نه واقع دے او دا جمله چه ده نو ددى دپاره يو مضمون دے چه حقية دے او دا حقا دهغى تاكيد كوى اگرچه دا جمله احتمال ديو بل مضمون هم لرى چه باطلا دے ځكه دا زيد قائم به يا موافق د نفس الامر سره وى او يانه كه وو نو حقا او كه نه وو نو بيابا طلا شو او دې كښ په اعتبار د دلالت او مدلول دواړو سره تفاوت دے نو دلته هم عامل ناصبه حذف كول واجب دې لكه دې مثال كښ محذوف دے . ترجمه: اى احق حقا غرض د شارح په دې عبارت سره تعيين د فعل محذوف وى نو أحق يا آحق دے يعنى يا مجرد او يا مزيد دے اوس دلته هم هغه څلور خبرى دي . نو (۱) قرينه په نفس حذفية باندې نصب د حقا دے (۲) قرينه په تعين د محذوف باندې هم دا خبره ده چه دا محذوف حتى الامكان د مذكور د جنسه وى (۲) سد مسد قيام د دې مفعول مطلق دے په معونة د جمله متقدمه متاديه معنى د عامل ناصبه لره په مقام د عامل ناصبه باندې (٤) علت تخفيف دے اى احق حقا من حق يحق دې عبارة باندې بعض محشينو اعتراض كړى دے حاصل دا اعتراض دادے چه دا عامل چه محذوف دے نو دابه يا احق په ضمے د همزه سره د باب افعال نه وى او يا د احق بفتح الهمزه د مجردونه نوكه داپه ضمے د همزه سره شي نو دابه احق شي او دا حقا به ترى نه مصدر شي نو دابه دقبيلي د انبت الله نباتا نه شي چه دا فعل به د مزيدونه او مصدر د مجرودونه شي نو معنى د دې صحيح شوه خو روستو شارح وائى من حق يحق (مجرد) نو دا قول صحيح نه دے ځكه احق د باب افعال نه دے د مجرد و د حق يحق (ضرب) نه نه دے ځكه مجرد د مجرد نه مشتق وى او مزيد د مزيدنه او كه دلته دا عامل ناصبه احق د مجرد نه شي په معنى د ثبت يا وجب نو بيا خلاف المقصود راځى ځكه مقصود دلته اخبار د متكلم دے مخاطب لره په قيام د زيد باندې او دلته دا معنى نه راځى بلكه بيا به اخبار د متكلم شي ثبوت د خپل نفس .

جواب: (۱) مونږ اختيار د شق اول كوو چه دا دمزيد نه وايو او مقصود پكښ اخبار د متكلم دے ثبوت د قيام د زيد او داهم مقصود دے او دا روستو حق يحق چه ذكر دے نو داځ د دې اصل ښودلى دے ځكه مزيد فرع د مجرد ده او معرفه د فرع موقوف وى په معرفة د اصل باندې دا مقصد نه چه دا د دې نه مشتق شوى دے (۲) مونږ اختيار د شق ثانى كوو چه دا د مجردو نه اخلو او خلاف المقصود نه راځى بلكه ا مونږه د قبيلي د حققت اذا صرت منه على يقين نه اخلو نو مقصد داچه زيد قائم حقا اى احق حقا يعنى زه په دې قول باندې

په یقین سره یم چه زید ولاړ دے بالفاظ دیګر داحق یحق د افعال لازمه نه نه اخلم بلکه دا ژه متعدی وایم نو مقصود پکښې اخبار د متکلم دے په قیام د زید باندي حقا فحقا تطبیق د مثال د ممثل سره کوی و الحق والباطل دا عطف تفسیری دے .

سوال: تا اوی چه دا جمله چه ده نو دا احتمال د صدق او د کذب دواړو لری نو هغه جمله چه ده نو هغه هم احتمال د صدق او کذب لری چه هغه له علی الف درهم ده نو داخو یو شئ شو.

جواب: موږ هغه جمله چه له علی الف درهم ده نو دا احتمال د کذب لری خوپه اعتبار د دلالت سره نه په اعتبار د مدلول سره او دا جمله چه زید قائم دے داپه اعتبار د دلالت او مدلول دواړو سره احتمال د کذب لری.

و یسمی هذا داهم دفع دهغه.

سوال: ده چه په یو منها کښې دي دواړه الخ نو دي ته تاکید لغیره وائی لانه من حیث غرض د شارح په دي عبارت سره یو دلیل ذکر کوی او دویم دفع د سوال ده چه دي قسم موضع ته تاکید لغیره وئیل باطل دي ځکه دا اجتماع د متنافینو ده په دي شان سره چه تاکید معنی داده چه یو لفظ په تکرار سره راشی نو دا تاکید او حقیه د خپل نفس کوی د غیر نه یعنی هم دهغه لفظ تاکید کوی چه کوم مکرر وی د غیر تاکید نه کوی او بیا دي لغیره اوی نو مقصد داچه د خپل ځان تاکید به نه کوی بلکه د بل چا به کوی نو حاصل دا شو چه تاکید معنی شوه چه د خپل نفس به وی او د لغیره مقصد داچه د خپل ځان به نه وی نو دانه ده مګر اجتماع د متنافینو او ورونه خرط القتاد جواب عن الشارح (۱) حاصل دادے چه دایو اصطلاحی نوم دے نور دا تاکید د خپل نفس کوی لکه زید قائم دے نو داهم د حقا احتمال لری او هم د باطلا نو ده تاکید حقا اوکړو چه دائی د خپل نفس تاکید اوکړو، خو لغیره ورته ځکه وائی چه احتمال د غیر پکښې شته دے اګرچه اعتباری دے په خلاف د اول مثال باندي چه هلته ځکه حقیقی احتمال نه وو نو داسی اعتباری هم نه وو نو حاصل هم داشو چه دا حقا تاکید د حقا کوی چه کوم په دي زید قائم کښې دے نو تاکید لنفسهٔ شو په دي اعتبار سره او لغیره ځکه شو چه احتمال اعتباری پکښې شته دے (۲) و یحتمل الخ حاصل دادے چه لغیره کښې دالام اجلیه دے یعنی تاکید ورته د غیر د وجی نه وائی چه دهغه دفع کوی. چه هغه باطلا وو نو دائی دفع کړو. سوال نو دا تاکید لغیره مقابل دے دا تاکید لنفسه نو هلته

هم دالام اجليه شو نو معنى دا شوه چه دا تاكيد شو د وجى د خپل نفس نه چه دا خپل نفس دفع كوى او دا معنى خو فاسده ده .

جواب: او دلته هم دالام اجليه دے خو معنى به دانه وى بلكه معنى به دا وى چه تاكيد لنفسه دے يعنى د وجى د تكرر او تقرر د خپل نفس نه نه د وجى د دفع د خپل نفس نه او دا معنى به په اعتبار د قرينى سره وى. تدبر.

(۳)تاكيد وثيل ورته صحيح دي منافاة نشته دے ځكه هر كلام احتمال د صدق لرى د كذب نه لرى ځكه مقصد د كلام هم صدق او حق وى او كذب د وجى د قرائنو خارجيو نه راځى نو تاكيد صحيح شو ځكه د كذب احتمال نه لرى بلكه صرف د حق احتمال دے پكښ. تدبر.

و منها ما وقع مثنى الخ غرض د ماتن اووم موضع ذكر كوى دهغه مواضع نه چه هلته حذف د عامله ناصبه د مفعول مطلق واجب وى په حذف وجوبى قياسى سره د وجى د وجود د قرينه او سد مسد نه فقال و منها ما وقع الخ نو هر كله چه دا مفعول مطلق تثنيه راشى نو عامل ناصبه ترى نه حذف كول واجب دي په حذف الخ

سوال: مثال دي د ممثل سره موافق نه دے ځكه ممثل كښ دي تثنيه اوى او مثال كښ لبيك او سعديك خو معنى د تثنيى نه لرى صرف دپاره د تكرار او د تكثير دي نو لفظا كه تثنيه ده خو معنى نه ده او تثنيه هغه وى چه هغه لفظا او معنى دواړه وى.

جواب: اى على صيغة التثنية حاصل دادے چه زمونږ دلته د مثنى نه حقيقة مثنى نه ده مراد بلكه مرادتاد صورة مثنى ده او دا صورة راغلى ده اوپه دي سره يو بل سوال هم دفع شو چه ماتنه ته مخكښ يو حكم بيان كړى وو چه كله مفعول مطلق دپاره د تاكيد وى نو لا يثنى ولا يجمع او دلته دا دپاره د تاكيد دے او تثنيه شوى دے نو.

جواب: اوشو چه زمونږ مراد حقيقة تثنيه نه ده بلكه صورة ده او هلته حقيقة تثنيه مراد وه نو دا سوال نه راځى.

سوال: نو زه به درته تثنيه صورة او بنائم حقيقة نه يعنى لفظ او معنى چى دواړه تثنيه وى او بيا به هم ترى نه عامل نه وى حذف لكه كرتين په ثم ارجع البصر كرتين كښ حذف وجوبى خو د ......ده ذكر دے دلته.

جواب: ولا يدا الخ چه دلته ورسره يو قيد بل هم دے هغه دا چه دا تثنيه به مضاف وی فاعل يا مفعول ته او دلته خو اضافة پکښ نشته.

سوال: نو ماتن دا قيد ولې نه ذکر کوو.

جواب: عن شارح هندی حاصل دادے چه ماتن دا قيد اونه لګوو اکتفاء ئی کړی ده په مثال باندې ځکه دا لبيك او سعديك دواړه مضاف دی خو دا جواب شارح جامی ته پسند نه دے ځکه مثال چه راځی نو پس د تمام د قاعدې نه راځی او دلته خو قاعده تام نه ده او مثال دی دواړی دے نو په مثال سره دی تمامية د قاعدې اوکړو او دانارواه نو د دی قيد لګول ضروری وو او ماتن نه دے لګولی نو دا خطا ده ځکه شارح دا وائی ای رجعا مکررا دفع د وهم ده چه داکوتی خو مفعول مطلق نه دے ځکه اشتمال پکښ نشته دے مخکښ خو ارجع فعل په دی نه دے مشتمل نو شارح جواب اوکړو چه داپه اعتبار د موصوف محذوف سره دے بيا دا موصوف حذف شو نو دا دهغی قائم مقام شو.

و ق ځعله دا اوس رد دے په فاضل هندی صيب باندی. حاصل دادے چه مثال دپاره د ايضاح د ممثل وی نه دپاره دا تمام د قاعدې او ممثل نو د دی قانون فاضل هندی صيب خلاف کوی نو ناروا کوی چی قانون خلاف کوی.

سوال: شارحه د دی قانون په خلاف کښ خو تاهم ارتکاب کړی دے په اصناف د اعراب الاسم کښ په اعراب د اسماء سته مکبره کښ په ص ٤٠ او ص ٢٣ علی خلاف النسخ نو وائی و انما لم يصرح بهذين القدين اکتفاء بالامثله نو د شارح هندی صيب دی جواب ته تکلف وائی او خپله دا کار کوی. عجيب کار کوی شارح.دطرف نه

جواب: دادے چه هلته ممثل او مثال نشته دے چه دا سوال راشی، بلکه دغه ځائے کښ د ابوك الخ بيان د قاعدې دے مثال نه دے ځکه مثال خو په لفظ د مثل، نحو او کاف سره ذکر وی. نو مخکښ څه داسی ممثل نشته دے چه دا ابوك الخ ورله مثال شی. البته دا قاعده ئی په دغه ترتيب ذکر کړی ده. په خلاف د دی مقام چه دلته ممثل او مثال جدا جدا دی.

سوال: نو شارحه تا تری نه ولې تعبير په مثال اوکړو؟

جواب: دا د دی دپاره چه ماتن جزئيات ذکر کړی دی او دا امثله وی اوس داسی مثال چه جامع وی نو هغه "لبيك او سعديك" دے "اصله الب لك البابين الخ" غرض د شارح په دی

عبارت سره یو تعین د هغه عامل ناصبه محذوفه کوی دویم د دي معنی کوی او دریم تطبیق د مثال کوی د ممثل سره او څلورم دفع د سوال ده اعتراض دادے چه دا لبیك ته چه تثنیه صورة وائی نو ایا داته د مزیدونه وائی او که د مجردونه یو نه دے صحیح که مجرد شی نو سوال دادے چه دلته مقصود تکرار او تکثیر دے او دال په هغی باندي مزید وی نه مجرد اوکه د مزید نه شی نو سوال دادے چه دا لبیك مصدر د مزیدنه نه راځی بلکه البابیك راځی اگرچه دال په تکرار او تکثیر دے نو شارح جواب کوی.

چه دامصدر د مزیدونه وایم او د سوال نه جواب دادے چه دلته په دي کښ اعلال شوی دے نو څکه داسی شوی دے اصل د دي الب لك البابین وو معنی ئی دادے چه اقیم الخ چه زه ستا خدمت ته ولاړیم او ستا حکم منلوته او زه نه جدا کیږم د خپل مقام نه او په ولاړه سره چه پوره ډیر وی او پے درپے وی.

﴿فحذف الفعل الخ﴾شارح په دي عبارت سره تفصیل کوی په دي لبیك کښ د اعلال نو وای فعل حذف شو او مصدر دهغی قائم مقام شو نو حذ ف جزء مراد ه راغئ خو مع القائم مقام ردالی. ثلاثی ته راغی په حذف د زوائد سره په دي شان سره چه البابین کښ د باء اولی نه روستو الف وو نو داموني حذف کړو نو البین شو نو داباء حرکت"لام"ته نقل شو نو البین شو بیا تری نه دا همزه هم حذف شو ولی چه پوره راشی ثلاثی ته اگرچه دا همزه قطعیه دے د باب افعال دے کنه نو لبین شو نو ادغام اوشو په درمیان د باء اولی او ثانی کښ ولی چه اوله ساکنه وه او دویمه متحرکه نو لبین شو. ثم حذف حرف د لك نه"لام"حذف شو نو ك ضمیر متصل بلا اتصال پاتی شو نو داخو ما یتصل به غواړی نو په اول د لبین کښ خونه شی راتلی نو داموني اخر لره راوړه په صورة دا اضافة کښ کما قال الشارح و اضیف الخ نوپه اضافة سره نون د تثنیی هم حذف شو نو لبیك شو.

سوال: دا تصرفات ولی کوی په حذف د حرف جر او زوائدو سره.

جواب: دا مو څکه حذف کړو چه دامامور په تلوار سره فارغ شی امتثال د مامور به ته څکه په زوائد و تلفظ کول پوره وخت غواړی نو جلدی او تلوار نه راځی و یجوز الخ (۲) دا لبیك زه مقصود ونو جواب دادے چه دامجرد په معنی د مزیدو سره دے کنه نو تکثیر او تکرار فوت شو چه دا راغئ دغه شان سعدیك دے شارح ورله معنی بیانوی .

سوال: یو مثال کافی وو دوه ولی راوړی؟

جواب: عن الشارح الا ان ه چه یو مثال دهغه فعل د مصدر دے چه دا فعل متعدی بنفسه وی او دویم مثال دهغه مصدر دے چه دهغی فعل متعدی وی په حرف جر سره نو الب متعدی بالواسطه دے او دا اسعد متعدی بلا واسطه دے نو دوه مثاله ئی ورله پیش کړل دپاره د اظهار عام ته چه که مصدر متعدی بنفسه وی او یا بالجر وی خو حکم ورله دایو دے.

اما داخیره چه قرینه الخ (۱) قرینه په نفس حذفیة باندي دا نصب د دي دے (۲) او .... په تعین د محذوف باندي قرینه هم دا خبره ده چه دا محذوف حتی الامکان د جنسه د مذکور نه وی (۳) سد مسد د عامل ناصبه محذوفه هغه قیام د مصدر دے په ځائے د عامل ناصبه باندي (٤) سبب تخفیف دے.

المفعول به

﴿المفعول به هو ما وقع الخ﴾ تجزیه د عبارت دپاره د سهولة د افهام او تفهیم داسی ده چه (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق (۳) اصطلاحی تعریف (٤) وضاحة بالمثال (٥) احکام د مفعول به.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف علیه الرحمة د تفصیل دیو قسم د منصوباتو نه چه مفعول مطلق وو نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د بل قسم د منصوباتو نه چه مفعول به دے فقال المفعول به نو هغه دری سوالات راغلل نو جوابات بالترتیب (۱) نفس تفصیل د وجی دمامر نه کوی (۲) تفصیل په دې مقام کښ یعنی دا مفعول به ئی د مفعول مطلق نه روستو او دنورو منصوباتو نه مقدم کړو وجه د تقدیم د مفعول مطلق په مفعول به باندي داده چه مفعول مطلق جزء وی د فعل نه او دانوْر نه نو د مفعول مطلق مرتبه اوچته شوه نو قدمه او وجه د تقدیم د مفعول به په دې نورو منصوباتو باندي داده چه دا مفعول به کثیر الاستعمال کثیر الاحکام او کثیر الوقوع دے او کوم چه داسی وی نو هغه مقدم وی په هغه باندي چه داسی نه وی نو دانوْر داسی نه وو او دا مفعول به داسی وو نو قدمه (۳) تفصیل داسی کوی چه یو به تعین د قسم ثانی د منصوب اوکړی المفعول به سره دویم تعریف به ورله اوکړی هو ما وقع سره دریم مثال به ورله بیان کړی د نحو ضربت زیدا سره او څلورم

احکام به ورله بیان کړی و قد یتقدم سره ربط لفظی نو دلته دری تراکیب کول جائز دي (۱) المفعول به مبتداء هو ما وقع خبر (۲) المفعول به خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف ای هذا بحث المفعول به بیا هذا او بحث حذف شو او دا المفعول به د بحث قائم مقام شو نو مرفوع شو نیابة (۳) المفعول به مبتداء موخر او منها مقدر په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم شو.

سوال: ماتن له پکار وو چه دائی په عنوان د منها سره بیان کړی وی لکه څنګه چه ئی مفعول مطلق داسی بیان کړی دے نو امتیاز به هم راغلی وی د مفعول به د غیر نه او دماقبل سره به موافق هم وو.

جواب: عادت دماتن په دي جاری دے چه په یو مقام کښ منه او منها راځی اونو ور په هغی باندې قیاس کوی یعنی اکتفاء دلاحق نه په سابق کوی خه.

سوال: نو بیا خوبه مرفوعاتو کښ هم ده لره اکتفاء د مبتداء او خبرنه پکار وه په ما قبل باندې نو هلته خو دوه ځله منه، منها بیانوی په فاعل او مبتداء کښ جواب و قد مر چه دلته اختلاف وو په مبتداء او فاعل کښ نو د دواړو د لحاظ دپاره ئی هر واحد په دي سره بیان کړی وو.

لغوی تحقیق: دری خبری ضروری دي (۱) صیغه د المفعول د اسم مفعول ده (۲) لغت کښ په معنی دکار کړی شوی په دي سره یاکار کړی شوی په سبب د دي باندې مقصد دادے چه د دي فعل وقوع په دي مفعول به باندې کیږی نو دابه نائب فاعل دے د المفعول دپاره نو څکه ورته مفعول به واۍ او یا دابا سببیه ده څکه مفعول سبب وی دپاره د وقوع د فعل نو څکه ورته به واۍ.

اصطلاحي تعریف:"هو ما وقع الخ" معنی داسی ده چه دا مفعول به دال دهغه مدلول دے چه واقع شوی وی په دغه مدلول باندې فعل د فاعل .

سوال: داتا چه کوم تعریف اوکړو د مفعول به نو دا صحیح نه دے څکه روستو ته مثال پیش کوی ضربت زیدا نو دا ضرب چه فعل د فاعل دے نو دابه دي لفظ د زید نه دے واقع بلکه په مسمی د زید واقع دے او مسمی د زید مفعول به نه دے څکه دا مفعول به قسم دے د منصوب چه داقسم دے د معرب چه معرب قسم د اسم دے چه هغه قسم د کلمه دے

او ماخوذ په تعریف د کلمه کښ لفظ دے نو دا مفعول به به لفظ وی نو چه کوم مفعول به دے (لفظ د زید) نوپه هغی باندې دا فعل د فاعل واقع نه دے او چه دافعل د فاعل په چا واقع دے نو هغه مفعول به نه دے (مسمی د زید) .

جواب: عن الشارح ای هو اسم ما وقع. چه دا تعریف صحیح دے او داپه حذف د مضاف سره دے اسم د هغه مسمی او مدلول دے نو فعل د فاعل په مسمی باندې واقع وی او مفعول به دا اسم دے د هغه مدلول او مسمی نو ضربت زیدا کښ ضرب واقع دے په مسمی د زید او مفعول به دا لفظ د زید دے.

سوال: چه دا قید مراد دے نو ولی نه ذکر کوی؟

جواب: عادت د مصنف په اختصار جاری دے نو کله اکتفاء کوی د سابق نه په لاحق او کله عکس دلته اکتفاء کوی د لاحق نه په سابق باندې دا قید په مفعول مطلق کښ بیان شوی وو. ولم یذکر الاسم دې کښ اشاره ده دې سوال ته له او اکتفاء بما سبق کښ اشاره ده جواب د دې سوال ته اوپه دې سره اندفع الاعتراض الاخر چه داخو تعریف دے اوپه تعریف کښ د مجاز نه ځان ساتلی شی نو دلته دا تقدیر د مضاف کول هم مجاز دے.

جواب: او د مجاز نه ځان ساتل په تعریف کښ ضروری دې خو هغه مجاز چه بلا قرینه وی او دلته قرینه شته دے چه ذکر د دې په سابق کښ دے و المراد بوقوع غرض د شارح په د ی عبارت سره دفع د سوال ده چه دا تعریف د مفعول به صحیح نه دے ځکه خارجیږی تری نه مفعول به په دې ترکیب کښ چه ایاك نعبد دے دلته نعبد فعل د فاعل دے او ایاك مفعول به دے نو دا عبادت زمونږ خو په الله واقع نه دے نو خلق ورته مفعول به وائی او تعریف پری صادق نه دے.

جواب: چه مراد په دې وقوع د فعل د فاعل نه هغه تعلق د دې فعل دے د مفعول به سره او زمونږ د عبادت تعلق د الله سره دے.

سوال نو نقض دې راغځ په مررت بزید باندې ځکه دلته دمرور تعلق د زید سره شته دے او دې بزید ته څوك مفعول به نه وای بلکه جار مجرور ورته وائی.

جواب: عنه بلا واسطة حرف جر نو دلته حرف جر راغلی دے.

سوال: نو بیا خو په ذهبت بزيد کښې دے دا زيد مفعول به نه شی ولې داپه واسطه د باء سره دے او دې ته خو خلق مفعول به وائی.

جواب: دلته چه مونږ په ذهبت بزيد کښې دې زيد ته مفعول به وايو نو دا ځکه چه دې باء د فعل په معنی کښې تغيير راوستی دے په دې شان سره چه دا فعل اول لازم وو نو دباء سره متعدی شو. نو اوس دا اذهبت زيدا شو نو اوس تعلق د فعل د زيد سره بلا وسطه دے په خلاف د مررت بزيد چه دلته دې جار تغيير نه دے راوستی په معنی د فعل کښې بلکه هم هغه مرور دے خو صرف زيد لره راوستی دے. فخرج به الخ فوائد د قيوداتو بيانوی. نو وای دا مفعول فيه اوله ترې نه خارج دې داخبر ظاهره ده او مفعول مطلق ترې نه ځکه خارج شو چه دلته په مفعول به کښې به دا فعل د فاعل په دې بانديې واقع وی نو دې کښې به مغائرة وی ځکه چه د موقوع عليه دے او دا واقع او موقوع به جدا جدا وی نو مقصد دادے چه دا فعل به جدا او غير وی د مفعول به نه او دلته په مفعول مطلق کښې دا مفعول د فعل نه مغائر نه دے ځکه دا جزء دے د فعل نه.

سوال: دا تا چه کوم تعريف د مفعول به اوکړو نو دامانع نه دے داخليږی پکښې نائب فاعل لکه ضرب زيد. دلته دا ضرب يو فعل دے او په زيد بانديې واقع دے حالانکه دې ته خلق مفعول به نه وای بلکه نائب فاعل او مفعول مالم يسم فاعله ورته وائی

جواب: عنه چه مراد هغه فعل دے چه دهغی اسناد اول فاعل ته شوی وی او بيا تعلق ئې د مفعول سره راغلی وی. او ضرب زيد کښې اسناد اول فاعل ته نشته بلکه سمدست ئې تعلق د زيد چه دا مفعول به دے سره راغلی دے نو دانه دے داخل بلکه خارج دے.

سوال: نو نقض راځی په اعطی زيد درهما ځکه دلته د اعطی فعل تعلق چه درهما سره راغلی دے نو دا بعد د اسناد نه فاعل ته نه دے راغلے بلکه پس د اسناد نه مفعول مالم يسم فاعله ته دے او بيا دې سره تعلق راغلی دے او بيا هم خلق دې درهما ته مفعول به وائی.

جواب: عنه حقيقة او حکما حاصل دادے چه دا فاعل عام دے که حقيقة وی او که حکما نو دلته دانائب فاعل په حکم د فاعل کښې دے نوداپس د اسنادنه فاعل ته شو نو مفعول به شو.

و بما ذكرنا ظهر غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا اعتراض فاضل هندي صيب كوی حاصل دادے چه دامتن دے او مبنی د متونو په اختصار ده نو پکار ده چه ماتن ما وقع عليه الفعل وئيلی وی بدون ذكر الفاعل نو دا جواب دے چه دا قيد خو دير شه او كار كونكے دے په دي سره مونږ زيد نائب فاعل په ضرب زيد كښ اوباسلو او درهما مفعول به موبه اعطى زيد درهما كښ داخل كړو نو ذكر د دي قيد مفيد دے.

وضاحة بالمثال: نحو ضربت زيدا فان زيدا شارح مكمل تطبيق كوی د مثال د ممثل سره

و قد يتقدم على الفعل كله چه فارغ شو مصنف د دری خبرونه يو تعين دويم تعريف د دريم مثال نو شروع شو په څلورمه خبره كښ چه د مفعول به احكام دي فقال و قد يتقدم الخ بيا دا دوه حكمه دي (١) صريحي چه مفعول به كله كله په فعل باندې مقدم كيږی (٢) ضمني چه دا مفعول به په اكثر اوقاتو كښ د فعل نه روستو وی او دا فعل به پری مقدم وی او دا دقد نه معلومه شوه ځكه دابه فعل مضارع داخل شوی دے نو د تقليل فائده وركوی اما داخبره چه دا تاخير اصل دے او تقديم خلاف الاصل دے نو دا ځكه چه دا مفعول به معمول دے او فعل عامل او عامل كثير مقدم وی په معمول باندې ځكه عامل مؤثر وی او معمول اثر وی او قانون دادے چه اثر دموثر نه روستو وی او وجه د تقديم به راشی.

سوال: بحث د مفعول به روان دے او تا فعل ته او دانګل نو دا خو خروج عن البحث دے چه دانارواً دے.

جواب: عن الشارح العامل فيه مراد عامل د مفعول به دے او د عامل د شئ نه بحث كول خروج د بحث د هغه شئ نه نه وی. او دي سره هغه بل سوال هم دفع شو چه دا حكم خو د شبه فعل هم دے نو دا ولی نه ذكر كوی.

جواب: اوشو چه دا ذكر د خاص او مراد تری نه عام دے نو شبه فعل ته هم شامل شو.

سوال: نو بيا العامل ولی نه وائی؟

جواب: دي كښ اشاره ده اصالة د فعل ته په عمل كښ.

"لقوة الفعل" داوس علت بيانوی چه دا فعل په عمل كښ قوی دے روستو او مخكښ دواړو كښ عمل كولی شی. خه نو بيا دا تقديم د مفعول به په دوه قسمه دے جوازا چه كله مانع د

تقديم نه نه وى او مقتضى د وجوب د تقديم نه وى لكه الله اعبد او وجه الجيب اتمنى او (٢) وجوبا چه كله مقتضى د تقديم د وجوب موجود وى لكه دلته من رايت شو چه دامن متضمن دے معنى د استفهام لره چه دا صدارة في الكلام غواړى او دغه شان من تكرم يكرمك چه دلته دامن مفعول به مقدم كول واجب دي ځكه چه دا متضمن دے معنى د شرط لره چه داهم صدارة غواړى په يو كلام كښې.

"اذ لم يكن" دا دفع د سوال ده چه زه به درته اوښايم چه مفعول به وى او تقديم به ئى جائز نه وى په عامل بلكه ناروا به وى لكه من القران تكف لسانك دلته دا لسانك مفعول به دے او په ان تكف باندې ئے تقديم ناروا دے نو دا قانون دې منقوض شو.

جواب: شارح وائى چه دا تقديم په هغه وخت كښې جائز دے چه كله تقديم نه مانع نه وى اوكه د تقديم نه مانع وو نو بيا ئى تقديم ناروا دے لكه دلته مانع دادے چه دا ان موصول حرف دے او دا تكف ورله صله ده او دا لسانك معمول د صلى دے نو تقديم د صلى په خپل موصول باندې ناروا دے نو بيا تقديم د معمول د صلى خوپه موصول په طريقه اولى سره ناروا دے.

جواب: (٢) حاصل دادے چه دا ان مصدرى دے يعنى فعل مضارع په تاويل د مصدر كوى نو بيا خو مصدر اسم دے او ماخو تقديم په فعل باندې وئيلى دے په اسم نه نو دا مصدر خو ضعيف العمل دے په مقدم كښې عمل نه شى كولى.

وقد يحذف الفعل غرض د ماتن په دې عبارت سره يو بل حكم بيانوى دپاره د مفعول به د احكام عدميو نه او بيا مراد دلته عدم عارضى دے چه دا د وجود نه روستو وى په ممكناتو كښې بيا دا دوه حكمه دي (١) صراحة چه فعل كله كله حذف كيږى (٢) ضمنا چه اكثر اوقاتو كښې ذكر وى.

او دا دواړه حكمونه د دې قد نه معلوم شول چې په مضارع داخل شى نو فائده د تقليل كوى خه بيا داخبره چه اكثر به داذكر كوى نو دا ځكه چه فائده اكمله او اشمله او اسهله په ذكر د عامل دمفعول به كښې ده اوهر چه حذف دے نو دا د وجې د قرينې نه وى. العامل فى المفعول به داهم دفع دهغه سوال ده چه خروج عن البحث راغى او شبه فعل هم بعض وخت حذف كيږى نو تخصيص د فعل ولې كوى؟

جواب: شارح اوکړه و قد سهل تقرير الجواب فتدبر او وجه د تخصيص د فعل هم معلومه ده. لقيام قرينه. دا سوال دفع کوی چه حذف د جزء مراده خو ناروا دے او دلته حذف کول د فعل خو حذف د جزء مراد دے نو جواب اوشو چه دا حذف د جزء مراده دوه قسمه دے يو بلا قرينه و باعث دويم مع القرينه و الباعث نوکه اول ناروا دے خوماګړی نه دے اوکه دويم ماګړے دے خوناروا نه دے.

بيا معنی داسی ده چه په وخت د حصول د قرينه کښ دې معنی سره دفع د سوالاتو او شوه دوه سوالونه دي او داتير شوی دي نو بيا اعاده کول ئې نه دي. بيا دا قرينه په لغت کښ علامه ده او اصطلاح کښ مايدل علی وجود الشئ ولا ينفك عنه ته وئيلی شی. بيا دا قرينه په دوه قسمه ده. (۱) حاليه چه د حال سره متعلق ده نه د لفظ سره (۲) مقاليه چه لفظ کښ وی.

جوازا دا حذف د فعل يو حکم دے او حکم د قبيلی د اوصافو نه دے نو وصف ئې جواز شو.

سوال: دلته وائی جوازا او روستو وائی وجوبا نو داخو تعارض دے په دې شان سره چه جواز امکان خاص ته وائی چه دا عبارة دے دسلب الضرورة عن الجانبين نه او وجوبا امکان عام ته وائی چه دا عبارة دے د سلب الضرورة عن جانب مخالف نه او دغه شان اجتماع د متنافينو هم شوله.

جواب: دابه هله تعارض او اجتماع د متنافينو وی چه دا دواړه په يو وخت کښ وی حالانکه جواز په وقت د قرينه کښ دے فقط او وجوب په وخت د قرينه او سد مسد دواړو کښ دے مثلا زيدا وضاحة بالمثال کوی اوس دلته دا حذف جوازی دے نو دری خبری ضروری دي (۱) نفس حذفية باندې قرينه دا نصب د زيدا دے چه دا منصوب وو او ناصب نه وو نو عقل معلومه کړه چه ناصب حذف دے (۲) قرينه په تعين د محذوف باندې سوال د سائل دے ځکه جواب حتی الامکان د سوال موافق وی نو سوال کښ ضرب ذکر دے نوجواب کښ هم دا مراد شو. (۳) علت د حذف تخفيف دے دا مثال دهغه قرينی دے چه مقاليه وی او مثال د قرينی حاليی دادے چه يو سړی روان وی متوجه وی مکی ته اوته ورته وائی مکة يعنی اترید مکة (۱) نصب د مکة په نفس حذفية قرينه ده. (۲) قرينه په تعين د محذوف باندې حالة د دې سړی دے چه دا روان دے مکې ته او دغه شان يو کس احرام وهلی دے او ته وائي چه الحج يعنی اترید الحج او اتحج الحج وغيره (۳) علت د حذف تخفيف دے.

ووجوبا غرض د ماتن هغه مواضع ذکر کوی چه حذف د عامل د مفعول به پکښ واجب وی فقال وجوبا. فی اربعة مواضع .

سوال: حصر د دي عامل د حذف په څلورو مواضعو کښ صحیح نه دے د وجی د وجود د نورونه چه واجب دي حذف په باب د اغراء کښ یا چه منصوب وی علی المدح یا علی الذم یا علی الترحم.

اغراء مقصد دا دے چه لغة کښ تیز والی ته وائي اوپه اصطلاح کښ وئیلی شی تیز ول دیو کس دي په کول دیوکار سره چه داکاروته ذکر شی مکرر یا په عطف کولو د دغه شی په "واو" سره د معطوف نه لکه مثال د مکرر اخاك اخاك شو یعنی الزم اخاك او مثال د عطف لکه شانك و الحج یعنی الزم شانك و الحج یا لاخط شانك و الحج و د منصوب علی المدح مقصد دادے چه قطع راشی د صفة اوناعت د موصوف مجرور نه په ورکولو د نصب سره ناعت مجرور ته لکه الحمد الله الحمید دا الحمید اصل کښ مجرور دے خو تا دي لره نصب ورکړو او اعنی فعل دي حذف کړو د ذم مثال مررت بزید الفاسق شو چه دا الفاسق ته منصوب اوی په ځائے د مجرور باندي دپاره د ذم او هغه دي کټ کړو د ما قبل نه او د ترحم مثال لکه مررت بزید المسکین دلته ته دا المسکین منصوب اوائی او جر تری نه ختم کری نو دا قطع د ناعت، صفة ده د منعوت مجرور نه دپاره د اظهار او کمال د رحم نو دا حصر دي صحیح نه دے.

جواب: شارح وائی تخصیصها حاصل دادے چه دا الاربعة قید دپاره د حصر نه دے څکه عدد د الفاظو د حصر نه ته دے خو دا څلور خاص شوی دي د وجی د کثرة د بحث نه په دي کښ په نسبة سره دي نوروته او هر چه دانور دي نو دا دومره ډیر نه راځی نو څکه بس صرف پکښ اظهار د مدح او ذم او ترحم وی کمالا څکه دا اعراب پکښ غیر مانوس راشی نو توجه د سوچ ورته راشی. الاول غرض د ماتن ذکر د تفصیل د اول مقام دے پس د اجمال نه نو دری سوالات راغلل جوابات بالترتیب دادی چه نفس تفصیل د وجی دما ثر غیر مرة نه کوی او دا مقام ئی په دي نورو مقدم کړو یا خو دا معدود محصور دے نوپه منزله د مفرد دے او دانور داسی نه دي نوپه منزله د مرکب شول او مفرد په مرکب مقدم وی طبعا نو هغه چه په منزله د مفر وی مقدم به وی په هغه چه په منزله د مرکب وی طبعا نو مونږ هم مقدم کړو وضعا چه موافقة راشی بینهما یا دا اول مقام کثیر الاستعمال دے او دا بل کثیر الاستعمال نه دے او داشان والا مقدم وی طبعا نو مونږ هم مقدم کړو وضعا چه موافقة راشی دواړو درمیان کښ او تفصیل داسی کوی چه یو به تعیین د دي مقام کوی په سماعا سره دویم امثله ورله بیانوی

امر او نفسه سره شارح وائی من تلك المواضع دا ځکه وائی چه دا اول دلازم الاضافة نه دے خامخا به ئی څه ته نسبة کیږی نو نسبة ورله شاق ماتن وائی سماعتی شارح وائی مقصور علی السماع غرض د شارح په دې عبارت سره يو تعريف د سماعی کول دي او دويم دفع د سوال ده چه مسائل د نحوی خو ټول سماعی دي په سمع د عربو نه دي نوته پکښ ځنګه تقسیم کوی قیاسی او سماعی ته؟

جواب: حاصل دادے چه مقصد د سماعی دادے چه سمع ئی د عربو نه شوی وی په داسی شان سره چه غیر پری نه قیاس کیږی او قاعده تری نه جوړیږی په خلاف د قیاسی باندې چه قاعده تری جوړیږی اونور پری هم قیاس کیږی او سمع د دې دواړو د عربو نه شوی وی.

امرا و نفسه اوس دلته د امرا منصوب دے او عامل ناصبه د دې حذف دے په حذف وجوبي سماعی سره د وجی د وجود د قرینی او سد مسد نه نو قرینه په نفس حذفية باندې دا نصب د دې دے او قرینه په تعین د محذوف باندې هغه دغه لفظ د امرو نفسه دے چه دې ته اوکتلی شی نو دې سره به تعلق راځی د فعل چه هغه د ترك د نو اترك امر و نفسه نوترينه حال شو. او سد مسد سمع د عربو نه ده بغير د ذکرکولونه د عامل ناصبه او علت تخفيف دے.

سوال: دا نفسه د امر دپاره څه دے؟ ترکيبا يا به دا عطف کوی په هغې باندې او يا به دا دهغې دپاره تاکيد وای يو هم نه دے صحيح په دې شان سره که عطف شی نوبه درمیان د معطوف او معطوف عليه کښې مغائرة وی او دلته مغائرة نشته دغه امرا او نفس يو دے اوکه تاکيد شی نوبه درمیان د موکد او موکد کښې فصل راځی په "واو" سره چه داهم ناروا دے.

جواب: زه اختيار د شق اول کوم او د امرانه مراد اهل عيال دے او مراد په نفس سره دغه سری دے نو مغائرة پکښې راغئ او يا اختيار د شق ثانی کوم او فصل راتلل څه ناروانه دي ولې قران کښې الله فرمائی کلاسوف تعلمون ثم کلا سوف تعلمون نو دا کلا سوف تعلمون د اول دپاره تاکيد دے او فصل په ثم سره راغلي دے "واو" خوا پريږده و انتهوا خيرا لکم دا دويم مثال دلته د خيرا عامل ناصبه حذف دے.

سوال: دا مثال دپاره د حذف د عامل ناصبه ذکر کول ښه نه دي ولې چه دلته خو عامل ذکر دے چه انتهوا دے.

جواب: داسی نه ده بلکه عامل اقصدوا دے ځکه که دا عامل شی نو معنی به فاسده شی ځکه معنی به شی چه منع شی د خیر نه چه تاسو لره دے بلکه اصل داسی دے چه انتهوا عن التثلیث و اقصدوا خیر لکم د شرك نه منع شی او د توحید قصد اوکړئ قرینه په نفس حذفیة باندې نصب د خیرا دے او په تعیین د محذوف باندې هم دا خیرا قرینه ده ځکه چه د خیرا ذکر اوشونو د دې سره به متعلق فعل پکار وی چه هغه سره حصول د خیر کیږی ځکه خیر خلق حاصلوی کنه او علت هم دا تخفیف دے دا مسك د ماتن دے.

او بعض دا وائی چه دا خیرا منصوب دے بنا بر حال چه دما قبل نه حال شی.

او کسائی وائی داخبر دے دپاره د یکن ای یکن خیرا لکم بیا دا د ما نحن فیه نه دے واهلا و سهلا دا دریم مثال دے او دا هغه مقام کښ عرب وائی چه چاته ستړی مه شی وائی عامل ناصب ورله "اتیت اهلا وو طیت سهلا ای مکاناماهولا" .

سوال: اهل دپاره دوه معانی دی (۱) اهل و عیال (۲) تعمیر کردن نوپه اول سره معنی صحیح ده اوپه دویم سره معنی نه ده صحیح ځکه معنی به شی چه اتیت ته راغلی تعمیر کردن ته نو داخو یو معنوی شئ دے او اتیان خو شئ حسی ته کیږی نه معنوی ته.

شارح جواب کوی چه دلته دا اهل صفة دے دپاره د موصوف محذوف ای اتیت مکانا اهلا.

سوال: نو حمل نه دے صحیح ځکه اهل وصف دے او مکانا ذات دے نو حمل د وصف په ذات ناروا دے .

جواب: دا اهلا مصدر مبنی للمفعول دے ای ماهولاء نو حمل صحیح شو معمورا لاخرابا دا ورله معنی کوی. التنویر علی هدانو کوم چه متقدمین شارحین دی لکه رضی صیب، صاحب د غایة التحقیق نو دوی د اهل معنی صرف په اقاربو سره کوی دا دویمه معنی شارح جامی کړی ده او څه بعض محشین وریسی تلی دی نو لهذا که مونږ دا اوایو چه شارح جامی دلته خطا دے نو ناروا به نه وی ځکه په کتبو د لغت کښ هم دا معنی د اهل دپاره نه ده راغلی. تدبر.
بیا دلته په نفس حذفیة باندې قرینه دا نصب دے د اهلا او سهلا اوپه تعیین د محذوف باندې قرینه هم دا لفظ د اهلا او سهلا دے ځکه د اهل سره اتیان مناسب دے او سهلا سره وطئ(روندنا) مناسب ده او سد مسد سمع د عربو نه ده بغیر د عامل نه او علت هم هغه تخفیف دے.

المنادیٰ

﴿الثاني المنادى وهو المطلوب اقباله﴾ دې مقام کښې دپاره د تسهيل د عبارت او دپاره د حل د ما بعد کتاب څو خبرې دي اجمالا (۱) ربط د ما قبل سره (۲) لغوي تحقيق د منادى (۳) اصطلاحي تعريف د منادى (٤) اقسام د منادى (٥) احكام (٦) امثله (٧) تفصيل د توابعو د منادى (۸) تفصيل د مندوب (۹) احكام د مطلق نداء (۱۰) دفع د بعضې اعتراضاتو چه واردیږي په حکم د منادى باندې.

ربط: معنوي ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف رحمه الله ديو مقام نه چه حذف د عامل ناصبه د مفعول به پکښې واجب وو په سماعي طريقې سره نو شروع ئې اوکړه په دويم مقام دهغه کښې چه دلته هم حذف د عامل ناصبه د مفعول به واجب دے خو دا حذف قياسي دے دری سوالات راغلل نو بالترتيب جوابات دا دي (۱) نفس تفصيل د وجې دمامر نه کوی او تفصيل کښې دي مقام کښې راوړم يعنې د سماعي نه ئې روستو کړم او د دې دوو نور قياسونه ئې مقدم کړم لو وجه د تاخير د سماعي نه داده چه دا سماعي معدود ، مخصور مواضع وو نويه منزله د مفرد وه الخ او وجه د تقديم د دې نور ونه داده چه دا منادى كثير الاحكام والمباحث ده اودانور دوه داسې نه وو نو چه مباحث ئې کثير وې نو دا خلق مقدم کوی په هغه چه داسې نه وي. او تفصيل داسې کوی چه يوبه د موضع ثاني تعين اوکړی د الثاني سره دويم به دهغې تعريف اوکړی وهو المطلوب سره دريم به اقسام د منادى ذكر كړى څلورم د دغه اقسامو حکم به بيان کړی او پنځم به امثله د اقسامو د منادى او دا دری واړه به غونډه سره بيانوی د ويبنى على ما يرفع به ان كان سره شپږم توابع د منادى به بيان کړی و توابع المنادى سره اووم بعض خصائص د منادى به بيان کړی و ترخيم المنادى سره اتم د مندوب تفصيل به اوکړی چه داهم يو مستقل شئ دے و قد استعملوا صيغة النداء سره نهم د مطلق منادى دپاره به څه احكام بيان کړی و يجوز حذف سره اسم د فع د بعض اعتراضاتو به اوکړی و شذ سره.

ربط لفظي الثاني مبتداء المنادى خبره ے نو دا شوه جمله خبريه اسميه.

لغوي تحقيق: دې کښې دری خبرې دي (۱) صيغه (۲) لغوي معنى (۳) وجه دتسميه نو صيغه د منادى د اسم مفعول ده د باب مفاعله نه نادى ينادى نداء د دې په مناسبة سره چند

الفاظ دي (١) منادى (اسم فاعل) اواز کونکی (٢) منادى د(اسم مفعول) چاته چه اواز اوشي اواز کرده شد (٣) منادى په داهغه حروف دي چه دي سره اوز کيدلے شي (٤) نداء دي تول عمل ته نداء وئيلى شي او چا پکښ يو بل هم وئيلى دے چه هغه مقصود بالنداء دے نو وجه تسميه داده چه منادى ته ځکه منادى وائى چه دي ته اواز کيدلے شي. الموضع تعين د موصوف ئ ورله اوګرو ځکه الثانى تقاضا د موصوف کوى. بيا دا الثانى د لازم الاضافة نه دے نو شارح ورله تعيين د مضاف اليه کوى.

اصطلاحی تعریف: دا ماتن کوی وهو المطلوب الخ دا هغه اسم دے چه طلب کولی شی متوجه کول دهغه په يو حرف سره چه هغه قائم وی په مقام د ادعو پاندي او بيا دا طلب عام دے که لفظی وی او يا تقديری وی يا دا نيابة عام دے لفظی وی يا تقديری يا دا منادى عامه ده که لفظی وی يا تقديری يعنی که ملفوظه وی او که مقدره وی.

سوال: يا زيد کښ دا منادى څه ده؟

دالفظ د زيد اوکنه مسمی اومدلول د زيد نوکه مراد لفظ د زيدوی نو د هغی اقبال نه وی مطلوب بلکه مطلوب خو اقبال د مدلول د زيد وی او که مراد مدلول او مسمی د زيد وی نو صحيح ده دهغی اقبال مطلوب دے خو دا منادى نه ده ځکه منادى د مفعول به قسم دے او مفعول به* د منصوب قسم دے او منصوب د معرب قسم دے او معرب د اسم قسم دے او اسم د کلمه قسم دے او د کلمه په تعريف کښ ماخوذ لفظ دے نو دا منادى په لفظ وی او تاخو اوی چه مراد مدلول دے نه لفظ د زيد نو حاصل داشو چه کوم منادى ده نو هغه پاندي تعريف نه دے صادق اوکوم چه مصداق د تعريف دے نو دا منادى نه ده.

جواب (١) زه منادى دي لفظ د زيد ته وايم او مطلوب نه مراد هغه مدلول د دي دے نو معنى به شی چه دا هغه اسم دے چه طلب کولی شی اقبال د مدلول د دي بيا المطلوب صفة وو نو موصوف ورله الاسم دے او اقباله په حذف سره دے ای اقبال مدلوله (٢) مراد زما د دي نه اسم مطلوب دے او دايو قانون دے چه دوى صفات د مدلولاتو چه مطابقى وی دا دوی ثابتوی دوا لوله نو دا طلب د اقبال د مدلول دے خو دا مدلول د دال دے څه ای توجهه غرض* د شارح په دي عبارت سره تشريح د لفظ غير مشهور ده په مشهور سره اعتراض توجه په دهغه کس اوکړی چی تاته ئ شاده نو چه کوم انسان تاته متوجه دے او مخ ئ درته راړول دے نو دي کښ په څنګه توجه راشی يا کوم انسان چه د ديو ال نه اخوا ولاړ دے او

نه ورته نداء کوی نو دي به څنګه تاته مخ راړهِ وی نو شارح جواب کوی چه بوجهه او بقلبه مخ دهغه چاچه تاته ئی مخ نه دے او زړه دهغه چاچه تاته ئی مخ دے خو متوجه نه دے او یا د دیوال نه اخوا شو چه تاته توجه شي په زړه سره حقیقة او حکما دا دفع د یو بل سوال ده چه زه درته شایم چه یو منادی به وی او توجه به ئی نه بوجهه وی اونه بقلبه لکه یا سماء، یا جبال، یا ارض اسمان، جبال او زمکی ته نداء شوی ده نو نه ورسره مخ شته دے او نه زړه چه دا رامخامخ کری.

جواب دا اقبال عام دے که حقیقة وی او که حکما دلته دا حکما دي په دےشان سره چه اول داپه منزله دهغه چا اوګرځولی شو چه په هغی کښ صلاحیة د نداء وی او بیا پری حرف نداء داخل کری شو او د دي نداء مقصود شوه بخلاف المندوب غرض د شارح په دي عبارت سره دفع دیو بل سوال ده چه دامندوب دي هم منادی شي په دي اعتبار سره چه نازل شي اولا په منزله دهغه چاچه پکښ صلاحیةد نداء وی او بیا ورته نداء اوشي حالانکه مصنف مندوب روستو بیانوی او په منادی کښ نه داخلوی بلکه یو مستقل شئ جوړوی .

جواب: حاصل دادے چه دي مندوب کښ مقصود نداء نه وی بلکه دي کښ مقصود تفجع وی د غم اظهار کول نو ځکه ئی روستو تفصیل کوی.

اصل کښ په دي خبره کښ اختلاف دے چه دامندوب عند الماتن په منادی کښ داخل دے او کنه نه دے داخل نو عند البعض دا مندوب دماتن په نزد په منادی کښ داخل دے دلیل (۱) که چرته داپه منادی کښ داخل نه شی نو بیا به ماتن د اربعة مواضع په ځائے خمسة مواضع وئیلی وےخو چه اربعةئے اوی نو معلومه شوه چه دامنادی کښ داخل دے (۲) منادی کښ حروف د نداء دي او دا مندوب کښ هم استعمالیږی (۳) دا مندوب ئی په بحث د منادی کښ راوړی دے او بیا وائی حکمه في الاعراب و البناء حکم المنادی نو معلومه شوه چه داخل دے عند الماتن په منادی کښ او دا رائ د شارح، صاحب المفصل هم ده او رضی صیب وائی چه زماهم داخوښه ده او د سیبویه د کلام نه هم دا معلومیږی چه داپه منادی کښ داخل ده خوښه دي باندي دا سوال راځی چه کله داپه منادی کښ داخل دے نو روستو مستقل ولی ذکر کوی؟

جواب: داخو ضروری نه ده چه یو ځائے دي ورسره ذکر شي بلکه بعض وخت کښ یو شئ د خپل شئ نه جدا ذکر شي دپاره د احکام خاصه نو دلته هم مندوب جدا ذکر کیږی ځکه د دي

دپاره څه احکام خاصه دي لکه دخول د وا په دې بانديې شارح د خپلې رائ اظهار کوی نو وای فيه تحکم چه نه داخلول د مندوب په منادی کښې دا ترجيح بلا مرجح ده نو دامندوب په منادی کښې داخل دے.

ليکن حقه خبره داده چه مندوب عند الماتن په منادی کښې داخل نه دے دليل (۱) روستو وائی "و قد استعملوا صيغة النداء في المندوب" نو دلته لفظ د استعمال وائی نو دې نه معلومه شوه چه صيغه د نداء په منادی کښې حقيقة ده اوپه مندوب کښې استعمالا ده نه حقيقة ځکه هغه منادی نه ده (۲) که دا مندوب په منادی کښې داخل وی نو ځان لره مستقل تعريف به ئې نه کولی (۳) ماتن وای و حکمه في "الاعراب و البناء حکم المنادی" نو دا مندوب ئې د منادی سره مشابه کړو په حکم کښې او مشبه غير وی د مشبه به نه.

اوپه دې بانديې دا سوال راځی چه دا مندوب په منادی کښې داخل نه شو.نو پکار ده چه ماتن بيا خمسة مواضع وئيلی وے ځکه دا پکښې يو بل قسم شو نو د دې جواب دادے چه مصنف ځکه داسې او نه وی چه دې مندوب کښې کوم حذف د عامل کيږی نو هغه عين حذف د عامل د منادی دے اما دا خبره چه مصنف د مندوب احکام په منادی کښې بيانوی نو دا ځکه چه دا مشابهة ساتی د دې سره.

او دا خبره چه دا دې هم پښان د باسماء شی په دې شان سره چه اول دې په منزله دهغه چا شی چه پکښې صلاحية د منادی کيدلو وی او بيا دې ورته نداء اوشی نو داسی ځکه نشی کيدلے چه مقصود په منادی کښې نداء وی او په مندوب کښې خو مقصود تفجع وی خالصه نداء پکښې نه وی نو هغې کښې اصل نداء ده او دلته مندوب کښې اصل تفجع ده. نو د شارح دا خبره تحکم دے چه وای مندوب منادی ده من الحروف دا بيان د بحرف دے او بيا دا پنځه حروف دې نو بعض پکښې فرق نه کوی پس دا ټول يو شان حروف دی. او بعض پکښې فرق کوی نو وای دا ايا هيا، دپاره د بعيد راځی ځکه کثرة د حروفو دلالت کوی په کثرة د مسافة بانديې او دا ای، همزه دپاره د قريب راځی ځکه قلت دحروفو دلالت کوی په قلت د مسافة بانديې او داياء عند البعض دپاره د متوسط ده او عند البعض دياء په درې واړو کښې استعماليږی بعيد، متوسط او قريب درې واړو کښې.

و احترز د دې قيد فائده بيانوی چه دې سره احتراز اوشو د ليقبل زيد نه ځکه دا په يو حرف سره نه دے د دې حروفو د نداء نه لفظا او تقديرا شارح وائی چه تفصيل للطلب ای طلبا

لفظيا غرض د شارح په دې عبارت سره د لفظا او تقديرا د ما قبل سره په دريو طريقو سره ربط بيانوی نو وای دا تفصيل د طلب دے معنی به شی چه دا طلب عام دے که لفظی وی او که تقديری وی بيا دا منصوب دي بناء بر مفعول مطلق المطلوب نه.

سوال: دا مفعول مطلق نه دے صحيح ولی چه مخکښ المطلوب ذکر دے او داپه دي لفظا او تقديرا باندې نه دے مشتمل د قبيلی د اشتمال د کل نه په جزء باندی.

جواب: دا اشتمال شرط په مفعول مطلق حقيقی کښ دے او داخو مفعول مطلق مجازی دے په دې شان سره چه دا صفة دپاره د مفعول مطلق حقيقی دے چه طلبا دے نو تقدير د عبارت شو طلبا لفظا او طلبا تقديرا.

سوال: دا لفظا او تقديرا صفة دپاره د طلبا نه دې صحيح ځکه دا صفة حمل وی په موصوف باندې او دلته حمل نه دے صحيح په دې شان سره چه دا طلبا په جانب مواضع کښ ذات دے او دا لفظا او تقديرا خو اوصاف دي او حمل د وصف په ذات صحيح نه وی.

جواب عن الشارح لفظيا او تقديريا داپه ياء نسبتی سره دي او دا اسم منسوب شو چه داپه حکم د مشتق کښ وی او مشتق ذات مع الوصف وی نو حمل صحيح شو؟

سوال: اوس هم صحيح نه دے ځکه دا طلب خو نسبة دے په درميان د طالب او مطلوب کښ نو يو امر معنوی دے او دا لفظيا او تقديريا خو صفات د لفظ دي نو دا لفظی دي نو دا لفظی څنګه دپاره د معنوی صفة راځی او تفصيل واقع کيږی جواب عن الشارح چه بان تکون الخ دا صفات بحاله نه دي بلکه بحال متعلقه دي په دې شان سره چه الة الطلب لفظی شی او يا تقديری شی نو يا زيد کښ اله د طلب چه يا ده دا لفظی ده او په يوسف اعرض عن هذا کښ اله د طلب چه ياء ده دا تقديری ده.

او للنيابة دا اوس تفصيل په دويمه طريقه ده دلته هم هغه سوالات دي په نيابة لفظية سره دوه سوالات دفع شول چه دا مفعول مطلق نه دے او دويم چه حمل نه دے صحيح د صفة په موصوف باندې او بان يکون النائب سره هغه دريم سوال دفع شو چه دا نيابة امر معنوی دے او دا لفظية تقديرية خو لفظی دي نوجواب اوشو چه دا صفات بحال متعلقه دي چه داناٸب چه دا دعودے داپه يا ملفوظ وی لکه يا زيد کښ او يا مقدر لکه يو سف اعرض کښ او للمنادی دا دريمه طريقه ده چه دا لفظا او تقديرا حال دې د ضمير د اقباله نه هغه په ذو

الحال شی نو معنی به شی چه هو دا منادی چه طلب کولی شی اقبال د دې منادی په حال کون د دې منادی کښ چه لفظا وی او یا تقدیرا

سوال: نو حال حمل وی په ذو الحال باندې او دلته حمل نه دے صحیح ځکه منادی ذات دے او لفظا او تقدیرا اوصاف دې نو حمل د وصف په ذات راغئ چه دانارو دے.

جواب: دا لفظا او تقدیرا مصدر مبنی للمفعول دې ای ملفوظا او مقدرا اوس حمل صحیح شو

سوال: حال خو هیئة د فاعل او یا مفعول بیانوی او اقباله کښ دا ضمیر خویونه دے بلکه مضاف الیه دے.

جواب: مضاف الیه د فاعل او د مفعول هم ذو الحال واقع کیدلے شی دلته اقبال نائب فاعل دے او مضاف دے دې ضمیر ته نو د دې ضمیر نه حال صحیح دے مثل سره مثال بیانوی چه منادی ملفوظ لکه یا زید او منادی مقدر لکه الا یا اسجدوا چه اصل الا یا قوم اسجدوا دے.

سوال: هر کله چه ستا مقصود دلته دا دریمه طریقه شوه د لفظا او تقدیرا نه یعنی چه دا منادی به ملفوظ وی او مقدر نو بیا روستو و قد یحذف المنادی ذکر کول مستدرك دې ولی د دې ځائے نه معلومه شوه کنه؟

جواب: (۱) دلته پکښ دا دوه احتماله نورهم دې کنه نو دادریم احتمال متعین نه وو نو هلته ئ بیان کرو (۲) یا هلته دپاره دیوی فائدی دے دلته خو صرف دا معلومه شوه چه منادی کله حذف وی او مقدر وی او هلته والی لقیام قرینة چه دا حذف خو مطلقا نه دے بلکه په وقت د قرینه کښ دے.

﴿و انتصاب المنادی الخ﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه ذکر کول د منادی په دې مقام کښ صحیح نه دې ځکه دلته خو مونږ هغه مواضع د مفعول به ذکر کوو چه حذف د عامل ناصبه پکښ واجب وی او دلته خو منادی دپاره عامل ناصبه ذکر دے چه دایاء ده.

جواب: حاصل دادے چه په نصب ورکولو کښ منادی ته اختلاف دے دری مذاهب دي (۱) سیبویه (۲) مبرد (۳) ابو علی نو زمونږ کلام په مذهب د سیبویه باندې بناء دے او اعتراض

ستا په مذهب د مبرد بناء دے سیبویه وائی چه منادیٰ منصوب ده په اعتبار د مفعول به سره دپاره د فعل محذوف چه ادعو دے او دا حرف نداء په هغې باندې دال دے او دهغې هغه فائده ورکوی او دا حذف د عامل ناصبه د وجې د تخفیف نه دے ځکه چه دا ډیره استعمالیږی چه دا اكثرة استعمال تقاضا د تخفیف کوی.

﴿و عند المبرد الخ﴾ دویم مذهب د مبرد دے دې وائی چه دا منادیٰ منصوب ده په حرف نداء سره په دې شان سره چه دا قائم مقام د فعل ده. اوس فرق په دې دواړو مذاهبو کښې دادے چه د سیبویه په نزد ناصب مقدر دے او دا حرف نداء پرې دال دے او د مبرد په نزد باندې ناصب هم دا حرف نداء دے ځکه دهغې سد مسد دے و قال ابو علی دریم مذهب دے چه دا یا و اخواتها اسماء افعال دي د دې وجې نه منصوب راځی دا منادیٰ فعلی هذین المذهبین الخ دا اشاره ده د سوال جواب ته چه دا اعتراض په ما نحن فیه نه شی راتلی نو دانور دوه مذاهب ضعیف دي او د تفصیل دپاره شرح رضی ته رجوع کیدلے شی و علی المذاهب کلها غرض د شارح په دې عبارت سره ترکیب دیا زید ذکر کوی نو وائی دا ټول مذاهب په دې کښې متفق دي چه د یا زید جمله ده. او نه ده دا منادیٰ یو جزء د دوو جزئن د جملې نه بلکه جمله ده جمله فعند سیبویه غرض د شارح په دې عبارت سره تجزیه د مذاهبو ده. نو د سیبویه په نزد باندې دا داسې جمله ده چه مسند او مسند الیه دواړه مقدر دي او مقدر په حکم د ملفوظ کښې وی. او د مبرد په نزد باندې مسند مذکور دے چه دایاء حرف نداء ده او مسند الیه مقدر دے چه فاعل دے او د ابو علی په نزد باندې دواړه جزئین چه مسند او مسند الیه دي دا دواړه ذکر دي یوهم مقدر نه دے دومره فرق دے چه دا مسند چه اسم فعل دے او دا اسم ظاهر دے او دا مسند الیه چه فاعل دے دا اسم ضمیر مستتر دے

﴿و یبنی علی ما یرفع به ان کان مفردا معرفة الخ﴾ کله چه فارغ شو مصنف علیه الرحمة د تعیین د موضع ثانی او دهغې د تعریف نه نودی ځائے نه دریمه څلورمه پنځمه خبره ذکر کوی په یو اعتبار سره چه تفصیل څنګه کوی او په مجموعه اعتبار سره څلورمه، پنځمه او شپږمه خبره ذکر کوی. چه هغه اقسام او احکام او امثله دی. نو منادیٰ یو مفرد معرفه ده دویمه منادیٰ مستغاث باللام ده دریمه منادیٰ مستغاث بالالف ده او څلورمه علاوه د دې نه ده بیا دا دری قسمه ده یو مضاف دویم شبه مضاف دریم نکره غیر معینه په دې شان سره تدبر.

منادیٰ

مفرد معرفه، مناديٰ مستغاث باللام،مناديٰ مستغاث بالالف، مناديٰ ما عداها

منادیٰ مضاف، منادیٰ شبه مضاف، منادیٰ نکره غیر معینه

بیا احکام د هر واحد په دې شان سره دي چه د قسم اول حکم و یبنی علی ما یرفع به سره دے او د قسم ثانی حکم و یخفض بلام الاستغاثه سره دے او بیا د قسم ثالث حکم د و یفتح لا لحاق انفها سره دے او د قسم رابع حکم و ینصب ما سواهما سره دے او بیا امثله دهر واحد نو د قسم اول امثله یا زید یا رجل سره دي د قسم ثانی مثال یا لزید سره او د قسم ثالث مثال یا زیداه او د قسم رابع امثله یا عبد الله، یا طالعا جبلا سره دې ماتن اوی و یبنی شارح وائی ای المنادیٰ تعین د مرجع د ضمیر د یبنی کوی بیا قدم بیان الخ سره دفع د سوال ده چه مناسب د مقام داخیره ده چه بحث د منادیٰ منصوب مقدم شي په دې نورو باندې ځکه ادا منادیٰ ذکر کول په دې متصوباتو کښ د دې وجی نه دې چه ادا قسم دے د مفعول به نه او مفعول به خو بیا منصوب وی نو پکار وه چه منادیٰ منصوب ئی رامخکښ کړی وی.

جواب: (۱) شارح وائی چه ادا منادیٰ مفرد معرفه او مستغاث باللام او مستغاث بالالف ئی مقدم کړه په دې نورو باندې ځکه چه ادا قلیله ده په نسبة د دې نور باندې نو داپه منزله د مفرد شوه او دانور په منزله د مرکب او مفرد په مرکب باندې مقدم وی طبعا نو چه په منزله د مفرد وی داهم مقدم وی په هغه چه په منزله د مرکب وی طبعا نو مونږ وضعا هم ادا مقدم کړو چه موافقة راشی دواړو کښ .

سوال: ستا د قلت نه په کوم اعتبار قلت مراد دے په اعتبار د انواعو سره اوکنه په اعتبار د افرادو سره که په اعتبار د انواعو سره شی نو بیا دې ته قلیل ونیل او ما سواها ته کثیر ونیل صحیح نه دي ځکه داهم دری انواع دي (۱) مفرد معرفه (۲) مستغاث باللام (۳) مستغاث بالالف او ما سواها هم دری انواع دي (۱) مضاف (۲) شبه مضاف (۳) نکره غیر معینه نو ادا خو ممتنع ده چه په اعتبار د انواعو سره شی او که په اعتبار د افرادو سره نو بیا خو ادا معلومه نه ده چه د دې څومره افراد دي او دماسواها څومره افراد دې او د دې علم خو صرف الله ته دے نو داهم ممتنع دے.

جواب: (۱) ادا قلة او کثرة په اعتبار د محل سره دے نو بیا د منادیٰ غیر منصوب محل دوه دي (۱) مفرد معرفه (۲) منادیٰ مستغاث او بیا ادا مستغاث عامه ده که په"لام"سره وی او که

په الف سره وی. او د منادی منصوب محل دری دي (۱) مضاف (۲) شبه مضاف (۳) نکره غیر معینه.

نو محل د غیر منصوب دوه شول ځکه خو ماتن روستو ضمیر د تثنیه راوړی ای و ینصب ماسواهما هما ضمیر د تثنیی راوړی دے نو دا قلیل او هغه کثیر (۲) دا قلت اوکثرة په اعتبار د استعمال سره نو د منصوب استعمال کثیر دے او د غیر منصوب استعمال قلیل دے.

جواب: عن اصل الاعتراض (۲) و لطلب الاختصار حاصل دادے چه فرض منصبی ددے د ماتن اختصار دے. نو دا غیر منصوب منادی ئی په منصوب منادی مقدم کړه نوکه هغه منصوب منادی دے دمقدم کړی دے نو هغے دپوره تفصیل نه پس به ئے ددے غیر منصوب منادی تفصیل کوو د مفرد معرف ځان لره د یخفض ځان لره د یفتح ځان لره ځکه داسی یو لفظ خونه وو چه د غیر منصوب تفصیل پکښ راغونډ شی نو دپاره د طلب د اختصارداسے اوکړل اګرچه مقام د عکس تقاضا کوی علی ما یرفع به ای علی الضمة غرض د شارح په دی عبارة سره تعین دما کوی باعتبار المصداق چه دا عبارت دے د حرف او حرکت نه او بیا هغه حرکت او حرف متعین کوی نو دا دری اشیاء دي (۱) ضمه که لفظی وی او که تقدیری (۲) الف (۳)"واو" داهم عام دے که لفظی وی او که تقدیری نوپه دي دریو سره دا منادی مرفوع کولے شی مخکښ دنداء نه فی غیر صورة النداء دلته یو سوال دے چه د یبنی او یرفع ضمیر راجع دے منادی ته نو یبنی په مبنی کښ شو او یرفع په معرب کښ نو داخو اجتماع د نقیضینو شوه معنی به شی چه مبنی کولی به شی دا منادی په هغه ځه چه دا پری معرب کیدلے شی.

جواب: (۱) حاصل د دي جواب دادے چه د دي دواړو وختونه جدا جدا دي رفع په غیر صورة د نداء کښ ده او بناء په حالت د نداء کښ ده تفصیل د دي خبری په دي شان سره دے چه منادی حقیقة هغه وخت وی چه ورته حرف نداء متوجه شی لکه یا زید نو دي وخت کښ به مبنی وی اوکه دنداء نه مخکښ دي ته منادی وائی نو دا مجازا ورته وائی د قبیلی د من قتل قتیلا فله سلبه نه یعنی صلاحیة دنداء پکښ دے او که دنداء نه روستو شی یعنی نداء ورته شوی مخکښ وی او ته ورته اوس منادی وائی نو داهم مجازا ده په اعتبار د ماکان سره ده لکه قول د الله دے ﴿و اتو الیتامی اموالهم﴾ نوپه حین د ایتاء د اموالو کښ دا یتیمان نه دي خوداپه اعتبار د ماکان سره دي کنه نو دامنادی هم داسی ده چه که دنداء نه مخکښ وه نوپه

اعتبار د مایکون منادی ده اوکه روستو وی نوپه اعتبار د ماکان سره ده. نویه دې احوالو کښې چه نداء حقیقة نه ده نو په دې کښې چه په څه مرفوع وی نو هم په دې به مبنی وی په صورة د نداء حقیقی کښې . تدبر. (۲) او الفعل الخ حاصل دادے چه دا اعتراض به هغه وخت وی چه یرفع کښې ضمیر وی او راجع وی منادی ته حالانکه د یرع دپاره نائب فاعل دا به جار مجرور دے معنی به راشی چه وبنی مبنی کیدلے شی دا منادی ما په هغه حرکت او حرف باندې یرفع به چه رفع ورکړے کیدلے شی په دغه حرکت او حرف سره. تفصیل دادے چه دامنادی مونږ مبنی کوو په حرکت او حرف سره خو هغه حرکت او حرف چه په هغې سره رفع ورکړے کیدلے شی یو عام اسم لره و ارجاع الضمیر غرض د شارح نقل دیو دریم جواب کوی او بیا پری رد کوی جواب داسی دے چه د یبنی ضمیر منادی ته راجع دے او د یرفع ضمیر راجع دے مطلق اسم ته معنی به شی چه مبنی کیدلے شی دا منادی په هغه حرکت او حرف سره چه رفع ورکړےکیدے شی په هغې سره اسم لره نو شارح وائی دا ملائم نه دے ځکه دا خروج عن البحث دے داشو حکم ان کان الخ دا اوس قسم بیانوی چه داحکم چه بناء علی ما یرفع به دے دپاره دهغه قسم دے چه دا منادی مفرد او معرفه وی قبل النداء اوکه بعد النداء وی.

سوال: دا مثال دې مطابق نه دے د ممثل سره ځکه ممثل دې اوی چه منادی به مفرد وی او روستو مثال کښې دې یا زیدان او یا زیدون تثنیه او جمع راوړی دې چه مفرد دهغې مقابل دے جواب اې لا یکون مضافا حاصل دادے چه مفرد په ګڼرو اقسامو راځی (۱) مقابل د تثنی او جمع راځی په بحث د اصناف د اعراب الاسم کښې وو (۲) مقابل د مرکب هم راځی لکه په بحث د تعریف د کلمه کښې (۳) مقابل د جمله راځی لکه د تمیز بحث کښې به راشی (٤) مقابل د زواندو د مبتداء او خبر کښې راځی لکه وای زید قائم مفرد دے په اعتبار د "ان زیدا لقائم "سره ځکه دلته ان او"لام"زائده راغلی دې . (٥) مقابل د مضاف او شبه مضاف وی لکه دلته دے نو دا مراد شو "وهو کل الخ" غرض د شارح په دې عبارت سره د شبه مضاف تعریف کوی چه بل شئ ورسره نه وی ضم شوی نو معنی نه ورکوی لکه یا طالعا فقط نو معنی نه تام کیږی رضی صیب یو بل تعریف کوی چه شبه مضاف هغه دے چه دایو اسم وی او دهغی نه روستو یو بل شئ راغلی وی چه دا اسم دهغی نه علاوه نه تام کیږی او دا بیا عام دے که معمول وی دپاره د دې اسم اوکه معطوف وی په دې باندې په عطف نسق سره چه بیا دا معطوف علیه او دا معطوف دواړه دیو شئ دپاره اسم وی لکه د اول مثال یا طالعا

جبلا او د دویم مثال لکه ثلاثه و ثلاثین دلته دا معطوف او معطوف علیه نوم دے دیو مرتبی دپاره چه ۳۳ دی حاصل د دوارو تقریبا پورے.

معرفة سوال: روستو مثال کښ یا رجل دے او رجل نکره ده نو مثال د ممثل سره مطابق نه شو.

جواب: قبل النداء او بعده دامعرفه کیدل عام دي که مخکښ دنداء نه وی اوکه روستو نو یا زید کښ زید قبل النداء معرفه دے و یا رجل کښ رجل بعد النداء معرفه ده و انما بنی الخ ماتن چه و یبنی علی ما یرفع به اوی نو دلته چند سوالات راغلل (۱) دا منادی مفرد معرفه نفس مبنی ولی ده حالانکه اصل په اسماء کښ اعراب دے (۲) بیا دا مبنی علی الحرکت ولی شوه حالانکه اصل په بناء کښ سکون دے. (۳) چه مبنی شوله نو بیا به علی ما یرفع ولی شوه؟

اوس د دي نه بالترتیب جوابات دادی اول نه شارح وائی و انما بنی الخ حاصل ئی دادے چه اصل خو په اسماء کښ اعراب دے خوچه یو اسم مبنی کیږی نو د وجی د مشابهة موثره نه د مبنی الاصل سره په منع د اعراب کښ بیا دا مشابهة موثره په ډیر قسمه دے خویو قسم تری نه دادے چه دا اسم واقع وی په ځائے د داسی اسم باندي چه هغه مشابه وی د مبنی الاصل سره لکه دا منادی شوه ځکه دامنادی مفرد معرفه واقع ده په ځائے د کاف اسمی خطابی او داکاف اسمی خطابی مشابه دے دکاف حرفی خطابی سره نو دا منادی هم دهغی سره مشابه شوه نو مبنی شوه.

سوال: داسی لند اوواپه کنه چه دا منادی واقع ده په ځائے د کاف الاسمی خطابی او هغه مبنی نوداهم مبنی.

جواب: یو اسم چه مبنی کیږی نو د وجی د مشابهة نه مبنی الاصل سره نو اوس دا کاف اسمی خطابی خو مبنی الاصل نه دے اګرچه مبنی دے ځکه مبنی الاصل خو دری دي (۱) ماضی (۲) امر حاضر (۳) تمام حروف نو داکاف اسمی خطابی پکښ یونه دے. اوداکاف اسمی هم ځان لره بناء د کاف حرفی خطابی نه کسب کړی دے اوس داکاف اسمی خطابی مشابه شو دکاف حرفی خطابی سره چه هغه ورله مشبه به دے او وجه د شبه هم لفظا ده اوهم معنی لفظا دادے چه شکل او صورة یو شان لری ادعوك او د ذلك كاف یو شان دي شکلا او معنی دادے چه ځکه داکاف اسمی د مفرد، تثنی او جمع دپاره راځی لکه ادعوك، ادعوكما او

ادعوکم نو دا کاف حرفي هم داسې دے دغه شان په افراد اوتعريف کښې هم يو شان دې او دغه شان په دې خطاب کښې هم يو شان دې تقريبا معنوی مشابهةدی کښې دری وجوه شول. و ذلك لان يا زيد غرض د شارح وضاحة بالمثال کوی و انما قلنا ذلك دا د سوال جواب ته اشاره ده چه لنډ ولې نه وائي چه دا مشابهة او اوږدی خبرې کوی و قد مر تقريره فارجع الى الصفحة السابقة.

سوال: هغه منادی چه مضاف او شبه مضاف ده نوداهم مبنی کول پکار دي ځکه داهم مشابهة ساتي.

جواب: منادی مضاف او شبه مضاف مشابهة ساتي خو مشابهة موثره نه ساتي ځکه مشابهة موثره دي ته وائي چه دليل د اعراب معارض نه وی واقع د دليل د بناء سره اوپه مضاف او شبه مضاف کښې دليل د اعراب معارض واقع شوی دے د دليل د بناء سره په دې شان چه وقوع د دې په ځائے د کاف اسمی خطابي چه مشابهة ساتي دکاف حرفي خطابي سره تقاضا د بناء کوی اوکون د اضافة او شبه اضافة د خواص مکبرو معظمو د اسم نه تقاضا د معرب کوی نو اذا تعارض الدليلان ولاترجيح لاحدهماتساقطا نو دا دواړه ساقط شول او اصل ته راغلو نو اصل په اسماء کښې اعراب وو نو معرب شول .

جواب: د دويم سوال چه داسکون اصل دے په مبنی الاصل کښې او دلته دا بناء عارضي ده نو دا حرف او حرکت په بناء کښې عارضي دي نو عارضي به دال شي په عروض باندی.

جواب: ددريم سوال نه دادے چه داموږ مبنی کړو په ما يرفع به ځکه که د مجرور په هغې مبنی شي نو التباس به راشي دهغه مادی سره چه مضاف وی يا ء د متکلم ته او داياء د متکلم حذف شوی وی د وجې د اکتفاء نه په کسره باندې دماقبل دياء لکه يا غلامی نه يا غلام بالکسرة شي نو دا اوس پته نه لګي چه دامنادی مضاف ده يا د متکلم ته او هغه ياء حذف ده اوکنه دامنادی مفرد مبنی على الکسرة ده. اوکه مبنی على الفتح شي نو التباس راځي دهغه منادی سره چه دا مضاف وی ياء د متکلم ته او بيا هغه کسره د ما قبل دياء بدله شوی وی په فتحې سره او ياء د متکلم په الف سره او بيا الف حذف شوی وی لك يا غلام بالفتح نو اوس دلته پته نه لګي چه دايا غلام منادی مفرد مبنی على الفتح ده اوکنه منادی مضاف ده ياء د متکلم ته نو موږ مبنی على ما يرفع به اوګرځوله اوس هيڅ التباس نشته.

سوال: يو مثال کافي دے دا ډيردے ولې ذکرکړل ؟

جواب: تعدد د امثلو بناء دې په تعدد د ممثلاتو باندې او بیا ورله شارح ممثل واضح کوی او تطبیق د مثال هم د ممثل سره کوی.

سوال: دا یا زیدان او یا زیدون تثنیه او جمع د زید دي نو دا زید معرفه ده او دوی داقانون پاس کړی دے چه کله یوه معرفه تثنیه او جمع شي نو دانکره شي نو بیا دپاره د اظهار د تعریف په دې باندې"لام"تعریفی داخلولی شي نو دلته مصنف"لام"تعریفی ولی داخل نه کړو.

جواب: او دا قانون دے خو دالام دپاره د تعریف خلق داخلوی خو دلته دایاء حرف نداء دلالت کوی په تعریف باندې نوکه"لام"هم داخل شي نولازم به شي اجتماع د التیو د تعریف چه"لام"او یاء ده او دا ناروا دی.

سوال: پکار ده چه یا عبد الله ویئل جائز نه شي ځکه دلته خو هم اجتماع دیاء راغلی ده د اضافة سره چه دا مضاف هم معرفه وی.

جواب: یو اجتماع د تعریفینو ده او بله اجتماع د التیو د تعریف ده په عبد الله کښې تعریف شته دے خو اله د تعریف پکښې نشته دے نو صرف اله د تعریف یوه ده چه یاء حرف نداء ده.

سوال: نو ولی اضافة هم اله د تعریف ده کنه؟

جواب: اضافة اله د تعریف نه ده ځکه چه اضافة کله کله دپاره د تخصیص او د تخفیف هم وی.

و یخفض بلام الاستغاثة کله چه فارغ شو مصنف دیو قسم د منادی نه چه مفرد معرفه وه او دهغې د حکم نه او دهغې د امثلو نه نو اوس ئې شروع اوکړه په دویم قسم د منادی کښې چه دامنادی مستغاث باللام ده نو دې لره به هم حکم بیان کړی و یخفض سره او مثال به ورله بیان کړی په یا لزید سره نو قال و یخفض بلام الاستغاثه حاصل دادے چه دامنادی مستغاث باللام به معرب وی او اعراب به ئې د جر وی لکه یا لزید لمظلوم شو شارح اوی ینجر غرض د شارح په دې سره یو تشریح د لفظ غیر مشهور ده په لفظ مشهور سره دویم تعیین د مرجع د ضمیر د یخفض ئې اوکړه چه دامنادی ته راجع دے دریم دفع د سوال ده (۱) دا یخفض د خفض یخفض نه صفة د خافض دے ځکه دا متعدی دے نو دامنادی سره متعلق نه شو نو لازم شو خروج عن البحث (۲) استعمال د خفض په هغه مجرور کښې وی چه

بالحرکت وی نو هغه منادی چه مجرور وی بالحرف هغه خارج شوه لکه یا لزیدین شو نو شارح جواب اوکړو اوپه یو غشی دوه ښکاره کوی چه دا یخفض په معنی د ینجر سره دے او انجرار لازم دے نه متعدی نو دا صفة د منادی شو او دغه شان دا انجرار عام دے که په حرکت سره وی او که په حرف سره.

سوال: یخفض په معنی د ینجر ګرځول خو قرینه غواړی؟قرینه څه ده؟

جواب: قرینه داده چه ذکر د ملزوم دے او مراد لازم دے اوس دلته چند سوالات دي (۱) دلام د استغاثه سره څه مناسبة دے چه اضافة دلام استغاثة ته کوی (۲) استغاثه لغت کښ څه ده؟ (۳) استغاثه اصطلاح کښ څه ده؟ (٤) مثال به څنګه وی (٥) دا قسم منادی نفس معرب ولی شوه (٦) په اعراب د جر ولی معرب شوه

جوابات بالترتیب د اول نه جواب بلام تدخل دلام دے استغاثه ته اضافة د وجی د ادنی ملابسة نه دے هغه داچه دالام په دي منادی باندي داخلیږی نودا په وخت د استغاثه کښ نو دا اضافة دلام دے خپل ظرف ته چه دالام د دي سره ملابس دے لکه په طالب المدرسة کښ چه څنګه دے اوپه دي سره بل سوال هم دفع شو چه دلام په معانیو کښ خو استغاثه نه ده راغلی نو جواب اوشو چه دانسبة د ادنی ملابسة د وجی نه دے اما داخبره چه دالام به څه معنی وی نو شارح وائی چه د تخصیص معنی به وی دلته نو ادخلت دلام به داخل شوی وی په مستغاث باندی.

سوال: دلام معنی دلته تخصیص ده نو څه مناسبة دے چه دي وخت کښ داپه مستغاث داخلیږی؟

جواب: شارح کوی چه دلالة علی انه مخصوص یعنی دلام دمستغاث سره په تخصیص، تخصیص کښ مناسبة شته دے په دي شان سره چه د منادی خو کثر اقسام دي په دي کښ ادا مستغاث خاص شوی دے په نداء سره او د دوهمې خبرې نه جواب دادے چه دلته چند الفاظ دي (۱) مستغیث (۲) مستغاث (۳) مستغاث له (٤) مستغاث به (٥) استغاثه نو مستغیث هغه دے چه فریاد کوی دپاره د بل مستغاث هغه دے چه فریاد ورته کیدلے شی او مستغاث له هغه دے چه دهغه دپاره فریاد کیدلے شی او مستغاث به دا حروف دي چه فریاد پری کیدلے شی او استغاثه فریاد کردن ته وائی مثلاً زید باندي یو کس ګذار کوی او بکر ورسره خوا کښ ولاړ دے خو طاقت نه لری د بچ کولو د زید نو عمرونه اواز اوکړی نو دد

ورله اواز ورکړو چه یا لعمرو للمضروب نو بکر مستغیث او زید مستغاث له او عمرو مستغاث او دا حرف مستغاث به او دا مجموعه کاروائی استغاثه ده او د دریم نه جواب دادے چه استغاثه په اصطلاح کښ طلب احد لاحد لدفع ظلمه ته وائی او جواب د څلورم نه دادے چه مثال ماتن پیش کوی چه یا لزید سوال تاسو دلته دا وائی چه دالام جاره دے نو دانه منم چه دالام جاره دے ځکه هغه مکسور وی لکه الحمد لله او المال لزید او دلته خویه یا لزید کښ دا مفتوح راغلی دے فکیف التوفیق؟

جواب: شارح وائی چه دا"لام" جاره دے او دا فتحه ورله د مجبورئ د وجې نه ورکړې شوې ده په دې شان سره چه په استغاثه کښ یو مستغاث وی او بل مستغاث له نو کله کله دا دواړه مذکور وی لکه یا لزید للمظلوم شو خو بعض وقت کښ دا مستغاث حذف وی او صرف مستغاث له ذکر وی نوپه دې مستغاث باندې هم"لام"داخل وی مکسور نو چه د مستغاث هغه"لام" مکسور شی نوپه دې صورة کښ به التباس راشی او پته به نه لګی چه ایا دا مستغاث دے او که مستغاث له خو چه مونږ"لام"د مستغاث مفتوح کړو نو التباس رانغئ داخبره شارح عربی کښ واق ولم یعکس دا دفع د سوال ده چه مقصود ستا کو دفع د التباس ده نو دا التباس خویه عکس د دې سره هم حاسلیدو چه"لام" د مستغاث مکسور شی او"لام"د مستغاث له مفتوح شی نوجواب شارح کوی چه عکس ئې اونکړو ځکه چه دا منادی واقع ده په ځائے د کاف باندې او په هغې باندې"لام"مفتوح داخلیږی لکه لك او لکما او لکم په خلاف د مستغاث له باندې چه دانه دے واقع په ځائے د کاف ضمیر باندې نو د دې وجې نه عکس نه کوو اما دا خبره چه دالام جر په دې کاف ضمیر داخل شی نو دا ولې مفتوح راځی نو اصل خویه دې"لام"کښ داخبره ده چه داپه تولو احوالو کښ مفتوح شی خو مونږ ده لره کسره ورکوو چه د دې التباس رانشی د"لام"تاکیدی سره ځکه هغه مفتوح وی اوس هر کله چه دالام جاره داخل شی په کاف ضمیر باندې نو بیا التباس نه راځی دلام تاکیدی سره ځکه"لام"تاکیدی نه راځی په ضمائرو باندې نو بیا دالام جاره خپل اصل ته واپس شو نو مفتوح شو .

سوال: تا اوئی چه"لام"تاکیدی په ضمائر نه راځی نو الله فرمائی: ﴿إن هذا لهو القصص الحق﴾ کښ خویه دې هو ضمیر باندې"لام"تاکیدی راغلی دے.

جواب: زمونږ مراد د ضمائرو نه متصله دی او داهو ضمیر متصل دے.

سوال: نو تا چه"لام"جاره لره کسره ورکړه اولام تاکیدی لره فتحه د دفع د التباس دپاره نو دی. کښ عکس او ورکړه چه"لام"جاره لره فتحه اولام تاکیدی لره کسره بیا هم التباس دفع شو.

جواب: دالام تاکیدي کثیر الاستعمال دے په دي شان سره چه په اسم او فعل دواړو باندي داخليږی او دالام جاره صرف د اسم سره خاص دے نو دا قلیل الاستعمال شو او کثرة استعمال تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف په فتحه کښ دے نو"لام"تاکیدی مو مفتوح پریښودو اولام جارلره مو کسره ورکړه. فان عطفت الخ غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی چه"لام"به په مستغاث باندي مفتوح وی نو زه به درته اوښايم چه خلق به ورته مستغاث وائی او"لام"به پری مسور وی نه مفتوح لکه یا لزید و لعمر و بکسر اللام او س دلته لعمرو مستغاث دی او"لام"پری مکسور راغلی دے.

جواب: شارح کوی چه کله ته عطف اوکړی په دي مستغاث باندي بغیر دیاء نه نو بیا به دالام مکسور راځی وجه داده چه دالام په مستغاث مونږ مفتوح کړی وو د وجی د مجبوریٔ نه او هغه التباس وو اوس هغه مجبوری نشته دے ځکه معطوف په حکم د معطوف علیه کښ وی نو چه معطوف علیه مستغاث وی نو دا معطوف به هم مستغاث وی نو هغه فرق حاصل شو په دي عطف سره په درمیان د مستغاث او مستغاث له کښ نو دلام فتح ته ضرورت پاتی نه شو.

سوال: زه به درته اوښايم چه عطف به راغلی وی او بیا به هم کسره نه وی راغلی بلکه فتحه به وی لکه یا لزید و یا لعمرو نو دلته یا لعمرو عطف دے او بیا هم فتح ده. کسره پرے نه ده راغلی

جواب: شارح کوی چه که عطف دیاء سره کوی نو بیا به په"لام" باندي فتحه وائی ځکه داپه یاء سره منادی مستقل شوه نو التباس بیا راغئ نو بیا دپاره د دفع د التباس به"لام"مفتوح شی او جواب د پنځم سوال نه دادے چه دامنادی نفس معرب ځکه ده چه وقوع د دي منادی په ځائے د کاف ضمیر باندي تقاضا د بناء کوی او دخول دلام جاره د خواصو مکبره معظمه د اسم نه تقاضا کوی د اعراب نو تعارض راغئ نو دا ساقط شو نو بیا مونږ اصل ته لاړو او دااسم وو نو اصل په اسماؤ کښ اعراب وو نو داهم معرب شو. جواب د شپږم سوال نه دادے چه دالام جاره شونو دالام تقاضا د جر کوی نو ځکه به مجرور وی.

﴿قیل قد یخفض المنادی بلا می الخ﴾ غرض د شارح اعتراض کول دي په ماتن باندي حاصل د اعتراض دادے چه ماتنه دوه کارونه دي کړی دي (۱) حصر د خفض دي اوکړو د"لام"د استغاثه سره او دا صحیح نه دي ځکه کله منادی مجروره راځی په"لام"التهدید اولام التعجب سره نو دا دي ذکر نه کړو لکه دلام تعجب مثال یاللماء بیا دا مثال هغه مقام کښ وی چه یو خائے کښ اوبه نه وی او هلته او به راشی نو وائی یا للماء اے خلقه اوبه ته اوګوری دادلته څه کوی دغه شان یا للدواهی شو چه دهغه مقام کښ وی چه یو کس باندي دیر مصائب راشی نو وی یا للدواهی چه اے خلقه دامصائب څه کوی او دلام تهدید مثال یا لزید لا قتلنك (۲) روستو مصنف اوی و ینصب ما سواهما چه د دي منادی مفرد او منادی مستغاث نه علاوه به نور منصوب وی نو داهم منصوب دي نو د مصنف دا حکم لګول په کلی طریقه صحیح نه شو. نو شارح جواب نقل کوی و اجیب سره حاصل دادے چه دالام د تعجب او"لام"د تهدید څه مستقل اقسام نه دي بلکه دابه"لام"د استغاثه کښ داخل دي په دي شان سره چه په"لام"د تهدید کښ دا مهدد اسم فاعل چه دے نو دا فریاد کوی هغه مهرو ته کنه زما فریاد قبول کړه چه زه تالره اوژنم نو زما هغه درد به ختم شي ځکه د ده دیر درد رسیدلی دے نو ځکه داخبره کوی دغه شان په"لام"د تعجب کښ هم دا تعجب کونکی فریاد کوی دي متعجب منه چه د چا نه تعجب راغلی وی چه ته راشه کنه چه ته راشه او حاضر شه چه زما دا تعجب پوره شي او د دي مصیبت نه خلاص شم واجیب عن"لام"غرض د شارح یو بل جواب رانقل کوی دلام تعجب نه خو دا جواب شارح ته خوښ نه دے نو روستو پری ولا یخفی سره سوال کوی.

حاصل د دي جواب دادے چه مصنف په ایضاح کښ وئیلی دي چه په یاللماء اویا للدواهی کښ منادی ٘داماء او دواهی نه ده بلکه منادی محذوفه ده چه هغه یا قوم ده اے قومه تاسو تعجب اوکړی نو دالام چه راغلی دے نودابه منادی نه دے راغلی چه اعتراض وارد شي بلکه منادی محذوف ده ولا یخفی سره دا اعتراض دے په دي جواب باندي چه که په للماء او للدواهی کښ په"لام"کسره شي نو بیا دا جواب صحیح دے چه دامنادی نه ده او منادی محذوفه ده. لیکن که دا په فتح د"لام"شي نو بیا دا قول صحیح نه دے ځکه چه دلام فتحه ځکه راځی چه دا منادی شي اوس چه منادی نه شوه نو بیا ورله دا فتحه ولی ورکوی؟

جواب: دا خبره هم داسی ده چه دایا قوم للماء او للدواهی دے یعنی منادی محذوفه ده خو چه دامنادی حذف شوه نو دا مکمل حذف شوه په نسیا منسیا سره نو دا للماء او دا للدواهی

دهغی قائم مقام شو نو دهغی حکم ئې هم و اخستو چه هغه فتح دلام ده خکه ئې لره حکم د منوب وی.

و یفتح لا لحاق الفها ولا"لام"فیه کله چه فارغ شو مصنف د دوه قسمونو د منادی نه نو شروع ئې اوکړه په دریمه کښې فقال و یفتح بیا دې لره په حکم و یفتح سره بیان کړی او مثال په ورله بیان کړی یا زیداه سره نو حاصل دادے چه دریم قسم منادی مستغاث بالالف ده او دامبنی ده په فتح سره شارح وائی ای یبنی المنادی بالفتح غرض د شارح په دې عبارت سره یو تعیین د مرجع د ضمیر د یفتح کوی چه دامنادی ته راجع دے او دویم غرض د شارح دفع د وهم ده چه دا ویفتح په یخفض باندې عطف دے نو هلته منادی معرب وه نو دلته به هم داسې وی نو شارح اوی چه نه دابه مبنی وی په فتح سره لا لحاق الفها"لام"دپاره د توقیت دے او یا دالام اجلیه دے که دپاره د توقیت شی نو معنی به شی چه په وخت د ملحق کیدو د الف د استغاثه کښې اوکه دالام اجلیه شی نو بیا به معنی شی چه د وجې د ملحق کید لو د الف د استغاثه نه د مستغاث سره شارح وائی ای الف الاستغاثه باخره نو یو غرض د شارح دا دے چه تعیین د مرجع کوی دویم د الحاق معنی متعین کوی چه مراد یو ځائے کیدل دي د اخر سره او دریم دفع د وهم کوی چه الحاق د الف به اول کښې مراد وی نو شارح وائی چه نه د اخر سره دے اوس دلته چند سوالات دي (۱) دې منادی مستغاث بالالف ته څه احتیاج وو؟ خو مستغاث باللام کافی وه کنه (۲) دا منادی مستغاث بالالف نفس مبنی ولې شوه؟ (۳) بیا چه مبنی شوه نو اصل بناء کښې سکون دے علی الحرکة ولې مبنی شوه؟ (٤) بیا په حرکت کښې په فتح سره ولې مبنی شوه؟ (٥) دا شرط د لالام فیه ولې لګوی؟ (٦) مثال به ورله څه وی؟ جوابات بالترتیب داسې دي چه د اول نه جواب دادے چه دا استغاثه په وخت د ظلم کښې وی نو دا ظلم کله کم وی او کله ډیر زیات وی نوکه ظلم کم وی نو بیا هغه وخت کښې استغاثه په"لام"سره کافی ده او چه کله ظلم زیات وی نو بیا"لام" کار نه کوی بلکه بیا الف راوړی شی دپاره د مد الصوت چه دلالت اوکړی په تفخیمٌ او تعظیم باندې خکه ظلم زیات دے او د دویم سوال نه جواب دادے چه دا نفس مبنی خکه ده چه دا واقع ده په ځائې د کاف اسمی خطابی باندې چه هغه مُشابه دے دکاف حرفی خطابی سره نو مشابهة موثره راغلو د مبنی الاصل سره په منع د اعراب کښې نو مبنی شوله او د دریم سوال نه جواب دادے چه مبنی په حرکت خکه ده چه دا بناء پکښې عارضی ده نه اصلی سکونٌ اصلی دے په مبنی الاصل کښې او د څلورم سوال نه جواب دادے چه حرکت د فتحی خکه ورکوو چه الالف او چه الف د ځان نه مخکښې فتحه غواړی او خکه مو فتح سره کړه.

سوال: نو چه دانور حرکات متعذر دي نو سکون ورکړه کنه؟

جواب: داسی خو بالکل نه شي کیدلے چه بیا به لازم شي اجتماع د سواکن اربعو په دي شان سره چه یاء هم ساکنه ده په زید کښ او دال به هم ساکن شي او الف هم ساکن دے او داهاء د سکتې هم ساکنه ده او د پنځم سوال نه جواب دادے چه دلام شرط شو ځکه لان اللام یقتضي الجراء چه"لام"تقاضا د جر کوی او الف تقاضا د فتح کوی نو ددی دواړو اثر ینو کښ منافات دے نوپه موثرینو کښ هم مناقات راغئ ځکه تمنائی د اثرینو مستلزم ده تناق د موثرینو لره. فلا یحسن الجمع نه ده جائز دي معنی سره دفع د سوال او شوه چه یحسن راغئ نو مقصد دادے چه نفس جائز به وی خو حسن به نه وی نو.

جواب: اوشو چه داپه معنی د جواز سره دے یعني جائز نه ده دا خبره.

سوال: زه به درته اوښایم چه د جر او د فتح په درمیان کښ به جمع راغلی وی لکه مررت باحمد کښ جر په فتحه سره دے نو ته څنګه وائی چه د دي اجتماع جائز نه ده.

جواب: یو فتحه بالتاء ده او بل فتح بدون التاء ده نو دا فتحه بالتاء دامشترکه ده بین المعرب و المبنی او دا فتح بدون التاء خاص ده د مبنی سره نو اوس په مررت باحمد کښ جر او فتحه بالتاء جمع شوی دي او زه خو جر او فتح بدون التاء وایم نو نه دا راغلی جمع ددوی درمیان کښي.

سوال: دالام او جر دي راشي د الف سره اوکه تع وائی چه"لام"تقاضا د جر کوی نو دپاره د الف به دا فتحه لفظي شي او جر به تقدیری شي نو څه نقصان نشته دے.

جواب: تقدیر د جر دپاره چه کوم مواضع عربو ذکر کړی دي نو دا موضع پکښ نشته دے چه د الف نه مخکښ دي هم جر تقدیری وی.

سوال: نو داجر دي محلی شي او دا فتحه لفظی نو بیا هم نقصان نشته.

جواب: داسی هم نه شي کیدلے ځکه چه اعراب محلی په مبنی الاصل کښ راځی او داخو منادی ده معرب ده نو دلته به اعراب لفظي او تقدیری وی خو محلی نه شي راتلی ځکه بیا به مبنی شي دا یوه وجه شوه دپاره د دي چه"لام"به پکښ نه وی.

یو بله وجه خلیل ابن احمد چه استاذ د سیبویه دے هغه بیان کړی ده چه دا"لام"عوض وی د الف نه په وخت د استغاثه کښ نوکه الف سره"لام"ذکر شی نو بیا به لازم شی جمع په درمیان د عوض او معوض عنه کښ چه دانارواده او د اخیری سوال نه جواب دادے چه مثال ورله ماتن بیانوی ای یا زیداه.

﴿و ینصب ما سواهما... الخ﴾ کله چه فارغ شو مصنف د دریو اقسامو د منادی نه او دهغی دهر واحد د حکم نه او دهغی دهر واحد د امثلو نه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل د څلورم قسم د منادی بیا داهغه منادی ده چه دما قبل نه سوا وی او دا بیا دری قسمه ده (١) مضاف (٢) شبه مضاف (٣) نکره غیر معیّنه او دې لره بیا حکم بیانوی و ینصب سره او امثله به ورله بیان کړی په مثل یا عبد الله سره نو قال و ینصب الخ ای و ینصب بالمفعولیة غرض د شارح په دې عبارت سره علت د نصب د منادی دما سوا ذکر کوی چه داپه اعتبار د مفعول سره ده او هغه منصوب وی نو دا منادی ما سوا به هم منصوب وی.

سوال: موږ خو د منادی دری اقسام ذکر کړل (١) مفرد معرفه (٢) مستغاث باللام (٣) مستغاث بالالف او ته دلته هما ضمیر د تثنیې دې راوړی دے نو یا خو ما سواهم پکار وو او یا خو ما سواها پکار وو چه مطابقة راشی په درمیان د راجع او مرجع کښ نو شارح.

جواب: کوی چه موږ دوه قسمه وئیلی دې یو مفرد معرفه او دویم نادی مستغاث بیا دا مستغاث په خپل کور کښ په دوه قسمه ده باللام او بالالف نو ضمیر د تثنی مطابق دے د مرجع سره لفظا او تقدیرا دا دفع د سوال ده چه ته اوے چه ینصب ما سواهما د دې نه علاوه به منصوب وی نو زه به درته اوښایم چه د دې نه علاوه به وی او منصوب به نه وی لکه یا فتی القوم دلته دا فتی راغلی دے او منصوب نه دے او ما سواهما دے.

جواب: دا نصب عام دے که لفظا وی او که تقدیرا نو دلته که لفظا نشته دے خو تقدیرا شته دے ان کان معربا داهم دفع د سوال ده چه زه به درته اوښایم چه منادی به وی او ما سواهما به وی او بیا به پری هم نصب نه وی راغلی نه لفظا اونه تقدیرا لکه یا یوم لا ینفع مال ولا بنون دلته یو منادی ده اونه مفرد معرفه ده اونه دا مستغاث ده بلکه مضاف ده دې جملې ته چه ما بعده او داخونه لفظا منصوب ده اونه تقدیرا بلکه دا خو مبنی ده په فتح سره نو شارح.

جواب: اوګرو حاصل د جواب دادے چه ما دا اوی چه دامنادی به دنداء نه مخکښ معرب وی او دلته دایوم مبنی دے معرب نه دے مخکښ د نداء نه سوال تا دي منادی منصوب دپاره علت مفعولية اوی چه دا ځکه منصوب ده نو دا علت خو متحقق دے په منادی مفرد معرفه او په منادی مستغاث کښ هم نو بايد چه هغه دي هم منصوب شي.

جواب: شارح صيب کوی چه وما غيره مغير عن حاله حاصل دا دے چه علت د نصب خو دلته هم متحقق شوی دے ليکن سره د تغيير نه اوزه وايم چه په دي کښ يو مغير څه تغيير نه وی کړی اوپه منادی مفرد معرفه او مستغاث کښ تغيير کړی دے يو مغير په دي شان سره چه په منادی مفرد معرفه کښ مغير بناء ده اوپه مستغاث باللام کښ "لام" او په مستغاث بالالف کښ الف مغير دي وما سوى المفرد المعرفة غرض د شارح په دي عبارت سره يو تمهيد دے روستو متن ته او دويم ربط د روستو متن بيانوی دماقبل سره دريم دفع د سوال ده چه ماتن روستو د ينصب ما سواهما دپاره امثله بيانوی نو يو مثال کافی دے کنه دا ډير امثله ولی بيانوی نو شارح.

جواب اوګرو چه تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندي نو اوس دلته ممثلات څلور دي په دي شان سره چه يو مضاف او معرفه به وی لکه عبد الله دويم شبه مضاف او معرفه شانته به وی لکه يا طالعا جبلا دريم مفرد به وی معرفه به نه وی لکه يا رجلا څلورم چه نه به مفرد وی او نه به معرفه نو د دي دريو امثله ذکر دي او ديو مثال ورله نه دے ذکر اوته وائي چه يو مثال کافی دے موئږ وايو يو مثال پکښ کم دے .

"اما ما لا يکون" شارح هم دا تفصيل کوی او دا څلور اقسام ذکر کوی فالقسم الاول غرض د شارح په دي عبارت سره د دي اقسام ثلاثه تفصيل کوی بغير د قسم رابع نه او دويم دهريو دپاره تعين د مثال کوی او دريم دهر مثال دممثل سره تطبيق بيانوی. يا طالعا جبلا په دي مثال باندي اعتراض راځي چه دا جبلا مفعول دے دپاره د طالعا او دا ورله عامل دے نو دا طالعا اسم فاعل دے او د اسم فاعل د عمل دپاره شرط اعتماد دے په يو د اشياء روستو باندي چه يو مبتداء دويم موصوف دريم موصول څلورم ذو الحال پنځم حرف النفی شپږم حرف استفهام اوس دلته دي طالعا خوپه يو باندي هم اعتماد نه دے کړے نو دا څنګه عامل ګرځي.

جواب: دا مثال بنا دے په مذهب د اخفش او سیبویه باندې چه دوی د اسم فاعل د عمل دپاره څه شرط نه وائی (۲) دا مثال بناء دے په مذهب د ابن مالك صیب باندې چه دهغه په نزد باندې اسم فاعل په حرف نداء باندې هم اعتماد کولی شي. خو دا دواړه جوابونه ضعیف دي ځکه مصنف نه په مذهب د اخفش دے په دې مسئله کښ اونه مصنف دپاره د اعتماد د اسم فاعل حرف نداء گرځولی ده و سیاتي في المبنیات.

بهتر جواب هم دادے چه دلته دې اسم فاعل اعتماد کړے دے په موصوف مقدر باندې چه هغه رجلا دے ای رجلا طالعا جبلا.

سوال: داخو ته په بل مصیبت کښ واقع شوی ځکه چه اوس مونږ دا تپوس کوو چه په دې یا رجلا طالعا جبلا کښ ته منادی رجلا وائی اوکه طالعا جبلا یو هم نه دے صحیح ځکه که منادی رجلا شي نو دا شبه مضاف نه دے او ته خو مثال د منادی شبه مضاف ذکر کوی او که ته وائی چه دا طالعا نو دا شبه مضاف دے خو دا منادی نه ده نو حاصل دا شو چه ته کوم ته منادی وائی هغه شبه مضاف نه دے او چه ته کوم ته شبه مضاف وائی نو هغه منادی نه ده. تدبر.

جواب: منادی هم دغه رجلا موصوف دے او دا اگرچه مشابه د مضاف سره نه دے خو چه کله موصوف حذف شو نو دا صفة دهغی په مقام باندې قائم شو نو دا هم مشابه شو د مضاف سره نو صحیح دے ماتن اووی یا رجلا لغیر معین شارح وائی مقولا غرض د شارح په دې عبارة سره یو تعین د متعلق کوی دپاره د جار مجرور چه لغیر معین دے او دویم غرض د شارح په دې عبارة سره دپاره د دې جار مجرور اعراب ښائی نو وای داپه اعتبار د متعلق سره حال دے د رجلا نه هغه ذو الحال دے او رجلا مفعول دے دپاره د ادعو مقدر او معنی شوه چه یا رجلا شو په داسی حال کښ چه اوئیلی شي یو غیر معین ته.

"ای لرجل غیر معین" شارح د غیر معین صفة دپاره موصوف متعین کړو چه رجل دے و هذا توقیت الخ غرض د شارح په دې عبارت سره د فع د سوال ده چه دا لغیر معین لفظ ذکر کول مستدرك دي ځکه یا رجلا کښ چه رجلا منصوب وئیلی کیږی نو هغه وخت کښ چه غیر معین وی نو یو خو دا مستدرك شو او بل ستا د کلام نه دا معلومه شوه چه دا یا رجلا معین او غیر معین دواړو ته منصوب وئیلی کیږی نو ځکه دې دا قید د لغیر معین اولگو چه دلته غیر معین ته مراد دے او حالانکه داخو د معین احتمال د سر نه هدو لری نه نو شارح جواب کوی

حاصل د جواب دادے چه دا لغیر معین لفظ دپاره د تقید نه دے بلکه توقیت دپاره دے توقیت معنی داده چه دا یا رجلا به هغه وقت کښ منصوب وائی چه د غیر معین اراده اوکړی اوکه د غیر معین اراده دې نه وی کړی نو بیا دا منصوب هم نه شی وتیلی لانه منصوبا لا یحتمل المعین معنی داسی ده چه څکه دا رجلا په داسی حال کښ چه ته منصوب واخلی احتمال د معین نه لری و القسم الرابع غرض د شارح په دې عبارت سره څلورم قسم ذکر کوی او مثال ورله هم بیانوی او بیا اشاره کوی اعتراض ته او بیا دهغی دوه و جوابونو ته اشاره کوی او په اخر کښ به دفع د اعتراض وکړی. دا مقاصد دې د شارح تر متن پورې اول په دما لا یکون الخ سره دویم په مثل یا حسنا سره دریم په ولم یورد سره څلورم په اذ حیث اتضح او مع ان المثال الثانی سره پنځم په وهذه الامثلة سره بیان کړی نو حاصل دادے چه څلورم قسم هغه دے چه هغه نه مفرد وی او نه معرفه لکه یا حسنا وجهه ظریفا اوس دا مفرد نه دے څکه شبه مضاف دے او نه دا معرفه ده څکه دا اضافة لفظی دے دا تعریف نه کسب کوی صرف تخفیف کسب کوی.

سوال: دا ظریفا ورسره ولی ذکر کوی؟

جواب:دا مو څکه ذکر کړو چه دلالت اوکړی په مقصود باندې په صریح طریقی سره په دې شان سره چه که حسنا کښ تعریف راغلی وی نو بیا به دا ظریفا معرفه وه نکره به نه وه څکه دا صفة دے خو چه دانکره ده نو معلومه شوه چه حسنا کښ تعریف نشته دے ولم یورد الخ اشاره اعتراض ته ده چه ماتن دا مثال ولی نه بیانوی.

جواب (۱) اذ حیث الخ اشاره ده جواب ته چه دائی څکه ذکر نه کړو چه دا د ما قبل نه معلومیږی په دې شان سره چه نه به مفرد وی لکه عبد الله مفرد نه دے او نه به معرفه وی لکه یا رجلا جبلا نو د دواړو قیدو انتفاء معلومه شوه. نو سهل اسان شو تصور د انتفاء د دواړو قیدو په ګرده سره نو څهٔ ضرورت پاتې نه شو بل مثال راوړوته.

سوال: دلته ماتن د مضاف ،شبه مضاف مثالونه مخکښ ذکر کړل او د نکری مثال ئی روستو ذکر کړو دا ولی داسی ذکر کوی؟

جواب: مفرد مخکښ وو نو کوم شی سره چه د دې انتفاء معلومیده نو هغه مونږ مخکښ کړو چه مضاف، شبه مضاف دے او معرفه روستو وه نو دهغی انتفاء چه په کوم شی معلومیده نو هغه موهم روستو کړو لکه نکره غیر معینه.

جواب: عن اصل الاعتراض (٢) مع ان المثال حاصل دادے چه ما د ځلورم قسم دپاره هم مثال پیش کړے دے چه یا طالعا جبلا ځکه دا احتمال د مثال رابع هم لری چه مراد تری نه نکره شی نو دا مثال شو کنه هذه العبارة اعم من ان یراد الخ دا دفع د سوال ده چه دایا طالعا جبلا د قسم رابع مثال شو نو د قسم ثانی مثال پاتی شو.

جواب: مونږ دا طالعا جبلا عبارة اخلو نوکه مقصود معین وی نو د قسم ثانی مثال شو او که مراد غیر معین وی نو د قسم رابع مثال شو و هذه الامثلة دا اخیری خبره ده دفع د اعتراض ده چه تا د مفرد معرّف چه کوم خلاف امثله وو هغه دې بیان کړل او دپاره د منادی مستغاث چه کوم خلاف امثله وو نو دا دې بیان نه کړل دا ولی؟

جواب: شارح وائی چه دا امثله چه څنګه خلاف د منادی مفرد معرّف دې نو دا د خلاف د منادی مستغاث هم دې دی کښ څه استغاثه نشته دے نو دامی ذکر کړی دی.

و توابع المنادی المبنی المفردة الخ په بحث د منادی کښ مونږ اجمالی خبری لس کړی وی نو د شپږو خبرو تفصیل اوشو اوس تفصیل د اوومی خبری کوی چه هغه توابع د منادی دی. او په دویم اعتبار سره چه تفصیل څنګه کوی نو دا بیا شپږمه خبره ده چه توابع د منادی دي فقال و توابع اه بیا دا توابع مفرده د منادی مبنی پنځه دي (١) تاکید (٢) صفة (٣) عطف البیان (٤) عطف نسق (٥) بدل. نو دا توابع مفردة د منادی مبنی بیا په دوه قسمه دي د نیم ......یو طرفته دي او یو نیم بل طرفته دے. اوس چه کله دا توابع مفرده نه تاکید، صفة ، عطف بیان او معطوف معرف باللام راشی نو په دي توابع مفرده ؤ باندې رفع او نصب دواړه وئیل جائز دي رفع په اعتبار د حمل سره په لفظ باندې او نصب په اعتبار د حمل سره په محل باندې لکه مثلا یا زید العاقل و العاقل نو په دي العاقل کښ رفع او نصب دواړه روادی. او حکم د توابعو مفرده و دمنادی مبنی چه علاوه د دي نه دي چه بدل، او معطوف غیر معرف باللام دې نو دابه راشي. فانتظر.

سوال: څه وجه ده چه ماتن د توابع د منادی بحث دلته کویٰ حالانکه د توابعو بحث په خاتمه کښ د مجرور اتو نه روستو را روان دے کنه؟

جواب: هلته په خاتمه کښ چه کوم توابع دي نو هغه په یو جهة سره دې یعنی د توابع د متبوع په یو اعراب کښ تابع وی او د توابع د منادی مبنی په مختلفو جهاتو سره دي نو دا ځکه دلته بیانوی چه خان لره احکام دي ورله دغه شان توابع دلانفی جنس به هم ذکر کوی

ځکه هغه هم ځان له احکام لری بیا د توابع اضافة دي منادی ته اوشونو په دې سره احتراز اوشو د توابعو نه مطلقا او د توابعو د لا لنفی الجنس نه او دا روستو راځی المبنی دا صفة دے دپاره د منادی او د دې قید فائده به شارح بیان کړی. علی ما یرفع به د دې قید فائده به هم شارح بیان کړی. المفردة دا مرفوع دے صفة دے دپاره د توابع .

سوال: دا المفردة صفة دپاره د توابع صحیح نه دے ځکه دې کښې مطابقة نشته دے صفة مفرد او موصوف جمع ده.

جواب: کومه جمع چه علاوه د جمع مذکر سالم نه وی نو قانون پکښې دادے چه دهغې دپاره صفة جمع هم راتلی شی او واحد مونث هم په تاویل د جماعة سره دلته هم داسی ده حقیقة او حکما دا تعمیم دے په المفردة کښې او د دې تعمیم فائده به روستوراشی و انما قید المنادی الخ غرض د شارح په دې عبارت سره فوائد د قیوداتو بیانوی. نوپه قید د المبنی سره احتراز اوشو د توابع د منادی معرب نه ځکه هلته جواز الامرین نه وی بلکه تابع د معرب تابع د لفظ وی نه د محل و قید نا المبنی بکونه علی ما یرفع به الخ دا د بل قید چه شارح لګولی دے دهغې قید فائده بیانوی چه هغه علی ما یرفع به دے حاصل دادے چه منادی مبنی په دوه قسمه ده (۱) منادی مبنی علی ما یرفع به (۲) منادی مبنی بالفتح نوپه دې قید سره ئې منادی مبنی بالفتح خارج کړه ځکه چه هغې کښې رفع جائز نه ده بلکه صرف فتح ده پکښې لکه یا زیداه و عمراه و قید التوابع بکونها مفردة الخ غرض د شارح په دې عبارة د قید د حقیقة او حکما فائده بیانوی چه دا تعمیم په المفردة کښې مونږ ځکه کوو چه په دې سره مونږ مضاف په اضافة لفظیه او شبه مضاف په المفردة کښې دا خلو ځکه دهغې دپاره هم دا حکم دے چه رفع او نصب دے او په دې سره تری نه مونږ ه مضاف په اضافة معنویه سره خارج کړو ځکه هغه نه حقیقة مفرد دے او نه حکما مفرد دے نوپه هغې کښې صرف نصب جائز دے بس و انما جعلنا سره شارح دا فائده بیانوی. بیا مفرد حقیقی هغه دے چه نه مضاف وی په اضافة لفظیه اونه معنویه سره اونه شبه مضاف وی او مفرد حکمی هغه دے چه مضاف وی په اضافة لفظیه سره خو په اضافة معنویه سره مضاف نه وی او یا شبه مضاف وی لتدخل فیها الخ غرض د شارح په دې عبارت سره وجه د تعمیم بیانوی په المفردة کښې.

نحویا زید الحسن الخ غرض د شارح په دې عبارت سره امثله بیانوی دپاره د مضاف په اضافة لفظیه او دپاره د شبه مضاف نو دا اول مثال دپاره د مضاف دے په اضافة لفظیه سره او دا

دویم مثال دپاره د شبه مضاف دے نو دا تابع د منادی مبنی علی ما یرفع به راغلی دي او دا مفرد دي حکما نو دلته هم جواز الامرین دے رفع او نصب دواړه وئیل جائز دی.

سوال: څه وجه ده چه چه مضاف په اضافة لفظیه سره او مشابه بالمضاف چه کله عین منادی واقع شی نو د دي دپاره حکم د منادی مضاف په اضافة معنویه سره وی یعنی تعیین د نصب په پکښ وی او چه کله دا دواړه توابع د منادی راشي نو بیا دي لره حکم د توابع مفرده ؤ وی چه هغه جواز الامرین دے رفع او نصب دواړه پکښ بیا جائز وی.

جواب: دا مضاف په اضافة لفظیه سره او شبه مضاف په دي کښ دوه شبهی دي هم مشابهة ساتی د مفرد سره اوهم مشابهة ساتی د مضاف سره په اضافة معنویه مشابهة ئی د اضافة معنویه سره په عدم تمامیة کښ دے لکه څنګه چه اضافة معنویه نه تمامیږی بغیر د ذکر کولو د مضاف الیه نه نودا دواړه هم بغیر د ذکر کولو د جزء ثانی نه نه تمامیږی نو دا مشابهة ورله دا تقاضا کوی چه دي لره موثر حکم د اضافة معنویه ورکړو برابر ه خبره ده که منادی واقع شی او که تابع او مشابهة د مفرد سره خو یو په عدم د اضافة معنویه کښ دے لکه څنګه چه په مفرد کښ اضافة معنویه نشته دے نوپه دي دواړو کښ هم نشته او دویم لکه څنګه چه په مفرد کښ تعریف په اداتو سره راځی نو دي دواړو کښ هم داسی ده نو دا مشابهة دا تقاضا کوی چه دا دي په حکم د مفرد کښ شي برابره خبره ده که دا منادی واقع شي او که تابع نو موثر دهریو مشابهة خیا او ساتلو په دي شان سره چه کله دا دواړه منادی واقع شی نو بیا ورله حکم د اضافة معنوی دے یعنی تعین د نصب دے او چه کله دا تابع واقع شي نو بیا ورله حکم د مفرد دے یعنی جواز الامرین دے.

سوال: دا لحاظ د دواړو مشابهتونو خوپه عکس د دي سره هم کیدلو یعنی چه کله دا منادی واقع شي نو حکم د مفرد دي ورله ورکړے شي او چه کله دا تابع واقع شي نو بیا دي د اضافة معنویه لحاظ اوساتلے شي او دهغی حکم دي ورله ورکړی شي.

جواب: داسی نه شو کولی څکه دي کښ موثر د اصل لحاظ ساتلے دے څکه که داسی شی دا تاجه څه اوی نو بیا به اسم د خپل اصل نه خارج شي په دي شان سره چه اصل په اسماؤ کښ اعراب دے نو اوس چه دا منادی واقع شي او حکم د مفردو ورکړو نو دابه مبنی ګرځی نو اسم د خپل اصل نه مبنی ته لاړو چه دا خلاف الاصل دے او موثر چه کومه طریقه اوکړه چه کله منادی واقع شي نو حکم د اضافة معنویه دے او هغه منصوب دے نو معرب پاتی

دے او چه تابع واقع شی نو جواز الامرین دے چه رفع او نصب دے نو دا هم معرب کبس وی نو د خپل اصل نه خارج نه شو. "ولما لم یجرالحکم الاتی فی التوابع کلها الخ" غرض د شارح په دې عبارت سره یو تمهید دے روستو متن ته دویم د روستو متن دما قبل سره ارتباط دے دریم دفع د سوال ده چه توابع خو ټول پنځه دي نو څه وجه ده چه دا روستو حکم چه راځی چه ترفع علی لفظه و تنصب علی محله دا خاص دے د بعض توابعو سره پکار خو داوه چه ټول ئې ذکر کړی وی او یا ټول ئې نه ذکر کولی او بیا چه کوم ئې ذکر کړی دي نو هغی کبس هم تقطیع کوی چه معطوف کبس یو هغه دے چه دخول دیاء پرې ممتنع وی او بل هغه چه دخول دیاء پرې جائز وی نو دا ولې کوی؟

جواب: حاصل د جواب دادے چه دا روستو حکم په ټولو توابعو کبس نه راتلو نو ټول موذکر نه کړل بلکه دا حکم په بعض توابع کبس راتلو نو هغه مو ذکر کړل او بیا په بعض کبس هم په ټنو کبس راتلو او څه کبس نه بلکه ځنی کبس داسی وو چه هر وقت کبس راتلو او ځنی کبس په څه شروطو سره نوپه هغه طریقه ئې بیان اوکړو، شارح هم دا خبره کوی.

فقال من التاکید شارح وائی ای المعنوی غرض د شارح دفع د سوال ده چه یا زید زید کبس دا اول زید منادی ده او دویم زید تاکید دے حالانکه هغی کبس خو جواز الامرین جائز نه دے بلکه دا زید موکد به مبنی علی الضم وی نو شارح .

جواب: اوکړو چه مراد په تاکید سره معنوی دے نه تاکید لفظی ځکه دهغی حکم په اغلب مذهب کبس حکم د اول دے که هغه معرب وو نو دابه هم معرب وی او که هغه مبنی وو نو دابه هم مبنی وی لکه یا زید زید کبس شو.

سوال: مونږ خو اوریدلی دي چه په تاکید لفظی هم دا حکم جائز دے چه ترفع علی لفظه و تنصب علی محله نو شارح جواب کوی چه و قد یجوز او داهم د بعضو مذهب دے پکبس

سوال: شارحه چه د قید د المعنوی مراد وو نو داماتن ولې نه ذکر کوی؟

جواب: و قد یجوز اعرابه الخ حاصل داچه په تاکید کبس دا حکم مطلقا هم جائز وو او ګویا که مختاره هم د ماتن دا مذهب دے نو د دې وجې نه ماتن دا مقید نه کړو په معنوی سره.

سوال: نو شارحه چه مختاره عند الماتن دا مذهب وو نو ته ولې دا مقید کوی په قید د معنوی سره.

جواب: زه د ماتن دمتن خادم يم خو غلام ئى نه يم چه دي څه واڼي نو هغه به زه هم وايم بلکه زما دا مذهب دے او دماتن دابل نو ما قيد د معنوى دپاره د اظهار دخپل مذهب اولګو و الصفة شارح واڼي مطلقا دا رفع د وهم ده چه دلته به هم څه قيد مراد وي خو شارح به خلاف کړی وی پريښو دي به ئي وي نو شارح واڼي نه دا مطلقا دے که دا صفة بحاله وي او که بحال متعلقه وي او يا دا صفة مو ضحه وي يا مادحه يا ذامه وي دهريو دا حکم دے "و عطف البيان كذلك يعنى مطلقا و المعطوف بحرف الممتنع دخول يا عليه" نو داسى معطوف به چرته وى نو شارح واڼي معرف باللام دے کنه اما دا خبره چه په دې باندې دخول دياء ولى ممتنع دے نو دا خبره ظاهره ده چه بيا به لازم شى اجتماع د التينو د تعريف چه دانارواده بخلاف الخ غرض د شارح توابع ما بقى بيانوى چه يو بدل دے او بل معطوف غير ما ذكر او حكم به ورله راشي .

سوال: فرض منصبى د ماتن اختصار دے نو پکار ده چه ماتن داسي وئيلى وى چه و توابع المنادى المبنى المفردة ترفع على لفظه و تنصب على محله او د بدل او د معطوف ما ذكر استثناء ئى كړى وى چه الا البدل و المعطوف الغير الممتنع دخول يا عليه نو مقصود به هم حاصل شوى وى او اختصار هم .

جواب: د توابعو ذكر مخكښ نه دے شوى نوكه دغه انداز باندےئى ذكر كړےوے نو دا دوه به معلوم شوى وى او دانور به بالتعين نه وى معلوم شوى او كتاب خو دپاره د مبتدئينو دے نو ځكه ماتن دا كلام په دي انداز سره ذكر كړو.

سوال: نوپه دې كښ به ئى اختصار كړى وى كنه د المعطوف بحرف الممتنع دخول يا عليه په ځائے باندې به المعطوف المعرف باللام وئيلى وى نو بيا به هم اختصار حاصل شوى وى.

جواب: اصل كښ ماتن په دې اوږد عبارت كښ اشاره كړې علت ته چه د دې معرف باللام نه دا احتراز ځكه اوشو چه دخول ديا پرى ممتنع دے او په دغه شان عبارت سره علت نه معلوميدو ترفع حملا على لفظه شارح پكښ حملا اوى نو يو غرض د شارح د جار مجرور دپاره متعلق متعين كوى دويم دفع د سوال ده چه د ترفع په صله كښ على نه راځى بلكه باء راځى ځكه مقصد داچه رفع په دې سره راځى په دې باندې نه راځى نو دلته داعلى څنګه راغلى دے؟ نو شارح جواب اوكړو صله دترفع كښ نه دے بلكه د حملا په صله كښ دے او د ترفع

دپاره دا مفعول له دے نو معنی به داشي چه ترفع چه مرفوع كولی به شی هر واحد د دې
ځلورو توابعو نه د وجې د حملولو نه په لفظ د منادی باندې .

الظاهر او المقدر دا دفع د سوال ده چه صحیح ده به یا زید العاقل کښې په زید باندې ضمه
شته دے نو به دې باندې به دا العاقل حمل شی نو مرفوع به شی خو په یا فتی العاقل کښې
خو په فتی باندې ضمه نشته دے نو څنګه به په دې حمل شی نو شارح جواب اوکړو چه
دلته مقدر ده لان بناء المنادی غرض د شارح دفع د سوال ده چه کله منادی مفرد وی نو دا
مبنی وی او تابع د مبنی تابع د محل وی نو دلته په یا زید کښې دا زید منادی مبنی ده نو ته
څنګه تابع د دې د لفظ ګرځوې د مبنی تابع خو تابع د محل وی نو جواب حاصل دادے چه
دا مشابهة ساق د معرب سره په دې شان چه څنګه په معرب کښې دا اعراب د عامل د وجې
نه وی نو داسې په دې منادی کښې دا ضمه دیاء د وجې نه ده نو چه مشابهة د معرب سره
راغلو نو تابع د معرب خو تابع د لفظ وی نو دابه هم داسې وی و تنصب حملا على محله
داپکښې دوېمه وجه بیانوی لان حق تابع المنادی سره شارح د دې دپاره علت بیانوی. مثلا ماتن
امثله بیانوی نو د صفة دپاره ئې مثال بیان کړې دے او د تاکید دپاره ئې مثال نه وو پیش کړې
نو دهغې دپاره شارح مثال بیانوی

و اقتصروا الخ غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده چه مصنف توابع څلور ذکر
کړل او مثال ئې صرف دیو دپاره ذکر کړو دا نور ولې نه ذکر کوی؟

جواب: (۱) شارح وائی چه ماتن مثال د صفة دپاره . ذکر کړو څکه د اکثر او اشهر دے په دې
شان سره چه دا صفة کله بحاله او کله بحال متعلقه او کله موضحه وی کله ما دحه او کله
ذامه وی نو دا اکثر دے او اشهر هم دے څکه دا صفة تابع د خپل متبوع مکمل تابع وی په
افراد، تعریف، تنکیر وغیره کښې نو دا اشهر دے.

سوال: نو شهرة خو تقاضا د ترك کوی نو هغه مثال ذکر کول پکار وو چه هغه غیر اشهر وو .

جواب: لحاظ د مبتدئین ئې کړے دے نو دوی لره مشهور مثال راوړل غوره دې چه پوره په
ذهن کښې واقع شی. (۲) مصنف د صفة مثال راوړی دے نو دې کښې مقصد رد کول دی په
امام اصمعی رحمه الله باندې په دې شان سره چه هغه وائی چه د منادی مفرد دپاره تابع
صفة نشی راتلې څکه دامنادی واقع ده په ځائے د کا اسمی خطابی باندې او دا ضمیر دے او
ضمیر خو لا یوصف ولا یوصف به چه ضمیر نه موصوف اوته صفة واقع کیږی لهذا تابع صفة

نشى راتلى دپاره د منادى نو ماتن پرى رد اوكړو چه دا راتلى شى څکه يو عين شئ دے او بل وقوع ديو شئ ده په مقام د بل شئ باندې نو منادى بعينه ضمير نه دے صرف په ځائے د ضمير واقع شوى ده. و يا غلام غرض د شارح دوه نور امثله بيانوى دپاره د تكميل د امثلو چه دا مثالونه څلور پوره شى نوپه دې ټولو امثلو كښې ستا دپاره خيار دے كه په تابع باندې رفع واى اوكه پرى نصب واى.

"و الخليل فى المعطوف يختار الرفع الخ" توابع مفرده د منادى مبنى على ما يرفع به ذكر كيدل نو يو پكښې تاكيد وو بل صفة وو او بل پكښې عطف بيان وو او يو پكښې معطوف بحرف الممتنع دخول يا عليه وو نو اوس دايو قسم چه معطوف دے په هغه حرف چه دخول دياء پرى ممتنع دے نوپه هغې كښې بيان الاختلاف ذكر كوى فقال و التخليل فى المعطوف الخ نو حاصل دادے چه داسى معطوف چه دخول دياء پرى ممتنع دے نو په هغې كښې نصب او رفع دواړه جائز دى بالاتفاق خو مختاره پكښې څه شئ دے نو دې كښې اختلاف دے درى مذاهب دى. (۱) خليل (۲) ابو عمرو (۳) ابو العباس د خليل په نزد باندې مختاره په داسى تابع كښې رفع ده او د ابو عمرو په نزد په داسى تابع كښې نصب مختار دے او ابو العباس تفصيل كوى په دې شان سره چه كه دا تابع چه معطوف دے په داسى حرف سره چه دخول دياء پرى ممتنع دے نوكه دا د الحسن اسم پشان وو نو بيا پكښې رفع مختاره ده لكه چه خليل واى اوكه د الحسن اسم پشان نه وو نو بيا پكښې نصب مختاره دے لكه چه ابو عمرو واى.

دا عبارت چه ماتن په كوم انداز سره ذكر كړى دے نوپه دې باندې ورله فاضل هندى، صاحب دغاية التحقيق ډير دا د وركړى دے او بعض اساتذه به خبره كوله چه تفتازانى صاحب امام د بلاغة او فصاحة به داخبره كوله چه كه مصنف د دې كتاب ژوندى وے نو مابه ورته وئيلى وو چه د دې عبارت نسبة ماته اوكړه او زما ټول كتابونه دې تاته منسوب شى. والله اعلم.

و الخليل شارح تعريف كوى د خليل نو واى دې نه مراد خليل ابن احمد دے د سيبويه استاذ وو او ده لره په نحو كښې اوچت مقام دے او د علم عروض موجد هم وو المتوفى ۱۷۵ هجرى فى المعطوف اى بحرف الممتنع دخول ياء عليه. غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره كوى چه په المعطوف كښې الف"لام"عهدى دے مطلق معطوف ترى نه دے مراد بلكه هغه معطوف چه دخول دياء پرى ممتنع دے يعنى معرف باللام يختار الرفع دا خبر دے دپاره د و

الخليل مبتداء مقصد داچه په يا زيد و الحارث كښ رفع او نصب دواړه جائز دي خو رفع پکښ مختاره ده نو دلته به دری دلائل مطلوب وی (١) په جواز د رفع (٢) په جواز د نصب (٣) په اختيار د رفع نو دليل د جواز د رفع خو حملا على لفظه دے او دليل د نصب خو حمة على محله دے او دليل د اختيار د رفع به شارح بيان کړی لان المعطوف بحرف ال الحقيقة سره حاصل ئې دادے چه معطوف بالحرف په اعتبار د معنی سره منادی مستقله ده نه په اعتبار د لفظ سره نو چه منادی مستقله شوه نو حکم د منادی مستقلی چه مفرد وی مبنی على ما يرفع به دے نو دلته هم مبنی کول پکار دي على ما يرفع به خو مبنی به ورله تشو وئيلی ځکه مباشرة د حرف نداء ورسره نه دے شوی بلکه حرف نداء پری ممتنع دے نو کم از کم مرفوع خو چه ورته اوايو کنه په"واو" يا ضمه يا الف سره. "ولكن لمالم يباشر لك"ن دپاره د استدراك راغلی مخکښ داوهم پيدا شو چه کله دا منادی مستقله شوه او مفرده هم ده نو دا مبنی کړه کنه نو شارح دا وهم دفع کړو چه نه کنه حر ف نداء ورسره مباشر نه ده راغلی نو حاصل د دې دليل دادے چه دې کښ لحاظ د معنی شوی دے و ابو عمرو غرض د ماتن دويم مذهب بيانوی او غرض د شارح تعارف کول دي د ابو عمرو دا ابو عمرو ابن العلاء نحوی قاری هم دے او داپه خليل باندې مقدم دے ځکه وفات دده په ١٥٤ هجری کښ شوی دے دا منصور په زمانه کښ"واو" د امام صيب سره د ده ملاقات شوی وو او د امام صيب نه ئې تپوس کړی وو په قتل د مثقل سره چه دې کښ قصاص شته دے او کنه نو امام صيب ورته اوی چه نه نشته پکښ نو ابو عمرو تری نه تپوس اوکړو چه اگر که قتل ئې کړی په حجر د منجنيق سره نو امام صيب ورته اوی ولو يجبل اباقيس.

يختار فيه النصب دا دابو عمرو په اعتبار د ترکيب سره عطف دے په هغه ضمير مرفوع متصل باندې چه يختار کښ دے او دا ضمير راجع دے خليل ته.

سوال: دا عطف د اسم ظاهر په ضمير مرفوع متصل باندې صحيح نه دے تر سو چه تاکيد د ضمير په منفصل سره اونه شی او دلته خو تاکيد په منفصل باندې نشته دے.

جواب: او عطف د اسم ظاهر په ضمير مرفوع متصل باندې بغير د تاکيد نه په منفصل ناروا دے خو دا هغه وخت چه کله فصل نه وی راغلی په يو بل شئ سره دلته فصل راغلی په لفظ د الرفع سره نو عطف جائز دے او په دې سره يو بل سوال هم دفع شو چه د ترکيب په اعتبار سره دا عبارت صحيح نه دے په دې شان سره چه دا ابو عمرو به عطف وی په الخليل باندې او دا النصب به عطف وی په الرفع باندې نو داخو لازم شو عطف د اسمينو په

معمولینو د عاملینو مختلفینو باندې ابو عمرو یو اسم دے او النصب بل اسم دے او د دې عمرو عطف دے په الخلیل چه معمول د ابتداء دې هغه ورله عامل دے او النصب په الرفع باندې چه معمول د یختار دې دا ورله عامل دے او دا عطف خو صحیح نه دے. نو موږه جواب اوکړو چه دا عطف د اسمینو دے په معمولینو د عامل واحد باندې په دې شان سره چه دا ابو عمر عطف دے په ضمیر د یختار باندې نو ضمیر کښې عامل یختار دے او په الرفع کښې هم عامل دا یختار دے نو عامل دواړو کښې یو دے فرق دومره دے چه یختار عمل د رفع کړے دے په ضمیر کښې اوپه الرفع کښې عمل د نصب کړے مع تجویزه شارح د یختار قید فائده بیانوی بیا دلته هم درې دلائل ضروری دې نو د رفع او نصب دلیل خو معلوم دے او دلیل د اختیار د نصب شارح بیانوی په فانه لما امتنع سره حاصل ئې دادے چه کله په داسې قسم معطوف کښې حرف نداء راتلل منع شول نو دا منادی مستقله نه شوه په اعتبار د لفظ سره نو دې لره موثر حکم د تابع ورکړو او تابع د مبنی خو تابع د محل وی او هغه نصب دے نو داهم منصوب شو حاصل دادے چه دوی لحاظ د لفظ کړے دے نو موثر نه فرق بین المذهبین هم معلوم شو چه خلیل صیب اعتبار معنی لره او ابو عمرو صیب اعتبار لفظ لره ورکړے دے.

سوال: شارح صرف دلائل د اختیار ذکر کړل اودانور نه ذکر کوی دا ولې؟

جواب:- دانور دلائل خو ظاهر وو دما قبل نه معلومیږی و ابو العباس غرض د ماتن خو دریم مذهب ذکر کول دی. او شارح تعارف کوی د ابو العباس نو نوم د ده مبرد دے داهم یو لوی نحوی دے د مازنی شاگرد دے او دانوم ورته هم د مبرد هغه ورکړے دے بیا خلق د مبرد په ځائے باندې مبرد بفتح الراء سره مشهور کړو لکه اوس هم دے سره ز"یاء" خلق وائی المتوفی ۲۸۵، ۲۸٦ هجری بنا بر اختلاف دے کالحسن

سوال: مدلول د حسن او مدلول د حارث چه معطوف مذکور دے دا خو جدا جدا دې نو څنګه داپه شان د حسن دے.

جواب: شارح وائی اسم د حسن مراد دے نه مدلول یعنی دا تشبیه په اسمیت کښې ده.

سوال: نو اسم چه حارث دے دا اسم فاعل دے او حسن خو صفة مشبه ده نو اسم د حارث خو د اسم د حسن پشان نه دے.

جواب: شارح والی په جواز دلرے کیدلو دلام کښ دا تشبیه ده فکا الخلیل.

سوال: دا فاء په دې باندې جزائیه ده او داخو داخلیږی په جمله باندې او دلته خو خلیل مفرد دے جمله نه ده.

جواب: داکاف په کالخلیل کښ په معنی د مثل باندې دے او دا مضاف دے او الخلیل ورله مضاف الیه دے نو بیا مضاف سره د مضاف الیه نه خبر دے او مبتداء ورله ابو العباس ده نو مبتداء او خبر جمله شوله.

سوال: ابو العباس خو د خلیل په شان نه دے نه زمانا ځکه خلیل ډیر مخکښ تیر شوی دے د ابو العباس نه اونه شکلا ځکه ماتن د دوی چرته لیدلے وو اونه علما ځکه خلیل خو د سیبویه استاذ دے ابو العباس خو علم کښ کم دے.

جواب: شارح والی دا تشبیه په اختیار د رفع کښ ده نه په زمانه او نه په شکل اونه په علم کښ لامکان چعله او شارح دلیل بیانوی حاصل دا دے چه هر کله د داسی معطوف نه"لام"لرے کیدلے شی. نو دومره مانعیة د حرف نداء نشته دے نو داپه حکم د منادی مستقله کښ ده، اگرچه فی الحال داسی نه ده. نو پکار ده چه دا مبنی علی مایرفع به شی خو حرف نداء نشته دے نو موثر به دامرفوع کړو و الا فکابی عمرو .

سوال: دا فا جزائیه ده او داپه جزاء داخلیږی چه هغه تقاضا د شرط کوی اول او شرط خو دلته نشته دے بلکه مخکښ خو الا ذکر ده نو دا خو شرط نه دے ځکه شرط جمله وی او دا جمله نه ده او نه دا الا استثنائیه ده ځکه دهغی نه روستو فاء نه راځی.

جواب: د دې په ظاهر لباس مه شه دا الا حرف استثناءنه دے کنه.

سوال: نو چه دا شرط دے نو دا الا ترې نه څنګه جوړ شو.

جواب: داپه اعلال سره په دې شان سره چه داپه اصل کښ ان لم یکن المعطوف الخ وو او بیا د دې نه فعل شرط سره د خپلو متعلقاتو نه حذف شو د وجې د وجود د قرینې نه په دې باندې په جانب د معطوف علیه کښ چه ملته دا ذکر وو نو داپه دې باندې دلالت کوی. نو ان لم پاتې شو نو دا کلمه دلم دا عامل دے خو داسی عامل دے چه ذکر د ده بغیر د معمول نه جائز نه دے ولی ضعیف دے نو دامو په لا سره بدل کړو ځکه لا قوی دے که معمول

ورسره وی او کنه خو دا خپله وائی چه زه یم نو دا ان لا شو نو داان بیا به "لام" کښې مدغم شو ځکه دا قریب المخرج دي نو دا اول په "لام" سره بدل شو او بیا پکښې ادغام اوشو نو الا شو. النجم الصعق دا امثله دي د دي نه دلام ایستل ناروا دي ولې چه وضع ئې دلام سره شوی ده بیا په دي فکاني عمرو هم هغه سوال او جواب دي کوم چه په کالخلیل کښې وو. تدبر.

اوس دلته دوه خبری نوری دی. یوه خبره داده چه اعلام په اعتبار د نزع دلام او د عدم نزع دلام سره په څو قسمه دی؟ نو شارح رضی تفصیل کړے دے حاصل دادے چه په دي اعتبار سره اعلام په دری قسمه دي (۱) نزع د"لام" تری نه ناروا دي (۲) راوړل دلام پری ناروا وی (۳) جواز الامرین (۱) کوم اعلام چه د الف لامو سره وضع شوی وی نو دهغی نه لرے کول د"لام"ناروا دي لکه النجم او الصعق (۲) کوم اعلام چه واضع بغیر د الف"لام"نه وضع کړی وو نو په هغی باندي د الف لامو داخلول ناروا دي ځکه اجتماع د التینو د تعریف راځی او دا ناروا ده لکه زید، عمر او بکر وغیره. (۳) کوم اعلام چه مصادر دي یا مشتقات دي نو دي باندي حکم د جواز الامرین دے دیوره تفصیل د پاره شارح رضی تفصیل کړی دے نو دهغه شرح ته رجوع کیدلے شی الشرح الکبیر ته دویمه خبره داده چه مصنف چه کوم مذهب د ابو العباس بیان کړے دے نو ایا دا صحیح دے او کنه دي کښې خطا دے نو دا خبره ده چه رضی صیب وائی چه مصنف په دي کښې خطا شوی دے مذهب د ابو العباس مذهب د خلیل دے. و المضافة تنصب کله چه فارغ شو مصنف د توابع د منادی مبنی نه چه هغه مفرده وو نو شروع ئې اوکړه په توابعو غیر مفرده و کښې د منادی مبنی علی ما یرفع به فقال و المضافة تنصب شارح وائی عطف اه دما قبل سره ربط بیانوی چه دا عطف دے په المفردة باندي نو هغه مرفوع وو بناء په صفة د توابعو نو دابه هم مرفوع وی ای و توابع المنادی اه شارح حاصل د معنی ذکر کوی. تنصب دائی حکم و لانها اذا الخ شارح دلیل بیانوی حاصل دادے چه کله دا مضاف په اضافة معنوی سره کله منادی واقع شی او مباشرة د حرف نداء ورسره راشی نوپه دي حالت کښې به دا منصوب وی نو چه دا کله تابع واقع شی چه مباشرة د حرف نداء ورسره نه وی نو بیا خو دیره لائقه ده چه منصوب دي شی ځکه کله ورسره حرف نداء مباشر راشی نو بناء پکښې نه شی راتلی بلکه په خپل اصل به قائم وی نو چه کله ورسره حرف نداء مباشر نه وی نو بیا خو په طریقه اولی په خپل اصل پکار ده مثل یا تیم کلهم غرض د شارح امثله بیانول دي نه دری امثله دي دا شارح ورسره تطبیق هم کوی و لا یجئ المعطوف الخ غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه توابع خو څلور ذکر وو نو تا دری ذکر کړل او څلورم دي ذکر نه کړو چه هغه معطوف وو.

جواب: په اضافة کښ د معطوف بحرف الممتنع دخول یا علیه مثال نه شي راتلی ځکه په اضافة معنوی کښ شرط دادے چه تجرید د مضاف به وی د الف"لام"او تنوین نه او دا شرط د تجرید پکښ ځکه دے چه کله په مضاف الف"لام" داخل وی نو یابه د دې اضافة معرفې ته شوی وی او یا نکرې ته نوکه اضافة د دې معرفې ته شوی وی نو لازمیږی تحصیل د حاصل ځکه تعریف په الف"لام" یو ځل حاصل دے او بیا اضافة معرفې ته دپاره د تعریف حاصلولو ناروا دے او که اضافة نکرې ته وی نو بیا لازمیږی طلب د حصول د ادنی په وخت د وجود د اعلی کښ او داناروا ده او تنوین ځکه نشی راتلی چه تنوین دلالت په انفصال کوی او اضافة معنویه دلالت په اتصال کوی نو دیو بل سره منافاة لری. اما اضافة لفظیه او یا شبه مضاف نو هلته راتلی شي ولې هلته یو کښ تخفیف دے کسب پکښ نشته دے د تعریف

و البدل و المعطوف غیرما ذکر الخ کله چه فارغ شو مصنف د توابع د منادی مبنی علی ما یرفع به چه جواز الامرین وو پکښ نو شروع اوکړه په هغه توابعو کښ چه پکښ تعین د اعراب واحد وی چه یو بدل دے او بل معطوف غیر ما ذکر دے نو دې کښ حکم بیانوی فقال و البدل الخ بیا حکم د دې پشان د منادی مستقلی دے یعنی چه څنګه منادی مستقله کله مبنی علی ما یرفع به وی او کله مبنی علی الفتح او کله څنګه وی نو داسی به داهم وی شارح وائی غیر المعطوف الذی الخ یو خو تعین دما ذکر کوی او دویم دفع د سوال ده چه دا غیر ما ذکر په ترکیب کښ څه واقع دے یا به دا د المعطوف دپاره صفة وی او یا به بدل یوهم نه دے صحیح صفة خو ځکه چه مطابقة د صفة د موصوف سره نشته په تعریف کښ ځکه المعطوف معرفه ده او غیر ما ذکر نکره اګرچه اضافة د غیر ما ذکر ته شوی دے خو د وجی د توغل في الابهام نه غیر په اضافة سره معرفې ته معرفه نه ګرځی او بدل هم نه دے صحیح ځکه دا بدل نکره ده او بدل چه نکره وی نو توصیف ئې ضروری دے لکه بالناصیة ناصیة کاذبة کښ او دلته توصیف هم نشته دے نو جواب شارح کوی چه دا دپاره د المعطوف بیان دے او یا صفة دے مطابقة پکښ شته دے دواړه معرفې دی او که ته وائی غیر نکره ده اضافة سره نه معرفه کیږی نو مونږ دایو دا قانون په هغه مقام کښ دے چه د غیر د مضاف الیه دپاره اضداد ډیر وی او دلته د غیر د مضاف الیه دپاره ضدیودے چه هغه مضاف الیه د غیر ما ذکر دے نو د دې ضد یودے چه غیر ما ذکر دے نو دا معرفه ګرځیدلے ده په اضافة سره نو توصیف د المعطوف صحیح په دےسره او دا د قبیلی د علیك بالحرکة غیر السکون نه دے. او یاء په المعطوف کښ الف"لام"ذهنی دے په حکم د نکره کښ دے نو صفة ورله غیر ما ذکر هم صحیح دے حکمه.

سوال: مخکښ خو دوه شیان ذکر دي چه بدل او معطوف غیر ما ذکر دے او حکمه کښ ضمیر د مفرد دے نویه درمیان د راجع او مرجع کښ خو مطابقة رانغئ.

جواب: (۱) شارح وائی دایه اعتبار د کل واحد سره دے (۲) عصام صیب وائی دایه اعتبار د ما بقی سره دے او ما بقی مفرد دے نو مطابقة شته حکم المنادی المستقل شارح په قید د المنادی سره تعین د موصوف کوی دپاره د المستقل چه دا صفة وو تقاضا د موصوف ئی کوله او دپاره د حکم اصل مضاف الیه متعین کوی الذی باشره حرف النداء غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه د بدل او د معطوف غیر ما ذکر ته تشبیه ورکړه د منادی مستقل سره نو داهم منادی ده او هغه هم منادی ده نو دا خو لازم شو تشبیه د شئ د خپل نفس سره او دانارواه ده.؟

جواب: نه تشبیه د شئ د خپل نفس سره نه ده فرق پکښ شته دے ځکه یو منادی ده خو د حرف نداء ورسره مباشرة راغلی دے او دا بل هم ده خو د حرف نداء مباشرة ورسره نشته نو دا تشبه دیو نوع ده د بلی سره او دا رواده و ذلك لان البدل غرض د شارح دلیل بیانول دي او دفع د سوال هم ده چه ځه وجه ده چه په توابعو کښ تاسو بدل او معطوف غیر ما ذکر لره حکم د منادی مستقل ورکړو او دې باقی لره مو دا حکم ورنکړو حالانکه دا خو ټول توابع دی.

جواب: دې کښ فرق دے کنه ځکه بدل چه دے نو دا مقصود بالنسبة وی او مبدل منه هسی تو طیه او تمهید وی نو دا مقصود بالنداء په بدل مبدل منه کښ بدل شو نو حکم ورله د منادی مستقلی شو او معطوف غیر ما ذکر چه دے نو داهم منادی مستقله ده ځکه معطوف په حکم د معطوف علیه کښ وی نو دلته حرف نداء مقدره ده او د حرف نداء نه ځه مانع هم نشته دے نو مقدر خو کالملفوظ وی نو دې لره موهم حکم د منادی مستقلی ورکړو. مطلقا منصوب دے شارح ورله علت د نصب بیانوی چه دا حال دے کل واحد ورله ذو الحال دے غیر مقید سره د مطلقا معنی کوی سواء کانا سره تفصیل د غیر مقید کوی فالبدل مثل الخ غرض د شارح امثله بیانول دي والمعطوف امثله د معطوف غیر ما ذکر بیانول دی. دا امثلو تطبیق په دې شان سره دے چه یا زید عمرو مثال د مفرد معرف دے او یا زید اخا عمر مثال د مضاف دے او یا زید طالعا جبلا مثال شبه مضاف دے او یا زید رجلا صالحا مثال د نکری دے اوس په دې ټولو امثلو کښ دا توابع دي د منادی مبنی په ما یرفع به سره او دا حکم د

منادی مستقلی لری نو اول مثال کښ مفرد معرفه ده نو دابه مبنی علی الضم وی او دویم مثال کښ مضاف دے نو منصوب بالالف دے دغه شان دانور امثله هم شول. تدبر.

و العلم الموصوف ربط خو یا داسی دے چه کله مصنف فارغ شو دهغه توابعو نه چه تابع پکښ موافق کولی شی د متبوع سره نو شروع ئې اوکړه په هغه توابعو کښ چه متبوع پکښ موافق کولی شی د تابع سره فقال و العلم الموصوف یا دا دفع د اعتراض ده چه اے ماتنه تا اوی چه منادی مفرد معرفه به مبنی وی علی ما یرفع به نو نقض د دې راغلو په یا زید ابن عمرو سره ځکه زید مفرد معرفه ده او په دې کښ ضمه جائز ده او فتحه پکښ مختاره ده. نو ماتن جواب اوکړو چه دا ضابطه هم دغه شان ده او دا صورة دهغی نه مستثنی دے لکه خلق وائی چه والضابطة کذلك ولکن المستثنیات فی الباب کثیرة بیا حاصل د دې مقام دا دے چه کله یو علم منادی واقع شی او مبنی علی ما یرفع به وی او دهغی صفة په ابن یا ابنة سره او شی او دا ابن او ابنة هم مضاف وی یو بل علم ته نوپه دې منادی کښ چه زید دے په دې کښ فتحه او ضمه دواړه جائز دي خو فتحه پکښ مختاره ده د وجی د کثرة استعمال نه چه دا تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف فتحه کښ دے ماتن العلم اوی شارح وائی ای العلم المنادی نو غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراضونو (۱) بحث شروع د منادی دے او ماتنه ته پکښ علم ته لاړی داخو خروج عن البحث راغئ او داارو دے (۲) دا زید ابن عمرو کښ زید علم موصوف بابن دے او ابن مضاف دے بل علم ته او په دې کښ فتحه مختاره نه ده نو شارح جواب اوکړو چه مطلق علم نه دے مراد بلکه چه منادی واقع شی نو خروج د بحث هم نه راځی او په دې مثال کښ چه زید ابن عمرو ذکر دے دې کښ زید علم دے خو منادی نه دی.

سوال: ماتن خو دا قید نه دے لګولی او شارح دا لګولی نو څه قرینه ده .

جواب: قرینه پکښ دا بحث دے په منادی کښ.

سوال: نو زه به درته اوښایم چه منادی به وی او علم به هم وی او بیا به هم پکښ فتحه مختاره نه وی لکه یا عبد الله ابن عمر اوس دلته عبد الله علم منادی دی او موصوف بابن هم ده او دا ابن مضاف دے بل علم ته او دې کښ نصب متعین دے.

جواب : المبنی زه وایم . چه مبنی وی اودغه مذکور منادی معرب ده.

سوال: نو زه به درته اوښايم علم به منادى وى او مبنى به هم وى او موصوف په ابن سره به هم وى او دا ابن به مضاف وى بل علم ته او فتحه به پکښ مختاره نه وى لکه يا زيداه ابن عمرو دلته دا زيداه داسى دے او مبنى على الفتح دے فتح پکښ مختاره ده.

جواب: على الضم زه وايم چه دا علم چه منادى وى نو دا مبنى وى په ضمه سره او دلته خو دا مبنى په فتح دے.

سوال: نو دا قيد خو ماتن نه دے بيان کړى.

جواب: شارح والى چه واما کونه مبنيا على الضم الخ حاصل د جواب دادے چه دا قيد د يختار فتحه نه معلوميږى ځکه اختيار خبر د جواز د ضمى ورکوى او جواز د ضمى په هغه منادى کښ دے چه مبنى على الضم وى الموصوف بابن په دې سره احتراز کوى د مثل د يا زيد صاحب عمر نه ځکه دلته زيد علم منادى ده او مبنى على الضم هم ده خو موصوف په ابن نه دے بلکه په صاحب دے او دا ځکه چه دې لره دا حکم نه دے ځکه چه دا کثير الاستعمال نه دے.

سوال: نو نقض دې راغلو اے ماتن صيب په يا هند ابنة عمرو ځکه دلته خو دا منادى موصوف بابن نه ده او حکم ورله دادے چه کوم د موصوف بابن وى.

جواب: شارح والى مجرد عن التاء او ملحوق بها. نو دا ابنة پکښ داخل دے .

سوال: زه به درته اښايم علم به منادى وى او مبنى على الضم به هم وى او موصوف په ابن به هم وى او حکم د اختيار د فتحى به پکښ نه وى لکه يا زيد الظريف ابن عمرو دلته دا زيد داسى دے او پکښ ضم متعين دے.

جواب: شارح والى بلا تخلل الخ يعنى په درميان د ابن او د دې موصوف کښ به څه واسطه نه وى او دلته پکښ په الظريف سره واسطه راغلى ده.

سوال: نو دا قيد ماتن ولى نه ذکر کوو؟

جواب: کما هو المتبادر دا ذهن ته سمدست راتلو نو ذکر کولو ته ئ ضرورت نشته ځکه اکثر په درميان د موصوف او صفة کښ فصل نه وى مضافا شارح دې لره علت د نصب بيانوى چه دا حال دے او حال منصوب وى نو داهم منصوب دے په دې سره احتراز کوى د مثل د يا زيد

الابن الظریف نه څکه دلته ابن موصوف دے مضاف نه دے. الی علم اخر په دې سره احتراز کوی د مثل د یا زید ابن رجل نه څکه دلته ابن مضاف دے رجل ته او دا علم نه دے.

سوال: زه په درته اوښایم چه علم به منادی وی او مبنی علی الضم به وی او موصوف به ابن به وی او دا ابن به مضاف وی خو بل علم ته به نه وی مضاف او حکم به ورله داوی لکه یا زید ابن زید دلته دا ابن بل علم ته نه دے مضاف بلکه عین دغه اول علم ته مضاف دے.

جواب: زما مراد مسمی د علم ده او د اول زید مسمی غیره دے د مسمی د دویم زیدنه نو دا علم اخر شو فکل علم یکون کذلك غرض د شارح حاصل بیانول دي نو حاصل داد چه هر کله یو علم منادی راغلی وه او بیا دا منادی مبنی وه په ضم سره او بیا دا منادی موصوف وه په ابن سره یا ابنة سره اوپه درمیان د موصوف او صفة کښ فصل هم نه وو راغلی او بیا دا ابن مضاف وو یو بل علم ته نوپه منادی کښ ضمه وئیل هم جائز دي او فتحه هم خو مختاره یکښ فتحه ده وجه د اختیار د فتحی داده چه داسی منادی کثیر الاستعمال وی او کثرة استعمال تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف په فتحه کښ دے.

سوال: دا تخفیف خو په کسره کښ هم دے نو کسره ولی نه راوړی .

جواب: وا لکثرة مناسبة للتخفیف الخ شارح وائی چه فتحه ډیره مناسبه ده د کسری نه څکه په فتحه سره اتیان بالاصل هم کیږی څکه فتحه صورة نصب دے او دا منادی هم منصوب ده باعتبار الاصل څکه دا خو اصل کښ مفعول به ده ګنه او هم دا وجه ده چه د ابن دا همزه هم ساقطیږی تلفظا و کتابة.

اوس دا خبره چه اعراب د ابن به څه وی؟ نو دابه منصوب وی څکه دا تابع مضاف دے و المضافة تنصب.

و اذا نودی المعرف باللام الخ د دې عبارت ربط د ما قبل سره په دوه طریقی دے (۱) کله چه فارغ مصنف دهغه توابعو د منادی نه چه صورة او معنی دواړه توابع وو نو شروع ئی اوکړه په هغه توابعو کښې چه صرف صورة توابع دي نه معنی لکه یایها الرجل کښ رجل تابع صورة دے فقال و اذا نودی الخ (۲) یا دا دفع د سوال ده چه مصنفه ستا د کلام نه دا خبره معلومه شوه چه کله منادی معرف باللام وی نو دخول د حرف نداء پری ممتنع دے نو د دې قانون نقض راغلی په مثل د یایها الرجل چه الرجل معرف باللام دے او حرف نداء پری داخل دے؟

نو ماتن جواب اوکړو حاصل د جواب دادے چه او دا قانون د مخکښ نه معلومیږی خو دا په هغه وخت کښ چه په درمیان د معرف باللام او یاء کښ فصل نه وی راغلی او دا تا چه کوم مثال په سوال کښ پیش کړی دے نو دې کښ په ایها سره په درمیان د معرف باللام او یاء کښ فصل راغلی دے نو دخول دیاء پری جائز دے فقال و اذا نودی الخ شارح وائی ای اذا ارید الخ غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه (۱) اذا نودی شرط دے او قیل الخ ورله جزاء ده و جزاء په شرط بانديې مرتبه وی او دلته خو ترتب د جزاء په شرط نه دے صحیح ځکه دلته نو دې و قیل یو شئ دے په دې شان سره چه کله نداء اوشوه نو دا اوئیلی شو نو دا خولازم شو ترتب د شئ په خپل نفس بانديې او دا ناروا (۲) دا نُودِیَ چه ماتن ذکر کړو نو دا قیل الخ مستدرك دے ځکه چه نداء اوشوه نو قیل په خپله راغئ نو بیا د قیل ذکر کول مستدرك دې نو شارح .

جواب: اوکړو چه دلته اذا نودی شرط نه دے بلکه شرط مقدر دے چه اذا ارید نداء المعرف باللام قیل الخ نو اراده د قول نه غیر وی نو نه ترتب د شئ علی نفسه راځی او نه دا قیل مستدرك ګرځی .

سوال: داخو علوم نقلیه دې دی کښ دلیل نقلی معتبر وی نو ایا دلیل نقلی درسره شته؟

جواب: او جی شته دے الله فرمائی یایها الذین امنوا اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا الخ دلته اذا قمتم ظاهر کښ شرط دے حالانکه دلته د فاغسلوا ترتب په دې صحیح نه دے ځکه چه څوك مونځ ته او دریږی نو اودس هغه وخت نه کوی بلکه اودس ئی کړی وی نو دلته هم داپه معنی د اذا اردتم القیام الی الصلوة سره دے نو چه څوك د مونځ اراده اوکړی نو اودس لره بیا پاڅی.

سوال: دا نو دې المعرف باللام کښ ارید راویستل مجاز دے نو قرینه درسره په مجاز څه ده.

جواب: دا نداء فعل اختیاری د عبد دے او هر فعل اختیاری د عبد مسبوق بالاراده وی. قیل مثلا شارح مثلا اوئ غرض ئی دفع د اعتراض ده چه کله اراده د نداء د معرف باللام او شی نو دا خو لازم نه ده چه ته به یایها الرجل وائی یایها الانسان وغیره هم وئیلی شی نو دا قیل یایها الرجل جزاء ده او جزاء لازم وی د شرط سره او شرط ورله ملزوم نو نودی شرط دے او دایو امر کلی دے او قیل الخ جزاء یو امر جزی دے نو دا خو لازم شو ملزومیة د کلی د جزی سره او دا ناروا ده ځکه مقصد به داشی چه هرْ معرف باللام ته کله نداء کیږی نو صرف یایها

الرجل به وثیلی شی او دا خو بداهة ناروا ده نو شارح جواب اوکړو چه ملزومیة د کلی سره دے نه د جزی سره ځکه مراد په یایها الرجل سره هر هغه کلام دے چه په درمیان د حرف نداء او معرف باللام کښې ای یا هذا او یا ایهذا راغلی وی او دا یایها الرجل ذکر کول دپاره د تمثیل دي دی کښې حصر مقصود نه دے. (۲) دلته دا کلام په حذف د معطوف سره دے ای یایها الرجل و یا هذا الرجل و یا ایهذا الرجل و نحوها (۳) دا ذکر د علمیة دے او مراد تری نه وصف مشهور دے چه هغه نداء کول دي معرف باللام ته په واسطه د ای یا هذا او یا ایهذا سره نو دا د قبیلی د لکل فرعون موسی نه شو.

سوال: نو دلته خو علم نه دے ذکر چه مراد تری نه وصف مشهور شی؟

جواب: دا په یو قانون باندې بناء دے هغه داچه کله یو شی ذکر شی او دهغی لفظ مراد وی نو دا په منزله د علم وی بتوسط ای مع یاء التنبیه دا تعریف کوی. دلته چند سوالات راغلل (۱) کله چه منادی معرف باللام وی نو دخول دیاء پری ولی ممتنع دے بغیر د توسط د دي ای وغیره نه؟ (۲) کله چه توسط په دي سره راغے نو بیا ولی دخول دیاء پری جائز دے (۳) د فاصلی دپاره تخصیص د دي دریو ته ولی اوکړو ؟ (٤) دا نفس ها ولی راوړی؟ (٥) او بیا تخصیص دها ولی کوی؟ نو جوابات بالترتیب داسی دي چه د اول نه جواب دادے چه تحرزا عن اجتماع الخ یعنی بیا به لازم شی اجتماع د التینو د تعریف او داناروا ده او د دویم نه جواب دادے چه کله فصل راغلو په درمیان د حرف نداء او منادی معرف باللام کښې نو بیا اجتماع د ایتینو د تعریف نه راځی نو بیا څه مسئله نشته دے او د دریم نه جواب دادے چه مونږ دا دری کلمات خاص کړل چه په دي کښې ابهام وو او نداء خو امر معین ته کیږی نو مونږ دا درے کلمات راوړل چه مخاطب ته معلومه شی چه مقصود باالنداء دا معرف باللام دے ځکه هغه معین د او دا ددی کلمات مبهم دي او که مونږ نور کلمات معینه راوړلو نو بیا به مخاطب داوهم کوو چه ګنی مقصود بالنداء هم دا کلمات دي حالانکه خبره داسی نه ده.

سوال: نو په دي ایهذا الرجل دا ای او هذا دواړه ولی راوړی؟

جواب: په ای کښې هم ابهام دے او په هذا کښې هم ابهام دے نو ابهام در ابهام شو او بل هغه معین منادی موخره شو نو دا دپاره د زیادة تشویق او د خلوم نه جواب دادے چه زیادة دها دپاره د جبیری دے په

دی شان سره چه د حرف نداء او منادی درمیان کښې فصل او بعد واقع شوی وو نو په دې سره ورله د دې نقصان جبیره او شوه د پنځم سوال نه جواب دادے چه دهاء دا تخصیص. ځکه اوشو ځکه د دې د حرف نداء سره مناسبة وو په دې شان سره چه هاء هم دپاره د تنبیه ده او حرف نداء هم دپاره د تنبیه وی، و التزموا رفع الرجل الخ دا د فع د اعتراض ده په دې شان سره چه په ایها الرجل وغیره کښې دا ای موصوف دے او دا الرجل صفة دے او قانون خو دادے چه کله تابع صفة واقع شی نو هلته جواز الامرین وی یعنی رفع او نصب دواړه جائز وی حالانکه دلته خو رفع متعین ده او نصب د سر نه جائز نه دے.

جواب: په دې مثال کښې مقصود بالنداء دا الرجل دے نه دا ایها وغیره ځکه موئږ اوی چه منادی خو معین وی او دا ایها وغیره خو مبهم دی نو چه کله مقصود په نداء سره دا الرجل شو نو پکار ده چه دا مبنی علی الضم شی ځکه منادی مفرده معرفه ده خو د دې په درمیان کښې او د حرف نداء په درمیان کښې فصل راغلے دے نو دهغی اثر ضعیف شوی دے نو دابه موئږ مرفوع اوا یو معرب به شی.

سوال: پره تا مخکښې یو قانون ذکر کړی وو چه کله تابع صفة راشی نو دې کښې به جواز الامرین وی او دا خو په دې مثال سره منقوض شو.

جواب: او دا قانون دے خو دا کلام تری نه په منزله د مستثنی دے او مصنف هلته داسی یو قید بیان نه کړو چه داسی مثال ئې تری نه خارج کړے وی ځکه عادت د مصنف په دې باندې جاری دے چه کله یو قانون ذکر کړی او بیا روستو یو حکم دهغې قانون خلاف بیان کړی نو داپه منزله د مستثنی وی د دغه قانون نه. عین مستثنی نه وی ځکه اداة د استثناء نه وی او په منزله د مستثنی وی ځکه په استثناء سره هم اخراج راځی او دلته هم داسی اخراج راغئ و توابعه غرض د ماتن په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه هر کله مقصود بالنداء په یا ایها الرجل کښې د الرجل شو نو بیا خو مناسبه ده چه د دې په توابعو کښې جواز الامرین وی لکه یایها الرجل الظریف کښې دې رفع او نصب دواړه جائز شی حالانکه تا سو خو وائی چه نه دلته به هم دا الظریف مرفوع وی نو ماتن جواب کوی چه او قانون خو دادے خو داپه توابعو د مبنی کښې دے او دلته خو دا توابع د معرب دې نو صرف رفع به پکښې روا وی شارح وائی.

بالجر عطف على الرجل دا ربط لفظي ذكر كوي. و قالوا يا الله خاصة دا بله دفع د اعتراض ده چه تا مخكښ دا قانون پيش كړى دے چه په معرف باللام باندي حرف نداء نه داخليږى مگر چه فصل راشي په درميان د معرف باللام او حرف نداء كښ نو دا قانون دي په يا الله باندي منقوض شو دلته الله معرف باللام دے او حرف نداء پرى بلا فصله داخله شوى ده نو د دي نه درى جوابات دي (۱) بعض خلق وائي چه څنگه ذات د الله وراء الوراء دے او د خلقو د عقولو او قياساتو نه بالاتر دے نو داسى لفظ د الله هم د قواعدو نحويو او صرفيونه بالاتر دے.

اے برتر از قیاس وگمان ووھم وازہرچہ گفتہ ایم وشنیدیم وخواندہ ایم

(۲)که دلته موثر فصل راولو نو نقصان به راشي په دي شان سره چه په سره به لازم شي اخبار د تعدد نه او الله د تعدد نه منزه دے او لازم به شي په هاء سره نسيان او غفلت د الله دپاره څكه هاء دپاره د تنبيه ده سبق غفلت او نسيان غواړي او لازم به شي د ذا سره حس بالبصر د الله دپاره او د دي نه الله منزه دے (۳) شارح جامي وائي چه دا كلام بناء دے په يو قانون باندي هغه داچه كوم ځائے كښ الف"لام"كښ دوه خبرى راشي نو دخول د حرف نداء پرى جائز دے (۱) دالام عوض وى د محذوف نه (۲) دغه"لام"لازم وى د دي كلمه سره نوبه داسى مقام كښ دخول د حرف نداء بلا فصله جائز دے اوس دلته په لفظ الله كښ دا دوه خبرى شته دے څكه دابه اصل كښ الاله وو نو دا دويمه همزه حذف شوه دپاره د تخفيف څكه دا كثير الاستعمال وو نو بيا چه هغه حذف شوه نو دالام ترى نه عوض او گرځيدلو او بيا"لام"په"لام"كښ مدغم شو او دالام د دي كلمي سره لازم او گرځيدو نو الله شو. اوس الناس اصل كښ اناس وو خو"لام"ورسره واجب نه دے نو دي باندي حرف نداء داخلول بنه نه دي او دغه شان النجم هم دے څكه دا"لام"پكښ عوضي نه دے شارح هم دا وائي.

ترجمه: عوضت اللام عوضت اوگرځولي شو د دي نه دالام، خاصة يعني دا منصوب دے بنا بر حال د الله نه او هغه مفعول د قالوا ادے معنى ده چه وئيلى دي دى عربو يا الله لره په داسى حال كښ چه خاص كوڼكى دي دى لره او صاحب د غاية التحقيق وائي چه دا منصوب دے بناء بر مفعول مطلق اى خص خاصة نو خاصة صيغه د اسم فاعل به په اول تركيب سره په خپله معنى وى او په دويم تركيب سره به په معنى د مصدر سره وى. و اما مثل النجم الخ تفريع كوى شارح په دي دوه و امرين باندي عدما او انفرادا و لعدم جريان دا دفع د سوال ده چه

زه درته ښايم چه دا دوارړ شرطونه به پکښ په غونډه سره نه وی بلکه يو به پکښ وی او حرف نداء به پری بغير د فصل نه داخل وی لکه قال

من اجلك يا التی تيمت قلبی و انت بخيلة بالوصل عنی

ترجمه: ستا د وجی نه اے هغی چه تا متحير کړے دے زړه زما او ته بخل کونکی ئی په وصال سره او اعراض کونکی ئی زمانه. يعنی زه دې غرق کړم. او من اجلك متعلق دے او دا تحمل سره محل د استشهاد پکښ التی دے چه"لام"لازم دے او عوضی نه دے او بيا هم پری حرف نداء داخله ده دغه شان يو بل قول هم دے چه هلته به دا دوارړه شرطه نه وی او يا به داخله وی لکه

فيا الغلمان الذان فرا ايا كما ان تكسبا شرا

محل د استشهاد د الغلمان دے چه"لام"نه عوضی دے او نه لازم او ياء داخله ده نو شارح جواب کوی چه چرته. پکښ يو شرط نه وی او ياء داخله وی نو دابه شاذ وی او چه چرته دوارړه شرطه نه وی نو دابه اشد الشذوذ وی

ولك فی مثل ياتيم تيم عدی ربط دما قبل سره خو يا داسی دے چه کله فارغ شو مصنف د منادی غير مکرر نه نو شروع ئی اوکړه په هغه منادی کښ چه مکرر وی او يا دادفع د سوال ده چه ماتنه تا مخکښ اوی چه منادی مضاف به منصوب وی نو نقض دې راغلو په ياتيم تيم عدی سره ځکه دلته دا تيم مضاف دے عدی مذکور يا محذوف ته او دې کښ خو نصب متعين نه دے نو مصنف جواب کوی چه دا خبره ماپه منادی غير مکرر کښ کړی ده او دلته دا منادی مکرر ده نو نصب او ضم دواړه پکښ روادی ماتن اوی لك شارح واتی جاز د دا لك جار مجرور دپاره متعلق متعين کوی. ای فی ترکيب تکرر غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه دا مثل مضاف دے او دا تيم تيم عدی مضاف اليه دے نو دا اضافة کوم اضافة وائی. لامی که بيانی او که ظرفی يو نه دے صحيح لامی خو ځکه نه دے صحيح چه دې کښ مقصود مضاف وی نه مضاف اليه نو مثل دیا تيم تيم عدی لره دا حکم شو لکه يا حی حی عدی او دا يا تيم تيم عدی تری نه خارج شو او که اضافة بيانی شی نو هم نه دے صحيح ځکه دې کښ مقصود مضاف اليه وی نه مضاف نو يا تيم تيم عدی پکښ داخل شو خو مثل د دې تری نه خارج شو لکه يا حی حی عدی او که اضافة ظرفی وی نو هم نه دے صحيح ځکه

لازمیږی ظرفیة د شئ لمثله او دا تول کارونه جائز ندی نو شارح جواب اوکړو چه دې کښې قانون طرفته اشاره ده او داسې وخت کښې بیا مضاف او مضاف الیه دواړه مقصود وی نو داهر هغه ترکیب ته شامل شو چه پکښې دوه خبرې وی (۱) دا منادی مفرد معرفه وی صورة او مکرر وی (۲) دې دویم اسم سره اسم مجرور راغلی وی نزدی بالاضافة او په دې سره بل سوال هم دفع شو چه فن کښې خو خلق کلیات ذکر کوی او دا یا تیم تیم عدی خو جزی دے نو جواب اوشو چه دې نه مراد کلی قانون او قاعده ده .

سوال : نه والی د اتیم مفرد معرفه ده نو دا خو مضاف ده عدی ته.

جواب: ما اوی چه صورة به مفرد معرفه وی او دلته دا صورة مفرد معرفه ده په دې شان سره چه دلته د تیم او عدی درمیان کښې فصل راغلی دے الضم و النصب شارح تعین کوی چه دامرین په دې اول تیم کښې دې او په ثانی کښې نصب متعین دے او د دې وجه روستو شارح بیانوی بناء بر اختلاف اوس دا قاعده د دې یو سره خاص نه ده بلکه یا حی حی عدی، یا طالب طالب علم وغیره ټولو کښې هم دا حکم دے اما الضم غرض د شارح علت د ضم بیانوی چه دا منادی مفرد معرفه ده او دا مبنی علی ما یرفع به وی او نصب چه دے نو خلیل ابن احمد او سیبویه وائی چه دا تیم اول عدی مذکور ته مضاف دے او دا تیم ثانی دپاره د تیم اول تاکید لفظی دے نو دا منادی مضاف شوه نو نصب پکښې هم شو .

سوال: چه دا تیم مضاف شو او عدی مضاف الیه نوپه درمیان د مضاف او مضاف الیه کښې فصل راغلو په تیم ثانی سره چه او دا ناروا دے.

جواب: شارح وائی چه دا تیم ثانی تاکید لفظی دے او دا فصل په شان د لا فصل دے څکه دا تاکید لفظی دے نو بالاقرب دے دا فصل نا روا نه دے روا دے.

سوال: تاسو د افصل ولی راوستی دے په تاکید لفظی سره.

جواب: که دا تاکید لفظی نه شی نو نقصان راځی څکه دې دپاره خو مضاف الیه محذوف دے او کله چه مضاف الیه د مضاف نه حذف شی نو په مضاف کښې یو د امور ثلاثو نه کیږی یو خو داچه دا مبنی علی الضم شی دویم دا چه عوض کښې تنوین راشی دریم دا چه په مثل دهغی بیا اضافة اوشی اوس دلته دا دری واړه امور نه وو نو مونږ دا مجبورا تاکید لفظی اوی دپاره د تیم اول او ذلك مذهب سیبویه دا یو مذهب شو او مضاف الی عدی محذوف دا دویم

مذهب بیا نوی چه دا تیم اول مضاف دے عدی محذوف ته نو ځکه پکښ نصب دے او په ئی پاندې قرینه دا عدی مذکور دے او دا مذهب د مبرد دے دلته یو دریم مذهب هم دے د بعض الناس چه هغه وائی چه دا یاتیم کښ دا تیم مضاف دے عدی مذکور ته اوتیم ثانی مضاف دے عدی محذوف ته نو اصل عبارت دے یاتیم عدی تیم عدی نو د تیم ثانی نه د مضاف الیه حذف شو نو یاتیم عدی تیم پاتی شو نو دا تیم ثانی را مقدم شو په عدی باندې چه د دې اعتراض نه بچ شی چه کله د مضاف نه مضاف الیه حذف شی نو مضاف کښ یو د امور ثلاثو کیږی او دلته خو یو هم نشته دے. فرق بین المذاهب داسی دے چه فرق د سیبویه او د مبرد صیب دا دے. چه سیبویه وائی دا تیم اول عدی مذکور ته مضاف دے او مبرد وائی دا مضاف دے عدی محذوف ته او فرق په درمیان د سیبویه او مذهب ثالث کښ دادے چه سیبویه دا تیم ثانی تاکید د اول وائی او دا مذهب ثالث ئی تاکید د اول نه وائی او د مذهب ثالث فرق د مبرد سره دا دے چه مبرد تیم اول مضاف وائی عدی محذوف ته او دا مذهب ثالث تیم ثانی مضاف وائی عدی محذوف ته بیا د دې مذهب ثالث موافقة د سیبویه سره په دې کښ دے چه سیبویه هم دا تیم را مقدم کوی په عدی باندې او دوی هم او موافقة ئی د مبرد سره په دې کښ دے چه اصل ئی یا تیم عدی تیم عدیِ دے.

و السیراف خلورم مذهب بیانوی سیرا فی وائی چه په دې تیم اول کښ د نصب په ځائے باندې فتحه هم جائز ده ځکه اصل د دې یاتیم تیم عدی وو نو دا تیم ثانی چه دے نو دا منصوب دے نو داتیم اول به مونږ مفتوح کړو د وجی د اتباع د تیم ثانی نه لکه څنګه چه دا ترکیب دے یا زید ابن عمرو دلته دا زید منادی مبنی علی الضم ده او ابن عمرو تابع منصوب دے نو په دې زید باندې فتحه وئیل هم جائز دي د وجی د اتباع دابن عمرو نه نو دلته هم داسی خبره ده. فرق د مذهب رابع دما قبل مذاهبو سره دادے چه هغو ټولو دا خبره کوله چه دې کښ نصب جائز دے فتحه نه ده جائز او دا مذهب رابع وائی چه دا نصب متعین نه دے بلکه داپه صورة د فتح کښ هم دے یعنی بناء هـ ده پکښ. تدبر. اوس د ا تیم ثانی به منصوب وی ځکه د سیبویه په نزد دا تابع د مضاف دے او یا خو دا تابع مضاف دے لکه مبرد وائی او چه تابع د مضاف وی یا تابع مضاف وی نو حکم دهغی نصب دے نصب شارح هم دا خبره کوی و تمام البیت عادت د شارح جاری دے په دې خبره باندې چه بیت تماموی او د مشکل الفاظو تشریح هم کوی ترجمه ئی اسانه ده او شارح ورله نور تفصیل کړی دے اسانه ده ګرانه نه ده.

و المضاف الى ياء المتكلم كله چه فارغ شو مصنف د هغه منادى نه چه هغه مضاف نه وى ياء د متكلم ته نو شروع ئې او كړه په هغه منادى كښې چه هغه مضاف وى ياء د متكلم فقال و المضاف شارح ورسره المنادى لګوى نو غرض ئې په دې سره دفع د سوال ده چه ته واې چه يو اسم يا ء د متكلم ته مضاف وى نو څلور طريقې پكښې جائز دي نو جاءنى غلامى كښې خو دې غلامى كښې څلور طريقې نشته دے نو شارح جواب اوكړو چه مطلق مضاف ياء د متكلم ته نه وايم بلكه چه منادى وى او دلته خو دا منادى نه ده فاعل دے وجوه اربعة غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراضاتو ده (۱) دا يجوز فعل دے او يا غلامى جمله ورله فاعل او جمله فاعل نه وى (۲) دا يا غلامى او يا غلامى الخ تفصيل دے او تفصيل سبق اجمال غواړى او دلته خو اجمال نشته دے. (۳) دا خو علوم دي نو دې كښې خلق كليات بيانوى او تاخو دلته جزئيات بيان كړل څكه وهم د حصر راځى بيا نو سل پاپړ ديو لوړ شول شارح وجوه اوى نو وى فاعل وجوه مفرد دے نه جمله او اربعة ئې اوى نو دا اجمال شو او فتح الياء مثل يا غلامى سره اشاره ده چه قاعده ترى نه مراده ده چه فتح الياء ده فى مثل هذا التركيب وغيره فتح الياء مثل يا غلامى شارح مكمل وضاحة كوى اكتفاء سره دفع د وهم ده چه داخو په حذف دياسره حذف د جزء مراده راځى نو واى اكتفاء په كسره ده كنه؟

سوال: زه درته ښايم چه اضافة په ياء د متكلم ته شوى وى او داسې كار به پكښې نشى كولى لكه يا فتاى شو.

جواب: عن الشارح اذا كان ما اوى چه مخكښې دياء نه به كسره وى او دلته كسره نشته نو دې احتراز راغئ. اوس دا څلور وجوه ولې جائز دي او څنګه دى؟ نو اول يا غلامى دے نو دې كښې دا فتحه په ياء بانديې راغله څكه بعضې خلق واې چه دا ياء ضمير د متكلم دے ځان لره كلمه ده نو كومه كلمه چه واضع وضع كړې وى نو هغې كښې اعتبار د حالت د افراد لره وى نو نو په حالت د افراد دياء كښې خو كه مونږ حركت ورنكړو نو لازميږى ابتداء بالساكن او داناروا ده نو حركت مو وركړو او بيا حركت د فتحې مو وركړو څكه دا خفيف دے او دانور دوه ثقيل وو نو اصل په دې ياء كښې فتحة شوه اوس چه كله دې ته اضافة د غلام اوشو نو ته اتيان بالاصل هم كولى شى يعنى فتح پرى وئيلى شى نو اوايه كنه او په يا غلامى كښې سكون چه دے نو دا په دې وجه بانديې چه بعض خلق واې چه اصل په هغه كلمه كښې چه وضع ئې شوى وى په يو حرف بانديې نو هغه سكون دے څكه اعتبار به وركولى شى حالت تركيبى لره نه حالت افرادى لره او په حالت تركيبى كښې خو ابتداء بالساكن نه راځى نو د تخفيف دپاره سكون د

پر اولی دے نو دا یا غلامی ساکن شو او یا غلام وئیل داسی دي چه د حذف دیاء سره نور خفة هم حاصل شو اکتفاء په کسره او شوه او دغه شان یا غلاما کښ هم د تخفیف د وجی نه دا شوی دي و هذان الوجهان غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تا دا منادی قید اولګولو چه دا څلور وجوه په مضاف کښ دي خو چه منادی وی او مضاف وی یاء د متکلم ته نوپه منادی او غیر منادی کښ خو فرق نشته مونږ خو اوریدلی دي چه که منادی نه وی او اضافة د"یاء" د متکلم ته شوی وی نو هم دا څلور وجوه پکښ جائز دي نو فرق پکښ څه ده؟؟؟

نو شارح جواب کوی چه فرق ئې دادے چه کله اضافة ئې یاء د متکلم ته اوشي او منادی نه وی نو دا اول دوه وجی دي پکښ او چه منادی هم شي نو بیا دا دوه وجی نوری هم پکښ جائز دي او دا ځکه چه نداء موضع د تخفیف دے ځکه مقصود غیر وی منادی نه وی مقصود بلکه غیر یو شی وی هغه مقصود وی مثلا یا هلکه ماته اوګوره. منادی هلکه ده خو مقصود دانه ده بلکه داماته اګوره مقصود ده لان الالف والفتحة دا دفع د سوال ده چه تا اوی چه یا غلام او یا غلاما کښ دا تبدیل او حذف دپاره د تخفیف شوی دے چه خفة پکښ راشی نوپه دي یا غلام کښ تخفیف په حذف دیاء سره راغلی دے خوپه دي یا غلاما کښ خو تخفیف نشته دے ځکه حرکت په حرکت سره بدل شوی دے او حرف په حرف سره بدل شوی دے نو شارح جواب اوکړو چه کسره په فتحه سره بدله شوی ده نو دا فتحه د کسری نه خفیفه ده او یاء په الف سره بدله شوی ده او الف خفیف دے دیاء نه نو دا تخفیف شو.

سوال: زه درته یو اسم ښایم چه منادی به وی او اضافة به ئې هم یاء د متکلم ته شوی وی او دا روستو دوه وجهی به پکښ جائز نه وی لکه یا عدوی دلته یا عدو او یا عدوا ناروا دي او شئ یو شئ دے.

جواب: شارح وائی چه وهما ای و هذان. چه دا دوه وجهی چه دي نو دا اګرچه واقع دي په منادی کښ چه مضاف وی یاء دمتکلم ته خوپه هره منادی کښ هم نه راځی بلکه په هغه منادی کښ چه دوه خبري پکښ وی (۱) دا اضافة دهغی یاء د متکلم ته غالب وی. (۲) مشهور شوی وی په دي اضافة سره دپاره د دي چه دال شی دا شهرة په حذف د دي یاء باندي او یاپه قلب د دي یاء باندي فلا یقال تفریع کوی په عدم باندی.

سوال: خصر د دې ترکیب (یا غلامی) دې په وجوه اربعو پورې جائز نه دے د وجې د وجه خامس نه هغه داچه په یا غلامی کښ دیاء نه ما قبل کسره فتحه شي او یاء الف شي او بیا الف ساقط شي اکتفاء په فتحه او شي نو یا غلام به شي او تا خو اربعه اوې کنه؟

جواب: شارح جواب کوی چه داسې کول شاذ دي او زه شاذ نه ذکر کوم بلکه غیر شاذ ذکر کوم ځکه د شاذ باره کښ ډیر ناکاره اقوال دي و بالهاء و قفا شارح ورسره ویکون المنادی المضاف لګوی دا د ما قبل سره ربط پیدا کوی. فی هذه الوجوه دفع د وهم چه یو صورة کښ به وی نو اوے نه ټولو سره لګی وقفا منصوب دے شارح علت د نصب بیانوی چه دا منصوب دے بناء بر ظرفية .

سوال: نو ظرف خو یا زمان وی یا مکان او دا وقفا یو نه دے .

جواب: دا په حذف د مضاف سره دے ای حالة الوقف او حالة ظرف زمان دے.

او داهاء ځکه راوړی چه عام طور سره وقف په سکون باندې کیدلے شي نو چه یا غلامی کښ مونږه وقف اوکړو سکون سره نو التباس راځی چه دا سکون د وجې د وقف نه راغلی دے او" کنه دهغی لغة د وجې نه ځکه یو لغة پکښ سکون د یاء سره هم وو نو چه داهاء پکښ راوړو نو هیڅ التباس نشته پوره پوره معلوم دے د فرقا بین الوقف و الوصل دا مقصد شو.

و قالوا یا ابي ویا امي و یا ابت الخ د هغه منادی بحث روان وو چه دهغی اضافة او شي یاء د متکلم ته بیا په دې کښ کثرة نداء وه چه تقاضا د تخفیف ئي کوله او هغه تخفیف په دې کښ وو چه کثرة لغات پکښ راشي نو د بعضو ذکر ئې اوکړو اوس د بعضو نورو ذکر کوی چه منادی پکښ مضاف وی یاء د متکلم ته او لغات کثیره وی پکښ نو هغه داچه اضافة د اب او ام اوشي یاء د متکلم ته نو دې کښ ډیر لغات دي د وجې د کثرة استعمال نه فقال و قالوا ای العرب شارح تعین کوی د مرجع د ضمیر د قالوا فی محاوراتهم دي کښ اشاره کوی محل د استشهاد ته علی الوجوه الاربعة دا شارح وائي چه دې کښ هم هغه وجوه اربعه جائز دي نو ګویا کښ دا منادی مشبه شوه او هغه مشبه به شوه او وجه د شبه هم دا وجوه اربعه شول مع وجوه اخر دا دفع د سوال ده چه هر کله د ابي او امي پشان د هغه منادی دے چه مضاف وی یاء د متکلم ته نو د دي جدا ذکر کولو ته څه ضرورت وو؟

جواب: جدا می څکه ذکر کړه چه په دې کښې نور وجوه هم دي کنه او دا وجوه په مغه منادی کښې نه وو سوال نو دا فرق ولې راغئ په درمیان د دې منادی او دهغې منادی کښې .

جواب: لکثرة استعمال نداءها فرق دادے چه دلته کثرة استعمال دے اب او ام ته اوازونه ډیر کیږی او بیا لاماشومان خو پریږده. یا ابت و یا امت ای قالوا الخ غرض د شارح اعراب ذکر کول دې دپاره د یاء ابتِ او یا امت چه دا مفعول د قالوا دے ایضا څنګه چه هغه وجوه اربعه وائی او دا څکه چه دایاء په تاء سره بدله شی نو ابت او امت شی.

سوال: دیاء او د تاء دیو بل سره څه مناسبة دے چه دایاء په تاء سره بدلیږی؟

جواب: دا دواړه زائد واقع کیږی په اخر د اسم کښې نو د دې وجې نه داکار کوی.

سوال: نو هغه تاء چه په اخر د کلمه کښې زائده کیږی هغه خو مدوره وی نو دا ولی مطوله لیکلی شی؟

جواب: دا مطوله ئ څکه لیکلی ده چه دا خالص دپاره د تانیث نه ده بلکه د عوضیة د یاء جانب هم پکښې دے نو څکه ئ مدوره نه ده لیکلی مدوره چه لیکلی شی نو هغه خالص د تانیث وی .

سوال: نو په دې ام کښې دا تاء ملحق کول خو صحیح دې خو په دې اب مذکر کښې دا ملحق کول خو ښه نه دې .

جواب: (۱) دا تاء دلته دپاره د تعظیم او تفخیم ده لکه علامة (۲) تاء د ابت حمل ده په تاء د امت باندې (۳) مذکر کښې هم تاء راتلی شی لکه طلحة او شاة وغیره فتحاو کسرا د ا منصوب دې شارح ورله علت د نصب بیانوی چه دا منصوب دې بنا بر حال د ذو الحال نه چه هغه دا تاء ده په دې ابت او امت کښې .

سوال: حال خو حمل وی په ذو الحال باندې دلته دا حمل نه دے صحیح څکه دا څوك نه وائی چه التاء فتح او التاء کسر.

جواب: شارح وائی دا فتحا او کسرا مصدر مبنی للمفعول دې ای مفتوحة و مکسورة نو دې کښې دوه و لغاتو ته اشاره اوشوه.

سوال: دې تاء بانديې دا فتحه ولې راځي جواب على وفق حركة الياء مخكښ مونږه داخبره کړې وه چه دې ياء د متكلم بانديې اصل حركت فتحه ده بناء بر اختلاف نو دا فتحه د وجې دا اصالة د حركت د دې ياء نه وركوي او كسره ځكه لمناسبة الياء دا ياء د دوه و كسرو نه جوړه ده نو د كسرې سره مناسبة لري نو ځكه كسره وركوو و قد جاء الضم ايضا غرض د شارح تمهيد دے اعتراض ته او بيا و لم يذكره سره تصريح ده په اعتراض بانديې او للقلة سره ترې نه جواب كوي.تمهيد داسې دے چه دې يا ابت او امت كښ دريم لغت هم دے چه په ضم د تاء سره شي د وجې د جارى كولو د دې نه په مجرى د منادى مفرد معرفه او منادى مفرد معرفه مبنى على الضم وى نو په دې به هم ضمه شي .

سوال: دا لغة مصنف ولې بيان نه كړو؟

جواب: مصنف دلته هغه لغات ذكر كوي چه كثير وي او دا قليل دے نو ځكه دانه ذكر كوي بالالف ماتن په دې كښ يو بل لغت ذكر كوي او شارح وائي و قالوا يا ابتا و يا امتا غرض د شارح په دې سره د بالالف ربط د ما قبل سره بيانوي چه دا عطف دے په يا ابت او يا امت بغير الالف بانديې او دابه عوضين راشي دياء نه او دوه عوضه راتلى شي ديوى كلمى نه لكه دلته شو دون الياء ځكه لازم به شي جمع په مابين د عوض او معوض عنه كښ او داناروا ده اوس حاصل دا شو چه هر كله اضافة د اب او د ام اوشي ياء د متكلم ته نو هغې كښ اووه وجوه جائز دي خلور هغه مخكښ چه په يا غلامى كښ ؤ او درې دلته شول او يو بل لغت پكښ شارح هم بيان كړو و يا ابن ام و يا ابن عم غرض د ماتن په دې عبارت سره يو بل قسم د منادى بيانوى چه پكښ وجوه خمسه جائز دي خلور هغه چه په يا غلامى كښ وو او بله پنځه وجه چه هلته ناروا وه او شاذ وه دلته هغه جائز ده نو دا هر هغه منادى ده چه مضاف وى خو لفظ د ابن ته او يا بنت ته او بيا دا مضاف وى ياء د متكلم ته نوپه دې كښ وجوه خمسه جائز دى.

شارح وائي و قالوا يا ابن ام و يا ابن عم غرض د شارح په دې عبارت سره ربط د دې بيانوى نو دا عطف دے په يا ابي و يا امى بانديې نو د قالوا لاندې دے خاصه دا وجوه دې سره خاص دې نورو كښ دانه شي راتلى شارح وائي هذا الاختصاص دې سره دفع د سوال كوي چه ماتن خاصة وئيلى دې دا صحيح نه دے ځكه دا اختصاص به يا په نظر سره مضاف ته وى چه ابن دے او يا په نظر سره مضاف اليه ته وى چه ام او عم دے نوكه په نظر سره مضاف ته اختصاص مراد شي نو يو نقصان دا راځي چه يا بنت عم ترې نه خارجيږي ځكه مضاف خو

دلته ابن نه دے بنت دے حالانکه دي کښ هم دا وجوه جائز دي او بل نقصان دا چه داخل شو پکښ یا ابن خالی چه دلته مضاف ابن راغلی دے او دي کښ دا وجوه جائز نه دي او که په نظر سره مضاف الیه ته اختصاص مراد شی نو بیا پکښ داخلیږی یا غلام ام او یا غلام عم ځکه دلته مضاف الیه ام او عم راغلی دے حالانکه دا حکم په دي کښ ناروا دے. نو جواب دادے چه دا اختصاص زه په نسبة سره مضاف او مضاف الیه دواړو ته اخلم خوپه نسبة سره مضاف ته دا اختصاص اضاق وایم یعنی دا اختصاص په نسبة د مضاف سره بعض ما عدا د مضاف ته وایم خوچه بعض غیر د بنت نه وی. او دا اختصاص په نظر سره مضاف الیه ته حقیقی وایم یعنی دا اختصاص په نسبة د مضاف الیه سره کل ما عدا د مضاف الیه ته وایم چه مخه کل ما عدا د ام او عم وغیره دي نو یا بنت ام او عم داخل شو په دي حکم کښ او یا ابن خالی خارج شو او دغه شان یا غلام عم هم خارج شو دي لره دا حکم نه دے ثابت. تدبر

مثل باب یا غلامی اصل کښ عبارت په طور د تشبیه سره دے دا یا ابن ام او یا ابن عم مشبه دے او دا یا غلامی مشبه به دے او اداة د تشبیه دا مثل دے او وجه د شبه شارح بیانوی چه علی الوجوه الاربعة بیا شاح دا پوره تفصیل کوی په فقالوا یا ابن امی الخ سره.

سوال: چه هر کله په یا ابن ام او عم کښ هغه وجوه چه باب د غلامی کښ وو نو دا بیا جدا ولی ذکر کوی دا خو شه کار نه دے تطویل بلاطیل دے نو ماتن جواب کوی و قالوا یا ابن ام چه دلته یو بله وجه هم ده کنه چه دا وجه هلته شاذ وه هغه داچه داما قبل دیاء کسره به فتحه شی او دایاء به الف شی او بیا به دا الف حذف شی او اکتفاء به اوشی په فتح سره نو د دي وجی نه دا جدا بیانوی.

سوال: دا صورة په یا غلامی کښ شاذ دے او دلته په یا ابن ام او عم کښ جائز دے دا ولی؟

جواب: شارح ورله دری وجوه بیانوی (۱) کثرة استعمال (۲) و طول اللفظ ځکه اضافة پکښ دوه باره دے (۳) ثقل التضعیف یعنی مشدد والے د ام او عم خو دلته دا خبره ضروری ده چه دا دری وجوه مجتمعة مراد دي یعنی دایو دلیل دے چه وارد نه شی یا غلام عم چه دلته خو هم په عم کښ ثقل د تضعیف دے او دا حکم ورله نه دے نو مونږه داخبره اوکړه چه دا دری وجوه په یو مقام کښ دری واړه په یو ځائے وی. تدبر.

و ترخیم المنادی اجمالی خبری (۱) ربط (۲) لغوی تحقیق د ترخیم (۳) حکم د ترخیم (٤) اصطلاحی تعریف د ترخیم (۵) شرائط د ترخیم.

ربط: ولما كان من خصائص الخ غرض د شارح د دې عبارت نه يو ربط د دې روستو متن دما قبل سره بيانوى دويم دې روستو متن ته تمهيد دے دريم دفع د سوال ده چه د الله بنده بحث د مفعول به روان وو بيا بعض مواضع كښې حذف د مفعول به جوازا او وجوبا كيدلو بيا د وجوبى مواضعونه يو سماعى وو او درى قياسى وو نو په وجوبى مقاماتو كښې دې دويم مقام او په قياسى كښې دې اول مقام كښې شروع كړې وه چه هغه منادى وه نو اوس دا ترخيم څه دے؟ دا خو خروج عن البحث شو.

جواب: دا هم بحث د منادى دے خو دا بحث د منادى په پوره احكامو او خصائصو سره بيانوى نو اوس دهغى څه خصائص بيانوى فقال و ترخيم المنادى ربط لفظ "واو" استينافية دے ترخيم المنادى مبتدا ده او جائز خبر مبتداء او خبر جمله خبريه اسميه مستانفه.

لغوى تحقيق: درى خبرې په دې عنوان كښې ضرورى دي (۱) صيغه نو دا مصدر دے د باب تفعيل نه اى رخم يرخم ترخيما (۲) په معنى د نرم والى سره راځى (۳) وجه دتسميه داده چه مصطلح ترخيم ته څكه ترخيم وائى چه كله حذف اوشى د كلمى په اخر كښې نو كلمه كښې سهولة پيدا شى او بيا نرمى سره ادا كيږى.

حكم د دى: فقال و ترخيم المنادى جائز واى دا جائز دے شارح وائى اى واقع نو خادمى والا وائى چه غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه جائز خو په معنى د امكان خاص سره راځى يعنى كول او نه كول ئى دواړه برابر وى نو دې نه دا معلومه شوه چه ترخيم كول او نه كول دواړه برابر دي حالانكه ماتن روستو وائى چه و فى غيره ضرورة دا ترخيم د منادى په غير د منادى كښې ضرورى دے يعنى كول ئى واجب دى، نو دا خو ښكاره تعارض فى الكلام شو نو جواب شارح اوكړو چه جائز دلته په معنى د واقع سره دے او وقوع په امكان خاص او امكان عام دواړه كښې راځى بالفاظ ديگر دلته دا جواز مونږ په مرتبه د امكان عام مقيد بجانب الوجود كښې اخلو يعنى چه د دې شئ دا عدم ضرورى نه دے او باقى وجود نو دواړه صورته دې پكښې ضرورى هم او غير ضرورى هم نوپه سعة الكلام كښې ترخيم ضرورى نه دے او په ضرورة شعرى كښې ترخيم ضرورى دے. او باسولى والا د دې مقام تحقيق داسى كوى چه ماتن جائز اوى نو دا جواز دوه قسمه دے (۱) امكانى يعنى تصورى (۲) وقوعى چه واقع شوى وى نو سوال راغئ چه كوم قسم مراد دے؟ نو شارح جواب اوكړو چه واقع وقوعى وايم.

سوال: دا وقوع خو كله په شعر كښې وي او كله په غير شعر كښې دلته كوم مراد دے/

جواب: في سعة الكلام شعرى نه دے مراد سوال دا سعة د وسعة نه دے او كنه د سعى نه؟

جواب: من غير ضرورة يعنى د وسعة نه دے څكه چه بغير د ضرورة نه وى نو دا دپاره د فراختيا وى نو

سوال: دامن غير ضرورة كښې د ضرورة نه كوم اخلى داپه دوه قسمه دے (۱) ضرورة شعريه (۲) ضرورة غير شعريه.

جواب: شعرية ضرورة شعرى اخلم.

سوال: نو دا ضرورة شعريه هم په دوه قسمه دے (۱)اضطرارى (۲) غير اضطرارى نو كوم مراد دے؟

جواب: دعت اليه اضطرارى اخلم نو حاصل داشو چه زه نفى د ضرورة شعر يه اضطراريه كوم.

سوال: دلته خو دا تخصيص شو په رواياتو كښې او تخصيص په رواياتو كښې دلالت كوى په نفى د حكم د ما عداه مقصد داشو چه دابه واقع وى په نثر كلام كښې او په شعر كښې به رانه وى واقع حالانكه نثرى او شعرى كلام دواړو كښې دا ترخيم راتلى شى.

جواب: فان دعت اليه ضرورة فبا لطريق الاولى حاصل دا دے چه او جى قانون هم دادے چه تخصيص په رواياتو كښې دلالت كوى په نفى د حكم د ما عدا باندې خو هله چه په ما عداه كښې دا حكم په طريق اولى سره ثابت نه وى او كه په ما عداه كښې دا حكم په طريق اولى سره ثابت وو نو بيا دا دلالت نه كوى په نفى د حكم د ما عدا باندې اوس دلته دا حكم په ما عداه كښې چه هغه كلام شعرى دے په طريق اولى ثابت دے و فى غيره ضرورة او شارح ورسره هو ضمير لګوى او تعين د غيره د ضمير د مرجع كوى او وريسې واقع راوباسى نو تقدير د عبارت شو چه وهو فى غير المنادى واقع ضرورة نو دا تصحيح د تركيب كوى چه دا هو مبتداء ده او فى غير په اعتبار د متعلق سره چه واقع دے خبر دے او د ضرورة منصوب دے بناء بر مفعول له نو معنى به شى چه دا ترخيم د منادى په غير منادى كښې واقع دے د وجې د ضرورة نه نو په دې تركيب سره دا سوالات دفع شول .

سوال: دا هو مبتداء ده او دا ضرورة خبر دے نو حمل د خبر په مبتداء نه دے صحیح معنی به شي دا ترخیم په غیر د منادی کښ ضرورت دے او دا معنی فاسد ده بداهة نو مونږ.

جواب: اوکړو چه دا ضرورة خبر نه دے.

سوال: نو دا ضرورة څه دے؟جواب: مونږ اوی دا مفعول له دے کنه.

سوال: دا ضرورة چه مفعول له دے او دلته"لام"مقدر شوی دے نو د"لام"مقدر کولو دپاره په مفعول له کښ درې شرائط دي یو شرط پکښ دادے چه فاعل د فعل معلل او د مفعول له به یو وی اوس دلته دا شرط مفقود دے په دي شان سره چه دا جائز فاعل د ترخیم دے او د ضرورة دپاره فاعل متکلم دے. نو پکار ده چه اظهار د"لام"پکښ شوی وے.

جواب: د دواړو دپاره فاعل یو دے چه د دواړ رجع متکلم ته کیدلے شي چه دا ترخیم جائز دے د وجی د ضرورة د ترخیم نه چه دا ترخیم به کوی دا متکلم نو فاعل ترخیم شو رجع ئ متکلم ته ده .

سوال: حکم کول په یو شئ باندې فرع د معرفة د محکوم علیه وی دایو قانون دے او دلته د دي قانون خلاف شوی دے ځکه ماتن حکم مقدم کړئ دے او تعریف روستو کوی نو پکار ده چه تعریف شوی وے نو بیا به ورله حکم بیانولی .

جواب: (۱) په تقدیم د حکم کښ په تعریف باندې اشاره ده اهتمام د حکم ته چه دا حکم مهتم بالشان وو نو مقدم ئ کړو او باقي معرفة د محکوم علیه نو دا معلوم دے په عنوان د ترخیم المنادی او یا په ما یطلق علیه هذا اللفظ سره او دومره معرفة هم کافي دے تعریف حقیقي ته ضرورت نشته دے نو حکم په مجهول رانغلو.

وهو حذف في اخره ... بحث په ترخیم د منادی کښ شروع وو په اجمالي خبرو کښ د دریو خبرو تفصیل اوشو اوس تفصیل د څلورمی خبرې دے .

تعریف اصطلاحي د ترخیم: نو دا ماتن کړی دے چه دا حذف دے په اخر د منادی کښې د وجې د تخفیف نه ای ترخیم المنادی غرض د شارح په دي عبارت تعین د مرجع کوی دپاره د هو ضمیر اخر لمنادی دي سره هم غرض د شارح تعیین د مرجع کوی دپاره د ضمیر مجرور په اخره کښ ای لمجرد التخفیف غرض د شارح په دي عبارت، علت د نصب ذکر کوی دپاره د

تخفيفا چه دا منصوب دے بناء بر مفعول له لعلة اخرى الخ غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه دا تعريف د ترخيم مانع نه دے د دخول د غيرنه داخل شو پکښ اعلال لکه قاض او رام کښې اخر کښې حذف شوی دے او دې ته خلق اعلال وائی نه ترخيم

جواب: حاصل دادے چه مونږ وايو دا حذف دپاره د تخفيف شوی وی فقط د بل علت د وجې نه نه وی چه هغه قانون ته مفضی شی نو دا قاض او رام کښې علت اخرى دے چه قانون صرفي دے.

سوال: نو دا قانون د صرف چه دلته دے نو دې کښې هم دا حذف دپاره د تخفيف دے.

جواب: دا يوه اصطلاح ده د نحاتو چه قائمه شوی ده په دې خبره باندې چه حذف کله بغير د قانون صرفي نه او يا د غير نه وی نو دې حذف ته حذف تخفيفي او حذف اعتباطی وائی او چه کوم حذف د وجې د قانون صرفي يا بل قانون د وجې نه وی نو هغه ته حذف قانونی او حذف الی علة وائی نو دا پکښې نه داخليږی ځکه دا د بل علة د وجې نه دے.

فائده نافعه: اعتباط په لغة کښې ذبح کول د اوښې دې بغير د څه بيمارئ نه او په اصطلاح کښې وجود ديو شئ دے بغير د څه علت نه نو مناسبة پکښې ظاهر دے چه حذف اعتباطی هم بغير د څه علت نه وی.

فعلى هذا يكون غرض د شارح په دې عبارت سره تفريع ده په ما قبل باندې او دفع د سوال ده چه داهو ضمير دپاره مرجع څه ده؟ دوه احتماله دې او دواړه ناروا دې يو داچه دا راجع شی ترخيم المنادى ته او دويم داچه راجع شی مطلق ترخيم ته نوکه راجع شی ترخيم المنادى ته نو بيا ترخيم د غير منادى بلا تعريف پاتې شو او داهم راځی لکه تا اوی چه وهو فی غيره ضرورة او که ضمير راجع شی مطلق ترخيم ته نو بيا د شرطه ضمير به هم دې ته راجع کوی ځکه اصل په ضمائرو کښې عدم انتشار دے او د شرطه ضمير خو مطلق ترخيم ته راجع کول صحيح نه دې ځکه دا شرائط د مطلق ترخيم نه دې بلکه دا شرائط دپاره د ترخيم د منادى دې علاوه لا دا وايو چه اضمار قبل الذکر هم راغئ ځکه مخکښې خو ترخيم د منادى ذکر دے او مطلق ترخيم نه دے ذکر.

جواب: شارح وائی چه مونږ اختيار د شق اول کوو چه دا ضمير راجع دے ترخيم د منادى ته نو دا تعريف د ترخيم د منادى دے او تعريف د ترخيم د غير منادى ترې نه معلوميږی

مقایسة او یا موثر اختیار د شق ثانی کوو چه دا ضمیر راجع دے مطلق ترخیم ته او د شرطه ضمیر هم مطلق ترخیم ته راجع دے خو د یو قید سره چه هغه مقدر دے ای و شرطه اذا کان واقعا فی المنادی او دغه شان اضمار قبل الذکر هم نه راځی ځکه ترخیم المنادی مقید دے او ذکر د مقید مستلزم وی ذکر د مطلق لره.

شرائط د ترخیم د منادی: ماتن وائی و شرطه شارح اوی ای شرط ترخیم المنادی غرض د شارح تعین د مرجع کوی چه دا ضمیر راجع دے ترخیم د منادی ته چه کله اول جواب شی او یا دا راجع دے مطلق ترخیم ته چه کله واقع وی په منادی کښ چه کله جواب ثانی مراد شی. امور غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دی چه دا شرطه مبتداء ده او ان لا یکون الخ ورله خبر دے نو دا خبر امور متعددہ واقع شوی دے نو دلته ربط مقدم شوی دے په عطف باندې او بیا په دې اربعة کښ اشاره ده هغه طریقې د فصحاء بلغاء ته چه دا شرائط ټول څلور دې نو دا اجمال شو او بیا ان لا یکون الخ ورله تفصیل دے او تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی.

ثلاثة منها عدمية الخ غرض د شارح په دې عبارت سره یو تفصیل کول دې په خپله شرح کښ او دویم د دې شرائطو تجزیه کول دې او دریم دفع د سوال هم ده چه داکوم شرائط چه ماتن بیانوی نو دې کښ دا اول درې عدمی دې او یو اخیرئ پکښ وجودی دے نو وجودی اشرف وی د عدمی نه او اشرف مقدم وی په طبع کښ نو پکار ده چه دائی په وضع کښ هم مقدم کړی وی چه موافقة د طبع سره راشی نو شارح ثلاثة کښ اشاره کوی.

جواب: ته چه دا عدمی شرائط ډیر دې او العزة للتکاثر و المعزز اولی بالتقدیم طبعا نو مقدم کړو وضعا چه موافقة راشی د وضع د طبع سره بیا دا شرائط نورو نحاتو پنځه بیان کړی دې یو عدمی ورسره زیات بیانوی هغه داچه ولا مندوبا خو د ماتن په نزد دا داخل نه دے په منادی کښ نو ځکه ئې نه بیانوی اول شرط دادے چه مضاف به نه وی دا منادی .

سوال: زه به درته اوښایم چه منادی به مضاف وی او بیا به هم پکښ ترخیم جائز نه وی لکه یا طالعا جبلا دا خو مضاف نه دے او بیا هم پکښ ترخیم ناروا نشی کیدلےدے نه په جانب د طالعا او نه په جانب د جبلا کښ.

جواب: حقیقة او حکما نو دا طالعا مضاف حکمی دے اگرچه حقیقی نه دے فدخل سره د دې خپل قید فائده بیانوی اذ لا یمکن الخ دې سره دلیل د دې خبرې بیانوی چه دا شرط ولی

اولګیدو نو حاصل دادے چه که په مرکب اضافی کښ ترخیم کوی نو یا به په مضاف کښ کوی او یا په مضاف الیه کښ نوکه په مضاف کښ شی نو دا مضاف په اعتبار د معنی سره اخر نه دے بلکه مینځ دے نو تعریف د ترخیم پری نه دے صادق اوکه په مضاف الیه کښ شی نو داپه اعتبار د لفظ سره ځان له کلمه ده نو بیا ترخیم راغئ ځوبه غیر د منادی کښ نو بیا صحیح نه ده نظر الی المعنی ځکه چه مضاف علاوه د مضاف الیه نه نه تام کیږی نظرا الی اللفظ ځکه دا دواړه جدا جدا کلمی دی.

سوال: چه ته ان لا یکون مضافا وائی نو ان یکون مفردا او وایه د دې اعتراض نه به هم بچ شی ځکه مفرد په مقابله د مضاف او شبه مضاف دواړو کښ راځی.

جواب: دا شرط عدمی وو نو په صورة د عدم کښ ذکر کول مناسب وو او په دې انداز سره داسی نه راتلو. تدبر. ولا مستغاثا شارح وائی وان لا یکون مستغاثا دا ربط لفظی بیانوی چه دا مستغاثا عطف دے په مضافا باندې او ما قبل د معطوف علیه خو معاد وی په معطوف کښ او بیا دا مستغاث عام دے که"لام"سره وی او یا الف سره لعدم ظهور الخ دلیل بیانوی حاصل دادے چه دې مستغاث کښ اثر د نداء نه شی ظاهر یدلی چه هغه نصب او بناء ده نو دا ترخیم چه د خصائصو د منادی نه دے دا پکښ نه شی راتلی.

سوال: دا جر ولی د څه اثر دے؟ په مستغاث باللام کښ .

جواب: دا اثر د نداء نه دے بلکه دا اثر د حرف جر دے او چه کله منادی مستغاث بالالف وی نو هم نه شی راتلی ځکه (۱) دا زیاء ة د الف مناقی دے د حذف سره نو نه شی جمع کیدلے (۲) منادی مستغاث بالالف کښ مد الصوت وی او منادی مرخم کښ مقصود قصر الصوت وی او په درمیان د قصر او مد کښ منافاة دی. ولم یذکر المندوب غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره ده اعتراض ته چه په عدمی شرائطو کښ خو داهم دے چه مندوب به نه وی ماتن دهغی بیان ولی نه کوی.

جواب: دا د ماتن په نزد نادی کښ داخل نه دے نو ځنګه ئی ذکر کړی. وما وقع فی بعض النسخ داهم دفع د سوال ده چه د کافیه بعضو نسخو کښ خو مونږ لیدلے دے چه ولا مندوبا .

جواب: اول خو دغه نسخه صحیح نه ده او كه صحیح شي نو بیا هم نه شي راتلی څکه مندوب كښ هم مد الصوت وی او منادی مرخم كښ قصر الصوت وی نو بیا هم منافاة دي ولا جملة غرض د ماتن دريم شرط عدمی بیانوی او شارح وائی وان لا یکون. دا ربط بیانوی او دا عطف دے په مضافا او ما قبل د معطوف علیه الخ لان الجملة الخ وجه د دي شرط بیانوی حاصل دادے چه دا جمله په منزله د امثالو (متلونه) وی نو داچه خلق نقل کوی نو دي كښ اشاره وی یوی خاص واقعه ته نو دا واقعه په دي كښ مقصود وی نوچه پكښ تغییر راشي او یو طرف د طرفینو نه بدل شي نو بیا په هغه واقعه باندي دلالت نه کوی. و الشرط الرابع احد الامرين دا اوس وجودی شرط بیانوی. بیا شارح د دي شرط نه تعبیر په جدا انداز اوکړو دا اشاره کوی دي خبري ته چه هغه جدا شروط وو او دا جدا شرط دے او دا دفع د وهم هم ده چه چا به دا وهم کړی وو چه کون د دي علم زائد على ثلاثة احرف او یا متلبس بتاء التانيث به دواړه مجموعه یو شرط وی نو شارح اوی احد الامرين چه دا جدا جدا دي یعنی شرط احد الامرين دے. نو حاصل دادے چه دا به علمية وی زائد به وی په دريو حروفو باندي او كه دا علم نه وو نو بیا پكښ تلبس د تاء تانیث شرط دے لانه لعلمية دا وجه د اشتراط د علمية بیانوی چه دي علم ته نداء ډيره کيږی نو پكښي تخفيف پكار دے او دا تخفيف په ترخيم كښ راځی (۲) دا ترخيم حذف دے او حذف هلته وی چه په ما ابقی كښ دلیل په ما القی باندي وی نو علم د شهرة د وجی نه داسی وی و لزيادته وجه د زيادة بیانوی چه دا څکه شرط کوو چه په ترخيم سره کلمه د قدر صالح نه کلمه نه شي او قدر صالح د کلمی دری حروف دي نو چه دا کلمه د څلورو حرفونه زياته وی نو داخوف به پكښ نه وی. او بیا کم ابنیه د معرب دری حرفه څکه دي چه په یو به ابتداء شي او په بل به وقف اوشی او یوه به په مینځ كښ فاصل واقع شي.

سوال: ستا د كلام نه دا معلومه شوه چه كوم اسم معرب وی نو دهغی حروف به د دريو نه کم نه وی نو نقض دي راغلو په عصا او رحی باندي دلته خو دا دوه حرفه دي دری څونه دي پاتی شوی.

جواب: بلا علة موجبة دلته خو دا د علت موجبه د وجی نه حذف کيږی او زمونږ خو بغير د علة موجبه نه مراد دے و اما بتاء التانيث غرض د ماتن امر ثانی بیانوی او شارح دپاره د دي متعلق متعين کوی او بیا په اعتبار د متعلق سره د دي ربط بیانوی چه دا صفة دے دپاره د موصوف محذوف او بیا موصوف سره د صفة نه عطف دے په علما زائدا نو هغه خبر ده

دپاره د يکون نو دابه هم داسي وى. لان وضع دا وجه بيانوى چه دا تاء په کوم اسم کښ راشي نو دا بين القرار و الفرار وى نو چه دا واقع وى په داسي مقام کښ چه هلته مضبوط مضبوط شيان حذف کيږى نو دابه هم حذف کيږى مونږ سره به پره نه وى ولې پيالوا دفع د سوال ده چه تاسو په يا شاة او ياثبة کښ ترخيم اوکړے نو دا بيا ياشا او ياثب پاتى شى نو داخو کلمه د قدر صالح نه کمه شوه او تاسو خو وائى دانارو ده.

جواب: مونږ داپروانه کوو ځکه دا مخکښ د ترخيم نه داسي دي په دي شان سره چه دا تاء کلمه اخرى ده نو دا کلمة براسها ده نو دا د تاء نه علاوه دوه حرفه دي ولا يرخم لغير دا دفع د سوال ده چه تا دا خبره ښکاره کړه چه چرته هم دا ځلور شرائط وى نو بيا به پکښ ترخيم کيدلے شى نو نقض دي راغلو په يا صاحب باندې چه دي کښ خو يا صاح وئيل جائز دي لکه مقامات کښي حالانکه دلته خو که يا حب کښ اگرچه عدمى شروط شته دے خو اخير شرط وجودى پکښ نشته دے ځکه دا خو نه علم دے او نه پکښ تاء د تانيث شته دے .

جواب: (۱) او کنه مونږ وايو چه دا شروط پکښ وى نو ترخيم پکښ جائز دے او د دي نه علاوه چه وى نو دا شاذ دے لکه دا دلته شاذ شو (۲) دا په منزله د علم دے ځکه دا کثير الاستعمال دے او علم هم کثير الاستعمال وى نو په علم کښ ترخيم کيدلو نو دلته به هم کيدلے شى.

فان کان فی اخره زيادتان کله چه فارغ شو مصنف عليه الرحمة د شرائطو د ترخيم د منادى نه نو شروع ئی اوکړه په مقدار د حذف کښ فقال فان کان ولما فرغ من بيان شرائط الترخيم غرض د شارح په دي عبارة سره د روستو متن ربط ذکر کوى د ما قبل سره او ورته تمهيد ږدى چه کله د شرائطو د ترخيم د منادى نه فارغ شو نو شروع ئی اوکړه په مقدار د محذوف کښ .

سوال: دا خو لازم شو خروج عن البحث ځکه بحث د منادى شروع دے او دا خو انتقال اوشو مقدار د حذف ته.

جواب: بسببه خروج عن البحث نه دے راغلی ځکه دا مقدار د حذف هم په سبب د دي منادى دے نه مطلق حذف مراد دے. حاصل د متن دادے چه کله په اخر د منادى کښي دوه زيادته وو چه په حکم ديو زيادة کښ وى يعني دواړه په يو ځل زيات شوى وى او يا اخر حرف د منادى اصلى او صحيح وى حقيقة او حکما او د دي حرف نه مخکښ مده زائده وى او دا کلمه چه پکښ حرف صحيح اصلى ما قبل ترى نه مده زائده وى نو دا کلمه په

غلورو حرفو بانديې زياته وى نو د دې نه به دا اخيرى دوه حرفه حذف كيدلے شى لكه اسماء شو او منصور شو اسماء مثال د اول صورت دے چه دوه حرفه پكښ زيات دي به حكم ديو كښ او منصور د هغه مثال دے چه اخر د دې كښ حرف صحيح اصلى دے او مخكښ ترى نه مده زائده دے نو د دې دوه و صورتو يو حكم دے چه حذفنا دے او كه دا منادى مركب منع صرف يا مركب بنائى وى نو د دې نه به دا جزء اخير حذف كيږى لكه يعلبك او په خمسة عشر كښ يا بعل او يا خمسة شو. او كه د دې صورتونو نه علاوه وى نو بيا به يو حرف حذف كيدلے شى لكه حارث كښ يا حار شو.

اخره اى اخر المنادى دا تعين د مرجع كوى. كائنتان دا متلعق متعين كوى ديارہ د ق حكم الواحدة جار مجرور او دا بيا په اعتبار د دې متعلق سره صفة د زيادتان دے بيا الواحدة صفة دے تقاضا د موصوف كوى نو شارح ورله موصوف متعين كړو چه الزيادة دے فى انما دا بيان دے د فى حكم الواحدة، چه زيادة ئى په يو ځائے شوى وى و احترز سره د دې قيد فائده بيانوى چه مثل د ثمانية او مرجانة ترى نه خارج دې ځكه دلته دواړو كښ دوه اخيره حرفه زيات دي خو زيادة ئى معانه دے شوى نو صرف دې نه به اخيرى حرف حذف كيږى. نو داسى مثال چه دا زيادة پكښ معاوى هغه دا اسماء دے چه الف او همزه پكښ معا زيات دي نو په صورة د ترخيم كښ به يا اسم وئيلى شى. اذا جعلتها غرض د شارح دفع د سوال ده چه مثال دې د ممثل سره موافق نه دے ځكه ددې په اخر كښ زيادتان نشته ځكه دا د اسم جمع ده په وزن د افعال بانديې نو دا همزه په مقابله دلام كلمة كښ دے اصلى دے بدل د"واو" نه راغلى دے.

جواب: دا اعتراض به هله وى چه دا مونږ جمع د اسم وبلے حالانكه دا خو په وزن د فعلاء دے د وسامة نه په معنى ۔ حسن سره نو دا خو ديوى زنانه نوم دے نه جمع د اسم ده و ذلك مذهب سيبويه دا اشاره كوى اختلاف ته چه ايا دا اسماء جمع د اسم ده په وزن د افعال بانديې او كنه دا د وسامة نه دے په وزن د فعلاء بانديې نو سيبويه وائى دا د وسامة نه دے او دا"واو" په همزه بدل شوى دے نو اسماء په وزن د فعلاء بانديې دے او جمهور وائى چه نا دلته دا اسماء جمع د اسم ده او دايه وزن د افعال سره دے اودا همزه اصلى ده بدل دے د"واو" نه چه دا دسما يسمو نه دے او دايه دي اعتبار سره دما نحن فيه نه دے بلكه دا پشان د عمار دے. خو مختار عند الماتن مذهب د سيبويه دے نو ځكه دلته دا ذكر كوى په دې باب د زيادتان كښ.

حاصل دا چه څوک ئی جمع د اسم وائی نو بیا خو په وزن د افعال دے نه په وزن د فعلاء باندې او چه څوک ئی مفرد علم وائی د وسامة نه نو بیا په وزن د فعلاء دے نه په وزن د افعال باندی. تدبر. والله اعلم.

و مروان دا دویم مثال دے د بادشاه نوم دے او کان فی اخره حرف صحیح غرض د ماتن په او حرف سره بل شرط بیانوی او غرض د شارح په کان فی اخره سره ربط بیانوی چه دا عطف دے په زیادتان باندې او ما قبل د معطوف علیه نه خو معاد وی په معطوف کښ ای صحیح اصلی غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی ماتنه چه اخر کښ حرف صحیح وی او ما قبل تری نه مده وی نو دا دواړه به حذف کیږی نو زه درته ښایم چه اخر کښ به حرف صحیح وی او ما قبل به تری نه مده هم وی او بیا به هم دواړه نه حذف کیږی بلکه یو حرف اخیر به حذف کیږی لکه سعلاة شو ة حرف صحیح دے او ما قبل تری نه الف مده هم دے او دلته خو په ترخیم کښ صرف دا تا حذف کیږی.

جواب: شارح وائی چه د دې صحیح نه مراد اصلی صحیح دے او دا تاء اصلی صحیح نه ده بلکه زائدة صحیح ده.

سوال: نو چه دا قید مراد وو نو ماتن بیا نو ولې نه؟

جواب: لتبادره الی الذهن دا سمدست ذهن ته راځی لان الغالب سره دلیل د تبادر بیانوی چه په دې شان سره ذهن ته سمدست راځی چه ماتن صحیح اوی نو صحیح اکثر اصلی وی او زائدا اکثر حروف علت وی بیا دا سعلاة بلا ته وائی او سیخکر ته وهو اعم دا دفع د سوال ده چه زه به درته اوښایم چه اخر کښ به ئی حرف صحیح نه وی او بیا به هم ورله دا حکم وی لکه مدعو او مرمی دلته اخر کښ حرف صحیح نشته دے بلکه حرف علت دے او ما قبل تری نه مده دے او بیا هم دوه حرفه حذف کیږی په وخت د ترخیم کس نو جواب چه دا صحیح عام دے که حقیقة وی او که حکما وی دا مدعو او مرمی صحیح نه دي حقیقة خو حکما دي ځکه په دې"واو" او یاء باندې اجراء د اعرابو کیدلے شی او ما قبل تری نه ساکن هم دے.

الف"واو" یاء الخ دا تعین د حروفو مده ؤ کوی چه دا حروف علت ته وائی خو چه دا کله ساکن وی او ما قبل حرکت د دې موافق وی لکه د"واو" نه مخکښ ضمه او الف نه فتحه او یاء نه کسره وی نو دابه بیا حروف مده وی او اطلاق د حروف علتو پرې هر وخت کښ کیږی

او دي ته حروف علت ځکه وائی چه علت بیمارتیا ته وائی او بیمار دا حروف کثرت سره وائی لکه یو شاعر غریب وائی چه زوجه ئی وفات شوی وه.

در شب هجران ما هی حرف خوان نیک رائی

حرف علت را کنم تکرار گویم وائی وائی

دغه شان دي ته حروف لین هم وائی چه ساکن وی بیا برابره خبره ده که ما قبل حرکت ورسره موافق وو او یانه وو نو دری نومونه شول (۱) حروف علت (۲) حروف مده (۳) حروف لین .

والمراد بها دا دفع د سوال ده چه زه به درته اوښایم چه دیو اسم اخر کښ به حرف صحیح وی او ما قبل به تری مده هم وی او بیا به هم حذف د دوارو حروفو نه کیږی بلکه دیو به وی لکه یا مختا کښ یا مختار حالانکه دلته اخر کښ راء حرف صحیح دے او ما قبل الف مده هم دے.

جواب: زما مراد د دي مده نه زائده دے او دلته په مختار کښ دا الف بدل دے د یاء نه دا اصلي دے زائده نه دے.

سوال: نو دا قید ماتن ولی نه ذکر کوو؟

جواب: دا ذهن ته سمدستے راځی ځکه اکثر مراد په مده سره زائده مراد وی وهو اکثر الخ شارح د دي جملي دماقبل سره ربط بیانوی چه دلته دا"واو" حالیه دے او دا جمله حالیه ده او ذو الحال ورله ضمیر مجرور دے ق اخره کښ چه راجع دے منادی ته من الحروف دي سره دفع د سوال ده چه دا اکثر صیغه د اسم تفضیل ده او اسم تفضیل یو مفضل او بل مفضل علیه غواړی نو دا اسم مفضل دے او دا اربعة احرف مفضل علیه دے نو قانون په اسم تفضیل کښ دادے چه دا مفضل او مفضل علیه دواړه په اصل فعل کښ مشترك وی نو مقصد دادے چه دا اسم او دا حروف به په كثرة كښ شریك وی نو دا اسم خویو شی دے كثرة پکښ نشته دے.

جواب: نسبة د اکثر دي اسم ته مجازا دے او مراد دا حروف د اسم دي چه دابه د خلورونه زیات وی. او دا شارح دا من الحروف اوی چه دا کثرة د اسم د ذات د وجی نه دے بلکه

من الحروف د جهة د حروفو او اجزاء و ددی اسم نه دے. اوس دي دپاره امثله بيانوی متصور، عمار او مسكين دری امثله ځكه چه حروف مده دری دی، لئلا يلزم سره وجه بيانوی د اكثرية د حروفو د دي كلمی په څلورو باندي وائ دا ځكه چه لازم نه شي بقاء د كلمی معربي په اقل مقدار د ابنية د معرب نه.

سوال: نو بيا خو پكار ده چه دا شرط نه په اول صورت كښ هم لګولی وی چه هغه في اخره زيادتان دے چه دهغی حروف هم كم نه شي لكه ثبون او قلون شو .

جواب: دي شرط ته ضرورت په اول صورت كښي نشته دے ځكه د ترخيم نه علاوه هم دا حروف حذف كيږي او كلمه معربه په اقل ابنية د معرب پاتی كيږي ځكه دا زائده دي دواړه او قانون دادے چه و الزائد احق بالحذف.

حذفتا دا دواړو صورتونو سره لګی شارح د دي ضمير دپاره مرجع متعين كوی .

اما الاول غرض د شارح وجه بيانوی دپاره د اول صورت چه دا دواړه حرفه به حذف كيږی دپاره د دي چه رفع د وضع سره موافق شي يعني چه څنګه دا دواړه په غونډه سره زيات شوی وو نو په ګرځ سره به حذف هم دواړه شي و اما في الثانی د دويم دپاره وجه بيانوی چه كله په دي دويم صورت كښ موٙنږ دا اخری حرف چه صحيح او اصلی دے دا حذف كړو او دا مده زائده تری نه مخكښ حذف نه كړو نو بيا په موٙنږ باندي يو مثل صادق كيږی ډير خطرناك.

صلت على الاسد وبلت عن النقد

چه حمله كوی په زمری باندي او متيازی كوی د بد شكله ګډی نه نو د دي حرف اصلی مثال د زمری دے نو دا حذف كوی او دا مده زائده بد شكله ګډه ده نو دانه حذف كوی وان كان مركبا .

سوال: تا خو موٙنږ ته مخكښ دا خبره كړی ده په شرائطو د ترخيم كښ چه دا منادی به جمله نه وی او دابه مضاف نه وی نو اوس دلته مركبا وائی نو دامركبا خو جملی او مضاف د واړو لره شامل دے .

جواب: و یعلم الخ دلته یو قانون دے چه کله یو خاص ذکر شي او بیا دهغي په مقابله کښ عام راشي نو مراد به د دي عام نه غیر د هغه خاص وی نو هلته می په شرائطو کښ مضافا او جملة ذکر کري وو چه دا خاص وو نو دلته به د مرکبا نه علاوه د دي نه وی چه هغه مرکب منع صرف او مرکب بنائی دے مثل بعلبك مثالونه بیانوی لنزوله وجه بیانوی چه د دي نه ولی دا اسم اخیر حذف کیږی نو وائ دا پشان د تاء د تانیث شو نو دا اسم مرکب مشبه او دا تاء التانیث مشبه به او وجه د شبه ق کون کل واحد منها دے حاصل دادے چه داهر یو جدا جدا کلمی شوی نو داپه منزله د جزء شوه نو چه اوس مونږه دا ټوله کلمه حذق نه کړو او څه حصه تری نه حذف کړو نو دابه داسی شي چه د جزء نه دي څه حصه حذف کړه او باقی دي پریښودو او دا خو ناروا دے کنه وان کان غیر ذلك چه د دي نه علاوه وی نو دهغي حکم بیانوی .

سوال: ذلك سره اشاره دری اقسامو ته ده نو هغه جمع ده او ذلك مفرد دے مطابقة نشته.

جواب: زلک مذکور داپه تاویل د المذکور سره ده.

سوال: نو مذکور خو ټول کتاب دے

جواب: "من الاقسام الثلاثة مراد دي فحرف واحد."

سوال: دا فاجزائیه ده په جمله داخله وی او هغه جزاء وی او دا حرف واحد خو جمله نه ده.

جواب: فیحذف حرف واحد اوس جمله شوه بیا دا جزاء ق جمله فعلیه اوګرځوله نه اسمیه دپاره د دي چه موافق شي د ما قبل جزاء ګانو سره هغه هم فعل ئے دي لکه حَذفتا، حُذف الاسم الاخیر .

سوال: کله چه مقصود موافقة وو د دي جزاء دما قبل سره نو بیا خو ماضی پکار وه چه حذف حرف واحد څکه هغه نوری جزاګانی هم داسی دی.

جواب: دلته مجبوری ده څکه فاء ق راوړی ده او داپه ماضی نه داخلیږی، لحصول الفائدة المقصود سره شارح وجه بیانوی چه دایو حرف څکه حذف کوم چه ترخیم په دي حذف د حرف واحد سره راځی نو مونږ نور زیاتی نه کوو و عدم موجب حذف الاکثر دا دفع د سوال ده چه مقصود په حذف دیو حرف سره حاصلیږی نو دي نورو اقسامو کښ ولی زیاتی کوی؟

جواب: هلته موجب د حذف د اکرو وو که یاحاروپامال یا"واو" سره امثله دي او شارح ورله اصل هم متعین کوی وهو في حکم الثابت دې ځائے نه یو بله خبره بیانوی چه کله په منادی کښ ترخیم اوشی نو دابه مونږه په حکم د منادی ثابته بجمیع اجزاءه کښ ګرځو او که په حکم د منادی مستقله کښ . نو وای دې کښ اختلاف دے اکثر خلق په دې اول دي او څه بعض په دویم فقال وهو ای المنادی المرخم دا تعین د مرجع کوی.

سوال: تا اوې چه دا منادی مرخمه په حکم د منادی ثابت کښ ده عین منادی ثابت نه ده. حالانکه دا خو عین منادی ثابت ده.

جواب: شارح وائی بجمیع اجزاءه او پخپله دا منادی ثابت ده خو بجمیع اجزاءه ثابت نه ده نو دهغی په حکم کښ ده په دې شان سره چه مخکښ د حذف نه دا حرکت او حرف په کومه طریقه باندې وو نو پس د حذف نه به هم داسی وی اګرچه قانون ورته هم متوجه وی علی الاستعمال الاکثر دا الاکثر صفة وو نو شارح ورله موصوف متعین کړو.

سوال: نو دا موصوف دې استعمال او ګرځو مذهب دي ولی نه راوړو.

جواب: دلته مذهبونه نشته دے. (۲) دپاره د مطابقة د قد یجعل سره هلته د اقل صفة استعمال دے فیقال سره تفریع کوی نو دا فاء یا تفریعیه ده او یا فصیحیه ده شرط مقدر دے چه اذا کان المنادیٰ کذلك فیقال الخ نوبه یا حارث کښ به یا حار بالکسرة وائی او په یا ثمو کښ به یا ثمود وائی اګرچه دې ته قانون متوجه دے هغه داچه دا راو بدلول دې په یا او بیا حرکت د ما قبل د یاء په کسره باندې او په یا کروان کښ یاکرو اګرچه ورته قانون متوجه دے دقال والا چه"واو" الف شی خو دابه څکه داسی وائی چه مونږ وایو چه ګویا دې پسی دا محذوف اوس هم شته نو بیا دهغی د وجود په وخت کښ خو حذف ناروا دے څکه په یا ثمود کښ دا"واو" اخر کښ نه شو او یاکروان کښ"واو" پسی الف ساکن دے نو نه به بد لیږی و قد یجعل دویم قول بیانوی او دائی روستو کړو د وجی د قلت نه.

سوال: پکار داده چه داسی عبارة ئې وئیلی وی چه علی الاقل دپاره د موافقة د ما قبل سره.

جواب: دا قد دپاره د تقلیل دے دا معنی فائده کوی. اسما براسه یعنی دا مستقل منادی ده نور ورسره څه نشته دے هیڅ ترې نه نه دې حذف شوی نو دې لره به حکم د خپل نفس وی یعنی چه اوس څنګه ده نو هم دا منادی ده اصل ته به نشی کتلی په حرکت او حرف کښ نو

یا حار بالضم به وائی چه دا مستقل منادی ده مفرده معرفه او هغه مبنی علی الضم وی او یا کمی به وائی ځکه دایا ثمو وو نو"واو" په طرف کښ دے دابه یا شی او ما قبل ضمه به کسره شی د وجی د مناسبة نه دیاء سره او یا کراځکه قال والا قانون اولګیدلو.

سوال: داسی چرته شته دے چه"واو" په طرف کښ واقع وی او ما قبل ضمه وی او دا"واو" یاء شی او ضمه فتحه.

جواب: او ادلٍ دے ځکه اصل کښ أدلُوٍ وو نو دا"واو" په طرف کښ دے دایاء شوه او ما قبل حرکت ددی موافق شو چه کسره ده نو دا ادلی شو نوپه یاء باندي کسره ثقیله وه نو دا حذف شو نو دا ادلِين شونو التقاء د ساکنینو سره یاء هم حذف شو نو دا ادلن شو نو د نون تنوین دما قبل حرکت سره یو شو نو دا ادل شو.

سوال: دا دری امثله ولی بیانوی؟ یو کافی نه وو؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وی په تعدد د ممثلاتو باندي نو یو مثال دهغی دے چه صرف حرکت کښ تغییر راغلی وی لکه یا حار شو دویم مثال دهغه دے چه صرف حرف کښ تغییر راغلی وی لکه یا کرا او دریم مثال دهغی دے چه دواړو کښ تغییر راغلی لکه یا ثمی شو.

وقد استعملوا صیغة النداء فی المندوب کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل د شپږو خبرو نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل داوهم خبره کښ چه هغه تفصیل د مندوب دے فقال و قد استعملوا .

سوال: دا مندوب بحث په منادی کښ ولی کوی؟

جواب: د دې مندوب د منادی سره شرکة دے په ډیرو مباحثو کښ نو ځکه ئی دلته تفصیل کوی.

بل دلته مصنف لفظ د استعملوا اوی نو دې کښ تصریح ده په اخراج د مندوب باندي د منادی نه ځکه دا لفظ استعمال دیو شئ هغه مقام کښ وی چه هلته دا حقیقة او وضعا نه وی بلکه مجازا وی یعنی العرب تعین د مرجع ئی اوکړه دپاره د قالوا د ضمیر صیغة النداء دلته چند سوالات دي (۱) صیغة د نداء څه ته وائی (۲) دا مندوب څه دے؟ لغة (۳) دا

مندوب اصطلاحا څه دے؟ (٤) مثال به ورله څنګه وي؟ (٥) حکم د دې څه دے؟ جوابات بالترتيب نو شارح جواب د اول نه کوی نو وای یاء خاصة د صیغه د نداء نه یاء مراده ده.

سوال: د صيغة النداء اطلاق خو په پنځو حروفو باندې کیږی او مونږ اوریدلی دی چه په مندوب کښې صرف دیاء راځی نورنه نو شارح،

جواب: اوګرو چه ټول حروف مې نه دے مراد صرف یاء مې مراد ده.

سوال: ماتن خو صیغه مطلق ذکر کړی ده ته تری نه څنګه یاء اخلی؟

جواب: او ماتن مطلق ذکر کړی ده خو مطلق چه ذکر شی نو رجع ئې فرد کامل ته کیږی او هغه دایاء ده څکه دایاء دپاره د قریب، بعید او متوسط دریو وارو راځی لکونها سره شارح وجه د خاصة بیانوی دپاره دیاء چه پکښ توسع ده.

سوال: چه ماتن صيغة النداء وائی نو دا خو حروف دی حرف النداء ولې نه وائی؟

جواب: په دې کښ اختلاف دے بعض ورته حروف وائی او بعض ورته اسماء نو ماتن صیغه اوی چه دوارو ته شامل شي والمندوب في اللغة دا دويم سوال جواب دے چه مندوب لغة څه دے؟ نو وای دا هغه مری دے چه ندبه پری کیدلے شی و في الاصطلاح دا د دريم سوال جوا ب دے چه مندوب په اصطلاح کښ څه دے؟ نو وائ دا هغه دے چه په دې باندې تفجع کیدلے شي وجودا او عدما غرض د شارح په دې عبارت سره جواب دے دا اعتراض د رضی صیب نه په ماتن باندې چه رضی صیب وائی چه داماتن کوم تعریف کوی نو دا تعریف صحیح نه دے څکه د دې نه هغه مندوب خارج شو چه هغه متفجع له وی یا متوجع منه وی چه دهغی د وجود د وجې نه انسان ته درد راغلی وی نو شارح تعمیم اوکړو چه دا عام دے که وجودا وی یا عدما او عبد الغفور صیب دا خبره کړی ده چه دا علی چه علیه کښ په معنی د"لام" سره دے نو المتفجع له چه د هغه د وجې نه تجفع کیدلے شي بیا که د وجود د وجې نه وی او یا د عدم د وجې نه وی فالمتفجع علیه سره تفریع کوی په دوارو باندې په دې شان سره چه کله مری او شی او دهغه د عدم د وجې نه چه کومه ژړا وی نو دا عدما ده او بیا چه کوم مصیبت لاحق شی د هغی په تلو سره مثلا هغه به یو کار کوو او اوس ئې څوك نه کوی نو دا مصیبت دے نو دا مصیبتاه متفجع علیه وجودا دے او د څلورم سوال جواب چې مثال نو یا زیدا ه وغیره دې و اختص بوا وثیلی شی چه غرض د ماتن په دې عبارت سره دفع

د سوال ده چه تا اوی چه دایاء په مندوب کښ هم استعمالیږی نو بیا به موږ ته څنګه پته لګی چه دا منادی ده او کنه دا مندوب دے؟

جواب: تاته به پته داسی لګی چه چرته دایاء راغلی وه نو ته پری دا واداخلوه که دا خیلدو پری نو دا مندوب دے او که نه پری داخلیدو نو دا بیا منادی ده ځکه دا"واو" د مندوب سره خاص دے.

سوال: اختص صله کښ باء راغلی ده نو دا اختصاص دوه شیان غواړی مقصور او مقصور علیه بیا دا قانون دے په دې کښ چه دا باء داخلیږی په مقصور علیه باندې او بیا دا مقصور په دې مقصورد علیه کښ بندوی بل چا ته متجاوز نه وی او مقصور علیه په مقصور کښ بند نه وی بلکه بل چاته هم متجاوز کیدلے شی نو دلته چه داسی شی نو په معنی کښ فساد راځی ولی چه معنی به شی چه دا مندوب (مقصور) خاص دے د دې او سره (مقصور علیه) او دا مندوب بل چاتهٔ متجاوز نه دے او دا او د مندوب نه علاوه بل چا کښ هم راتلی شی حالانکه خبره داسی نه دے بلکه عکس ده چه دا مندوب دواسره خاص نه دے یاء پری هم راتلی شی او وا د مندوب سره خاص د بل چرته نه شی راتلی نو شارح دا جواب کوی چه ممتازا حاصل دادے چه باء په صله د اختص کښ نه ده واقع بلکه دا په صله د ممتاز کښ ده په قانون د تضمین باندې پوره تفصیل د تضمین په علی المعانی المعنوره کښ تیر دے بهر حال اوس به معنی شی چه خاص شوی دے مندوب په حال کون د دې مندوب کښ چه ممتاز دے په واسره د دې منادی نه.

داجواب هم صحیح دے خو یو بل جواب هم د دې نه کیدلے شی هغه دا چه د اختصاص په صله کښ چه باء راشی نو دا د مقصور علیه سره خاص نه ده بلکه داپه مقصور باندې هم داخلیدلے شی نو دلته هم دا باء داخله ده په مقصور باندې نو اوس معنی شوله چه خاص کړے شوی دې مندوب پورې دا وابل چاته او نه دے متجاوز او پنځم سوال نه جواب دادے چه و حکمه حکم ئی پشان د حکم د منادی دے.

سوال: دا حکم یو عرض دے او تا اوی حکم د مندوب حکم د منادی دے نو دلته خو نقصانات راغلل په دې شان سره چه دا حکم به یا دپاره دیو وائی او یا دپاره د دوارو نو که دپاره دیو شی نو بل بلا حکمه پاتی کیږی او که دوارو کښ وائی نو لازم شو کون د شئ واحد په

محلینو کښې او داهم ناروا ده علاوه لا دا وايو چه انتقال يکښې هم راځي او عرض انتقال نه قبلوي .

جواب: عن الشارح حاصل دادے چه دا عبارت د مصنف په حذف د مضاف دے نو اوس دوارهِ دپاره حکم راغئ او شئ واحد لازم نه شو د محلینو سره بل دهغه یو شئ په مثل بل ځائے راغلو (۲) يا دا حکم منصوب دے په نزع د خافض بانديې (۳) دا تشبيه بليغ ده هغه دا چه اداة د تشبيه يکښې حذف وي سره دحذف کيدلو دوجه دشبه نه يعنى اذا وقع المندوب غرض د شارح په دې عبارت سره. دفع د سوال ده . چه تا اوی چه حکم د مندوب په شان د حکم د منادی دے نو منادی خو نکره راځي او مندوب خو نکره نه شي راتلی ولا يندب الا المعروف نو دا تشبيه صحيح نه ده .

جواب: حاصل دادے چه حکم د مندوب په شان د حکم د منادی په هغه وخت کښې دے چه مندوب واقع شوی وی په يو صورة داقسامو دمنادی بانديې اوس مندوب په صورة د نکره کښې د منادی سره نه شي راتلی بالفاظ ديگر دا تشبيه د مندوب د منادی سره په کل امورو کښې نه ده. بلکه صرف په احکامو کښې ده نه په اقسامو کښې کما اذا کان مفردا دا اوس د دې تفصيل کوی و لك زيادة الالف فی اخره غرض د ماتن په دې عبارت سره احکام خاصه د مندوب بيانوڅې بعد د بيان د احاکمو مشترکو نه ځاز غرض د شارح تعيين د متعلق کوی دپاره د لك جار مجرور وو ځکه دا متعلق غواړی بيا لك په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم شو او زيادة الالف سره د فی اخره نه مبتداء موخره ده. ای اخرا المندوب تعين د مرجع کوی لمد الصوت سره وجه د زيادة الف بيانوی فان خفت اللبس دا خبره ذکر کوی چه دا الف خو اکثر اخر کښې خلق راولی نو که د دې الف التباس راشی نو څه به کوو نو وای بيا به نور حروف مده زياتوی دما قبل حرکت موافق چه هغه"واو" اوياء دي ځکه الف خو موږ راوړی دے دپاره د مد الصوت ای التباس ذلك اللفظ غرض د شارح په التباس سره د دې لبس تشريح کوی په لفظ مشهور سره دغه شان په لبس او لُبس کښې تجنيس خطی وو نو شارح اوی چه دا لَبس التباس دے لُبس نه دے چه هغه خو کپرو ته وائی بيا ذلك په دې سره اشاره ده چه اللبس کښې الف"لام"عوض د مضاف اليه نه دے او بيا اللفظ اوی اشاره ده دې خبرې ته چه اول التباس په لفظ کښې وی او بيا به مقصود کښې دا دفع د سوال ده چه فان خفت اللبس ئے دے او قلت و اغلامکيه ورله جزاء ده او جزاء مرتب وی په شرط بانديې يعنى دا جزاء د شرط سره لازم وی او دلته خو دانه دے صحيح ځکه چه چرته التباس وی نو دا خو ضروری نه ده

چه و اغلامکیه به پکښ وایو لکه التباس په و امتك کښ وی نو موثره به و امتکیه وایو . نو شارح جواب کوی چه شرط دپاره ءجزاء دا قلت و اغلامکیه نه ده بلکه مقدر ده چه عدلت الخ ده اوس ترتب صحیح دے ځکه مقصد شو چه که ته پرې دې د التباس نه په زیادة د الف سره نو ته به عدول اوکړی یو حرف مده ته چه هغه د جنس د حرکت د اخر د مندوب وی لکه کسره کښ یا او ضمه کښ"واو" .

سوال: چه جزاء مقدره ده نو بیا شارح دا وا غلامکیه ولې وائی؟

جواب: کما اذا اردت الخ دا خو په طور د مثال دی. اوس چه دیوی زنانه مخاطبه غلام بانديې ندبه کوی نو بیا به و اغلامکاه نه وائی چه التباس نی راځی د غلام د سری مخاطب سره هغی کښ هم و دا اغلامکاه وئیلی شی نو ته به وائے غلامکیه په زیادة دیاء حرف مده سره چه دا د کاف د کسری موافق ده او دغه شان د ډیرو سړو مخاطبینو په غلام بانديې چه ندبه کیدلے شی نو واغلامکما به نه وائی ځکه د دوه سړو مخاطبینو د غلام سره التباس راځی بلکه و اغلامکموه به وائی.

اذالمیم اصله غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تا خو اوی چه داسی حرف مده به راوړی چه د مندوب د اخیری حرف د حرکت سره موافق وی نو په و اغلامکم کښ دا میم اخیری حرف دے په دې بانديې خو حرکت نشته دے نو ته دا"واو" ځنګه راوړی؟

جواب: په ظاهر لباس مه شه داپه اصل کښ مضموم دے اغلامکمو نو"واو" را غځ په اخر کښ او ما قبل مضموم و و داسے نه شی راتلی نو حذف شو او دا ضمه هم حذف شوه.

اثنین ځکه مخاطبین او مخاطبین کښ تجنیس خطی وو نو شارح تعیین اوکړو ولك الهاء دایو بل حکم خاص دے دپاره د مندوب و جاز دا شارح تعیین د متعلق کوی دپاره ذلك بیا شارح اوی ای الحاقها دا دفع د سوال ده چه جواز تعلق د اوصافو سره ساتی او داهاء خو ذات دے ځکه معنی صحیح نه ده چه جائز ده ستا دپاره هاء.

جواب: الحاق د دې مراد دے الحاق وصف دے فی حال الوقف لبیانها په حالت د وقف کښ دپاره د واضح کولو د دغه مداتو ځکه چه په حین د وقف کښ دغه مدات پټیګی ولا یندب دا اوس شرائط د مندوب بیانوی من قسم المندوب الخ دا دفع د سوال ده. و امصیبتاه خو خلق وائی دا مندوب دے او دا خو نکره ده معرفه نه ده.

جواب: دا شرط دپاره دهغه مندوب دے چه د هغه په عدم باندې تفجع کیدلے شی او دا و امصیبتاه دهغی نه نه دے بلکه د دې په وجود باندې تفجع کیدلے شی الا الاسم المعروف دا المعروف صفة وو تقاضا د موصوف لی کوله نو شارح ورله موصوف متعین کړو الذی اشهر مقصد د عبارت دادے چه هغه اسم په وی چه دا مندوب پری مشهور وی ضروری نه ده چه د مندوب علَم دې وی نو بناء په دې باندې جائز دے دا ترکیب چه وامن حفر بئر زمزماه ځکه دا من دلته مشهور دے چه عبد المطلب دے لیعذر النادب سره وجه د اشتراط بیانو، چه نادب معذور اوګڼړل شی چه دې ځکه ند به کوی چه دا مندوب د ده یو معروف شخ دے نو ده ته ډیر غم دے او چه نه ئې پیژنی نو بیا څه ته ندبه کوی فلا یقال دا تفریع کو، په عدم د دې شرط باندې وارجلاه رجل معروف نه دے

و امتنع غرض د ماتن بیان الاختلاف ذکر کول دي بیا چه چرته هم اختلاف راشی نو هلته لا بدی وی د پنځو خبرونه. (۱) تحریر د محل النزاع (۲) تعیین د مختلفینو (۳) دعوی دهر واحد (٤) دلیل د هر واحد (٤) ترجیح دما هو الراجح نو تفصیل بالترتیب داسی دے.

دلته دری صورتونه دي یو داچه منادی مفرده وی نو بیا به دهغی په اخر پوری الحاق د الف کیدلے شی اتفاقا دویم چه منادی مضاف او مضاف الیه وی نو الحاق د الف به په مضاف الیه پسی کیدلے شی اتفاقا دریم چه منادی موصوف صفة وی نو الحاق د الف به د چا پوری وی (۲) یو مسلك د جمهورو دے او دویم مسلك یونس صیب دے (۳) جمهور وائی چه الحاق د الف به په موصوف پوری وی او یونس صیب وائی نه په صفة پوری به وی (٤) لکه زید الطویل کښ عند الجمهور وازیداه الطویل او عند یونس وا زید الطویلاه شو. (٤) دلیل د جمهورو دپاره دادے چه موصوف د صفة درمیان کښ اتصال نشته او د مضاف، مضاف الیه په درمیان کښ اتصال شته دے لفظا ځکه مضاف په مضاف الیه تام کیږی او هم دا وجه ده چه په مضاف باندې تنوین او الف"لام"نشی راتلی ځکه تنوین او الف"لام"دلالت کوی په تمام او اضافة دلالت کوی په عدم تمام باندې او که په ترکیب اضافی کښ الحاق د الف په مضاف الیه او شی نو دا جائز ده او موصوف صفة کښ لفظا مغایرة دے موصوف جدا دے د صفة نه ځکه موصوف علاوه د صفة نه ذکر کولی شی او په دې موصوف باندې تنوین او الف"لام"هم داخلولی شی نو صفة ځان لره دے نو مناسب نه ده په صفة پورے الحاق دالف دیونس صیب دپاره دوه دلائل دي یو عقلی دے هغه دادے چه دا موصوف صفة هم په شان د مضاف، مضاف الیه دے ځکه دواړه مرکب ناقص دي بلکه لا په ترکیب اضافی کښ

مغائرة شته دے معنی ځکه غلام جدا دے د زید نه او موصوف صفة کښ دا مغائرة هم نشته ځکه زید او طویل یو شئ دے معنی نو چه په مضاف الیه کښ راځی سره د مغائرة ق المعنی نه نو پکار ده چه دلته هم په صفة کښ راشی بلا مغائرة او نقلی دلیل ورله دادے چه ډیو عربی نه دوه پیالے روکی شوی نو هغه په ګرځید او دا اواز به ئی کوو و اجمجمتی الشامیتیناه استدلال په دی انداز دے چه جمجمتی مضاف، مضاف الیه موصوف او الشامیتیاه ورله صفة دے او الحاق دلته په دی پورے شوی دے (٥) و امتنع دا ترجیح ورکوی روستو په جوابات اوکړو.

سوال: تا اوی چه ممتنع دے وا زید الطویلاه نو دا خو جزئیات دي دا به کوم کوم ممتنع وی؟

جواب: الحاق الالف بصیغة المندوب دا کلیه شوه نو څه به کوو؟ بل یجب، موصوف پسی به ملحق کیږی. څه نو ځنګه به وایو؟ مثل وا زیداه الطویل به وائی څه نو دا ولی؟ لان اتصاله.

جواب: د عقلی دلیل دیونس نه دادے چه قیاس کول د ترکیب توصیفی په ترکیب اضاق باندې قیاس مع الفارق دے چه په موصوف صفة کښ اتحاد دے لفظا او مضاف، مضاف الیه کښ اتحاد دے معنی ځکه مونږ وایو چه منظور النظر په نحو کښ الفاظ دي نه معانی او جواب د نقلی دلیل نه دادے (١) دا قول د دې سړی شاذ دے او شاذ لره اعتبار نه وی (٢) دا وا جمجمتی الشامیتیناه ترکیب اضاق دے نه توصیفی دا جمجمتین وو او بیا مضاف شو نو دا نون د تثنیې تری نه ساقط شو نو بیا دا و اجمجمتی الشامتیناه شو.

و یجوز حذف حرف النداء دي مقام نه اتمه خبره ده چه عمومی احکام دي د منادی فقال و یجوز حذف حرف النداء.

سوال: دا خو حذف د جزا مراده دے او دا خو ناروا دے.

جواب لقیام قرینه او ناروا بلا قرینه دے.

سوال: تا اوی حذف حرف النداء نو د حرف النداء اطلاق خو په ټولو حروفو د نداء کیږی او مونږ اوریدلی دي چه حذف صرف د یاء کیدلے شی دنورو نه.

جواب: دلته مراد صرف یاء ده.

سوال: نو ماتن خو مطلق حرف النداء وئیلی دی او تاسو تری نه صرف یاء اخلی قرینه څه ده

جواب: او ماتن دا مطلق ذکر کړی دے او کله چه یو شی مطلق ذکر شی نو مراد ترې نه فرد کامل وی او فرد کامل په حروف النداء کښې دایاء ده.د وجې د شهرة او کثرة استعمال نه

سوال: دایاء نائب ده په مقام د ادعو محذوف باندې نو دا خو لازم شو حذف د نائب او منوب او دانارو ده .

جواب: دلته دا حذف په معنی د تقدیر سره دے نو ادعو محذوف دے او حرف النداء مقدر دے اوس دلته د حذف د حرف النداء دپاره څه شرائط هم دي هغه دا چه دا منادی به اسم جنس نه وی اسم اشاره به نه وی. او مستغاث به نه وی او مندوب به نه وی څکه ماتن والی الامع اسم الجنس شارح والی الا ذاکان مقارنا مع اسم الجنس دا څکه چه دا مع اسم الجنس ظرف دے متعلق غواړی نو هغه ورله شارح متعین کوی. او دغه شان دفع د وهم هم شوه چه چا به وئیلی وو چه دا ظرف متعلق دے د حذف سره نو معنی به دا وی چه جائز دے حذف د حرف النداء سره د دي منادی نه مګر چه دا اسم جنس وی. نو دا معنی خو فاسده ده څکه حذف د حرف النداء جائز دي خو د منادی سره نه دي جائز نو شارح دا وهم دفع کړو چه د حذف سره نه دے متعلق بلکه متعلق ورله محذوف دے چه هغه مقارنا دے نو اوس معنی شوه چه جائز دے حذف د حرف النداء په هر وقت کښې مګر په هغه وقت کښې دا حذق د حرف النداء ناروا دے چه دا حرف النداء مقارن وی د اسم جنس سره .

سوال: مقارنا خو متعلق دے نو داذا کان ولې راوباسی؟

جواب: دلته استثناء د وقت ده داو قاتو نه نو دال په دي باندې هم دا اذا دے څکه دا وقتیه ده او بیا د اذا مضاف وی جملی ته نو کان می دپاره د دې مقدر کړو نو اوس کان فعل ناقص او ضمیر پکښې اسم د دې چه راجع دے حرف النداء ته او مقارنا بیا د دې دپاره خبر شو او بیا دا جمله مضاف الیه شوه د اذا مضاف دپاره و یعنی به ماکان غرض د شارح په دې سره دفع د سوال ده هغه دا چه اسم جنس عبارة دے د نکرې نه نو یا رجل کښې دې بیا حذف د حرف النداء جائز شی څکه دا رجل معرفه شوی ده په حرف النداء سره او دلته خو خلق د دي حذف کول نه جائز کوی.

جواب: زمونږ مراد د اسم جنس نه هغه دے چه د نداء نه مخکښې نکره وی نو یا رجل کښې دا رجل اسم جنس دے څکه د نداء نه مخکښې دا نکره وو ولان نداء هـ لم یکثر غرض د شارح وجه بیانوی چه کله منادی اسم جنس وی نو بیا ولې حذف د حرف نداء نا روا دے نو وی دا

نداء علم ته چه ـځنګه کثیره ده نو دي اسم جنس ته داندااء کثیره نه ده نو ځمن دي ته سبقة نه کوی چه دا منادی ده.

سوال: د شارح د کلام نه دا معلومه شوه چه حذف د حرف نداء به صرف په علم کښ کیدلے شی په نور ځا کښ به نشی کیدلے حالانکه دي نور مواضع بیانوی چه هلته هم حذف د حرف نداء کیدلے شی لکه ای چه توصیف ئی په ذی اللام اوشی وغیره.

جواب: ذکر د علم دلته د احتراز دما عدا نه نه دے (۲) شارح خطا دےپه تخصیص دعمل سره ، و الاشارة شارح ورله ربط بیانوی چه دا عطف دے په الجنس بانديې او ما قبل د معطوف علیه الخ لانه کاسم الجنس دا ورله علت بیانوی چه دا پشان د اسم جنس ده په ابهام کښ نو هلته حذف نشو کیدلے نو دلته به هم نه شی کیدلے والمستغاث و المندوب شارح دي دپاره هم علت بیانوی نو وای دي کښ مقصود مد الصوت دے او د حذف سره مناق دے اوس دا معرفه په پنځه قسمه ده او په دي کښ صرف د اسم اشاره سره حذف د حرف النداء جائز دے نو باقی پاتی شو یو ضمیر خو ضمیر کښ به شارح خبره اوکړی دویم علم دریم اسم موصول څلورم مضاف الی المعرفه.

شارح به دا تعیین اوکړی او د علم دپاره تعمیم کوی چه دا حرف النداء د علم نه حذف کیږی نو د دي عوض هم راوړی شی او بغیر د عوض نه هم لکه د بدل او د عوض مثال اللهم دے دا یا الله وو نو دا یاحذف شوه او اخر کښ میم مشدد راوړی شو اما دا خبره چه دي مثال کښ حذف دیاء بلا عوض ولی جائز نه دے نو دا ځکه چه کوم اسم معرف باللام وی نو چه دا منادی واقع شی نو په درمیان د حرف نداء او منادی کښ به فصل راوړلی شی. اوس چه کله دا لفظ د الله معرف باللام وو او په درمیان د حرف نداء او منادی کښ فصل نه دے راغلی نو که موئرهِ عوض په دي صورت کښ راته ووو نو لازم به شی اجحاف د کلمی او دا ناروا ده. اما دا خبره چه دا میم ولی راوړی؟ نو دا ځکه چه دي کښ اشاره ده انضمام ته چه د الله سره ځان یو کوو.

سوال: نو داپه اخر کښ ولی راوړی؟

جواب: (۱) داپه اخر کښ ځکه راوړو چه حصول د تبرك اوشی په نوم د الله سره چه په دي ابتداء اوشی (۲) که اول کښ شی نو دا میم مشدد دے اول پکښ ساکن دے نو همزه به راوړو ځکه ابتداء بالساکن ناروا ده نو دا خو تطویل راغلو او دا خو موئر ځتموو ځکه خو

مونثِ حذف د حرف النداء کوو. او یاء ددی همزه د استفهام د همزی سره التباس راځی او بغیر بدل لکه یوسف اعرض عن هذا دلته حذف د حرف نداء شوی دے قرینه خو پری یا دا اعرض دے او یا دا یوسف دے او یا دا مقام دے ځکه دا مقام د خطاب دے او خطاب خو په ضمائرو سره وی دلته خو ضمائرو نشته دے بلکه اسم ظاهر دے دا یوسف او اسم ظاهر ته خطاب په نداء سره وی او حرف نداء لفظ کښې نه ؤ نو معلومه شوه چه دلته حذف دے د حرف نداء علاوه لا دا خبره کوو چه که دا یوسف مبتداء شي او اعرض ورله خبر شي نو دا خو به جمله انشائیه خبر واقع شي حالانکه جمله انشائیه خبر نه واقع کیږی مگر په تاویل بعید سره. و لفظ ای دا دویم بیانوی بیا دا لفظ دای دے نو چه کله دا موصوف وی په ذی اللام سره لکه ایها الرجل شو او یا دا موصوف وی په هغه چه هغه موصوف وی په ذی اللام سره لکه ایهذا الرجل خو په دي کښې دا توصیف شرط دے ځکه که دا توصیف اونشی نو دا بیا گرځی په شان د اسم جنس بانديې په دي شان سره چه دابه نکره شي او هذا وغیره سره به د نداء نه مخکښې معرفه شي نو اسم جنس به نه شي و المضاف دا دریم بیانوی و الموصولات ځلورم هم بیانوی و اما المضمرات دي ته نداء شاذ ده نو حذف به تری نه څه اوشی و شذ اصبح لیل غرض د ماتن په دي عبارت سره لسمه خبره کول دي چه دا دفع د بعض اعتراضاتو ده.

اعتراض: تا اوی چه حذف د حرف نداء د اسم جنس سره جائز نه دے څه به درته اوښایم چه اسم جنس به وی او حذ د حرف نداء به ورسره راغلی وی لکه اصبح لیل اصل کښې اصبح یا لیل دے او دغه شان افتد مخنوق اصل کښې افتد یا مخنوق دے اطرق کو اصل کښې اطرق یا کروان دے.

جواب: دا شاذ دي او دي لره اعتبار نه وی.

سوال: و شذ اصبح لیل دلته شذ فعل دے او فاعل ورله اصبح لیل جمله ده فاعل خو جمله نه واقع کیږی.

جواب: حذف حرف النداء دا فاعل دے .

سوال: نو تا وائی چه دا اصبح لیل وغیره شاذ دي نو دا ضرب الامثال دي دا خو شاذ نه دی.

جواب: دي ضرب الامثال ته شاذ نه وايم بلکه حذف د حرف نداء شاذ دے د اسم جنس نه مرصبحا يا ليل دا معنى کوی دا اصبح ليل او بعض شارحين داسې معنى کوی چه ادخل في الصباح او دا ځکه چه دا اصبح د شارح جامي په نزد د افعال ناقصه نه دے نو صرسره معنى کوی او نور وائی نه دا د افعال تامه نه دے نو ادخل سره معنى کوی. قالته امر القيس دامرو القيس ښځه وه ام جندب دا وينا هغې کړی وه په هغه وخت کښې چه دا ترې نه تنګه وه نو اول ئې ده ته اوی اصبح يا فتی خو دې نه قلاريدو نو هغې بيا خطاب شپې سره اوکړو بيا چه سحر شو نو امرؤ القيس ترې نه تپوس اوکړو چه دا خبره دې ولې کوله نو هغې ورته اوی چه ته ثقيل الصدر ئې او نورهم د کارنه ئې او سست ئې نو هغه ورله طلاق ورکړو. او بعض خلق وائی چه زنانه ترې نه هسې تنګې وی او بعض خلق وائی چه دا عجمی و خو د وجې د فصاحة نه پرې خلقو ګمان د عربي کوو نو ده نکاح کړې وو د عربې زنانه سره نو يوه شپه ئې هغې ته اوی اقتلی السراج دا ډيوه مړه کړه نو هغه زنانه پوهه شوه چه دا خو عربي نه دے ځکه عرب اطفئ السراج وائي نو دا زنانه تنګه شوه او دده سره ئې نور پاتې کيدل بد ګنړل نو وی اصبح ليل سحر ئې ترې نه بيا طلاق اوغوښتل او بيا دا خبره خلق هغه وخت وائی چه ډير غم وی ورسره او ډير تکليف وی ورته او دا افتد مخنوق دايو سړی وو سليك ابن سلکة نوم ئې وو ډير غلاګر وو نو دې په لاره کښې يو شپه اوده وو ستونی ستاغ ملاست وو نو يو بل سړی راغئ او دې ئې اوليدو چه اوده پروت دے نو وی دا موقع ده د پاڅه پرې کيناستو او ورته ئې اوی افتد مخنوق د مرۍ نه ئې نيولی وو او وی فديه ورکړه اے مخنوقه هغه ورته اوی چه ما پرېړده درګومه نو دې سړی اوی نه دې پرېږدم نو هغه ورله زور ورکړو نو دنه تيرو نه خارج شول نو هغه ورته اوی چه دپاڅه هم ئې او دا کارهم کوی. او بيا دا وينا په هغه وخت کښې کوی چه په څه کار کښې ګير وی او ځان خلاصوی نو وای افتد مخنوق.

وياګرا دي کښې دوه شاذة دي يو خو حذف د حرف النداء د اسم جنس نه دے او دويم ترخيم د غير علَم دے. او وای چه دايو دم دے چه ښکاريان پرې کروان ښکار کوی او دا په مزے دار اواز کښې وائي چه اطرق کرا اطرق کرا ان النعامة في القری نو دې سره د ی سر ښکته کوی او بيا ئې دوی ښکار کوی. معنى داده چه سر ښکته کړه کر اماړغه سر ښکته کړه کرا مارغه يقينا شتر مرغ ښکار شوی دے او کلوته اوړلی شوی دے او خوړلی شوی دے نو ستا هم خير نشته دے. او دا وينا خلق په هغه وخت کښې وائی چه غټ انسان عاجزی کوی او ورکوټی شان انسان تکبر کوی نو دا ورته وئيلی شي.

و قد يحذف المنادى داهم يو حكم د منادى دے بيا دلته دا دوه احكام د منادى بيان شول دا دوارړه عدمى وو او هغه حكم چه حذف د حرف نداء وو په دې باندې مقدم كړى وو ځكه دهغې تعلق د حرف نداء سره"واو" د دې حكم تعلق د منادى سره دے نو حرف نداء مخكښ وى نو هغه حكم ئې هم مخكښ كړو او بيا منادى روستو وى نو دا حكم روستو شو بيا قد ئې په فعل مضارع داخل كړو اشاره ده تقليل ته مثال ورله الا يا اسجدوا دے اصل عبارت دے الايا قوم اسجدوا بتخفيف الا دا دفع د سوال ده چه مثال د ممثل سره مطابق نه دے ځكه قران كښ خو داپه تشديد دلام سره دے الا يسجدوا نو اصل كښ ان لا يسجدوا دے. بيا د ان مدغم شوى دے په"لام"كښ نو الا شوى دے او بيا الا پكښ يا زائده ده او يا زائده نه ده كه زائده شى نو معنى به شى چه دوى شيطان بند كړى دي د برابر لارنه نو دوى په هدايت نه دي چه سجده اوكړى او يا دالاء زائده نه ده نو معنى شوه چه شيطان ورته اعمال ښائسته ښكاره كړى دي نو هغه څه دي خو سجده نه كول دي الله ته و على كل دلته د منادى ذكر نشته دے او نه څنګه وائي چه دلته منادى شته دے محذوف ده.

جواب: دا كلام په دغه قراة باندې نه دے بناء بلكه دلته دا الا حرف تنبيه دے او دا خطاب دے قوم ته نو منادى محذوف ده. او قرينه پرى امتناع د دخول د حرف نداء په فعل دے.

ماأضمر عامله

﴿الثالث ما اضمر عامله على شريطة التفسير﴾ اجمالى خبرى (۱) ربط (۲) تشريح د عنوان (۳) تعريف د دې عنوان (٤) امثله د دې (٥) اقسام د هغه اسم چه په مظان د ما اضمر الخ كښ واقع شى (٦) احكام د ما اضمر الخ .

ربط:معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د دوه و مقاماتو نه چه په هغى كښ حذف د عامل ناصبه د مفعول به كيږى په حذف وجوبى سره د وجود د قرينى او سد مسد نه بيا يو پكښ سماعى مقام وو او دويم پكښ قياسى وو نو اوس ئې شروع اوكړه په تفصيل د دريم مقام كښ چه دلته هم حذف د عامله ناصبه د مفعول به كيږى په حذف وجوبى قياسى سره د وجى د وجود د قرينى او سد مسد نه فقال الثالث ما اضمر عامله على شريطة التفسير نو په مجموعه كښ دا دريم مقام دے او قياسى كښ دا دويم قام دے چه دلته هم حذف د عامل ناصبه د مفعول به واجب دے په حذف قياسى وجوبى سره د وجى د

قرینه او سد مسد نه. نو د دې تفصیل بیا په دې طریقه سره دے چه اول به د دې تعین اوکړی دویم به د دې تعریف اوکړی دریم امثله د دې څلورم اقسام د دې پنځم احکام د دې او ربط لفظی داسی دے چه الثالث مبتداء ده او ما اضمر الخ ورله خبر دے مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه.

تشریح د عنوان: نو ماتن "الثالث" اوی شارح اوی من تلك المواضع ځکه دا الثالث د لازم الاضافة نه دے مضاف الیه او مسوب الیه غواړی نو شارح ورله هغه متعین کوی التی وجب حذف دې سره یو ربط ته اشاره کوی او دویم دفع د سوال هم ده چه دا خو خروج عن البحث لازم شو.

جواب: نه خروج د بحث نه نه دے لازم شوی بلکه دا هم هغه مواضع نه یو موضع دے چه حذف د عامل ناصب د مفعول به پکښ وی. ما اضمر.

سوال: (۱) د ما به موصوله وی نو دا سره د صلی نه خبر دے دپاره د الثالث مبتداء نو داخو مبتداء او خبر دواړه معرفه شول نو لا بدی د ضمیر فصل نه په درمیان د دې کښ دپاره د فع د التباس (۲) بیا د ما د څه نه عبارت دے د موضع نه او که د مفعول به که عبارت شی د موضع نه نو حمل خو صحیح دے خو لازم شو خالی والی د جملی چه صله ده د عائد د موصول نه او که د مفعول به نه عبارت شی نو بیا حمل د غیر موضع لازم شو په موضع باندې او دا دواړه نا روا دی.

جواب: دا عبارة دے د مفعول به نه په حذف د مضاف سره او بیا دا عبارت دے د مفعول به نکری نه نو دا موصوله نه دے موصوفه شو اضمر ای قدر غرض د شارح دفع د سوال ده چه د کلام نه معلومیږی چه دا عامل به ضمیر ګرځولی شوی وی او دا خو ناروا ده چه عامل دې دلته ضمیر شی.

جواب: اضمر به لغوی معنی دے چه تقدیر دے عامله الناصب له غرض د شارح په دې عبارت سره تعیین د متعلق کوی چه مطلق عامل نه دے مراد بلکه هغه چه دې اسم لره ناصب وی. الشرطة و الشرط واحد غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه الشریفه په وزن د فعیله دے په معنی د مفعولة سره نو عبارت به شی چه قدر عامله علی مشروطة التفسیر نو تفسیر او دا مشروط خو شئ واحد شو نو اوس نقصان دا راغئ چه دا کلمه د علی بنائیه ده یعنی یو مبنی غواړی او بل مبنی علیه نو دلته مبنی دا تقدیر دے او

مبنی علیه ورله دا شریطة دے نو شرطة خو په معنی د مشروط سره دے او مشروطه هم عبارت دے د تفسیر نه چه تقدیر د عامل دے نو دا اتحاد راغئ دواړو درمیان کښ نو دا خو ناروا کار دے ځکه دې کښې مغائرة ضروری دے چه مبنی دی او علیه څان.

جواب: دا شریطة او شرط په یوه معنی دې نو دلته هم داسی ده نو دا تقدیر د عامل نه بلکه وی په شرط د تفسیر نه په مشروط چه تقدیر د عامل دے بلکه په شرط باندې و اضافه غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه د شریطة اضافة دې تفسیر ته صحیح نه دے ځکه په درمیان د مضاف او مضا الیه کښې خو مغائرة وی دلته خو مغائرة نسته دے بلکه دا شرط تفسیر دے او دا تفسیر شرط دے.

جواب: دا اضافة بیا نیه دے او مغائرة په غیر د اضافة بیانیه کښې شرط دے ای ما اضمر عامله الخ دا اوس حاصل د معنی بیانوی. و انما وجب حذفه دلته دوه سوالات دې (۱) دا تاسو دا ترکیب ولې بیانوئ چه زیدا ضربته چه دابه تفسیر شی او مفسر به حذف وی هغه به د دې اسم نه مخکښې خو سمدست ضربت زیدا واې کنه؟ (۲) دلته دا حذف د عامل ناصبه ولې واجب دے . نو جواب د اول نه دادې چه کلام تول یو شان نه وی بلکه مختلف وی نو بعض وقت کښې کلام مهتم بالشان وی متکلم دا غواړی چه دا د مخاطب په ذهن کښې ښه واقع شی نو دهغې دپاره دا طریقه مختاره ده ځکه چه دې کښې اول ابهام دے نو مخاطب ښه متوجه کوی او بیا روستو د دې تفسیر اوشی ځکه تفسیر او تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی، او بیا جواب د دویم نه دادے چه کوم مقدر دے نو هغه عامل مفسر دے او چه کوم ذکر دے نو دا مفسر بالکسره دے. نو که هغه هم ذکر شی نو بیا به لازم شی جمع په درمیان د مفسر او مفسر کښې چه دا ناروا ده نو دې نه دا خبره معلومیږی چه دلته قرینه سره د سد مسد شته دے قرینه په نفس حذفیة باندې دا نصب د دې اسم دے او په تعیین د محذوف باندې دا روستو تفسیر دے او دغه شان دا مفسر سد مسد هم دے.

سوال: ستا د کلام نه معلومه شوه چه جمع په درمیان د مفسَّر او مفسر کښې ناروا ده نو زه درته ښایم چه جمع به په درمیان د مفسَّر او مفسر کښې راغلی وی لکه جاءنی رجل ای زید رجل مفسَّر او زید مفسر دے نو دلته خو جمع بینهما راغلی ده.

جواب: زمونږ مراد د جمع د مفسر او مفسر نه هغه وخت دے چه ابهام پکښې راغلی وی د وجی د تقدیر او حذف نه او دې مثال مذکور کښې خو ابهام د وجی د ذکر نه دے چه رجل ذکر دے او نکره ده نو ابهام راغلی دےلو دیکښې جمع جائزده.

سوال تا اول اوی ما اضمر او دا ما به یا عبارت وی د مفعول به نه او یا نه عبارت وی د اسم نه که عبارت شی د مفعول به نه نو بیا دا تعریف د دې یا اضمر مانع نه گرځی د دخول د غیر نه داليرې پکښې مفعول فيه په دې ترکیب کښې چه يوم الجمعة صمت فيه دلته يوم الجمعة مفعول فيه اسم دے او روستو ترې نه فعل دے چه مشغول دے په ضمير سره نو دا تعریف پرې صادق دے او دې ته خو څوك ما اضمر الخ نه وائي او كه داما عبارت شي د اسم نو بیا خو دا سوال نه راځي خو لازميږي خروج عن البحث او دا دواړه كارونه ناروا دي.

جواب: (۱) دا ما عبارت دے د مفعول به نه او روستو په کل اسم کښې د اسم نه خاص اسم اخلو چه هغه مفعول به دے ځکه د دې بحث روان دے. (۲) ما عبارت دے د اسم نه مطلقا خو بحث دلته د بعض افرادو د اسم دے چه هغه مفعول به دے.

تعريف د ما اضمر عامله على شريطة التفسير:نو داماتن کړی دے حاصل ئې دادے چه پکښې څو قیودات دي (۱) دا ما اضمر الخ به اسم وی (۲) دې نه به روستو فعل یا شبه فعل وی (۳) دا فعل شبه فعل به مشغول وی د دغه اسم نه په ضمير د دغه اسم او یا په متعلق د دغه اسم (٤) او كه دا فعل او شبه فعل موثر دې بانديې مسلط كړو بعينه يا مناسب د دې لزوما يا ترادافا نو دې لره په نصب وركوی اوس چه دا څرته وی نو داما اضمر الخ دے لكه دا مثال دے چه زيدا ضربته نو دا زيد اسم دے او روستو ترې نه فعل هم واقع دے او دا مشغول دے په ضمير د دې زيد بانديې عملا او كه دا موثر مسلط كړو په دې زيد نو نصب به هم وركوی هو ای ما اضمر عامله تعيين د مرجع كوی كل اسم دا اول قيد دے.

سوال: کل خو دپاره د احاطه د افرادو راځي او دا خو تعريف دے تعريف د فرد نه کيږي.

جواب: دلته دا کل دپاره د جامعية د تعريف راغلی دے بعده فعل او شبه دا دريم قيد دے و احترز سره د دې قيد فائده بيانوی چه دې سره احتراز اوشو د مثل د زيد ابوك نه ځکه دلته د زيد نه روستو نه فعل شته او نه شبه فعل بلکه روستو ترې نه اسم دے.

سوال: زه درته ښايم چه روستو به ترى نه فعل شبه فعل نه وى او خلق به ورته ما اضمر والا لکه زيدا عمرو ضربه اوس دلته زيدا اسم دے او روستو ترى نه اسم واقع شوى دے چه عمرو او بيا هم دي ته خلق ما اضمر وائى دغه شان زيدا انت ضاربه هم دے.

جواب: شارح وائى دلته د بعدية نه بعدية اتصاليه نه دے مراد چه دا اعتراض دې راشي بلکه هغه بعدية مطلقا مراد دے اتصال د فعل او شبه فعل ورسره ضرورى نه دے نو اول مثال کښ د زيدا نه روستو ضربه فعل واقع دے او دويم کښ شبه فعل دے مشتغل دا دريم قيد دے.

سوال: مشتغل صفة دے دپاره د فعل او شبه فعل نو هغه دوه شيان دى نو مشتغلان پکار وو دپاره د مطابقة.

جواب: ذلك الفعل او شبه دا کلام بناء دے په يو قانون باندې هغه دا چه کله يو صفة وى او دهغې دپاره دوه موصوفه ذکر وى او دا دواړه په طريقه د عطف په کلمه د او سره ذکر وى نو بيا دا صفة مفرد کول جائز دي دلته هم داسې دے عنه اى عن العمّل دا تعين د مرجع کوى او دفع د سوال هم ده چه ته وائى چه مشغول وى د دې اسم نه نو دا مشغولية خو تعلق د عمل سره ساتى د ذات سره تعلق نه ساتى نو تا څنګه نسبة دلته ذات ته اوکړو نو جواب اوشو چه مراد عمل دے او نسبة دې اسم ذات ته د وجې د ادنى ملابسة نه دے په دې شان سره چه اظهار د دې عمل په اسم کښ کيږى يعنى دا اسم مظهر د عمل دے.

سوال: دا المشتغل دلته ذکر دے نو دې دپاره يوه معنى حقيقى ده چه اشتغال او تسليم دے او بله معنى ورله مجازى ده چه اعراض او فراغة دے اوس دلته به مراد د دې نه يا معنى حقيقى وى يا مجازى او يا دا دواړه دا درې صورتونه شول او دا درې واړه باطل دي اول صورت څکه باطل دے چه د اشتغال په صله کښ عن راتلل صحيح نه دي او دويم صورة څکه چه د اعراض او فراغة صله کښ باء راتلل صحيح نه دې او دريم صورت څکه باطل دے چه جمع راځى په درميان د حقيقة او مجاز کښ.

جواب: دا مونږ په معنى حقيقى اخلو خو دا مونږ متضمن ګرځو دې معنى مجازى لره نو تقدير د عبارت شو چه مشتغل بضميره فارغا عن العمل فيه نو باء د اشتغال په صله کښ ده او عن د فراغة نو کلام صحيح شو څکه شارح فارغا عن العمل فيه وائى بضميره اى بالعمل ق ضميره دلته هم هغه خبره ده چه په عن العمل کښ وه متعلقه داه ضمير دوه ؤ نه راجع

کيدل صحيح دي كما قال الشارح و حاصله دا جواب هم د دي مخکښ سوال نه دے او حاصل هم ذکر کوی بسبب ذلك الاشتغال لا بسبب اخر د دي قيد فائده روستو راځي او دا دفع د سوال ده چه دا تعريف دي مانع نه دے د دخول د غير نه داخل شو پکښ زيد په دي ترکيب چه زيد ضربته ځکه دلته دا زيد يو اسم دے چه روستو ترې نه فعل واقع دے او دا فعل مشغول دے د دې نه په سبب د عمل سره په ضمير کښ او که دا مسلط شي نو دي زيد له نصب ورکوی او دي ته خو څوک ما اضمر نه وائي.

جواب: چه مونږ وايو چه دا به فارغ وی دا فعل د دې اسم نه عملا په سبب د اشتغال باندې فقط او دلته دا ضربته فقط په اشتغال نه دے فارغ د زيد نه بلکه يو بل شئ پکښ هم دے چه هغه رفع ده بناء برابتدائية هو اي احد الامرين دا ه هم هغه سوال کيدلے شي چه مطابقة نشته دے التفصيل قد مر بيا چه دا فعل بعينه او ا د دې مناسب په ترادف کښ اويا لزوم کښ چه په دې اسم مسلط کړی نو دي له به نصب ورکوی.

بالمفعولية دا دفع د سوال ده چه زه به درته اوښايم چه اسم به وی او روستو به ترې نه فعل وی او مشغول بالضمير به هم وی او که مسلط شي په دې اسم باندې نو نصب به ورکوی او بيا به هم ورته څوک ما اضمر عامله نه وائي لکه زيدا کنته اياه کښ زيدا راغلی دے او وروستو کنت فعل دے مشغول دے په ضمير سره او نصب هم ورکوی که مسلط شي.

جواب: زما مراد د دې نصب نه بالمفعولية دے او دلته خودا منصوب دے په خبر د کان سره.

سوال: نو ماتن خو نصبه مطلق ذکر کړی دے نه ځکه بالمفعولية اخلی؟

جواب: كما هو الظاهر دا خبره ظاهره ده ځکه بحث د مفعول به روان دے و بقيد الاشتغال سره فوائده د قيوداتو بيانوی نو قيد د اشتغال بالضمير متعلقه سره زيدا ضربت خارج دے ځکه دا فعل مشتغل نه دے نو دا زيدا به مفعول به مقدم وی و بقيد الفراغ الخ دې سره زيد ضربته خارج دے او دې باندې سوال هم تير شو فارجع اليه و بقيد " سب داهم مونږ په انداز د اعتراض او جواب سره اوی

و ههنا صور اربع غرض د شارح په دې عبارت سره يو تمهيد دے روستو متن ته دويم د روستو متن د ما قبل سره ربط بيانوی دريم دفع د سوال ده سوال په دې طرز باندې چه ماتنه روستو تا څلور امثله بيان کړی دي نو يو مثال کافی دے کنه؟ په يو مثال سره توضيح د ممثل

ممکن ده نو دي نه به شارح جواب اوکړی چه تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو باندي نو دلته ممثلات ډير دي عقلی احتمالات خو پکښ دولس دي په دي شان سره چه کوم اسم مظان د ما اضمر کښ واقع وی نو دي نه روستو به يا فعل وی او يا شبه فعل او هر واحد به خالی نه وی يا به مشغول وی په ضمير باندي او يا په متعلق باندي نو دا څلور شول بيا به چه دا فعل، شبه فعل مسلط کيږی نو يا به بعينه دا فعل، شبه فعل وی او يا به د دي مناسب بالترادف وی او يا به د دي مناسب باللزوم وی. نو دری دا شول نو څلور ضرب دری نو دولس نو پکار خو بيا د دي مطابق دولس امثله وو خو د دي نه اته ساقط دي په دي شان سره چه د شبه فعل امثله نشته نو شپږ شو باقی او بيا په دي شپږو چه کوم فعل مشغول وی په متعلق باندي نو په هغی کښ ټول دری صورتونه جوړيدل او دي مصنف دهغی نه يو صورة لره مثال پيش کړے دے هغه داچه د مناسب باللزوم دے نو چه دوه تری نه نور ساقط شول نو څلور صورتونه باقی پاتی شول نو د دي دپاره ئی څلور امثله بيان کړی دی.

بعينه، مرادف، لازم، بعينه ، مرادف، لازم، بعينه ، مرادف، لازم، بعينه، مرادف ، لازم

مشغول بالضمير، مشغول بالمتعلق، مشغول بالضمير، مشغول بالمتعلق

فعل ← بعد اسم مظانی ← شبه فعل

نو شارح هم دا صورتونه چه کوم څلور دي دا بيانوی. مناسب بالترادف مقصد دا دے چه د دي فعل مشتغل او دا فعل مسلط دپاره معنی يوه وی، مناسب باللزوم مقصد دادے چه دا فعل مسلط لازم وی د دي فعل مشتغل سره ثلاثة منها الخ داپه دغه صورتونو کښ تجزيه کوی والاحسن فی ترتيبها غرض د شارح په دي عبارت سره اعتراض کول دي په ماتن باندي چه پکار ده چه ماتن د امثله په داسی ترتيب ذکر کړی وی چه د مشتغل بالضمير امثله مخکښ وی او د مشتغل بالمتعلق امثله روستو وی حالانکه مصنف د دي ترتيب نه خلاف کړی دے په دي شان سره چه مثال د مشتغل بالمتعلق ئی مقدم کړی دے او دريم نمبر باندي ذکر کړی دے بيا شارح دلته احسن صيغه د اسم تفضيل ذکر کړه اشاره ده دي خبری ته چه جواب تری نه کيدلے شی ځکه احسن په مقابله د حسن کښ دے نه په مقابله د قبيح کښ نو بيا جواب دادے چه مصنف دلته د معلوم لحاظ کړی دے نو چه کوم امثله مقدم دي نو دا ټول معلوم دي او هغه يو مثال مجهول وو نو دائی روستو کړی دے نحو زيدا ضربته ماتن امثله بيانوی مثال الفعل غرض د شارح يو تعيين کوی د ممثل دپاره د مثال او دويم تطبيق هم کوی

د مثال د ممثل سره فان مررت بعد تعدیته الخ دا دفع د سوال ده چه تا مررت سره جاوزت مرادف اوګرځو حالانکه دا مررت لازم دے او جاوزت متعدی دے.

جواب: مررت هم متعدی دے خو پس د تعدیة نه په باء سره نو دواړه متعدی دي زیدا ضربت غلامه دا غلام متعلق دے د زید سره او دلته مناسب باللزوم اهانة دے ځکه د چانوکروهل د هغه اهانة دے کنه زیدا جست علیه دا مثال دے دپاره د مشتغل بالضمیر خو مسلط پری مناسب باللزوم دے فان حبس الشئ سره شارح دا مناسبة بیانوی چه دیو شئ بندول په بل شئ پسی دا لازم دي د ملابسة د هغه شئ سره مثلا زید ځوك بند کړی سره د توپی نه په سر د زید باندي نو دا توپئ د دي زید پوری ملابسه ده ځکه د ده په سر باندي پرته ده ینصب زید فی هذه الامثله غرض د شارح تعین کول دي دهغه افعالو چه دا پری منصوب ګرځیدلی دی.

سوال: د ینصب دپاره تاسو نائب فاعل ما اضمر عامله ولی نه ګرځوی ځکه دهغی بحث دے چه تا نائب فاعل زید اوګرځولو او جواب او: بحث خو دما اضمر روان دے خو مونږ دي لره نائب فاعل زید اوګرځولو دپاره د دفع د وهم چه دا خلوړ افعال به په هر ما اضمر کښ وی حالانکه داسی نه ده نور افعال هم راتلی شی البته په څې امثلو کښ به دا افعال نصب ورکوی زید لره یعنی ان الفعل المفسر الناصب غرض د شارح په دي عبارت سره تعیین د دي خبری کوی چه دا زید منصوب دے نو دا دکوم فعل د وجی نه منصوب دے فعل مقدر او کنه د فعل مذکور نه نو شارح تعین اوکړو چه فعل مقدر مراد دے او بیا دا ضربته ورله تفسیر دے او دا ناصب نشی ګرځیدلی ځکه چه مشغول دے په ضمیر یا متعلق سره جاوزت شارح ئی په ما قبل باندي قیاس کوی فان ضرب الغلام یستلزم اهانة سیده دا دفع د سوال ده چه دا ضربت غلامه ته تفسیر ګرځوی؟

جواب: اهانة کښ ابهام دادے چه د دي دپاره مختلف او اسباب کثیره دي مثلا کنځل کول، خطا ږ پری کول وغیره نو دي کښ ابهام وو نو ماتن دهغی دپاره تعین او تفسیر اوکړو چه هغه ضرب دے داهم مستلزم دے اهانة لره ولا بست فانه مفسر دا مثال د مناسب باللزوم دے ثم ان الاسم الواقع غرض د شارح یو روستو متن ته تمهید دویم دهغی ربط دریم دفع د سوال ده سوال دادے چه ماتن دلته روستو پنځه اقسام بیانوی (۱) اختیار د رفع (۲) اختیار د نصب (۳) استواء الامرین (٤) وجوب د رفع (٥) وجوب د نصب نو اوس د دي موضع سره چه

مناسب دے نو هغه وجوب النصب څکه بحث د مفعول به دے هغه هم منصوب وی نو دا نور ذکر کول خو خروج عن البحث دے۔

جواب: دلته دا اقسام دپاره د ما اضمر نه دی ذکر بلکه دهغی دپاره دا یو قسم دے چه وجوب النصب دے او دا باقی اقسام په اعتبار د مظان سره دی چه په ظاهر کښ پری گمان د ما اضمر کیدلے شی۔ نفس الامر کښ وی یا نه نو په دومره مناسبة سره دا بیان شول او دا مناسبة کاق دے دپاره د تفصیل د دی شارح هم دا تفصیل کوی۔

اوپه دی سره یو بل سوال هم دفع شو هغه دا چه بحث خو د منصوباتو روان دے نو دا رفع پکښ د څرنګه نه راغله؟

نو جواب اوشو چه داپه اعتبار د مظان دما اضمر سره دے نه په اعتبار د ما اضمر سره نو دی سره موتر ته هغه پنځمه خبره هم واضحه شوه چه اقسام وو د مظان دما اضمر او هغه هم دا شول او شپږمه خبره هم معلومه شوه چه هغه احکام وو چه ټول پنځه احکام دی (۱) اختیار الرفع الخ کما مرت.

"و یختار الرفع"دا اوس تفصیل د اول مقام کوی چه هر کله یو اسم واقع وی په مظان د ما اضمر کښ او رفع پکښ مختاره وی.

سوال: مناسبه دا وه چه مواضع د اختیار د نصب دی مقدم کری وی ته دا مواضع د اختیار د رفع ولی مقدم کوی؟

جواب: (۱) اختیار د رفع خلاف الاصل دے او اختیار د نصب اصل دے نو دا خلاف الاصل ئی مقدم کړو چه څوک تری نه په غفلت کښ نه شی (۲) په دی اختیار د رفع کښ سلامتیا عن الحذف ده نو دا څکه مقدم کوی و یختار ماتن اوی شارح اوی: فی الاسم المذکور دی کښ اشاره ده ربط ته بیا په دی مقام کښ موتر لره دری ادله پکار دی دلیل د جواز د نصب دلیل د جواز د رفع دلیل د اختیار د رفع نو شارح به بیان اوکری. ماتن اوی چه بالابتداء غرض ئی په دی سره دلیل د جواز د رفع ذکر کول دی شارح اوی چه ای بکونه مبتداء غرض ئی دی سره دفع د سوال ده چه ابتداء عبارت دے د عامل معنوی نه او دا باء دپاره د تلبس ده نو معنی به شی چه مختاره ده په دی کښ رفع په وخت د تلبس د دی کښ ابتداء لره نو رفع بالابتداء به مبتداء او خبر د واړو کښ راځی نو دا اسم مظانی به خبر هم واقع کیدی شی حالانکه دا خو

خبر نه شي واقع کيدى، نو شارح جواب اوکړو چه باء دپاره د سببية ده او ابتداء مصدر مبنى للمفعول دے نو معنى شوه چه په سبب د کون د دغه اسم مظانى کښې مبتداء نو دليل د جواز د رفع تجرد دے دعواملو لفظيونه د دي زيد او دليل د جواز د نصب وجود ماله صلاحية التفسير دے او دليل د اختيار د رفع شارح وائى و يرجح عند عدم قرينة خلافه.

سوال: خلافه خو عبارت دے د نصب نه نو چه نصب ـباندې قرينه نشته نو پکار داچه دا نصب پکښ د سر نه جائز نه شي حالانکه تاسو خو په جواز د نصب قول کړى دے.

جواب: اى قرينة ترجح خلاف الرفع مراد قرينه مرجحه ده نفس جواز باندې قرينه شته دے.

نو قرينه د اختيار د رفع هغه هم دا سلامتيا من الحذف ده. مثلا زيد ضربته درى قرينى دي پکښ يو په جواز د نصب بله په جواز د رفع باندې او بيا دلته قرينه مرجحه د نصب دپاره نشته دے او دپاره د رفع شته نو مرفوع کول ئې مختار دي. او عند وجود اقوى منها دا دويم مقام بيانوى چه دلته قرينه مصححه د نصب هم شته او قرينه مصححه د رفع هم شته او قرينه مرجحه د نصب هم شته دے او قرينه مرجحه د رفع هم شته خو دا قرينه مرجحه د رفع قوى ده دقرينى مرجحى د نصب نه لکه مثلا اما مع غير الطلب چه دا داخله وى په هغه اسم باندې چه واقع وى په مظان دما اضمر کښ بشرط ان لا يکون دا تفصيل کوى د مع غير الطلب نو حاصل دادے چه داکوم فعل مشتغل دے نو دا فعل طلب نه وى لکه امراونهى شول ځکه که مونږ په دې صورت کښ دا اسم مرفوع اوايو نو دابه مبتداء شي او دا روستو امر او نهى به ورله خبر شي او دا خو انشاء ده او دا خبر نه واقع کيږى مگر په تاويل بعيد سره مثلا اما زيدا فاضربه بيا په دې کښ نکته داده چه خبر يو داسى شئ وى چه د مخکښ نه موجود وى او انشات د مخکښ نه موجود نه وى بلکه اوس به موجوديگى بيا دا طب عام دے خو دلته مراد امر، نهى او دعاء دي ځکه دانور واقع کيدلے نه شي ځکه هغه صدارة في الکلام غواړى او دلته خو داسى نه شي کيدلے شارح مثال پيش کړى دے چه لقيت القوم و اما زيد فاکرمته دلته دا زيد واقع شوى دے په مظان دما اضمر کښ نو قرينه مصححه د رفع هغه تجريد دے د زيد د عواملو لفظيو نه او قرينه مصححه د نصب وجود اماله صلاحية التفسير دے قرينه مرجحه د رفع داده چه اما راغلى ده او دا غالبا په مبتداء باندې داخليږى او قرينه مرجحه د نصب ده چه مناسبة دے په درميان د معطوف او معطوف عليه کښ په دې شان سره چه که دا زيد مونږ منصوب کړو نو دابه جمله فعليه شي او ما قبل هم جمله فعليه ده نو عطف به راشى د فعلى په فعليه باندې او داهم د مرجحاتو د نصب نه دے

خو قرینه مرجحه د رفع اقوی ده د قرینی مرجحی د نصب نه نه څکه دخول د اما په مبتداء باندې غالبا دے اګرچه عطف د فعلیه په فعلیه هم صحیح دے خو عطف د اسمیه په فعلیه باندې هم کثیر دے په کلام د عربو کښ او دخول د اما په فعل باندې نادر وی په کلام د عربو کښ.

علاوه لا داوایو چه په رفع سره سلامتیا عن الحذف هم ده نو داهم ورله یو تائید شو. و اما قال مع غیر الطلب د دې قید فائده بیانوی.

سوال: زید مقول فی حقه اضربه دا تاویل اوشو په دې انشاء کښ نو خبر دی. اضربه ته وئیل صحیح نه دې خبر خو دا مقول دے او دا خو انشاء نه ده .

جواب: دا خو ورله معنی ده او د لفظ په اعتبار سره په دې زید اضربه کښ دا اضربه خبر دے و اذا للمفاجاۃ دا دریم مقام بیانوی چه دلته هم رفع مختاره ده شارح وائی په مثل د اما مع غیر الطلب دا اذا مفاجاتی هم دے خو چه کله واقع وی په هغه اسم چه هغه وی په مظان دما اضمر کښ للمفاجاۃ ملاقات دیو شئ د بل شئ سره بغتة اوس په دې مقام کښ دا اذا للمفاجاۃ مشبه شوه او اما مع غیر الطلب مشبه به شو او وجه د شبه فی کونها اقوی القرائن مثلا خرجت فاذا زید یضربه عمرو اوس زید واقع دے په مظان د ما اضمر کښ قرینه مصححه د رفع تجرید د دے د عواملو لفظیو نه او قرینه مصححه د نصب وجود ماله صلاحیة التفسیر دے او قرینه مرجحه د رفع اذا مفاجاتیه دے او قرینه مرجحه د نصب مناسبة دے په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ دواړه به فعلی شی خو قرینه مرجحه د رفع اقوی ده څکه دخول د اذا مفاجاتیه په اسم باندې غالب دے په کلام د عربو کښ او موافقة بین الجملتین دومره غالب نه دے علاوه لا دا وایو چه رفع سره به سلامتیا عن الحذف هم راشی وما وقع فی بعض غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه ماتنه په کلام کښ دې تعارض دے په دې شان سره چه روستو په بحث د ظروفو کښ وائی اذ مفاجاتی سره اسم لازم دے او دلته غالب وائی نو مقصد دا چه په فعل ئی دخول منع دے او دلته وائی چه غالب دے نو دخول ئی فعل باندې روا دے.

جواب: هلته د لزوم نه غالبی لزوم مراد دے نه وجوبی.

"ویختار النصب بالعطف" کله چه فارغ شو مصنف دیو قسم د اسم مظان او دهغی د حکمنه چه هغه اختیار د رفع وو نو شروع ئی اوکړه په دویم قسم د اسم مظان کښ او دهغی په

حکم کښ چه هغه اختیار د نصب دے بیا به دهغی مواضع بیان کړی تقریبا اته مواضع دي بیا به دلته هم هغه دری قرائن وی (۱) قرینه په جواز د رفع (۲) قرینه په جواز د نصب (۳) قرینه په اختیار نصب باندي فقال و یختار النص شارح وائی چه في الاسم المذکور دا اشاره کوی ربط ته چه هغه اسم کښ اختیار د نصب دے چه واقع وی په مظان دما اضمر کښ ای بسبب عطف جملة غرض د شارح یو تعیین د باء د معنی کوی چه دا دپاره د سببیة ده او دویم اشاره کوی دي خبری ته چه العطف کښ الف"لام"عوض د مضاف الیه نه دے چه هغه جملة دے هو فیها غرض د شارح په دي سره دفع د سوال ده چه ضربت زیدا و زید قائم دلته دا زید قائم جمله عطف ده په ضربت زیدا باندي چه دا جمله فعلیه ده. او تا اوی چه دا جمله په فعلیه باندي عطف وی نو په دي معطوفه کښ به نصب مختار وی دلته خو وجوب الرفع دے.

جواب: زه مطلق جمله نه یادوم بلکه هغه جملة چه دا اسم مظانی پکښ واقع وی او دلته په زید قائم کښ دا اسم مظانی نشته دے دغه شان دابل هم دے. نو هر هغه اسم چه په مظان دما اضمر کښ وی او داپه یوه جمله کښ وی چه دهغی عطف شوی وی په جمله فعلیه باندي نو دي اسم مظانی کښ نصب مختاره دے د وجی د تناسب نه په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ په کون د دي دوارو کښ فعلتین لرعایة التناسب اشاره کوی چه دا التناسب په حذف د مضاف سره دے نحو خرجت فزیدا لقیته دلته دا زیدا واقع دے په مظان د ما اضمر کښ په دي کښ نصب او رفع دواړه جائز دي سره د اختیار د نصب نه (۱) قرینه د صحة د رفع تجرید دے د عواملو لفظیو نه (۲) قرینه په صحة د نصب باندي وجود ماله صلاحیة التفسیر دے (۳) قرینه د اختیار د نصب هغه تناسب دے په درمیان د دوارو جملو کښ چه فعلیتن دی.

سوال: دلته خو قرینه د اختیار د رفع هم شته ده په دي شان سره چه دا مرفوع شی نو سلامتیا من الحذف به راشی.

جواب: مقصود په دي مقام کښ تناسب بین الجملتین دے نو دا یو امر اهم دے او کثیر الوقوع هم دے او باقی حذف نو دا جائز دے او کثیر هم دے دومره امر اهم هم نه دے نو قرینه د اختیار د نصب راجح ده. (۳) که دا زید مرفوع شی نو دابه مبتداء شی او دا لقیته جمله به ورله خبر شی نو خبر کښ اصل افراد دے نو اوس د قرینی د رفع سره چه سلامتیا من الحذف ده دي سره داکون د خبر جمله معارض واقع شوه نو اذا تعارضا تساقطا نو صرف

قرينه د اختيار د نصب پاتې شوه و بعد حرف نفى دا دويم مقام بيانوى چه هر هغه اسم مظانى چه پس د حرف نفى نه واقع شى نو هلته به هم اختيار د نصب وى يعنى ما ولا وان غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال كوى چه تاخو حرف النفى مطلق ذكر كړو نو دالن، لم او لما ته هم شامل دے حالانكه دې نه پس خو اسم مظانى نشى واقع كيدلے.

جواب: زمونږ مراد حرف النفى نه ما اولا او ان دې نورنه دې مراد و ليس لم ولما ولن غرض د شارح تصريح كوى په اخراج د دې اذهى عاملة فى المضارع غرض د شارح دې دپاره وجه بيانوى. (۱) نو دا حروف په فعل مضارع داخليږى د دې سره خاص دې او چه دامونږ په اسم مظانى داخل كړو نو صورة به داپه اسم داخل شى او دا ناروا ده. (۲) دا حروف عامله دې په مضارع كښې خو چه دا مضارع ملفوظ وى نه مقدر چه ګنى دې نه بعد دې اسم مظانى واقع شى او بيا دې ترى نه ما قبل فعل مقدر شى. لضعفها فى العمل دا وجه بيانوى چه مقدر كښې ولى عمل نه شى كولى نو دا ضعيف العمل دې په خلاف دما، لا او ان بانديې ځكه داه مضارع سره خاص دې او نه دا عامله دې په شان د دې نورو بيا شارح د دريو دپاره امثله درى بيانوى مثلا ما زيدا ضربته دلته دا زيدا په مظان د ما اضمر كښې دے (۱) قرينه مصححه د رفع تجريد دے د عواملو لفظيو نه (۲) قرينه مصححه د نصب وجود ماله صلاحية التفسير دے (۳) قرينه په اختيار د نصب به ده چه دا درى وارړه حروف دپاره د نفى راځى و نفى په افعالو او اعراضو داخل وى نه په ذواتو بانديې او ماتن به هم اواتى و حرف الاستفهام غرض د ماتن دريم مقام بيانوى دپاره د اختيار د نصب نو دا هر هغه اسم مظانى دے چه واقع وى پس د حرف استفهام نه شارح واتى و بعد اشاره كوى ربط ته نحو زيدا ضربته دلته دا زيدا اسم مظانى دے نصب پكښې مختار دے (۱) قرينه په صحة د رفع مر غير مرة (۲) قرينه په صحة د نصب مر غير مرة (۳) قرينه په اختيار د نصب بانديې داده چه اذهى مواقع الفعل ځكه استفهام كښې تردد وى او تردد په ذواتو كښې نه وى بلكه اعراضو و افعالو كښې وى.

و انما قال حرف الاستفهام غرض د شارح په دې عبارت سره. دفع د سوال ده چه حرف الاستفهام واتى نو بعد الاستفهام ولى نه واتى ځكه دا دير مختصر دے؟ جواب: حرف استفهام مونږ اوى دې سره مونږه اسم استفهام خارج كوو لكه من اكرمته دلته دامن اسم استفهام دے خو دې كښې رفع مختاره ده ولم يقل همزه الاستفهام داهم دفع د سوال ده چه حرف الاستفهام په ځائے بانديې همزه الاستفهام اوايه كنه ځكه همزه اصل دے.

جواب: همزه الاستفهام می ځکه اونه وی چه هل استفهامیه ته شامل شی ځکه داهم دپاره د استفهام راځی. اگرچه نحاتو داسی ترکیب بد گنړلی دے چه هل استفهامیه پکښی وی او فعل ورسره نه وی. لاقتضاء هل ادا وجه ډِ قباحة د داسی تریب دپاره بیانوی نو حاصل دادے چه دا هل اصل کښی په معنی د قد دے او قد خاص دے د فعل سره نو اوس دلته څو صورتونه دی (۱) کوم ترکیب کښی چه هل شته دے او فعل ورسره ذکر وی نو څه مسئله نشته دے (۲) کوم ترکیب کښی چه هل شته دے او فعل ورسره د سر نه ذکر نه وی نه ملفوظا او نه مقدرا نو هم داهل خوشحاله وی څه مسئله نه وی (۳) کوم ترکیب کښی چه هل وی او فعل هم ورسره وی خو مقدر وی د هل معانقه ورسره نه وی شوی نو د اهل بیا خفه وی لکه هل زیدا ضربته شو نو ځکه داسی ترکیب قبیح وی و اذا الشرطیه غرض د ماتن په دی عبارت سره څلورم مقام د اختیار د نصب بیانوی دا هر هغه مقام دے چه دا اسم مظانی واقع وی پس د اذا شرطیه نه هغه چه دلالت کوی په مجازاة باندی په زمانه کښی شارح وانی و بعد اشاره کوی ربط ته نحو اذا عبد الله تلقه فاکرمه دلته دا عبد الله واقع دے په مظان د ما اضمر کښی او پس د اذا شرطیه نه دے یو دی-کښی اختیار د نصب دے (۱) قرینه د رفع مر (۲) قرینه د نصب مر (۳) قرینه د اختیار د نصب اذ هی مواقع الفعل په دی شان سره چه اذا راځی دپاره د تعلیق د مضمون د جزاء د حصول د مضمون د شرط سره په زمانه کښی او زنانه په فعل کښی وی و حیث غرض د ماتن په دی عبارت سره پنځم مقام دپاره د اختیار د نصب بیانوی نو هر هغه اسم مظانی چه واقع شی پس د حیث نه هغه چه دلالت کوی په مجازاة باندی په مکان کښی.

نحو حیث زیدا تجده فاکرمه دلته دا زید اسم مظانی دے دی کښی نصب مختاره دے (۱) قرینه په صحة د نصب او رفع مرت (۲) قرینه په اختیار د نصب باندی. اذ هی مواقع الفعل دے په دی شان سره چه دا حیث دپاره د تعلیق د مضمون د جزاء د حصول د مضمون د شرط سره په مکان کښی دے خو دی مکان سره زمانه لازمه ده او زمانه په فعل کښی راځی.

و فی الامر و النهی غرض د ماتن په دی عبارت سره شپږم او اووم مقام بیانوی د اختیار د نصب نوهر هغه اسم مظانی چه مخکښی د امر او نهی نه واقع شی نو دی کښی نصب مختاره دے، شارح وانی ما قبل غرض د شارح په دی عبارت سره دفع د سوال ده چه چا به وی چه دا نصب په دی امر او نهی کښی مختاره دے حالانکه خبره داسی نه ده نو شارح جواب اوکړو چه امر او نهی نه ده مراد بلکه ما قبل د امر او نهی چه کوم اسم مظانی دے هغه مراد دے یعنی

موضع شارح تفصيل كوى دهغه څه چه دماتن مراد دى، مثلا زيدا اضربه او زيدا لا تضربه دلته په دي زيدا كښ نصب مختاره دے. (۱) قرينه دپاره د صحة د رفع خالى والى د زيد دے د عواملو لفظيو نه (۲) قرينه په صحة د نصب باندې وجود ماله صلاحية التفسير دے (۳) قرينه په اختيار د نصب باندې داده چه دا زيد مرفوع شي نو دابه مبتداء شي او دا اضربه او لا تضربه به خبر شي او دا خو انشاء ده دا خبر نه واقع كيږى مگر په تاول بعيد سره نو چه منصوب شي نو دا نقصان نه راځى نو دا قرينه شوه په ترجيح د نصب باندې اذهى اى هذه المواضع دا تعين د مرجع كوى مواقع الفعل اى مواضع وقوع الفعل شارح تعبير اوكړو په مواضع سره اشاره ده دې خبرى ته چه دا مواقع صيغه د ظرف ده ځكه د صيغې د ظرف نه تعبير په موضع سره كيدلے شي، و عند خوف لبس المفسر بالصفة غرض د ماتن په دې عبارت سره اتم مقام بيانوى دپاره د اختيار د نصب بيا دا هر هغه اسم مظانى دے چه واقع وى په يو تركيب كښ چه كه موثر يكښ دې اسم مظانى لره رفع وركړو نو يره د التباس راځى د صفة سره او بيا فساد راځى په معنى كښ نو دې مقام كښ نصب مختاره دے شارح اوى كذلك يختار الخ اشاره كوى چه دا عطف دے په هغه بالعطف باندې او ما قبل د الخ او كذلك كښ اشاره اوكړه چه دا عطف د قبيلى دمشبه نه دے په مشبه به باندې نه د قبيلى د مساوى نه په مساوى باندې ځكه دا اختيار د نصب هلته معطوف عليه كښ اولى دے او اعلى دے او دلته ادنى دے.

﴿عند خوف لبس المفسر اى التباس ما الخ﴾غرض د شارح تشريح د لفظ غير مشهور كوى په مشهور سره ځكه دا لبس غير مشهور دے او التباس مشهور دے او دغه شان دفع د وهم ده چه لبس نه به مراد لباس وى نو واى نه ما هو مفسر عرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده كوم وخت كښ چه دامابعد فعل مفسر دے نو هغه وخت كښ التباس نه راځى او چه كوم وخت التباس راځى نو هغه وخت دا بيا مفسر نه دے ځكه چه مفسر وى نو دابه منصوب وى او چه التباس راځى نو دا به مرفوع وى او دا خو د رفع او نصب په غوندے سره د جمع كيدلو احتمال نه لرى.

جواب: حاصل دادے چه موثر التباس په درميان د هغه شئ كښ وايو د صفة سره چه دغه شئ په حين د نصب كښ مفسر گرځى په عين حين د تفسير كښ التباس نه وايو. شارح هم دا خبره كوى فالتباس انما سره پرى شارح تفريع كوى. فان التركيب دا وجه بيانوى د دې ما قبل جواب واى چه يو تركيب احتمال د دوه ؤ نه لرى يو وخت كښ په غوندے سره مثل (انا كل

شئ خلقناه بقدر) دلته دا کل شئ واقع دے په مظان دما اضمر کښې او په دې کښې نصب او رفع دواړه جائز دي سره د اختيار د نصب نه ځکه قرينه مرجحه د نصب شته دے په دې شان چه د اکل شئ منصوب شي نو بيا دا د فعل محذوف معمول شئ او دا روستو فعل به مفسر شي نو معنى بالکل صحيح ده هيڅ فساد نه راځي او د معنى نه به دوه خبرې ثابتيږي. معنى به شي انا يقينا موثرهٔ پيدا کړے دے هر شئ لره دايو خبره شوه چه زه دهر شئ خالق يم او خلقناه بقدر پيدا کړے دے په اندازې سره دا دوهمه خبره شوه. دا ترکيب پکښې صحيح دے.

دويم ترکيب دادے چه د اکل شئ مرفوع مبتداء شي او خلقناه بقدر ورله جمله خبر شي نو هم څه فساد في المعنى نه راځي ځکه معنى به شي انا يقينا موثرهٔ کل شئ هر شي چه دے خلقناه بقدر موثرِ پيدا ګړے دے په اندازې سره اوس په دې ترتيب کښې يره او خوف د التباس دے په دې شان سره چه د اکل شئ مرفوع شي نو احتمال لرى چه دا موصوف شي او خلقناه ورله صفة شي نو موصوف صفة به مبتداء شي او بقدر په اعتبار د متعلق سره خبر شي نو بيا به معنى شي انا يقينا موثرهٔ کل شئ هر شئ هسې شئ چه موثرِ پيدا کړے دے کائن دے په اندازه باندې. نو دې معنى حاصل داشو چه هر هغه شئ چه زموږ خلوق دے نو د ا په اندازه دے نو دا وهم راځي چه څه اشياء زموږ مخلوق نه دي نو هغه به په اندازه هم نه وى نو دا د معتزله عقيده ثابت شوه چه واى بنده خالق د خپلو افعالو دے نو په دې اعتبار سره دا نصب مختاره دے او رفع نه ده مختاره بيا مصنف خوف د التباس اوى ځکه که عين التباس وى نو بيا خو وجوب النصب وو باقى اوس صرف عربى او ترجمه ئې اسانه ده.

حاصل داشو چه دې کښې درى تراکيب دي يو مکمل صحيح دويم هم صحيح سره د خوف د التباس نه دريم مکمل غلط. تدبر.

الافعال الاختيارية دا افعال په درى قسمه باندې دي (۱) افعال طبعيه دايا لاتفاق غير اختيارى دي لکه خفګان ، خوشحالى وغيره (۲) افعال اضطراريه لکه ديرى حالت کښې رپيدل وغيره. (ګوزن) (۳) افعال اختياريه لکه سبق وئيل او نه وئيل نو دې کښې اختلاف دے د اهل السنة و الجماعة عقيده داده چه د دې خالق الله دے بنده کاسب دے او د معتزله په نزد باندې بنده د دې خالق دے

و يستوى الامران كله چه فارغ شو مصنف عليه الرحمة د دوه ؤ اقسامو د اسم مظانی نه چه يو اختيار د رفع وو او بل اختيار د نصب نو شروع ئی اوكړه په دريم قسم كښې چه دلته استواء الامرين دے فقال و يستوى الامران اى الرفع و النصب غرض د شارح په دې عبارت سره تعيين د امران كوى فللمتكلم ان يختار غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه په اختيار د رفع او نصب كښې خو هم استواء الامرين وو په جواز كښې نو د و يستوى الامران څه مقصد دے او تخصيص ولې كوى؟

جواب: د استواء الامرين نه مراد په اختيار كښې ده نه په جواز كښې فى مثل الخ ددې تركيب د مراد وضاحة شارح كوى.

سوال: دې تركيب كښې چه زيد قام و عمرو اكرمته كښې نصب د عمروا نه دے صحيح څكه دا به عطف شى په قام باندې او قام جمله خبر د مبتداء دے نو دا جمله به هم خبر د مبتداء شى چه زيد دے او قانون خو دادے چه جمله كله خبر واقع شى نو لا بدى ده پكښې د عائد نه دپاره د مبتداء نوپه قام كښې عائد شته دے او په دې جمله كښې عائد نشته دے او د اكرمته دا ضمير خو عمرو ته راجع دے نو معلومه شوه چه دلته رفع متعين ده .

جواب: دلته عنده او يا فى داره مقدر دے نو عبارت شو چه زيد قام و عمروا اكرمته فى داره نو دا ضمير د فى داره راجع شو زيد ته نو دا عائد دے اى يستوى الامران غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه قواعد د فن خو امور كليه وى نو دې استواء الامرين لره هم يوه كليه پكار ده تا خو جزئيه پيش كړى ده.

جواب: دا مثال مصدر دے په مثل سره اوكوم مثال چه مصدر په مثل سره وى نو دې كښې اشاره وى قاعدې ته اوس هغه ضابطه داده چه هر هغه تركيب دے چه يوه جمله پكښې به بله جمله باندې عطف كړى شوى وى او دا جمله معطوفه عليها ذات وجهين وى مقصد داچه دا جمله اسميه وى چه خبر ئې جمله فعليه وى نو كه داسې مقام كښې د دوېمې جملې عطف په جمله اسميه شى نو دا اسم مظانى به مرفوع وى بالابتداء او كه دا عطف په جمله فعليه شى نو بيا به دا اسم مظانى منصوب وى بالمفعولية نو دې كښې اختيار دے متكلم لره فقى الرفع غرض د شارح په دې عبارت سره تفصيل د استواء كوى په رفع او نصب دواړو سره فان قلت دايو اعتراض دے دلته خو امران مساوى نه دې څكه قرينه مرجحه په جانب د رفع شته دے په دې شان سره چه كه دا عمرو مرفوع شى نو سلامتيا عن الحذف راځى او چه

منصوب شی نو احتیاج الی الحذف راځی نو دا اجتناب عن الحذف هم یوه قرینه مرجحه د رفع ده.

جواب: دې قرینې سره چه سلامتیا عن الحذف ده ورسره قرینه مرجحه د نصب معارض واقع شوی ده په دې شان سره چه دا عمرو مرفوع شي نو معطوف علیه بعید ګرځی او چه دا منصوب شي نو معطوف علیه قریب ګرځی نو عطف په قریب اولی دے د عطف نه په بعید باندې نو قرب د معطوف علیه قرینه ده دپاره د نصب او دا دواړه بیا دیو بل سره معارض شوې نو ساقط شوې.

فان قلت دا بل اعتراض دے قرب نشته دے په عطف کولو د دې جملی په فعلیه باندې او نه بعد شته دے په عطف کولو د دې په جمله اسمیه باندې ځکه که په اسمیه باندې عطف وی نو هم په اخیر د معطوف علیه کښې میم راځی او که عطف شی په جمله فعلیه باندې نو هم اخیر د معطوف علیه کښې میم راځی نو دا خو یو شی شو قلنا سره جواب کوی اخیر ته خو ګورې خو ابتداء ته نه ګورې په اعتبار د ابتداء ډیر لوی فرق دے. سوال دلته قرینه مرجحه د رفع بله هم شته دے په دې شان سره چه که دا عمروا منصوب شي نو بیا به عائد محذوف وی او حذف خلاف الاصل دے نو په صورة د نصب کښې ارتکاب د خلاف الاصل دے او چه دا عمرو مرفوع شي نو ارتکاب د خلاف الاصل پکښې نه راځی نو دا هم یوه قرینه شوه په اختیار د رفع باندې.

جواب: په صورة د نصب کښې حذف نشته دے بلکه دا د باب د اکتفاء د بعض ترکیب نه دے په بعض باندې نو ارتکاب د خلاف الاصل نشته و یجب النصب بعد حرف الشرط کله چه فارغ شو مصنف د دریو اقسامو دما اضمر نه نو شروع ئی اوکړو په څلور قسم دما اضمر کښې چه وجوب النصب دے فقال و یجب النصب بیا داهر هغه مقام دے چه قرینه د ترجیح د نصب وی او د رفع قرینه نه وی نو دلته نصب متعین دے او د دې دپاره دوه مواضع دي (۱) یو اسم مظانی پس د حرف الشرط نه واقع وی (۲) یو اسم مظانی پس د حرف تحضیض نه واقع وی نو دې دواړو صورتونو کښې نصب واجب دے شارح اوی چه ای نصب الاسم المذکور غرض د شارح اشاره کوی ربط ته و المراد به ههنا غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تا دلته حرف الشرط اوی نو یو د حرف الشرط نه اما هم ده حالانکه د اما حکم مونږ اوی چه یا به دا د طلب سره وی یا غیر د طلب سره که طلب سره وه نو

نصب پکښ مختاره دے او که بغیر د طلب نه وه نو رفع پکښ مختاره ده نو دلته څه مقصد شو.؟

جواب: دلته د حرف الشرط نه مراد ان او لو دے اما نه دے مراد.

سوال: حرف الشرط ماتن مطلق زکر کړی دے او مطلق په خپل اطلاق جاری کیږی او ته دا مقید کوی نو دا مجاز دے قرینه څه ده؟

جواب: شارح وائی فان اما قرینه شته دے چه ذکر د اما دے مخکښ څکه دایو قانون دے چه کله یو عام په مقابله د خاص کښ ذکر شی نو مراد به د دغه عام نه غیر د خاص وی. ماتن مخکښ د اما حکم بیان کړی دے او دلته عام وائی چه حرف الشرط دے نو دې نه مراد به غیر د اما وی.

سوال: ماتن دلته حرف الشرط اوی نو دا هغه اسماء ته شامل نه شو چه متضمن وی معنی د شرط لره لکه متی او حیثما شو حالانکه دې نه پس هم چه اسم مظانی واقع شی نو هم نصب پکښ واجب دے.

جواب: مراد د حرفِ شرط نه اداتْ د شرط دې خو هغه چه مضبوط وی په دې شرط کښ که بیا دا انْ اولو وی او یا متی او حیثما شی.

و حرف التحضیض دا دویم مقام بیانوی شارح ربط بیانوی او بیا تعیین د حروف تخصیص کوی و انما وجب غرض د شارح په دې عبارت وجه د وجوب د نصب بیانوی په دې اسم مظانی کښ چه ددې حروف الشرط او حروف التحضیض نه بعد واقع وی نو دې نه بعد فعل وی لفظا یا تقدیرا وجوبا.

اما دا خبره چه دخول د دې حروف په فعل باندې ولې واجب دے نو دا څکه چه حرف شرط راځی دپاره د تعلیق د یو شئ تر بل شئ پورې او تعلیق دیو شئ تر بل شئ پورې هغه ځائے وی چه چرته تردد وی او تردد په افعالو کښ راځی نه په اسماؤ کښ نو څکه دې دپاره د فعل تحضیض اوشو. او حرف تحضیض سره څکه فعل خاص دے چه په تحضیض کښ خو یا مقصود د متکلم ملامتیا وی د مخاطب په ترک د فعل سره په ما مضی کښ او یا خو اغراء د مخاطب وی په ادراك د فعل سره په مستقبل کښ نو دا ما مضی او دا مستقبل په افعالو کښ وی نه اسماو کښ دې کښ دوام وی امثله ان زیدا ضربته ضربك او الا زیدا ضربته او الا زیدا

تضربه و لیس مثل ازید ذهب به منه کله چه فارغ شو مصنف د خلورو اقسامو د اسم مظانی نه نو شروع ئی اوکړه په پنځم قسم بانديې چه وجوب د رفع دے بیا دلته ماتن انداز بدل کړو په طریقه د دفع د اعتراض سره دا بیا نوی دا څکه چه اشاره ده دي خبری ته چه ذکر د دي قسم چه وجوب الرفع دے دا طردا دي مقصود دلته بحث دے د منصوبات نه اوس سوال دادے چه تا اوی چه کله یو اسم مظانی واقع شی پس د حرف استفهام نه نو دي کښ نصب مختاره دے څکه مواقع د فعل نه دے نو نقض دي راغلو د دي خبری په دي ترکیب سره چه زید ذهب به دلته زید اسم دے پس د حرف استفهام نه واقع دے او روستو تری نه فعل مشتغل هم دے حالانکه اختیار د نصب خو لا پریږده جواز پکښ د نصب هم نشته دے بلکه رفع متعین ده.

جواب: دا مثال او ددی مثال مثل دما اضمر د باب نه نه دے چه په ذوبکی (چوړ) نظرورته اوکتلی شی، تفصیل دادے چه مونږه په ما اضمر کښ ټول څلور قیودات لګولی وو دلته په دي ترکیب بانديې دری قیودات صادق دي او یو قید پری نه دے صادق په دي شان سره چه یو دا اسم دے دویم روستو تری نه فعل هم دے دریم دا مشتغل هم دے او څلورم قید دادے چه دا فعل بعینه یا مناسب د دي فعل ترادفا یا لزوما په دي اسم بانديې مسلط شی نو نصب به ورکوی اوس دلته دا قید مفقود دے نو د اضمر نه نشی کیدلے اوس دا ذهب مجهول بعینه فعل دے او د دي مناسب اذهب مجهول دے نو که دا ذهب مسلط شی نو دا خو د رفع عمل کوی نه د نصب او دغه شان دا مناسب د دي چه اذهب دے داهم د رفع عمل کوی نه د نصب نو هغه لنصبه قید پری صادق نه شو نو فلیس منه شو.

فان قلت غرض د شارح اعتراض دے چه تاسو مناسب د ذهب دپاره اذهب اوی نو دا مناسب د دي خو دي کښ منحصر نه دے بلکه مونږه به بل مناسب راوړو نو هغه به نصب ورکوی مثلا یلابس او اذهب معلوم شول نو تقدیر د عبارت به شی چه زیدا یلابسه الذهاب به یا زیدا یلابس احد بالذهاب به یا زیدا اذهبه احد به دي ټولو صورتونو کښ یا دا یلابس او دا اذهب فعل که مسلط شی نو نصب به ورکوی لکه اذهب زیدا ذهبه احد وغیره نو دا یلابس او دا اذهب معلوم د ذُهب به مناسب دي یو باللزوم دے او بل بالترادف دے. تدبر.

قلنا دا جواب کوی حاصل د جواب دادے چه کوم فعل مذکور وی او دهغی کوم مناسب وی لزوما یا ترادفا نو د دي دواړو مسند الیه به یو وی. اوس دلته فعل مذکور ذُهب به دے نو د دي مسند الیه زید دے او په زیدا یلابسه الذهاب به کښ مسند الیه الذهاب دے او په زیدا

يلابسه احد بالذهاب به کښې مسند اليه احد دے او په زيد اذهبه احد کښې مسند اليه احد دے نو اتحاد لی په مسند اليه کښې نشته نو دا يلابس يا اذهب د ذهب به دپاره مناسب نه دی. و اذ کان الامر کذلك فالرفع غرض د شارح ترکيب کول دي په فالرفع کښې فاء فصيحيه ده او دايه جزاء د شرط مقدر داخليږي نو شارح ورله تعين د شرط اوکړو ای رفع زيد غرض د شارح اشاره کوی چه الرفع کښې الف"لام"عوض د مضاف اليه نه دے واجب بالابتداء غرض دشارح دفع د سوال ده چه دا باء فصيحيه شوه او دا په جزاء داخله وی نو جزاء خو جمله وی او الرفع خو مفرد دے.

جواب: جمله ده خو يو جزء ورله حذف دے چه هغه واجب دے نو دا د باب د ما اضمر نه نه شو نو نصب به پکښې څنګه مختاره شی.

و کذا کل شئ فعلوه فی الزبر کله چه فارغ شو مصنف دبو مثال دهغه نه چه په ظاهر سره هغه د ما اضمر د قبيلی نه ښکاری لکن په دقيق نظر سره د دې قبيلی نه نه وی نو په دابی دويم مثال کښې شروع اوکړه چه داهم په ظاهر نظر سره د قبيلی دما اضمر نه وی او په دقيق نظر سره د قبيلی دما اضمر نه نه وی د وجی د فساد فی المعنی او يا خلاف المقصود نه فقال و کذا کل شئ فعلوه فی الزبر بيا شارح اوی ای مثل ازيد غرض د شارح يو معنی د کاف کوی چه مثل دے دويم مشار اليه د ذا ذکر کوی چه دا ازيد ذهب به دے.

قوله تعالی دا تعين د قائل کوی کل شئ فعلوه فی الزبر دلته دا کل شئ په ظاهر سره واقع دے په مظان د ما اضمر کښې څکه دا اسم دے او روستو تری نه فعل مشتغل هم دے خو دا د قبيلی د ما اضمر نه نشی ګرځيدلے څکه دوه نقصانات دي يا خو به معنی فاسد شی او يا خو به معنی صحيح وی خو خلاف المقصود به وی ای فی صحائف اعمالهم غرض د شارح په دي عبارت سره يو معنی د زُبر متعين کوی او دويم دفع د سوال ده چه زبر جمع د زبور ده او دا خو يو کتاب وو چه نازل وو په داؤد عليه السلام باندی دلته څنګه د هغی جمع راغله؟

جواب: دلته زُبر دهغه زبور جمع ده چه هغه په معنی د صحيفه وی.

فهو ليس من باب الخ د دې قبيلی نه نه دے څکه لانه لو جعل الخ حاصل دادے چه دا د قبيلی د ما اضمر نه شی نو عبارت به شی فعلوا کل شئ فعلوه فی الزبر اوس دلته دی کښې دوه احتمالات دي او يو کښې معنی فاسده ده او دويمه کښې خلاف د مقصود راځی نو دواړه نا روا دی.

احتمال اول دا فی الزبر چه متعلق شی د فعلوه پوری نو معنی به شی چه فعلوا دوی کړی دے هر یو شئ لره اوکړے دے په صحائفو کښ اوس په صحائفو کښ خو نه دے مګر کتابه نو دا کتابة په صحائفو کښ دوی نه دے کړی بلکه کرام کاتبین کړی دے نو دا خو فاسده معنی شوه.

احتمال ثانی دا فی الزبر به په اعتبار د متعلق سره صفة وی د کل شئ نو دا خو خلاف الظاهر دے ځکه د موصوف او صفة درمیان کښ فصل راغلو په فعلوه سره او که مونږ تسامح اوکړو او دا موصوف صفة کړو نو بیا د معنی مقصود خلاف راځی معنی مقصود خو داده چه دوی کوم کار کړے دے که ووکی دے یا لوی خو دا ثابت دے او مکتوب دے په صحائفو کښ او چه دا فی الزبر مونږ صفة د کل شئ کړو نو بیابه معنی شی چه دوی کړے دے هر شئ لره هغه شئ چه په زبر کښ ثابت دے او مکتوب دے او هغه دوی کړے دے د دوی مفعول.... دے نو یو خو خلاف المقصود شو او دویم یو بل نقصان هم پکښ دے هغه دا چه ټول څه چه په صحائفو کښ دی نو دا د دوی مفعول نه شی ګرځیدلے ځکه هلته به ملائکو اول بسم الله لیکلی وی چه هغه د دوی فعل نه دے فالرفع لازم نو رفع لازم دہ چه دابه مبتداء شی او دا فعلوه جمله به صفة شی دپاره د کل شئ موصوف او فی الزبر به په اعتبار د متعلق سره خبر شی نو تقدیر د عبارت به شی کل شئ مفعول لهم ثابت فی الزبر دا مفعول لهم معنی د فعلوه ده نو معنی هم صحیح شوه.

واعلم انه قد سبق غرض د شارح په دې عبارت سره یو تمهید دے روستو متن ته دویم دهغې ربط بیانوی دریم دفع د سوال ده چه زمونږ کلام روان دے په ما اضمر عامله الخ کښ او ته خو الزانیة و الزانی ته لاړې احکام دې راته شروع کړه نو لازم شو خروج عن البحث او دا خو ناروا دے.

جواب: خروج د بحث نه نه دے راغلی ځکه دایو سوال دے چه واردیږی په نحاتو بانديې په باب د ما اضمر عامله کښ او دوی ترے جواب کوی ان الاسم المذکور دا هغه اعتراض دے حاصل د اعتراض دادے چه مخکښ مونږ اوی چه کله یو اسم واقع وی په مظان دما اضمر کښ او دا ما قبل د امر وی نو په دغه اسم مطلق کښ نصب مختاره دے سره د جواز د نصب او رفع نه نو اوس دا خبره او قاعده دې منقوضه شوه په دې ترکیب باندې چه الزانیة و الزانی فاجلدوا کل واحد دے په دې شان سره چه الزانیة و الزانی یو اسم دے چه په مظان د ما اضمر کښ واقع دے او روستو د امر نه هم دے چه فاجلدوا دے دلته د اختیار د نصب په

ځئے باندې تعین د رفع شوی دے ټولو قراء په دې باندې اتفاق کړی دے چه دلته رفع متعین ده او نصب پکښ شاذ دے نو قاعده خو تقاضا د اختیار د نصب کوی او دوی قول په شذوذ د نصب کړے دے نو ماتن ادا جواب اوکړو چه د دې اعتراض نه د بچاؤ دپاره دوی یوه حیله جوړه کړی ده او داڅ دما اضمر نه ایستلی دے نو دوه جوابه دي يو د مبرد او دويم د سیبویه صاحب ترجمه د شرح اسانه ده.

ترکیب د متن: نحو الزانية و الزاني فاجلدوا كل واحد منهما مأة جلدة الفاء بمعنى الشرط عند المبرد . نحو مضاف دے او باقي ټول اية مضاف اليه دے نو مضاف، مضاف اليه مبتداء شوه الفاء مبتداء ثاني ده او بمعنى الشرط سره د عند المبرد نو خبر شو په اعتبار د متعلق دپاره د مبتداء ثاني بیا مبتداء ثاني سره د خبر نه جمله اسمیه شوه او دا بیا خبر شو دپاره د مبتداء اول نو مبتداء سره د خبر نه جمله اسمیه شوه.

سوال: کله چه خبر جمله واقع شي نو دې کښ لا بدی وی د عائد د مبتداء نه او دلته خو جمله خبر واقع شوی ده او عائد پکښ دپاره د مبتداء نشته دے.

جواب: دلته عائد محذوف دے چه شارح وائي هغه فيه دے.

سوال: بمعنى الشرط جار مجرور دے متعلق غواړی هغه ورله څه دے؟

جواب: مرتبطة دے سوال: دا مرتبطة يو متعلق خاص دے او دپاره د متعلق خاص لا بدی وی د قرینې نه دلته په دې باندې څه قرینه ده؟

جواب: او دلته قرینه شته دے هغه دا کلمه د بمعنى الشرط ده په دې شان سره چه جزاء د شرط سره مربوطه وی نو دا دلالت کوی په دې خبره باندې چه متعلق داسې پکار دے چه دلالت کوی په ربط باندې او هغه هم دا مرتبطة دے چه په ربط باندې دلالت کوی.

اوس مقصد د مبرد د جواب دادے چه که مونږه دا ترکیب د قبیلې دما اضمر نه او ګرځو نو لازم به شي عمل د فاجلدوا په ما قبل کښ حالانکه دا فاء په فاجلدوا کښ جزائیه ده او دې کښ قانون دادے چه ما بعد د فاء جزائیه عمل نه شي کولې په ما قبل د فاء جزائیه کښ نو دا فاجلدوا نشي مسلط کیدلے په دې اسم مذکور باندې نو د قبیلې دما اضمر نه نه شول.

سوال: دا فاء څنګه جزائیه ده؟

جواب: دلته دا الزانية والزاني مبتداء ده او اجلدوا ورله خبر دے او قانون دادے چه کله مبتداء متضمن وی معنی د شرط لره نو په خبر باندې فاء جزائيه داخليږي.

سوال: موږ خو وتيلی دي چه مبتداء کله متضمن وی معنی د شرط لره نو دايه يا اسم موصول وی او يا نکره موصوفه دلته خو دايو نشته دے.

جواب: شارح کوی چه لکون الالف و اللام حاصل دادے چه دلته په الزانية او الزاني کښ الف"لام"موصولی دي ځکه دا صيغه د اسم فاعل دي نو تعبير ترې نه په التي او الذی سره کيږی او د زانية او زانی نه تعبير په زنت او زنی سره نو التی زنت او الذی زنی شو او داخو نه دے مگر اسم موصول بفعل.

اما دا خبره چه ما قبل کښ داما بعد د فا ولې عمل نه کوی؟ نو دا ځکه چه ما بعد د فاء به عمل په جزء د شرط کښ کوی نو لازم به شی تقديم د جزء د جزاء په جزاء باندې او دا خو ناروا ده ځکه دا شرط اول وی او دا جزاء روستو وی.

فامتنع او رفع متعين شوه.

جواب ثانی د سيبويه دے نو ماتن اوی و جملتان عند سيبويه .

سوال: دلته دا و جملتان عند سيبويه مفرد دے او دا عطف دے په و نحو الزانية الخ او هغه جمله ده نو لازم شو عطف د مفرد په جمله چه دا قبيح دے؟

جواب: شارح وائی و الاية حاصل دادے چه دا جملتان عند سيبويه خبر دے دپاره د مبتداء محذوف چه و الاية دے نو مبتداء او خبر جمله شوه نو عطف د جملی شو په جمله باندې .

سوال: تا اوی چه د سيبويه په نزد دا دوه جملې دي نو د مبرد په نزد هم دوه جملې دي په دې شان سره چه الزانية و الزانی دا شرط دے او فاجلدوا جزاء او شرط جزاء دواړه جملی وی نو تقابل د جملتان په مذهب د سيبويه کښ د مذهب د مبرد سره صحيح نه شو.

جواب: مستقلتان شارح وائی مستقلی جملی مراد دي او شرط او جزاء مستقلی جملی نه وی بلکه مجموعه ئه خلق جمله شرطيه وائي .

سوال: تا اوی د سیبویه په نزد د ادوه جملی دي نو دا څنګه دوه جملی دي الزانية و الزانی خو جمله څکه نه ده چه جمله کښې حکم وی دلته حکم چرته دے؟

جواب: دا الزانية و الزانی محذوف المضاف مبتداء ده او خبر ورله حذف دے نو تقدير د عبارت دے و حکم الزانية و الزانی فيما يتلی عليکم.

فاجلدوا کل واحد منهما دا جمله بیا د هغی حکم بیان دے.

سوال: دا فاء د فاجلدوا کومه فاء ده؟

جواب: دا فاء سببية هم ده او زائده هم کیدلے شی او تفسیر یه هم کیدلے شی نو چه سببیة شی نو بیا به عبارت شی چه ان ثبت زناهما فاجلدوا او چه زائده شی نو صرف دپاره د فصل ده او چه تفسیریه شی نو دابه دهغه حکم موعود دپاره بیان شی اوس حاصل داشو چه دا دوه جملی شوی او قانون دادے چه جزء د یوی جملی په جزء د بله جمله کښې عمل نشی کولی او د قبیلی دما اضمر نه نه دے. فرق بین المذهبین دادے چه د سیبویه په نزد باندې دا دوه جملی مستقلی دي او دا فاء سببيه او زائده او تفسیر یه دری واړه کیدلے شی او د مبرد په نزد باندې دا دوه جملی مستقلی نه دي او دا فاء صرف جزائیه ده.

اما دا خبره چه کوم جواب راجح دے نو جواب د مبرد راجح دے د جواب د سیبویه نه په دوه ؤ وجوه باندې (۱) د سیبویه مذهب کښې کثرة حذف دے او دلته نه دے (۲) سیبیوه فيما يتلی علیکم خبر محذوف وائی حالانکه دا هلته محذوف وی چه چرته حکم ذیر روستو راغلی وی او دلته خو حکم راتلو کښې تا خیر نه دے شوی. څکه خو ماتن مذهب د مبرد مقدم کړے دے.

و الا ای وان لم تکن الخ غرض د شارح دفع د سوال ده چه فالمختار کښې دا فاء جزائيه ده او جزاء خو سبق شرط غواړی دلته خو مخکښې الا دے شرط نشته دے.

جواب: شرط شته دے دا الا په اصل کښې ان لم تکن دے او دا شرط دے کنهٔ نو که دا دوه جوابات اونکړی نو بیا پکښې نصب مختاره دے کما قال الماتن فالمختار النصب.

سوال: په اختیار د نصب خو چا قول نه دے کړے؟

جواب: حاصل دادے چه غرض د مصنف په دې عبارت سره د مخکښې دپاره دليل پيش کول دي په نمط د قياس استثنائی رفعی سره ماتن يو جزء د قياس ذکر کړے دے او بل محذوف دے.

اوس دا قياس داسی دے چه که دا دوه جوابه اونکړے شی نو بيا پکښ نصب مختاره دے او په اختيار د نصب خو چا قول نه دے کړے بالاتفاق باطل دے نو دا دوه جوابه صحيح شول دوه دليله پکار دی (۱) دليل د بطلان تالی (۲) دليل د ملازمی (۱) لاتفاق القراء علی الرفع دا دليل د بطلان د تالی شو (۲) ملازمه داده چه دلته صرف دا درې صورتونه دي نور نشته دے (۱) الفاء بمعنی الشرط (۲) جملتان مستقلتان (۳) اختيار النصب به ما اضمر سره نو اوس ملازمه ظاهر ده چه که دا دوه صورتونه اول مراد نه شی نو پخپله به دا دريم صورت راځی او دا خو ناروا ده نو دا دوه جوابه برابر او صحيح دي.

التحذير

﴿الرابع التحذير وهو معمول بتقدير اتق﴾ اجمالی خبری (۱) ربط (۲) تحقيق لغوی (۳) تحقيق اصطلاحی (٤) اقسام د تحذير (٥) امثله د دی.

ربط:معنوی ربط خو دادے چه کله فارغ شو مصنف د دريو هغه مقاماتو نه چه هلته حذف د عامله ناصبه د مفعول به واجب وو په حذف وجوبی سره اول کښې سماعی او دوه ؤ کښې قياسی نو اوس ئی په څلورم مقام شروع اوکړه چه دلته هم حذف د عامله ناصبه د مفعول به واجب دے په حذف وجوبی قياسی سره د وجے د وجود د قرينی او سد مسد نه نو وای وئيل الرابع التحذير نو يو به تعين د قسم الرابع اوکړی په التحذير سره دويم به دهغی تعريف اوکړی وهو معمول سره دويم به دهغی دوه قسمه بيان کړی تحذيرا مما بعده سره او څلورم طرق د استعمال د قسم اول به بيان کړی په و تقول سره.

ربط لفظی: الرابع مبتداء او التحذير خبر مبتداء سره د خبر نه جمله اسميه ده.

سوال: خبر حمل وی په مبتداء باندې او دلته حمل نه دے صحيح ځکه دا الرابع خو موضع دے او التحذير خو موضع نه دے نو حمل د غير موضع راځی په موضع باندې.

جواب دا خبر چه التحذير دے دايه حذف د مضاف سره دے لكه څنګه چه الرابع په حذف د موصوف سره دے اي الموضع الرابع موضع التحذير اوس حمل د موضع راغئ په موضع باندې من تلك المواضع دا منسوب اليه ذكر كوى دپاره د الرابع او دويم اشاره كوى چه الرابع كښ الف"لام"عهدى دے معهود هم هغه رابع دے چه د مواضع اربعه نه دے التى وجب حذف الناصب اشاره كوى ربط ته چه خروج د بحث نه لازم نه شي. و انما وجب حذف الفعل دا وجه بيانوى دپاره د حذف نو دا نفس حذف د دي عامل څكه كوو چه دا التحذير په هغه مقام كښ استعماليږى چه چرته يو بلاء او مصيبت رانزدې شوى وى چه كه په دغه عامل او فعل باندې انسان مشغول شي نو هغه مصيبت انسان لره هلاكوى نو دپاره د بچاؤ دغه انسان ته معمول ذكر كړى شي او عامل حذف شي لكه يو انسان باندې ګټه اويو تيګه دبره راځلاصه ده نو ته ورته په سرعة سره اوائى چه اياك و الحجر او بيا دا مصيبت كله كله لږ كم وى نو بيا په تحذير داسى وى چه اياك و الحجر، اياك و السيارة (موټر) وغيره خو كله كله دا مصيبت ډير لوى شي او خطرناك وى نو بيا تحذير په تكرار د محذر منه سره وى لكه الطريق الطريق، النهر النهر وغيره .

سوال: دا تكرار د محذر منه خو مناق دے د ضيق الوقت سره.

جواب: او تكرار مناق دے د ضيق الوقت سره خو تكرار د غير د محذر منه هر چه تكرار د محذر منه دے نو دا عين مقصود دے او مفيد دے .

اما دا خبره چه قرينه او سد مسد څه دى؟ نو قرينه په نفس حذف باندې دا نصب د دي معمول دے او قرينه په تعين د محذوف باندې حال دے مثلا دپاره د بچاو د ګاډى نه به خپل فعل وى دغه شان دپاره د كاڼرى وغيره نه او سد مسد په اول قسم كښ دا معطوف دے لكه اياك و الاسد كښ دا و الاسد دے او قسم ثانى كښ تكرار سد مسد دے.

تحقيق لغوى:دلته درى خبرى دي عنوان كښ ضرورى دي (۱) صيغه (۲) معنى لغوى (۳) مناسبة په درميان د معنى لغوى او اصطلاحى كښ نو دا تحذير خو په وزن د تفعيل باندې مصدر دے د باب تفعيل نه اى حذر يحذر تحذيرا او معنى ورله شارح كوى چه هو فى اللغة. تخويف شئ الخ يرول ديو شئ د بل شئ نه يا لرے ايستل دهغى د بل شئ نه مثلا تا اوى چه اياك و الاسد نو اياك يو شئ شو چه تا اويرو د اسد نه چه دا بل شئ دے او مناسبة په درميان كښ داده چه په دي مصطلح تحذير كښ يو محذر وى او بل محذر منه نو محذر

شئ اول دے او محذر منه شئ ثانی دے. بیا دلته چند الفاظ دي ددی په مناسبة سره (۱) محذر (اسم فاعل) دا هغه یرونکی دے (۲) محذر (اسم مفعول) دا هغه کس دے چه یرولی شی (۳) محذر به دا هغه الفاظ د تحذیر دي (٤) تحذیر دادی نولی معاملی ته وئیلی شی.

اصطلاحی تعریف:هغه مصنف کړی دے چه هو معمول الخ شارح وائی اسم غرض د شارح تعیین د موصوف کول دي دپاره د معمول صفة عمل فیه غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال*ده چه معمول عبارت دے د اثر د عامل نه او اثر د عامل حرف او حرکت دے نو دا اسم چه محذر دے دا خو معمول نه دے بلکه محل د عمل دے نو ماتن دي ته نسبة د معمول څنګه کوی؟ جواب ذکر د معمول دے او مراد تری نه معمول فیه دے او دا معمول نه دے خو معمول فیه دے او بیا دا فیه حذف شو لکه چه د مشترك نه فیه حذف شوی دے او دا تعبیر د معمول فیه نه په معمول سره څکه کوی چه دا معمول اثر دے د عامل او د دي دپاره مظهر دا معمول فیه دے یعني دا ورله محل دے.

النصب غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه اتق مقدر کښ کوم ضمیر دے نو دي باندي هم دا تعریف صادق دے او ورته څوك تحذیر نه وائی.

جواب: مراد زما د عمل نه عمل د نصب دے او د اتق ضمیر کښ عمل د رفع دے نه د نصب بالمفعولیة دا دفع د بل سوال ده هغه دا چه ایاك و الاسد اذیا دلته هم اتق د نصب عمل کړی دے او څوك ورته تحذیر نه وائی.زیاته

جواب: زمونږ مراد د معمول نه عمل په مفعولیة سره دے او دلته خو دا منصوب دے خو مفعول له دے نه مفعول به څکه دا بحث د مفعول به روان دے.

بتقدیر اتق . سوال ستا د کلام نه معلومه شوه چه دا محذر به د تقدیر معمول وی څکه دلته معنی داسی ده چه دا به معمول وی د اتق د تقدیر او حالانکه دا د اتق معمول دے نه د تقدیر د اتق.

جواب: دلته عبارت کښ قلب دے اصل عبارت داسی دے چه باتق المقدر بیا دا المقدر صفة دے دپاره د اتق نو دا د قبیلی د اضافة د صفة نه دے خپل موصوف ته. تحذیرا مما بعده دي ما بعده سره احتراز کوی دهغه نه چه ما قبل وی لکه من الاسد اتق نفسك دلته اتق مقدر دے او دا روستو مذکور اتق ورله تفسیر دے بیا دا تحذیرا منصوب دے شارح ورله علت د

نصب بیانوی نو وا ی یا خو دا مفعول مطلق دپاره د فعل محذوف چه حذر دے او یا دا مفعول له دے دپاره د فعل محذوف چه هغه ذُکر دے او مفعول مطلق او مفعول له دواړه د منصوباتو نه دی.

او ذکر المحذر منه مکررا کله چه دیو قسم د تحذیر نه فارغ شو چه په صورة د محذر کښ وو نو شروع اوکړه په دویم قسم د تحذیر کښ چه په صورة د تکرار د محذر منه کښ دے دې خبرې سره .

سوال دفع شو هغه دا چه دا تعریف د تحذیر صحیح نه دے ځکه په کلمه د تشکیك باندې مشتمل دے چه هغه او دے او تعریف خو دپاره د توضیح وی.

جواب: دا او دپاره د تنویع دے نه دپاره د تشکیك .

سوال: او ذکر دلته دا کلمه د او راغلی ده او دا دوه قسمه راځی (۱) اتصالیه (۲) اضرابیه دلته په هر یو باندې اشکال دے نو که او اتصالیه شی نو دا عطف دے په معمول باندې ځکه دا محذر منه هم معمول دے نو چه په هغی عطف شی نو دا عطف د جملی راغلو په مفرد باندې او دا ناروا دے او که او اضرابیة شی نو بیا خو عطف د جملی په مفرد باندې صحیح دے خو فساد راځی په معنی کښ ځکه بیا به معنی شی چه دا معمول دے په تقدیر د اتق سره نه بلکه چه ذکر شوی وی محذر منه مکرر نو مقصد داچه دا معمول نه دے په اتق مقدر سره .

جواب: شارح گوی چه دا او اتصالیه دے او داپه معمول باندې نه دے عطف بلکه معطوف علیه د دې مقدر دے چه یا خو حذّر دے او یا خو ذُکر دے او دا جمله ده نو عطف د جملی په جمله ناروا نه دے فان قلت .

سوال: هر کله چه یو شئ عطف شی په بل شئ باندې نو چه په معطوف علیه کښ یو ضمیر وی راجع وی ما قبل ته نو په معطوف کښ به هم یو ضمیر وی چه ما قبل ته راجع شی اوس دلته په معطوف علیه کښې چه حذر یا ذکر دے دې کښ ضمیر شته دے چه راجع دے معمول ته او په ذکر المحذر منه مکررا معطوف کښ خو ضمیر نشته دے چه معمول ته راجع شی. قلنا جواب داته چه گوم قانون بیان کړو دا داسی نه دے بلکه قانون دادے چه کله په معطوف علیه کښ عائد وی نو په معطوف کښ به هم عائد وی اوس دا عائد خو منحصر نه

دے په ضمیر کښې بل شئ هم راتلی شي لکه دلته چه ځنګه. وضع د مظهر شوی ده په ځائے د مضمر باندی.

اصل عبارت وو او ذکر مکررا بیا پکښې محذر منه راوړلی شو نو عائد په معطوف او معطوف علیه دواړو کښې شته دے فرق دومره دے چه په معطوف علیه کښې عائد ضمیر دے او په معطوف کښې وضع د اسم ظاهر ده په ځائے د اسم ضمیر باندی.

اشعارا دا دفع د بل سوال ده چه اصل په عائد کښې ضمیر دے وضع د مظهر په ځائے د مضمر باندې دپاره د فائدې وی دلته څه فائده ده؟

جواب: دا اشاره کوی دې خبرې ته چه دا محذر منه دے نه محذر.

امثله: مثل ایاك و الاسد وایاك وان تحذف دا مثال دے دپاره د نوع اول

سوال: تا د تحذیر دپاره دوه امثله بیان کړل نو په قسم اول کښې محذر منه مکرر نه وو او په قسم ثانی کښې محذر منه مکرر وو نو دلته به دا اول مثال دپاره د اول قسم وی او دا دویم مثال به دپاره د قسم ثانی نو په قسم ثانی کښې خو تکرار د محذر منه شرط دے او دلته خو تکرار نشته.

جواب: شارح وائی هذان مثالان لاول نوعی التحذیر دا دواړه د اول قسم دي خو دا اول دوه قسمه دے یو د اسم صریحی دے او بل اسم تاویلی نو اول دپاره د اول مثال دے او دویم ددویم دے خو داپه اعتبار دمعنی سره دے یعنی محذر منه په دې دواړو مثالو کښې په اعتبار د معنی سره دے د لفظ په اعتبار سره نه دے ځکه لفظ کښې دا الاسد او دا ان تحذف عطف دے په ایاك باندې او ایاك خو محذر دے نو دا به هم محذر وی ځکه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې وی نو په اعتبار د لفظ سره دا دواړه محذر دي او په اعتبار د معنی سره دا دواړه محذر منه دی. تدبر.

بیا دلته اصل عبارت اتق نفسك و الاسد کښې پکار خو اتقك وو خو دلته یو قانون دے چه کله ضمیر د فاعل او مفعول یو شئ ته دواړه راجع وی او دا ضمیر د مفعول متصل وی نودی کښې به په نفس سره فصل راځی علاوه د افعال قلوب نه نو دلته هم دا اوشو نو اتق نفسك جوړ شو بیا مونږه د ضیق الوقت د وجې نه دا فعل حذف کړو نو دا نفس هم حذف شو

ځکه هغه مانع ختم شو نو ك ضمير د متصل ما يتصل به غواړي نو دا بدل شو په منفصل سره نو دا اياك و الاسد شو.

دغه شان د اياك و ان تحذف هم دے خو په اعتبار د لفظ سره دا دواړه محذر دي البته معنی په اعتبار سره دا محذر منه دے ځکه شارح وائی معناهما بعد نفسك من الاسد او دا دفع د سوال هم ده چه په اياك و الاسد كښې دا الاسد عطف دے په اياك پاندې او اياك خو محذر دے نو دا الاسد هم محذر دے ولی چه معطوف په حکم د معطوف عليه كښې وی او دغه شان دا اياك وان تحذف هم دے نو شارح جواب اوكړو چه دا عبارت اصل كښې داسې دے چه بعد نفسك من الاسد و الاسد من نفسك او داسې دا بل هم دے.

چه بعد نفسك من حذف الارنب و بعد حذف الارنب من نفسك نو من الاسد محذر منه دے په اعتبار د معنی سره بيا اياك و الاسد شو بيا شارح د حذف الارنب معنی کوی چه وهل د ارنب (خرگوش) دي .

سوال: تا اوی چه په دي دواړو كښې محذر منه په يو صورة كښې دا زمری دے نو تبعيد د نفس د زمری نه خو ممكن دے خو تبعيد د زمری د نفس نه خو غير ممكن دے او دغه شان دابل مثال هم دے .

جواب: و على التقديرين دلته دا محذر منه دي خو په اعتبار د لفظ سره او په معنی سره دا محذر دي خو مونږه په اعتبار د لفظ سره وايو نه په اعتبار د معنی سره.

فائده:. دا قسم اول چه ماتن ذكر كړو نو دا عامل پكښې دهريو مناسب مقدر كولی شی او بيا دا خبره هم ده چه روستو محذر منه اسم ظاهر او اسم ضمير دواړه مقدر كولی شی خو دا خبره ده چه كله دا ضمير وی نو دابه ضمير د مخاطب كثير وی او ضمير د متكلم به قليل وی او غائب به د سر نه راتلی نشی. دايه قسم اول د تحذير كښې ده ځكه.

او باقی قسم ثانی د تحذير كښې محذر منه كه دهر يو ضمير وی نو راتلی شی ځكه دلته اتق او بعد متعين نه دے نور افعال هم راتلی شی.

و الطريق و الطريق كله چه فارغ شو مصنف د مثال د نوع اول د تحذير نه نو شروع ئی اوكړه په مثال د نوع ثانی د تحذير كښې چه محذر منه پكښې مكرر وی فقال الطريق الطريق شارح وائی مثال لثانی نوعيه غرض د شارح په دي عبارت سره يو ربط بيانوی دما قبل سره دويم

يعني د ممثل كوى دپاره د مثال دريم تطبيق د مثال كوى د ممثل سره بيا تقدير د عبارت داسے چه اتق الطريق الطريق بيا دا اتق د ضيق المقام د وجى نه حذف شو نو الطريق الطريق شو

سوال: ضيق المقام تقاضا كوى د عدم التكرار نه چه د تكرار دلته څنګه تكرار راغلى دے؟

جواب: تكرار منافى نه دے د ضيق المقام سره بلكه مناق دے د ذكر د عامل سره تفصيل داسے چه دا تكرار د محذر منه معاون دے په بچاو كښ دپاره د مخاطب د هلاكة د محذر منه په خلاف د هغه عامل باندې چه دا مفوت دے د بچاؤ د مخاطب د هلاكة د محذر منه نه نو اوس دلته قرينه دا ضيق المقام شو او سد مسد دا تكرار د محذر منه دے په ځائے د عامل ناصبه ولا يخفى غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض كول دي په ماتن باندې حاصل د اعتراض داسے چه ماتن د تحذير دپاره دوه نوعې ذكر كړى اوس د ماتن دا تعريف صحيح نه دې څكه چه ماتن اوى چه هو معمول بتقدير اتق او يا بتقدير بعد نو كه بتقدير اتق شى نو د تعريف نه نوع اول مكمل خارج شوه مثلا اياك و الاسد دے نو دلته تقدير د اتق صحيح نه دے څكه بيا به د دې نه تعبير كيږى په اتقيت زيدا عن الاسد سره او اتقاء خو فعل لازم دے نه متعدى چه زيدا دې ورله محذر شى دغه نور امثله هم دې د نوع اول چه تقدير د اتق پكښ صحيح نه دے او نوع ثانى كښ بعض افراد د تعريف نه خارج شول او بعض افراد داخل مثلا نفسك نفسك دے نو دلته تقدير د اتق نه دے صحيح څكه چه اتق فعل لازم دے او دلته بيا متعدى ګرځى اګر چه د نوع ثانى بعض افراد و ته تعريف شامل دے چه الطريق الطريق دے او كه بتقدير بعد شى نو بيا خو په تعريف كښ نوع اول مكمل داخله ده خو د نوع ثانى بعض افراد خارجيږى او بعض نه مثلا الطريق الطريق كښ تقدير د بعد نه دے صحيح څكه تبعيد د طريق د چا د اختيار خبره نه ده او په نفسك نفسك كښ تقدير د بعد صحيح دے.

"فالصواب ان يقال" دا جواب كوى چه ماتن لره پكار وه چه تعريف ئى په دې طريقه كړى وو چه هو معمول بتقدير بعد او اتق و نحوهما دا تخصيص د يو صحيح نه دے. نو په دې اعتبار سره به تعريف نوع اول ته مكمل شامل شى څكه هلته به تقدير د بعد شى او د نوع ثانى بعض افرادو كښ به بعد شى او بعض كښ اتق لكه په نفسك نفسك كښ به بعد شى او په الطريق الطريق كښ به اتق شى دا اعتراض وو د شارح په ماتن باندې او بيا تصحيح د متن وه.

اوس عبد الرحمان صیب محشي دا جواب کوی د شارح د دې اعتراض نه چه ماتن دا اتق یا بعد په تعریف کښې دپاره د حصر نه دے ذکر کړی بلکه دا په طور د مثال دے نو تعریف به داسې شي چه معمول بتقدير اتق مثلا تحذيرا مما بعده او ذکر الخ.

سوال: تا اوی چه په الطريق الطريق کښې تقدير د اتق صحيح دے نو دا خو دلته هم متعدی شو حالانکه دا خو فعل لازم دے.

جواب: دا عبارت په دې مثال کښې د قبيلې د حذف و الايصال نه دے مقصد داچه يو فعل لازم وی او بيا هغه په حرف جر سره متعدی شي او بيا دا حرف جر حذف شي او دا فعل په خپل تعدية باندې پاتې شي. اوس دلته اصل عبارت دے اتق من الطريق من الطريق يعنی دا اتق متعدی شو په کلمه د من باندې بيا دا من حذف شو او اتق په تعدية پاتې شو.

سوال: فلم تجر باء ك و باق لا تجر شارحه چه ته په الطريق الطريق کښې د اتق د صحة دپاره حذف و الايصال کوی نو مونږه به هم په اياك و الاسد کښې حذف و الايصال اوکړو او دا اتق به پکښې صحيح شي کنه ؟

جواب: داسې نه شي کيدلے ځکه دوی دا قانون پاس کړی دے چه کله مدخول د من محذر منه وی نو هلته به حذف و الايصال کيدلے شي اوس دلته په اياك و الاسد کښې مدخول د من محذر منه نه دے ځکه عبارت ه شي اتق من نفسك الاسد نو دلته هم دانشي کيدلے. په خلاف د الطريق الطريق باندې.

سوال: تا د نفسك نفسك معنی اوکړه بعد نفسك مما يوذيك نو دا خو د نوع ثانی دپاره مثال وو اوس چه تامعنی اوکړه نو دا خو مثال د نوع ثانی پاتې نه شو.

جواب: دا نفسك نفسك چه مونږ دپاره د نوع ثانی مثال وايو نو په اعتبار د لفظ سره وايو نه په اعتبار د معنی سره چه دا سوال دې وارد شي .


سوال: په اعتبار د معنی سره په دې نفسك نفسك کښې دا نفس محذر شو نو ته ورته په اعتبار د لفظ سره څنګه محذر منه وائې دې کښې څه صلاحية دے؟

جواب: او دا نفس صلاحية ددی لرې چه دا دې محذر منه شي ځکه دې نفس کښې يو خباثت وی او نجاست وی چه د انسان دپاره مضر دے نو په دې اعتبار سره ورته وائې چه د نفس نه

خان ساته قيل لفظ الاسد دايو سوال دے چه تا يو مثال پيش کړو چه اياك و الاسد نو دي ته دا تعريف د تحذير شامل نه دے نه د نوع اول او نه د نوع ثاني ځکه چه په نوع اول کښ به تحذيرا مما بعده وى او دلته و الاسد کښ روستو محذر منه نه دے ذکر ځکه دا الاسد خو عطف دے په اياك او هغه محذر نو داهم محذر شو او نوع ثاني هم نه ده ولى چه تكرار د محذر منه پکښ معدوم دے.

شارح جواب کوى په اجيب سره حاصل دادے چه که دي ته تعريف شامل نه شي نو هيڅ خيره نه ده ځکه دا تابع دے معطوف دے او د دې بحث به راشي. (٢) دا مثال دپاره د نوع اول دے او محذر منه ورله مقدر دے اى بعد نفسك من الاسد و الاسد من نفسك نو و الاسد دپاره من نفسك حذف دے.

و تقول غرض د ماتن په دې عبارت سره طرق د استعمال د قسم اول د تحذير بيانوى بيادا قسم اول د تحذير چه دے نو دې کښ دا محذر په دوه قسمه باندې دے يو اسم صريحى دويم اسم تاويلى دے نو په دې قسم اول د تحذير کښ ټولى پنځه طريقى دي دوه طريقى په اسم صريحى کښ دي او درى طريقى په اسم تاويلى کښ دي په دې شان سره (١) اياك و الاسد يعنى په حرف عطف سره (٢) اياك من الاسد يعنى په حرف جر سره دا دوه طريقى شوى په اسم صريحى کښ او درى طريقى په اسم تاويلى کښ دي (١) اياك وان تحذف يعنى اسم تاويلى کښ په ذکر د حرف عطف سره (٢) اياك من ان تحذف يعنى په اسم تاويلى کښ په ذکر د حرف جر سره (٣) اياك ان تحذف يعنى اسم تاويلى کښ په تقدير د من سره.



سوال: یو بل صورة پکښې هم دے چه تا هغه ذکر نه کړو هغه داچه په دې اسم صریح کښې تقدیر د من اوشی لکه ایاك الاسد.

جواب: دلته تقدیر د حرف جر نه شی راتلی بلکه دا تقدیر د حرف جر د ان او ان سره دے کثیرا نو هلته به تقدیر د من وی په خلاف د دې ځائے باندې چه دلته حرف جر مقدر کول صحیح نه دی.

سوال: څه وجه ده چه تقدیر د حرف جر د ان بالتخفیف او ان بالتشدید سره کثیر دے او بل چرته نه.

جواب: دا څکه چه ان او ان موصول حرفی دی دا صله غواړی بیا موصول سره د صله نه مفعول ګرځی د دغه فعل دپاره نوبه ذکر د حرف جر سره تطویل راځی نو دلته به دا من مقدر وی څکه چه په تطویل کښې لږ تخفیف راشی په خلاف د ایاك و الاسد باندې چه دلته خو د سر نه تطویل شته دے نه.

سوال: ته وائی دا تقدیر د من ممتنع دے نو اتیان پری د سر نه روانه دے حالانکه خلق خو بعض اوقات کښې په ایاك من الاسد کښې ایاك الاسد وائی.

جواب: شذوذه امتناع په معنی د شذوز سره ده فان قلت ایاك الاسد ته شاذمه وایه دلته به تقدیر د حرف عطف اوایو کنه نو بیا هم صحیح دے قلنا داسی خو نه شی کیدلے څکه تقدیر د من د ان او ان سره شائع دے او بغیر د ان او ان نه شاذ دے خو نادر نه دے او تقدیر د حرف عطف نادر دے دا څوك پیژنی هم نه الا نادرا او دا ابو علی صیب د قران په دې ایت کښې وئیلی دي چه ولا علی الذین اذا ما اتوك لتحملهم قلت لا اجد ما احملکم علیه دلته هغه وائی چه و قلت دے یعنی تقدیر د حرف عطف دے .

المفعول فيه

المفعول فيه هو ما فعل فيه فعل مذكور اجمالى خبرى (۱) ربط (۲) لغوى تحقيق (۳) اصطلاحى تعريف (٤) اقسام د مفعول فيه (٥) شرط د نصب د مفعول فيه (٦) دفع د بعض اعتراضاتو (۷)احكام د مفعول فيه.

ربط:معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د دوه ؤ قسمونو د منصوباتو نه چه مفعول مطلق او مفعول به وو نو شروع ئ اوكړه په تفصيل د دريم قسم د منصوباتو كښ چه مفعول فيه دے نو قال المفعول فيه نو درى سوالات راغلل (۱) نفس تفصيل ولى كوى؟ (۲) په تفصيل كښ دا مفعول فيه په دريم مقام كښ ولى ذكر كړو؟ (۳) تفصيل څنګه كوى؟ نو جوابات بالترتيب.

نفس تفصيل څكه كوى چه تفصيل بعد الاجمال اوقع فى الذهن وى او ياد! تفصيل ته محتاج وو او تفصيل ئ لا شوى نه دے نو تفصيل كوى. (۲) په تفصيل كښ ئ په دريم مقام كښ څكه راوړو چه دا مفعول فيه په ذهن د مصنف كښ په نسبة سره ماقبل ته دا قليل او په نسبة سره ما بعد ته كثير دے نو د مفعول مطلق او مفعول به نه ئ روستو كړو او د نورو منصوباتو نه ئ مخكښ كړو (۳) تفصيل داسې كوى چه يو به تعريف د مفعول فيه اوكړى په هو ما فعل فيه فعل سره دويم د مفعول فيه اقسام به بيان كړى په من زمان او مكان سره دريم به ورله شرط د نصب ذكر كړى په شرط نصب تقدير فى څلورم احكام به ورله بيان كړى په وظروف الزمان او ؤ ينصب بعامل مضمر سره او پنځم دفع د بعضو اعتراضاتو ده د وحمل عليه عند و لدى سره ربط لفظى (۱) المفعول فيه مبتداء ده او هو ما فعل الخ ورله خبر دے (۲) المفعول فيه مبتداء موخره ده او منها مقدر ورله په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دے (۳) المفعول فيه خبر محذوف المضاف دے دپاره د مبتداء محذوفى اى هذا بحث المفعول فيه نو هذ ا مبتداء ده او بحث مضاف دے او المفعول فيه مضاف اليه دے بيا مضاف سره د مضاف اليه نه خبر د مبتداء شو بيا حذف شوه او مضاف هم د خبر نه حذف شو نو المفعول فيه پاتى شو نو دا د مضاف قائم مقام شو او مرفوع هم شو نيابة .

لغوى تحقيق: درى خبرى پكښ ضرورى دي (۱) صيغه نو دا صيغه د اسم مفعول ده (۲) كار كړى شوى په دي كښ (۳) مصطلح مفعول فيه ته څكه مفعول فيه وائى چه دا معنى دكار كړى شوى په دي كښ مراده وى.

اصطلاحی تعریف: دا ماتن کړی دے چه هو ما دا مفعول فیه دال د هغه مدلول دے فعل چه کړی شوی وی فیه په دغه مدلول کښ فعل مذکور یو فعل چه مخکښ ذکر شوی وی هو په منزله د جنس بانډې ټولو مفاعیلو ته شامل دے فعل فیه فعل په منزله د فصل دے باقی ټول مفاعیل ورسره خارج شول مذکور په دې سره احتراز او شو د یوم الجمعة یوم طیب نه ځکه یوم الجمعة مفعول فیه دے خو فعل پکښ نه دے کړی شوی چه فعل دې مذکورهم وی نو په دې ترکیب کښ دایوم الجمعة مفعول فیه نه دے فعل مذکور نشته دے نو دا محمول علیه دے او دا روستو ورله محمول دے بیا مونږ معنی اوکړو چه دا مفعول فیه دال د هغه مدلول دے نو په دې سره مونږ دفع د سوال اوکړو چه ماتنه دا تعریف د مفعول فیه دې صحیح نه دے. وجه داده چه د مفعول چه کوم افراد دې نو هغی ته دا تعریف د مفعول فیه شامل نه دے او چه چاته تعریف شامل دے نو هغه افراد د دې مفعول فیه نه دې په دې شان سره چه زمان او مکان وغیره ټول الفاظ دې د مفعول فیه خو په دې کښې کار نه دے کړی شوی بلکه کار چه کړی شوی وی نو داپه هغه معانی او مدلولاتو د دې الفاظو کښ شوی وی او معانی او مدلولات خو مفعول فیه نه دې ځکه مفعول فیه خو قسم دے د منصوب نه او منصوب قسم دے د معرب نه او معرب قسم دے د اسم نه او اسم قسم دے د کلمة او ماخوذ په تعریف د کلمه کښ لفظ دے او دا معانی او مدلولات خو الفاظ نه دی.

جواب: اوشو چه داما په حذف د مضاف سره دے عبارت اصل کښ داسی دے چه اسم مادا دال د هغه مدلول دے نو کار به کړی شوی دی په معانی او مدلولاتو کښ او دا مفعول فیه د هغی دپاره نوم دے.

سوال: نو دا مضاف چه اسم دے دائی ولی ذکر نه کړو؟

جواب: عادت د مصنف په دې جاری دے چه کله اکتفاء کوی د لا حق نه په سابق بانډې او کله اکتفاء کوی دسابق نه په لاحق بانډې دلته مصنف اکتفاء کړی ده د لاحق نه په سابق بانډې په دې شان سره چه په مفعول مطلق کښ دا قید ذکر وو نو دلته ئی ذکر نه کړو ځکه په هغه بانډې اکتفاء کوی فعل ای حدث غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه فعل خو عبارت دے د درې اشیاء نه یو نسبة دویم زمان دریم حدث نو دا زمانه او نسبة خونه کړی کیږی ځکه متکلم پرې قادر نه دے بلکه متکلم په حدث قادر دے او تا خو فعل ذکر کړو .

جواب: فعل لغوی مراد دے چه حدث دے فقط مذکور دي سره دفع د سوال ده چه المفعول فيه عنوان دے او ما فعل فيه فعل ورله معنون او قانون دادے چه په درمیان د عنوان او معنون کښې مغائرة وی دلته دواړو کښې اتحا. دے مغائرة یکښې نشته دے او دا ئاروا ده.

جواب: مذکور مغائرة پکښې شته ځکه عنوان کښې کار کرے شوے په دي کښې مراد دے او په معنون کښې ورسره دا مذکور قید مراد دے حرف دومره خبره ده چه د المفعول فيه معنی لغوی ئی په معرف کښې راخستی ده او دا د مخستاتو نه ده تضمنا غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه دا تعریف د مفعول فيه صحیح نه دے ځکه چه ضربت یوم الجمعة کښې یوم الجمعة ته حق مفعول فيه وائی حالانکه مخکښې تری نه حدث یعنی فعل لغوی نه دے ذکر بلکه فعل اصطلاحی تری نه مخکښې ذکر دے چه ضربت دے.

جواب: تضمنا او مطابقة چه دا مذکور عام دے که تضمنا وی او که مطابقة مطابقة هغه وخت کښې چه مخکښې مصدر او حدث وی لکه صومی یوم الجمعة او تضمنا هغه وخت کښې چه مخکښې فعل ذکر وی نو د فعل په ضمن کښې حدث مراد وی لکه ضربت یوم الجمعه شو.

سوال: نو زه درته ښایم چه خلق په ورته مفعول فيه وائی او دا تعریف په ورته شامل نه وی لکه ستا نه څوك تپوس اوکړی چه متی صمت نو تا ورله جواب ورکړو چه یوم الجمعة دلته دایوم الجمعة مفعول فيه دے او مخکښې تری نه فعل نه تضمنا او نه مطابقة شته دے.

جواب: شارح وائی الملفوظ او المقدر چه دا فعل مذکور عام دے که ملفوظا وی او که مقدرا دلته مقدر ذکر دے اصل کښې صمت یوم الجمعة دے خو دا صمت د وجی د قرینه نه حذف شو چه په نفس حذفية باندي قرینه نصب دیوم الجمعة دے او په تعین د محذوف سوال د سائل دے سوال نو زه درته ښایم خلق په ورته مفعول فيه وائی او مخکښې په تری نه فعل نه وی ذکر نه لفظا او نه تقدیرا لکه انا صائم یوم الجمعة دلته یوم الجمعة مفعول فيه دے او مخکښې تری نه فعل نه دے ذکر.

جواب: شارح وائی او شبهه چه داپه ضمن کښې چه ذکر وی دا عام دے که په ضمن د فعل کښې وی او یا په ضمن د شبه فعل کښې او دا ځکه چه فعل او شبه فعل دواړه مشتقی دي او هر مشتقی په خپله مبدا باندي مشتمل وی کذلك دلته هم هغه سوال ته اشاره ده چه په الملفوظ او المقدر سره دفع شو. فقوله غرض د شارح په دي عبارت سره د قیوداتو فوائد بیانوی نو وای فعل فيه فعل په منزله د جنس دے هر یو ظرف پکښې داخل دے او مذکور په منزله

د فصل دے یوم الجمعة یوم طب په دې سره خارج شو ځکه په دې کښ به خامخواه یو کار شوی وی خو هغه فعل مذکور نه دے لکن بقی مثل شهدت غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دې اعتراض ته او په فلوا عتبر فی التعریف سره اشاره ده جواب ته تقریر د اعتراض دادے چه ماتنه دا ته کوم تعریف د مفعول فیه اوکړو نو دا تعریف صحیح نه دے ځکه دا مانع نه دے د دخول د غیر نه او کوم تعریف چه مانع نه وی د دخول د غیر نه هغه صحیح نه وی نو داهم صحیح نه شو. اوس په دې کښ داخل شو شهدت یوم الجمعة دلته یوم الجمعة نه مخکښ فعل ذکر دے چه شهدت دے او دې یوم الجمعة ته خلق مفعول فیه نه وائی بلکه مفعول به ورته وائی.

جواب: حاصل د جواب دادے چه په دې تعریف کښ قید د حیثیة معتبر دے چه ما فعل فیه فعل مذکور من حیث انه فعل فیه فعل مذکور چه شوی وی په دې کښ دا فعل مذکور خو چه په دې حیثیت ئی راواخلی چه دا فعل پکښ شوی دے نه په دې حیثیت سره چه دا فعل مذکور په دې باندې واقع شوی وی اوس دلته په شهدت یوم الجمعة کښ که دا شهادة چاپه دې حیثیت سره مراد کړو چه دا شهادة په دې یوم الجمعة کښ شوی دے نو دا بیا مفعول فیه دے او که چا په دې حیثیة مراد کړو چه دا شهادة په دې باندې واقع شوی دے نو بیا دا مفعول به دے نو دلته قید د حیثیة مراد دے ولا یخفی انه علی تقدیر غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره ده اعتراض ته او په الا لزیادة تصویر سره اشاره ده جواب ته اعتراض دادے چه کله دا قید د حیثیت مراد شو نو بیا دا مذکور قید ذکر کول مستدرك دې ځکه په دې سره موږ احتراز کوو دیوم الجمعة یوم طیب نه ځکه دلته فعل نه دے ذکر خو چه کله قید د حیثیت مراد شو چه مفعول فیه هغه دے چه دا فعل کړی شوی وی په دې حیثیت سره چه دا فعل مذکور پکښ کړی شوی وی نو په قید د حیثیة سره دایوم الجمعة یوم طیب خارج شو ځکه داپه دې حیثیت سره نه دے چه دا فعل پکښې کړی شوی دے بلکه داپه حیثیت د محمول سره دے چه دایوم الجمعة محمول علیه دے او دا ما بعد ورله محمول دے.

جواب (۱) حاصل دادے چه په تعریف کښ دا خبره ضروری نه ده چه ټول قیودات دپاره د احتراز وی بلکه په تعریف کښ اولا او بالذات دا خبره ضروری ده چه قیودات دې ټول دپاره د کشف او وضاحة د تعریف وی البته ثانیا او بالعرض دا خبره هم ده چه د قیوداتو احتراز دې هم مقصود وی. نو چه کله پرې احتراز اونه شی نو دې ته قید اتفاقی وائی او چه کله پرې

احتراز اوشی نو دې ته بیا قید احترازی وائی اوس دلته دا قید د مذکور هم دے چه دپاره د کشف او وضاحة د تعریف دے نه دپاره د احتراز د ماعده نه (۲) دا دلته تصریح بما علم ضمنا ده چه په قید د حیثیة سره دا ترکیب خارجیری خو ضمنا او په قید د مذکور سره خارجیری صراحة او دا تصریح بما علم ضمنا په تعریفاتو کښې شائع ده و قوله من زمان و مکان غرض د مصنف په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تا تعریف د مفعول فیه اوکړو په ما فعل فیه فعل مذکور نو دا تعریف په دې سره جامع شو نو روستو من زمان او مکان ذکر کول په تعریف کښې مستدرك دې نو شارح جواب کوی چه دا قید هم اتفاقی دے نه احترازی.

سوال: نو د قید اتفاقی دلته فائده څه ده؟

جواب:شارح وائی دې کښې درې فوائد دې (۱) تعین د لفظ دما اوشو چه دا عبارت دے د زمان او مکان نه (۲) په دې سره د مفعول فیه دوه قسمینو ته اشاره اوشوه چه یو زمان او بل مکان دے (۳) دا تمهید هم شو دپاره د احکامو د مفعول فیه.


وهو ای المفعول فیه ضربان:غرض د شارح په دې عبارت سره دوه اقسام د مفعول فیه بیانوی نو یو قسم هغه دے چه دا مفعول فیه مجرور وی په ذکر د فی سره دویم قسم هغه دے چه دا مفعول فیه منصوب وی په تقدیر د فی سره او دغه شان په دې عبارت سره غرض د شارح تمهید دے اعتراض ته او و هذا خلاف القوم سره اشاره کول دی اعتراض ته او وخالفهم المصنف کښې اشاره کول دی جواب ته .

سوال: دادے چه موږ اوریدلی دی چه مفعول فیه هغه ته وائی چه ظرف زمان یا مکان وی خو په تقدیر د فی سره او د ماتن د کلام نو معلومیږی چه که په تقدیر د فی سره وی او که په ذکر د فی سره دواړه مفعول فیه دی فرق د اعراب دے.

جواب: چه او دا خبره ده د قوم هم دا اصطلاح ده خو مصنف خلاف کړی دے ځکه دا مجتهد دے او په مجتهد باندې تقلید د چا لازم نه وی.

شرط د نصب د مفعول فیه:و شرط نصبه نو د نصب دپاره شرط دادے چه دا فی به پکښې مقدر وی ځکه که ذکر شی نو بیا خو به مجرور وی.

احکام د مفعول فیه:و ظروف الزمان د احکامونه اول دا خبره ده چه دوی دي مفعول فیه ته ظرف وائی او دا ظرف په دوه قسمه دے محدود چه حد معین وی ورلره لکه یوم، مسجد او مبهم هغه چه حد ورله معین نه وی لکه حین، دهر، امام .



اوس احکام داسی دي چه ټول ظروف زمان مبهم چه دي نو په دي کښې تقدیر د فی راتلی شی ځکه چه دا مبهم جزء دے د فعل اصطلاحی نه او قانون دادے چه داسی جزء منصوب وی بغیر د څه واسطی نه لکه مفعول مطلق شو و المحدود د ظرف زمان محدود هم دا حکم دے چه تقدیر د فی به قبلوی اوس دا ځکه چه دا حمل دے په ظرف زمان مبهم باندي نو دا ظرف مکان محدود محمول او مکان مبهم ورله محمول علیه او وجه د حمل اشتراك دے په ذات کښې چه زمان دے اګرچه په وصف کښې اختلاف لری. مثال دهر واحد صمت دهرا ای صمت فی دهر دا مثال د ظرف زمان مبهم دے او اقطرت الیوم ای فی الیوم دا مثال دے د ظرف زمان محدود و ظروف المکان ان کان یعنی د ظرف مکان مبهم هم دا حکم دہ چه تقدیر د فی قبلوی نو دابه هم منصوب وی او وجه ورله داده چه دا حمل دے په زمان مبهم باندی.

سوال: زمان خو د مفهوم د فعل نه جزء دے او مکان خو نه دے جزء د مفهوم د فعل نه نو دا مکان څنګه حمل دے په زمان باندی؟

جواب: او دا خبره ده خو مناسبة پکښې اوس هم شته دے په دي شان سره چه دا دواړه په وصف کښې مشترك دي چه هغه ابهام دے مثال جلست خلفك او که دا مکان محدود وی نو بیا به دا تقدیر د فی نه قبلوی بلکه ذکر کیدلے به شی وجه داده چه دا مکان مبهم جزء نه

دے د فعل اصطلاحی نه نو په دې اعتبار سره پکار ده چه تقدیر د فی راشی خو دا مونږ حمل کړو په زمان مبهم باندې د وجه د اشتراك د دوی نه په صفة د ابهام کښ اوس چه مکان محدود دے نو د زمان مبهم سره نه په ذات کښ شریك دے ځکه هغه زمان او دا مکان او نه ورسره په وصف کښ شریك دے ځکه هغه مبهم دے او دا محدود دے نو چه کله ظرف مکان محدود وی نو دا به مفعول فیه په ذکر د فی سره وی. نو جلست فی المسجد به وئیلی شی نه جلست المسجد .

سوال: دا مکان محدود دې حمل شی په مکان مبهم باندې ځکه دواړو کښ اتحاد دے ذاتا هغه هم مکان او داهم مکان دے نو دلته به هم تقدیر د فی شی.

جواب: داسی نه شی کیدلےځکه بیا به لازم شی استعاره د مستعیر نه او سوال د محتاج فقیر نه او دایه غوندې سره ناروا ده په دې شان سره چه دا مکان مبهم چه تقدیر د فی قبلوی نو دا د وجې د حمل نه په زمان مبهم باندې یعنی د هغی نه فی دا په سوال باندې غوښتلی ده نو دا ځان لره محتاج دے او که پرې دا مکان محدود حمل کوی نو د محتاج نه قضاء د احتیاج کوی او دا ناروا ده عرفا او شرعا او عقلا.

﴿و فسر المبهم بالجهات الست﴾ حکم د مکان مبهم بیان شوی وو چه دا حمل دے په زمان مبهم باندې نو چا د مکان مبهم تفسیر دا کړے دے چه دا عبارت دے د معرفه نه لکه امامك یا خلفك امام او خلف مکان مبهم دې ځکه دا معرفه ده په اضافة سره او بیا مکان مبهم عبارت دے د نکره نه لکه امام او خلف شو نو دا تعریف د مصنف خوښ نه وو نو مصنف د مکان مبهم تفسیر خپله کوی نو قال و فسر المبهم نو وی مکان مبهم چه هلته تقدیر د فی وی نو دا جهات سته دې او بیا شارح دهغې جهات ستة تعین کوی وما فی معناها لکه علو او سفل او دغه شان جنوب او شمال بفتح الشین ځکه یو په کسره د شین دے هغه یمین او شمال دے فان امام زید غرض د شارح په دې عبارت سره تطبیق کوی

دلته څه لفظی مناقشه ده هغه داچه یو سوال دے په الجهات الست باندې چه الجهات موصوف دے او الست ورله صفة دے نو دا الجهات مونث دے او الست مذکر دے نو په درمیان د موصوف او صفة کښ مطابقة نشته دے .

جواب: د الجهات جمع د الجهة مونث ده او الست مذكر دے خو دلته دابه يو قانون بناء دے هغه قانون دادے چه په تركيب اضافي او توصيفي كښې كله معدود مذكر وى نو عدد به مونث وى او چه كله دا معدود مونث وى نو عدد به مذكر وى اوس الجهات مونث دے نو الست مذكر دے.

سوال: نو بيا خو كم از كم مطابقة په افراد تثنيه او جمع كښې پكار وو كنه حالانكه دلته الجهات جمع ده او الست ورله مفرد دے نو كه د الست په ځائے باندې الستة مونث وئيلې وى نو بيا هم څه مطابقة راتلو چه دا الجهات به په تاويل د جماعة سره مفرد مونث شوى وى خو دائى هم نه دي وئيلي.

جواب: الست لفظ اگرچه په اعتبار د لفظ مفرد دے خو معنى جمع ده ولما لم يتناول هذا التفسير غرض د شارح په دې عبارت سره د روستو متن دما قبل سره ربط بيانوى او ورته تمهيد هم ږدى چه دا روستو عبارت د ماتن دفع د اعتراض ده.

دفع د بعض اعتراضاتو:سوال تا اوى چه مكان مبهم عبارت دے د جهات ستة نه نو دا عند اولدى دې ته خلق مكان مبهم وائى حالانكه دا خو په دغه جهات ستة كښې كه داخل نه دى.

جواب: ماتن وائى چه دا عند او دا لدى او څه چه د دې په معنى كښې دې نو دا محمول دې په دې جهاتو ستو باندې شبههما لكه دون او سوى نو اوس د دې دپاره به هم هغه حكم وى چه دا به تقدير د فى قبلوى او منصوب به وى لا بهامهما دلته دا عند او لدى او شبه د دې محمول او جهات ستة محمول عليه او وجه د حمل ورله ماتن اوى چه دا دواړه په وصف د ابهام كښې شريك دى.

سوال: تا اوى چه دې عند كښې ابهام دے نو دا خو دپاره د قريب راځى نو په مكان قريب كښې خو څه ابهام نشته دے.

جواب: دا خو معلومه ده چه دا دپاره د مكان قريب راځى خو تعين د دغه مكان قريب مبهم دے چه كوم قريب مكان مراد دے نو په دې اعتبار سره دا مبهم دې ولم يذكر دې عبارت كښې اشاره ده اعتراض ته هغه دا چه مصنفه تا دا عند او لدى او شبه د دې حمل كړې په جهات ستة باندې نو وجه د حمل دې دپاره د عند، لدى اوى چه ابهام دے او د شبه د دې دپاره دې وجه د حمل اونه وى.

جواب (۱) وجه د حمل د شبه د عند او لدی هغه ده چه دپاره د عند او لدی ده (۲) دلته يو بله نسخ ده چه هلته لا يهاما دے ضمير د مفرد مونث دے راجع شوی په اعتبار د جماعة سره دي ټولو ته نو د سر نه اعتراض نه راځي اول جواب ته اشاره ده په لان حكمه حكمهما سره او دويم ته اشاره ده په وفی بعض النسخ سره و لفظ مكان غرض د ماتن په دي عبارت سره دفع د سوال ده هغه داچه لفظ د مكان خو دمكان محدود نه دے او دي دپاره هم دا حكم دے چه منصوب به وی په تقدير د فی سره حالانكه تا مكان محدود كښ ذكر د فی شرط كړے دے.

جواب: او د لفظ د مكان دپاره هم دا حكم دے چه منصوب به وی په تقدير د فی سره اگر چه دا مكان محدود دے دا ځكه چه داهم حمل دے په جهات ستة باندي لگز ته غرض د ماتن په دي عبارت سره وجه د حمل بيانوی دپاره د لفظ د مكان او دويم دفع د اعتراض هم ده اعتراض دادے چه دا متن دے او بناء د متونو په اختصار وی نو پكار داسی عبارت وو چه و حمل عليه عند و لدی و لفظ مكان.

نو مقصد هم حاصليدو او اختصار هم راتلو.

جواب: داسی نه شی كيدلے ځكه وجه د حمل دپاره د عند او لدی جدا ده او دپاره د لفظ د مكان جدا ده چه كثرة استعمال دے ماتن و لفظ مكان وئيلی وو او شارح اوی كذا غرض د شارح په دي عبارت سره اشاره كول دي دی خبره ته چه دا لفظ مكان عطف دے په عند او لدی باندي نو دا عطف د قبيلی د مشبه نه دے په مشبه به باندي نه د قبيلی د مساوی نه په مساوی باندی.

سوال: دا حمل د لفظ د مكان په عند او لدی باندي د وجی د كثرة استعمال نه د دي لفظ د مكان سره خاص دے او كنه نور الفاظ هم حمل كيدے شی په عند او لدی باندي لكثرة الاستعمال.

جواب: دا د لفظ د مكان سره خاص نه دے نورو الفاظو كښ هم راتلی شی خو دوه خبری ورله شرط دی. يو داچه د دي مخكښ فعل او د دي مفعول فيه ماده يوه وی لكه قمت مقامك او جلست مجلسك دويم دا مخكښ چه كوم فعل وی نو دي كښ به معنی د استقرار هم وی لكه جلوس او قيام شو او سكون هم كيدلے شی نو چه دا دوه خبری پكښ وی او كثر الاستعمال وی نو دا حكم به ورله وی.

وما بعد دخلت غرض د ماتن په دې عبارت سره هم دفع د سوال ده چه تا اوی چه د لفظ د مكان نه علاوه به په مكان محدود كښ تقدير د فی ممتنع وی بلكه ذكر ضروری دے حالانكه په دخلت الدار كښ دا الدار مكان محدود دے او دا منصوب دے په تقدير د فی سره .

جواب: دا ما بعد د دخلت كه مكان محدود هم وی خو داپه جهات ستة باندې حمل دے.

سوال دا ولی په هغی جهاتو ستو باندې حمل دے .

جواب: د وجی د كثرة الاستعمال نه سوال دا ما بعدد دخلت داخل كړی په هغه لفظ د مكان كښ ځكه دوارړه مكان محدود دي او وجه هم د دواړو يوه ده .

جواب: داسی نه شی كيدلے ځكه دلته دما بعد دخلت نه هغه مراد دے چه علاوه د لفظ مكان نه وی.

سوال: نو پكار داده چه عبارت داسی شی چه و لفظ مكان وما بعد دخلت لكثرته.جواب: داسی هم نشی كيدلے ځكه دلته روستو داماتن په قيد د الاصح كښ اشاره كوی اختلاف ته نو كه چا داسے عبارت ويلی وے نو چابه وهم كړے وے چه دااختلاف به په لفظ مكان او ما بعد دخلت دواړو كښ دی حالانكه دا اختلاف صرف په ما بعد ددخلت كښ دے. بيا بيان الاختلاف دادے چه دا دخلت الدار كښ دا دار په نزد د سيبويه او ماتن مفعول فيه دے په تقدير د فی سره او د شارح او علامه زمخشری په نزد باندې دا مفعولٌ به دے. علی الاصح دي كښ دوه احتماله دي يو داچه د الاصح صفة شی دپاره د المذهب دويم چه دا الاصح صفة شی دپاره د الاستعمال شارح دا دواړه بيانوی.

بيا په دخلت الدار كښ دا الدار د سيبويه او د ماتن په نزد باندې دا مفعول فيه دے. و جه داده چه دا دخلت فعل لازم دے او د فعل لازم تمامية په فاعل باندې راځی روستو تری نه مفعول به نه شی راتلی بلكه كه راځی نو مفعول فيه به وی اما دا خبره چه دا دخلت فعل لازم ځنګه دے نو يو خو دا وجه ده چه دا دخول مقابل د خروج واقع كيری او خروج لازم دے نو دا دخول هم لازم شو او دويمه دا وجه ده چه يو فعل لازم وی او حرف جر پكښ راشی او متعدی شی نو د دې په معنی كښ تغيير راځی او دلته كه حرف جر راشی اوكه رانشی نو معنی كښ څه تغيير نه راځی نو مونږ معلومه كړه چه دا دخلت فعل لازم دے.

و هذا محل تامل د شارح دا خبره خوښه نه ده نو دې وائي چه داما بعد دخلت به مفعول به وي او په دې خبره باندې شارح يو دليل پيش كوي او دويم تائيد راوړي دليل دادے فان الفعل الخ حاصل ئې دادے چه تمامية د فعل په فاعل او په مفعول به باندې وي او بيا پس د تمامية نه فعل ته نسبة مفعول فيه ته كيدلے شي اوس دلته دا دخلت فعل تام نه دے نو دا روستو الدار به ورله مفعول به وي نه مفعول فيه نو دابه د مفعول به سره تام شي نو بيا به ئې نسبة مفعول فيه ته كيږي لكه دخلت الدار في البلد شو و مما يويد سره دې تائيد بيانوي حاصل ئې دادے چه هر يو فعل چه دهغې نسبة اوشي يو مكان خاص ته چه هغه ورله مفعول فيه وي نو د هغې فعل نسبة مكان عام ته هم كيدلے شي مثلا ضربت زيدا في الدار دلته د ضرب نسبة زيد ته او شو وقوعا په يو مكان كښ چه دار دے اوس ته د دې نسبة يو عام مكان ته هم كولے شي چه هغه دې مكان خاص او غير ته شامل وي لكه ضربت زيدا في البلد نو په دواړو صورتونو كښ به دامكان عام او مكان خاص مفعول فيه وي. اوس هر چه دخلت دے نو كله چه د دې نسبة يو مكان خاص ته اوشي نو بيا ئې نسبة كول مكان عام ته صحيح نه دي مثلا دخلت الغرفة دلته دا غرفة يو مكان خاص دے اوس ته داسې نه شې وئيلې چه د خلت الدار چه دا دار يو مكان عام دے ځكه چه ته كله غرفې ته داخل شوې نو دار ته هم دخول راغلي دے اوس چه ته دخلت الدار وائي نو دخول سبق خروج غواړي او خروج خو ستانه صادر نه دے نو دخلت الدار وئيل دې صحيح نه شول پس ددخلت الغرفة نه نو مونږ ته معلومه شوه چه دا مفعول فيه نه دے بلكه دا مفعول به دے ځكه كه مفعول فيه وو نو بيا به ئې ورته نسبة جائز وو.

جواب: د ماتن د طرفه دادے شارح ته د اول د ليل نه دا جواب دے چه دا قانون چه تا بيان كړو شارحه نو دا قانون په فعل متعدي كښ دے او دا دخول خو فعل لازم دے متعدي نه دے و كما اثبناه.

او د دويم تائيد نه جواب دادے چه دا خاصه د افعالو ده خو دا خاصه غير شامله ده په دې شان سره چه بعض افعالو كښ نه شي راتلي لكه دا دخول شو و قيل معناه غرض د شارح په دې عبارت سره دويم احتمال بيانوي نو واي دا الاصح صفة دپاره د الاستعمال دے نو اصح په مقابله د صحيح كښ وي نو بيا تقدير د في اصح دے او ذكر د في صحيح دے.

و ينصب بعامل مضمر احكام د مفعول فيه: نو دا مفعول فيه به منصوب وي په فعل مقدر سره.

سوال: ماتنه ته اوی روستو و على شريطة التفسير نو د دي عطف په عامل مضمر صحيح نه دے ځکه دا داورم يو شئ دے عامل مضمرا و شريطة التفسير.

جواب: شارح وائی بلا شريطة التفسير حاصل دادے چه عامل مضمر عام دے که على شريطة التفسير وى او كه دلته مراد دادے چه على شريطة التفسير نه وى لكه تاته چا تپوس اوكړو چه متى سرت نو ته ورته اواى چه يوم الجمعة دلته يوم الجمعة منصوب دے بناء بر مفعول فيه دپاره د فعل محذوف چه سرت دے قرينه په نفس حذف باندې نصب ديوم الجمعة دے او په تعين د محذوف باندې قرينه سوال د مسائل دے ماتن اوی و على شريطة شارح اوی و بعامل اشاره کوی چه دا عطف دے په محذوف باندې چه هغه بلا شريطة التفسير دے او ما قبل د معطوف الخ مثال يوم الجمعة صمت فيه يوم الجمعة منصوب دے دپاره د فعل محذوف چه روستو تفسير شوی دے و التفصيل فيه. يعنى دلته هم هغه تعريف او هغه انواع دِما اضمر دي کوم چه هلته په مفعول به کښ وو.

المفعول له

المفعول له هو ما فعل لاجله اجمالى خبرى (١) ربط (٢) لغوى تحقيق (٣) اصطلاحى تعريف (٤) امثله د مفعول له (٥) اقسام د مفعول له (٦) شرط دپاره د نصب د مفعول له (٧) احكام د مفعول له.

ربط: معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د دريو اقسامو د منصوباتو نه نو شروع ئی اوکړه په تفصيل د څلورم قسم د منصوباتو چه مفعول له دے فقال المفعول له درى سوالات راغلل جوابات بالترتيب (١) نفس تفصيل د وجى د ... مر نه کوى (٢) تفصيل دي مقام کښ کوی د وجی د ما مر نه (٣) تفصيل داسی کوی چه يو به تعريف د څلورم قسم د منصوباتو اوکړی په هو ما فعل سره دويم مثال به ورله بيان کړی سره د قسمينو نه مثل ضربت تاديبا و قعدت عن الحرب جبنا سره دريم بيان الاختلاف به ذکر کړی پکښ خلافا للزجاج سره څلورم شرط د نصب به ورله بيان کړی و شرط نصبه سره پنځم احکام به ورله ذکروکړی و انما يجوز حذفها سره ربط لفظى نو هغه درى دي چه مخکښې مفعول کښې ذکر شوی دی.

لغوي تحقيق: دی کښ دری خبری ضروری دي (۱) صيغه دا معلومه ده (۲) معنی نو معنی داده چه هغه چه کری شوی دهغی د وجی نه (۳) مناسبة معلوم دے چه په اصطلاحی تعریف د دې کښ هم دا معنی ده.

هو ما فعل لاجله الخ اصطلاحی تعریف د مفعول له : نو دا مفعول له دال دهغه مدلول دے چه کری شوی وی د وجی د دغه مدلول نه هغه فعل یعني حدث چه مخکښ ذکر وی هو ما فعل په منزله د جنس دے ټولو مفاعیلو ته شامل وو او لاجله فعل مذکور په منزله د فصل دے باقی مانده مفاعیل ټول خارج شول بیا مونږ چه کومه معنی اوکړه نو دي سره دفع د سوال اوشوه هغه داچه دا تعریف د مفعول له یو فرد ته هم نه دے شامل افراد ترې نه ټول خارج دي او د دې نه علاوه چه کوم اشیاء دي نو په هغې باندې تعریف صادق دے حالانکه هغه خو مفعول له نه دي لکه فعل چه د چا د وجی نه کیږی نو هغه مدلول دے او مفعول خو عبارت دے د دال نه د مدلول ن نه دے ځکه دا قسم دے د منصوب او منصوب قسم د معرب دے او معرب قسم د اسم دے او هغه د کلمه او کلمه کښ خو لفظ وو .

جواب: داپه حذف د مضاف سره دے ای اسم ما چه دا دال د هغه مدلول دے او دا قید ئ بیان نه کړو اکتفاء ئ کړی ده په ما قبل باندې بیا ماتن لاجله اوئ او شارح وائی ای نقصد تحصیله غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دي دوه اقسامو د مفعول له ته یو قسم هغه دے چه دا مفعول له علت غائیه وی په اعتبار د تعلق او معلول وی په اعتبار د وجود سره او دا فعل مذکور ورله علت وی او دویم قسم هغه دے چه مفعول له په اعتبار د وجود سره علت وی او دا فعل مذکور ورله معلول وی. مثال د اول دپاره ضربته تادیبا او دویم دپاره قعدت عن الحرب جبنا و خرج د دې قید فائده بیانوی فعل ای حدث غرض د شارح په دې عبارت سره. دفع د سوال ده چه فعل خو عبارت دے ددریو اشیاؤ نه (۱) نسبة الی الفاعل (۲) نسبة الی الزمان (۳) حدث نو د حدث د وجی نه فعل کیږی خو د نسبة او زمان د وجی نه خو نه کیږی نو دې ته نسبة صحیح نه دے .

جواب: ذکر د فعل دے او مراد ترې نه حدث دے یعنی معنی لغوی ترې نه مراد ده او یا د افعل چه ماتن وئیلی دے نو دا بفتح الفاء دے او مصدر غیر مشهور دے نو شارح ورله تفسیر په مشهور کوی مذکور سوال دا مذکور د ذکر نه دے او ذکرکله په ك علم راوی لکه فاسئلواهل الذکر نو دلته ئبه هم ددے معنی دمعلوم وی نو العجبنی التادیب کښي دا

التادیب مفعول له نه دے او فعل خو ئ معلوم دے چه ضرب دے نو تعریف ورته شامل دے او مفعول له دے.

جواب: شارح وائی دا مذکور په معنی د ملفوظ دے او په اعجبنی التادیب کښ فعل ملفوظ نه دے.

سوال: زه درته ښایم چه مفعول له به وی او فعل به مذکور نه وی لکه تاته چا تپوس اوکړو چه لم ضربت زیدا نو تا ورته اوی چه تادیبا نو دا تادیبا مفعول له دے او فعل ورله مذکور نه دے.

جواب: شارح وائی حقیقة او حکما یعنی دا مذکور چه په معنی د ملفوظ دے دا عام دے که حقیقة وی لکه ضربته تادیبا او که حکما وی لکه دا تادیبا مثال مذکور شو دلته فعل حکما ذکر دے ځکه دا جواب د سوال د سائل دے او المذکور فی السوال کالمعاد فی الجواب و قوله مذکور غرض د شارح په دې عبارت سره د مذکور قید فائده بیانوی چه په دې سره احتراز اوشو د مثل د اعجبنی التادیب نه ځکه د تادیب دپاره چه کوم فعل دے هغه نه دے ذکر فان قلت دا اعتراض دے چه تا اوی چه په دې مذکور قید سره احتراز دے د مثل د اعجبنی التادیب نه ځکه فعل ورسره نه دے ذکر نو دا خو مذکور دے په څه نه څه درجه او ترکیب کښ لکه ضربت زیدا شو.

جواب: شارح وائی قلنا حاصل دادے چه مونږ د مفعول له سره یو ځائے وایو چه یو ځائے به ذکر وی او دا جدا دی.

فان قلت سوال دے زه درته ښایم چه دواړه به یو ځائے ذکر وی لکه ضربته تادیبا نو تادیب د فعل سره ذکر دے اګرچه په اعجبنی التادیب کښ یو ځائے ورسره نه دے قلنا جواب کوی چه زمونږ مراد دادے چه دا دواړه به په هغه ترکیب کښ وی چه کوم ترکیب کښ دا مفعول له دے نو اوس التادیب سره په اعجبنی التادیب کښ فعل نه دے ذکر و پردې: سوال زه درته ښایم چه دې سره به یو ځائے په یو ترکیب کښ ذکر وی او بیا به هم ورته تاسو مفعول له نه وائی لکه اعجبنی التادیب الذی ضربت لاجله دلته التادیب سره دفعل ذکر دے او بیا هم تاسو ورته مفعول له نه وائی.

جواب: شارح کوی په اللهم سره خو کوم جواب چه په اللهم سره ذکر وی نو اشاره پکښ شوې د سوال ته وی بیا مشائخ د دې معنی داسې کوی چه اللهم لا مخلص من هذا الاعتراض في وقت من الاوقات فانه صعب جدا الاوقت ان یراد بذکره الخ حاصل دادے چه دې مفعول له سره دا فعل داسې ذکر وی چه دا فعل عمل اوکړی دې کښ دلته فعل ذکر دے خو په داسې طریقه نه دے ذکر چه په مفعول له کښ عمل اوکړی، بلکه دا التادیب فاعل دے د اعجبنی دپاره او د ضربت دپاره د التادیب معمول نه دے بلکه دا اعجبنی دے،

امثله او اقسام د مفعول له په غونډه سره: مثل ضربته الخ نو یو قسم هغه مفعول له دے چه دا مفعول له علت غائی وی په اعتبار د تعلق سره او په اعتبار د وجود سره دا معلول وی فعل علت وی او دویم قسم هغه دے چه په اعتبار د وجود سره دا مفعول له علت وی او دا فعل ورله معلول وی شارح وائی مثال لما فعل غرض د شارح په دې عبارت سره یو تعین د ممثل کوی دپاره د مثال دویم تطبیق د مثال کوی د ممثل سره او دریم دفع د سوال دہ چه یو مثال کافی دے کنه؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وی په تعدد د ممثلاتو باندې دوه امثله دپاره د دوه و اقسامو د مفعول له دې لکه مونږه هغه بیان کړل نو اول مثال دپاره د اول قسم دے او دویم د دویم دپاره دے فان التادیب انما یحصل بالضرب و یترتب علیه.

سوال: تا اوئ چه دا تادیب په دې ضربته تادیبا کښ په دې ضرب باندې مرتب دے حالانکه دا خبره صحیح نه ده ځکه په درمیان د مرتب او مرتب علیه کښ خو مغائرة وی دلته خو مغائرة نشته دے بلکه دا ضرب او تادیب یو شئ دے نو دا ترتب صحیح نه دے۔

جواب: دا تادیب مونږ وایو خو داپه اعتبار د تضمین سره چه دا متضمن دے تادب لره او تادب مرتب دے په ضرب باندې نو اول ضرب اوشی او بیا تادب راځی (ادب حاصلول)

سوال: نو مثال داسې پکار دے چه ضربته تادبا

جواب: داسې ځکه نه وائی چه دا مفعول له دپاره چه کوم شرائط دې نو یو شرط پکښ دادے چه زمانه د فعل معلل او د مفعول له به یوه وی او که تادب وئیلې شی نو دا خو د ضرب نه روستوراژی زمانه نه یوه کیدله۔

سوال: نو لحاظ خو د شرط کوی خو مغائرة نه پاتی کیږی په درمیان د مرتب او مرتب علیه کښې.

جواب: دا ترتب د تادب وایو کنه تضمینا نه ترتب د تادیبا و قعدت عن الحرب ماتن مثال بیانوی او شارح ورله تطبیق کوی.

خلافا للزجاج غرض د ماتن خو بیان الاختلاف ذکر کول دې په دې خبره کښې چه ایا دا مفعول له مستقل قسم دے د منصوباتو نه او کنه نو جمهور وائی چه دا مستقل قسم دے د منصوباتو نه او زجاج صیب وائی چه دا مستقل قسم نه دے بلکه دا مفعول مطلق من غیر لفظه دے. شارح د خلافا دپاره علت د نصب بیانوی نو وای دا مفعول مطلق دے.

سوال: مفعول مطلق کښې خو اشتمال شرط دے دلته خو مخکښې فعل نه دے ذکر چه په دې باندې مشتمل شی.

جواب: شارح کوی چه دا مذکور فعل عام دے که حقیقة ذکر وی او که حکما یعنی محذوف وی. نو هغه دادے چه یخالف خلافا بیا دې یخالف کښې ضمیر راجع دے القائل ته او قائل نه مراد جمهور دې نو معنی دا شوه چه دا قائل چه جمهور دې دوی خلاف کوی په خلاف سره داسی خلاف چه ظاهر دے دپاره د زجاج صیب .

سوال: بیا دلته د خلاف نسبة دې جمهور وته اوشو او قانون دادے چه د خلاف نسبة چه چا ته اوشی نو دهغه قول خلاف الاصل وی او دې مخالف عنه قول اصل وی اوس دلته دا معلومه شوه چه د جمهورو قول خلاف الاصل دے او د زجاج قول اصل دے حالانکه دا ناروا ده چه جمهور وی نو قول به ئې خلاف الاصل نه وی ځکه دالوے قوم دے او لا اجتمع امتی علی ضلالة او کما قالؒ:روایت دے.

جواب: دا اعتراض به هغه وخت وی چه یخالف صیغه د معلوم وی حالانکه دا صیغه د مجهول ده نو معنی شوه چه د دې قائل نه خلاف کړی شوی دے قائل خلاف نه دے کړے (باسولی، خادمة الکافیه، کابلی)

التنویر علی هذا الجواب منهم :. دا جواب بنفسه صحیح دے خو که دا یخالف مونږ صیغه د مجهول کړو نو دا روستو خلافا ورسره نه لګی ځکه چه یخالف مجهول وی نو دا مصدر به هم مجهول وی نو یخالف کښې چه چاته ضمیر راجع وی نو دغه شان به په خلافا کښې هم وی نو

یخالف مجهول کښې نائب فاعل دا قائل دے چه جمهور دي نو په خلافا کښې هم داسې پکار ده حالانکه روستو ورله ماتن اسم ظاهر ذکر کړی دے چه هغه زجاج دے نو په یخالف کښې ضمیر یو ځوك دے او په خلافا کښې بل ځوك دے نو دا د قانون نه خلاف دے.

قول عصام تلمیذ الجامی : د جامی صیب دا دوه شاګردان دي یو عصام صیب او دویم عبد الغفور لاری دے دا دواړه ښه تکړه خلق دي نو په دې کښې دا عصام صیب وائي چه دا صیغه د معلوم ده د مجهول نه ده ځکه د قانون خلاف راځي نو وای حقه خبره داده چه دلته استاذ جی خطاء دے چه نسبة د خلاف جمهور نه کوي. نو بیا پکار داسې وه چه یخالف الزجاج هذا القائل خلافا چه خلاف کوي دا زجاج د دي جمهورونه په داسې خلاف سره چه ظاهر دے زجاج لره .

سوال: دلته په خلافا للزجاج کښې شارح ظاهرا فعل خاص راوباسو حالانکه په داسې مقاماتو کښې خو فعل عام مقدر وی د اولی د ظاهر نه خلاف اوشو؟

جواب: عبد الحکیم سیالکوټی صیب دا خبره کوي چه دلته یوه نکتة ده هغه داچه رضی صیب یو قانون پاس کړی دے هغه داچه کله مفعول مطلق استعمال شي په طریقه د اضافة یا په واسطه د"لام"سره خپل فاعل او مفعول ته نو د دې مفعول مطلق نه عامل ناصب حذف کول واجب دي لکه سبحان الله او حمدا له مګر که دا مفعول مطلق للنوع وو نو بیا حذف کول واجب نه دي لکه مکروا مکرهم او دسعی لها سعیها اوس دلته شارح دا خبره کوي چه دلته دا مفعول مطلق مستعمل دے په"لام"سره چه نسبت ئے شوے خپل فاعل ته خو دا مفعول مطلق دلته للنوع دے هغه دا چه یو خلاف ظاهر وی او دویم خلاف غیر ظاهر وی. نو د دې عامل ناصبه حذف کول واجب نه دي ځکه للنوع دے نو داظاهرا چه مقدر ده ذکرکړو نو ددے دپاره چه دلالة علی النوع اوکړی.

"مصدر من غیر لفظه" غرض د شارح دفع د سوال ده چه مفعول خو هغه وی چه مخکښې ترې نه فعل ذکر وی او دا فعل په دې باندې مشتمل وی د قبیلې د اشتمال د کل نه په جزء باندې حالانکه دلته په ضربت تادیبا کښې دا تادیبا مصدر دے نو مفعول مطلق نه دے ځکه ضربت په دې باندې نه دے مشتمل د قبیلې د اشتمال د کل نه په جزء.

جواب: دا مفعول مطلق دے خو من غیر لفظه دے. فالمعنی عنده فی المثالین دلته نه د زجاج صیب هغه دوه تاویلات ذکر کوی اول تاویل هغه دادے چه د مصدر دپاره کوم فعل دے

نو دا حذف دے او دا کوم ذکر دے چه نصب ئی ورکړی دے نو دا متعلقاتو د هغه فعل نه دے نو په ضربته تادیبا کښ به ادبته بالضرب تادیبا شی او په قعدت عن الحرب جبنا کښ به جنت فی القعود عن الحرب جبنا.

دویم تاویل هغه دادے چه اصل کښ مفعول.مطلق حذف دے او چه کوم ذکر دے نو دهغی دپاره مضاف الیه دے نو دابه ضربته ضرب تادیب او قعدت عن الحرب قعود جبن شی. نو د جواب حاصل داشو چه دا مفعول مطلق مجازی دے چه اشتمال پکښ شرط نه دے.

"الفرق بین المثالین علی التوجیه الثانی": په ضربته ضرب تادیب کښ اضافة د مسبب شوی دے سبب ته او دویم مثال کښ اضافة د سبب مسبب ته یعنی عکس د اول .

سوال: په دې دویم تاویل باندې خو بیا دا مصدر مفعول مطلق من لفظه شو ته څنګه ورته من غیر لفظه وائی؟

جواب: مونږ چه په دې کښ دا تاویل اوکړو نو دا مقصد نه دے چه دا داسې جوړ شو بلکه دا ورله معنی ده اصل هم هغه دے بدل شوی نه دے بلکه دا ورله معنی ده څکه خو شارح فالمعنی عنده وائی. (محشی عبد الرحمان صیب)

ترجمة الزجاج دا لوی نحوی دے په بغداد کښ تیر دے او دا په اکابرو کښ دے په دې علم کښ پوره مهارت لری او زجاج ورته څکه وائی چه د شیشو کاروبار به ئی کوو او وفات دے په ورځ د جمعې مبارکه باندې ۳۱۹ھ کښ.

و رد قول الزجاج غرض د شارح رد کول دې په زجاج باندې حاصل د دې دادے چه تاویل کول په یوه نوع کښ نه داخلوی دې لره په حقیقة د بله نوع کښ نو دلته ضربته تادیبا په خپل حقیقة باقی دے اګر که ډیر تاویلات پکښ اوشی مثلا دوی د حال نه په ظرف سره تاویل کوی نو مقصد دانه چه دا حال داخل شو په حقیقة د ظرف کښ لکه جاءنی زید راکبا ای وقت الرکوب

وشرط نصبه دلته نه شرط د نصب دپاره مفعول له بیانوی شارح وائی ای شرط انتصاب المفعول له تعین د مرجع کوی لا شرط کون الاسم غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کوی اختلاف ته کوم چه په درمیان د مصنف او د قوم کښ دے هغه داچه نور نحاة شرط دپاره د

مفعول له كيدلو تقدير دلام وائي او ماتن شرط د نصب د مفعول له دپاره تقدير دلام وائي نو ثمره داده چه كوم اسم چه"لام" پكښ ظاهر وى نو عند الماتن مفعول له دے او د قوم په نزد باندېرمفعول له نه دے او دغه شان دماتن په نزد مفعول له دوه قسمه دے يو داچه منصوب وى په تقدير د كلام سره دويم هغه چه مجرور وى په ذكر د"لام"فالسمن و الاكرام دا اوس تفريع كوى په دې ما قبل باندې تقدير اللام دلته دوه سوالات دي (۱) تقدير د"لام"ولى شرط دے؟ (۲) اختصاص دلام ولى اوشو حالانكه د علية دپاره خو من او باء او ق هم راځى.

جواب: عن الاول چه لانها كه ذكر كوم نو بيا خو هغه جر وركوى منصوب نه پاتې كيږى.

جواب: عن الثانى: فلام حاصل دادے چه دا تخصيص دلام ځكه اوشو چه دالام په تعليلاتو كښ غالب دے نو چه مونږه دالام مقدر كړو نو دسمدست ذهن په طرف دهغى باندې صيرورة كوى د وجې د غلبې د استعمال د دې نه په تعليلاتو د افعالو كښ په خلاف د هغه نورو حروفو كښ چه دپاره د تعليلاتو راځى نوكه هغه مونږ مقدر كړو نو سمدست ذهن صيرورة نه كوى په طرف د دې باندې د وجې د عدم غلبه د استعمال د دې نه په تعليلاتو د افعالو كښ.

كقوله تعالى دا امثله بيانوى دپاره د من او باء او ق چه داهم په مفعول له باندې داخليږى و لما كان تقدير اللام غرض د شارح په د ى عبارت سره يو تمهيد دے روستو عبارت ته دويم دهغې ربط دے دما قبل سره دريم دفع ديو اعتراض ده چه واردږيږى په ماتن باندې.

سوال: دادے چه يو قانون دے چه كله يو شئ ذكر شى په اسم ظاهر سره نو بيا دوباره چه هغه ذكر كيږى نو په ضمير سره به وى اوس دلته دا تقدير او دا حذف خو يو شئ دے نو مخكښ ماتن اوى چه تقدير اللام او دلته وائى يجوز حذفها نو صرف يجوز پكار وو ضمير به پكښ راجع شوى وو تقدير ته بيا ۍ دوباره ولى په اسم ظاهر سره ذكر كوى.

جواب: دا اعتراض بناء دے په دې خبره باندې چه تقدير او حذف يو شئ دے حالانكه دې دواړو كښې فرق دے په دې شان سره چه تقدير عبارة دے د سقوط من اللفظ مع الابقاء ۍ النية نه او حذف عبارة دے د سقوط من اللفظ مع النية نه نو دې وجې مونږ دا ذكر كړو او بله وجه ورله هم كيدلے شى هغه داچه كه مونږ ضمير راجع كړے وى تقدير ته نو بيا به چا دا وهم كړے وے چه دا شروط اتية دپاره د سقوط من اللفظ او مع الابقاء ۍ النية دواړو دپاره دي حالانكه دا شروط اتية دپاره د سقوط من اللفظ فقط دي نه دپاره د ابقاء ۍ النية.

سوال: نو څه وجه ده چه دا شروط دپاره د سقوط من اللفظ دي فقط او ابقاء في النية كښ دي شروطو ته حاجة نشته دے جواب شارح کړے دے وکان الاصل ابقاءها سره حاصل ئ داد‌ے چه دلته تلفظ كول اصل دي او عدم تلفظ كول خلاف الاصل دي نو ابقاء في النية اصل ده او سقوط من اللفظ خلاف الاصل ده او قانون داد‌ے چه علل او شروط دپاره د خلاف الاصل بيانيږي چه طالب علم سبق وائي نو د علت تپوس به ترى نه نه شي كيدے خو كه بازار ته ځي نو خلاف الاصل كوى تپوس به كيږي .

احكام د مفعول له:و انما يجوز حذفها دا احكام بيانوى ولم يكتف بارجاع غرض د شارح په دي عبارت سره اشاره كوى چه جواز دلته په مرتبه د امكان خاص كښ دے يعني دي كښ استواء الامرين ده ذكر د"لام"هم ضرورى نه دے او حذف هم ضرورى نه دے اذا كان فعلا دي خائے نه دپاره د تقدير د"لام"درى شرائط بيانوى نو اول داچه دا مفعول له به حدث وى ذات به نه وى احترازا عما سره د دي قيد فائده بيانوى چه په دي سره احتراز اوشو د مثل د دي تركيب نه چه جئتك للسمن دلته سمن (گهى)ذات دے نو"لام"به ذكر وى دويم لفاعل الفعل المعلل به يعني د فعل معلل او د دي مفعول له فاعل به يو وى احتراز د دي قيدفائده بيانوى چه دي سره احتراز اوشو د مثل د جئتك لمجيئك اياى نه څكه دلته د فعل فاعل متكلم دے او د مفعول له دپاره مخاطب دے نو دلته به هم"لام"ذكر وى دريم و مقارنا له يعني زمانه د فعل معلل او د مفعول له به يو وى بان يتحد زمان غرض د شارح په دي عبارت سره درى اقسام د مقارنة بيانوى قسم اول د دوارو زمانه د وجود يو شان مقارنه وى لكه ضربته تاديبا دلته د دوارو زمانه يوه ده په دي شان سره چه دا ضرب او تاديب يو دے خو چه داپه اعتبار د صدور سره د فاعل نه شي نو ضرب دے او كه په اعتبار د وقوع سره شي په مفعول باندي نو تاديب دے.

سوال: دا مفعول له مرتب وى په دي فعل باندي هغه مرتب عليه دے او قانون داد‌ے چه دي درميان كښ به مغائرة وى دلته خو مغائرة ختم دے .

جواب: شارح وائى اذ لا مغائرة بينهما الا بالاعتبار حاصل داد‌ے چه دا مغائرة عام دے كه حقيقى او ذاتى وى او يا اعتبارى وى دلته دا دويم قسم دے چه مغائرة اعتبارى دے په دي شان سره چه دا ضرب په حيثية د الم (درد) سره شي د فاعل نه نو ضرب دے او كه داپه حيثية د حصول د ښه اخلاقو شي نو دا تاديب دے بالفاظ ديگر كه داپه اعتبار د صدور وى نو ضرب دے او كه په اعتبار د وقوع وى نو دا بيا تاديب دے نو دا فرق شو پكښ . قسم ثاني او

يكون الخ يعنى دا زمانه د فعل معلل بعض وى د زمانه د مفعول له نه لكه قعدت عن الحرب جبنا نو دا جبن خو دائمى وى او دا قعود عن الحرب چه دے نو د دي زمانه دهغى نه جزء دے قسم ثالث داپه عكس د دي دويم سره دے چه زمانه د مفعول له بعض وى د فعل معلل د زمانه نه لكه شهدت الحرب ايقاعا للصلح بين الفرقين دلته دا شهور الى الحرب فعل معلل او د دي زمانه ډيره ده ځكه دا سلح په دي كښ كله كله وى نو د شهود الحرب د زمانه د ايقاع الصلح زمانه بعض دے او جزء دے احتراز به دا د دي قيد فائده ده چه په دي سره احتراز اوشو د مثل د اكرمتك اليوم لو عدى بذلك امس ځكه دلته زمانه مقارنه نه ده نو ذكر دلام به وى. و انما اشترط غرض د شارح په دي عبارت سره وجه د اشتراط د دي شرائطو بيانوى.

حاصل دادے چه په اشتراط د دي شرائطو سره دا مفعول له مشابه شو د مصدر سره په دي شان سره چه مصدر هم حدث وى او فاعل د مصدر هم د دغه فعل فاعل وى او زمانه د فعل او د مصدر يوه وى. نو هلته نسبة د فعل وو دي مصدر ته بلا واسطه نو دلته به هم نسبة د فعل وى دي مفعول له ته بلا واسطه وى بخلاف بيا د دي مشابهة كم شى نوځكه حكم به ورله نه وى.

المفعول معه

المفعول معه اجمالى خبرى . (۱) ربط (۲) تشريح د عنوان (۳) اصطلاحى تعريف د مفعول معه (٤) تفصيل د عامل د مفعول معه (٥) وضاحة بالامثلة.

ربط: ربط معنوى دادے چه كله فارغ شو مصنف د تفصيل د خلورو اقسامو د منصوباتو نه نو شروع ئ اوكړه په تفصيل د پنځم قسم كښ فقال المفعول معه درى سوالات راغلل جوابات بالترتيب دادى چه (۱) نفس تفصيل كوى د ما مر نه (۲) اوپه دي مقام كښ تفصيل كوى د وجى د ما مر نه (۳) تفصيل داسى كوى چه يو به تعين د قسم خامس اوكړى په المفعول معه سره دويم دهغه تعريف به اوكړى په هو مذكور سره دريم تفصيل د عامل به ورله اوكړى د لفظا او معنى سره خلورم وضاحة بالامثله به اوكړى نحو جئت انا و زيدا وغيره سره.

ربط لفظى (۱) المفعول معه مبتداء ده او هو ما الخ خبر دے (۲) المفعول معه مبتداء موخره ده دپاره د خبر محذوف چه منها دے په اعتبار د متعلق سره (۳) دا المفعول معه خبر محذوف المضاف دے دپاره د مبتداء محذوف اى هذا بحث المفعول معه بيا مبتداء حذف

شوه او مضاف هم حذف شو او مضاف الیه دهغی قائم مقام شو نو دهغی په اعراب باندي معرب شو نورفع نیابة ده .

تشرح د عنوان:دی کښ يو صيغه د مفعول معه دويم معنی لغوی دريم وجه تسمية څلورم ترکیب د معه سره دا المفعول نه دا دری خبری شوی دي او دا څلورمه خبره شارح بیانوی نو شارح وائی: "الذی فعل لصاحبته" غرض د شارح دا خبره کوی چه المفعول کښ دا الف"لام"اسمی دے نو بیا د دي نه تعبير په الذی سره کیږی شو او د دي مفعول نه په فعل مجهول سره او د معه معنی ئ هم اوکړه چه مصاحبة دے بیا دا مصاحبة چه دے نو دا دوه قسمه دے يو په صدور کښ دويم په وقوع کښ که چرته دا مخکښ معمول فاعل وو او روستو ترې نه مفعول معه راغلی او دلته مصاحبة دے په صدور کښ لکه استوی الماء و الخشبة او که مخکښ معمول مفعول وی او روستو مفعول معه وی نو بیا دا مصاحبة دے په وقوع کښ لکه کفاك و زيدا درهم شو. فقوله غرض د شارح په دي عبارت سره ترکیب کول دي په معه کښ نو دي کښ دوه ترکيبه دي يو داچه دا مع مضاف او ضمير مضاف اليه چه راجع دے هغه الف"لام"موصول ته مضاف او مضاف اليه بيا نائب فاعل شو دپاره د المفعول او دا ترکیب په مفعول به او مفعول فيه او مفعول له کښ هم دے.

سوال: تا دلته دا معه نائب فاعل کړو او نائب فاعل خو مرفوع وی حالانکه دا معه خو لازم النصب ے ولی چه ظرف دے.

جواب: شارح وائی و اعتذر حاصل دادے چه او دا خبره ده چه دا معه لازم النصب دے او دا اعراب پکښ اکثر دے نو اګرچه دلته دا مفعول مالم يسم فاعله واقع شو چه دا مرفوع وی خو د اکثرية دهغه خپل اعراب د وجی نه به په خپل حال برقرار پریښودلے شی او دا صرف په د ی مفعول معه کښ نه بلکه په هر داسی مقام کښ.

سوال: نو داسی چرته نظير او مثال شته دے.

جواب: او جی د کلام د فصيح نه درته ښايم قال تعالی لقد تقطع بينكم دلته تقطع فعل دے او بين فاعل دے او دالازم النصب دے خودا اعراب د نصب پکښ اکثر دے نو اګرچه فاعل دے خو په خپل حال باقی دے منصوب دے و فی بعض الحواشی غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه دا ترکيب مو ولی مقدم کړو په دي دويم ترکيب باندي او بيا دا دويم ترکيب مو ولی په قبل سره مصدر کړو.

جواب: دا ځکه چه دا اول ترکیب بهتر دے او ډیر ښه دے وجه داده چه دا خو یکښ موافقة دے د قرآن سره دویم دې کښ اجتناب دے د معه اوپلاتو نه چه په دې دویم ترکیب کښ دی۔

و قیل دا دویم ترکیب دے حاصل دادے چه د المفعول دپاره نائب فاعل ضمیر مستتر د دې دے چه راجع دے مصدر د دې ته ځکه هر مشتق په خپله مبدا باندې مشتمل وی او دا معه ظرف مضاف دے او ضمیر مجرور مضاف راجع دے موصول ته دا متعلق دے نو دا د قبیلی د قد حیل بین العیر الخ دلته په حیل کښ ضمیر راجع دے مصدر خپل ته چه حیلوله دہ معنی داده چه واقع شوه حیلوله په درمیان د خر او د هغه د ختلو کښ لان بین اللزوم سره د دې ترکیب دپاره وجه بیانوی چه لازم النصب چرته قائم مقام کیدلے شی د فاعل

اصطلاحی تعریف د مفعول معه:نو دا ماتن کوی حاصل ئی دادے چه دپاره د تحقق د مفعول معه دری خبری دی یو دابه یو اسم وی مذکور بعد الواو دویم دا"واو" به په معنی د مع سره وی دریم دا"واو" به دپاره د مصاحبة وی د دې اسم د معمول د فعل سره په صدور کښ او یا په وقوع کښ احتراز د دې قید فائده دہ۔

"لمصاحبته معمول فعل" دا عبارت اصل کښ "لمصاحبة معمول فعل" وو بیا شارح دا لمصاحبة مضاف او ګرځو ضمیر ته نو لمصاحبته شو اوس دې عبارت کښ دوه ترکیبه دې اول ترکیب دا مصاحبة مضاف دے معمول ته او دا ورله د...... معمول به ورله حذف دے نو دلته دا معمول لفظا مجرور دے خو محلا دا مرفوع دے بیا هغه مفعول به چه حذف دے هغه هم دا ضمیر دے چه راجع دے مفعول معه ته نو په دې اعتبار به معنی شی چه دا مفعول معه هغه اسم دہ چه ذکر شوی وی روستو د"واو" نه او ذکر وی دپاره د مصاحبة د معمول فعل د مفعول معه سره ترکیب ثانی د المصاحبة مصدر مضاف دے مفعول ته چه دا معمول فعل دے او فاعل ورله حذف دے چه هغه هم دا ضمیر دے چه راجع دے مفعول معه ته او په دې اعتبار سره به دا معمول لفظا مجرور وی او محلا به دا منصوب وی اوس معنی به داشی چه دا مفعول معه هغه اسم دے چه مذکور بعد الواو وی او دپاره د مصاحبة دې وی د معمول د فعل سره شارح صیب دا ترکیب ثانی ذکر کړی دے۔

"ای یکون ذکره" غرض د شارح په دې عبارت سره حاصل د معنی ذکر کوی۔

﴿و افادته اياها﴾ غرض د شارح په دې عبارت سره تفسیرد مصاحبة کوی چه د مصاحبة هغه معنی نه ده چه کومه مستعمله ده په عرف کښ بلکه د مصاحبة معنی داده چه دې مخکښ فعل د کومې معنی فائده ورکړی ده په خپل معمول کښ نو هغه به په دې مفعول معه کښ هم وی او هغه داده چه که دا معمول د فعل نه صادر وی نو دا مفعول معه به هم صادر وی او که دا مخکښ معمول داسې وو چه دا فعل پرې واقع وو نو دا به په مفعول معه کښ هم مراده وی. و افادته اياها او د وجې د فائده کولو د مفعول معه نه دې مصاحبة لره مثال دپاره د صدور استوی الماء و الخشبة دا دواړه د فعل نه صادر دې بیا دا خلق هغه مقام کښ وائی چه کله بارانونه د سیرلے زیات وی او خلق دا مقدار د اوبو معلوموی په يو لرګی باندې نو اوبه چه به د لرګی سره برابر شوی نو خلقو به دا اوی مثال دپاره د وقوع کفاك و زيدا درهم.

و سواء کان دا اوس تعمیم کوی په عامل کښ پس د فراغة د تعمیم نه په معمول کښ دویم د لفظا او معنی منصوب دې نو علت د نصب ورله هم شارح بیانوی نو دا بناء بر حال هم منصوب کیدلے شی چه د مضاف الیه د معمول نه حال شی .

سوال: دلته خو ذو الحال نکره ده او قانون دادے چه کله ذو الحال نکره وی نو تقدیم د حال پرې واجب دے.

جواب: دا هغه وخت کښ چه دا ذو الحال منصوب وی دلته خو دا ذو الحال مجرور دے نو تقديم د حال پرې واجب نه دے.

او شارح دا لفظا او معنی منصوب ګرځوی په خبر کیدلو سره دکان محذوفه نه ای لفظيا دا دفع د سوال ده چه تا اوی دا لفظا او معنی خبر د کان دې نو خبر د کان خو حمل وی په اسم دکان باندې دلته حمل نه دے صحیح ولې چه دا وصف دے او اسم ذات نو حمل د ذات خو په وصف نا روا دے.

جواب: ای لفظيا و معنويا دا یاء نسبتیه ده پکښ نو دا اسم منسوب دې په حکم د مشتق کښ او دا ذات مع الوصف دې نو حمل صحیح دے بیا د لفظی مثال تیر دے او دپاره د معنوی مالك و زیدا مثال دے اصل کښ ما تصنع دے نو په مالك کښ خو تصنع نشته دے خو د لك نه معلومیږی ولې جار مجرور متعلق غواړی و المراد بمصاحبة غرض د شارح په دې

عبارت سره دفع د سوال ده چه دا تعريف د مفعول معه صحيح نه دے ځکه دا مانع نه دے د دخول د غير نه داخليږی په دې کښ معطوف په دې ترکيب کښ چه جاءنی زيد و عمرو دے دلته عمرو يو اسم دے ذکر دے بعد الواو او پکښ معنی د مصاحبة هم شته دے د زيد او عمرو دواړو نه مجئ صادر ده حالانکه دې عمرو ته خلق مفعول معه نه وائی بلکه معطوف ورته وائی علاوه لادا وايو چه که دا مفعول معه شی نو هغه منصوب وی او دا خو منصوب نه دے نو شارح جواب کوی. حاصل دادے چه صرف دا"واو" نه روسته ذکر کيدل نه دې کافی بلکه ملاحظة د شرط ورسره هم ضروری دے هيا شرط د مفعول معه دپاره دادے چه دا مفعول معه به د دغه معمول د فعل سره په زمان او مکان کښ هم شريك وی او دا مثال چه کوم په اعتراض کښ مذکور دے نو دې کښ شرکة په زمان او مکان کښ ضروری نه دے نو دا مفعول معه نه دے مثال دپاره د وحدة د زمان لکه سرت و زيدا دلته د سير زمانه يوه ده او مثال دپاره د وحدة د مکان لو ترکت الناقة و فصيلتها لرضعتها خو داچه دا دواړه په يو مکان کښ وی.

واعلم ان مذهب غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په يقظة د مقام باندې دويم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په بيان الاختلاف. دريم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په دفع د سوال باندې چه تا مخکښ اوی چه دا مفعول معه به واقع وی پس د معمول د فعل نه او دا فعل چه عامل دے پکښ نو دا بيا عام دے لفظا وی او که معنی وی نو اطلاق په دې فعل باندې دعامل صحيح نه دے ځکه چه مونږ خو اوريدلی دي چه عامل په دې مفعول معه کښ دا"واو"دے فاعل نه دے نو شارح جواب کوی چه تا خبره د بل چا د مذهب اوريدلی ده او زمونږ کلام بناء دے په مذهب د جمهور باندې په دې کښ ټول مذاهب پنځه دې مذهب اول داشو چه جمهور دې مذهب ثانی د کوفيانو دے چه عامل د دوی په نزد باندې په مفعول معه کښ معنی د تخالف ده يعنی معنوی دے پکښ مذهب ثالث د عبد القاهر پير هدی دے چه دهغه په نزد عامل دا"واو" دے مذهب رابع د زجاج دے چه وای عامل پکښ حذف دے او دا"واو" د هغی قائم مقام دے مذهب خامس د اخفش دے چه وای دا نصب د ظرف دے بتوسط الواو التی بمعنی مع دا دفع د سوال ده چه کله عامل فعل دے نو دا"واو" څه کوی؟

جواب: او شو چه دا دپاره د دې چه دلالت اوکړی په معية باندې و انما وضعوا داهم دفع د سوال ده چه لفظ مع راوړه کنه؟

جواب: دا"واو" مختصر دے او مع کښ اوږدوالی دے او داع د حروف حلقی نه دے اداء ئې مشکله ده و اصلها داهم دفع د سوال ده چه دال په معیة باندې خو دواو نه علاوه نور حروف هم دي لکه فا او ثم شو نو دهغی نه ولی نه راوړی؟

جواب: دا تخصیص د"واو" می خکه اوکړو چه دا"واو" اصل کښ"واو" عطف دے"واو عطف راځی دپاره د جمع مطلقا یعنی که مرتب وی یانه او که مع التراخی وی یا نه په خلاف د فاء چه پکښ ترتیب شرط دے او په خلاف د ثم کښ چه پکښ تراخی شرط ده اوس دلته زمونږ مراد جمعیة دے فقط او دهغی دپاره دا"واو" مناسب دے او کافی دے. فان کان الفعل غرض د شارح تفصیل کوی د دغه عامل لفظی او معنوی کوم چه مخکښ د لفظا او معنی سره ذکر شو او دویم دهغی احکام بیانوی او دریم امثله هم بیانوی نو دا څلورمه او پنځمه خبره ده چه تفصیل د عامل او وضاحة بالامثله شارح وائی وجد اشاره کوی چه داکان تامه دے په معنی د وجد سره او دا الفعل ورله فاعل دے نو دا لفظا به منصوب وی بناء بر تمیز او یا بنا بر حال "ای ما یدل علی الحدث" غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا حکم چه جواز الوجهین دے دا خو په شبه فعل کښ هم راځی نو دا تخصیص د فعل ولی کوی؟

جواب: چه مراد ما یدل علی الحدث دے او دال علی الحدث شبه فعل هم دے و جاء العطف ای لم یجب ولم یمتنع غرض د شارح په دې عبارت سره تعین کوی چه دلته دا جواز په مرتبه د امکان خاص کښ دے.

لږ تفصیل داسی دے چه دا امکان په دوه قسمه دے یو امکان عام چه سلب د ضرورة شوی وی د جانب مخالف نه دویم امکان خاص چه سلب د ضرورة شوی وی د جانبین نه او بیا تعبیر د امکان خاص نه په لم یجب او لم یمتنع سره کیږی او د امکان عام بیا په دوه قسمه دے یو مقید بجانب الوجود چه د هغی عدم ضروری نه وی او وجود کښ ضروری او نه ضروری دواړه کیدلے شی او د دې نه تعبیر په لم یمتنع سره کیدلے شی دویم امکان عام مقید بجانب العدم دے چه دهغی وجود ضروری نه دے باقی عدم ضروری او نه ضروری دواړه کیدلے شی او د دې نه تعبیر په لم یجب سره کیدلے شی.

اوس دلته شارح لم یجب او لم یمتنع دواړه اوږ نو دا اشاره شوه چه دلته مراد د جواز نه هغه دے چه په مرتبه د امکان خاص کښ وی.

او دا دفع د سوال هم شوه چه ستا مراد به دلته د جواز نه په مرتبه د امکان عام کښې وی نو ضربت زيدا و عمروا کښې هم عطف جائز دے په دې معنی سره چه ممتنع نه دے حالانکه وجهان پکښې نه دې جائز نو شارح جواب اوکړو چه امکان خاص مراد دے نه امکان عام چه دا اعتراض دې وارد شي "فالوجهان اى العطف و النصب على المفعولية جائزان" غرض د شارح په دې عبارت سره تعين د وجهان کوی او دويم دفع د سوال دے چه فالوجهان خو جزاء ده او جزاء جمله وی دا خو مفرد دے نو جواب شارح اوکړو چه دا مبتداء ده او خبر ورله حذف دے چه جائزان دے بيا مبتداء او خبر جمله اسميه شوه نو شارح دا ترکيب جمله اسميه گرځولی ده او داهم جائز ده چه جمله فعليه شي نو فيجوز الوجهان به شي نحو مثال جئت انا و زيد و زيدا او س دلته دا زيدا مفعول معه دے او پکښې عطف جائز دے ځکه تاکيد ئې په منفصل بانديې شوی دے نو فلك الاختيار که دا"واو" د مفعول معه شي او دا منصوب شي او که دا"واو" عاطفه شي دا مرفوع شي بناء بر عطف بانديې.

و الا که فعل لفظی نه وی معنوی وو او بيا پکښې عطف هم جائز نه وو نو بيا پکښې نصب متعين دے بناء بر مفعول معه اى وان لم يجز العطف غرض د شارح معنی د الا کوی بل يمتنع غرض د شارح په دې عبارت سره تعين د معنی مراد کول دې ځکه عدم جواز عطف دوه قسمه دے يو هغه چه مقيد بجانب الوجود وی او دويم هغه چه مقيد بجانب العدم وی نو شارح چه يمتنع اوی نو تعين ئې اوکړو چه مراد امکان عام مقيد بجانب العدم دے مقصد دا شو چه دا عطف ضروری نه دے باقی عدم د عطف نو دا دوارهٔ کيدلے شي دلته عدم ضروری دے مثال جئت و زيدا دلته د زيد عطف په ضمير د متکلم ممتنع دے ځکه دا مرفوع متصل دے او عطف په ضميرمرفوع متصل هغه وخت جائز دے چه تاکيد ئې په منفص اوشی او يا پکښې فصل راشی او دلته نه تاکيد بالمنفصل او نه فصل شته وان کان معنی غرض د شارح تفصيل د فعل معنوی دے پس د تفصيل لفظی نه شارح د کان دپاره د ضمير مرجع متعين کوی بيا شارح امر معنويا اوی دا دفع د سوال ده چه دا کان فعل ناقص دے او دا الفعل ورله اسم دے او دا معنی ورله خبر دے او دلته حمل د خبر د کان په دې اسم د کان صحيح نه دے ځکه حمل هغه ځائے کښې صحيح کيږی چه محمول د افرادو د محمول عليه نه وی او دلته دا معنی د الفعل د افرادو نه نه ده جواب دا معنی صفة دے دپاره د موصوف محذوف چه امرا دے ای امرا معنی سوال دا معنی صفة خو هم په امرا موصوف نه حمل کيږی.

جواب: ای معنویا نو حمل صحیح دے مستنبطا من الفعل غرض د شارح په دي عبارت سره د فعل معنوی اجمالی تعریف کول دي تفصیلی تعریف خو دادے چه فعل معنوی هغه دے چه نه مذکور في الکلام وی او نه مقدر في الکلام بلکه د فحوی د کلام نه معلومیږی اوس چه کله دا فعل معنوی وی نو دوه صورته دي یو و جاز العطف شارح وائي ای لم یمتنع دائی دفع د وهم اوکړه چه چا به وی چه دلته به دا جواز په مرتبه د امکان خاص کښ وی نو بیا پری مثال نه مطابق کیږی نو شارح دا وهم دفع کړو چه جواز په مرتبه د امکان عام مقید بجانب الوجود کښ دے یعنی عدم ئې ضروری نه دے او باقی وجود د دواړو کیدلے شی خو دلته ضروری دے نو حکم ئې تعین د عطف دے حیث لا یحمل سره وجه بیانوی حاصل دادے چه عطف کله ممتنع نه دے نو عامل پکښ لفظی اولی دے او اصل دے د دي نه چه عامل پکښ معنوی شی ځکه هغه خلاف الاصل دے نو عطف به متعین وی مثال ما لزید و عمرو دلته عمرو بانديي به اعراب د جر وی ځکه چه عطف دے په مجرور باندی.

و الا دا هغه دویم صورت د فعل معنوی بیانوی هغه دادے چه کله عطف جائز نه وی نو بیا نصب متعین دے بناء بر مفعول معه لکه مالك و زیدا دلته د زیدا عطف په ضمیر مجرور متصل ناروا دے ځکه قانون دے چه عطف په ضمیر مجرور بانديي بغیر داعادے دجار نه ناروا دے.

سوال: تا دوه مثاله بیان کړل نو په اول مثال کښ خو صحیح ده چه عطف په ضمیر مجرور راځی خو دویم مثال کښ نه منو چه عطف په ضمیر مجرور راځی بلکه په دي شان بانديي دي د عمرو عطف اوشی کنه؟

جواب: شارح وائي ولم یجز چه داناروا دے ځکه مقصود دلته تپوس د شان او حال د مخاطب او عمرو دے او چه په شان بانديي عمرو عطف شی نو خلاف المقصود راځی ځکه د مخاطب د حال تپوس به شی او د عمرو د ذات و اندفع به الاخر چه مثال دپاره د وضاحة د ممثل وی یو کافی وو کنه؟

جواب: یو مثال د هغه دے چه مجرور بالحرف وی دویم مثال د هغه دے چه مجرور بالاضافة وی. و انما حکمنا غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده هغه داچه ماتن اوی لان المعنی ما تصنع نو دا"لام"جار او باقی مجرور دے د دي دپاره لا بدی ده د متعلق هغه څه دے او دویم دا خو ماتن دلیل ذکر کړه دے دعوی ورله پکار ده نو شارح دا جواب

اوکړو چه دعوی او متعلق ورله مقدر دی. وما مماثله دا دفع د بل سوال دہ چه په ما شانك و عمروا کښ خو ما تصنع صحيح دے خو په ما لزيد و عمرو کښ خو ما تصنع نه دے صحيح بلکه هلته ما يصنع دے نو شارح جواب اوکړو چه ما يماثله نو ما يصنع دما يصنع مثل دے.

الحال

الحال ما يبين ياة الفاعل او المفعول به اجمالي خبرى (۱) ربط (۲) دحال لغوى تحقيق (۳) د حال معانى (٤) د حال اقسام (٥) اصطلاحي تعريف د حال (٦) امثله (۷) تفصيل د عامل د حال (۸) تفصيل د شرط د حال (۹) دفع د بعض اعتراضاتو (۱۰) احکام د حال .

ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف عليه الرحمة دتفصيل د مفاعيل خمسه نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د ملحقاتو د مفاعيلو باندې بيا هغه درى دې حال تمييز او مستثنى نو په دې کښ د حال تفصيل باندې شروع اوکړه فقال الحال درى سوالات راځى (۱) نفس تفصيل ولې کوى؟ (۲) تفصيل په دې مقام کښ ولې کوى؟ يعنى حال ئې د مفاعيلو نه ولې روستو کړو او په ملحقاتو کښ ولې مقدم کړو (۳) تفصيل څنګه کوى؟ جوابات بالترتيب دادى چه نفس تفصيل ځکه کوى چه يو خو تفصيل بعد الاجمال اوقع فى الذهن وى دويم د دې حال دپاره ډير احکام دي نو په دې اعتبار سره دا تفصيل ته محتاج دے اوکوم شئ چه تفصيل ته محتاج وى نو خلق د هغې تفصيل کوى او تفصيل ئې په دې مقام کوى نو د مفاعيل خمسه نه ځکه روستو کړو چه هغه اصل وو او دا ملحقاتو نه دے او اصل مقدم وى په ملحق باندې طبعا نو وضعا هم مقدم کړو دپاره د موافقة او په ملحقاتو کښ د حال تفصيل مقدم کړو د تمييز او مستثنى نه دا ځکه چه يو دا حال احکام کثير او عام الوقوع دي د تمييز او مستثنى نه او عادت د دوى جارى دے په دې باندې چه دکوم شئ احکام ډير وى او عام الوقوع وى نو دا مقدم کوى په هغه چه داسى نه وى او دويمه وجه دادہ چه حال هياة د فاعل بيانوى هغه فاعل چه اصل دے په مرفوعاتو کښ او هياة د مفعول به بيانوى چه هغه اصل دے په منصوباتو کښ نو مبين بفتح الباء اصل وو نو مبين بکسر الباء هم اصل شو نو اصل په طبع کښ مقدم وى نو وضع کښ هم موئر مقدم کړو دپاره د موافقة د وضع د طبع سره او تفصيل داسى کوى چه يو به تعين د قسم سادس اوکړى د منصوباتو نه په الحال سره دويم دهغې تعريف به اوکړى ما يبين هياة الفاعل سره .دريم امثله به ورله بيان کړى د مثل ضربت زيدا قائما څلورم د عامل تفصيل به ورله اوکړى و عاملها الفعل سره پنځم د شرط

تفصیل به ورله اوکړی و شرطها ان تکون نکرة سره شپږم دفع د بعض اعتراضاتو به اوکړی چه په شرط د دي واردیږی و ارسلها العراك سره اووم احکام د حال به بیان کړی "فان کان صاحبها نکرة" سره اتم اقسام د حال به هم ذکر کړی و تکون جملة خبرية سره ربط لفظی (۱) الحال مبتداء ما یبین الخ خبر نو جمله اسمیه شوه(۲) الحال مبتداء موخر دپاره د خبر مقدرمقدم چه منها دے ای منها الحال نو منها خبر مقدم په اعتبار د متعلق او الحال مبتداء موخر او ما یبین الخ خبر به شي دپاره د هی مبتداء محذوف ای هی ما یبین الخ (۳) الحال خبر محذو المضاف دپاره د مبتداء محذوف ای هذا بحث الحال هذا مبتداء او بحث مضاف الحال مضاف الیه مضاف سره د مضاف الیه نه خبر د مبتداء بیا مبتداء حذف شوه او مضاف هم حذف شو او مضاف الیه چه الحال دے د هغی قائم مقام شو نو دهغی اعراب ئی هم واخستلو نو مرفوع شو او بیا په دي اعتبار سره دا رفع نیابة ده ما یبین الخ خبر دے د مبتداء محذوف ای هی ما یبین الخ.

لغوی تحقیق:دلته به څلور خبری ضروری وی (۱) صیغه د حال (۲) معنی لغوی (۳) وجه د تسمیه (٤) د لفظ د الحال تعین تذکیرا و تانیثا.

نو الحال ما خوذ دے د حال یحول نه صیغه د مصدر ده. (۲) معنی د حال په معنی د وقت راځی لغت کښې او مصطلح حال هم په وقت دلالت کوی بیا حال په معنی د انقلاب هم راځی مصطلح حال هم په انقلاب او تغییر دلالت کوی و دغه شان حال په معنی د التراب اللین سره راځی لکه حماسه کښې یو شعر شته دے چه حال په معنی د نرم والی دے

والدهر یحدث بعد المرة الحال

مصطلح......حال ته هم ځکه حال وائی چه دا فاعل او مفعول بیان کوی او هغه هیاة دے او هیاة په نسبة سره فاعل مفعول ته نرم دے او کمزورے وی (٤) دا لفظ د الحال مونث سماعی دے او دا هغه مونثاتو سماعیو نه دے چه ضمیر د مذکر او مونث ورته دواړه راجع کیدل صحیح دي و قال ابن حاجب هکذا

اما التی قد کنت فیه مخیرا هو کان سبعة عشر فی التبیان

السلم ثم القدر ثم الملك فی لغة و منها الحال کل اوان

معانی د حال: نو د حال دپاره [illegible] کثیره دي منها(۱) حال په معنی د زمانه چه په درمیان د ماضي او مستقبل کیږي دا په نزد د صرفیانو منها(۲) حال په معنی د امر عارض په نزد د مناطقه منها(۳) حال په معنی د امر داعی سره په نزد اهل معانی منها(۴) حال په اصطلاح د حکماء کښي د حلول نه دے او دا بیا دوه قسمه دے یو حلول سریانی دویم حلول طریانی حلول سریانی هغه دے چه انفکاك د حال د ځپل محل نه نه کیږی د وجې د سرایة د حال نه هر یو جزء د محل ځپل ته لکه وینه د انسان بدن ته حلول طریانی: هغه دے چه انفکاك د حال د محل ځپل نه جائز وی د وجه د عدم سرایة د حال نه هر هر جزء د محل ځپل ته بلکه صرف داپرې مشتمل وی لکه څادر د انسان دپاره شو منها(۵)

حال په معنی د مرتبه بعد القال په نزد د صوفیاؤلکه شاعر فارسی وائی:

قال را بگذار مرد حال شو	مرد حال کامل پایمال شو

منها(۶) حال په معنی د مزاج پرسی سره داپه نزد د عوامو باندې چه کیف حالك؟ منها(۷) حال په نزد د نحاتو باندې لك دا دلته شو چه ما یبین دے.

اقسام د حال: نو حال اول دوه قسمه دے یو حال مفرده چه جمله نه وی دویم حال مرکبه چه هغه جمله وی.

بیا د حال دپاره اوه اقسام دي په مختلفو اعتباراتو سره . (۱) حال موکده (۲) حال منقلبه (۳) حال مترادفه (٤) حال متداخله (٥) حال متحققه (٦) حال مقدره (۷) حال مواطاتیه .

تعریف دهر واحد (۱) حال موکده هغه دے چه د ذو الحال نه نه منتقل کیږی غالبا لکه زید ابوك عطوفا (۲) حال منتقله هغه دے چه د ذو الحال نه منتقل کیږی غالبا لکه جاءنی زید راکبا (۳) حال مترادفه دا هغه دے چه ډیر احوال دیو ذو الحال نه وی لکه جاءنی زید راکبا ضاربا دا راکبا او ضاربا دواړه د یو ذو الحال نه احوال دي . (٤) حال متداخله هغه دے چه ډیر احوال وی خو یو ذو الحال او حال، ذو الحال ګرې دپاره د بل حال (٥) حال متحققه هغه دے چه موجود وی (٦) حال مقدره هغه دے چه هغه موجود نه وی فرض شی لکه ته یو انسان ته اوائی فادخل الغرفة خالدا (۷) حال مواطاتیه چه په ذو الحال باندې بغیر د څه تاویل نه حمل شي.

تعریف د حال:نو دا ماتن کړی دے چه ما یبین هیاة الخ ما عبارة دے د شئ یا الشئ نه ځکه دا موصوله او موصوفه دواړه صحیح دے او موصوفه بهتر ده ځکه په محل د خبر کښ دے او خبر کښ اصل نکارة دے او دا به هله نکره وی چه موصوفه وی. بیا مونږ دا ما عبارت د شئ نه اوګرځو د اسم نه مو اونه ګرځو ځکه حال جمله هم راتلی شی نو جمله خو اسم نه دے من حیث هو فاعل الخ د دې قید فائده روستو راځی کما هو الظاهر دا دفع د سوال ده چه ماتن خو تعریف کښ قید د حیثیة نه دے لګولی او تا اولګولو نو دا تقیید د مطلق دے قرینه څه ده؟

جواب: په تعریفاتو کښ قید د حیثیة مراد وی او د وجی د شهرة نه حذف کیږی فبذکر الهیاة غرض د شارح په دې عبارت سره د قیوداتو فوائد بیانوی نو وی په ذکر د هیاة سره تمیز خارج شو ځکه هغه هیاة نه بیانوی ذات بیانوی و باضافتها په دې اضافة د هیاة سره فاعل او مفعول ته هغه خارج شو چه هیاة د فاعل او د مفعول نه بیانوی لکه صفة دپاره د مبتداء زید العالم اخوك دلته العالم حال نه دے ولی چه هیاة د مبتداء بیانوی و بقید الحشیة دا اوس د خپل قید فائده بیانوی نو وای په قید د حیثیة سره هغه اوباسو چه هیاة د فاعل او مفعول بیانوی مطلقا نه په حیثیة د فاعل او مفعول باندې لکه جاءنی زید العالم اوس که تا زید العالم قائم اوی نو دواړو کښ هیاة د زید بیانوی خو مطلقا.

سوال: تعریف صحیح نه دے ځکه په کلمه د شك مشتمل دے چه او دے او تعریف دپاره د توضیح وی.

جواب: دا او دپاره د تنویع دے نه دپاره د تشکك .

سوال: تا اوی چه یا به هیاة د فاعل بیانوی او یا د مفعول نو نقض دې راغلو په هغه حال باندې چه د فاعل او مفعول به دواړو هیاة بیانوی لکه ضرب زید عمروا راکبین .

جواب: شارح وائی و هذا الترديد الخ يعنى دا او دپاره د مانعة الخلو دے نه دپاره د مانعة الجمع لفظا او معنى غرض د ماتن تعمیم کول دی په دې فاعل او مفعول کښ شارح دپاره د دې علت د نصب بیانوی چه دا منصوب دې په خبریة د کان سره ای لفظیا غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا لفظا او معنی خبر د کان دې نو د دې حمل په اسم دکان نه دے صحیح.

جواب: دا لفظیا او معنویا دې اسم منسوب دې او داپه حکم د مشتقی کښې وی اوس حمل صحیح دے. بان تكون فاعلية غرض د شارح په دې عبارت سره تعريف د فاعل لفظی او د فاعل معنوی کوی. بیا اصل کښې دلته په درمیان د شارح او د ماتن کښې اختلاف دے په درمیان د عامل لفظی او معنوی کښې دے. عامل لفظی د ماتن په نزد هغه دے چه په تلفظ کښې ورله حصه وی فقط او د عامل معنوی هغه دے چه هغه مقدر وی او یا د کلام د فحوی نه معلومیږی. او د شارح په نزد لفظی هغه دے چه هغه یا ملفوظ وی او یا مقدر في الكلام وی او د کلام د فحوی نه نه معلومیږی او معنوی هغه دے چه د کلام د فحوی نه معلومیږی فقط.

ثمرة الاختلاف مقدر په نزد د ماتن عامل معنوی دے او د شارح په نزد دا عامل لفظی دے ځکه د ماتن په نزد بانديې دې لره په تلفظ کښې حصه نشته او د شارح په نزد بانديې دې د فحوی د کلام نه نه معلومیږی بلکه مقدر دے ملفوظین حقیقة او حکما دا تعمیم په نزد د شارح دے نو ملفوظ حکما هغه مقدر دے او معنی ای معنویا هغه مخکښې خبره ده چه کومه په معنی ای معنویا کښې ده

و المراد بالفاعل او المفعول به اعم من ان يكون حقيقة او حكما غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده چه وارديږی په تعريف د حال بانديې چه دا تعريف د حال صحيح نه دے ځکه دا جامع نه دے خپلو افرادو لره اوګوم تعريف چه جامع نه وی نو صحيح نه وی دا خبره واضح ده چه تعريف کښې جامعية شرط دے اوس دلته دا تعريف ځنګه جامع نه دے نو حاصل دادے چه دې نه افراد د حال خارجيږی لکه هغه حال چه د مفعول معه او د مفعول مطلق نه واقع شوی وی لکه مثال د مفعول معه جئت انا و زيدا راكبا دلته زيدا مفعول معه دے او حال ترې نه واقع شوی دے مثال د مفعول مطلق ضربت الضرب شديدا دلته الضرب مفعول مطلق دے او حال ترې نه واقع شوی دے او تا خو په تعريف کښې فاعل او مفعول به وئیلی دے دغه شان هغه حال ترې نه هم خارج شو چه هغه د مضاف اليه نه واقع شوی وی لکه بل نتبع ملة ابراهيم حنيفا دلته حنيفا حال واقع دے دا ابراهيم مضاف اليه نه او دغه شان ان ياكل لحم اخيه ميتا دا ميتا حال دے د اخيه نه او دلته د ابراهيم او اخيه نه فاعل او نه مفعول به دې بلکه مضاف اليه دی. نوددے اعتراض مذکور نه شارح هم جواب کوی او نور نحاة هم د شارح جواب قوی دے نو اول دے حاصل د شارح د جواب دادے چه دا فاعل او مفعول به عام دې كه حقيقة وی او كه حكما اوس مفعول معه حکما

فاعل يا مفعول به دے په دې شان سره چه دا مفعول معه كه د معمول د فعل سره په صدور كښې شريك وي نو فاعل او كه په وقوع كښې نو مفعول به اوس دلته په جئت انا و زيدا راكبا كښې دا زيدا د معمول د فعل سره په صدور كښې شريك دے نو دا فاعل شو حكما او مفعول مطلق هم دلته مفعول به دے حكما په دې شان سره چه ضربت الضرب شديدا په معنى دا حدثت الضرب شديدا سره او دغه شان حال د مضاف اليه نه هم راځي دهر مضاف اليه نه هم نه راځي بلكه هر هغه مضاف اليه چه دهغې نه مضاف حذف شي او دا مضاف اليه د هغې قائم مقام گرځيدلے شي نو حال ترې نه راځي لكه دې مثال كښې كه دا ملة مضاف حذف شي نو ابراهيم مضاف اليه د دې په مقام قائم كيدلے شي نو بل نتبع ابراهيم به شي دغه شان دا لحم مضاف كه حذف شي نو اخيه مضاف اليه دهغې قائم مقام كيدلے شي نو ان ياكل اخاه ميتا به شي نو په دې كښې دا ابراهيم او دا اخيه مفعول به دې حكما نو حال واقع كيدل ترې نه صحيح دى. دا خو هغه وخت دے چه دا ابراهيم او اخيه مفعول شي چه كله دا فاعل گرځي نو بيا به دا د قران د اياتونه نه وى بلكه دا نتبع به يتبع شي په صيغه د غائب مجهول سره نو بيا ملة به حذف شي او داسى به شي چه بل يتبع ابراهيم حنيفا دغه شان دابل مثال هم د قران ايت به نه شي او ياكل به يوكل مجهول شي نو بيا به لحم حذف شي او داسى به شي چه ان يوكل اخوه ميتا او كان المضاف فاعلا او مفعولا غرض د شارح دفع د سوال دے چه زه درته داسى حال ښايم چه د مضاف اليه نه به واقع شوى وى او حذف د مضاف به هم نه وى جائز چه گنى دا مضاف اليه دې دهغه په مقام باندې قائم شي لكه ان د ابراهيم لاء مقطوع مصبحين دلته دا مصبحين حال دے د هولاء نه چه مضاف اليه دے دپاره د دابر مضاف دلته اوس دا دابر چه حذف شي نو دا هولاء دهغې په مقام باندې نه قائميږى او بيا هم ترى نه حال راغلى دے.

جواب: دا صحيح كيدل دا واقع كيدلو د حال د مضاف اليه نه منحصر نه دې په هغه مضاف اليه پورې چه مضاف د هغې فاعل يا مفعول به وى بيا دا مضاف حذف شي او مضاف اليه دهغې قائم مقام شي بلكه هغه مقام كښې هم راځي چه په درميان د مضاف او مضاف اليه كښې علاقه د كلية، جزئية وى چه دا مضاف چه كوم فاعل يا مفعول دے دا جزء وى د مضاف اليه نه دا مضاف اليه ورله كل وى نو دلته چه د مضاف اليه نه حال راشي نو پس گويا چه دا ددے مضاف نه دے كوم چه فاعل يا مفعول دے ځكه دا مضاف چه جزء دے نو دابه دې مضاف اليه كل كښې پروت دے لكه دې مثال كښې دا دابر مضاف دے او هولاء مضاف اليه دے او دابر جزء دے جرړه ته وائي او هولاء ورله كل دے نو كه دا دابر حذف شي خو

هولاء د دي قائم مقام نه شي كيدلے ځكه دا دابر جزء او هولاء كل دے او قانون دادے چه د جزء په ځائے بانديې كل نه كلا او به بعضا واقع كيږي خو د دي هولاء نه حال راتلل صحيح دي ولي چه دا كل دے او مضاف ترې نه جزء دے المضاف اليه جزء ه معنى داده چه دا دابر چه مضاف دے دي هولاء ته نو دا جزء دے د هولاء .

سوال: دلته په دي مثال كښ خو دا دابر نه فاعل دے او نه مفعول به چه حال دې روستو موافق شي بلكه دا دابر اسم د ان دے .

جواب: شارح وائي چه دا مصبحين حال چه موئز واقع كوو دابه دي اعتبار سره چه په مقطوع كښ ضمير مستتر دے چه دابر ته راجع دے او دا نائب فاعل دے نو گويا چه دا دابر هم نائب فاعل شو په اعتبار د ضمير مستتر سره نو دا دابر خو جزء دے د هولاء نه نو گويا چه دا هولاء حكما نائب فاعل شو نو حال راتلل ترې نه صحيح دي. ولو قرئ تبين دا اوس هغه جواب كوي كوم چه نورو نحاتو كړي دے حاصل ئي دادے چه دا عبارت د ماتن چه يبين هياة دے نو دلته دا يبين په صيغه د ماضي سره هم دے د باب تفعل نه او يا په صيغه د مونث مجهول سره هم كيدلے شي د باب تفعيل نه اي ما تبين (صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم او تفعل) يا تبين (صيغه واحده مونث غائبه فعل مضارع مجهول از باب تفعيل) هياة الفاعل نو دابه لازمي شي او دا هياة الفاعل به په اول صورة كښ فاعل او په دويم صورة كښ به دا نائب فاعل شي او دابه جار مجرور به د دي سره متعلق شي او ضمير مجرور به كلمه د ما ته راجع شي چه عبارت دے د شئ نه نو معنى به شي چه حال هغه شئ دے چه معلوم شي هياة د فاعل يا د مفعول به دي سره يا حال هغه شئ دے چه بيان كړي شي هياة د فاعل يا مفعول به په دي شئ سره نو هر كله چه دا به موئز متعلق كړو د فعل سره چه تبين يا تبين دے نو دا مفعول بلا قيد د به پاتي شو نو اوس دا عام دے كه مفعول به وي او كه معه اوكه مفعول مطلق وي نو اعتراض خو هغه وخت وو چه دا مفعول مفعول به وو. الا لدخول ما وقع د مضاف اليه هغه سوال بر قرار دے نو شارح وائي چه د دي مضاف اليه په حق كښ دوي بيا هم تعميم كړي دے چه دا فاعل او مفعول به عام دے كه حقيقة وي او كه حكما خو دا جواب شارح ته پسند نه دے نو ځكه ئي موخركړو ځكه په دي جواب كښ څه خدشات دي. منها[1] په دي جواب كښ دا مفعول عام شو ځكه دا به قيد موئز د فعل سره متعلق كړو نو دا شامل شو مفعول له او مفعول فيه ته حالانكه دهغې نه حال نه واقع كيږي منها[2] دي جواب كښ دابه جار مجرور د فعل سره متعلق شو چه دا بعيد دے او اصل په

متعلق کښ قریب دے منها[۳] په دې جواب کښ هم هغه تعمیم اوشو په حق د مضاف الیه کښ نو بیا خو پکار ده چه د مفعول معه او مفعول مطلق په حق کښ هم اوشی منها[۴] دلته دا ما موصوله ده او یین ورله صله ده او قانون په صله کښ دادے چه عائد به بنفسه په صله کښ موجود وی او دې ته به راجع وی دې موصول ته دلته عائد بنفسه نه شو ځکه یین ته تین او یتبین کړو نو دې کښ ضمیر پاتې نه شو چه عائد شی بلکه یو صورة کښ ورله دا هیاة فاعل او بل صورة کښ ورله دا نائب فاعل شو او عائد دې ورله دابه او ګرځو او داخو بنفسه په صله کښ نه دے ګنه.

امثله: مثل ضربت زیدا الخ مثال للفظی غرض د شارح یو تعیین د ممثل کوی دپاره د مثال دویم تطبیق د مثال کوی دې د ممثل سره دریم دفع د اعتراض ده چه یو مثال کافی دے ګنه؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وی په تعدد د ممثلاتو نو اول مثال دپاره د هغه فاعل مفعول چه هغه ملفوظ وی حقیقة دویم مثال دهغه فاعل او مفعول دے چه دا ملفوظ وی حکما ځکه دلته فی الدار کښ دا متعلق مقدر په حکم د ملفوظ کښ دے دریم مثال د هغه فاعل او مفعول دے چه معنوی وی او د فحوی د کلام نه معلومیږی دا دریم مثال چه دے ای هذا زید قائما اوس دلته په دې مثال کښ دا فاعل او مفعول نه حقیقة ملفوظ دے او نه حکما ځکه نه مقدر دې او نه منطوق دې بلکه د هذا نه معلوم دے دا هاء دپاره د تنبیه ده نو انبه تری معلومیږی او دا دپاره د اشاره دے نو اشیر تری نه معلومیږی نو دا انبه او اشیر متکلم نه قصد کوی بلکه موئږ ځکه معتبر ګوو چه دا حال تری نه صحیح شی او که دا دپاره د صحة د دې نه وی او د مخکښ نه قصد وی نو بیا به هذا زید قائما جمله فعلیه وه د دې نه فرق هم معلوم شو په درمیان د فی الدار او هذا کښ په دې شان سره چه د فی الدار دپاره د متعلق نه لا بدی ده ګنی کلام به باطل وی په خلاف د هذا باندې چه دلازم نه ده بلکه دلته صرف دپاره د صحة د دې حال موئږه عامل راویستو او په دې سره دا سوال دفع شو چه په هذا زید قائما او په زید فی الدار دوارو کښ عامل په نظر نه راځی او تاسو یو ته لفظی او بل ته معنوی وائی نو جواب اوشو چه فرق دے پکښ لکه چه موئږ بیان کړو.

تفصیل د عامل د حال: ماتن وائی عاملها الفعل چه عامل یا فعل دے او یا شبه فعل او یا عامل معنوی هم راتلی شی بیا د دې عامل په اعتبار سره به دا فاعل او مفعول هم معلومیږی

په دې شان سره چه عامل لفظي وو نو فاعل مفعول به لفظي وي او که عامل معنوي وي نو فاعل، مفعول به هم معنوي وي ماتن اوې عاملها شارح وائي اى عامل الحال تعين د مرجع کوي بيا دا فعل ملفوظ عام دے که منطوق وي او که مقدر خکه داپه حکم د ملفوظ کښ وي نو مقدر هم عامل لفظي دے بيا دا مقدر عام دے که فعل يا شبه فعل لکه اسم فاعل وغيره

او شبه وهو يا يعمل الخ دا دفع د سوال ده چه روستو ته د شبهه پسې معناه ذکر کړې دے دا مستدرك دے چه شبه فعل او معنى د فعل يو شئ دے چه دواړه يو شان عمل کوي چه د فعل عمل دے.

جواب: وهو من ترکيبه د شبه فعل به د ترکيب ددےنه وي او دا معنى د فعل د ترکيب نه نه ده نو جدا جدا شيان دي يو شئ نه دے د دې امثله واضح دی.

او معناه په دې کښ اختلاف تير شوی دے دلته هم شارح هغه تعريف کوي چه کوم د شارح تعريف دے.

حاصل دادے چه عامل د حال اولا دوه قسمه دے يو لفظي دويم معنوي او بيا ثانيا هر واحد په دوه قسمه دے يو حقيقة چه ملفوظ وي دويم حکما چه مقدر وي شارح امثله بيان کړی دي

﴿و شرطها ان تكون نكرة و صاحبها معرفة غالبا.........﴾

تفصيل د شرط د حال: ماتن اوې شرطها او شارح د ها ضمير مرجع متعين کوي نو شرط دادے چه دا حال به نکره وي لان النكرة غرض د شارح دليل بيانوي د دې شرط دپاره نو يو وجه داده چه اصل په اسماء کښ نکارة دے او دا حال په دې اصل سره حاصليږي نو تعريف يو زائد شئ دے دې ته څه ضرورت دے.

تقييد د حدث منسوب مقصد هم دادے چه دې ذو الحال ته کوم حدث منسوب دے نو داپه دې نکارة سره حاصل دے دويمه وجه داده چه حال په منزله د خبر دے او خبر کښ اصل نکارة دے دريمه وجه داده چه که دا حال معرفه شي نو التباس به راشي د دې حال د صفه سره په حالت د نصب کښ لکه رايت زيدا الراکب اوس دا زيدا الراکب موصوف صفة

دي او کنه حال ذو الحال نو دا حکم مونږ د حالت د نصب نه علاوه کښې هم طردا جاري کړو چه اختلاف رانشي و صاحبها معرفة غالبا یعنی ذو الحال مراد دے.

سوال: دا صاحبها مرفوع به عطف وی په ضمیر مستتر چه ان تکون کښې دے او دا معرفة منصوب به عطف وی په نکرة باندې نو بیا دا ان تکون سره د خپل اسم چه معطوف او معطوف علیه دے او سره د خپل خبر معطوف او معطوف علیه نه ټول خبریه شی دپاره د مبتداء چه شرطها ده نو معنی داده چه شرط د حال دپاره دادے چه دابه نکره وی او شرط دپاره د ذو الحال دادے چه دابه معرفه وی نو دا ذو الحال به همیشه معرفه وی ځکه مشروط بلا شرط نه وی او روستو ماتن غالبا واتی نو مقصد دادے چه کله کله غیر معرفه به وی نو دا خو ښکاره منافاة شو او تعارض دے دې اعتراض نه یو جواب شارح کوی او دویم جواب شارح هندی او صاحب د غایة التحقق کوی خو اول شارح خپل جواب بیانوی او رد کوی په دې نورو باندې دهغو د جواب حاصل دادے چه شرطها مبتداء ده او دا ان تکون نکرة جمله ورله خبر دے او دا جمله بیا معطوفة علیها ده او دا صاحبها بیا مبتداء ده او معرفة ورله خبر نو دا جمله معطوفه ده نو د شرطها لاندې نه شو بلکه په هغې باندې عطف شوه نو دا جواب شارح ته نه دے پسند ځکه چه دې کښې صرف د کلام دے د ظاهر نه خلاف الظاهر ته په دې شان سره چه ظاهر هم دادے چه عطف به قریب اوشي او هغه دا ضمیر د أن تکون دے او نکرة دے چه عطف د مفرد علی المفرد شي نو څه علت داعیه نشته دے چه عطف دې په بعید شي ځکه دا کلام چه په قریب عطف شي نو هم صحیح کیږی په دې شان سره چه دا عطف هم د مفرد علی المفرد دے خو دا غالبا قید د صاحبها معرفة دپاره نه دے بلکه دا دپاره د شرطها دے مقصد دادے چه دا اشتراط د ذو الحال به معرفه سره په غالبو او قاتو کښې دے کله کله نکره هم راځي خو غالب مواد به داوی چه ذو الحال به معرفه وی لانه محکوم دا شارح دلیل بیانوی نو یو دلیل دادے چه مبتداء محکوم علیه وی لفظا او دا ذو الحال هم محکوم علیه وی معنی نو په مبتداء کښې هم تعریف شرط وو نو ذو الحال کښې هم تعریف شرط دے دویمه وجه داده چه په یو شئ باندې حکم کول فرع ده د معرفه د محکوم علیه ده نو په دې ذو الحال باندې هم په حال سره حکم کیږی دریمه وجه داده چه اصل خبره هم دا ده چه حکم اوشي په امور معلومه معینه باندې او داپه تعریف سره وی نو دا ذو الحال هم چه معلوم جوړیږی نو معرفه به وی. څلورمه وجه داده چه دا ذو الحال نکره شی نو د دې التباس به راشي د موصوف سره په بعض اوقاتو کښې لکه رایت رجلا راکبا اوس دا موصوف صفة دې او که ذو الحال او حال او په دې باندې حالت د رفع او جر

حمل دی. إی لیس اشتراطها دا غالبا قید فائده ده او دا هغه جواب دے د سوال. ای اکثرها دا د غالبا معنی کوی.

سوال: ستا د کلام نه دا خبره معلومه شوه چه ذو الحال په دوه قسمه دے یو قسم هغه چه هغه په اکثرو موادو کښ وی او دویم قسم هغه دے چه په اکثر و موادو کښ نه وی نو د دې تفصیل اوکړه کنه.؟

جواب: و بیان ذلك ان مواد حاصل دادے چه غالب مواد هغه دې چه ذو الحال پکښ معرفه وی او دویم هغه چه غالب مواد نه وی نو هلته به دا ذو الحال نکره وی او بیا داپه پنځه قسمه دے یو هغه چه دا ذو الحال نکره موصوفه وی لکه جاءنی رجلا من بنی تمیم فارسا دویم هغه چه ذو الحال نکره وی او مستغنی وی د تعریف نه پشان د استغناء د معرفه وجه د استغراق د دې نه لکه قال تعالیٰ: فیها یفرق کل امر حکیم امرا من عندنا دلته که دا امرا حال شی نو دا کل امر به ذو الحال وی او نکره ده. ان جعلت امرا دا څکه وائی چه دې کښ نور تراکیب هم دی. دریم هغه ځائے دے چه نکره د استفهام نه روستو وی نو داهم د استغراق فائده کوی لکه هل اتاك رجلا راکبا ځلورم هغه ځائے دے چه داپس د الا نه واقع وی او دا الا د نفی هغه معنی مأتوی لکه ماجاءنی رجلا الا راکبا.

سوال: دا مثال د ممثل سره مطابق نه دے ځکه ممثل کښ ته وائی چه دانکره به د الا نه بعد وی او مثال کښ دانکره د الا نه مخکښ واقع ده.

جواب: دا خطا ده دناسخینو نه اصل عبارت دادے چه قبل الا (عصام صیب) جواب (۲) دا عبارت داسی دے چه او بعده بیا د بعد مضاف الیه حذف دے نو بعد فقط باقی شو پنځم هغه ځائے چه حال مقدم وی په دې ذو الحال باندې لکه جاءنی راکبا رجل و ثانیهما دا هغه غالب مواد مراد دې فقوله غالبا قیدسره غرض د شارح تصریح ده په رد کولو کښ په شارح هندی باندې لا لکون صاحبها معرفة دا اشاره ده اعتراض ته حتی یقال چه ګنی او دے وئیلی شی دا متعلق دے تر منفی پورې او دغه شان یحتاج او یجعل هم دے.

دفع د بعض اعتراضاتو:ماتن وائی و ارسلها العراك.

سوال: تا دا خبره ثابت کړه چه حال به نکره وی زه درته ښایم چه حال به وی او نکره به نه وی لکه وارسلها العراك کښې دا العراك حال دے د ها ضمیر نه او معرفه ده او مررت به

وحده هم دے چه وحده حال دے او معرفه ده او دغه شان فعلته جهدك دا جهدك حال دے او معرفه ده.

جواب: ماتن والی متاول د دي ظاهر ته مه گوره دي كښ تاويل شوی دے او تاويل روستو راځی توضيح د امثله عن الشارح عادت د شارح په دي باندې جاري دے چه هر كله ماتن يو شعر يا يوه ټكړه د شعر ذكر كړی نو شارح د هغه شعر په پنځه طريقو باندې تكميل كوی يو داچه هغه قطعه غير مذكوره ذكر كوی دويم تعين د شاعر كوی دريم د هغه شاعر غرض بيانوی څلورم دهغه الفاظو مشكلو وضاحة كوی پنځم دهغه معنی مراده بيانوی اول شارح شعر پوره كوی چه و ارسلها العراك ولم يزدها الخ دويم تعيين د شاعر كوی چه لبيد دے د دي قائل دريم غرض د هغه شاعر بيانوی چه وصف كوی د خرو وحشيانو څلورم او پنځم وضاحة او معنی كوی حمار دا مذكر دے او اتن دا مونث دے دا جمع دا تان ده.

اصل كښ دا لبيد ښكار ته وتلی وو نو هلته خره وو ډير زيات نو يو خر وحشي خرے په اوبو پسی اوليګلی او دا حمار وحشی ورته په يو اوچت ځائے باندې اودريدو چه ښكاری راځی نو دي به هغو ته اواز كوی چه بيا تښتی نو هغه خرو هلته مستی كوله نو لبيد اوليدلو نو يو شعر ئې ورپسی اوی يقول ارسل حمارا لوحش الاتن غرض د شارح په دي عبارت سره په ارسلها كښ دوه ضمائرو يو مرفوع دويم منصوب نو دهغی د مرجع تعيين كوی چه مرفوع ضمير حمار ته راجع دے او ها ضمير منصوب اتن ته راجع دے وكان المراد دا دفع د سوال كوی چه ارسال خو ذوی العقول كښ وی خر خو ذی عقل نه دے.

جواب: بعث مراد دے.

سوال: بعث خو حياة بعد المماة ته وائی داهم د ذوی العقول سره تعلق ساتی.

جوابه: والتخليه خالی والی مراد دے ای ارسلها معتركة الخ پوره شعر واضح كوی ولم يزد ای ولم يمنع معنی د لم يذر كوی او د لم يشفق هم معنی كوی علی نغص الدخال ای علی انه لم يتم الخ د نغض دا معنی ده چه يو شئ شروع شی خو تمام چنه شی ناقص پاتی شی او د نغص مقصد دادے چه دا اوښان هر كله او به څكښی نو دوه اوښان يو ځائے اوبه څكښی او دوارړه يو ځائے ولاړ وی او بوته او نا ځاپه يو بل اوښ په منډه راشی او د دوی دوارو اوښانو په درميان كښې د مستئ د وجه نه ننوځی او په اوبو شروع اوكړی او دوی د اوبو نه اوباسی ګډوډ ئې كړی او اضافة د نغص دخال ته اضافة د مسبب دے سبب ته من العطن د اطراف د

حوض نه يشرب ما عساه لم يكن چه اوڅکښي د هغه نه هغه چه قريب نه وي چه څڅېلي وي هغو نورو اوښانو و لعل المراد به غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا دخال خو د اوښانو سره تعلق ساتي دلته خو تا په خرو کښ ذکر کړو.

جواب: (۱) نفس مداخلة مراد دے د بعض خرو په بعضو کښ (۲) دا کلام په تشبيه باندې بناء دے چه دې خروهم هغه شان دخول کوو اوس معنی د شعر داده چه اوليکو دې حمار وحشي خرو لره په داسې حال کښ چه دوی مستې کوله او مقابله ئې کوله ديو بل سره او دې خر وحشي نه دوی لره منع کړو او نه پرې اوېريدو د پاتې کيدلو د بعضو نه اوبو څکښو لره د وجې د داخليدو د بعض په بعضو کښ.

متاول داشو جواب د دې سوال تاويلها على وجهين غرض د شارح بيان د هغه تاويل کوي نو داپه دوه طريقه سره شوي دے.

اوله طريقه دا مصادر دے دپاره د افعال محذوفه نو بيا حال جمله شوه او جمله په حکم د نکره کښ وي.

دوېمه طريقه داپه ظاهر کښ معرفې دې خو داپه ځائے د نکرو وضع شوې دې نو په ظاهر لباس مه شه.

سوال: نو داسې چرته مثل شته؟

جواب: او حسن الوجه په ظاهر کښ معرفه ښکاري خو دا نکره ده ولې دا اضافة لفظي دے

﴿فان کان صاحبها نکرة وجب تقديمها...............﴾

احکام د حال:نو ماتن اوی صاحبها او شارح تعين د مرجع کوي دپاره د ضمير مجرور .

سوال: زه درته ښايم چه ذو الحال به نکره وي او بيا به هم پرې تقديم د حال واجب نه وي لکه جاءني رجل من بنی تميم فارسا دلته رجل نکره نه فارسا حال دے او تقديم نشته .

جواب: محضه نکره محضه مراد ده او دلته مثال کښ نکره موصوفه ده په من بنی تميم ورله توصيف شوی دے نو دا نکره مخصصه ده بيا تخصيص د نکره کله په صفة وي لکه دا مذکور مثال کښې او کله تخصيص په اضافة سره هم راځي لکه جاءني غلام رجل فارسا شو د غلام

تخصیص په اضافة شوے دے او کله تخصیص په تقدیم هم راځی بیا هغه تقدیم یا د نفی یا د شبه نفی او یا د استفهام شوی وی او یا تقدیم د حال شو نو دې کښې شیبه د تخصیص ده نو نه به وی مقدم.

سوال: دا تخصیص خو په تقدیم د حال هم راځی نو چه حال کله نکره محضه شی نو هله به تخصیص راځی چه تقدیم د حال په دې باندې اوشی نو معلومه شوه چه دپاره د تخصیص به تقدیم د حال ه ذو الحال باندې واجب وی نو دا وجب تقدیمها ذکر کول مستدرك دی.

جواب: دلته مراد د تخصیص نه هغه دے چه په ما سوی د تقدیم وی.

سوال: زه به درته اوښایم چه ذو الحال به نکره وی او تخصیص به ئی نه وی شوی او بیا به هم تقدیم د حال په ذو الحال واجب وی لکه جاءنی رجل و زید راکبین دلته تقدیم د حال په رجل نکره باندې نه دے واجب.

جواب: ولم تكن الحال مشتركة حاصل دادے چه دا ذو الحال به په درمیان د معرفه او نکره کښې مشترك نه وی او دلته رجل د زید معرفه سره شریك ده موثر خالص نکره وایو بیا دا تقدیم دوه شیان غواړی مقدم او مقدم علیه نو مقدم دا حال دے او مقدم علیه ذو الحال دے لیتخصص النكرة دا وجه د تقدیم بیانوی چه دا نکره په تقدیم د حال سره په ذو الحال باندې تخصیص حاصل کړی لانهما ولی چه ذو الحال او حال معنی مبتداء او خبر دې او اصل مبتداء کښې تعریف وو نو دلته ذو الحال به هم معرفه وی او که نکره وی نو بیا مخصصه کول پکار دې چه قریب شی معرفة ته و بیا قریب د شئ لره حکم د شئ وی دویمه وجه داده چه که داموږ مقدم نه کړو نو التباس ئی راځی په حالت د نصب کښې د ترکیب توصیفی سره لکه رایت رجلا راکبا نو دلته دا رجلا موصوف و راکبا صفة دے نو که تقدیم د حال واجب نه شی نو بیا به څوك وائی چه دا رجلا ذو الحال او راکبا حال دے کنه دا رجلا موصوف او راکبا صفة دے خو چه کله تقدیم د حال واجب شی او رایت راکبا رجلا شی نو بیا دا ذو الحال او حال دې نه موصوف او صفة څکه صفة په موصوف باندې نه مقدم کیږی.

سوال: دا التباس خو صرف په حالت نصبی کښې دے نو تاسو پکښې دا حالت جری او حالت رفعی ولی داخل کړو.

جواب: ثم قدمت دا طردا للباب چه د باب حکم مختلف نه شي و لا تقدم على العامل المعنوي دا بل حکم بیانوی ای الحال تعین کوی د مرجع د لا تتقدم د ضمیر.

سوال: ره درته شایم چه عامل معنوی به وی او حال به پړی مقدم وی لکه زید قائما کعمرو قاعدا دلته عامل معنوی دے چه د کاف نه معلومیږی چه تشبیه ده او قائما په هغې مقدم دے ولی چه هغه د کاف نه معلومیږی او په کاف باندي قائما مقدم دے.

جواب: فی ما عدا دا حکم علاوه د دي ترکیب نه دے.

سوال: دا مثال خو جزی دے او تا مثل د دي ترکیب اوی نو څه تری نه مراد دے؟

جواب: دي کښ اشاره ده قاعده او ضابطه ته هغه ده چه هر کله چه د دوه ؤ ذو الحال مختلفونه مختلف حالین واقع شي نو دا واجب ده چه هر حال د خپل ذو الحال په جنب او ارخ کښ ذکر شي لکه دلته دا قائما د زید نه حال دے او قاعدا د عمرونه حال دے نو هر یو سره مو خپل خپل ذکر کړو او که داسی اونکړو نو تعیین د ذو الحال نه کیږی لکه زید کعمر و قائما و قاعدا نو اوس پته نه لګی چه دکوم حال دپاره کوم ذو الحال دے.

بیا مقصد د دي مثال دادے چه یو انسان د زید لند والے او د عمرو اوږد والے بیانوی نو وای زید په داسی حال کښ چه ولاړ وی پشان د عمرو دے په داسی حال کښ چه ناست وی.

بیا وجه ورله داده چه عامل معنوی ضعیف دے او ضعیف په مقدم کښ عمل نه شي کولی قد عرفت دا حواله ده په تعریف د عامل معنوی باندي چه دي مسئله کښ اختلاف یو د ماتن مسلك دے چه ماتن وائي عامل معنوی هغه دے چه په تلفظ کښ ورله حصه نه وی بیا که دا مقدر فی الکلام وی اوکه د فحوی د کلام نه معلومیږی او دویم د شارح مسلك دے چه شارح وائي عامل معنوی هغه دے چه صرف د فحوی د کلام نه معلومیږی نه په کلام کښ مصرح وی او نه مقدر نو بناء په دي باندي مقدر به نزد د ماتن عامل معنوی دے او د شارح په نزد باندي دا عامل معنوی نه دے لکه جار مجرور چه مقدر په فعل وی او یا په اسم فاعل وغیره بخلاف الظرف داخیره اوشوه چهجال په عامل معنوی باندي نه شي مقدم کیدلے او دلته وائي بخلاف الظرف نو.

سوال: دادے چه خلاف خو مخالف عنه غواړی نو دا مخالف عنه څه دے یا خو به دا عامل معنوی مراد وی او یا هغه ضمیر چه په لا تتقدم کښ دے او راجع دے حال ته او په دي هر

يو باندې سوال دے په دې شان سره چه که ته مخالف عنه عامل معنوي وائي نو دا ظرف به يا عامل معنوي وائي لکه دا مذهب د ماتن دے او يا به ورته عامل لفظي وائي لکه دا مذهب د شارح دے نو که دا ظرف عامل معنوي وائي لکه دا مذهب د ماتن دے نو لازم شو تناقض في الكلام ځکه معنى شوه چه نه مقدم کيږي دا حال په عامل معنوي باندې بخلاف الظرف په خلاف د ظرف باندې چه دا هم عامل معنوي دےنودا خو تناقض راغے او که ته د ظرف نه عامل لفظي واخلي لکه دا مذهب د شارح دے نو بيا خو ترجيح بلا مرجح راځي ځکه معنى به شي چه نه مقدم کيږي حال په عامل معنوي باندې بخلاف الظرف په خلاف د ظرف باندې چه دا عامل لفظي دے دحال تقديم برے جائز دےنو هر حال په عامل لفظي باندې مقدم کيږي تخصيص د ظرف ولې کوي.؟

او که مخالف عنه هغه ضمير دلا تتقدم شي چه حال ته راجع دے نو بيا مونږ تپوس کوو چه د ظرف نه عامل معنوي اخلې لکه دا مذهب د ماتن دے او که لفظي لکه شارح چه وائي نو که د ظرف نه عامل معنوي واخلې لکه دا مذهب د ماتن دے نو بيا خو يو خروج عن البحث لازم شو ولې چه معنى شوه چه نه مقدم کيږي دا حال په عامل معنوي باندې بخلاف الظرف په خلاف د ظرف چه دا عامل معنوي دے نو دا ظرف په خپل عامل باندې مقدم کيږي نو خبره په تقدم د حال کښ شروع ده او ته تقدم د ظرف ته لاړې په خپل عامل باندې دويم لازم شو تقدم د شئ على نفسه او داهم ناروا ده ځکه معنى به شي چه نه مقدم کيږي دا حال په عامل معنوي باندې مگر په عامل معنوي باندې چه ظرف دے.

اوکه د ظرف نه عامل لفظي مراد شي لکه په مذهب د شارح باندې نو په دې کښ خروج عن البحث راځي او داهم ناروا دے ځکه معنى به شي چه نه مقدم کيږي دا حال په عامل معنوي باندې بحلاف الظرف په خلاف د ظرف باندې چه دا عامل لفظي دے نو داپه عامل معنوي :باندې مقدم کيدے شي.

نو دا اعتراض شو په څلور و شقوقو باندې او د جواب دپاره دوه طبقے وي يو چه په هغه شرقوقو مذکورو کښ يو شق مختار شي دويم چه يو شق اخر مراد شي دلته شارح جواب کوي په اوله طريقه سره نو واي زه مخالف عنه عامل معنوي اخلم او د ظرف نه عامل لفظي اخلم ماهو عند الشارح نو داپه شقوق کښې شق ثاني دے. او جواب د سوال داکوم چه دلته ترجيح بلا مرجح نشته دے ځکه عامل لفظي دوه قسمه دے (۱) ظرف (۲) غير ظرف نو په ذوه ؤ خبرو کښ اتفاق دے يو داچه تقديم د حال په عامل معنوي باندې نه کيږي دويم

تقدیم د حال په عامل لفظی غیر ظرف باندې کیږي او په دریمه خبره چه تقدیم د حال په عامل لفظي چه ظرف دے نو دې کښې اختلاف دے د سیبویه په نزد باندې ناروا دے او د اخفش په نزد باندې دوه صورته دې نو یو کښې جائز او بل کښې ناروا دے نو د وجې د اختلاف نه تخصیص د ظرف اوشو نو دا ترجیح مع المرجح ده نه ترجیح بلا مرجح شارح هم داسې وائي چه فعلی هذا معنی الکلام.... اتفاقا دا هغه اول صورت دے د اتفاق او دویم داچه تقدیم د حال په عامل لفظي غیر ظرف نو داهم اتفاقا دے او دریم صورت بخلاف الظرف دے فان فیه خلافا فسیبویه نو سیبویه وائي چه اگرچه ظرف عامل لفظي دے خو بیا هم تقدیم ناروا دے ځکه دا ضعیف دے او اخفش صیب وائي چه مونږه به اوګورو که چرته د دې حال نه مخکښې مبتداء راغلی وه نو بیا تقدیم د حال په عامل لفظي چه ظرف دے جائز دے ځکه دا ظرف پشان د عامل لفظي دے په عمل کښې قوي دے او چه مبتداء ترې نه مخکښې راغله نو یو بل قوة ورته هم حاصل شو نو په مقدم کښې عمل کولی شي او که مخکښې ترې نه مبتداء نه وه نو بیا زما او د سیبویه صیب قول یودے ځکه ظرف په دې حیثیة چه دا قائم دے په مقام د ظرف نو قوي دے خو لیکن د دې دپاره یو مقوي پکار دے او هغه ورله نشته دے مثال زید قائما فی الدار داپه نزد د اخفش باندې جائز او په نزد د سیبویه داناروا دے.

و یحتمل ان یکون غرض د شارح په دې عبارت سره دهغه سوال نه په جواب کښې اختیار د شق اخر کوی او داپه شقوق اربعه کښې ثالث دے.چه زه مخالف عنه هغه ضمیر وایم کوم چه په لا تتقدم کښې دے او حال ته راجع دے او د ظرف نه عامل لفظي او معنوی دواړه اخلم نو لفظي سره خروج عن البحث نه راځي ځکه د خبرې نه خبره یادیږي ولې چه ان الشجا یبعث الشجا نو دلته مصنف اوئ چه نه مقدم کیږي حال په عامل معنوی باندې نو چونکه د حال نه تعبیر په ظرف سره کیږي لکه جاءنی زید راکبا ای وقت الرکوب نو چا به داوهم کړی وو چه دا ظرف هم په عامل معنوی باندې نه مقدم کیږي پشان د حال چه حال څنګه په عامل معنوی باندې نه مقدم کیږي ځکه د ظرف د حال سره دا مناسبة دے چه د حال نه په ظرف سره تعبیر کیږي نو دپاره د دفع د وهم مصنف اوئ چه بخلاف الظرف چه په خلاف د ظرف باندې چه داپه نزد د شارح باندې عامل لفظي دے خو داپه عامل معنوی باندې مقدم کیږي ځکه که د حال نه تعبیر په ظرف سره کیږي خو دا مستلزم نه ده دې خبرې لره چه ظرف دې د حال هغه ټول احکام واخلي لتوسعهم فی الظروف دا ورله علت بیانوی چه دې ظروفو کښې ډیر وسعت دے هغه چه په نورو کښې دا نشته دے. و اما اذا جعلته دا بل

جوب او داپه شقوق اربعه کښې رابع شق دےچه مخالف عنه هم دغه ضمیر د لا تتقدم اخلم چه حال ته راجع دے او ظرف نه عامل معنوی اخلم لکه دا مسلك د ماتن دے او دهغه دوه ؤ اشکالونه جواب دادے چه خروج د بحث نشته دے ځکه د خبری نه خبره یادیږی د دې تفصیل اوس اوشو او دویم اشکال نه جواب دادے چه تقدم د شئ علی نفسه نشته دے بلکه تقدم دیوی نوع دے په بله نوع بانديې په دې شان سره چه عامل معنوی دوه قسمه دے . (۱) عامل معنوی ظرف (۲) عامل معنوی غیر ظرف نو مراد دادۀ چه حال نه شي مقدم کيدلے په عامل معنوی غیر ظرف بانديې بخلاف الظرف په خلاف د هغه عامل معنوی بانديې چه ظرف دے داپه عامل معنوی بانديے مقدم کيږی.

حاصل د دې کلام داشو چه په خلورو شقونو بانديې اعتراض وو او شارح ثری نه دری شقوق اختیار کړل او جوابات ئې دهغه سوالاتو نه اوکړل او یو شق ئې پریښودو چه هغه داچه مخالف عنه عامل معنوی شي او د ظرف نه مراد عامل معنوی شي ځکه بیا په کلام کښې تناقض راځي او دا ناروا دے

﴿ولا تتقدم علی المجرور علی الاصح﴾ احکام د حال روان دي نو یو حکم پکښې دا وو چه تقدیم د حال ناروا دے یو مقام هغه کښې چه عامل معنوی بانديې تقدیم راشي دې ځائے نه دویم مقام بیانوی چه په ذو الحال مجرور بانديې هم تقدیم د حال ناروا دے بیا دا مجرور عام دے که بالاضافة وی او که بحرف الجر شارح وائی کما لا تتقدم غرض د شارح په دې عبارت سره ربط بیانول دي چه دا عبارت عطف دے په هغه علی العامل بانديې نو دلا تتقدم لاندې دے نو ځکه چه هلته تقدیم ناروا وو نو کذلك دلته هم داسی دے او دې کښې اشاره ده چه دا عطف د دې عبارت په هغه عبارت بانديې د قبیلې د عطف د مساوی نه په مساوی بانديې نه دے بلکه د قبیلې د عطف د مشبه نه دے په مشبه به بانديې ځکه هلته تقدیم د حال په عامل معنوی بانديې اتفاقا ناروا دے او دلته تقدیم د حال په ذو الحال مجرور بحرف الجر کښې اختلاف دے نو هلته دا حکم قوی وو نو هغه مشبه به ده او دلته قوی نه ده نو دا مشبه شو علی ذی الحال المجرور غرض د شارح دفع د سوال ده چه لازم شو خروج عن البحث.

جواب: مطلق مجرور نه دے مراد بلکه هغه مجرور چه هغه ذو الحال وی سواء کان مجرورا غرض د شارح تعمیم کول دي په دغه مجرور کښې فان کان مجرورا غرض د شارح په دې

عبارت سره يو دے روستو.متن ته تمهيد اينبودل دي او دويم دفع د وهم كول دي هغه داچه دا على الاصح قيد په متعلق د ذو الحال مجرور بالاضافة او بحرف الجر دواړو سره وي حالانكه په مجرور بالاضافة كښ خو څه اختلاف نشته دے چه بناءبراصح دے په كښې دا حكم ناروا شي نو شارح دا وهم دفع كړو چه د اعلى الاصح صرف د مجرور بحرف الجر سره لګی نه د مجرور بالاضافة سره .

سوال: هر كله چه مراد داو چه دا قيد د مجرور بالحرف سره لګی نو بيا ماتن دا مطلق ولې ذكر كړے دے.

جواب: عام طور بانديې مجرور بالحرف كثير وو نو د كثرة د وجه نه ئې دا مطلق ذكر كړو اګرچه تعلق د دې صرف د مجرور بالحرف سره دے. (۲) دا خبره مشهوره وه په ذهن د مصنف كښ چه كوم مجرور بالاضافة دے نو دې كښ څه اختلاف نشته دے بلكه اختلاف په هغه ذو الحال مجرور كښ دے چه هغه بحرف الجر دے نو تقييد ئې اونكړو چه دا قيد د دې سره مراد دے مثال جاءتني مجردا عن الثياب ضاربة زيد دا مثال په عدم بانديې دے چه داسې وئيل ناروا دي او په وجود بانديې مثال دادے چه جاءتني ضاربة زيد مجردا عن الثياب دې مقام كښ زيد مجرور بالاضافة ذو الحال او مجردا ترې نه حال دے او دا تركيب صحيح دے و ذلك لان الحال تابع غرض د شارح په دې عبارت سره دليل بيانول دي حاصل دادے چه دا حال د مضاف اليه نه تابع د دې دے او قانون خو دادے چه مضاف اليه په مضاف بانديې نشي مقدم كيدلے نو دا حال چه تابع او فرع د مضاف اليه ده نو دابه څنګه په دې مضاف بانديې مقدم شي.

سوال: نو چه په مضاف بانديې نشي مقدم كيدلے نو په مضاف اليه بانديې فقط مقدم كړه.

جواب: داسې هم نه شي كيدلے څكه بيا فصل راځي په درميان د مضاف او مضاف اليه كښ څكه دا ناروا دے اصلا چه فصل دي په درميان د دواړو كښ راشي، اما دا خبره چه تقديم د مضاف اليه په مضاف بانديې ولې ناجائز دے نو دا څكه چه دا مضاف اليه مجرور دے او مضاف ورله په منزله د جار دے نو څنګه چه تقديم د مجرور په حرف جار ناروا دے نو په هغه جار بانديې هم ناروا دے چه په منزله د حرف جار دے چه هغه مضاف دے.

سوال: زه درته بنايم چه تقديم د حال به په مضاف اليه بانديې شوی وی او جائز به وی لكه يتحرك ما شيايد زيد دلته دا ما شيا حال دے دمضاف اليه د يد نه چه زيد دے او دغه شان

واتبع حنفيا ملة ابراهيم هم د چه د ابراهيم مضاف اليه نه حنيفا حال واقع دے او دلته په دوارو صورتونو كښ تقديم د حال شوى دے په دي ذو الحال باندي .

جواب: دا حكم د عدم تقديم د هغه مجرور بالاضافة دپاره دے چه په هغى كښ مضاف د مضاف اليه نه جزء نه وى او دويم داچه داسى هم نه وى چه د هغه نه مضاف حذف شي او مضاف اليه دهغى قائم مقام كيدلے شي اوس دلته په اول مثال كښ دا مضاف د مضاف اليه نه جزء دے چه يد د زيد نه جزء دے او په دويم مثال كښ كه دا مضاف حذف شي نو دا مضاف اليه د هغى په مقام باندي قائم كيدلے شي وان كان مجرورا بحرف الجر غرض د شارح په دي عبارت سره يو تمهيد دے روستو متن ته او دويم تعين كوى دپاره د متعلق د اصح چه دا د چا سره لگى نو واى دا د مجرور بحرف الجر سره دے.

ففيه خلاف نو دي كښ خلاف دے نو په دي مقام كښ لا بدى ده د امور خمسه نه امر اول چه تحرير د محل النزاع دے نو دلته په دي كښ درى صورته دي (۱) چه كوم ذو الحال مجرور وى بالاضافة نو هلته تقديم د حال په ذو الحال باندي ناروا دے بالاتفاق (۲) چه ذو الحال مجرور نه وو مرفوع يا منصوب وو نو هلته هم تقديم د حال په ذو الحال باندي جائز دے چه مانع نه وى موجود اتفاقا (۳) چه ذو الحال مجرور بحرف الجر وى نو دي صورة كښ اختلاف دے.

امر ثاني چه تعين د مختلفينو دے نو دي كښ دوه مذاهب دي يو مذهب د سيبويه او اكثرو نحاة دے او دويم مذهب د ابن كيسان ، ابن على او د ابن برهان دے امر ثالث چه دعوى دهر واحد ده نو د سيبويه او اكثر بصرينو په نزد باندي تقديم د حال په ذو الحال مجرور بحرف الجر باندي نا روا دے اوددى نور و په نزد باندي جائز دے امر رابع دليل د سيبويه العلة المذكورة دے هغه داچه تقديم د مضاف اليه په جار باندي ناروا دے نوكوم شئ چه تابع د مجرور دے نو د دي تقديم په طريقه اولى سره ناروا دے تفصيل دادے چه كله حال مقدم كوى په ذو الحال مجرور بحرف الجر نو يا به داپه حرف جار او مجرور دوارو باندي مقدم كوى او يا به ئى صرف په مجرور جر مقدم كوى علاوه د حرف جر نه نو په جر او مجرور دوارو باندي مقدم كول خو ناروا دي ځكه تقديم د مجرور په جار باندي نشي كيدلے نو چه تابع د مجرور شي دابه څنگه مقدم شي او كه صرف په مجرور باندي ئى مقدم كوى نو د مجرور دهغه كښ ناروا دے ځكه فصل راځى په درميان د حرف جر او د مجرور د هغه كښ او فصل په درميان د حرف جر او د مجرور دهغه كښ ناروا دے ځكه دا جار په عمل كښ ضعيف دے روستو كښ عمل نه

شي کولی. د بعضو خلقو دپاره دوه دلائل دي يو دليل نقلی دويم عقلی دليل نقلی دادے چه وای دا قواعد د نحو بناء دي په سمع د عربو نه د فصيح ذات په کلام کښ واقع شوی دی. وما ارسلناك الا کافة للناس. دلته کافة حال دے د للناس نه نو دلته نو تقديم د حال په ذو الحال مجرور بالاضافة راغلی دے او معنی داده چه نه ئی ليکلی نه موبز مگر په داسی حال کښ چه د ټولو خلقو دپاره ئی. دويم عقلی دادے چه دا حرف جر پشان د همزه د افعال او د تضعيف د باب تفعيل دے لکه څنګه چه يو فعل لازم متعدی کيږی په باب افعال او باب تفعيل نه په زولو سره نو داسی دا حروف جاره هم دي نو په دي تعدية کښ داپشان د همزه د افعال او د تضعيف د تفعيل دي نو هلته په باب افعال او تفعيل کښ خو تقديم جائز دے په ذو الحال باندې نو دلته په حروف جاره کښ هم دا حکم دے اول دليل په استدلالا سره او دويم په لعل المراد سره بيانوی.

امر خامس هغه ترجيح دما هو الراجح ده نو ماتن دي ته په علی الاصح کښ اشاره کړی ده خو دهغو ددلائل نه به جوابات کول ضروری وی نو د دليل نقلی نه شارح جوابات کوی څکه نحو کښ دلائل نقلی معتمد وی. نو شارح دری جوابات کوی (۱) اول جواب زجاج کوی چه داکافة د للناس نه حال نه دے بلکه دا حال دے د کاف ضمير نه او داکافة په معنی د مانعا سره دے نو معنی به شي چه نه ئی ليکلی موبز تاله مگر په داسی حال کښ چه ته منع کونکی ئی خلقو لره د غلطو کارونو نه نو اوس خو کاف ذوالحال مقدم دے.

سوال: دا کاف ضمير د مخاطب مذکر دے او کافة مونث دے.

جواب: و التاء للمبالغة تاء دپاره د مبالغه ده.

سوال: دلته د الا او ما راغلی دي دا د حصر فائده کوی نو مقصد دا چه د نبی عليه السلام منصب په نهی عن المنکر کښ منحصر شو حالانکه نبی عليه السلام خو امر بالمعروف هم کوو (محشی)

جواب: دا حصر دلته حقيقی نه دے بلکه دا حصر اضافی دے په نسبة سره دا عدم نهی عن المنکر ته دے.

جواب ثانی: چه زمخشری صيب وائي دا کافة صفة دے دپاره د مصدر محذوف چه هغه مفعول مطلق دے نو تقدير د عبارت دادے چه وما ارسلناك الا رسالة کافة للناس معنی داده

ږ نه دے لیکلی مونږ تاله مګر په پوره لیکلو سره دپاره د خلقو جواب ثالث دادے چه داکافة منصوب دے بناء بر مفعول مطلق .

سوال: نو ارسلناك فعل خو په دې باندې نه دے مشتمل .

جواب: دا د ارسلناك دپاره مفعول مطلق نه دے بلکه دې دپاره فعل حذف دے او تقدير د عبارت دادے چه وما ارسلناك الا ان تکف کافة للناس معنی داده چه نه دے لیکلی مونږ تاله مګر چه ته بندول اوکړې په نبذه ولو سره دپاره د خلقو .

سوال: دا کافة د مصدر وزن نه دے.

جواب: ولې نه دا د مصدر وزن دے لکه کاذبة او عافيه.

او جواب د عقلی دليل نه دادے چه ستا سو عقلی دليل د دعوی سره موافق نه دے ځکه دليل خاص دے او د عوی عام ده په دې شان سره چه دعوی ستا عامه داسی ده چه ته وائې هر هغه ذو الحال چه مجرور وی په هر حرف جر باندې نو تقديم د حال پری جائز دے او دليل کښې خو يو تا صرف د حرف جر چه باء د ه دهغی مثال راوړی دے او دويم دا چه تعدية هم خاص دادے چه په ذهبت کښې دے تفصيل دادے چه تعدية دوه قسمه دے (۱) تعدية عام (۲) تعدية خاص.

تعدية عام دادے چه يو فعل لازم باب افعال او يا باب تفعيل ته واړه وی او يا پری حرف جر داخل کړی نو متعدی شی.

او تعدية خاص دادے چه کوم فعل لازم وی او ورسره فاعل وی نو ته دا فعل متعدی کړی او هغه فاعل ورله مفعول او ګرځوی او دغه فعل ته متضمن او ګرځوی معنی د جعل او تصير لره او دغه فعل مذکور دپاره د دې جعل او تصيير مفعول ثانی اوګرځوی. او د دغه جعل او تصير دپاره فاعل راوباسی مثلا ذهب زيد دے نو دا ذهب به دلته متضمن شی معنی د جعل او تصيير لره او دا فاعل به ورله مفعول اول شی او دا فعل به ورله مفعول ثانی شی او دې جعل او تصيير لره به فاعل راوباسی نو تقدير به شی چه صيرت يا جعلت زيدا ذا ذهاب نو اوس تا صرف باء راواخسته او دا باء خو تعدية خاص راولی نو دليل خاص او دعوی عام او په خاص دليل سره عام دعوی نه ثابتيږی.

و الكل تكلف و تعسف دا دفع د سوال ده چه هر كله د دې بعضو خلقو د دلائلو نه جوابات اوشول نو دهغو دا مذهب باطل دے او ماتن خو على الاصح وئيلي دے او اصح خو په مقابله د صحيح كښ رازي نو مطلب دادے چه دا هغو دا مذهب هم صحيح دے حالانكه هغه باطل دے نو ماتن لره على الصحيح وئيل پكار وو .

جواب: نا دا مذهب باطل نه دے بلكه دا جوابونه د دوى خالي نه دي د تكلف او تعسف نه په دې شان سره چه اول جواب زجاج چه كړے دے نو تكلف پكښ دادے چه كافة په معنى د مانعا سره ګرځولے دي حالانكه داپه معنى د شمول سره راځي او تعسف دادے چه دا تاء وائي دپاره د مبالغه ده ظاهر هم داده چه دا دپاره د تانيث شي او دويم او دريم جواب كښ تكلف دادے چه دلته تقدير راغلى دے يو كښ تقدير د اسم او بل كښ خو تقدير د فعل دے او دا تقدير تكلف وي او تعسف دادے چه داكافة مصدراو صفة وئيلي او كاذبة او عافية پشان مصدر ګرځول دا سمدست ذهن ته نه راځي نو كه دا صفة شي او يا مصدر شي خو متبادر الى الذهن نه دے

وكل ما دل على هياة صح ان يقع حالا احكام د حال شروع دى دې مقام نه يو بل حكم بيانوى او په دې كښ رد دے په جمهورو باندې حاصل د حكم دادے چه هر اسم چه په حالت دلالت كوى كه مشتق وى او كه جامد وى نو دا به حال واقع كيږى او جمهور وائي چه نه خبره داسې نده بلكه د حال دپاره لا بدى ده چه دابه مشتق وى او كه جامد واقع وو نو هم به دابه تاويل د مشتق ګرځي خو ماتن صيب په دوى باندې رد كوى نو قال و كل ما دل على هياة الخ او دا څكه چه حال مبين د ذو الحال وى او مبين مشتق او جامد دواړه واقع كيدلے شي او بل دا چه حال قسم د اسم دے او اسم عام دے كه مشتق وى يا جامد او جمهور دا خبره كوى چه اكثر او بيشتر حال مشتق وى او جامد قليل الوقوع وى نو لهذا دا حمل دے په كثير الوقوع باندې خو دا مذهب ضعيف دے ولې چه تاويل كول په حق د جامد كښ تكلف دے. نو كل ما دل الخ سره بيان د قاعدې دے او صح ان يقع سره حكم شو او مثل سره وضاحة بالمثال دے شارح وائي اى صفة دا تشريح د لفظ غير مشهور ده په مشهور سره او دفع د سوال هم ده چه هياة خو عبارت دے د ترتيب د حروفو حركاتو او سكناتو نه نو په دې اعتبار خو عبارت ظاهر البطلان دے.

جواب: ذكر د هياة او مراد صفة دے. سواء كان الدال غرض د شارح بيان د عموم كوى چه مستفاد دے د كل نه.

سوال: عموم د لفظ دما نه مستفاد شو نو ذکر د کل مستدرك دے.

جواب: کل دپاره د نص دے په عموم کښ ولی چه ما احتمال د عموم او خصوص دواړو لري من غیر ان یوول دا دفع د سوال ده چه عند الجمهور خو هم جامد حال واقع کیږی او عند الماتن هم نو تقابل او رد صحیح ندے.

جواب: فرق پکښ شته دے جمهور حال جامد واقع کوی په تاویل سره او عند الماتن بلا تاویل و هذا رد علی غرض د شارح مقصد د متن بیانوی و تکلفوا دا وجه د رد بیانوی او دفع د سوال هم ده چه په دې مذکور مثال کښ خو عند الجمهور پکار ده چه حالية د سره صحیح نه شي حالانکه دوی په صحة قائل دي .

جواب: دوی بلا تاویل قائل ندی او په تاویل سره خو قائل دی ومع هذا غرض د شارح منشا د اشتراط ما د جمهور دپاره د حال بیانوی حاصل ئی هم دادے چه دوی حمل د قلیل کړے دے په کثیر باندې مثل هذا بسرا طیب منه رطبا غرض د ماتن وضاحة بالمثال دے.

سوال: ماتن د حال دپاره ه مثال پیش کوو نو وای دا تړوله جمله مثال دے حالانکه مثال خو دپاره د جامد دا تړوله جمله نده .

جواب: شارح وائی چه مراد په دې ترکیب کښ بسرا او رطبا دي نو دا دواړه دلالت کوی په یو صفة باندې چه بسریة او رطبیة دي نو اګرچه جامد دي خو بیا هم بغیر د تاویل نه حالات واقع شوی دی. او بیا دا مثال خلق هغه ځائ کښ بیانوی چه بیع کوی او شراء کوی نو بائع یو باغ خرڅوی چه پکښ سل بوټی وی په لس زره روپے باندې نو مشتری ورته وائی چه ستا دا باغ ګران دے فلاني سړی سره یو باغ دے چه پکښ دوه سوه بوټی دي او په لس زره نو بائع ورته وائی چه هذا بسرا الخ چه دائیم پخته کهجوری د دې باغ دهغی باغ د پخو کهجورونه بهتر دی. شارح اوی بسرا او رطبا في قولهم دا دفع د سوال ده چه ماتن مثال د حال مفرد ه جامد پیش کوی نو وای مثل الخ نو دا خوئی جمله مثال کښ راوړی ده چه غیر مقصود ده بالفاظ دیګر مثل مضاف دے او جمله مضاف الیه حالانکه دانا روا ده.

جواب: دا تړوله جمله نده مراد بلکه دا بسرا او رطبا پکښ مراد ده او دا مشهور تسامح ده چه دوی د دې ارتکاب کوی چه تسیة د جزء کل ته کوی بیا قولهم قول شو او باقی ورله متوله

شوه وهو ما بقي دا تعريف د بسر كوى وهو ما فيه دا تعريف د رطب كوى فهما دا تطبيق كوى د مثال د ممثل سره.

ولا حاجة الى ان يوول غرض د شارح تصريح كول دي په رد على الجمهور او دلته دوه اعتراضات په جمهورو باندي شارح دهغى جوابات كوى نو اول اعتراض دادے چه جمهور وائي چه دا بسر او رطب حالين دي موول دي په مبسرا او مرطبا سره نو اشكال دادے چه دي كښ لازم شول تاويل د تاويل چه ناروا دے يو تاويل دادے چه مجرد مزيد شو. دويم بيا اسم فاعل شو دويم اعتراض دادے چه دا بسرا او رطبا مؤول كول په مبسرا مرطبا سره خلاف المقصود دي په دي شان سره چه دا بسرا او رطب صفتين دي د كهجورى يعنى د تمر او چه دا موول شو په مبسر او مرطبا سره نو دا صفتين شول د بوټي او د ونى د كهجورى نو دا خو التبه شو. او دا ځکه چه دا باب افعال شو او داخو متعدي وى نه لازم شارح جواب د اول نه كوى چه نحو د علوم نقليه نه دے نو دا موقوف دے په سمع د عربو نه نو د بسر او رطب اسم فاعل د مجرد نه مسموع من العرب نه وو نو د مزيد د باب افعال نه شو او د دويم نه جواب دادے چه دا مبسر او مرطب هم صفتين د تمر دي ځکه دا متضمن دي معنى د صيرورة لرة ولى چه بوټى بنه وى نو ځکه چه ما عليه بنه وى.

و العامل في رطبا غرض د شارح پدى عبارت سره تركيب كول دي په دي مثال مذكور كښ او بيان الاختلاف دے او ترجيح د ما هو الراجح ده نو دلته ه دي رطبا كښ عامل اطيب دے بالاتفاق او په بسرا كښ اختلاف دے يو مذهب دادے چه عامل په دي بسرا كښ دا دے يعنى عامل پكښ معنوى دے چه د هذا نه معلوميږى او محققين وائي چه عامل پكښ اطيب دے دليل د اول دادے چه اطيب اسم تفضيل دے په مقدم كښ عمل نشى كولى ځکه دا عامل ضعيفه دے او محققين وائي چه دلته مجبورى ده او الضروريات تبيح الحذورات الخ لانه اذا تعلق غرض د شارح بيان د هغه مجبورى دے نو حاصل دادے چه دلته دا تقديم د معمول په عامل ضعيف باندي د وجى ديو قانون نه راغلى دے هغه داچه كله ديو شئ سره د دوه ؤ حالينو مختلفينو په اعتبارين مختلفين سره تعلق راشى نو هر حال به د خپل ذو الحال په جنب كښ واقع وى ځکه چه دپاره ددفع د التباس اوشى ځکه التباس مخل دے په مقصود كښ نو عامل دواړو كښ اطيب دے په بسرا كښ په اعتبار د مفضل او په رطبا كښ په اعتبار د مفضل عليه سره نو كه دا دواړه معمولي موخر وے نو التباس محل راتلو چه مفضل كوم يو دے او مفضل عليه كوم دے نو موټر دا بسرا مقدم كړو ولى چه مفضل مقدم وى. و هذه

الحيثية غرض د شارح دفع د سوال ده چه اطيب اسم تفضيل دے تقاضا د مفضل او مفضل عليه کوی نو مفضل به هله متحقق شی چه اطيب کښ ضمير مستکن او منلے شی نو چه ضمير مستکن کله شو نو بيا خو د قاعدی مطابق حال دې سره متصل پکار دے حالانکه دا خو پری مقدم دے. جواب او په اطيب کښ ضمير شته دے چه راجع دے مشار اليه ته نو دلته لحاظ د مرجع شوی دے او دا کالمعدوم ګرځيدلے دے نو مرجع خو مقدم ده او دا ورسره متصل دے. قال الرضی غرض د شارح پدی عبارت سره تائيد کول دي د قول خپل په قول د شيخ رضی صيب حاصل د رضی صيب د قول دادے چه که حال پس د اطيب نه ذکر شی متصلا نو پکښ څه حرج نشته دے ځکه دا ضمير من کل الوجه معدوم ندے نو که هذا اطيب بسرا منه رطبا شی نو هم صحيح ده خو دومره قدر لره کار دے چه د عربو د سمع نه مخالف دے نو عمل پری ندے شوی ځکه شئ عقلی دے و الاعتبار الی النقل و ذهب بعضهم دا دويم مذهب نقل کوی چه دا مذهب د ابو علی فارسی دے. و هذا ليس بصحيح غرض د شارح ترجيح دما هو الراجح ده او رد دے په مذهب ثانی باندې نو حاصل دادے چه د دوو وجوه نه دا مذهب کمزوری ده يو وجه لانه ممکن ان يکون حاصل دادے چه که چری موثر عامل معنوی او ګرځو نو دا اشاره به د حالت د بسرية سره مقيده شی حالانکه چه کله مشار اليه د صفة د بسرية سره مقيد نه وی نو هم اشاره صحيح ده نو د دې نه معلومه شوه چه عامل معنوی ندے د هذا نه.

ولانه يصح دا دويمه وجه بيانوی چه ه هذا عامل شی نو قانون دادے چه په انتفاء د عامل سره انتفاء د اثر د عامل راځی په معمول کښ نو بيا معمول ګرځول صحيح نه وی حالانکه که مثال مذکور کښ دا هذا زائل شی او د دې په مقام باندې يو داسی اسم قائم شی چه دهغی نه فهم او انتزع د عامل معنوی نه کيږی نو بيا هم معمول صحيح دے نو انتفاء د عامل راغله خو د اثر نه نو داخو د قانون خلاف دے.

و قد تکون جملة خبرية حال په دوه قسمه دے يو حال مفرده دويم حال مرکبه نو هر کله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د حال مفرده نه نو شروع ئ اوکړه په تفصيل د حال مرکبه کښ فقال و قد تکون بيا دلته مصنف دوه حکمه بيانوی يو حکم صراحة چه حال کله کله جمله واقع کيږی دويم حکم ضمنا چه اکثر او بيشتر حال مفرده وی او اصل هم داده چه دا مفرد وی نو دلته څه سوالات وارد شول (۱) دا حال کله کله جمله ولی واقع کيږی (۲) دا

جمله واقع كيدل د حال قليل ولى دى؟ (٣) مفرد واقع كيدل كثير ولى دي (٤) دا قيد د خبرية د جمله سره ولى لګوى .

جواب: عن الاول دادے چه لدلالتها حاصل دادے چه څنګه مفرد دلالت په بيانول د هياة د فاعل او مفعول كوى نو جمله هم نو دوارم صلاحية لرى نو څكه به جمله واقع كيرى او بل داچه حال عبارت دے د صفة نه د شئ او صفة ديو شئ مفرد او مركب دواړم راځى .

جواب: عن الثانى دادے چه دا جمله واقع كيدل قليل څكه دي چه دا خلاف الاصل ده او دا قليل وى-

جواب: عن الثالث دادے چه دا مفرد واقع كيدل څكه كثير دي چه دا اصل دے او اصل كثير الوقوع وى او دا څكه چه دا حال په منزله د خبر دے او خبر كښې خو اصل افراد دے او بل داچه حال قسم دے د اسم نه او اسم قسم د كلمه او ماخوذ په تعريف د كلمه كښې افراد دے نو څكه به مفرد وى او جواب عن الرابع دادے چه دا حال به جمله خبريه څكه وى چه ولكن حاصل دادے چه دا حال محكوم دے او ذو الحال محكوم عليه دے او محكوم به د محكوم عليه د احوالو نه يو حال وى په اعتبار د نفس الامر سره او ددى صلاحية په كلام خبرى كښې وى نه انشائى كښې ولى د دې دپاره وجود فى الخارج نه وى او د كلام خبرى دپاره وجود فى الخارج وى بل داچه حال د غير دپاره ثابتيږى او انشاءلا ثابت نه وى نو بل دپاره به څه ثابت شى او بل داچه حال په منزله د خبر دے او خبر محكوم به وى او انشاء كښې صلاحية د محكوم به كيدلو نشته دے شارح وائى اى المال دا تعين د مرجع كوى د تكون لدلالتها سره دعوى ده ولكن يجب سره دا خبره چه دا قيد د خبريه احترازى دے لان الحال سره دليل دے

ولما كانت الجملة مستقلة اغراض د شارح په دې عبارت سره درى دي يو تمهيد دے روستو عبارت ته دويم د هغى د ما قبل سره ارتباط بيانول دي دريم دفع د سوال ده چه ماتن اوى فالاسمية نو دا فاء جزائيه ده او يا دا تفصيليه ده خو جزائيه سبق شرط غواړى او دلته خو فعل شرط نشته او تفصيليه سبق اجمال غواړى او اجمال خو هم نشته .

جواب: دا فاء هم جزائيه ده او فعل شرط مقدر دے چه ولما كانت الجملة دے او تفصيليه هم صحيح ده او دا مخكښې اجمال شو او دا باقى تفصيل دے. نو دلته نه شارح دا خبره كوى چه دا جمله خو مستقله وى څكه دا مشتمل ده په مسند او مسند اليه بانديې لا تقتضى ارتباطها څكه احتياج الى الغير پكښې نشته دے او حال خو محتاج وى غير ته چه ذو الحال

دے نو لا بدی شوہ دیو دامی شئ نه چه د دې دما قبل سره ربط راولی کله چه دا حال واقع شي نو هغه ترونکي شئ یو"واو" دے او بل ضمیر دے نو په جمله اسمیه کښ دواړه دي او"واو" بلا ضعف او ضمیر مع ضعف و الجمله الخبرية دا اجمال دے چه دا جمله خبریه په پینځه قسمه ده چه کله فاء تفصیلي شي فالاسمیة سره تفصیل دے شارح واقی ای الجملة الاسمية ځکه دا الاسمية صفة دے تقاضا د موصوف کوی نو هغه ورله شارح متعين کړو الحالية دا دفع د وهم ده چه لازم شو خروج عن البحث نو دفع اوشوه متلبسه دا ورله ترکیب بیانوی چه فالاسمیة مبتداء ده او دا باقی ورله په اعتبار د متعلق سره خبر دے معا د دې قید فائده راځی په دې مقام کښ چند سوالات دي (۱) چه جمله اسمیه حال واقع شي نو نفس"واو" او ضمیر نه ولی لا بدی ده (۲) اسمیه کښ دواړه ولی دی؟ (۳) فقط په"واو" باندې اکتفاء کول ولی ضعیف ندی؟ (٤) په ضمیر باندې اکتفاء کول فقط ولی ضعیف دی؟ (٥) امثله ورله څه دی؟

جواب: عن الاول دادے چه دا جمله ربط غواړی او دا دواړه ربط پیدا کوی نو نفس راوړل ځکه دی.

جواب: عن الثانی دادے چه لقوه الاسمية چه دا جمله اسمیه مستقل ده نو دې استقلال کښ قوی ده نو مناسب داده چه رابط ورله هم قوی شي او هغه دا"واو" او ضمیر دواړه دی.

سوال: دا جمله څنګه قوی ده په استقلال کښ؟

جواب: دا ځکه چه یو خو داچه دا محتاج نده شئ اخر ته په افاده کښ چه دا احتیاج استقلال ختموی.

آن کہ شیران را کند روباہ مزاج

احتیاج، احتیاج، احتیاج

او بل داچه دا دلالت کوی په دوام او استمرار باندې په خلاف د حال چه دې دامی ندے نو دا جمله چه موثر حال واقع کوو نو دا صیرورة دے د اصل نه خلاف الاصل ته چه تقاضا د قوة کوی او بل دا چه دا جمله اسمیه په جزئین قویین باندې مشتمل ده ځکه دواړه اجزاء د جمله اسمیه د کلام نه جزء واقع کیدلے شي.

نحو جئت و انا راکب الخ دا امثله دي دلته"واو" او ضمیر دواړه واقع شوی دي.

سوال: يو مثال کافي دے کنه درې امثله ولې بيانوي؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وي په تعدد د ممثلاتو باندې نو شارح مثال د ضمير ذکر کړی دے او ضمير په درې قسمه دے غائب مخاطب او متکلم نو ځکه ئې درې امثله بيان کړل او بالواو وحده يا په "واو" باندې هم اکتفاء جائز ده لابها غرض د شارح دليل ذکر کول دي چه دا "واو" په اول کښ وي نو د اول وهلة نه په دلالت اوکړي او ضعيف هم نه دی د اول نه دال دے مثل قول سره مثال دے او تطبيق د مثال د ممثل سره اسان دے نو دا جواب عن الثالث هم شو و هذا دا دفع د سوال ده چه په هو الحق لا شك فيه کښ لا شك فيه حال دے جمله اسميه ده او"واو" پکښ نشته دے.

جواب: زمونږ مراد د حال نه چه جمله وي حال منتقله دے او دا خو موکده دے لان الواو لا تدخل غرض د مصنف دليل زکر کول دي حاصل دادے چه په حال موکده کښ "واو" ځکه نه راځي چه د موکد او موکد په درميان کښ شدة اتصال دے نو"واو" سره هغه اتصال روانيږي فصل راځي او بالضمير وحده على ضعف شارح پکښ وحده اولګو دا دفع د سوال ده چه ضمير خو مخکښ تېر شوی مع المثال.

جواب: مخکښ ضمير د"واو" سره او دلته فقط ضمير مراد دے على ضعف هم دفع د سوال ده چه مخکښ ضمير د ذکر وو او بلا ضعف وو نو دلته څنګه کيفيت دے؟

جواب: دلته على ضعف دے.

سوال: تناقض راغي کلام کښ.

جواب: وحده دلته يواځې مراد دے.

سوال: دا ولې.

جواب: لان الضمير چه ضمير د اول وهلة نه دال على الربط ندے نو ځکه ضعيف دے لکه کلمته فوه الي ق تطبيق د مثال اسان دے و المضارع المثبت هر کله چه فارغ شو مصنف استاذ د بيان د جمله اسميه نه نو شروع ئې اوکړه په بيان د جمله فعليه کښ شارح واقی ای الجملة دا د ما قبل سره ربط ذکر کوي بيا چونکه جمله فعليه دوه قسمه ده. (۱) مضارع (۲) ماضي بيا هر واحد دوه دوه قسمه ده (۲) مثبت (۲) منفي نو ماتن واقی که حال جمله فعليه

مضارع مثبت وه نو دا رابط په پکښ ضمير وي فقط او"واو" به نه راځي. لمشابهة دي عبارت سره دليل د عدم اتيان د"واو" بيانوي حاصل دادے چه چونكه مضارع د اسم فاعل سره مشابه دے لفظا او معنى او اسم فاعل خو مستغنى دے د"واو" نه نو د دې وجې نه به دلته هم"واو" نه وي لكه جاءنى زيد يسرع نو فلا يقال و يسرع وما سواهما او چه علاوه د مضارع مثبت او جمله اسميه نه وي نو هغى كښ به رابط يا دواړه وي او يا به احد الامرين وي شارح واى اى ما سوى دا تعين د مرجع كوى د ضمير د هما من الجمل المستملة دې سره تعين د ما سوى كوى من غير ضعف دلته اكتفاء كول په يو باندې ضعيف ندى ولى چه دا د جمله اسميه پشان قوى نه دى .

نحو جاءنى الخ په دې كښ ټول نهه صورتونه جوړيږي شارح به د ټولو دپاره امثله بيانوى ولا بد فى الماضى المثبت غرض د ماتن د ماضى مثبت دپاره څه احكام خاصه بيانوى نو ماتن واى چه كله ماضى مثبت حال واقع شى نو دې كښ به دخول د قد ضروري وى او غرض دشارح په لا المنفى سره د المثبت قيد فائده بيانول دي بيا ماتن من قد اوى او شارح اوى من دخول لفظة قد غرض د شارح په دې عبارت سرهٔ يو اشاره كوى دې خبرې ته چه دا قد په حذف د مضاف سره دے او په لفظ د دخول سره دفع د سوال ده چه دې مقام كښ تا قد ته نسبة اوكړو نو دا صحيح نده ولى چه قد خو ذات دے او ذات خو مقدور د متكلم نه وى مقدور د متكلم خو اوصاف وى څكه معنى ورسره هم فاسده ګرځي.

جواب: او شو چه دلته دخول مقدر دے او هغه وصف دے. المقربة زمان الماضى غرض د شارح پدې عبارت سره دليل ذكر كول دي دپاره د دې حكم چه دخول د قد دے نو حاصل دادے چه دا قد وضع شوى دے دپاره د قرب د ماضى الى الحال چه دا ماضى بعيده او متوسطه نده بلكه قريبه ده نو چه كله دا ماضى حال واقع شى نو لا بدى ده پكښ د دخول د قد نه چه دلالت اوكړى په قرب د ماضى د زمانے د عامل سره بالفاظ د ذكر دا قد وضع دے دپاره د تقريب نو قد داخلول څكه ضروري شو چه د ماضى د حال سره مناسبة راشي څكه چه دا قد به ماضى حال ته نزدې كړى نو حال واقع كول به د ماضى صحيح وى څكه چې قريب دشى لره حكم دهغه شى وى تجوزا دا دفع د سوال ده چه قد خو وضع دے دپاره د مطلق قرب د زمان الماضى الى الحال او تاخو ورسره قرب د زمانى د صدور الفعل راوستو په طرف د ذو الحال باندې.

جواب: دا مجازا دے نو د قد خو د دې دپاره وضع ندےچې ماضي حال اصطلاحي ته قريب كړي بلكه حقيقة وضع دے دپاره دقرب دماضي زمان الحال ته. لان المتبادر غرض د شارح دليل ذكر كول دي دپاره د دې دعوى خپلې چه لابدى ده دقد نه نو حاصل دادے چه داقد ځكه ضروري دے چه دلته ماضي د ماضيوالي په نسبة سره زماني د عامل ته دے نه چه شئ اخر ته لهذا دې كښې قد ضروري شو چه دلالت اوكړي په مقارنة باندې.

و هذا بخلاف غرض د شارح بيان الاختلاف ذكر كول دي چه دا مذكور حكم عند البصرين دے او هر چه كوفيان دي نو دهغو په نزد دخول د قد واجب ندے نه ظاهرا او نه مقدرا.

ظاهرة او مقدرة غرض د ماتن پدى عبارت سره تعميم كول دي په قد كښې چه دخول د قد عام دے كه ظاهر وى لكه جاءنى زيد و قد ركب غلامه او يا مقدر وى لكه اوجاوكم حصرت صدورهم اى قد حصرت صدورهم او دا عبارت په طرز د سوال، جواب باندې هم لګيدلے شي چه سوال زه به درته اوښايم چه ماضي مثبت به حال واقع شوى وى او قد به ورسره نه وى لكه دا مخكښې مثال شو.

جواب: دلته قد مقدر دے.

وهذا بخلاف مذهب سيبويه و المبرد غرض د شارح بيان الاختلاف دے چه د سيبويه او مبرد په نزد باندې حذف د قد ناروا دے.

سوال: نو په كلام د فصيح كښې خو راغلى دے لكه دغه ايت شو.

جواب: فسيبويه يو ول سيبويه صيب تاويل كوى چه دا ايت چه حصرت الخ دا جمله حال ندے بلكه دا جمله صفة دے دپاره د موصوف محذوف چه هغه قوما دے نو دا بيا حال مفرده دے نه مركبه والمبرد او مبرد استاذ پكښې چه دا جمله حاليه نده بلكه دا جمله دعائيه ده او دا د قبلى دلا محل لها من الاعراب نه ده.

و انما لم يشترط غرض د شارح پدى عبارت سره دفع د سوال ده چه مصنف حكم د دخول د قد په ماضي مثبت كښې ولى شرط كړو پكار ده چه حكم ئې مطلقا لګولى وى نو ماضي منفى ته به هم دا شامل وو.

جواب: چه په ماضی منفی کښ استمرار شته دے چه دا زمانه د عامل د زمانې سره ملاو وی نو قد ته څه حاجة نه راځی.

و یجوز حذف العامل هر کله چه فارغ شو مصنف د دوه ؤ قسمونو د حال نه چه یو حال مفرده وو او دویم حال مرکبه او دا مفرده اصل او دا مرکبه فرع نو اوس ئ شروع اوکړه په حکم د عامل د حال په اعتبار د حذف سره بیا دا حذف دوه قسمه دے یو جوازی دویم وجوبی نو اول جوازی ذکر کوی او دویم وجوبي ذکر کوی.

فقال و یجوز..... العامل بیا دا عامل عام دے که فعل وی او یا شبه فعل دي سره سوال دفع شو چه تا عامل اوی نو الفعل اوا یه کنه لکه چه مخکښ به دي الفعل ذکر کوو؟

جواب: العامل مو څکه اوی چه عامل د حال دری قسمه راځي فعل، شبه فعل او معنی د فعل نو العامل مې اوی چه دي دریو وارو ته شامل شي في الحال غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا خروج عن البحث راغی او دا خو ناروا دے خبره ده حال شروع ده او ته شروع په عامل کښ شوی.

جواب: دا عامل مطلق نه وایم بلکه في الحال وایم

سوال: جاءنی زید راکبا دي ترکیب کښ خو حذف د عامل ناروا دے.

جواب: لقیام قرینه مطلقا نه دے مراد بلکه په وخت د حصول د قرینه کښ.

سوال: دا قید چه مراد دے نو دا مصنف ولی پریښودو.

جواب: ماتن اکتفاء په مثال کړی ده چه مثال کښ قرینه حالیه شته دے (۲) دا متن دے او مبنی د متونو په اختصار وی نو ماتن مخکښ د حذف کثرو احکام بیان کړی دي او حلته قرینه ضروری وه نو دلته ئ په هغې باندې اکتفاء اوکړه او عادت د مصنف جاری دے په دې خبره چه کله اکتفاء کوی د لاحق نه په سابق باندې او کله اکتفاء د لاحق نه په سابق دي مقام کښ ماتن اکتفاء کړی ده دلاحق نه په سابق باندې حالیه او مقالیه دا دفع د وهم دی چه ماتن قرینه مطلق ذکر کړی ده او مطلق چه ذکر شي نو رجع ئ فرد کامل ته کیږی او فرد کامل د قرینه مقالي ده نو حالیه خارج شوه نو شارح دا وهم دفع کړو چه مطلق به خپل اطلاق جاری دے نو مقالیه او حالیه دواړه مراد دی کنونلک دا مثال د قرینه حالیه ده چه

راشد مهديا قرينه په نفس حذفية باندې نصب دے او په تعيين د محذورف باندې قرينه حال دے د مخاطب.

سوال: مسافر خو هغه انسان وی چه سفر کښې وی او دا قول خو ورته د سفر شروع کولو نه مخکښې واق نو للمسافر صحيح نه دے.

جواب: ای الشارع يعنى داپه اعتبار د ما يكون سره دے و قوله مهديا غرض د شارح په دې عبارت سره علت د نصب د مهديا بيانوی نو وای دا خو يا صفة د راشدا دے او يا حال دے بعد د حال نه چه د ضمير د سر نه دے يعنى دا حال مترادفه دے.

سوال: چه قرينه دوه قسمه ده نو ماتن ديو دپاره مثال ذكر كوی او دويم دپاره نه دا ولې؟

جواب: دا متن دے او بناء د متونو په اختصار وی نو ځکه ديو مثال ذكر كوی.

سوال: نو پكار ده چه د قرينه مقاليه مثال ئې ذكر كړی وی او د حاليه مثال ئې پريښودی وی ځکه دا ضعيفه ده.

جواب: چه ماتن مثال د قرينه حاليه ذكر كړو نو بل ترې نه هم معلوم شو په دې شان سره چه حاليه ضعيفه ده او بيا هم حذف د عامل ترې نه كيږی نو د قوی نه به په طريقه اولى جائز وی كقولك دا مثال د قرينه مقاليه دے چه راكبا دے نفس حذفية باندې قرينه نصب دے او په تعيين د محذوف باندې قرينه .

سوال: د سائل دے و منه قوله تعالیٰ دويم مثال ورله هم پيش كوی قادرين دا حال دے لفس حذفية باندې قرينه نصب دے او په تعين د محذوف باندې قرينه دا مخكښې نَجمعُ دے.

و يجب في الموكده دې مقام كښې خو سوالات دې (۱)ددې عبارت دما قبل سره ربط څه دے؟ (۲) د حال موكده څه تعريف دے (۳)مثال ورله څه دے؟ (٤) تطبيق د مثال د ممثل سره څه دے؟ (٥) شرائط ورله څه دی.

جواب: د اول نه دادے چه كله فارغ شو مصنف د حذف العامل د حال نه جوازا نو شروع ئې اوكړو په وجوبا باندې او داپه هغه مقام كښې وی چه سد مسد هم موجود وی بيا شارح اوئ ﷺ حذر العامل غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده په دې شان سره چه ماتن

اوی و یجب فی الموکدة مثل آه نو معنی فاسده ده چه واجب دے په موکده کښې مثل د دې ترکیب نو دا خو معنی مهمله ده.

جواب: داپه حذف د فاعل سره دے ای حذف العامل چه په مثل د دې ترکیب کښې حذف د عامل واجب دے بیا شارح بعض الاحوال اوی داهم دفع د سوال ده په دې شان سره چه ماتن اوی چه حذف د عامل د حال موکده نه واجب دے نو زه به درته اوښایم چه حال موکده به وی او حذف د عامل به ئې واجب نه وی لکه انا ارسلناك للناس رسولا دلته رسولا حال موکده دے او عامل ذکر دے چه ارسلناك دے نو شارح جواب اوکړو چه بعض احوالو کښې هر وخت نه دے مراد.

سوال: ماتن خو الموکده مطلق ذکر کړی دے تا خو مقید کړو قرینه څه ده؟

جواب: قرینه دا ذکر د شرائطو دے روستو په شرطها ان تکون مقررة سره دې نه معلومیږی چه دهر حال موکده نه حذف د عامل جائز نه دے وهی ای الحال غرض د شارح په دې عبارة سره تعریف د حال موکده ذکر کوی یعنی د دویم سوال نه جواب کوی او دوه فرقه بیانوی په درمیان د حال مؤکده او حال منتقله کښې نو تعریف دادے چه حال مؤکده هغه دے چه د خپل ذو الحال نه په غالبو اوقاتو کښې نه جدا کیږي چه تر څو پوری دا موجودوی او اول فرق هم معلوم شو چه حال منتقله کښې دا حال د ذو الحال نه جدا کیږي مثال د حال موکده زید ابوك عطوفا نو دا عطوفیة د اب نه نه جدا کیږی په غالبو او قاتو کښې نعم چه کله بچی وران کارے نو بیا دا حال جدا وی د ذو الحال نه او مثال د حال منتقله دپاره جاءنی زید راکبا دے چه هر وخت خو سورنه وی و المتنقلة غرض د شارح دویم فرق بیانول دي حاصل دادے چه حال منتقله تقیید راولی د هغه حدچ چه دهغی نسبة شوی وی فعل ته په طریقه د صدور یا په طریقه د وقوع په خلاف د مؤکده بانديې یعني حال منتقله قید وی دپاره د ذو الحال او حال موکده قید نه وی بلکه یو وصف وی دپاره د ذو الحال.

جواب: د دریم سوال هم او شو چه مثال ماتن ذکر کړی دے چه زید ابوك عطوفا دے.

جواب: د څلورم سوال چه تطبیق دے نو داپه دوه طریقه دے یو دا چه دي عطوفا ته حال منتقله ولی نه وائی؟

• نو شارح وائی فان العطوفية يعنى د حال مؤكده تعريف پرى صادق دے او دويم تطبيق داوے تعين د عامل محذوفه او تعين د هر قرينه او سد مسد نو ماتن تعين د عامل كوى چه يا احقه (مجرد) او يا احقه(مزيد) دے او معنى به داوى چه زه يقين كوم په دې ابوة په داسې حال كښ چه پكښ عطوفية دے او يا زه ثابتوم دا ابوه په داسې حال كښ چه پكښ عطوفية دے او قرينه په نفس حذفية باندې نصب د عطوفا دے او قرينه په تعيين د محذوف باندې دا مبتداء او خبر دې ځكه دا خبر مبتداء لره ثابت وى نو په دې ثبوت باندې دلالت كوى او په تحقق باندې او سد مسد قيام د معمول چه عطوفا دے په مقام د عامل چه احقه (مجرد يا مزيد) دے په معونة د جمله متقدمه چه زيد ابوك دے بفتح الهمزة او ضمها غرض د شارح په دې عبارت سره تعريف كوى د دې عامل محذوفه باعتبار دا الفظ او باعتبار المعنى نو باعتبار دا الفظ خو داوے چه دايا بفتح الهمزه دے او يا بضمها من حققت الامر دا تعريف دے په اعتبار المعنى او غرض د مصنف په دې عبارت سره دفع ديو سوال ده چه حق خو يو په معنى د ثبوت راځى او دويم په معنى د احاطه او دريم په معنى د غلبه راځى او دا درى واړه معانى دې مقام كښ نه دې صحيح ځكه ثبوت لازم دے او تا متعدى ذكر كړى دے او معنى د احاطه او غلبه خو بداهة ناروا ده نو شارح جواب كوى چه دې دپاره دوه معانى نورى هم دې يو په معنى د تحقق او دويم په معنى د اثبات سره او دواړه معنى دلته صحيح دې دى مقام كښ ځكه معنى به شى چه زه تيقن كوم په دې ابوة باندې په داسې حال كښ چه پكښ عطوفية دے او دا معنى د مجرد شوه او چه مزيد شى نو معنى به شى چه زه ثابتوم د ابوة په داسې حال كښ چه پكښ عطوفية دے نو يو غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د دې سوال ده او دويم غرض د شارح په دې عبارة سره رد دے په فاضل رضى صيب باندې ځكه هغه وائى چه دلته تحقق نه دے صحيح نو شارح پرى رد اوكړو چه دا معنى صحيح ده ځكه ذو الحال ابوة دے او چه هر كله ذو الحال ابوة نه شى بلكه اب شى نو بيا دا معنى صحيح نه ده. و قال صاحب المفتاح شارحين وائى چه غرض د شارح په دې عبارت باندې رد كول دې په ماتن باندې په خله د صاحب المفتاح چه سكاكى دے رد په دې شان دے چه ماتن دلته تقدير دا حق (مفرد، مزيد) راوباسو نو ډير احق تقدير داله دے بلكه هغه يحنى دے او معنى به شى چه زيد ستا پلار دے ميلان كوى اب ستا چه زيد دے په داسې حال كښ چه عطوف دے نو د دې تكلفاتو نه پكښ اجتناب راغلو.

جواب: د رد نه داوے چه دا تقدير د يحى د ماتن د تقدير نه ښه نه دے ځكه ماتن فعل عام مقدر كوى او سكاكى فعل خاص او فعل خاص تقدير ته ذهن توجه تبادرا نه كوى. په

خلاف د فعل عام نو داسی تقدیر چه متبادر الی الذهن وی دا بهتر دے د هغه تقدیر نه چه متبادر الی الذهن نه وی.

جواب: د پنځم سوال نه دا دے چه و شرطها .

سوال: دا شرط به دپاره د وجود د حال موکده وی نو حال موکده به وی او دا شرط به نه وی لکه شهد الله... قائما .

جواب: نه دا شرط دپاره د وجود د حال موکده نه وایم بلکه دا دپاره د وجود د حذف د عامل د حال موکده وایم کما قال الشارح الخ ان تکون مقررة ای موکدة غرض د شارح د مقررة لفظ تشریح کوی ځکه داپه معنی د اظهار د ما فی الضمیر راځی او دا خو تعلق د ذوی الاجساد سره ساتی او حال د دې قبیلی نه نه دے نو شارح اوی چه دا معنی د موکدة سره دے لمضمون جملة مضمون په معنی د حاصل او مفاد سره دے احتراز غرض د شارح د جملة قید فائده بیانول دي چه په دې سره احتراز اوشو د انا ارسلناك للناس رسولا نه ځکه دلته دا تاکید د مضمون د جملة نه کوی بلکه د بعض اجزاء د جملة کوی چه رسالة دے خو چه رسول په معنی لغوی شی او که رسول په معنی اصطلاحی شی نو بیا د تولی جملی تاکید دے خو بیا هم حذف واجب نه دے ځکه ارسلناك جملة فعلیه ده نه اسمیه نو دا یو شرط شو دویم شرط چه دا جمله به اسمیه وی احترز بها غرض د شارح د دې قید فائده بیانول دي چه په دې سره احتراز دے د قائما بالقسط نه دا حال موکده دے د فاعل د شهد نه خو دا جملة فعلیه ده نه اسمیه او دا قید د اسمیه ځکه لګوی چه دا مضمون د جملة د ماتن په نزد صرف د اسمیه وی نه د فعلیه.

ولا بد ههنا غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض دے په ماتن پاندې چه ماتن لره دلته یو بل قید هم پکار وو چه سوال پرې وارد نه شی هغه سوال دادے چه زه به درته اوښایم حال به وی موکده به وی د مضمون د جملة اسمیه به وی او بیا به هم حذف د عامل ترې نه واجب نه وی لکه الله شاهد قائما بالقسط قائما حال موکده دے دپاره د مضمون د جملة چه شهادة الله دے او دا جملة اسمیه ده او عامل ورله ذکر دے چه شاهد دے نو دا قید پکار دے چه وهو ان یکون الخ نو الله شاهد به خارج وو ځکه شاهد احتمال د عمل لری.

جواب: ماتن دا قید پرېښودلے دے او اکتفاء په مثال کوی ځکه خو یو جامع مثال بیانوی. (۲) مراد د مضمون د جملة اسمیه نه هغه مضمون د جملة اسمیه دے چه دغه مضمون د جملة

فعلیه دپاره نه وی او دلته الله شاهد کښ چه کوم مضمون دے چه شهادة الله دے نو دا خاص نه دے د دی اسمیه سره بلکه د شهد الله هم دے چه دا فعلیه ده اخر کښ په اعتبار د تمه سره اقسام د حال چه اووه دی. نو یو مقدره دویم محققه دریم مترادفه خلورم متداخله پنځم منتقله شپږم موکده اووم حال متواطیه.

حال مقدره هغه دے چه معنی د حال ثابت وی ذو الحال لره په فرض د فارض او اعتبار د معتبر سره لکه فادخلوها خالدین نو خلود په فرض او اعتبار دے.

حال محققه هغه دے چه په فرض د فارض او اعتبار د معتبر سره نه وی لکه جاءنی زید راکبا چه په مرکب سور دے کنه.

حال مترادفه هغه دے چه احوال متعدد وی او ذو الحال یووی لکه په سر راشدا مهدیا کښ دویم ترکیب شو.

حال متداخله هغه دے چه حال ثانی حال وی د ضمیر نه په حال اولی کښ لکه راشدا کښ ضمیر راجع شی او بیا ذو الحال شی دپاره د مهدیا.

حال متواطیه هغه دے چه حال توطیه او توصیف وی دپاره د ذو الحال لکه انا انزلناه قرانا عربیا کښ دا عربیا شو.

حال منتقله چه د ذو الحال نه غالبا جدا وی لکه جاءنی زید راکبا شو

حال موکده چه نه وی منفك د ذو الحال نه غالبا لکه زید ابوك عطوفا.

التمیز

التمییز ما یرفع الابهام اجمالی خبری د دي عنوان (۱) ربط د ما سبق سره (۲) تحقیق تمرد التمییز (۳) اصطلاحی تعریف د التمییز (٤) اقسام د تمیز (۵) تفصیل د دغه اقسامو د تمیز

ربط:ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف دیو قسم د ملحقاتو د مفاعیلو نه چه حال وو نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د دویم قسم د ملحقاتو کښ نو په ملحقاتو کښ دا دویم دے او په مجموعه منصوباتو کښ دا اووم قسم دے دری سوالات راغلل (۱) نفس تفصیل ولی کوی (۲) دا تفصیل د تمیز د حال نه روستو ولی کوی؟ (۳) تفصیل څنګه کوی؟

نو نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او تفصیل ته محتاج هم دے او تفصیل ئی نه وو شوی نو اوس ورله تفصیل کوی او تفصیل کښې دا تمیز په حال پسې متصل ځکه ذکر کړو چه د حال او تمیز یو بل سره په بیان کښې مناسبة دے دواړه بیان کوی خو حال رفع د ابهام وصفی کوی او دا د ذاتی او دغه شان په بعض صورتونو کښې دواړه شریك هم راځی لکه لله دره فارسا کښې شو او تمییز ئی ځکه روستو کړو چه دا ترقی د ادنی نه اعلی ته ده او یا حال کثیر المباحث دے او تمییز قلیل المباحث دے او عادت د دوی جاری دے په دې خبره باندې چه کثیر المباحث په قلیل المباحث باندې مقدم کوی او تفصیل داسې کوی چه یو به د اووم قسم منصوب تعین اوکړی د التمیز سره دویم تعریف به ورله اوکړی په ما یرفع الابهام سره دریم دوه اقسام به ورله بیان کړی اجمالا مذکورة او مقدرة سره څلورم تفصیل د قسم اول به اوکړی فالاول سره پنځم د قسم ثانی تفصیل به اوکړی د و الثانی عن نسبة سره شپږ د دواړه دپاره به احکام ذکر کړی مختلف د ثم ان کان اسما... و احتملت الحا.... وان کان صفة وغیره سره ربط لفظی دادے (۱) التمییز مبتداء او ما یرفع ورله خبر (۲) التمییز مبتداء موخر او منها مقدر خبر مقدم په اعتبار د متعلق سره (۳) یا دا خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوفه چه هذا بحث التمییز دے .

لغوی تحقیق: دری خبری پکښې ضروری دی یو صیغه نو دا مصدر د باب تفعیل دے دویم لغت کښې په معنی د جدا والی راځی قال تعالی و امتازو الیوم ایها المجرمون نودریم مناسبت مصطلح تمییز ته ځکه تمییز وائی چه د ابهام د وجه نه پکښې ګډ وډ والی وی نو دا تمییز رفع اوکړی نو جدا والی دا ابهام نه راشی مثلا تا اوی طاب زید چه زید ښه دے نو دا ډیر احتمالات لری چه د زید لاس ښه دے کنه ښپه کنه سترګه خو چه تا نفسا اوی نو د دغه احتمالاتو نه جدا والی راغی بیا تمییز په معنی د اسم فاعل سره راځی ممیز جدا کونکی او په معنی د اسم مفعول سره هم راځی ممیز خو دابه ممیز به وی په حذف والایصال سره.

اصطلاحی تعریف: داماتن کړی دے چه ما یرفع الخ شارح وائی ای الاسم الذی غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د ابهام کوی د ماله په اعتبار د نوع سره چه داما موصوله ده اګرچه موصوفه هم صحیح ده او دویم غرض د شارح په دې عبارت دفع د سوال دے چه دا تعریف صحیح نه دے مانع نه دے د دخول د غیر نه فعل پکښې داخلیږی په دې ترکیب کښې چه یو کس اوائی قطع رزق فلان ای مات دلته مات دمعنی قطع د رزق کښې هغه ابهام رفع

گرو خکه د رزق کښی د قطع دپاره اسباب ډیر دي نو دي مات دهغی ابهام رفع اوکړه او یو تریح سبب ئي متعین کړو چه موت دے او دا خو تمیز نه دے.

جواب: اسم مراد دے او مات فعل دے او په دي سره تعین د ما هم اوشو په اعتبار د مصداق سره چه د اسم نه عبارت دے. و احترز به عن البدل غرض د شارح د دي قید فائده بیانول دي نو وای په دي قید سره د بدل نه احتراز اوشو په دي شان سره چه جاءنی زید اخوك دلته اخوك بدل دے رفع د ابهام ئی کړی ده د زید نه خو دا تمیز نه دے خکه چه قانون دادے چه په باب د تمیز کښی به مبهم او رافع دواړه مذکور مقصود وی او په باب د بدل کښی دغه مبدل منه نه وی مقصود بلکه دهغی په مقام باندې متعین شئ راخی چه بدل دے لکه مثلا جاءنی زید اخوك کښی زید تمهیدا دے او اخوك مقصود دے او عندی رطل زیتا کښی رطل او زیت دواړه مقصود دي المستقر ای الثابت غرض د شارح په دي عبارت سره تفسیر د لفظ غیر مشهور کول دي په لفظ مشهور سره من حیث انه موضوع د دي قید فائده روستو راخی "فان المستقر وان کان بحسب اللغة" غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراض ده چه مصنف المستقر مطلق ذکر کړے دے او مطلق په خپل اطلاق جاری وی نو داهر قسم ثابت ته شامل دے تاورسره دا قید د فی الموضوع له ولی اولګو دا مجاز دے قرینه څه ده؟

جواب: او دا قانون خو دے چه مطلق په خپل اطلاق جاری کیږی خو داپه اوصافو کښی او دلته یو بل قانون دے هغه داچه د مطلق رجع فرد کامل ته کیږی او دلته هم فرد کامل دادے چه ثابت په معنی موضوع له کښی وی و احترز به غرض د شارح په دي عبارت سره د المستقر قید فائده بیانول دي نو حاصل دادے چه په دي سره احتراز دے یو د وصف د مشترك او دویم د اوصافو د مبهماتو نه او د عطف بیان نه هم دا دفع د سوال هم ده چه دا تعریف د تمیز صحیح نه دے خکه دامانع نه دے د دخول د غیر نه یو پکښی قرینه د مشترك داخلیږی لکه رایت عینا جاریة نو عینا کښی ابهام دے په ډیرو معانیو راخی نو جاریة سره ابهام رفع دے نو دي ته تمیز وئیل پکار دي حالانکه خلق ورته قرینه د مشترك وائی نو جواب اوشو چه زمونږ ه مراد د ابهام نه هغه دے چه په معنی موضوع له کښی وی او دلته خو دا د وجه د استعمال نه دے تعدد دے په معنی موضوع له کښی و کذا یقع دا دویم محترز ذکر کوی او دویم.

سوال: دفع كوى په دې شان سره چه په تعريف كښې دي او صاف د مبهماتو داخل شول لكه هذا مبهم دے نو الرجل ورله صفة دے نو رفع د ابهام اوشوه نو دې ته تمييز وئيل پكار دے حالانكه دې ته خلق صفة د مبهم وائي نو شارح.

جواب: اوكړو چه مراد د ابهام نه هغه دے چه په معنى موضوع له كښې وى او دا ابهام په معنى موضوع له كښې نه دے بلكه دا يا د تعدد د موضوع له د وجه او يا د كثرة استعمال د وجه نه راغلى دے فان هذه مثلا شارح وضاحة بالمثال كوى او اشاره كوى يو اختلاف ته چه دا تير شوى دے هغه دادے چه په دې مبهماتو كښې اختلاف دے چه د دې وضع د څه دپاره ده نو دوه مذهبه دې يو مذهب د متقدمينو دے و منهم التفتازانى دوى دا خبره كوى چه دا وضع دې دپاره د مفهوم كل په شرط د استعمال په جزئياتو د دغه مفهوم كلى كښې مثلا هذا وضع دے دپاره دهر واحد مذكر محسوس بالبصر خو مستعمل به وى په جزئياتو كښې نو وضع څكه دپاره د مفهوم كلى چه جزئيات غير منضبط دې او شرط د استعمال په جزئياتو كښې څكه وايو چه دې مفهوم كلى لره وجود نشته مگر په ضمن د افرادو كښې دويم مذهب د متاخرينو دے چه دوى وائي دا وضع دې دپاره د جزئياتو خو په لحاظ د مراتية د مفهوم كلى سره وضع دپاره د جزئياتو څكه ده چه مفهوم كلى لره وجود نشته دے په خارج كښې مگر په ضمن د جزئياتو كښې او دا لحاظ د مراتية د مفهوم كلى څكه چه انضباط پكښې راشى څكه جزئيات غير منضبط دې نو كه اول مذهب شى نو هم ابهام د وجه د تعدد د مستعمل فيه نه دے او كه دويم شى نو هم ابهام د وجه د تعدد د موضوع له نه دے او په معنى موضوع له كښې ابهام رانغلو و كذا يقع به دريم محترز ذكر كوى . او سوال هم دفع كوى په دې شان سره چه تعريف كښې دې عطف بيان داخل شولكه ابو حفص عمر شو نو ابو حفص كښې ابهام دے عمر هغه رفع كړو او دې ته څوك تمييز نه وائى.

جواب: دلته ابهام په معنى موضوع له كښې نشته دے بلكه د وجه د عدم اشتهار نه ابهام دے عن ذات لاعن وصف د دې قيد فائده ده و تحقيق ذلك غرض د شارح دفع د سوال ده په دې شان سره چه مونږ ته به څه پته وى چه دلته ابهام په ذات كښې دے او روستو تمييز رفع كوى او دغه شان دلته ابهام په وصف كښې دے او روستو ورله رفع كوى؟


جواب: دا دومره گرانه نه ده شئ ته گوره كه ابهام په ذات كښې وو نو روستو رافع به تمييز وى او كه نه و يعنى ابهام ذات كښې نه وى نو رافع هم تمييز نه دے مثلا رطل كښې ابهام نشته دے بلكه دبو خاص مقدار نوم دے دپاره دنيم سير نه كم د نصف نه او نه ډير دے نو

پکښې ابهام نشته دے بلکه ابهام چه راځي نو د دې وجه نه چه دا وزن د څه مراد دے غوړو كنه د شودو او كنه د ماستو وغيره نو دا ابهام په ذات کښې دے او بيا دا رطل دهر ملك خپل خپل وی د پاکستان خان لره او د بغداد وغيره خان لره نو دا ابهام په وصف کښې دے نو چه ته وائې رطل زيتا نو دا رفع د ابهام د ذات نه ده دا تمييز دے او كه ته وائې رطل بغدادی نو دا رفع د ابهام دوصف نه ده نو دا به يا صفة او يا حال وی نه تمييز باقي صرف ترجمه ده.

مذكورة او مقدره شارح وائي صفتان للذات دا د ماقبل سره ربط وائي خو ربط لفظى اشارة دا ورله ربط معنوی بيانوی چه اشاره ده پکښې يو تقسيم د تمييز ته او دويم پکښې اشاره دفع د اعتراض ته هم ده په دې شان سره چه تا د تمييز تعريف اوكړو چه دا رفع د ابهام كوی د ذات نه نو زه به درته اوښايم چه خلق به ورته تمييز وائي او ذات به پکښې نه وی لكه طاب زيد نفسا دلته نفسا رفع د ابهام كوی ذات کښې ابهام نشته دے چه زيد دے نو مبهم ذات نشته.

جواب: دا ذات عام دے كه مذكور وی او كه مقدر دلته دويم دے مقدر دے طاب شئ الخ دے.

اقسام د تمييز هم معلوميږی د دې نه چه دا تول دېرش دی.



عن جملة ، شبه جمله.

عين ، اضافي ، غير اضافي

خاص بالمنتصب عنه ، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

خاص بالمنتصب عنه، خاص بمتلعق المنتصب عنه، محتمل لهما

اضافی ، غیر اضافی

خاص بالمتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

خاص بالمنصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه، محتمل لهما

خاص بالمنتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه، محتمل لهما

عین عرض

اضافی ، غیر اضافی

خاص بالمتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

خاص بالمتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

اضافی، غیر اضافی

خاص بالمتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

خاص بالمتصب عنه، خاص بمتعلق المنتصب عنه ، محتمل لهما

فالاول عن مفرد مقدار کله چه فارغ شو مصنف د اقسامو د تمیز نه اجمالا نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د دغه اقسامو کښ فقال فالاول عن مفرد مقدار د اول قسم تفصیل کوی نو نفس تفصیل خکه کوی چه تفصیل ته محتاج دے او تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن هم وی او تفصیل کښ دا مقدم کوی خکه چه اجمال کښ مقدم وو نو چه موافقة راشی او اجمال کښ

ځکه مقدم وو چه اصل دے او اصل طبعا مقدم وی نو وضعا ئی هم مقدم کړو دپاره د برابر والی د وضع د طبع سره او تفصیل داسی کوی چه یو به دوه قسمه د دی ذکر کړی مفرد مقدار او دویم به ورله امثله بیان کړی او بیا احکام فالاول .

سوال: دا فاء کومه ده؟

جواب: دا تفصیلیه ده مخکښ اجمال وو اوس تفصیل بیا دا اول صفة دے موصوف غواړی نو هغه ورله شارح متعین کوی چه القسم دے او دا اول لازم الاضافة دے منسوب الیه غواړی نو شارح ورله دهغی تعین کوی چه من التمیز بیا شارح د دی قسم اول د تمیز تعریف او تفصیل کوی نو وای هو ما یرفع الخ عن مفرد د دی دما قبل سره ربط بیانوی چه دایه اعتبار د متعلق سره خبر دے د الاول دپاره او متعلق فعل خاص دے چه یرفعه دے شارح وائي یعنی به ما یقابل غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه روستو امثله د ممثل سره مطابق نه دي ممثل دادے چه مفرد دے او روستو امثله لکه منوان سمنا شو سمنا رفع د ابهام د تثنیه نه کوی/

جواب: د مفرد معنی دلته مقابل د جمله او شبهه جمله دے او مقابل د مضاف مقابل د تثنیه نه دے مراد .

سوال: چه دلته د مفرد دری معانی شوی نو دا خو عموم د مشترك شو او دا ناروا دے.

جواب: نه جی دا معاني اخستل د دي مفرد نه مجاز دي (محشی) سوال: نو قرینه څه ده؟

جواب: دا روستو امثله ورله قرینه ده.

سوال: تا خو معنی د مفرد یوه داهم اوګرځه چه مقابل د مضاف نو روستو دایو مثال چه علی التمرة مثلها زبدا دے دا مثال صحیح نه دے ځکه زبدا دفع دا بهام کوی د مثلها نه او هغه خو مضاف دے هاء ضمیر ته .

جواب: زمونږ مراد د مضاف نه هغه مضاف دے چه ابهام د اضافة د وجه نه وی دلته ابهام د وجه د اضافة نه نه دے بغیر د اضافة نه هم پکښ ابهام شته دے مقدار صفة لمفرد غرض د شارح ربط ذکر کول دي د ما قبل سره وهو ما یقدر غرض د شارح یو تعریف د مقدار کول

دي او دویم دفع دیو اعتراض کوی هغه داچه د مقدار اطلاق په کم متصله قار الذات کیږی او دویم په اله د قدرت هم او دا دواړه ناروا دی.

جواب: دلته مقدار نه مراد اله د قدر ده چه دیو شئ اندازه پری کیدلے شی غالبا ای فی غالب غرض د شارح په دې عبارت سره د غالبا دپاره د علت د نصب بیانوی چه دا منصوب دے بناء بر ظرفیة او تقدیر د فی دے پکښ و اکثرها غرض د شارح دفع د سوال ده چه استعمال د غلبه خو په کیفیاتو کښ وی او دا مقدار خو د قبیلی دکمیاتو نه دے.

جواب: غلبه په معنی د کثرة ده او داپه کمیاتو کښ وی ای رفع الابهام غرض د شارح په دې عبارة سره دفع د سوال ده چه تاکوم عبارة اوی چه فالاول نو دا مبتداء ده او عن مفرد مقدار غالبا ورله خبر دے نو دا اول هم عبارة دے د مقدار نه او دا روستو هم عبارة دے د مقدار نه نو حمل نه دے صحیح ځکه دایوشئ دے او حمل خو عبارة وی دا اتحاد د متغائر ینو نه فی المفهوم نو دلته خو تغائر نشته دے په مفهوم کښ یو شئ شو ځکه حاصل ئی هم دادے چه ما یرفع الابهام او یرفعه دا خو زید زیدپشان شو.

جواب: حاصل دادے چه دا فالاول عبارت دے د رفع د ابهام نه مطلقا او مفرد مقدار عبارت دے د رفع الابهام نه خصوصا نو دا حمل د خاص دے په عام باندې او دےکښ مغائرة شته دے و ذلك غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه مفرد دوه قسمه دے مقدار او غیر مقدار نو تا د مقدار ولی مقدم کړو په غیر مقدار باندی.

جواب: دې کښ ابهام ډیر دے نو دفع ئې هم ډیره ده نو کثرة دے پکښ چه دا تقاضا د تقدیم کوی والمقدار اما متحقق غرض د ماتن په دې عبارة سره اقسام د مفرد مقدار بیانوی یو په ضمن د عدد او دویم غیر عدد بیا دایو د قبیلی د وزن دویم کیل دریم ذراع څلورم مقیاس او غرض د شارح په و المقدار سره ترکیب کول دي د اما فی عدد نو وای دا خبر دے په اعتبار د متعلق سره دپاره د مبتداء محذوف چه المقدار دے بیا شارح متحقق فی ضمن اوی نو دا دفع د سوال ده چه مفرد مقدار تامظروف کړو او عدد دې ورله ظرف کړو نو دا دواړه مقدار دي نو لازم شو ظرفیة د شئ لنفسه او دا ناروا دے.

جواب: ظرفیة د شئ لنفسه نه دے بلکه دا مقدار کلی دے او دا عدد وغیره ورله جزئیات دي او افراد نو دا ظرفیة دیو فرد دے دپاره د کلی او داناروا نه دے او ظرفیة د خاص دے دپاره د عام مثال لکه عشرون درهما عشرون مبهم وو نو درهما رفع اوکړو و اما فی ضمن غیره

دلته هم هغه سوال او جواب دے ای غیر العدد تعیین د مرجع کوی کالوزن دا غیر د عدد بیانوي او ماتن امثله بیانوي او شارح تطبیق کوی او دفع د سوال هم کوی چه یو مثال کافي وو کنه؟

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو نو اوس هم د کیل او زراع دپاره مثال نشته نو کم دي زیات لا پریږده والمراد بالمقادیر غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا امثله د ممثل سره مطابق نه دي ځکه ممثل خو تمیيز دے چه رفع د ابهام کوی نو دلته خو په عشرون کښ څه ابهام نشته دے یو خاص مرتبه ده او رطل هم ځکه داپو خاص وزن دے چه خاص کانړی ورله متعین دے او قفیز هم او ګز هم نو شارح جواب کوی چه ذکر د مقادیرو دے او مراد تری نه مقدرات دي یعنی په عدد کښ خو ابهام نشته دے خو معدود کښ ابهام دے چه عشرون د څه نه د درهم نه که د دینار نه وغیره د غه شان دانورهم دي.

سوال: تا مخکښ وئیلی دي چه تمیيز دفع د ابهام کوی چه المستقر نو تا اوی چه مراد د مستقر نه الثابت الراسخ في المعنى الموضوع له چه دا ابهام به په معنی موضوع له کښ وی او دلته خو مقادیر نه ته مقدرات اخلی نو دا خو معنی مجازی ده نه موضوع له نو تعریف ورته شامل نه شو.

جواب: مراد د موضوع له نه معنی مراد ده بیا دا عام ده که حقیقی وی او که مجازی (عبد الرحمان محشی) و انما اقتصر غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د بل سوال ده چه تا امثله د مفرد مقدار پیش کول نو پکار ده چه د ذراع او د کیل مثال دي هم پیش کړی وی نو دا ولی نه پیش کوی اے ماتنه.

جواب: مقصود اصلی د مصنف په دي مقام کښ هغه إستقصاء د امثلو نه ده چه ټول امثله بیان کړی بلکه مقصود اصلی د مصنف تنبیه ورکول دي په یو شئ باندي او هغه په دي مذکور امثلو باندي حاصلیږی نو نورو امثلو ته ضرورت نشته دے هغه څه ده نو و انما دری امثله خو علاوه د عدد نه ځکه که هغه ورسره شی نو بیا خلور دي مطمع مقصود اصلی نو دا هغه ذکر کول د هغه اشیاء دے چه ورسره تمام د مفرد راځی او دا دری اشیاء دي یو تنوین دویم نون دریم اضافة بیا تنوین عام دے که حقیقة وی او که لفظا وی اوکه تقدیرا لفظا لکه رطل کښ شو او تقدیرا غیر منصرف کښ وی دنون دپاره مثال لکه منوان سمنا دے او نون د شبه جمع دپاره مثال عشرون درهما دا نون د جمع نه دے ځکه هغه په ذات مقدره کښ

داخل دے او اضافة دپاره مثال علی التمرة الخ دے د مثلها تمام په اضافة راغلے دے نو چه دا مقصود وو نو استقصاء د امثلو نه کوی بلکه دا تنبیه ظاهر وی او وجه هم داده چه بعض امثله لکه وزن شو دي دپاره دوه امثله راوړی دی. نو دي نه هم معلومیږی چه مقصود د ماتن پوره کول د امثلو نه دي که دا وو نو بیا به د وزن دپاره دوه مثاله نه ذکر کول.

سوال: نو د ماتن نه دا ګیله راځی چه دپاره د وزن دوه امثله ذکر کړی دي نو دیو مثال په ځائے به ئی قفیزان برا وئیلی وی نو دکیل مثال به هم راغلی وی.

جواب: ماتن داکار اونکړو ځکه که ماتن داکار اوکړی نو بیا د ماتن مقصد نه حاصلیږی چه هغه تنبیه ورکول دي په بیان د ما یتم به المفرد نو دا تنبیه هغه وخت راځی چه د د وزن دپاره دوه امثله راوړی دي نو توجه رازی چه ماتن وزندپاره دا دوه امثله ولی راوړی دي نو ځکه چه دا بیای د ما یتم به المفرد کوی نو دي طرف ته ذهن تبادر کوی او چه دغه کار ئی نه وی کړی نو بیا دي خبری ته دچا ذهن نه ځی بلکه توجه به دي خبری ته راتله چه یو مثال د وزن دے او بل مثال د کیل دے او دي ته توجه نه راتله چه مصنف بیان دما یتم به المفرد کوی علاوه لا دا وایو چه ستا د ګیله نه قربان شم دا قفیزان برا که ما پیش کړی وے نو د کیل مثال به راغلی وی خو د ذراع مثال بیا هم پاتی کیدلو نو یواځی به هغه خفه کیدلو . و معنی تمام الاسم غرض د شارح په دي عبارت سره یو معنی او مقصد د تمام الاسم بیانوی او دویم تمهید دفع د اعتراض ته ږدی نو مقصد د تمام الاسم دادے چه دا اسم په یو داسی حالت باندې وی چه د دغه حالت سره د دي اضافة بل چاته نه کیګی لکه یو اسم د تنوین سره تام دے نو دي سره اضافة محال دے ځکه تنوین دلالت کوی په تمام باندې او اضافة دلالت کوی په عدم تمام باندي نو په درمیان د تما او عدم تمام کښ منافاة دے او نون د تثنیه او جمع دلالت کوی په انفصال او اضافة دلالت کوی په اتصال باندې او د انفصال او اتصال درمیان کښ هم منافاة دے او اضافة سره هم ځکه مضاف بیا نشی مضاف کیدلے ثانیا.

سوال: زه درته ښایم اضافة دیو شئ به دو ځله شوے وی لکه کل واحد واحد شو د کل اضافة دوه کرته شوی دے .

جواب: داپه حذف د عاطف دے ای کل واحدوا واحد حرف عاطف بیا حذف دے.

فاداتم الاسم دا شارح د دي مشابهة بیانوی د فعل او فاعل سره او علت د نصب د تمیز تری نه هم معلومیږی نو حاصل دادے چه دا اسم تام مشابهة لری د فعل سره چه کله تام شی په

فاعل بانديږ او بيا دا تمييز پس د تمام د اسم نه راځي نو دا مشابه دے د مفعول سره ځکه هغه هم مستحق د دې دے چه پس د تمام د فعل نه په فاعل راشي دا تمهيد شو.

سوال: دادے چه تا اوئ چه کله يو اسم تام شي نو تمييز ته به دا نصب ورکوی نو زه درته بنايم چه يو اسم به تام وی او ما بعد ته به نصب نه ورکوي لکه عندی الراقود خل دلته الراقوديو اسم دے تمام ئ په الف"لام"راغلے دے او بيا هم دا ما بعد ته نصب نه ورکوی چه خل دے.

جواب: شارح وائی و هذه الاشياء حاصل دادے چه زمونږ مراد د متمم نه مطلقا نه دے مراد بلکه هغه مراد دے چه دهغی په وجه بانديږ يو اسم فعل سره مشابه ګرځی په تمام د فعل کښ په فاعل او دا متمم هغه وی چه دا د دغه اسم نه روستو راغلی وی لکه چه فاعل د فعل نه روستو راځی نو دلته الف"لام"متمم دے ليکن دا مشابهة نه راولی ځکه دا اول کښ دے په خلاف د دې نورو کښ فيفرد ان کان جنسا دا اوس حکم بيانوی.

سوال: دا فيفرد ترکيب کښ څه دے؟

جواب: دا خو يا جزاء ده د شرط محذوف شرط دادے چه اذا يرفع الابهام عن مفرد مقدار فيفرد او بيا دا ان کان جنسا ځان لره شرط دے او جزاء به ورله حذف وی چه فيفرد دے چه دا مخکښ يفرد پری دال دے او دا دهغه چا مسلك دے چه تقديم د جزاء په شرط ناروا وائي او يا دا جزاء ده خو دپاره د دې شرط موخر داپه نزد د هغه چا چه تقديم د جزاء په شرط روا ګڼری.

"ای التمييز" تعيين د مرجع کوی وان کان دفع د وهم ده چه دا تمييز به ځکه مفرد وی چه مميز به مفرد وی نو شارح دفع اوکړه چه نه داسی نه ده ان کان جنسا دلته څه سوالات دی.
(۱) جنس څه دے؟ (۲) او دا تمييز به د جنس نه مفرد ولی وی؟ (۳) مثال څه دے؟

جواب: د اول نه شارح وائی هو ما الخ حاصل دادے چه جنس هغه دے چه مشابه وی اجزاء د دې د کل سره په اطلاق د اسم کښ په دې بانديږ مثلا اوبه دې نو ټول سيند ته هم اوبه وائی اويو ګوټ اوبه ته هم اوبه وائی و يقع الخ دا دويم تعريف دے حاصل دادے چه جنس هغه دے چه کله مجرد عن التاء وی نو اطلاق ئ په قليل کيږی او په کثير لکه هم دا اوبه شوی ماء او تمرو غيره او جواب د دويم نه دادے چه هميشه به ځکه مفرد وی چه دا

کله دلالت کوی په قلیل او کثیر باندې نو فلا حاجة الخ بیا څه ضرورت دے او جواب د دریم نه دادے چه ماء او تمر شو بخلاف رجل الخ غرض د شارح په دې عبارت سره د جنس او اسم جنس په درمیان کښې فرق ذکر کول دي نو د جنس خو دغه تعریف شو او اسم جنس هغه دے چه د دې خلاف وی مثلا رجلا نو اجزاء د رجل مشابه نه دي په اطلاق کښې په رجل باندې د کل سره لکه په لاس باندې اطلاق د رجل نه کیږی دغه شان غوږ او پوزه وغیره او دغه شان فرس هم دے او دا دویم تعریف پرې هم نه دے صادق

"الا ان تقصد الانواع" احکام شروع دي نو وای دا تمیز به همیشه مفرد وی که دا تمیز جنس وو اوس په دې عبارت سره ماتن د دغه حکم نه یو استثناء کوی نوی الا ان تقصد الانواع بیا دا مستثنی مفرغ ده تقدیر د عبارت دادے فیفرد التمییز ان کان جنسا فی کل الاوقات یا فی الاوقات کلها الا وقت قصد الانواع دا مستثنی منه محذوف وه او دا ان فعل مضارع په تاویل د مصدر گرځوی نو دا مصدر مجهول دے او تقدیر د ازمانو او قاتو مخکښې د مصادرونه کثیر شائع وی ای ما فوق النوع الواحد غرض د شارح دفع د سوال ده چه الانواع صیغه د جمع ده نو دا معلومه شوه چه که قصد د انواع شوی وی نو بیا به مفرد نه وی او که قصد د نوعین شوی وي نو بیا به مفرد وی حالانکه خبره داسی نه ده .

جواب: مراد دلته د جمع نه لغوی ده چه ما فوق الواحد ته وئیلی شی نو جمع سره جمع او تثنیه سره تثنیه.

سوال: کم وخت چه قصددما فوق الواحد اوشی نو دا بیا ولی مفرد نه راوړی؟

جواب: لانه لا یدل لفظ الجنس چه مخکښې دې په کثیر او قلیل دواړو دلالت کو چه نوع نه وو مراد او دلته نوع مراد ده نو په نوعیة دلالت نه کوی قیل و فی تخصیص غرض د شارح اعتراض دے حاصل دادے چه ستا د کلام نه دا خبره معلوم شوه چه که تمییز جنس وو او قصد د انواع شوی وی نو دابه مفرد نه وی نو که د انواع قصد وی نو داسی به وی او که د اعداد قصد شوی وی نو مفرد به وی نه به تثنیه او جمع کیږی حالانکه چه قصد د عدد شوی وی نو هم دا حکم دے لکه طاب زید جلستین او جلستین شو یو دپاره د نوع او بل دپاره د عدد و یمکن ان یجاب دا جواب دے دے حاصل دادے چه ذکر د انواع دے مراد حصص دي یعنی افراد حصصیه او دا بیا عام دي که دهغی قصد په خصوصیاتو کلیه سره وی او یا شخصیه سره یعنی نوع او عدد فرد شو.

سوال: حصه داخو عبارة دے د فرد اعتباری نه هغه فرد اعتباری چه حاصلوی هغې لره عقل د اخستلو دیو مفهوم کلی نه سره د نسبة نه یو معین ته حالانکه دلته مراد مطلق افراد دي نه افراد اعتبار یه فقط.

جواب دا اصطلاح د اهل منطق ده چه دوی حصه عبارة د فرد اعتباری نه اخلی او دا زمونږ مراد هم نه ده نو دلته مطلق افراد مراد دي افراد د جنس او حقائق دلته بعض شارحین دا سوال کوی چه د شارح دا عتراض په دي مقام کښ صحیح نه دے یو وجه داده چه کلام په هغه تمییز کښ روان دے چه مفرد مقدار نه وی او طاب زید جلستین دا تمییز عن نسبة دے نه دمفرد مقدار نه دویم دلته دا تمییز جنس هم ندے ځکه د جنس تعریف کښ مجرد عن التاء"واو" دا جلسة مشتمل دے علی التاء جواب شارح چه کوم اعتراض او جوب کوی نو داپه طریقه تنزیلی دے یعنی که بالفرض او التقدیر دا مثال صحیح شی او تمییز عن مفرد شی او دا تاء د جلسة د نفس کلمه شی نو بیا دا جواب دے و یجمع فی غیره دایو بل حکم دے دپاره دهغه تمییز چه مفرد مقدار نه وی شارح والی و یو در التمییز غرض د شارح اشاره کوی چه مراد د جمع والی د تمییز نه نفس امکان د جمع والی نه دے مراد بلکه بالفعل و قوع مراد ده او په دي باندي لفظ دیورد دلته دلالت کوی یجمع.

سوال: ستا د کلام نه دا معلوم شوه چه که تمییز جنس نه وو نو جمع راوړل به جائز وی او تثنیه راوړل به جائز نه وی حالانکه د تثنیه دپاره هم دا حکم دے.

جواب: دلته هم مراد د جمع نه لغوی ده جوازا اشاره کوی چه په هغه وخت کښ چه تمییز غیر وی د جنس نه نو دا جمع او تثنیه کول فرض نه دي بلکه جائز دي حکم جوازی دے.

سوال: ستا د کلام نه معلوم شوه چه کله تمییز غیر د جنس وی نو دا به مطلقا جمع او تثنیه کولی شی اګرچه ممیزمفرد وی حالانکه داسی نه ده.

جواب: حیث لم یقصد الواحد مثال عندی عدل ثوبین دلته دا ثوب جنس نه دے نو تثنیه لره تثنیه او جمع لره جمع ثم ان کان بتنوین هر کله چه فارغ شو مصنف دیو بحث دهغه تمییز نه چه د مفرد مقدار وو نو په دویم بحث کښ ئے شروع اوکړه فرق دادے چه دهغه بحث تعلق د تمییز سره وو او د دي تعلق د ممیز یعنی اسم تام سره دے خه داچه د اسم تام اضافة تمییز ته جائز دے.

سوال: دفع شو چه دا عبارة چه دے ثم ان کان نو ثم دپاره د تراخی فی الزمان راځی او معنی اسم چه په تنوین او نون د تثنیه باندې تام شوی وی او ته هغه مضاف کړی تمییز ته نو تاخیر فی الزمان لره پکښ دخله نشته دے چه ثم دې راوړی دے.

جواب: ثم دپاره د تاخیر فی الزمان نه دے بلکه اشاره ده پکښ یو بل بحث ته کما قلنا نو دپاره د فصل دے.

سوال: ان کان کښ دکان د ضمیر مرجع څه دے؟ دوه احتماله دي ګرده سره باطل دي یو داچه راجع شی مفرد مقدار ته او یا تمییز ته یو هم نه دے صحیح که دا راجع شي مفرد مقدار ته نو انتشار فی الضمائر راځی څکه دا ضمائر تمییز ته راجع دي او انتشار ناروا دے او که دا ضمیر راجع شی تمیز ته نو انتشار نه راځی خو د ماتن عبارت نه لګی چه بتنوین او بنون التثنیه دے څکه تمام په تنوین او نون د تثنیه چه راځی نو د مفرد مقدار راځی نه د تمییز.

جواب: (۱) اول شارح په المفرد المقدار سره اختیار د شق اول کوی چه د ا ضمیر راجع دے مفرد مقدار ته او کان ناقصه دے نو ضمیر ورله اسم او دا تنوین ورله په اعتبار د متعلق سره چه تاما دے دا ورله خبر دے او معنی به شی چه بیا که وی دا مفرد مقدار تام شوی په تنوین او یا په نون د تثنیه نو جائز دے اضافة د مفرد مقدار تمییز ته نو د سوال نه جواب دادے چه انتشار په ضمائر کښ ناروا دے خو په کلام واحده کښ او دا کلام جدا دے څکه مخکښ کلام متعلق د تمییز سره وو او دا د مفرد مقدار سره متعلق دے. (۲) او المعنی ان دویم جواب دے په اختیار د شق ثانی سره چه یاکان کښ ضمیر راجع دے تمییز ته نو اګرچه کلام جدا دے خو بیا هم انتشار فی الضمائر رانغلو لیکن دا سوال چه تمییز خو په تنوین او نون د تثنیه نه دے تام نو بیا شارح دا جواب کوی چه دلته زه دا عبارة نه مقدر کوم چه تاما بتنوین الخ بلکه عبارت جدا مقدر کوم چه هغه دادے چه ان وجد التمییز الخ نو متعلق متلبسا وایو نه تاما او اعتراض هغه وخت وو چه تاما وو او د تنوین نه روستو المفرد راوباسو اشاره ده چه په التنوین کښ الف"لام"عوض دے د مفرد نه فانه لما تم الاسم بهما غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا تمامیری مفرد مقدار په دې باندې نو چه هر کله تمام شی نو په دې به متلبس هم وی نه تمییز چه په دې تمیز متلبس دے لکه ته چه څنګه وائی بلکه مفرد مقدار متلبس دے.

جواب: حاصل دادے چه دتلبس نسبة تمييز ته په دي حيثية دے چه هر كله يو اسم نه وي تام شوی په تنوين يا په نون د تثنيه نو هغه تقاضا د تمييز نه كوی هغه وخت تقاضا د تمييز كوی چه تام شي په نون د تثنيه او يا په تنوين باندي نو دا تلبس د تمييز په دي باندي په دي اعتبار دے چه دا مفرد مقدار د دي تقاضا كوی بعد د دي نه نو گويا كه دا تمييز هم د دي اقتضاء په وجه په دي تنوين او نون د تثنيه باندي متلبس شو بيا دلته شارح په اول اعتبار سره كان ناقصه گرو او دويم كښ تامه نو عكس هم صحيح دے خو شارح اول ناقصه گرو اشاره كوی چه اصل كان كښ ناقصه دے او دويم كښ تامه گرو دپاره د جواز چه تامه هم صحيح دے جائز دے اوس چه اول كښ كان تامه شي نو بيا به دا تاما حال وی د ضمير د كان نه او دويم صورة كښ چه كان ناقصه شي نو متلبسا به ورله خبر وی جازت الاضافة ای اضافة المفرد المقدار غرض د شارح په دي عبارت سره اشاره كول دي چه الاضافة كښ الف"لام"يا عوض دے او يا عهدی دے معهود پری اضافة د مفرد مقدار دے الی التمييز دا ورله بيان دمضاف اليه دے.

سوال: په اضافة كښ په درميان د مضاف او مضاف اليه كښ مغائرة وی او دلته مغائرة نشته دے.

جواب: دا اضافة بيا نيه دے او مغائرة په غير د دي كښ شرط دے.

سوال: كله چه يو اسم تام شی په تنوين او په نون د تثنيه باندي نو بيا خو دهغی اضافة نشی كيدلے ولی چه درميان كښ منافاة لری.

جواب: باسقاط التنوين و نون التثنيه د تنوين او نون د تثنيه په اسقاط سره.

سوال: ا ولی جائز دے ؟

جواب: لحصول الغرض حاصل دادے چه هر كله دا مفرد مقدار تام شی په تنوين او نون د تثنيه سره نو بيا هم د دي اضافة جائز دے ځكه مقصد هم حاصليږی چه رفع د ابهام ده او تخفيف هم راځی په اسقاط د تنوين او نون د تثنيه سره. مثال رطل زيت و الافلا .

سوال: دا فاء جزائيه ده شرط غواړی نو ما قبل خو شرط نشته دے الا دے .

جواب: دا اصل کښې "وان لم یکن الخ" نو په ظاهر لباس مه شه بنون الجمع په هغه نون چه مشابه دے د جمع سره دا معنی څکه کوو چه کوم اسم تام شی په نون د جمع نو هغه په مفرد مقدار کښې نه وی بلکه هغه په نسبة کښې وی لکه الزیدون حسنون وجها.

سوال: نو شارح نون الجمع ځنګه وائی.

جواب: نون د جمع نه دے مراد بلکه مشابه د نون د جمع مراد دے څکه خو عشرون درهما مثال بیانوی چه عشرون کښې نون د مشابه د جمع دے نون د جمع نه دے څکه هغه په یو خاص مرتبه دلالت نه کوی او عشرون خو په یو خاص مرتبه دلالت کوی.

سوال: داپه اضافة کښې ولی نه وائی.

جواب: کله چه یو اسم په اضافة تام شی نو بیا د دی اضافة ثانیا نشی کیدلے اما فی داهم دغه سوال نه جواب دے چه نون د جمع ولی نه وائی؟ نو حاصل دادے چه که د دی اضافة اوشی نو په بعض صورتونو کښې التباس راځی لکثرة الحاجة الیه د وجی د کثرة نه اضافة د هغه نون چه مشابه دے د نون د جمع سره داسی اسم ته چه غیر د ممیز نه وی مثلا ته اوی چه عشری رمضان نو اوس پته نه لګی چه ایا شلمه د رمضان مراد ده اوکه شل رمضانه مراد دی فلا یضاف فی غیر دا دفع د سوال ده چه صحیح ده په دغه صورة کښې خو التباس راځی خو چه چرته التباس نه راځی نو هلته اضافة جائز کول پکار دی حالانکه هلته هم ناروا دے.

جواب: نشی کیدلے په صورة د غیر التباس کښې دی دپاره چه دا موافق شی د باب سره یعنی طردا للباب څکه جامع او مانع قاعده بنه وی و عن غیر مقدار کله چه فارغ شو مصنف دیو قسم تمییز نه چه مفرد مقدار نه وو نو شروع کوی دویم کښې چه غیر مقدار دے عطف علی قوله غرض د شارح ربط بیانوی دما قبل سره ای الاول کما یرفع الابهام غرض د شارح په دی عبارت سره اشاره کوی دی خبری ته چه ما قبل د معطوف علیه معاد وی په سر د معطوف کښې ای ما لیس بعد د غرض د شارح تعریف کول دی د هغه تمییز چه هغه عن غیر مقدار وی نحو مثال بیانوی خاتم حدیدا فان الخاتم غرض د شارح په دی عبارت سره تطبیق د مثال کوی او دفع د سوال هم کوی چه دا خاتم کښې خو ابهام نشته دے چه حدیدا د هغې دفع کوی.

جواب: خاتم کښې ابهام شته دے په دی شان سره چه جنس د دی مبهم دے د ذهب ده که د فضه ده اوکه د حدید ده او که د پلاستك وغیره ده اګرچه په نوم کښې ابهام نه لری چه

خاتم گوته ده او الخفض غرض د ماتن په دي عبارت سره د دي قسم تمیز طریقه د استعمال بیانوی ای خفض التمییز غرض د شارح اشاره ده چه الخفض کښ الف "لام" یا عهدي او یا عوضي دي باضافة غیر المقدار الیه غرض د شارح په دي عبارت سره علت د خفض بیانوی چه د وجه د اضافة نه دا مجرور وی اکثر استعمالا ماتن اکثر اوی نو واهم وهم کوو چه دا په مذهب اکثر وی نو شارح اوی نه د استعمال سره لحصول دا علت بیانوی و لقصور دا دفع د سوال کوی چه هر کله په دي خفض سره حصول د غرض مع التخفیف کیږی نو پکار ده چه دا خفض په مفرد مقدار کښ هم کثیر وی حالانکه هلته تاسو کثیر نه وائی؟

جواب: اصل په تمییز کښ نصب دے او جر خلاف الاصل دے او نکته خلق دپاره د خلاف الاصل وائی نه دپاره د اصل نو هلته اصل دے او دلته خلاف الاصل بل طرفته اصل په ابهام کښ مقدار دے او غیر مقدار خلاف الاصل دے نو اصل مواصل لره ورکړو او خلاف الاصل مو خلاف الاصل لره ورکړو .

"والثانی عن نسبة" هر کله چه فارغ شو مصنف دیو قسم د تمییز نه چه عن مفرد وو او بیا دهغی دوه قسمه وو مفرد مقدار وغیره مقدار نو اوس ئی شروع اوکړه په تفصیل د دویم قسم د تمییز باندي چه هغه تمییز عن نسبة دے فقال و الثانی عن الخ بیا الثانی صفة دے موصوف غواړی نو دا ورله شارح متعین کوی چه القسم دے او بیا الثانی لازم الاضافة دے منسوب الیه غواړی نو دا ورله هم شارح متعین کوی چه حسن التمییز بیا الثانی تعریف غواړی نو داهم شارح کوی هو ما یرفع الابهام سره کان الظاهر غرض د شارح په دي عبارت سره اشاره ده اعتراض ته اعتراض دادے چه پکار ده چه ماتن داسی عبارت وئیلی وی چه والثانی عن ذات مقدره فی نسبة فی جملة یو خو د دي وجه نه چه په اجمال کښ دوه قسمه ذکر شوی وو یو ذات مذکور دویم ذات مقدره نو دا تفصیل به د اجمال سره موافق شوی وو او دویم مخالفة د تفصیل به د اجمال نه نه وی راغلی نو ستا دي عبارت سره دوه نقصانات اوشول. لکن لما کان غرض د شارح اشاره کول دی.

جواب ته نو حاصل دادے چه دا ابهام فی الطرف مستلزم دے ابهام لره په نسبة کښ او دا رفع د ابهام عن طرف مستلزم ده رفع د ابهام عن نسبة نه یو یو شئ شو نو مصنف په دي باندي اکتفاء کوی تفصیل د مقام دادے چه ماتن دلته عن نسبة اوی نو دا رفع د ابهام عن طرف ده او هلته اجمال کښ عن ذات مقدرة وئیلی دے او مقدر طرف دے نو دا مستلزم دے ابهام لره په نسبة کښ نو هلته په ذات مقدره کښ ذکر د نسبة دے ضمنا او رفع د

ابهام عن نسبة مستلزم ده دفع د ابهام في الطرف لره نو دلته هم دے خو ضمنا نو حاصل دادے چه هلته يو جانب ذكر وو صراحة او دويم ترينه نه ضمنا معلوميدو او دلته هغه بل جانب ذكر دے او دايو ترينه معلوميږی ضمنا په طريقه د استلزام په دې شان سره چه هلته ابهام في الطرف ملزوم او ابهام في النسبة ورسره لازم او دلته دفع د ابهام في النسبة ملزوم او رفع د ابهام عن الطرف ورسره مستلزم نو تحقق د ملزوم لازم دے تحقق د لازم لره تنبيها على ان المقابلة غرض د شارح دفع د سوال ده چه تاسو د اعبارت په كومه طريقه اولكو چه رفع د ابهام عن النسبة ملزوم او رفع د ابهام عن الطرف ورسره لازم نو دا خو عبارت په طريقه التزامی سره اوليكدو او دا خو په طريقه د دلالة مطابقی سره صحيح كيږی نو ته په التزامی سره ولی لكوی يعنی يرفع الابهام عن ذات مقدره سره لګی او ته عن نسبة واقی او اولی خو مطابقی دے نه التزامی .

جواب: دا يو تنبيه ده هغه داچه مونږ خلقو ته دا خبره ښكاره كوو چه اصل مقابله په درميان د ذات مذكور او د نسبة كښ ده نو دې وجه نه اتيان په التزامی اوشو نه په مطابقی او دا ځكه چه ذات مذكوره او مقدره په مفرد كښ هم راځی لكه نعم رجلا دلته رجلا تمييز د نعم د ضمير مقدر نه او دا مفرد دے نو معلومه شوه چه د ذات مذكوره او مقدره په درميان كښ حقيقی مقابله په درميان د نسبة او د ذات مذكورة كښ ده كائنة دا د جار مجرور دپاره متعلق متعين كوی او د جار مجرور اعراب هم بيانوی چه دا صفة دے د نسبة دپاره. ما ضاها ها اي ما شابها تفسير د غير مشهور كوی په مشهور باندې عطف على جملة د ما قبل سره ربط بيانوی بيا ما ضاهاها اسم فاعل اسم مفعول دے صفة مشبه ، مصدر، اسم تفضيل او هر هغه شئ چه پكښ معنی د فعل وی دے. الحوض الخ امثله ورله بيانوی نو په ممتلئ او مفجرة كښ چه كوم نسبة دې حوض او زمكی ته شوی دے نو دهغی نه ماء او عيونا تمييز واقع دې دغه شان دانور امثله هم دي

"نحو طاب زيدا نفس" دا امثله بيانوی دپاره د تمييز عن نسبة مثال للجملة غرض د شارح په دې عبارت سره يو تعين د ممثل كوی دپاره د مثال او دويم تطبيق د مثال كوی د ممثل سره او دريم دفع د سوال ده چه يو مثال كافی دے دوه ولی پيش كوی جواب تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو نو يو مثال دپاره د جمله او دويم د شبه جمله دے و التمييز فيه خاص غرض د شارح دفع د بل سوال ده چه پكار داده چه تا دپاره د جمله او شبه جمله كوم

امثله بیان کړل نو دا پکار په يو طريقه وو ځکه په یوه طریقه رفتار شه کیږی نو یو کښ دي نفسا اوی او دویم دابا اوی.

جواب: والتمييز فيه خاص الخ فرق پکښ ځکه دے چه یو کښ تمیز د منتصب عنه سره خاص دے او دویم محتمل لهما دے.

سوال: منتصب عنه څه دے؟ جواب الذي نصب التمييز لاجله نو دا زيد طيب ابا مثال الخ دا دويم مثال چه د منتصب عنه سره اولګی نو معنی به شی چه زید شه پلار دے او چه د متعلق سره اولګی نو معنی به شی چه د زید پلار شه دے یعنی دي یا شه دے یا نه خو پلار ئې نه دے و حيث لا فرق غرض د شارح دفع د سوال ده چه ستا د کلام نه معلومیږی چه دا نفسا به تمیز واقع کیږی د هغه نسبة نه چه جمله کښ وی او شبه جمله کښ به نشی راتلی او دا ابا به تمیز د هغه نسبة نه وی چه شبه جمله کښ وی او جمله کښ به نشی راتلئ دا ځکه چه تا نفسا د جمله او ابا د شبه جمله نه بعد ذکر کړو.

جواب: او په اعتبار د ظاهر سره خو دا وهم راځی خو په زور نظر سره چه سوچ اوشی نو دا دواړه راځی دیو بل په ځائے بانډي هم ځکه دا رفع د ابهام عن النسبة کوی نو یو خو دا نسبة په جمله او شبه جمله دواړو کښ دے او دویم په هر واحد د ابا او نفسا کښ صلاحية د دي شته دے چه دا رفع دغه ابهام اوکړی نو په دي اعتبار سره دا دوه مثاله په قوة د څلور امثله کښ دي ځکه خو شارح صيب وائی فهذان المثالان في قوة اربعة او قوة ځکه وائی چه ماتن خو دوه امثله بیان کړی دي فقوله ابوة الخ غرض د شارح په دي عبارة سره دفع د سوال ده چه دا ابوة او دارا او علما به متعلق وی د هغه تمييز عن النسبة سره چه کوم په شبه جمله کښ وی ځکه دا عطف دے په ابا په زید طیب ابا کښ نو دابه طيب سره متعلق وی نه د طاب سره .

جواب: نه جی دا دواړه ؤ سره متعلق دی.

سوال: نو دا خو تقاضا د عطف په دي ابا کوی چه د طیب لاندی شی فقط.

جواب: دا عطف په اعتبار د لفظ نه دے مراد بلکه په اعتبار د معنی سره دے او هغه دا چه فرق نشته دے په درمیان د هغه تمیز کښ چه په جمله او شبه جمله کښ د نسبة نه

وی او دغه شان صلاحیة په هر واحد کښ د تمیز شته دے. فهو نو دې مصنف په اعتبار د حقیقه سره راوړی دې پنځه امثله او بیا پنځه یو کښ او بیا پنځه بل کښ نو لس شول .

سوال: مثال دپاره د وضاحة د ممثل وی نو یو کافی وو کنه؟

جواب: فالنفس حاصل دادے چه تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو هغه دا چه تمیز چه واقع دے د نسبة نه په جمله یا شبه جمله کښ نو داپه شلور قسمه راځی یو عین غیر اضافی دویم عین اضافی دریم عرض غیر اضافی څلورم عرض اضافی تعریفات دادی عین هغه دے چه قائم بذاته وی اضافی هغه دے چه دهغی په مفهوم کښ نسبة الی الغیر معتبر وی او عرض هغه دے چه قائم بالغیر وی او غیر اضافی هغه دے چه دهغی په مفهوم کښ نسبة الی الغیر معتبر نه وی عرض او عین متقابلین دي او اضافی او غیر اضافی نو د عین مثال دا دے او د عرض مثال علما شو او د اضافی مثال ابوة دے او د غیر اضافی مثال هم علما دے بیا دا څلور اقسام احتمال د دې هم لری چه خاص وی د منتصب عنه سره او داهم چه د متعلق د منتصب عنه سره خاص وی او د دواړو عم احتمال لری نو څلور چه په دری کښ ضرب شی نو دولس به شی او بیا دا هر واحد جمله او شبه جمله کښ دي نو دا ټول څلورویشت/۲۴ شو خو دا ټول امثله په خارج کښ موجود نه دي نو ځکه ئې دا څو امثله راوړی دي یعنی چه کوم موجود دي نوپوره به ئې کړی دې خو بیا دیر دي نو شارح وائی فالنفس چه دا عین دے ځکه قائم بذاته دے او غیر اضافی دے ولی په مفهوم کښ ئې نسبة الی الغیر معتبر نه دے او خاص دے د منتصب عنه سره او دا د هممعین دے او غیر اضافی دے خو دا د منتصب عنه د متعلق سره دے او اب هم عین دے او اضافی دے ځکه په مفهوم کښ نسبة الی الغیر معتبر دے چه ابن دے ولی اب وئیلی شی ذات من له الابن ته او احتمال د دواړو لری یو سره هم خاص نه دے تو دې عین کښ دری راغلل او بیا دا دری جمله او شبه جمله کښ نو شپږ شول نو په عین کښ ټول شپږ احتمالات راغلل او ابوة عرض دے ځکه قائم بالغیر دے او اضافی دے او علم عوض دے او غیر اضافی دے بیا هر واحد د دې نه متعلق دے د منتصب عنه سره او داهر واحد جمله او شبه جمله کښ نو څلور شول او څلور او شپږ لس شول.

سوال: ټول صورتونه څلور ویشت/۲۴ دي تا صرف دا ولې راوړل.

جواب: دا احتمالات دي او موجود صرف دادی چه شپږ په عین او څلور عرض کښ دي نو عرض کښ اته/۸ نشته دے او عین کښ شپږ/۶ نشته دے و فی اضافة هر کله چه فارغ شو د

جمله او شبه جمله ته نو شروع ئ اوکړه په هغه تمييز کښ چه اضافة کښ وی نو قال و ڧ اضافة او کله رفع کوی د ابهام د هغه نسبة نه چه واقع وی په اضافة کښ عطف علی قوله ربط لفظی بيانوی چه دا عطف دے په هغه ڧ جملة باندې او ما قبل د معطوف الخ نو دلته به عن نسبة ڧ اضافة شی. خو بعض شارحين تجاوز عنهم الله خطا شوی دي نو وای دا عطف دے په ماضاها ها باندې خو دانه دے صحيح ځکه که داپه ماضاهاها باندې عطف شی نو ما قبل د معطوف علية نه خو معاد وی په معطوف کښ نو عبارت به شی چه عن نسبة ڧ ڧ اضافة او دا خو شنيع دے او منشا د دوی د خطا داده چه دلته شارح په دې شرح کښ دا ما ضاهاها رامعاد کړی دے نو دوی وائي چه ددی مقصد دادے چه لك الخيار كه په ڧ جملة باندې عطف کوی او که په ماضاهاها باندې حالانکه ددی مقصد دادے چه شارح وائي چه داپه ڧ جملة باندې عطف دے او بيا دا وريسی د عبارت لګولو دپاره دا ماضاهاها را معاد دے.

مثال يعجبنی طيه ابا سوال دلته نفسا هم صحيح دے نو ماتن ولې ترك کړے دے؟

جواب: شارح وائي بس دادے كنه (نفسا)نقد وخله سوال نو وجه څه دهدعدم ذکر

جواب: لانه اظهر الخ او د هذه الامثلة غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه يو مثال كاف دے؟ جواب دې کښ اشاره ده هغه مخکښ تفصيل ته چه عين او عرض او اضاق او غير اضاق او خاص د منتصب عنه وغيره سره دهغى مطابق دی. فتدبر. و زاد عليه قوله غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کول دې اعتراض ته چه ماتن کوم امثله بيانکړی دي دپاره د جمله او شبه جمله نو پکښ مثال د فارساً نه وو او دلته په اضافة کښې ذکر کړی دے نو دا خو خلاف دے.

جواب: اشارة سره ورته اشاره ده چه ماتن دا امثله چه بيانوی نو دا يو مثال پکښ دپاره د دوه ؤ فائدو زياتوی يو فائده پکښ داده چه تير شوی امثله جوامد وو نو چرته څوك ساده داوهم اونکړی چه تمييز به ..ص وی د جوامد سره نو ماتن اوی چه مشتقی کښ هم راځی او دوېمه فائده داده چه دا مثال ماتن دپاره د تمييز ..ن مفرد دپاره بيانوی په دې شان سره چه دره کښ دا ضمير مبهم شی پشان د ربه نو فارسا به تمييز شی نو چا به داوهم کړی وو چه دابه خاص وی د تمييز عن مفرد سره او په نسبة کښ به نشی راتلی نو ماتن دپاره د وهم د رفع کولو دلته راوړی دے اوله فائده د اشارة سره بيانوی او دوېمه د ايضا سره.

سوال: تمييز عن نسبة څنګه واقع کوی دلته خو دا ضمير مبهم دے حالانکه منسوب معين وی.

جواب: دا ضمير په معين ته راجع وی على ان يكون الخ.

سوال: چه ضمير معين شو نو ابهام نشته دے نو تمييز ته څه ضرورت دے.

جواب: ابهام شته دے په نسبة د در کښ دي ضمير ته والدر فى الاصل داهم دفع د سوال ده چه در خو شو دو (حليب) ته وائى نو دا خو مهمله معنى دے جواب. لغوى معنى نه ده مراد ده بلکه دلته مراد مجازى معنى ده چه خير دے.

سوال: قرينه او علاقه څه ده؟

جواب: قرينه نفس د لالت د کلام دے او علاقه د تلازم ده در ملزوم او خير كثير لازم دے.

سوال: د ملزوم او لازم درميان کښ مناسبة وى دلته څه مناسبة دے؟

جواب: و فيه خير كثير للعرب څکه د دوى ملک کښ د اوبه کم وى نو زياته اکتفاء په در باندي کوى نو دي کښ عربو لره ډيره فائده ده او چه چالره په څه کښ ډيره فائده وى نو خير كثير پکښ هم ورله وى.

سوال: معنى د دي داده چه خاص د الله دپاره الخ نو د شودو نسبة پکښ الله ته شوى دے نو دا څه مناسبة لرى.

جواب: دا کلام په وخت د تعجب کښ وئيلى شى چه تعجب دے خير د فلان لره او دا تعبير په لله سره څکه کوى چه دا تعجب دا خو عبارة دے دهغه کيفية نه چه لاحق کيرى انسان ته په وخت د ليدلو ديو امر کښ چه خفى السبب وى او خارج وى د حد نظائرو خپلو نه نو د دي کيفية منشئ الله تعالى دے نو نسبة ورته هم اوشو و لله فارس غرض د شارح وضاحة کوى د فارسا نو وائ دا اسم فاعل دے د فراسة بالفتح نه مصدر د باب کرم يكرم دے په معنى دماهر په کار د اسونو نو معنى شوه چه خاص د الله سره دي خير كثير وى دپاره د فلان په اعتبار د مهارت سره په کار د اسونو کښ و اما الفراسة دا فراسة بالكسر په معنى د انتقال ظاهر د امورونه باطن د امورونه قال النبى اتقوا فراسة المومن فانه ينظر بنور الله او كما قال نو د فراسة د مومن هم دا معنى ده چه ظاهر ته اوګورى نو باطن ترينه معلوموى نو بيا په

معنی شی چه خاص د الله سره دي خیر کثیر د فلان وی په اعتبار د دي سره چه د ظاهر د امورونه باطن د امورو ته انتقال کوی نو دفارس دوه معانی شو.

﴿ثم ان كان اسما يصح جعله لما انتصب عنه جاز ان يكون الخ﴾

کله چه فارغ شو مصنف د اقسامو د تمييز نه چه کله خاص وی د منتصب عنه سره او کله د متعلق سره او کله د دواړو احتمال لری نو اوس هغه مواضع بيانوی چه چرته به تمييز خاص وی د منتصب عنه سره او څرته د متعلق سره او چرته به د دواړو احتمال لری نو قال ثم الخ او بيا دا خبره هم ياد ساته. ثم ان کان. دا شرط دے او جاز ان يکون. ورله جزاء دے حاصل دادے چه کوم اسم صحيح کيدلو د منتصب عنه نه نو دابه د منتصب عنه او د متعلق دواړو نه وی.

سوال: زه درته ښايم چه شرط به موجود وی او جزاء به نه وی لکه طاب زيد نفسا دا نفسا د منتصب عنه نه گرځی څکه د زيد نه عبارت دے زيد نفس او سره د دي نه چه د متعلق دپاره نه گرځی نو ترتب د جزاء په شرط رانغئ د دي اعتراض نه نور شارحينو هم جوابونه کړی دي خو هغه شارح ته پسند نه دي نو دي خپل جواب کوی نو وای بعد ما لم يکن الخ حاصل دادے چه دا شرط په يو قيد بانديې مقيد دے چه هغه قيد بعد ما لم يکن نصا الخ دے اوس طاب زيد نفسا کښ دا نفسا نص دے په منتصب عنه کښ اگرچه اسم دے نو شرط نه دے موجود نو څکه ترتب نه دے صحيح لا صفة غرض د شارح يو د اسما قيد فائده بيانوی دويم دفع د يو سوال ده هغه داچه لله دره فارسا کښ دا فارسا اسم دے او جعل د منتصب عنه نه ئ هم صحيح دے ليکن دا د متعلق سره خاص دے د منتصب عنه سره نه دے متعلق.

جواب: چه دلته اسم مقابل د صفة دے نه مقابل د فعل او حرف چه کوم معترض مراد کوی نو فارسا اوس صفة يعنی مشتق دے.

سوال: اسم مقابل د فعل او حرف حقيقة دے او مقابل د صفة اختتل مجاز دے نو قرينه څه ده په اختتلو د مجاز؟

جواب: قرينه روستو عبارت دے چه وان کان صفة نوتقابل دپاره دلته د صفة مقابل اسم مراد دے بيا دلته منتصب عنه هغه دے چه دهغی د وجه نه تميز منصوب وی.

سوال: طاب زيدا ابا کښې دا ابا تمييز دے نو نصب ورله عامل ورکړے دے نه زيد چه نه ورته منتصب عنه وائي. جواب: (۱) کلامك برد کُوَيس او خبره هم داده خو مونږ دے منتصب عنه ته ځکه نسبة کوو چه دا اسم کله تام شو او ابهام پکښې دے نو تمييز غواړي نو گويا که دي لره نصب اسم تام ورکړو نو نسبة ورته مجازا دے (۲) دلته عبارت داسې دے چه انتصب عن عامله نو اعتراض دفع دے (۳) دا عن په معنى د بعد دے اى انتصب بعده چه دي نه بعد ئی نصب اخستلے وی و المراد بجعله الخ غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه جعل راځی په معنى د فرض او اعتبار سره لکه خلق وائی داپه جعل د جاعل دے نو بناء په دې بانديې طاب زيد ابوه واردراو علما دې کښې مونږه دا فرض کولے شو چه ـ دي تخصيص دې راشي د منتصب عنه سره حالانکه تا اوئ چه دا د متعلق د منتصب عنه سره خاص دی.

جواب: جعل په دغه معنى بانديې نه دے بلکه دلته جعل په معنى د اطلاق او تعبير سره دے اوس په دې طاب الخ کښې د ابوه او دا را و علم اطلاق په زيد ناروا دے نو خارج دې کنه خه جاز ان يكون ذلك التمييز ادا شارح د يكون د ضمير مرجع متعين کوی له ماتن وئيلی دې او شارح ورسره تارة لګوی نو دا دفع د سوال کوی چه دلته عطف شوی دے په"واو" بانديې چه دا دپاره د مطلق جمع راځی او قانون دادے چه جمع بحرف الجمع پشان د هغه جمع وی چه لفظ دجمع وی نو معنى به داشي چه دا تمييز به د دواړو دپاره وی او دا تمييز په يوحين کښې د دواړو دپاره کيدل ناروا دې علاوه لا دا وايو چه لازم به شي قيام ديو عرض په محلينو مختلفينوپورے چه په خلور مذهبه ناروا کار دے .

جواب: دا و په معنى د او دے چه تعبير ترينه په تارة سره کوی نو يو نقصان هم نه راځی له اى للمنتصب عنه تعين د مرجع کوی بان يكون الخ غرض د شاح دفع د سوال ده چه جزاء مرتب وی په شرط بانديې او دلته ترتب د جزاء په شرط نه دے صحيح ځکه چه د شرط او د جزاء په درميان کښې مغائرة نشته دے په دې شان سره چه کله ديو إسم کيدل د منتصب عنه نه صحيح شول نو وی به هم ددے دپاره نو جاز هم شو نو ترتب د جزاء صحيح نه دے .

جواب: مغائرة پکښې اوس هم شته دے په دې شان سره چه کيدل خو د منتصب عنه نه صحيح شول خو نور پته نه لګی چه رفع د ابهام به د منتصب عنه نه کوی او که د متعلق نه او يكون له کښې بيا تعين شته دے نو جانب د جزاء کښې تقيد دے او په جانب د شرط کښې اطلاق دے نو مغائرة پکښې هم راغئ .

سوال: دا به څه پته مونږه ته لګی چه دا دکوم نه راغلے دے منتصب عنه کنه متعلق.

جواب: شارح صیب وائی و ذلك بحسب القرائن و الاحوال چه قرینه به ګوری لکه طاب زیدا یادے نوکه د زید خبره شروع وه چه دده صفات وو نو بیا د ابا د زید سره خاص دے چه زید به پلار دے او که چرته صفات د زید د پلار وو نو بیا د متعلق سره خاص دے چه د زید پلار به دے نو د زید هیڅ پته نه لګی

و الا فهو لمتعلقه کله چه فارغ شو مصنف د هغه تمییز نه چه د دواړو احتمال لری نو شروع ئی اوکړه په هغه کښ چه خاص وی د متعلق د منتصب عنه سره. فقال و الا فهو لمتعلقه .

سوال: فهو لمتعلقه جزاء ده او دا شرط غواړی او جزاء بیا جمله هم وی او دلته خو الا جمله نه ده چه شرط شی نو جزاء څنګه راځی.

جواب: دلته عبارة داسی دے چه وان لم یکن الخ په ظاهر مه دهوکه کیږه بیا د دي متعلقات حذف شول په دي شان چه اول فعل شرط حذف شو د وجه د دلالت د ما قبل نه پدی بانديِ او بیا د ان دا نون په"لام"بدل شو مطابق د قانون یرملون او بیا د لم دپاره معمول حذف شوی وو چه هغه فعل وو او لم کښ دا قانون دے چه معمول به ورله مذکور وی نو د الم مو په لا بدل کړو او یا مو د لم دا میم په"لام" بانديِ بدل کړو د وجه د قرب د مخرج دلام او میم نه نو الا شو.

بعد ما لم یکن نصا د دي قید فائده تیره شوی ده نو بیا دا د متعلق سره خاص وی.

سوال: دي مخکښ صورة کښ خو هم د متعلق دپاره واقع کیدل صحیح وو جاز له و متعلقه نو تقابل صحیح نه شو.

جواب هلته په طریقه د اشتراك او دلته په طریقه د خصوصیة سره څکه شارح خاصة وائی مثال ورله شارح بیانوی طاب زید ابوة و علما و دارا دلته د ابوة الخ د متعلق د منتصب عنه سره خاص وی او په منتصب عه پوری نه دي صحیح اطلاق ئی په منتصب عنه بانديِ ناروا دے بیا هغه متعلق شی دے چه منسوب دے منتصب عنه ته نو معنی به شی چه ښه دے هغه شی چه نسبت ئی شوی دے زیدته په اعتبار د ابوة او علم او دار سره فیطابق فیهما ما قصد دا حکم بیانوی د تمییز په دي دريو واړو صورتونو کښ نو حاصل دادے چه مطابق به وی تمییز دي دوه ؤ کښ یعنی دي کښ به دا مطابق راځی دهغه چه متکلم ئی قصد کړی وی

ای فیما جاز غرض د شارح دفع د سوال ده چه ما قبل کښ دری اشیاء ذکر دي يو هغه تمييز چه نص وی په منتصب عنه کښ دويم هغه تمييز چه د متعلق د منتصب عنه کښ نص وی دريم چه د دواړو احتمال لری نو پکار ده چه ماتن ضمير د مونث راوړی وی فيها نه ضمير د تثنيه ځکه مطابقة نشته دے مرجع دری امور دي او ضمير د تثنيه راوړی .

جواب: حاصل دادے چه امور دوه دي دری نه دي په دي شان سره چه يو منتصب عنه دے او دويم متعلق د منتصب عنه بيا دا عام دے چه خاص وی دې کښ او که محتمل د دې وی او د متعلق نو ضمير منتصب عنه او متعلق ته راجع دے نو مطابقة شته دے ما قصد مطابق به وی په هغه ځه کښ چه قصد کړی شوی وی سوال داما د ځه نه عبارة دے؟

جواب: من وحدة التمييز الخ مقصد بيا د دي عبارت دادے چه که په تمييز کښ تا قصد د وحدة کړی وو نو تمييز د مفرد دغه شان که ه تثنيه وو نو تثنيه او که جمع نو جمع يعنی د قصد پوری متعلق ده.

سوال: پکار داده چه دا تميز د منتصب عنه سره مطابق ذکر شی په دي شان سره چه که منتصب عنه مفرد وی نو تميز مفرد او که منتصب عنه تثنيه نو تميز هم تثنيه او دغه شان جمع کښ هم حالانکه دا خو تا د تميز سره اولګو يعني دا افراد، تثنيه او جمع او د منتصب عنه سره دي او نه لګو.

جواب: سواء الخ حاصل دادے چه او مناسب هم دغه ده.خو دلته ګله قصد د لفظ کيږی او ګله د معنی نوکه قصد د لفظ شوی وی نو بيا به دا مطابق ګولے شی د منتصب عنه سره په افراد تثنيه، جمع کښ مثلا طاب زيدا ابا، طاب الزيدان ابوين طاب الزيدون اباء خو که قصد د معنی شوی وی نه د لفظ نو بيا به منتصب عنه ته نشی کتلی بلکه چه د کمی معنی قصد شوی وی نو دهغی سره به مطابق راوړلی شی لکه طاب زيد ابا صرف پلار قصد وی او يا ابوين چه پلار او نيکه دواړه قصد وی او اباء که قصد د پلار او د ډيرو نيکيانو مشرانو وی اګرچه دری واړه حالاتو کښ منتصب عنه مفرد دے.

سوال: نو دا ولی بيا تثنيه او جمع راوړی؟

جواب: فان صيغة المفرد الخ دا مفرد صلاحية نه لری د تثنيه او جمع الا اذاکان جنسا دا استثناء ګوی خو حاصل دادے چه تميز په دغه دواړو صورتونو کښ مطابق د هغه وی چه

کوم متکلم قصد کړی ده په هر وقت کښ مګر چه کله دا تمیز جنس وی نو بیا به نه وی مطابق دا تمیز په دواړو صورتونو د هغه سره چه قصد شوی دے ځکه یقع علی الکثیر و القلیل نو ځان لره څه کار ګورو چه تثنیه او جمع کوو نی ځکه دا زیادة دے او زیادة څه بنه شئ نه دے نو مفرد به وی همیشه لکه طاب زید علما الخ دلته که د علم نه هر څو مراد شی خو دا جنس دے نو مفرد به وی اګرچه منتصب عنه تثنیه او جمع وی الا ان یقسد الانواع د دی مخکښ استثناء نه استثناء مفرغ ده یعنی مستثنی منه محذوف ده نو تول عبارة داسی دے چه فیطابق التمییز فیهما ما قصد فی جمیع الاوقات الاوقت کونه جنسا او دلته لا یجوز تثنیة التمییز و جمعیته اذا کان جنسا فی وقت من الاوقات الا وقت قصد الانواع نو حاصل دادے چه هر کله قصد د څه متکلم کړی وی په دی دوه ؤ صورتونو کښ نو دا تمییز به دهغی مطابق راوړلی شی مګر که جنس وی نو بیا به مفرد وی ابدا مګر که په دی کښ هم قصد د انواع متمایزه شوی وی نو بیا به د هغه مطابق راوړلی شی.

من حیث امتیاز انتها النوعیه غرض د شارح په دی عبارت سرهی دفع د سوال ده چه جنس لره وجود نشته دے په خارج کښ مګر په ضمن د انواع کښ لکه حیوان په ضمن د انسان کښ موجود دے په خارج کښ نو که قصد د انواع شوی وی او کنه خو باید دادی جمع نشی.

جواب: او جی دا خبره خو صحیح ده چه جنس لره په ضمن د انواع کښ وجود دے په خارج کښ خو دا مستلزم ندے دی لره چه تا ترینه یو جدا نوع اخستی وی او دهغی دیاره دی تثنیه او جمع نشی بلکه انواع متمایزه چه مراد کیږی نو هله چه دا تثنیه او جمع شی نو حاصل دادے چه تحقق د جنس په انواع کښ دی حکم لره کافی ندے چه دلالت اوکړی بلکه لا بدی ده د تثنیه او جمع نه لکه طاب الزیدان علمین دا هغه وخت کښ چه دا دواړو علم جدا جدا وی ځکه په یو دلالت کوی اګرچه ډیر وی خو په جدا جدا بانذی دلالت نه کوی لکه یو زید سره علم د فقه دے او بل سره نحو ده دغه شان دا جمع هم ده. چه لا تفید ذلك المعنی چه قصد دے د انواع متمایزه.

وان کان صفة کله چه فارغ شو مصنف دیو قسم د تمیز نه چه اسم دے نو شروع ئ اوکړه په دویم کښ چه صفة (مشتق) دے شارح د کان د ضمیر مرجع متعین کوی او بیا مشتقه والی نو دا دفع د وهم ده چه چابه وهم کړی وو چه مراد به د صفة نه هغه وی چه مقابل د موصوف وی نو شارح اوی نه بلکه مشتق مراد دے. مثال لله دره فارسا شو سوال په کفی زید رجلا کښ تا سو دی رجلا ته صفة والی حالانکه دا خو مشتق نه دے.

جواب: مشتقة او مؤوله يعنى دا مشتق عام دے كه حقيقة وى او كه مؤوله وى لكه دلته شو چه رجلا نه تعبير په كاملا سره كيږى كانت له دا حكم دے د دې دپاره چه وى به دا صفة صفة دپاره د منتصب عنه نه دپاره د متعلق د دې شارح په دې كانت له كښ تركيب بيانوى نو واى ضمير په كانت كښ اسم د كانت شو او داله په اعتبار د متعلق سره خبر دے.

اى لما انتصب عنه تعين د مرجع كوى.

سوال: دابه ولې د منتصب عنه سره خاص وى او متعلق كښ نشى راتلى؟

جواب: لان الصفة تستدعى حاصل دادے چه دا صفة موصوف غواړى نو موصوف به ورله گورونو كه مذكور وو خو خه او كنه نو بيا به ورله مقدر راوباسو نو كه د منتصب عنه سره اولگى نو موصوف به مذكور شى او كه د متعلق سره شى نو موصوف به مقدر شى او هر كله چه مذكور موصوف صحيح كيدلے شى نو مقدر ته به صيرورة نه كيږى ځكه مذكور اصل دے او مقدر خلاف الاصل او تر څو چه اتيان بالاصل ممكن وى نو صيرورة به خلاف الاصل ته نه كيږى.

لكه طاب زيد والدا شو دلته به والدا نه مراد زيد وى نه والد د زيد په خلاف د اسم چه مقابل دے د صفة چه دواړو سره لگى و طبقه معنى داده چه مطابق وى دغه صفة د منتصب عنه سره الواو بمعنى مع دا دفع د سوال ده چه دا وطبقه په له باندې عطف دے او هغه خبر د كانت نو دابه هم خبر دكانت شى نو خبر محمول وى په اسم دلته حمل نه دے صحيح ځكه حمل د وصف راځى په ذات او دانارو ده .

جواب:"واو" په معنى د مع دے دپاره د عطف ندے نو حمل نشته.

سوال: دا مصدر مضاف دے ضمير ته او دا ضمير يا فاعل وى او يا مفعول نو دلته دا ضمير څه دے فاعل كنه مفعول نو شارح جواب كوى چه ستا خوښه ده كه دا مفعول گرځوى او كه فاعل خو چه كوم گرځوى نو هغه بل به حذف وى ځكه شارح وائى و الطبق الخ مطابقتها اياه دلته طبق مصدر شو نو فاعل حذف دے او مفعول ته مضاف دے او مطابقة اياها دلته عكس دے بيا دې مقام كښ بهتر داده چه اضافة د مصدر مفعول ته اوشى او فاعل محذوف وى اگرچه په نورمواضع كښ بهتر داوى چه مصدر مضاف شى فاعل ته او مفعول حذف وى خو دلته كار عكس دے او دا ځكه چه دلته طبق په معنى د مطابقة دے نو چه دا مضاف

شي مفعول ته او فاعل حذف شي نو دا صفة به مطابق (تابع) شي د منتصب عنه سره او د تابع د طرفه مطابقة راځي او که عکس شي نو بيا به د موصوف د طرفه مطابقة راځي او هغه خو اصل دے مطابقة تابع راولي اصل سره نه اصل د تابع سره څکه خو شارح اضافة الى المفعول مقدم کوی په دې اضافة الى الفاعل.

"و يجوز" غرض د شارح دويم جواب دے د اصل اعتراض نه چه دا"واو" دپاره د عطف دے او طبق مصدر دے او دا مبنى للفاعل وايو په معنى د مطابق بالکسر"واو"يو نو معنى داده چه صفة به وى د ده دپاره او مطابق به وى د ده سره والمراد بالمطابقة دا دفع د سوال ده چه تا اوى دابه مطابق وى نو الله دره فارسا کښ فارسا نکره او دره معرفه دے مطابقة نشته دے.

جواب: مراد د مطابقة نه داندے چه په ټولو امورو کښ به مطابقة وى بلکه په افراد، تثنيه او جمع او تذکير او تانيث کښ به مطابقة وى څکه دا حامل دے دهغى ضمير لره نو ضمير به هغى ته راجع وى نو چه جمع وى او ضمير د مفردورته راجع کوئو په درميان د ضمير او مرجع کښ مطابقة نه راځي او که مفرد وى او ضمير د جمع راجع کوو نو بيا هم مطابقة نشته دے.

"و احتملت الحال "تفصيل د تمييز شروع دے پکښ د هغه تفصيل اوشو چه هغه اسم جامد وى نو هغه تمييز چه هغه مشتقى وى صفة وى د هغى تفصيل شروع دے نو واى که دا تمييز صفة وى نو د منتصب عنه سره به مطابق وى او خاص به وى ورسره اوس په دې کښ دويم احتمال د نصب بيانوى چه و احتملت الحال دا احتمال د حال لرى شارح دپاره دِ احتملت د ضمير مرجع متعين کوى ايضا چه دا تمييز دے خو احتمال د حال هم لرى لاستقامة دا علت بيانوى چه دا څکه د حال احتمال لرى چه معنى د دې صحيح کيږى مثلا طاب زيد فارسا دے نو که تمييز شي نو معنى به شي چه ښه دے زيد په دې حيثية چه فارس دے او که حال شي نو معنى به شي چه ښه دے زيد په حال کون دده کښ چه فارس دے لکن زيادة من غرض د شارح په دې عبارة سره دفع د وهم ده چه ناشي دے د کلام سابق نه بيا هغه دادے چه هر کله دا صفة تمييز او حال دواړه صحيح کيدلے شي نو څه وجه ده چه ماتن د حال معنى په احتمال سره بيانوى او د تمييز هغه مستقل مساواة پکښ ولى نه بيانوى؟

جواب: د وهم په لکن ... دے چه تمیز واقع کیدل اولی دي د واقع کیدلو د حال نه نو ځکه یو مستقل بیانوی او ... د احتمال سره بیا د تمیز د اولویة لسره دوه وجوه دي یو داچه دی نه روستو من په دي ... داخلیږی او من بیان د ذات کوی او بیان د ذات په تمیز کښ وی نه په حال کښ لکه عز ... قائل.

"و ایضا المقصود" سره دوېمه وجه بیانوی حاصل دادے چه مقصود په دي مقام کښ مدح د دغه مذکور قبل الصفة په دغه صفة سره وی او دا معنی د تمیز ده او چه حال واقع شي نو بیا به مقصود صفة د دغه ... شي فقط حالانکه لله دره فارسا کښ دا فارسا حالة د فروسیة چه دے نوکه د دي مدح ... وی نو پکار داوه چه دي دیاره بل صفة واقع کیدلے حالانکه دي دپاره بل صفة نه واقع ځیږی نو معلومه شوه چه مقصود په دي مقام کښ مدح د زید ده په فروسیة سره نه مدح د حال د فروسیة حاصل دادے چه مدح د زید په فروسیة مقصود ده نه د حال د فروسیة نو ... تمیز شي نو مقصود حاصلیږی او که حال شي نو مقصود نه حاصلیږی ځکه یو بل حال دي مراد شي لکه راکبا شو نو مدح د حال راغله خو مقصود نه راځی چه مدح د فروسیة د زید ده.

"ولا یتقدم علی عامله" ... کل چه فارغ شو مصنف د اقسامو د تمیز نه تفصیلا نو اوس حکم د مطلق تمیز بیانوی برابره خبره ده که عن مفرد وی او که عن نسبة وی فقال ولا یتقدم شارح والی التمییز دا تعین ... رجع د یتقدم د ضمیر کوی.

سوال: روستو ماتن اختلاف بیانوی نو وائی چه والا صح ان لا یتقدم علی الفعل نوپه کلا کښ تعارض دے ځکه دلته ... مل ذکر دے مطلقا نو پکښ دغه فعل هم داخل دے نو دي کلام نه دا معلومیږی چه ع ... تقدیم د تمیز په عامل باندي اتفاقی دے او پکښ فعل هم دے نو روستو بیا پکښ اختلاف ته اشاره ده نو دهغی نه معلومیږی چه اتفاقی نه دے نو ما هذا الاتعارض.

جواب: شارح خاده ... دمت کوی نو وائی چه اذا کان اسما تاما چه عامل نه مراد اسم تام دے.

سوال: قرینه څه ده؟

جواب: دا قانون دے چه کله خاص په مقابله د عام کښ ذکر شي نو د دي عام نه به غیر د خاص وی نو دلته عامله کښ عامل عام دے او روستو فعل خاص دے نو دلته د عامل نه

مراد غیر د فعل دے نو د فعل او شبه فعل نه علاوه عامل اسم تام دے بالاتفاق د د قید د اصح فائده ده فلا یقال اذا تفریع ده نفیا لان عامله اذا ورله علت او دلیل بیانوی چه حاصل ئی دادے چه عامل کله اسم تام دے نو دا جامد دے په عمل کښ ضعیف دے ولی چه عمل د وجه د مشابهة نه کوی چه د دې د فعل سره مشابهة وو چه کله په فاعل پاندې تام شي نو داهم په تنوین یا نون او یا په اضافة تام شي نو فعل فاعل نه روستو مفعول منصوب وو نو دې نه روستو هم تمیز منصوب وی نو دې وجه نه دا ضعیف العمل په متقدم کښ عمل نشی کولی.

و الاصح دا اختلافی صورت بیانوی شارح وائی ای اصح المذاهب اشاره کوی چه اللام په الاصح کښ عوض ده مضاف الیه نه دے اصل عبارت اصح المذاهب وو خو بیا چه کله قطع د ترکیب اضاق اوشوه په حذف د مضاف الیه سره نو په عوض کښي الف"لام"راغئ نو الاصح شو نو اصح دادے چه په فعل پاندې هم تمیز مقدم نشی بیا ماتن علی الفعل اوی او شارح وائی علی ما هو عامل فیه من الفعل الصریح الخ نو غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا اوی تقدیم د تمیز نه کیږی په فعل پاندې نو مونږ تپوس کوو چه ستا مراد د فعل نه حقیقة فعل دے او که تاویلا په هر واحد پاندې اعتراض دے په دې شان سره که ته حقیقة فعل مراد کوی نو مقصد دادے چه اختلاف صرف په دغه فعل حقیقی کښ دے حالانکه څنګه چه اختلاف په فعل کښ دے نو اسم فاعل، اسم مفعول کښ هم اختلاف دے او که د فعل نه مراد ستا تاویلا فعل وی نو بیا فعل تاویلا اسم فاعل او اسم مفعول ته چه څنګه شامل دے نو صفة مشبه، اسم تفضیل او مصدر ته هم شامل دے حالانکه هلته خو اختلاف نشته بلکه بالاتفاق پکښې تقدیم د تمیز ناروا دے.

جواب: شارح کوی چه حاصل دا دے چه مراد دلته د فعل نه فعل حقیقة دے خو دا بیا عام دے که صریح وی لکه فعل حقیقی او یا غیر صریح لکه اسم فاعل ، اسم مفعول شو او د غیر صریح اطلاق خو په اسم تفضیل، صفة مشبه او مصدر هم کیږی خو هغه نه دے مراد ځکه دا تقدیم د عامل چه کوم خلق جائز وائی نو د هغی دپاره قوة د عامل بیانوی او صفة مشبه ، اسم تفضیل او مصدر کښ قوة نشته دے لکونه من حیث المعنی دا خبره خو واضح ده من الشمس چه چرته اختلاف وی نو هلته لا بدی وی معرفة د امور خمسه نه نو دلته هم دا لابدی ده .

اول تحریر د محل النزاع: نو دلته څو صور دي يو صورة داده چه تقديم د تمييز په اسم تام باندې ناروا دے اتفاقا دويم تقديم د تمييز په هغه عامل چه صفة مشبه ، اسم تفضيل او مصدر دے دا خو ناروا دے اتفاقا دريم صورت داده چه تقديم د تمييز په هغه عامل چه فعل وي يا اسم فاعل، اسم مفعول وي نو دا جائز دے او كنه نو دې كښې اختلاف دے دا شو تحرير د محل النزاع تفصيلا.

دويم تعين د مختلفينو نو يو طرفته جمهور دې و منهم المصنف او بل طرفته مازنى او مبرد صاحب دي.

دريم دعوى دهر واحد نو جمهور وائي تقديم د تمييز په فعل او اسم فاعل او اسم مفعول باندې نا روا دے او د مازنى او مبرد په نزد روا او جائز دے څلورم دلائل دهر واحد نو دليل د جمهورو شارح بيانوى چه لكونه من حيث المعنى فاعلا حاصل داده چه دا تمييز چه معمول د فعل يا اسم فاعل او اسم مفعول دے نو دا معنى فاعل دے او تقديم د فاعل لفظا په فعل باندې اتفاقا ناروا دے نو تقديم د هغه فاعل چه معنى دے داهم ناروا دے په فعل باندې من حيث المعنى څكه په اعتبار د لفظ سره خو منصوب دے بيا دا عبارت د شارح په دې انداز سره دے چه لكونه من حيث المعنى فاعلا او بيا دپاره د تمام روستو عبارت دے چه و الفاعل لا يتقدم على الفعل نو فكذا ما هو بمعنى الفاعل چه داشو.

سوال: زه درته ښايم چه تمييز به وي او هغه به معنى فاعل نه واقع كيږى لكه فجرنا الارض عيونا دلته عيونا تمييز دے او معنى خو دا فاعل نه دے څكه دا اصل كښې داسې چه فجرنا عيون الارض نو فجرنا باب تفعيل دے نا ورله فاعل دے او عيونا بيا مفعول به واقع دے دغه شان دا يو بل تركيب هم داسې دے چه امتلاء الاناء ماء دلته داماء تمييز دے او معنى فاعل نه واقع كيږى څكه كه دا موئز فاعل كړو نو معنى به فاسده شي څكه چه نه ډكيږى او به لوخى نه بلكه لوخے د اوبو نه ډكيږى.

جواب: كيدل د تمييز فاعل معنى عام دي برابره خبره ده كه دا تمييز فاعل وي د دي فعل دپاره معنى سره د بقاء د فعل نه په خپل حال باندې او يا گرځيدلے وي متغير يعنى چه لازم وي نو متعدى شي او چه متعدى وي نو لازم شي لكه دپاره د اول مثال طاب زيد ابا دے دلته دا ابا تمييز فاعل دے معنى سره د بقاء د فعل نه په خپل حال باندې اى طاب ابوه او هر چه امثله دپاره د دويم دي نو هغه دا دوه مذكور امثله دي كوم چه اعتراض كښې دي يو فجرنا الخ

او دويم امتلا الخ شو په دې شان سره چه دا تفجير متعدى لازم شي او انفجار شي نو انفجرت عيونها شو نو دا فاعل شو او امتلاء لازم متعدى شي او ملاء شي نو ملاءه الماء ډك كړو دي لوښى لره اوبونو په دواړو صورتونو كښې دا تمييز فاعل شو معنى و ههنا بحث بعض شارحين والى چه غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض كول دي په دې جواب باندې چه د فعل متعدى نه لازم و كرځى او بعض شارحين والى چه دا دويم جواب كول دي د امتلاء الاناء ماء نه حاصل دادے چه دلته داماء د امتلاء دپاره فاعل واقع كيدلے شي او امتلاء الماء اناء وئيلي شو چه ډكې شوى اوبه دلو ښى نه ليكن دومره فرق دے چه په امتلاء الاناء ماء كښې دا الاناء فاعل دے حقيقة او په امتلاء الماء اناء كښې دا الماء فاعل دے مجازا نو تعدية ته پكښې حاجة نشته دے لان المتكلم، ځكه چه كله متكلم قصد كړو اسناد د امتلاء بعض متعلقاتو د اناء ته چه او به دې د لوښى سره متعلق دي نو اګرچه مجازا دے يعني دا اسناد دې، اناء ته حقيقة او ماء ته مجازا نو ابهام واقع شو نو دپاره د دفع د ابهام تمييز راغئ نو دا ماء هم فاعل دے.

سوال: دا سې يو بل مثال شته، چه اسناد د فعل يو فاعل ته مجازا وى او بل ته حقيقة وى.

جواب: بے شميره دي منها انبت الله البقل كښې الله ته نسبة شوى دے حقيقة او په انبت الربيع البقل كښې ربيع ته نسبة مجازا دے دغه شان ربح زيد تجارة او د بحث تجارة زيد چه تجارة يو كښې منصوب دے نو تمييز دے او فاعل زيد دے حقيقة او په دويم كښې تجارة فاعل دے مجازا. و بهذا يندفع دا شارح د دې كلام تحسين كوى چه دا كلام تاته هر كله يادوى چه فاعل دوه قسمه دے نو په دې سره به يو بل اعتراض هم دفع شى هغه داچه دوى يو قانون ذكر كوى چه دا تمييز كله دفع د ابهام د فاعل نه كوى او كله د مفعول نه نو سوال دا راځى چه دا مفعول پكښې د سر نه مه والى ځكه چه هغه مفعول تاسو فاعل ګرځوى معنى نو لنډ داسې والى چه تمييز رفع د ابهام كوى د فاعل نه نو د دې اعتراض جواب اوشو چه دا قاعده په خپل مقام ده او دابله په خپل ځائى كښې ده باقى ترجمه ده.

خلافا للمازنى و المبرد د دوى دپاره مونږ دعوى ذكر كړى ده صرف دلائل پاتې دي نو دوى لره دوه دلائل دي يو عقلى چه حاصل ئې دادے چه فعل او اسم فاعل او اسم مفعول قوى دي په متاخراو مقدم دواړو كښې عمل كولى شى او دا باقى ضعيف دي او دويم ورله نقلى دليل دے شعر دے چه شاعر ئې سعيدى صيب دے يو قطعه ترينه دلته منقول ده

اتهجر سلمى بالفراق حبيبها ... وما كاد نفسا بالفراق تطيب

دی شعر کښ چند خبری ضروری دي (١)تعين د شاعر (٢) غرض د هغه (٣) معنی د دي (٤) محل د استشهاد چه دوی څنګه استدلال کوی (٥) جواب من جانب المصنف نو شاعر سعیدی دے او غرض ئی دادے چه هغه انکار کوی د دي خبری نه چه د ده محبوبه سلمی چه ده نو دا په فراق زمونږ خوشحاله ده یعنی چه څوك دا وائی نو دي ترینه انکار کوی همزه استفهامیه دپاره د انکار ده او معنی دا ده چه اتهجر ایا پریږدی نو نه پریږدی سلمی محبوبه په سبب د فراق خپل حبیب چه شاعر دے وما کاد او قریب نه ده شان دادے چه خوشحاله شی دا سلمی په اعتبار د نفس باندي نو خپل حبیب نه پریږدی.

محل د استشهاد دادے چه ماکاد کښ ضمیر دے ضمیر الشان او دا نفسا تمیز دے د نسبة د تطیب نه چه ضمیر پکښ سلمی ته راجع دے نو د نسبة د تطیب سلمی ته ابهام لری نو نفسا دا رفع کوی نو نفسا په تطیب باندي مقدم دے شارح هم دا وائی چه علی تقدیر تانیث الضمیر او دفع د سوال ده چه په مثال د ممثل سره مطابق ندے مثال دادے چه تقدیم د تمیز په فعل وی او مثال کښ تقدیم د تمیز په فعل باندي ندے شوی ځکه کار کښ ضمیر دے حبیب ته راجع دے او په نسبة کښ ابهام لری نو نفسا رفع کوی نو دا خو دکار نه روستو دے نه مقدم.

جواب: دا نفسا تمیز د نسبة دکار نه حبیب ته نه وایو بلکه دا تمیز دے د نسبة د تطیب نه سلمی ته اوکار کښ ضمیر نشته چه راجع شی مخکښ حبیب ته بلکه ا ضمیر دکار بلا مرجع دے یعنی ضمیر الشان دے.

پنځم . ترجیح دما هو الراجح نو ماتن خو په الا صح سره ترجیح د جمهورو مذهب له ورکوی خو دا جوابات هم د دلائل د غیر نه کول وی نو جواب د دوی د اول دلیل نه چه عقلی دے نو دادے چه عبد الغفور وائی چه دا نحو ده او مسائل د نحو بناء دي په سمع من العرب عقلیات پکښ نه چلیږی او که مونږ پکښ عقلیات اوچلو نو لازم به شی اثبات د لغة په عقل سره او دا خو ناروا ده او هر چه جواب د دویم دلیل نه چی نقلی دے نو دهغی نه جواب دادے چه دلته یو بل لغة هم دے چه وما کاد نفسی بالفراق تطیب نو بیا نفسی دپاره دکاد فاعل دے او تطیب کښ ورته ضیر راجع دے او تمیز پکښ نشته دے. (٢) شارح وائی چه یو روایة پکښ د یطیب هم دے نو په کار کښ ضمیر دے راجع دے حبیب ته او نفسا به ترینه تمیز شی او دا یطیب کښ به هم ضمیر حبیب ته راجع شی نو معنی به شی چه وما کاد او قریب نه دے دغه حبیب په اعتبار د نفس سره چه خوشحاله شی په فراق .

سوال: نو دلته نو روایة د تطیب دے پکښې څو د ... دے کنه؟

جواب: اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال نو دا ... په درې روایاتو منقول دے کما قلنا وما قیل دا شارح هندی صیب د مبرد او د مازنی ... استدلال نه یو جواب کوی چه شارح ته پسې نه دے نو رد پرې کوی تقریر د جواب ... هندی صیب دادے چه مبرد او مازنی صیب له تطیب شی نو بیا هم ستاسو مذهب نه دے ... بیک تطیب کښې مونږ ضمیر حبیب ته راجع کوو او کاد کښې هم حبیب ته راجع دے.

سوال: ضمیر د مونث څنګه راجع دے حبیب ته؟

جواب: د حبیب نه تعبیر په نفس سره شوی ... او نفس خو مونث سماعی دے نو ضمیر د مونث راجع شو نو شارح وائی فتکلف تکلف ... پکښې او نه حسف سختی ده پکښې او غیر قارح فی التمسك ضرر نه رسوی په استدلال د مبرد او مازنی کښې بیا تکلف دادے چه تاویل پکښې د صریح نه شوی دے چه هغه ذکر د حبیب دے او تاویل قرینه په نفسی اوشو او د صریح نه تاویل د تکلف نه خالی نه وی او تعسف دادے چه په اعتبار د ظاهر سره دا شاعر د سلمی دهجران بیان کوی نو کلام دهغی سره متعلق کول پکار دي او تا خو د حبیب سره متعلق کړونو صرف د کلام د ظاهر نه خلاف الظاهر نه خالی ندے د تعسف نه او تمسك د دوی کیسے څکه قارح نه دے چه هغو اوس هم وئیلی شی چه تطیب ضمیر راجع دے دغه نفس د حبیب ته او نفسا تمیز دے د نسبة د تطیب نه اَنفس د حبیب ته نو دوی د تاویل نه بعد هم دا وئیلی شی نو بیا تقدیم د تمیز راغلو په فعل باندی.

المستثنی

المستثنی متصل و منقطع دلته څو خبری اجمالی ضروری دي (۱) ربط د ما سبق سره (۲) تحقیق لغوی د المستثنی (۳) تعریف اصطلاحی (٤) اقسام د المستثنی (٥) تفصیل د دغه اقسامو.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل د اووه منصوباتو نه چه پنځه مفاعیل وو او دوه ملحقات وو نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د اتم منصوب کښې چه دریم د ملحقاتو نه دے نو دری سوالات راپیدا شول یو داچه نفس تفصیل ولی کوی؟ دویم تفصیل کښې دا مستثنی په دي مقام کښې ولی بیان کړه دریم تفصیل څنګه کوی؟

جوابات بالترتیب نو نفس تفصیل ځکه کوی چه یو خو تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او بل داچه دا تفصیل ته محتاج وه او تر دې حینه پورې د دې تفصیل ندے شوی لو تفصیل ورله کوی او په تفصیل کښې دا اتم مقام کښې ذکر کوی چه په نسبة سره ما قبل ته قلیل او ما بعد ته کثیر ده نو ځکه دې مقام کښې ذکر کوی اما دا خبره چه د تمییز نه ئې روستو متصل ولې ذکر کړه نو دا ځکه چه په درمیان د استثناء او تمییز کښې په څه خبرو کښې مناسبة دے یو داچه تمییز هم د ذات سره متعلق وی او دا مستثنی هم د ذات سره متعلق ده دویم دا چه څنګه تمییز دوه قسمه وو یو حقیقی چه تمییز عن ذات مذکورة وو او دویم مجازی چه تمییز عن ذات مقدرة نو مستثنی هم دوه قسمه ده یو حقیقة چه متصل ده او دویم مجازا چه منقطع ده دریم داچه لکه څنګه چه تقدیم د تمییز په عامل ناروا وو نو داسی تقدیم د مستثنی هم په خپل عامل ناروا دے څلورم داچه لکه څنګه چه تمییز منصوب واقع کیږی د وجه د مشابهة نه د مفعول به سره چه تمام د اسم راشی کله نو داسی دا مستثنی هم منصوب ده د وجه د مشابهة نه د مفعول سره ځکه اول عامل وی او بیا مستثنی منه او بیا مستثنی وی. او تفصیل داسی کوی چه یو به دې تعین اوکړی د اتم قسم د منصوب په المستثنی سره دویم دهغی اقسام به بیان کړی په متصل و منقطع سره او منصوب او مجرور وغیره سره او دریم به د دغه اقسامو تفصیل اوکړی فالمتصل وغیره سره ربط لفظی (۱) المستثنی مبتداء او متصل او منقطع ورله خبر دے (۲) المستثنی مبتداء موخره دپاره د خبر مقدم محذوف چه منها په اعتبار د متعلق دے (۳) دا المستثنی خبر محذوف المضاف دے دپاره د مبتداء محذوف ای هذا بحث المستثنی بیا هذا مبتداء حذف شوه او مضاف هم او مضاف الیه د مضاف په مقام قائم شو نو دهغی په اعراب مرفوع شو نو رفع نیابة ده.

تحقیق لغوی: نو دری خبرې پکښې ضروری دې یو صیغه دویم معنی دریم وجه د تسمیه نو دا المستثنی صیغه د اسم مفعول ده د باب استفعال نه استثنی یستثنی استثناء او په لغت کښې په معنی د مخرج سره ده او مناسبة دادے چه مصطلح مستثنی هم ویستلی شوی وی د حکم د مستثنی منه نه چه هغې لره حکم د اثبات دې لره نفی او غې لره حکم د نفی نو دې لره اثبات او عند البعض دا ماخوذ د ثنی نه دے او ثنی په معنی د میلان سره لکه ثانی عطفه بیامناسبة دادے چه مصطلح مستثنی کښې هم معنی د میلان وی یا دا د اثنین نه ماخوذ دے دوه ته وائی او مصطلح مستثنی کښې هم دوه حکمه وی یو ایجاب دویم نفی. تدبر.

تحقیق اصطلاحي:دا شارح کړی دے چه ای ما یطلق الخ او په دې سره یو سوال هم دفع شو چه تا خو تقسیم اوکړو په مستثنی کښې متصل او منقطع ته او قانون دادے چه تقسیم فرع ده د معرفة د مقسم نه نو د مقسم تعریف نه کوی او تقسیم کوی پکار تعریف وو اولا نو جواب اوشو چه دا تعریف دے کنه چه دا معلوم دےپه دې اعتبار سره دادپاره د معرفة کاف دے څکه خو مصنف المستثنی معرف باللام راوړی دے چه اشاره ده پکښې دې نه او یا دا سی هم جواب کیدلے شی چه نه واٸی چه تقسیم موقوف دے په تعریف د شی باندې نو ستا د تعریف نه کوم مراد دے تعریف بالکنه او بکنهه کنه تعریف بالوجه او بوجهه نو که تعریف بالکنه او بکنه دې مراد وی نو دانه منم او که نه مراد ستا تعریف بالوجه او بوجهه وی نو په دې اعتبار سره دا معلوم دے چه ما یطلق علیه لفظ المستثنی .

سوال: مونږ خو تعریف د مستثنی داسی اوریدلے چه تکلم بالباقی بعد الثنیا .

جواب: ق اصطلاح النحاة زه د نحاتو د اصطلاح نه وایم او دغه تعریف په اصطلاح د اصولیانو کښې دے علی قسمین دا دفع د سوال ده چه په دې متصل او منقطع کښې ربط مقدم دے که عطف که ربط مقدم وی نو انحصار د عام راځی په خاص کښې چه ناروا کار دے او که عطف مقدم وی نو حمل د متعدد راځی په واحد چه داهم ناروا کار دے.

جواب: چه ربط مقدم دے او انحصار د عام په خاص کښې نه راځی څکه مونږ د متصل پسی سمدستی منقطع وایو هله به انحصار د عام راتلی په خاص کښې چه مونږ د متصل پسی منقطع نه وی ذکر کړے وبلا کان دا اشاره ده هغه اعتراض ته چه تقسیم د معرفة فرع ده نو تعریف اوکړه او بیا جواب ته هم اشاره ده .

سوال: ته چه کوم جواب کوی اے شارحه نو دا د ماتن د جواب سره موافق نه دے څکه ماتن په امالی الکافیه کښې واٸی چه مونږ د مستثنی تعریف نه کوو څکه چه متصل او منقطع جدا جدا ماهیة لری نو داسی یو مفهوم مشترك نشته دے چه مونږ دهغی تعریف اوکړو نو څکه مونږ دمستثنی تعریف ترك کړے دے نو شارحه ته هغه جواب ولی نه کوی؟

جواب: هغه جواب د ماتن صحیح نه وو څکه چه دې لره یو مفهوم مشترك شته دے چه کوم رضی صیب بیان کړی دے چه مستثنی چه ده نو دا مستثنی هغه شئ دے چه ذکر وی پس د الا او دا خواتو د الا نه دپاره د دې چه ثابت شی دې لره هغه حکم چه نه وی ثابت مستثنی منه لره په طریقه د نفی او اثبات سره لکه جاءنی القوم الا زیدا نو زیدا یو شئ دے

چه پس د الا نه ذکر دے او دپاره د دې زید هغه حکم ثابت دے چه مستثنی منه لره نه دے ثابت چه هغې لره مجیئة ثابت دے او دې لره نه دے ثابت نو تعریف ئی کیدلے شی او بل داچه مصنف وائی چه دوه شیان مختلف چه دیو ماهیة لاندې نه راځی دا دهغې د قبیلې نه دے نو دا خبره هم صحیح نده ځکه د انسان اوحیوان مختلف شیان دي ا وديو ماهية لاندې راځي و عرف کل واحد غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د اعتراض کوی چه نه وائی ما د مستثنی تعریف اونکړو د تقسیم نه مخکښ ځکه ما يطلق الخ سره حاصلیږی نو بیا د مستثنی متصل او منقطع تعریف کښ ولې داسی نه کوی حالانکه نه خو د دې تعریف کوی دلته اکتفاء نه کول او مقسم کښ اکتفاء کول خو ترجیح بلا مرجح ده.

جواب: ترجیح بلا مرجح نده ځکه د متصل او منقطع دپاره خان لره احکام دي چه هغه بغیر د تعریف دهر واحد نه نه حاصلیده په خلاف د دغه مقسم باندې. ترجمه اسانه ده.

اقسام د مستثنی: نو دا اولا په اعتبار د ذات سره په دوه قسمه ده یو متصل دویم منقطع فقال متصل و منقطع بیا دا خبر دې دپاره د مبتداء ای احدهما متصل و ثانیهما منقطع فالمتصل کله چه فارغ شو مصنف د اجمال نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل کښ ځکه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی بیا متصل مقدم کوی ځکه اجمال کښ مقدم ده نو دپاره د موافقة چه تفصیل د اجمال سره موافق شی او په اجمال کښ ځکه مقدم وو چه اطلاق د مستثنی په متصل باندې حقیقة دے او په منقطع مجاز دے ځکه چه مستثنی په لغة کښ اخراج ته وائي او اخراج په متصل کښ راځی ځکه چه اخراج سبق دخول غواړی او مستثنی چه مستثنی منه کښ وی نو متصل کښ وی نه منقطع کښ اوهم دا وجه ده چه دوی په متصل کښ معنی د الا کوی او منقطع کښ معنی د لکن کوی ځکه لکن دپاره د استدراك راځی یعنی دفع د توهم چه ناشی وی د کلام سابق نه او په منقطع کښ مستثنی په مستثنی منه کښ داخل نه وی خو چونکه څه تعلق ورسره ساق نو داوهم راځی چه دا پکښ جوړے داخل ده نو دا دغه وهم په لکن سره دفع کوی لکه جاءنی القوم الا حمار نو دا حمار خو په قوم کښ داخل ندے خو يو ځائے ورسره وو نو دا وهم پيدا شو چه گنی دا حمار په دې قوم کښ داخل دے نو په منقطع سره دا وهم دفع شو او په دې تفصیل سره یو بل سوال هم دفع شو چه تقسیم د مستثنی متصل او منقطع ته ناروا دے ځکه دا تقسیم د شئ دے خپل نفس ته چه متصل ده او غیر ته چه منقطع ده ځکه متصل خو مخرج وی نو دا الی نفسه دے او منقطع خو مخرج نه وی نو غیره شو جواب دا تقسیم په اعتبار د ما يطلق عليه المستثنى سره

دے نه په معنی لغوی سره هو المخرج عن متعدد بيا دا متعدد عام دے كه ملفوظ وی او كه مقدر او دابه په الا و اخواتها سره وی شارح الاسم والی ځکه المخرج صفة دے موصوف غواړی نو هغه ورله شارح متعين کړو او بيا الذی والی نو اشاره کوی چه په المخرج کښ الف"لام"موصولی دے ځکه د هغی ته تعبير په الذی، التی سره کيږی او د اسم فاعل نه په ماضی يا مضارع سره و احترز د دې قيد فائده دا چه دې سره احتراز اوشو د غير مخرج نه لکه جزئيات دمستثنی منقطع داهم د الا او اخواتو نه روسته وی خو مخرج نه وی ځکه داخل نه وی عن متعدد شارح والی حکم نو دا دفع د سوال ده چه ته وائی ماجاءنی احد الا زيدا يا جاءنی القوم الا زيدا دلته ته وائی دا زيد مخرج دے حالانکه دا خو په الا سره د دې قوم نه نه خارجيږی مثلا ته د پښتون قوم نه ئی نو ته خو په الا سره د دې قوم خيل (پښتون) نه نه خارجيږی.

جواب: خروج د حکم نه مراد دے نه د قوم نه نو په دې امثله کښ دا د حکم نه خارج دے چه حکم يو کښ عدم مجيئة او دويم کښ مجيئة دے شئ ئی راوباسو ځکه متعدد صفة وو موصوف ئې غوښتلو

سوال: زه درته ښايم چه تعدد به پکښ نه وی او استثناء به پکښ وی لکه اشتريت العبد الانصف نو دلته خو العبد متعدد نه دے.

جواب: جزئيانه حاصل دادے چه دا تعدد عام دے که د جزئياتو نه وی او که د اجزاء نه نو ع عبد کښ اجزاء شته دے ما جاءنی الخ دا مثال دپاره د جزئياتو دے نو دا زيد په احد کښ داخل وو د حکم دهغی نه چه نفی د خارج شو او اشتريت الخ مثال دپاره د اجزاء دے.

سوال: مونږه ته به څه پته لګی چه متعدد جزئيات دے که اجزاء.

جواب: دا مستثنی منه نه به پته لګی کنه لفظا او تقديرا غرض د ماتن په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه زه درته ښايم چه مستثنی به وی او د متعدد نه به روستو نه وی ذکر لکه ماجاءنی الا زيدا مستثنی ده او متعدد نشته دے.

جواب: دا متعدد عام دے که لفظا وی او که تقديرا نو دلته تقديرا دے او شارح صيب والی چه سواء کان نو شارح د لفظا او تقديرا دپاره علت د نصب بيانوی چه دا دپاره د کان خبر دے او خبر د کان منصوب وی.

سوال خبر د کان خو محمول وی په اسم دکان او دلته خو حمل نه دے صحیح ځکه حمل د وصف راځی په ذات باندې او دا خو ناروا دے.

جواب: ای ملفوظا او مقدرا دا مصدر مبنی للمفعول دې نو حمل صحیح دے بیا دپاره د ملفوظ او مقدر امثله بیانوی.

سوال د لا اله الا الله کښې د الا نه روستو ذکر دے حالانکه ځوك ورته مستثنی نه وائی بلکه د ما قبل دپاره صفة دے.

جواب: غیر الصفة دلته الا صفتی ده او زمونږ مراد غیر صفتی الا ده و اخواتها.

سوال: اخواتو نه مقصد دادے چه په اخراج کښې ورسره مشابهة لری نو پکار ده چه جاءنی القوم مستثنی زیدا یا جاءنی القوم مخرجا زیدا ته مستثنی اوئیلی شی حالانکه دې ته خو مستثنی نه وئیلی کیږی .

جواب زمونږ مراد د اخوات نه دانه چه د اخراج معنی پکښې وی بلکه دې نه مراد خاص ادات دې چه هغه لکن، غیر، سواء وغیره دی.

و احترز سره د دې قید فائده ده چه غیر د اخوات نه بعد چه واقع وی نو هغه ترینه خارج دی.

و المنقطع کله چه فارغ شو د متصل نه نو شروع اوکړه په منقطع کښې بیا شارح المستثنی وائی دا تعین د موصوف کوی دپاره د المنقطع صفة هو المذکور سره تعریف کوی و احترز سره د قید فائده ده اصل کښې په تعریف د مستثنی متصل او منقطع کښې اختلاف دے جمهور وائی چه متصل هغه ده چه دا مستثنی د مستثنی منه د جنس نه وی او منقطع هغه ده چه دا مستثنی د مستثنی منه د جنس نه نه وی نو جاءنی القوم الا زیدا د دوی په نزد مستثنی متصل ده او جاءنی القوم الا حمارا منقطع ده ځکه زید د قوم د جنس نه دے او حمار نه دے او د محققینو مسلك دانه دے بلکه محققین لکه رضی صیب شو او دا مصنف شو دوی وائی چه متصل هغه ده چه مستثنی د متعدد نه مخرج وی که د مستثنی منه د جنس نه وی او یا نه منقطع هغه ده چه دَ متعدد نه نه وی مخرج که د جنس د مستثنی منه نه وی او یا نه.

سوال: دلته ته د مستثنی تقسیم کوی د دوه و ته چه متصل او منقطع دي نو روستو په اعتبار د اعراب سره بیا اقسام بیانوی منصوب مخنوص وغیره چه ټول څلور اقسام دي نو بحث خو د منصوباتو دے ته د دي نورو تفصیل ولی کوی؟

جواب: دا علاوه د منصوب نه چه کوم اقسام مذکور دي نو دا طردا ذکر دي او دا منصوب ذکر دے مقصودا

وهو منصوب بعد الا الخ هر کله چه فارغ شو مصنف دیو تقسیم د مستثنی نه چه په اعتبار د ذات سره وه نو اوس دویم تقسیم کوی په مستثنی کښ او داپه اعتبار د اعراب سره دے چه مستثنی په اعتبار د اعراب سره په څلور قسمه ده یو منصوب وجوبا دویم جواز الامرین مع اختیار البدل دریم اعراب بحسب العوامل څلورم مجرور وجوبا اما دا سوال چه علاوه د منصوب نه په مستثنی کښ تفصیل کول خو خروج عن البحث دے؟

جواب: دا طردا دي دپاره د دي چه استقصاء د تفصیل د مستثنی اوشی نو نصب بالذات او مقصودا او دانور بالتبع او طردا دي فقال وهو منصوب ای المستثنی مطلقا غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه دا هو ضمیر چاته راجع دے یا به راجع وی مطلق مستثنی ته او یا مستثنی متصل ته فقط او یا مستثنی منقطع ته فقط او یا دوارو ته معا په هر واحد باندې اعتراض دے په دي شان سره چه مطلق مستثنی ته راجع شی نو دا مطلق مستثنی مجهول ده نو دا هو ضمیر هم مجهول شو نو دا منصوب یو حکم دے نو لازم شو حکم بالمجهول چه ناروا دے او که ضمیر یوته فقط راجع شی نو بیا لازمیږی اختصاص د دي حکم دیو سره چه هغه بل ترینه خارجیږی او که دوارو ته راجع شی نو په درمیان د ضمیر او مرجع کښ مطابقة نشته .

جواب: شارح اوکړو په اختیار د شق اول چه ضمیر مطلق مستثنی ته راجع دے او دا مجهول نه ده څکه حیث علم اولا چه معلوم ده په یوه وجه یطلق علیه لفظ المستثنی الخ او دا دپاره د معلومیة کافی ده نو چه هغه معلوم شوه نو دا هو ضمیر هم معلوم شو نو دا دپاره د دي حکم کافی دے نو حکم بالمعلوم دے نه په مجهول باندي و ثانیا او دویم کرته دا مستثنی حاصل ده د تعریف د متصل او منقطع نه چه هر کله د هغی تعریفات اوشول نو په طریقه د تفطن سره ترینه یو مفهوم مشترك حاصل شو چه المذکور بعد الخ دے نو بیا هم حکم بالمجهول نه راخی و لهذا او دپاره د دي مصنف تعریف هم اونکړو روما دپاره د طلب د

اختصار منصوب شارح وجوبا نواوے دفع د اعتراض ده چه روستو ته کوم قس بیانوی ویجوز فيه النصب و يختار البدل سره نو دا حکم خو هلته هم دے نو تقابل صحيح نه دے.

جواب: دلته وجوبا دے او هلته جوازا دے نو چرته چه مستثنی منصوب وی وجوبا نو دا ټول پنځه مواضع دي يو داچه مستثنی واقع وی بعد د الا نه په کلام موجب کښ او مستثنی منه مذکور وی نو منصوب به وی دویم چه مستثنی منقطع وی دریم چه مستثنی په مستثنی منه باندې مقدم وی څلورم چه مستثنی بعد د خلا او عدا نه وی په اکثر استعمالاتو کښ پنځم داچه مستثنی بعد د ما خلا او ما عدا نه وی نو په دې کښ د مستثنی نصب واجب دے.

اذ كان بعد الا دا بعد ظرف دے نو دې لره يو متعلق وی او دويم اعراب نو دا ورله شارح متعين کوی چه واقعا ورله متعلق دے او دا خبر دے د کان لا بعد غير وسوی دا د الا قيد فائده ده چه بيا به دا مجرور وی. غير الصفة دا احتراز د الا صفتی نه دے قيد به غرض د شارح په دې سره اشاره کول دي اعتراض ته او لئلا يذهل سره اشاره ده جواب ته .

اعتراض دادے چه هغه مستثنی چه واقع وی پس د الا صفتی نه نو هغی ته د دوی په اصطلاح کښ مستثنی نه وائی بلکه صفة ورته وائی دپاره د ما قبل نو د الا نه روستو دا قيد د غير الصفة مستدرك دے.

جواب: لئلا چه څوك غافل نه شی څکه دا کتاب دپاره د مبتدئينودے ق کلام دا دويم قيد دے .

سوال: کلام موجب څه دے؟

جواب: ای ليس بنفی له دا کلام موجب دے سوال دا نفی او نهی خو زمونږ ذهن قبلوی چه ايجاب پکښ نشته دے خو په دې استفهام کښ څنګه خبره ده؟

جواب: استفهام متضمن دے نفی لره نو ايجاب پکښ نشته دے مثال جامع جاءنی القوم الا زيدا دلته دا زيدا مستثنی ده او بعد د الا نه په کلام موجب کښ واقع ده او مستثنی منه هم مذکور ده نو دا زيدا به منصوب وی وجوبا .

سوال: چه هر کله استثناء بعد د الا نه واقع شي او کلام موجب وي او مستثنی منه مذکور وي نو نصب ولې واجب دے؟

جواب: نصب ځکه واجب دے چه مخل د نصب سره بدلیة دے او دلته بدلیة نه دے صحیح ځکه د بدل دپاره یو قانون دے چه ادا بدل په حکم د تکرار د عامل د مبدل منه کښ وي نو چه په دې قانون عمل کیږي نو معنی مراد خرابیګی او چه معنی مراد حاصلیږي نو د بدل په قانون عمل نه راځي نو بدل نه دے صحیح بیا هغه نقصان په معنی مراد کښ داسې دے چه د بدل په قانون عمل اوشي نو عبارت به شي چه جاءنی القوم الا جاءنی زیدا او دا خو بداهة ناروا ده په خلاف دهغې مستثنی چه هلته کلام موجب کښ نه وي بلکه کلام غیر موجب وي نو هلته بیا صحیح ده و سیاق تفصیله او دا وجه هم کیدلے شي چه که ادا بدل وي نو بدل په ځلور قسمه دے او دلته یو هم ندے صحیح په دې شان سره چه بدل کل ځکه صحیح ندے چه کل کښ مفهوم د بدل او مبدل منه یو وي او دلته د قوم او زید مفهوم او نه دے او بدل بعض ځکه چه هغې کښ علاقه د کلیة او جزئیة وي او دلته دا زید د قوم جزء نه دے بلکه جزی دے او بدن اشتمال هم نه دے صحیح ځکه هلته بدل او مبدل من کښ علاقه د اشتمال وي او دلته په درمیان د قوم او د زید کښ علاقه د اشتمال نشته او بدل غلط هم ندے صحیح ځکه ادا مستثنی ه کلام د فصحاء کښ راځي او بدل غلط کلام د فصحاء نه دے.

سوال: توابع خو پنځه دي نو چه بدل ندے صحیح نو بل تابع دې شي کنه؟

جواب: هغه نور ځلور نه شي کیدلے په دې شان سره چه تاکید دوه قسمه دے یو لفظي چه په تکرار د لفظ اول سره وي او دلته خو تکرار نشته او دویم تاکید معنوی دے چه ورله الفاظ مخصوصه دي چه هغه هم دلته نشته دے او نعت هم ندے صحیح ځکه هغه اصل کښ خبر د منعوت وي او دلته منعوت نشته دے ځکه القوم زید وئیل ناروا دي او عطف بیان خو دپاره د توضیح د متبوع وي نو قوم کښ څه ابهام نشته دے چه زید ورله وضاحة اوکړي او عطف بالحرف خو په حرف عطف وي او دا دلته نشته دے و احترز به د دې قید فائده ده ولا حاجة ههنا غرض د شارح په دې عبارت دفع د سوال ده چه پکار ده چه ماتن یو بل قید دپاره د وجوب د نصب لګولی وي هغه داچه وئیلی ئے وي چه ادا کلام به تام وي د دې دپاره چه قرات الا یوم کذا خارج وي ځکه دلته دایوم منصوب دے او کلام موجب دے او الا نه بعد هم دے او خوګ ورته منصوب بناء بر استثناء نه وائي بلکه منصوب بناء بر

ظرفية ورته وائي نو دپاره د اخراج د دې ترکيب قيد د تاما پکار وو. ځکه دا کلام تام نه دے مستثنی منه پکښ نه ده ذکر۔

جواب: چه دې قيد ته ضرورت نشته اګرچه زمونږ کلام خو په مستثنی کښې دے چه دا تام وی خو دې چه د وجود د نصب خبره کوی نو مطلق وائی چه که دا نصب بناء بر استثناء وی يا بناء بر ظرفية نو دې قيد ته حاجة رانغی او بيا دا کلام ځکه تام ندے چه پکښې مستثنی منه مذکور نه ده.

سوال: تا سره څه دليل دے چه وائي چه زما کلام په مستثنی کښې په کون د دې کښې دے منصوب مطلقا؟

جواب: بدليل قوله او کان بعد خلا و عدا دا قول پرې دليل دے ځکه د دې نه بعد چه مستثنی منصوب وی نو دا بناء بر استثناء نه بلکه دا بناء بر مفعول به نو معلوم شوه چه نصب مطلقا دے الا ان يقال دا اعتراض دے چه صحيح ده قرات الايوم کذا کښې ضرورت نشته دے خو قرئ الا يوم کذا کښې حاجة شته دے ځکه يوم مرفوع دے نه منصوب .

جواب: من الخارج چه حاجة نشته دے ځکه دلته مستثنی مفرغ ده او د دې تفصيل راروان دے نو دلته خارج ده.

سوال: عامل په مستثنی کښې څه شئ دے؟

جواب: دې کښې اختلاف دے غالبا شپږ مذاهب دې پکښې خو مختاره عند الشارح مذهب د بصريانو دے نو ځکه وائي چه و العامل چه عامل پکښې فعل متقدم دے يا معنی دهغی خو په توسط د الا سره لانه شئ سره علت د عمل بيانوی چه د دې د فعل سره يا معنی د فعل سره تعلق معنوی دے نو عمل د نصب پکښې کوی.

سوال: تعلق معنوی څنګه راغلی دے.

جواب: اذله نسبة الی ما نسب چه دې لره نسبة دے چه نسبة د دې پوته شوی وی چه فعل او معنی د فعل ده.لکه جاءنی القوم الا زيدا جاء نسبة قوم ته شوی دے او د زيد نسبة هم قوم ته شوی دے په دې شان که مستثنی متصل وی نو دا زيد په قوم کښې داخل دے او که منقطع وی نو يا به دهغی د جنس له وی نو بيا تعلق دے او که د جنس نه نه وی نو بيا

ورسره هم انضمام او تعلق دے نو د دي مستثنى نسبة اوشو هغه ځيز ته چه د فعل او معنى د فعل نسبة هغه ته شوی وو نو دغه شئ چه د فعل او د معنى د فعل نه روستو ذکر دے نو په منزله د فاعل شو چه مستثنى منه ده او داپه منزله د مفعول چه مستثنى ده نو چه داپه منزله د مفعول شو نو مفعول منصوب وی نو دا به هم منصوب وی او مقدما دا دويم مقام بيانوی د هغه مقاماتو نه چه نصب پکښ واجب دے فقال او مقدما چه مستثنى په مستثنى منه باندې مقدم وی نو مستثنى به منصوب وی عطف دا ربط بيانوی او ای المستثنى حاصل د معنى بيانوی مثال جاءنى القوم الخ دا مثال د کلام موجب دے او ماجاءنى الخ دا د کلام غير موجب دے.

سوال: دلته نصب ولى واجب دے؟

جواب: محل د نصب سره بدلية دے او دلته بدلية نه دے صحيح ځکه که دا مستثنى بدل شى نو داخو په مستثنى منه باندې مقدم ده نو بيا به لازم شى تقديم د بدل په مبدل منه باندې او دانارو‌ا دے او منقطعا دا دريم مقام دے چه پکښ نصب واجب دے او دې ته مستثنى منقطع وائى مثال ورله شارح بيانوی چه ما فى الدار احدا الا حمارا فى الاکثر دا خو يا ظرف دے دپاره د منصوب مقدر او يا دا متعلق دے کائنا مقدر پورې بيا الاکثر کښ الف"لام"عوض دے د مضاف اليه نه او يا الف"لام"عهدی دے نو معهود اکثر اللغات دے کما قال الشارح بيا الاکثر شو .

سوال: د اکثر نه ستا مراد لغة د اهل حجاز دے نو دا خو يودے نو لغات وئيل صحيح نه دي او اهل لغة هم دوه دي يو اهل حجاز او دويم بنو تميم نو لفظ د اکثر راوړل هم صحيح نه دي نو دوه محظوره راغلى دى.

جواب: دا ډير قبائل دي نو تعبير په اکثر اللغات سره صحيح دے او فى اکثر مذاهب النحاة داپه دي کښ دويمه توجيه کوی چه الف"لام"عوض د مذاهب النحاة نه دے و المنقطع مطلقا مطلقا معنى داچه د مستثنى منه د جنس نه وی او يا نه نو دا د دوی په نزد منصوب به ځکه چه محل د نصب سره بدلية دے او داپه څلور اقسام دے يو هم نه دے صحيح مگر بدل غلط او دا خو په کلام د فصحاء کښ نه وی بطريق الروية و الفطانة په طريقه د فکر او زير کتيا سره. و اما بنو تميم دا د اکثر قيد فائده نو دا بنو تميم تقسيم کوی چه مستثنى منقطع دوه قسمه ده يو هغه چه مستثنى منه حذف شى او مستثنى دهغى قائم مقام شى نو دي

صورت کښې نصب نه دے واجب ځکه بدلية صحيح کيږی په دې شان سره چه مبدل منه په حکم د تنحية کښې وی نو دهغی حذف او ذکر برابر دے ځکه مستثنی دهغی په مقام قائم کيږی نو دابه بدل الغلط شی او دويم قسم هغه ده چه مستثنی منه حذف شی نو مستثنی دهغی قائم مقام نشی کيدلے نو دلته بيا نصب واجب دے لکه جاءنی القوم الا حمارا شو دلته که دا قوم حذف شی نو حمار دهغی قائم مقام گرځی چه جاءنی احمار به شی نو دې کښې نصب واجب نه دے او په لا عاصم اليوم من امر الله الا من رحم دلته دا لا عاصم مستثنی منه ده اومن رحمْ مستثنی ده نو دلته دا عاصم نشی حذف کيدلے چه من رحم د هغی قائم مقام شی ځکه عاصم الله دے او من رحم معصوم دے او معصوم د عاصم په مقام نه قائميږی نو دلته نصب واجب دے.

ای من رحمة الله غرض د شارح په دې عبارت سره عائد بيانوی په صله کښې ځکه من موصول دے او رحم ورله صله ده او صله کښې لا بدی وی د عائد نه نو عائد پکښې نه وو نو شارح ورله دا ذکر کړو.

بيا په دې کښې نور تراکيب هم شته دے منها(۱) چه اسم فاعل په معنی د اسم مفعول سره شی چه لا معصوم اليوم من امر الله الخ نو بيا د اول نه گرځی منها(۲) چه د من رحم نه مراد عاصم شی چه لا عاصم اليوم من امر الله الا من رحم ای العاصم نو دې کښې هم د اول قسم نه گرځی خو چه داپه خپله معنی وی نو بيا دويم قسم دے

او کان بعد خلا و عدا فی الاکثر هر کله چه فارغ شو مصنف د دريو مقاماتو نه چه مستثنی پکښې منصوب وی وجوبا نو په څلورم مقام کښې ئی شروع اوکړه چه هلته هم نصب د مستثنی واجب دے فقال او کان بعد خلا و عدا يعنی چه کله مستثنی واقع شی پس د خلا او عدا نه نو هم به منصوب وی وجوبا.

شارح وائی المستثنی منصوب ايضا دا د ما قبل سره ربط بيانوی چه دا او کان بعد الخ عطف دے په کلام موجب بانديې او ما قبل د معطوف الخ نو ما قبل هو منصوب وو نو شارح دا رامعلوم کړو او هو ضمير مستثنی ته راجع دے بيا دا ځکه منصوب وی چه دا عدا يعدو د جاوز نه دے او دا متعدی فعل دے نو ما بعد چه کوم مستثنی وی نو دا مفعول وی او مفعول خو منصوب وی ځکه شارح من عدا يعدو وائی او خلا هم د خلا يخلو نه دے نو دلته به هم مستثنی منصوب وی .

سوال: د عدا يعدو نه روستو چه څه واقع شی نو دابه منصوب وی ځکه دا متعدی فعل دے خو په خلا يخلو کښ دانه منم چه دې نه بعد چه څه واقع وی نو دابه منصوب وی ځکه دا فعل لازم دے نه متعدی .

جواب: شارح کوی (۱) دا خلا يخلوا متضمن دے معنی د جاوز لره او جاوز متعدی دے نو داهم متعدی شو. (۲) دا عدا يعدو اصل کښ لازم دے خو دا متعدی گرځی په من سره لکه خلت الديار من الانيس بيا دلته هم داسی وو خو بيا موږ دا من حذف کړو او د فعل ايصال مو دې مجرور سره بلا واسطه اوکړو او منصوب موکړو نو دا د قبيلی د حذف و الايصال نه شو د حذف و الايصال معنی هم داده چه يو فعل اصل کښ لازم وی او بيا په يو حرف جر سره متعدی شی او بيا دا حرف جر فقط حذف شی او دا فعل يو ځائے شی د دې مفعول سره بلا واسطه باقی ترجمه ده.

و التزموا غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه ته وائی دا خلا متضمن دے معنی د جاوز لره او يا دا متعدی دے په من سره نو دا زه نه منم ځکه که چرته دا متضمن وی معنی د جاوز لره او يا متعدی وی په من سره نو بيا به د متضمن او د دې من اظهار چرته شوی وی کنه حالانکه په باب د استثناء کښ چرته هم جاوز او من نه دے ښکاره شوی نو قانون خو دادے چه متضمن او حرف جر کله کله ښکاره کيږی او دلته نه نو د جواب حاصل دادے چه او قانون خو په تضمين او په حذف والايصال کښ هم دادے چه دغه متضمن او دا حرف جر کله کله ښکاره کيږی خو دوی دلته دا حذف په دې باب کښ لازم کړی دے نو ځکه نه ښکاره کيږی.

سوال: داولی؟

جواب: ليکون ما بعدها الخ حاصل دادے چه اصل په باب د استثناء کښ هغه الا ده نور ذات د استثناء اصل نه دې نو چه کوم شئ په يو باب کښ اصل وی نو د هغی نه مخالفة کول خو ناروا وی نو د الا نه روستو چه کومه مستثنی ذکر ده نو داپه حرف جر سره نه وی ذکر يا په اظهار د متضمن سره نه وی ذکر نو دې مقام کښ به هم حذف واجب وی چه دهغی سره موافقة راشی او د مخالفة ارتکاب اونشی دهغه مستثنی نه چه د اصل نه بعد واقع وی چه الا ده اما دا خبره چه مستثنی په الا سره ولی اصل ده؟

نو دا څکه چه د الا دپاره د استثناء راځي اصلا او دانور ادات دپاره د نورو اشياء هم راځي مثلا غير شو دپاره د مغائرة سوی دپاره د ظرفية ، عدا دپاره د مجاوزة خلا دپاره د خلو او ليس دپاره د نفي .

سوال: چه دانور ادات په نورو معانيو راځي نو دلته بيا ولې اوستعماليږی؟

جواب: د وجه د مناسبة نه په اخراج د ما بعد کښ په تولو کښ اخراج دما بعد وی يعنی الا نه بعد هم مخرج وی او د دې نورو اداتو نه روستو هم مخرج وی.

سوال: هر کله چه خلا او عدا افعال شو نو دپاره د فعل لا بدی وی د فاعل نه نو دپاره د خلا او عدا فاعل ظاهر وائی او که ضمير اسم ظاهر خو نشته دے او که ضمير شی نو مرجع څه دی؟

که قوم مرجع شی نو مطابقة بين الراجع والمرجع نشته دے او که قوم ته راجع نشی او ضمير وی نو ضمير بلا مرجع راځي چه داهم ناروا دے.

جواب: شارح کوی چه و فاعلهما چه فاعل ورله ضمير وايم او مرجع ورله هم وايم او قوم ورله مرجع نه وايم بلکه دری احتمالات دي پکښ (۱) يا خو مصدر د فعل متقدم ته راجع دے (۲) يا اسم فاعل د فعل متقدم ته راجع دے (۳)يا بعض مطلق د مستثنى منه ته راجع دے شارح هم دا خيره کوی خو په عزئ کښ او مصدر بانديې دا فعل دلالة کوی په تضمنى طريقه سره څکه فعل کل دے او مصدر ورله جزء دے او فعل په اسم فاعل هم دلالت کوی څکه فعل سره خپل صاحب وی او بعض مطلق د مستثنى منه بانديې دا مستثنى منه دلالة کوی په طريقه د دلالة د کل په جزء بانديې او يا د قبيلې د اشتمال د کل نه په جزء بانديې ولی کل قوم په خپلو ابعاضو بانديې مشتمل دے بيا تقدير د عبارت دهر واحد په دي شان سره دے چه جاءنی القوم عدا، خلا مجيئهم زيدا چه راغئ ماته قوم په داسی حال کښ چه خالی وو راتلل د دوی د زيد نه او يا جاءنی القوم خلا، عدا الجائی منهم زيدا چه راغئ ماته قوم په داسی حال کښ چه علاوه او خالی وو راتلونکی د دوی د زيد نه يا جاءنی القوم عدا، خلا بعض منهم زيدا چه راغئ ماته قوم په داسی حال کښ چه علاوه او خالی وو بعض د قوم د زيد نه.

سوال: بيا د دي جملی دپاره اعراب څه دے چه دا فعل فاعل او مفعول جمله شوه.

جواب: فی محل النصب.

سوال: علث د نصب څه دے؟

جواب: على الحالية.

سوال: دا خلا او عدا ما ضی دي او کله چه ماضی حال واقع شی نو لا بدی وی پکښ د قد نه دلته قد نشته دے.

جواب: ولم يظهر چه قد عام دے که ظاهر وی یا مقدر نو دلته مقدر دے.

سوال: دا ولی نه ظاهره وی؟

جواب: ليكون اشبه چه ډير مشابه شی د مستثنی بالا سره نو هلته هم قد نه وی نو دلته به هم مقدر وی فی الاکثر دا فی الاکثر جار مجرور تعلق ساق د هغه منصوب سره چه په لحاظ کښ دے یا د کائن مقدر سره. اکثر استعمالات اشاره کوی چه الاکثر کښ الف"لام"عوض د مضاف اليه نه دے چه استعمالات دے.

و قد اجيز الجر دا د الاكثر قيد فائده بیانوی چه جر پکښ هم جائز دے په دې اعتبار چه دا حروف جاره شي و سياق فی حصة المبنی .

سوال: د خان نه لگیانی.

جواب: قال السيراق زما څه کار دے سیراق وئیلی دي نو قول د سیراق دپاره د تائید د خپل قول کوی.

وما خلا وما عدا کله چه فارغ شو مصنف د څلورو مقاماتو هغه نه چه پکښ نصب د مستثنی واجب دے نو شروع ئی اوکړه په پنځم مقام باندې چه دلته هم د مستثنی نصب واجب دے فقال وما خلا وما عدا.

نو هر کله چه مستثنی بعد دما خلا او ما عدا او ليس لا يكون نه وی نو منصوب به وی شارح ربط بیانوی چه ای المستثنی د......ايضا نووی دما خلا او ما عدا په خلا او عدا باندې عطف دي او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وی په معطوف کښ نو څکه ای المستثنی الخ وائی.

سوال: دا ولی منصوب وی؟

جواب: لان ما فیها مصدرية چه ما مصدریه ده چه په افعال داخل ده نو دا خلا او عدا افعال دي او افعال ما بعد ته نصب ورکوی بناء بر مفعول بیا شارح خلو زید و عدو زید سره دا خبره بیانوی چه دا ما مصدریه ده ما بعد په تاویل د مصدر سره مفرد گرځوی نو تقدیر د عبارت به داسی وی چه خلو زید الخ .

سوال: بیا د مصدر دپاره اعراب محلی څه دے؟

جواب: بالنصب علی الظرفية .

سوال: ظرف یا زمان یا مکان وی دایو نه دے.

جواب: بتقدیر مضاف په تقدیر د مضاف چه وقت دے او دا څکه چه تقدیر د اوقاتو او ازمانو د مصادرو نه مخکښ کثیر شائع وی.

سوال: دې لره فاعل څه دے؟

جواب: دلته هم هغه دری احتمالات دې کوم چه تیر شوی دی. نو دا وقت خلوهم د هغه مثال دے چه ارجاع د ضمیر بعض مطلق ته شوی وی او یا اسم فاعل ته او مجیئهم هغه مثال دے چه ارجاع د ضمیر مصدر ته شوی وی. و وقت مجازتهم او مجاوزة مجیئهم عمروا دا معنی د عدا کوی دا پکښ یو احتمال دے چه دا منصوب شو بناء بر ظرفية دویم احتمال په روستو راځی.

سوال: په خلا او عدا کښ د فاعل دپاره دری احتمالات وو او دلته شارح دوه ذکر کړل یو وقت خلوهم دویم وقت خلو مجیئهم .

جواب: په وقت خلوهم کښ دوه احتمالات دې یو خوداچه ارجاع د ضمیر بعض مطلق ته اوشی او یا مصدر ته او علی الحالية دا دویم احتمال بیانوی چه دا منصوب بناء بر حال وایو.

سوال: دا ما خلا او ما عدا چه په تاویل د مصدر سره وه نو حال حمل وی په ذو الحال باندې او دلته حمل د وصف راغئ په ذات باندې چه قوم دے او دانارو دے.

جواب: یجعل المصدر بمعنی اسم الفاعل نو حمل صحیح دے.

و عن الاخفش غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره ده اعتراض ته او و لعل هذا سره اشاره ده جواب ته اعتراض دادے چه اخفش وائی چه ما بعد د ما عدا او ما خلا کښې جر هم جائز دے داما په زائده شی او خلا او عدا حروف جار ه دي نو اے مصنفه په دې کښې اختلاف دے نو تا په دلته هم قيد د في الاكثر وئيلي وی لکه چه په ما قبل کښې دې وئيلي دے .

جواب: شايد چه دا د مصنف په نزد ثابت نه وی او يا ثابت دے خو غير معتبر دے نو دا قيد ئې پرېښودلے دے.

بيا ماتن و ليس ولا يکون وئيلي دي شارح ورسره کذا اولګؤ اشاره ده ربط ته چه دا عطف دے په خلا و عدا باندې او دا عطف د قبيلې د مشبه نه دے په مشبه به باندې نه د قبيلې د مساوی نه په مساوی باندې څکه کذائے اوی.

سوال: د ليس لا يکون نه بعد مستثنى ولې منصوب ده موجوبا .

جواب: و انما يکون النصب حاصل دادے چه دا افعال ناقصه دي نو دا ما بعد په منزله د خبر شو د دې دپاره او خبر د دې منصوب وی نو داهم منصوب شو.

سوال: د دې ليس او لا يکون دپاره اسم څه دے؟

جواب: و يلزم اضمارا سميهما اسم ورله ضمير دے چه په دې کښې دے خوځ دومره خبره ده چه دغه اضمار به پکښې لازم وی او وجه د لزوم مونږ اوی چه خلاف د اصل نه رائشی نو که اسم ظاهر شی نو بيا دا اصل سره مشابهة ختميږی او مخالفة راځی.

سوال: د دغه ضمير مرجع څه ده؟

جواب: د دې دپاره مرجع دوه دي چه ياذا ضمير راجع دے اسم فاعل د فعل مذکور ته او يا خو بعض مطلق د مستثنى منه ته راجع دے شارح هم دا وائی چه راجع الى اسم الفاعل .

سوال: دلته دې مصدر ولې ذکر نه کړو لکه چه ما قبل کښې دې ذکر کړی وو.

جواب: داسې نشو کولی څکه که مونږ اسم مصدر اوګرځو نو خبر دلا يکون او ليس محمول وی په دې اسم باندې نو بيا حمل د ذات په وصف راځی او داخو ناروا ده څکه معنى فاسديږی.

سوال: د ليس، لا يکون اعراب څه دے؟

جواب: داپه محل د نصب کښ دی.

سوال: علت څه دے؟

جواب: على الحالية اوس معنى داسى ده چه راغئ ماته قوم په داسى حال کښ چه نه وو دغه راتلونکى د قوم زيد يا راغئ ماته قوم په داسى حال کښ چه نه وو هغه بعض راتلونکى د قوم زيد.

و اعلم انه لا تستعمل غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په يقظة د مقام باندې دويم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په خصوصة د دې افعالو باندې دريم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په جواب ديو سوال چه دې افعالو کښ د استعمال په اعتبار سره څه حکم دے داپه کوم قسم مستثنى کښ استعماليږى او تصرف پکښ جائز دے کنه؟

نو شارح جواب کوی چه دا افعال په مستثنى متصل کښ استعماليږى او بيا غير مفرغ او تصرف پکښ ناروا دے په مستثنى متصل کښ ځکه چه د دې افعالو د مستثنى منه سره يو خاص تعلق وى نو چه دا دهغى د جنس نه وى او يا پکښ هسى داخل وى او په منقطع کښ دا تعلق ختميږى او بيا مفرغ به نه وى يعنى مستثنى منه به مذکور وى ځکه دې کښ ضمير راجع دے مستثنى من ته نو چه مستثنى منه ذکر نه وى نو لازميږى اضمار قبل الذکر او دا ناروا دے او دې کښ به تصرف هم نه کيږى يعنى خلا مثلا ماضى ده نو ماضى به وى. دغه شان دانور افعال هم او دا ځکه چه دا قائم مقام د الا استثنائيه دې او په هغې کښ تصرف نه کيږى نو دلته به هم تصرف نه کيږى.

و يجوز فيه النصب و يختار البدل هر کله چه فارغ شو د تفصيل ديو قسم د مستثنى نه باعتبار الاعراب چه هغه منصوب وه وجوبا نو اوس ئى شروع اوکړه په دويم قسم د مستثنى کښ باعتبار الاعراب چه هغه جواز النصب مع اختيار البدل دے فقال و يجوز النصب و يختار البدل بيا ماتن به د دې د مواضع تعين اوکړى فيه اى فى المستثنى دا شو تعين د ضمير د مرجع.

سوال: بدلية کښ خو هم نصب راځى نو تقابل د اختيار البدل ورسره نه دے صحيح.

جواب: على الاستثناء دلته نصب بناء بر استثناء دے او بدل کښ نصب بناء بر بدلية وى و يختار البدل چه دا مستثنى بدل شى د مستثنى منه نه نو دابه د هغى په اعراب باندې معرب

هم وى يعنى كه ما قبل د الا مرفوع وى نو ما بعد به هم مرفوع وى دغه شان منصوب او مجرور هم بناء بر بدلية فيما بعد الا ق كلام غير موجب و ذكر المستثنى منه دايو مقام شو چه پكښ درى شرائط دي يو داچه مستثنى به د الا نه بعد واقع وى دويم په كلام غير موجب كښ دريم مستثنى منه به مذكور وى يعنى دابه غير مفرغ وى نو هر كله چه په داسى انداز باندي مستثنى راشى نو تالره اختيار دے كه دا منصوب والى بناء بر استثناء اوبائى معرب اوايه بناء بر بدلية بيا دا فيما بعد الا ماتن اوى نو شارح دا تعيين كوى چه دابه تركيب كښ حال دے من الضمير المجرور او دفع د اعتراض هم او شوه هغه داچه دا قسم د مستثنى چه جواز د نصب او اختيار البدل دے پكښ دابه يو محل كښ واقع كيږى لكه ما فعلوه الا قليل شو نو دا قليل او قليلاً دواړه جائز دي نو چه كله دايو محل شو نو بيا عبارت داسى بكار وو چه و يختار البدل فيما بعد الا دا ويجوز فيه النصب ذكر كولو ته پكښ حاجة نه وو ځكه دے كښى دا فيه ظرف يو موضع او يو محل گرزى او دا فيما دويم موضع او محل گرزى حالانكه دا خو يو محل دے دوه نه دي ځكه خو بعض شارحين واتى دا قول د ماتن صحيح نه دے بلكه دا يجوز فيه النصب مستدرك دے . جواب (١) دابه بعض نسخ كښ نشته دے. (٢) دا فيما بدل دے د ما قبل فيه نه نو بيا هم څه مسئله نشته دے (هندى) (٣) شارح جامى واتى حال من الضمير المجرور چه دا په اعتبار د متعلق سره حال دے د ضمير مجرور نه بيا هغه ضمير مجرور چه فيه دے دا ذو الحال دے او هغه متعلق ورله واقعا دے چه جار مجرور چه حال واقع كيږى نو په اعتبار د متعلق واقع كيږى .

سوال: دا فيما په اعتبار د متعلق حال شو نو دي متعلق كښ ضمير مستثنى ته راجع دے نو معنى به شى چه جائز دے په مستثنى كښ نصب او مختار دے بدل په حال د كون د مستثنى كښ چه واقع وى دابه هغه مستثنى كښ پس د الا نه نو دا خو ظرفية د شئ لنفسه لازم شو.

جواب: ق محل حاصل دادے چه دا اعتراض به هله وى چه دا ما په فيما كښ عبارت د مستثنى نه وى حالانكه داد محل نه عبارت دے يكون متاخرا داتى تعبير د بعد نه اوكړو په متاخر سره ځكه محكښ يكون دے دا خبر غواړى يا دا يكون دپاره د بعد د متعلق دے او د بعد نه په متاخر سره تعبير كوى ځكه دا بعد په معنى د متاخر مره كله كله راځى (باسولى)

اما دا خبره چه د شارح كوم جواب اوكړو د ق محل سره نو ايا دا جواب صحيح دے كنه نو په دي كښ په درميان د شارح د تلاميذوكښي اختلاف شته دے.

احتراز عما دا د دې قید د بعد الا فائده ده. فی کلام غیر موجب دا دویم شرط دے او پ احتراز سره د دې قید فائده ده و ذکر المستثنی منه دا دریم شرط دے بیا شارح دلته و الحال اوی نو دا دفع د سوال ده هغه داچه دلته دا"واو" راغلی دے نو دابه عاطفه وی نو معطوف علیه نشته دے نو شارح اوی دا دپاره د عطف نه دے بلکه دا"واو" حالیه دے.

سؤال: دا"واو" چه حالیه دے نو دا ذکر الخ به حال وی او دا خو جمله فعلیه ما ضیه ده نو جمله فعلیه ماضیه چه حال واقع شی نو هلته لا بدی وی د قد نه دلته خو نشته دے .

شارح جواب کوی چه و الحاصل انه قد حاصل دادے چه او قانون هم دا دے چه ماضی حال واقع شی نو لا بدی ده پکښ د قد نه خو دا قد عام دے که ملفوظ وی او که مقدر خو دلته مقدر دے بیا شارح د قد نه مخکښ انه راوباسو په دې کښ اشاره ده دې خبری ته چه کله جمله فعلیه حال واقع شی او دهغی نه تعبیر په الحال سره اوشی نو دابه دې مقام کښ په تقدیر د ان سره وی داسی ان چه اسم دهغی به ضمیر الشان وی او معنی به ئی داوی چه او حال دادے چه یقینا شان دا دے چه ذکر شوی به وی مستثنی منه احتراز سره د دې قید فائده ده و فی بعض النسخ غرض د شارح دویمه نسخ ده چه دا جواب دے دهغه سوال نه چه په"واو" باندې وو حاصل دادے چه په بعض نسخ کښ دا"واو" نشته دے نو دا ذکر المستثنی منه بیا دپاره د غیر موجب صفة دے.

سوال: پکار ده چه ماتن دوه شرطه نور هم بیان کړی وی دپاره د دې قسم د مستثنی یو دا چه دا مستثنی منقطع نه وی دویم دا چه دا مستثنی په مستثنی منه باندې مقدم نه وی.

جواب: ولم یشترط ان لا یکون منقطعا چه دائی په خپل عادت پرشودلے دے څکه عادت د ماتن جاری دے په دې خبره باندې چه کله اکتفاء کوی د سابق نه په لاحق او کله عکس کوی دلته اکتفاء کوی د لاحق نه په سابق باندې نو دهغی حکم مخکښ معلوم شوی دے. مثال ما فعلوه الا قلیل رفع په اعتبار د بدلیة ده او نصب په اعتبار د استثناء .

سوال: نو تاخو د رفع دپاره مثال پیش کړو په بدل کښ او د نصب او جر دپاره دې امثله بیان نه کړل چه بدل منصوب او مجرور وی.

جواب: شارح وائی چه ما ذکر کړی دې کنه او ماتن ترک کړی من اجل الاختصار.و انما اختاروا البدل غرض د شارح په دې عبارت سره دلیل ذکر کول دې دپاره د اختیار د بدلیة په دې مقام

کښې نو دلیل حاصل دا دے چه دا مستثنی په دې مقام کښې منصوب ده دوجې د مشابهة نه چه دا د مفعول به سره مشابه ده نو ځکه منصوب ده او بل داچه په واسطه د الا سره هم ده او چه بدل شي نو مشابهة پکښې نشته دے بلکه بدل تابع د مبدل منه وي په اعراب کښې او واسطه د الا پکښې هم نشته دے نو بدل اصل شو او استثناء خلاف الاصل شو او اعراب بالاصالة اولی وي د اعراب بدون الاصالة نه نو بدل ځکه مختاره شو. دې مقام کښې دوه سوالات دي يو داچه تاسو بدل ته اصل اوی حالانکه هغه تابع وي نو دې نه جواب دادے چه بدل اصل دے خو په اعتبار د قصد د متکلم سره ځکه مبدل منه توطیه او تمهید وي اصل بدل وي او تابع خو په اعتبار د اعراب سره دے چه دانه دے مراد بلکه اصالة د بدل په جدا اعتبار دے او تابعیة د بدل په جدا اعتبار سره دے نو د بدل تابع کیدل څه نقصان نه کوي په اصالة د بدل کښې دویم اشکال دادے چه د بدل دپاره يو قانون دے نو دلته به په هغې باندې یا عمل کوي او یا نه که په قانون د بدل عمل کوي نو فساد فی المعنی راځي ځکه چه قانون د بدل دادے چه داپه حکم د تکرار د عامل د مبدل منه کښې وي نو چه دلته تکرار د عامل اوشي نو معنی به شي چه ما فعلوه الا ما فعل قلیل چه ندے کړے دې کار لره دوی مګر نه دے کړے دې لره لږو نو دا معنی فاسد ده اوکه تکرار د عامل نه شي نو بدل به څنګه شي..

جواب: دا بدل وایم او په قانون د بدل عمل هم کوم نو تکرار د عامل کوو خو د اصل عامل تکرار کوو نو اصل فعلوا دے او ما عارض دے نو دې لره اعتبار نشته نو ما فعلوه الا قعل قلیل شو چه صحیح معنی ولګوي. او که نه منځ نو معنی اوکړه و یعرب کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل د دوه ؤ اقسامو د مستثنی نه باعتبار الاعراب نو په دریم قسم باندې شروع اوکړه چه اعراب بحسب العوامل دے پکښې فقال و یعرب شارح د یعرب د ضمیر مرجع متعین کوي او د حسب معنی کوي چه داپه معنی د اقتضاء دے ځکه داپه معنی د اندازه او قدر راځي او دا معنی خو دلته نده صحیح.

سوال: عوامل جمع ده نو ولې دری به وی؟

جواب: العامل الف"لام"چه په جمع داخل شي نو جمعیة ورله باطلوي نو جنس عامل مراد دے من الرفع دا هغه مقتضی بیانوي اذا کان دا د دې موضع بیانوي بیا يو شرط ورله دا شو چه مستثنی منه غیر مذکور وي او شارح وائي چه مستثنی منه مذکور نه وي نو ورته مفرغ وائي سوال دا ولې؟

جواب: لانه فرغ ځکه دا مستثنی چه ده نو د مستثنی منه عامل ورته فارغ شوی دے .

سوال: نو مفرغ صیغه د اسم مفعول ده په معنی د فارغ کړے شوی او هغه خو عامل دے نه مستثنی.

جواب: فالمراد بالمفرغ یعنی مفرغ له دے خو له حذف دے نو دا د قبیلی د حذف و الایصال نه دے.

سوال: داسی بل ځائی شته دے؟

جواب: او شته دے لکه مشترك کښ دے دا اصل کښ مشترك فیه دے خو د کثرة استعمال د وجی نه بیا مشترك شو نو دلته هم داسی دے وهو فی غیر موجب دا دویم شرط دے چه دا مستثنی د کلام غیر موجب کښ وی.

سوال: دا"واو" څه دے عاطفه ندے صحیح ځکه معطوف علیه نشته دے.

جواب: و الحال دا حالیه دے فی غیر الموجب جار مجرور دے نو شارح وائی دا خبر دهو دے په اعتبار د متعلق چه واقع دے بیا الموجب صفة وو موصوف ئی غوښتو نو شارح ورله الکلام راوباسو لیفید دا"لام"تعلیل دپاره دے نو شارح وائی دا دپاره د اشتراط علت دے او نه دے علت د یعرب چه واهم کوم وهم کړے دے.

سوال: په کلام موجب کښ هم فائده ورکوی لکه ضربنی الا زید چه هر چا وهلی یم علاوه د زید نه .

جواب: فائده صحیحة فائده صحیح مراد ده نه فاسده لکه دا مخکښ فائده شوه داسی نشی کیدلے چه ټول خلق د دنیا وهل اوکړی علاوه د زید نه مثل ما ضر الخ دا مثال بیانوی.

سوال: زه درته ښایم کلام موجب به نه وی او اعراب بحسب العوامل به پکښ وی لکه قرات الابوم کذا کښ دیوم دپاره دا حکم وائی.

جواب: الا ان یستقیم المعنی بیا شارح د استقامة د معنی دپاره دوه طریقی بیانوی یو بان یکون الخ مثال کل حیوان الخ تمساح نهنگ مهی دلته دي مثال کښ کلام موجب دے لیکن

فائده ورکوی ځکه دا حکم مستثنی منه لره په طریقه د عموم ثابت دے نوروستو ترینه مستثنی صحیح ده چه د تمساح استثناء موثر اوکړه.

سوال: مثال د ممثل سره موافق نه دے ځکه ممثل هغه دے چه مستثنی مفرغ وی او دلته خو مستثنی منه ذکر ده غیر مفرغ ده.

جواب: دا نظیر دے بالفاظ دیګر دا مثال د دې دے چه حکم په طریقه د عموم سره شوی وی او تکون دا دوېمه طریقه ده لکه قرات الایوم کذا شو دلته د قراة نه دا دنه چه د دنیا په تولو ورځو کښې قرات بلکه په قرینه سره تریه یو خاص زمانه مراد ده

سوال: قراة که په معنی د اراده شی نو اراده خو د تولو ایام د دنیا سره متعلق کیږی.

جواب: ای اوقات القراة اراده نه ده مراد بیا قرینه په معین پاندې داده چه یو هفته یا یو میاشت وغیره شو کما قال الشارح او دومره کښې خلق خپل قراة کوی کنه و لقائل ان یقول غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض دے یو اعتراض دادے چه د الا ان یستقیم المعنی قید د کلام مقوجب سره لګول او نه لګولو د کلام غیر موجب سره ترجیح بلا مرجح ده او دا دواړو کښې لګول پکار دې ځکه کلام غیر موجب کښې هم بعض,کښې معنی نه وی صحیح لکه ماضات الا زید شو دویم اعتراض دادے چه دا قرات الایوم کذا کښې معنی صحیح ده که تخصیص پکښې اوشی او ضربنی الا زید چه دے نو دانه دے صحیح نو چه ځنګه قرات الخ د قرینه په وجه صحیح کیږی نو دا ضربنی الخ هم صحیح کیږی چه مراد د ضارب نه بعضی معین جماعة شی.چه وهلی دې ما لره هر چا په دغه جماعت کښې مګر زید لهذا په قرات الخ کښې دا وئیل چه معنی صحیح ده د وجې د قرینه نه او ضربنی الخ کښې معنی نه ده صحیح نو داهم ترجیح بلا مرجح ده فلا فرق هیڅ فرق نشته دے نو ته فرق ولې کوی؟

و اجیب دا جواب دے چه ترجیح بلا مرجح نده بلکه ترجیح مع المرجح ده هغه داچه عام طور سره په کلام غیر موجب کښې معنی صحیح وی او فائده صحیح ورکوی او کله کله په کلام موجب کښې هم وی خو نادر نو د وجې د غلبه نه موثر قید د کلام غیر موجب سره اولګو او د کلام موجب سره مو دا قید اونه لګونو داپو دا غلبه د صحت د ترجیح دپاره مرجح شوه لان اشتراک سره د دې دپاره علت بیانوی حاصل دادے چه دا غیر موجب چه دے نو دا کثیر دے ځکه انتفاء دا افرادو تولو اکثر وی او دا موجب کم او قلیل دے ځکه اثبات د تولو افراد قلیل او کم وی نو د یو سره مو ځکه قید اولګو او د بل سره نه و بان الفرق سره د دویم اعتراض نه

جواب دے چه قرات الا یوم کذا کښ قرینه ظاهر ده نو مونږ حکم د صحة اولګو او په ضربنی الا زید کښ قرینه ظاهر نده نو هلته مونږ حکم د عدم صحة اولګونو دیو دا ظهور د قرینه مرجح دے دپاره دیو د صحة نو ترجیح بلا مرجح نه ده بلکه ترجیح مع المرجح دے په ذواړو کښ باقی ټول عبارت د شرح په نفس ترجمه سره حل کیږی.

ومن ثم وتیلی شی چه غرض د ماتن په دې سره دفع د سوال ده چه تا دا خبره اوکړه چه کلام موجب کښ استقامة د معنی غالبا دے او په غیر موجب کښ استقامة د معنی نه وی غالبا نو زه درته ښایم چه کلام غیر موجب به وی او تاسو به ورته صحیح نه وائی لکه ما زال زید الا عالما ما نافیه دے او تاسو ورته صحیح نه وائی ځکه دې معنی داده چه زید کښ هر قسم صفات شته دے علاوه د صفة د علم نه نو بعض صفات خو متضاد وی هغه به ورله څنګه ثابت شی لکه قعود، قیام شو.

جواب: دا کلام غیر موجب ندے بلکه دا کلام موجب دے ځکه نفی چه په نفی داخل شی نو بیا اثبات پیدا کوی شارح وائی ای ومن اجل د دې تفصیل مکمل تیر شوی دے و قال الشارح الرضی غرض د شارح جامی د نقل د عبارت د شارح رضی نه اعتراض نقل کول دي او بیا په لا یخفی سره جواب دے اعتراض دادے شارح رضی وائی چه ما زال زید الا عالما ترکیب ته غیر صحیح وتیل ښه نه دې ځکه دا ترکیب صحیح دے وائی ممکن چه دا ممکن ده چه زید کښ هغه صفات مراد شی چه تناقض پکښ نه وی او علم ترینه استثناء شی او دا ما زال الخ ترکیب په اعتبار د مبالغه شی لکه خلق وائی چه فلانکی هر فن مولی دے.

جواب: ولا یخفی حاصل دادے چه دا تاویل بعید دے او مراد قریب دے او که تاویلات بعیده اوشی نو بیا خو هر یو ترکیب صحیح دے بلکه ضربنی الا زید شو دا بیا هم صحیح دے چه تاویلات بعیده پکښ اوشی. باقی عبارت حل دے په نفس ترجمه سره

و اذا تعذر البدل هر کله چه فارغ شو مصنف د دری اقسامو د مستثنی نه په اعتبار د اعراب نو په دې باندې یو سوال راځی چه هغه ماتن دلته دفع کوی.

سوال: دادے چه تا اوی چه کله مستثنی واقع شی بعد د الا نه په کلام غیر موجب کښ چه مستثنی منه مذکور وی نو په مستثنی کښ نصب بناء بر استثناء جائز غیر مختار دے او بدلیة پکښ مختار دے نو زه درته ښایم چه مستثنی به بعد د الا وی په کلام غیر موجب کښ او مستثنی منه به مذکور هم وی او تاسو به په بدلیة باندې عمل نه وی کری لکه ما جاءنی من

احد الا زید کښ دا زید مرفوع دے نه مجرور چه بدل شی د احد مجرور نه او الا احد فیها العمرو کښ دا عمرو مرفوع دے نه منصوب چه بدل شی د احد نه ده مفتوح دے او ما زید شیئا الا شئ کښ دا شئ مرفوع دے نه منصوب چه دا بدل شی د شیئا منصوب نه دلته که په بدلیة عمل شوی وی نو اول مثال کښ مجرور او دې دوه ؤ کښ مستثنی منصوب پکار وه نو هسې وائی چه بدل مختار دے.

جواب: و اذا تعذر حاصل دادے چه کلامك برد کویس و لکن خبره دې صحیح ده خو دلته مسئله ده هغه داچه دلته مونږ په دې امثلو ثلاثو کښ مستثنی بدل کړو د مستثنی منه د لفظ نه نو په تعذر کښ واقع کیږو نو دلته مونږ دا ما بعد د الا بدل واقع کوو د مستثنی منه نه خو په اعتبار د محل سره نه په اعتبار د لفظ سره چه مستثنی منه اعراب دې د مستثنی شی. دلته څه مناقشات دي اول داچه د دې مسئله تعلق د قسم ثانی د مستثنی سره دے چه جواز الامرین مع اختیار البدل دے نو ده هلته ذکر کول مناسب وو دا مینځ کښ یعرب علی حسب العوامل ولې تا راوړی دے.

جواب: دا خبره په عرب علی حسب العوامل باندې موقوف ده او هغه ورله موقوف علیه نو موقوف علیه خو په موقوف باندې مقدم وی. فقدمه مناقشه ثانی د تعذر صله کښ خو علی نه راځی او تا دلته واقع کړے ده.

جواب: دا صله د تعذر کښ نه ده بلکه دا صله د حمل محذوف ده مناقشه ثالث دا علی اللفظ جار مجرور دے اعراب ورله څه دے.

جواب: من حیث جمله دا منصوب دے بناء بر تمیز ځکه حیث هلته وی چه چرته تمیز وی ای لفظ المستثنی منه اشاره کوی شارح دې ته چه په اللفظ کښ الف"لام"عوض دے د مضاف الیه نه بیا په قطع د ترکیب اضافی سره په حذف د مضاف الیه الف"لام"راغئ عوضا نو اللفظ شو فعلی الموضع.

سوال: دا فاء جزائیه ده او جزاء جمله وی دا خو جمله نه ده بلکه جار مجرور دے.

جواب: یحمل علی موضع المستثنی منه نو دا جزاء په اعتبار د متعلق ده نو جمله ده لا علی لفظه دا د دې قید فائده ده.

سوال: هر كله چه په لفظ محمول كيدلو سره بدل متعذر كيږي نو بيا دا منصوب اوايه كه بناء بر استثناء داهم جائز ده.

جواب: عملا بالمختار په مختار عمل كو او دلته مختار بدل دے.

سوال: چه عمل بالمختار كوى نو دا د لفظ دهغى نه بدل واقع كړه.

جواب: على قدر الامكان او بدل د لفظ نه خو نا ممكن دے. مثال ما جاءني من احد الازيد فزيد سره تطبيق دے چه دا زيد مرفوع دا حد د محل نه بدل دے نو لفظا خو هغه مجرور دے ليكن په محل د رفع كښ دے ځكه فاعل دے او فاعل خو مرفوع وى نو دا زيد به هم مرفوع وى ولا احد فيها الا عمرو دا بل مثال بيانوى شارح ربط بيانوى او د فيها د ضمير مرجع متعين كوى دلته هم دا عمرو مرفوع دے دا بدل دے د موضع او محل د احد نه چه محل دهغى رفع ده بناء بر ابتداء ما زيد شيئا الا شئ لا يعبا به دا دريم مثال دے شارح د لا يعبا به لفظ چه غير مشهور دے نو د دي تشريح كوى په لفظ مشهور سره نو واى اى لا يعتد به فشئ دا مرفوع دے او بدل دے د محل د شيء ا نه چه محل د هغى رفع ده ځكه خبر دے د زيد او خبر مرفوع دے نو داهم مرفوع دے.

سوال: مثال دپاره د توضيح د ممثل وى نو يو مثال كافى وو درى ولى راورى.

جواب: تعدد د امثلو بناء وى په تعدد د ممثلاتو نو دي مقام كښ چه تعذر راغلى دے د بدلية د لفظ نه نو دأپه څلور قسمه دے چه لفظا دا مستثنى منه مجرور وى په حرف جر من (۲) چه لفظا دا مجرور وى په حرف جر با (۳) چه دا مبنى وى چه دلاء لنفى الجنس دپاره اسم مفرد واقع وى. (٤) چه دا منصوب وى چه خبر د ما ولا مشابه بليس واقع وى بيا چونكه د من او باء حكم يوو چه جر وو نو مصنف پكښ تداخل اوكړو نو يو يو مثال ئى بيان كړو نو ځكه درى امثله دي وقوله لا يعبا به غرض د شارح په دي عبارت سره. دفع د سوال ده چه په دي دريم مثال كښ د شئ نه روستو دا لا يعبا به قيد چه دے نو دي ته ضرورت نشته دے ځكه د شئ استثناء د دغه شيئا نه بغير دلايعبا به نه صحيح كيږى نو دا قيد صحيح نه شو.

جواب (۱) ليس في كثير من النسخ (۲) و على ما وقع الخ يعنى دا دپاره د دي ذكر دے چه په اعتبار د ظاهر سره استثناء د شئ عن نفسه رانشى ځكه چه ما زيد شيءا الا شئ معنى داده

چه نه دے شئ مگر شئ ولا یخفی دا اعتراض دے په دې خبره بانديي چه په قیل سره ذکر ده ځکه خو دائی مصدر کړو په صیغه د تمریض سره حاصل د اعتراض دادے چه بغیر د لا یعبا په نه هم استثناء د شئ عن نفسه نه راځی به دې شان سره چه شئ اول کښې عموم دے چه د شیئة نه علاوه بل شئ په زید زائد شوی وی او یا نه نو عام دے او دا روستو شئ مستثنی کښې خصوص دے چه د شیئة نه علاوه بل صفة به پکښې نه وی نو دا خو استثناء د خاص د عام نه وه او بغیر د دې قید نه صحیح شوه لکان ادق ځکه چه محتاج دے توجه ته او الطف ځکه چه احتیاج پکښې قید ته نه راځی.

جواب: دا اعتراض چه تاکوم اوکړو اے شارحه نو دا بناء دے په دقة او په الطفیة بانديي او دا کتاب دپاره د مبتدئین دے چه ظاهر ته ګورې او په اعتبار د ظاهر سره خو استثناء د شئ عن نفسه راځی نو دا قید ئې ورسره د دې وجې نه زیاد کړو و انما تعذر البدل علی اللفظ هر کله چه فارغ شو مصنف د دریو امثلو هغې نه چه تعذر د بدل د مستثنی وی پکښې د لفظ د مستثنی منه نو اوس دهغې دپاره دلیل او علت بیانوی او دا شارح دا عبارت راوباسو ځکه چه لان کښې"لام"دپاره د تعلیل او استدلال دے نو دا تقاضا د تقدیم د دعوی او معلول کوی نو شارح ورله هغه دعوی او معلول په دې عبارت سره متعین کړو لان من حاصل د دې دلیل دادے چه ما جاءنی من احد الا زید کښې مونږ دا زید بدل کړو د لفظ د احد نه چه مجرور دے او دا زید هم مجرور شی نو بدل په حکم د تکرار د عامل دمبدل منه کښې وی نو مونږ به په دې زید کښې دا من مکرر کوو نو لازمیږی راتلل د من زائده په کلام موجب کښې او من زائده عند النحاة په کلام موجب کښې نه راځی.

سوال: داخفش په مذهب بانديي خو په قد کان من مطر کښې دامن زائده دے او کلام خو موجب دے .

جواب: هغه من زائده دے خو هغه استغراقیه نه دے او زمونږ کلام په من زائده او استغراقیه کښې دے ځکه خو شارح اتفاقا وائی چه اتفاق دے د نحاتو په شمول د اخفش په دې خبره کښې چه من زائده استغراقیه نه راځی په اثبات کښې ای بعد ما صار الکلام مثبتا غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا مثال چه ما جاءنی الخ دے نو دا خو د نفی مثال دے نه د اثبات.

جواب: په بعد الاثبات کښې دا الف"لام"د الاثبات دپاره د تصییر دے او دابه انتقاض النفي بالا سره ګرځیدلے دے ددے تفصیل دادے چه الا استثنائیه کله د نفی نه بعد راشي نو اثبات راولی او د اثبات نه بعد نفی راولی دلته هم د نفی نه بعد اثبات راولی شارح هم دا وائی چه ولا نفی عنه الانتقاض و فی الصورتین کله چه فارغ شو مصنف د علت او دلیل د مثال اول نه نو په علت او دلیل د مثال ثانی او ثالث باندې ئې شروع اوکړه چه لاحد فیها الخ او ما زید الخ دے فقال و فی الصورتین نو چه دا بدل شی د لفظ نه نو په اول مثال کښې به دا عمرو منصوب وئیلی شی.

سوال: په لا احد فیها الا عمرو کښې به دا عمرو منصوب نه وی چه بدل شی د لفظ د احد نه بلکه دابه مبنی علی الفتح وی ځکه احد مبنی علی الفتح دے .

جواب: شارح وائی لان فتحه حاصل دادے چه دابه منصوب ځکه وایم چه دا فتح د لا احد مشابه ده د حرکت اعرابیه سره نو دا فتح د لااحد مشبه او حرکة اعرابیه ورله مشبه به او وجه د شبه شارح وائی چه لانها یعنی دواړه حاصل بالغیر دي نو دا فتح د وجې د حصول بالغیر نه په حکم د نصب کښې شوه نو احد هم منصوب شو او بیا تابع د منصوب خو منصوب وی نو دا ځکه منصوب دے خه نو چه دا بدل شو د لا احد نه لفظا نو عمرو کښې به تقدیر دلا وی صراحة او یا حکما بناء بر اختلاف مذهبین دپاره د عمل دلا په دے کښې دغه شان په مازید شیئا الا شئ لایعبا به کښې هم خبره داده چه داهم منصوب شی بناء بر بدلیة د شیئا منصوب نه لفظا نو دلته به هم تقدیر د ما وی دپاره د عمل په دې کښې وجې د هغه قانون نه چه بدل په حکم الخ نو چه کله د تقدیر د ما اولا نه لا بدې شوه نو قانون دادے چه وما ولا لا تقدران لا حقیقة ولا حکما علمتین بعد الاثبات نو دلته هم د دې قانون خلاف راځی نو لا یجوز بیاء دلته دوه مذهبه دي یو مذهب دادے چه دا ما اولا به حقیقة په مستثنی کښې مراد وی دپاره د عمل او دویم مذهب دادے چه داما او لا به مقدر نه وی حقیقة بلکه حکما به وی یعنی هغه مخکښې لا اوما عمل کوی په دې کښې چه دهغې عمل دې ته سرایة کړی وی بیا عاملتین منصوب دي نو شارح ورله علت د نصب بیان کړو چه دا حال دے او بعد ما صار الکلام سره هغه سوال او جواب دے لانهما عملتا للنفي غرض د مصنف دلیل ذکر کول دي د دې دپاره چه داما او لا ولې نه مقدر کیږی بعد الاثبات نو حاصل دادے چه ما اولا دواړه چه عمل کوی نو دا دیو وصف د وجې نه عمل کوی نه د وجې د ذات نه نو هغه وصف د نفی دے هغه داچه داما چه عمل کوی نو د وجې د مشابهة نه د لیس سره او دا

مشابهة په نفى كښ دے نو چه نفى ختم شوه نو هغه وصف چه علت وو دپاره د عمل هغه معدوم شو اولا لنفى الجنس چه عمل كوى نو د وجې د حمل د دې نه په ان باندې په دې شان سره چه دواړه دپاره د تاكيد راځى فرق دومره دے چه ان دپاره د تاكيد د اثبات اولا دپاره د تاكيد د نفى يعنى حمل النقيض على النقيض دے نو چه نفى ختم شوه نو حمل النقيض على النقيض نه راځى نو عمل هم ختم شو فان قلت اعتراض دے چه لا حد فيها الا عمرو كښ تاسو دا عمرو محمول كړو په محل داحد باندې نو دپاره د احد خو دوه محله دې يو محل بعيد چه رفع بالابتداء ده دويم قريب چه نصب دے يعنى فتح ده نو تاسو دايه محل بعيد حمل كوى نو په قريب ولى نه حمل كوى چه هغه نصب دے قريب د بعيد نه اولى دے قلت .

جواب: دے حاصل دادے چه كه په محل قريب كښ عمل لا كړے دے نو دلته به هم عمل دلا وى او داخو ناروا ده بخلاف ليس زيد دا دفع د سوال ده چه اے مصنفه زه درته يو داسى عامل ښايم چه د هغى نفى به ماته شوى وى او بيا به هم تاسو هغى لره عمل وركړى وى لكه ليس زيد شيئا الا شيئا دلته دا ليس چه عامل نافيه دے نو په الا سره ئې نفى ماته شوه او بيا هم عمل كوى.

جواب: ماتن اوكړو بخلاف سره حاصل دادے چه كلامك برد كويس لكن دلته خبره بل شان ده چه داليس عمل په ذات خپل سره كوى نه د وجې د نفى نه بيا ذات د دې فعلية دے او فعلية خو په الا سره ندے مات شوى چه دلا اعتراض راشى.

ومن ثم غرض د مصنف په دې عبارت سره په ما قبل دوه ؤ خبرو باندې تفريع ده يو داچه ليس د فعلية د وجې نه عمل كوى نه د نفى د وجې او ما اولا د وجې د نفى نه نو ليس زيد الا قائما تركيب جائز دے ځكه چه د ليس نفى كه ماته شى نو نقصان نه كوى ځكه ذات باقى دے او ما زيد الا قائماً تركيب ممتنع دے ځكه دما او لا نفى ماته ده او دا د نفى د وجې نه عمل كوى

و مخفوض دا څلورم قسم بيانوى د مستثنى باعتبار الاعراب پس د فراغة نه د درى اقسامو د مستثنى نه باعتبار الاعراب فقال و مخفوض شارح ربط بيانوى نو واى دا عطف دے په منصوب باندې او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وى په معطوف كښ نو واى و المستثنى ځكه د منصوب نه مخكښ لفظ د هو وو چه راجع وو مستثنى ته اى مجرور شارح په دې

عبارت سره یو تفسیر د لفظ غیر مشهور اوکړو په لفظ مشهور سره او دویم دفع د سوال هم کوی چه مخفوض د خفض نه دے دا اعراب بالحرکة ته شاملیږی او بالحرف ته نه حالانکه دا په دواړو مجرور وی لکه جاءنی القوم غیر زید شو. نو شارح دا سوال دفع کړو چه مجرور مراد دے او دا دواړو ته شامل دے بعد غیر دا مواضع جرنوی بیا سواء لفظ کښ شارح دوه لغات بیانوی خو رضی صیب وائی چه اول ډیر مشهور دے او سواء کښ دوه لغات دي او رضی صیب دلته هم وائی چه اول مشهور ده د ثانی نه لکونه مضاف الیه دا علت بیانوی دپاره د دې حکم و بعد حاشا فی الاکثر سره څلورم مقا دے.

سوال: بناء د متن په اختصار وی نو بعد لفظ فی ولې زیات کړو خو دابه فی په غیر عطف کړی وی نو د بعد لاندی به راغلی وی؟

جواب: دا حاشا چه دے نو دې کښ اختلاف دے بعض وائی دا فعل دے او اکثر وائی دا حرف جر دے نو دې سره قید د فی الاکثر دے او دا قید په ما قبل کښ نه وو او اختلاف پکښ هم نه وو نو د وجی د مغائرة د دې دوو خبرونه فی په ما قبل باندې عطف نه کړو ولکونه حرف دا علت بیانوی بیا شارح فی اکثر استعمالاتهم اوی اشاره ده چه الف"لام"عوض د مضاف الیه نه دے و اجاز دا د فی الاکثر قید فائده ده چه چا وئیلی دي چه دا فعل دے او فاعل پکښ ضمیر دے او دابه منزله د مفعول دے نو منصوب دے.

بیا دې خبره کښ اختلاف دے چه حاشا حرف دے که فعل دے نو سیبویه وائی چه دا حرف دے او فراء او مبرد وائی دا فعل دے بیا فراء وائی فعل بلا فاعل دے او مستثنی مجرور ده په تقدیر د حرف جر خو دا مذهب ضعیف دے ځکه چه یو خو فعل بلا فاعل نه وی ځکه فعل حدث دے محدث غواړی او دویم د دې وجی نه چه تقدیرسره حرف جر عمل نه کوی او مبرد ورته فعل وائی او فاعل ضمیر وائی او ما بعد منصوب وائی په دغه فعل سره نو اوی دا ضرب القوم حاشا زیدا دے بیا دلیل د مبرد دادے چه یو خو په دې کښ تصرفات جائز دي چه حاشا حاشیت وغیره او دا تصرف په حرف کښ ناروا دے او دویم داچه دا الف د حاشا هم حذف کیږی نو دا دلیل د دې دے چه دا فعل دے ځکه حذف د حرف نه جائز نه دے او د سیبویه دپاره دلیل یو دادے چه د دې حاشا اضافة یاء د متکلم ته بغیر د نون وقایه نه کیږی او د فعل اضافة خو دنون وقایه سره یاء د متکلم ته کیږی او دویم داچه په دې ما مصدریه نه داخلیږی او په فعل خو ما مصدریه داخلیږی مختاره عند الماتن مذهب د سیبویه دے نو جواب د اول دلیل د مبرد نه دا دے چه دې کښ دا گردان چه دے نو دا د وجی د

فعل مصنوعی نه دے او دا خلق وائی چه لو لیت ای قلت لولا اولا لیت ای قلت لا لا وغیره نو افعال سمعیه نه دي او جواب د دویم دلیل ن دادے چه حذف د حرف نه هم کله کیږی لکه خلق په سوف افعل کښ سوا فعل وائی په حذف د فاء سره نو چه دا ځوک فعل ګرځوی نو معنی به څه وی نو شارح وائی چه و معناها چه معنی دا حاشا تبریه ده بیا شارح د برأ دپاره فاعل الله او ګرځو او الله ته ئې دا ضمیر راجع کړو نو.

سوال: دا خو اضمار قبل الذکر دے د الله ذکر خو مخکښ نشته دے چه ارجاع د ضمیر ورته صحیح شی.

جواب: دا اضمار قبل الذکر په هغه وخت کښ ممتنع دے چه هلته التباس جوړیږی او خلط راځی په دې شان سره چه یو فعل فاعل غواړی او فاعل ورله ضمیر شی نو هغی کښ دا احتمال وی چه اشیاء مختلفه ته راجع شی نو خلق وائی چه دا ضمیر به ته داسی یو شئ ته راجع کوی چه هغه مخکښ ذکر وی چه دا التباس نه په اجتناب شی نو اوس چه کله د فعل دپاره فاعل متعین وی نو بیا ضرورت نشته دے او دې کښ اضمار قبل الذکر جائز دے څکه داهم وئیلی کیږی چه یو مسلمان یو فعل کښ الله ته ضمیر راجع کوی نو که د الله ذکر مخکښ شوی وی او یا نه خو دا جائز دے څکه دلته التباس نه راځی لکه عاشق خپل معشوق ته څنګه ضمیر راجع کوی اما دا خبره چه دا ضمیر الله ته ولې راجع دے څه دلیل دے نو دلیل پری دا دے چه قال الله وما ابری نفسی ان النفس لامارة بالسوء الا ما رحم ربی دلته اوی چه دا براة الله ورکوی بیا چه دا فعل شی نو دابه په ترکیب کښ حال واقع وی او اعراب غیر فیه کاعراب المستثنی بالاکله چه فارغ شو مصنف د اعراب د مستثنی نه نو اوس ئې شروع اوکړه چه اداتو د استثناء په د بعض ادات اعراب بیانوی نو ادات دری قسمه دي یو حرف دویم فعل دریم اسم نو اعراب اسم کښ راځی نو قال و اعراب غیر بیا ماتن فیه اوی نو دا دفع د سوال ده چه اعراب د غیر به خویه تبع د ماقبل وی کنه څکه دا صفة وی د ما قبل دپاره نو ماتن اوی فیه ای فی الاستثناء دون الصفة نو اعراب د غیر پشان د اعراب د مستثنی دے په الا سره تفصیلا یعنی چه مستثنی واقع وی پس د الا نه په کلام موجب کښ په کلام تام کښ او مستثنی منه مذکور وی یا مستثنی مقدم وی په مستثنی منه باندې او یا مستثنی منقطع وی نو دهغی نصب واجب دے او کله چه مستثنی واقع شی پس د الا نه په کلام غیر موجب تام کښ نو هلته جواز الامرین دے مع اختیار البدل او کله چه مستثنی واقع شی پس د الا نه په کلام غیر موجب ناقص کښ نو هلته اعراب بحسب العوامل دے نو هم داسی دا

غیر هم دے چه کله واقع شی په کلام موجب تام کښ یا مستثنی مقدم وی یا مستثنی منقطع وی نو نصب ئې واجب دے او که دا کلام غیر موجب تام وو نو جواز الامرین مع اختیار البدل او که واقع وو په کلام غیر موجب ناقص کښ نو بیائی اعراب بحسب العوامل دے.

تنبیه: امثله ډیر اسان دي لهذا اکتفاء په ممثلاتو باندې اوشوه فکانه لما انجر غرض د شارح علت بیانوی دپاره د دې حکم چه دا غیر ولی په دې اعراب معرب شو نو مقصد داچه دا کلام زمونږ په استثناء کښ روان دے او مستثنی خو منصوب وی نو اعراب په مستثنی باندې پکار وو خو د مستثنی اعراب غیر خراب کړو ځکه دا مضاف او مستثنی مضاف الیه نو مضاف الیه خو مجرور وی نو چه د دې غیر د وجې د مستثنی اعراب خراب شو نو مونږه هغه اعراب غیر ته ورکړو.

و غیر صفة حملت علی الا غرض د ماتن دوه قسمه د غیر بیانوی یو صفتی دویم استثنائی فقال وغیر صفة شارح وائی ای کلمة غیر فی الاصل غرض ئې دفع د سوال ده چه دا غیر په ترکیب کښ مبتداء ده او صفة ورله خبر اول دے او حملت علی الا ورله خبر ثانی دے او قانون خو دادے چه مبتداء یا معرفه وی او یا نکره مخصصه حالانکه دا غیر خو نه معرفه ده او نه نکره مخصصه بلکه نکره محضه ده چه د دې مبتداء واقع کول ښه نه دي او بل داچه ماتن وائی حملت نو غیر مذکر ته ئې ضمیر د مونث راجع کړے دے نو مطابقة نشته بین الراجع والمرجع.

جواب: ای کلمة غیر نوداپه حذف د مضاف دے او مضاف ئې کلمة مونث دے نو ارجاع د ضمیر مونث کلمة مونث ته صحیح دے او بل دا چه د غیر نه مراد کلمه او لفظ د غیر مراد دے او قانون دادے چه کله یو کلمة ذکر شی او مراد دهغی لفظ شی نو دا علم وی ولی هر لفظ د خپلی معنی دپاره یو نوم او علم دے نو چه علم شو نو تعریف پکښ راغلو نو مبتداء واقع کول ئې صحیح دی.

سوال: تا اوی دا غیر صفة دے نو داخو تاپه باب د استثناء کښ ذکر کړے دے ځنګه ورته صفة وائې.

جواب: فی الاصل نه په استثناء کښ.

سوال: دلیل څه دے؟

جواب: د صفة تعريف پرى صادق دے چه كون الاسم د الا الخ نو شارح وائی چه اصل كښې دا صفة دے لكه جاءنى غير زيد شو او دا استعمال ئى كثير دے نو لكنها سره دفع د وهم ده ځكه دا دپاره د استدراك ده هغه وهم هم دادے چه بيا دا غير په استثناء كښې ځه كوى چه صفة دے نو وای حملت على الا په الا باندې حمل دے خلاف الاصل .

سوال: دا غير په الا حمل شو نو غير محمول او الا محمول عليه نو وجه د حمل څه ده؟ بالفاظ ديگر غير مشبه الا مشبه به نو علت د شبه څه دے؟

جواب: و ذلك لاشتراكهما الخ چه پكښې مغائرة د مابعد دے او د دې وجه د حمل او علت مشتركه نه الا هم په دې باندې حمل ده او كله كله صفة راځى لكه ماتن وائى كما حملت الا عليها مقصد دادے چه غير اصل كښې صفتى دے خو په باب د استثناء كښې دا محمول دے په الا استثنائيه باندې او الا اصل كښې دپاره د استثناء راځي خو داهم كله كله محمول وى په غير باندې چه دپاره د صفة دے او وجه ورله هم داده چه دواړو كښې اشتراك د مغائرة د مابعد دے البته فرق لږ شته دے هغه داچه دا غير صفتى چه محموليږى په الا استثنائيه باندې نو بغير د څه شرط نه او هر چه الا استثنائيه دے نو داپه دې غير باندې مطلقا ندے محمول بلكه دا مشروط دے په شرائط ثلاثه نو ماتن دا بيانوى يو داچه دا په بعد متعدد نه واقع وى دويم دا متعدد به نكره وى دريم نكره غير محصور به وى.

سوال: دا څه وجه ده چه غير چه استثنائيه ګرځى نو بغير د شرط نه او الا چه صِفتى ګرځى نو شرائط ثلاثه دې ورله؟

جواب: دا ځكه چه دا الا په معنى د استثناء كښې اصل دے نو د اصل نه خلاف الاصل ته صيرورة كول قوة غوارى نو الا هم چه د استثناء نه صفة ته ځى نو تقاضا د قوة كوى نو اره د دې قوة دا شرائط شول او هر چه غير دے نو داپه معنى د صفة كښې اصل ندے بلكه كثرة استعمال د وجى نه داپه معنى د صفة كښې راځى نو دا غير په معنى د استثناء ګرځول صيرورة ندے د اصل نه خلاف الاصل ته چه ګنى لابدى دې شى د قوة نه نو دې لره شرائط نشته دے تابعة لجمع د اول شرط دے شارح وائى اى واقعة بعد متعدد دا دفع د سوال ده چه تابع خو هر هغه ثانى وى چه معرب وى په اعراب د سابق باندې او داخو په اسم كښې راځى او الا خو حرف دے نو اطلاق د تابع پرى ناروا دے.

جواب: دلته تابع په معنى د بعد دے.

سوال: دا خو مجاز دے قرینه څه ده؟

جواب: علاقه د لازم ملزوم ده چه تابع ملزوم دے او بعدية ورسره لازم دے۔

سوال: دا بعد ظرف دے نو متعلق ورله څه دے؟

جواب: اي واقعة دا واقعة دے کنه او دا تعبير د جمع نه په متعدد سره دفع ديو سوال کوی چه هغه روستو راروان دے۔

فوجب ان يكون غرض د شارح په دي عبارت سره داخبره ذکر کوی چه کله الا صفتی وی نو دهغی موصوف به ذکر کيږی لازما د غير پشان نه دے څکه د هغی دپاره ذکر کول د موصوف لازم نه دي يعنی دا شارح يو فرق بيان کړو په درميان د غير او الا کښ۔

سوال: دپاره د الا صفتی ذکر کول د موصوف ولی لازم دی؟

جواب: دا څکه چه الا په معنی د صفة ګرځول يو مجاز دے او بيا تقدير د موصوف د دي بل مجاز دے نو بيا لازميږی مجاز در مجاز نو موصوف به ذکر وی. و بعدما کان مذکورا يكون متعددا دا وجه تعدد دما بعد بيانوی نو حاصل ئ هم دادے چه کله الا دپاره د استثناء وی نو ما قبل ترينه مستثنی منه متعدد وی نو چه د الا دپاره د صفة شی نو هم به ترينه ما قبل متعدد وی دپاره د موافقة د حال د الا صفتی د حال د الا استثنائيه سره و المتعدد دا د متعدد قيد فائده ده چه دفع د سوال ده چه ماتن اوی چه الا صفتی به پس د جمع نه وی حالانکه په جاءنی القوم الا زيد يا جاءنی الرهط الا زيد يا ما جاءنی الرهط الا زيد کښ خو الا صفتی ده او پس د جمع نه ده واقع څکه قوم، رهط خو جمع نه ده.

جواب: مراد متعدد دے او دا دي ته هم شامل دے.

منکور غير محصور اوس مصنف دويم شرط بيانوی چه دا متعدد به منکور وی شارح والی ای منکر دا تفسير د لفظ غير مشهور دے په مشهور سره يعنی دا متعدد به نکره وی معرفه به نه وی نه معرفه باللام نه اسم اشاره و غيره شارح دا لا يعرف باللام بطور تمثيل والی ورنه يو به هم نه وی په دي سره دفع د سوال اوشوه خو دا سوال چه دا معرف باللام ئ ولی خاص کړو؟

جواب: دا کثير الوقوع دے.

سوال: دا متعدد به ولې نکره وی؟

جواب: دا یو قانون دے چه اتیان بالاصل ممکن وی نو صیرورة به خلاف الاصل ته نه کیږی و إلا په معنی د استثناء اصل ده او په معنی د غیر بانديې خلاف الاصل ده نو په کوم وخت کښ چه مستثنی منه معرفه وی نو په دې وخت کښ اتیان بالاصل ممکن دے چه دابه دا مستثنی متصل وی یا منقطع ځکه که بالفرض دغه مستثنی منه معرف باللام وی نو الف"لام"به یا استغراقی وی او یې یابه عهدی نو که الف"لام"استغراقی وی نو مستثنی به یا په دې کښ داخل وی یا نه نو که داخل وه نو مستثنی متصل او کله نه وه داخل نو مستثنی منقطع نو دې وخت کښ به دا الا استثنائیه وی نو په معنی د غیر به نه وی ځکه ضرورت نشته دے متصل او منقطع واقع کیدل صحیح دی او که دالف"لام"عهدی وی نو بیا به یابه دغه مستثنی منه کښ یو داسی جماعت ته اشاره شوی وی چه دا مستثنی به په دغه جماعة کښ داخل وی نو مستثنی متصل او که دابه دې مستثنی منه کښ داخل نه وی یقین سره نو منقطع ممکن شوه نو بیا به الا په معنی د استثناء وی او په معنی د غیر به نه وی څه حاجة نشته دے نو مونږ د دې دپاره دا قید د نکره اولګو چه معرفه به نه وی ځکه چه بیاخو مستثنی واقع کیدل صحیح کیږی شارح هم دا خبره کوی غیر محصور دا دریم شرط دے چه دا متعدد نکره به غیر محصور وی و المحصور نوعان شارح په دې عبارت سره د محصور دپاره دوه قسمه ذکر کوی.

سوال: مقصود په دې مقام کښ غیر محصور دے نو د محصور تفصیل ولې کوی؟

جواب: دا محصور د غیر دپاره مضاف الیه واقع شوی او دا غیر عدمی دے او محصور وجودی نو معرفة د عدمی موقوف دے په معرفة د وجودی بانديې نو د محصور تفصیل کوی نو دهغې په تبع سره قرینه غیر محصور معلومیږی فقال و المحصور نوعان یو قسم هغه دے چه هغه جنس مستغرق دے لکه ما جاءنی رجل کښ دا رجل شو یا رجال دلته حصر دے ولې چه نکره په سیاق د نفی کښ عموم او شمول پیدا کوی دویم دا چه په د دغه جنس نه په بعض وی خو عدد به ئې معلوم وی لکه له علی عشرة دراهم یا عشرون درهما نو دلته د عشرة او د عشرون عدد معلوم دے او د دې جنس یعنی درهم نه بعض دې نو د دې نه غیر محصور معلوم شو چه دایو به هم نه وی و انما اشترط سره وجه د اشتراط د دې خبرې بیانوی نو حاصل دادے چه که محصور وی نو بیا تعذر د استثناء نا ممکن دے نو بیا به الا صفتی نه وی بلکه استثنائیه به وی مثلا کل رجل الا زید جاءنی دلته دا رجل محصور دے ځکه په کل

سره يكښ استغراق راغلى دے نو دا زيد يكښ داخل دے نو چه الا سره ترينه دا زيد خارج شو نو دا مستثنى متصل شوه وله على عسرة الا درهما نو دلته عشرة اگرچه بعض د جنس نه دے او د عدد په اعتبار سره معلوم دے خو دا درهم يكښ داخل دے او الا سره خارج شو نو دا مستثنى متصل شوه نو دا بيا اتيان بالاصل ممكن شو نو صيرورة خلاف الاصل ته نه كيږى چه په معنى د صفة شى لتعدد الاستثناء كله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د شروط ثلاثه اوس ورله دليل او علت بيانوى و انما يصار سره شارح عبارت لگوى او دي دليل ته اشاره كوى او دپاره د لتعذر جار مجرور متعلق بيانوى چه دا هغه شاته حملت سره متعلق دے فانما قلنا غرض د شارح په دي عبارت سره ديو قيد فائده بيانول دي هغه قيد د دے دماتن په عبارت كښ لگولى وو چه لكن لا تحمل الا عليها فى الصفة غالبا نو د دغه غالبا قيد فائده ذكر كوى او دفع د سوال هم ده چه تا داكوم شرائط او لگول نو زه درته ښايم چه بغير د وجود د دي شرائط ثلاثه نه به الا حمل وى په غير باندې ځكه استثناء به متعذر وى او بعض اوقات كښ به دا شرائط وى او الا به په غير نه وى حمل بلكه دپاره د استثناء به وى ځكه استثناء به ممكن وى مثلا جاءنى ماة رجل الا زيد دلته داماة رجل مستثنى ده او محصور دے دويم قسم د محصور دے نو غير محصور نه دے او دلته الا په معنى د غير دے ځكه خو زيد مجرور دے او جاءنى رجال الا واحدا والارجلا والاحمارا نو دلته دا رجال غير محصور دے او روستو ترينه مستثنى ده په دي شان چه يابه دا رجل په دي رجال كښ داخل وى نو مستثنى متصل او كه داخل نه وى نو مستثنى منقطع ده حالانكه په اول مثال كښ شرط نشته دے او الا صفتى دے او دويم مثال كښ شرط شته دے او الا استثنائيه دے.

جواب: دا خبره غالبا ده يعنى اكثر چه دا شرائط وى نو الا په خپله معنى گرځول متعذر وى او چه دا شرائط نه وى نو الا په خپله معنى گرځول متعذر نه وى او دا تاچه كوم امثله بيان كړل نو دا ناروا دي او ادر په منزله د عدم وى ځوك ورله اعتبار نه وركوى. باقى ترجمه ده بيا ماتن مثال جامع پيش كوى چه لوكان فيهما الهة الا الله لفسدتا شارح د فيهما د ضمير مرجع متعين كوى بيا شارح اوى الهة جمع اله دا تطبيق د مثال كوى د ممثل سره په اجراء د هغه شروط ثلاثه كښ نو اول شرط دا وو چه دا ما قبل د الا به متعدد وى نو دا الهة متعدد دے جمع د اله ده دويم شرط دادے چه دا متعدد به نكره وى او الهة نكره ده دريم شرط دا وو چه دابه غير محصور وى نو شارح وائى ولا دلالة فيها على عدد محصور الا الله اى غير الله نو معنى هم دا شوه چه كه وى په دي زمكه كښ معبودين داسى چه غير د الله نه وى لو لفسدتا خو نه دي فاسد نو الخة نشته دے.

سوال: فساد خو په اوصاف کښې وی او تا د دې نسبة ذات ته اوکړو چه ارض او سماء دی.

جواب: اخرجتا عن الانتظام فساد په معنی د خروج عن الانتظام دے نو ذات ته ئې نسبة صحیح دے. فالا سره مفصل تطبیق دے و لتعذر الاستثناء وجه د تعذر د استثناء داده چه مستثنی دوه قسمه وی یو متصل دویم منقطع متصل هغه خائې کښې وی چه دا ما بعد په ما قبل کښې په یقینی طریقه سره داخل وی او دلته عدم د دخول د الله دے په الهة کښې او منقطع هلته وی چه ما بعد د ماقبل نه خارج وی په یقینی طریقه سره او خروج دلته یقینی نه دے نو الا صفتی شوه. بیا دلته لږ تفصیل دے هغه داچه مشرکینو به د الله سره نور معبودین شریکول نو د الله په یقینی سره د الهة نه خارج هم نه دے او نه یکښې په یقینی سره داخل دے نو ځکه نه متصل صحیح کیږی او نه منقطع و فی الایة مانع مقصد داده چه اصل کښې د الا په ځائې د مستثنی بانديې ده هغه مستثنی چه هغه صفة دے دپاره د مستثنی منه او صفة خو قید وی دپاره د موصوف نو چه الا استثنائیه شی نو معنی به شی چه که وی په دې زمکه او اسمان کښې الهة داسی الهة چه مستثنی وی تړینه الله نو دا زمکه او اسمان به فاسد شوی وی نو د دې نه دا خبره معلومیږی چه که په دې زمکه او اسمان کښې الهة وی داسی الهة چه مستثنی وی تړی الله نو بیا به فساد نه وو نو دایة مقصد فوت کیږی ځکه اية دپاره د توحید د الله چلولې شوی دے او دا خو په دې معنی بانديې شرك شو.

بخلاف ما اذا کانت دا دفع د سوال ده چه دا اشکال خو په غیر بانديې هم راځی چه ځوك دا معنی اوکړی چه لوکان که چرته وې په زمکه او اسمان کښې الهة هسی الهة چه غیر وی د الله نه نو دې زمکه او اسمان کښې فساد راتلو نو دې نه هم معلومه شوه چه که په دې زمکه او اسمان کښې الهة وی داسی چه د الله نه غیر نه وی نو فساد به نه راتلو نو دلته هم مانع شته دے.

جواب: دا خبره خو ظاهر کښې شته دے خو په نظر عمیق سره خبره داسی نه ده ځکه چه کله نفی د مغائرة اوشوه نو دا معنی چه ده چه دا اوس اوشوه نو چه الهة شول نو داجمع ده او جمع کښې تعدد وی او تعدد مستلزم دے مغائرة لره ځکه که مستلزم نه شی مغائرة لره نو بیا به یکښې عینیة راشی نو مغائرة پکښې خامخواه راځی نو دې نه دا معلومه شوه چه زمکه کښې او اسمان کښې الهة نشته حاصل ده چه دامعنی محاله ده ممکن نه ده لهذه په دے صورت اعتراض مذکورنه واردیږی تبر

وضعف فی غیره غرض د ماتن په دي عبارت سره بیان الاختلاف دے هغه داچه دا کوم شرائط ذکر شو نو ایا د دي نه علاوه حمل د الا په غیر کیدلے شي او کنه؟ نو ماتن اوی چه دې مسئله کښ یو اختلاف دے یو طرفته سیبویه او اکثر متاخرین دي او بل طرفته متقدمین نحاة دي نو سیبویه وائی چه حمل کیدلے شي او دانور نحاة انکار کوی نو راجح د دي نحاتو مذهب دے او د سیبویه هغه مذهب مرجوح دے نو ځکه ماتن اوی و ضعف او دا ځکه چه الا په غیر حملیږی نو دا ځکه چه استثناء متعذر وی او نا ممکن وی نو چه کله جمع منکور وی او محصور وی نو بیا استثناء صحیح ده نو اتیان بالاصل ممکن دے نو ضرورة په خلاف الاصل نه نه کیږی نو مذهب د سیبویه د جواز دے چه واقع دې شي نو وای دا ترکیب چه دے چه ما جاء نی احد الا زیدا دلته په مستثنی منه کښ استغراق راغلے دے نو استثناء ممکن ده تمسکا سره د دوی دلیل بیانوی قال الشاعر

وکل اخ مفارقه اخوه لعمر ابیك الاالفرقدان

نو فرقدان صفة دے ځکه خو مرفوع دے او که دا صفة نه وی تو بیا به دا منصوب وی حالانکه دا مرفوع دے او الا استثنائیه نده و حمل المصنف علی الشذوذ دا ورله وجه د ضعف شوه چه دا شعر شاذ دے او شاذ لره اعتبار نه وی و قال فی البیت دلته دوه شذوذه نورهم دي یو دا چه دا فرقدان دلته صفة د کل دے چه مضاف دے نو قانون خو دادے چه مضاف او مضاف الیه کښ مقصود مضاف الیه وی نو صفة دپاره د مضاف الیه واقع کیدل غوره او بهتر دي او دلته خو دا د مضاف صفة دے ځکه فرقدان مرفوع دے او که د مضاف الیه دپاره صفة وی نو دابه بیا فرقدین مجرور وی، دویم داچه کل اخ موصوف دے او فرقدان صفة دے او بیا په درمیان د موصوف او صفة کښ په مفارقة اخوه سره فصل راغلے دے او د موصوف صفة په درمیان کښ فصل راوستل ښه ندی و اعراب سوی و سواء هر کله چه فارغ شو مصنف د اعراب د غیر او د مسائلو د هغی نه نو شروع ئی اوکړه په اعراب د نورو اسماء متمکنه کښ چه هغه هم په باب د استثناء کښ ادات د مستثنی دي فقال و اعراب سوی یا بالکسر یا بالضم قصرا او سواء بالکسر و الفتح مدا نو د دي اعراب نصب دے او دا اعراب سوی و سواء مبتداء ده او النصب خبر دے او علی الظرف دپاره د النصب مفعول له دے په اعتبار د متعلق سره چه بناء ده الاصح دپاره شارح موصوف متعین کوی چه المذهب دے او بیا تعین د دغه مذهب کوی چه دا مذهب د سیبویه دے نو د سیبویه په نزد دالازم الظرفیة دي او عند الکوفین ئی خروج هم جائز دي دی مقام کښ لږ تفصیل دے په دې سوی کښ څه

تصرفات شوی دي نوپه بعض مقام کښ د سیبویه او کوفیان درمیان کښ اتفاق دے او بعض مواضع کښ اختلاف دے یودی کښ اتفاق دے چه دا سوی اصل کښ صفة دے د مکان ظرف لکه مکانا سوی دا شو تحویل اول بیا دویم تحویل پکښ دا اوشو چه دامکان حذف شو او سوی د هغی قائم مقام شو نو سوی په معنی د مکان سره شو خو په حذف د موصوف د دي او قائم مقام کیدل د دي په خائی د موصوف باندي نو دا حکم ورله شو. دریم تحویل د ادے چه دا سوی په خائے د بدل راځی لکه جاءنی زید مکانك.

دلته په معنی د بدل دے څلورم تحویل دادے چه دا بدل په معنی د استثناء راځی لکه جاءنی القوم سوی زید نو پکښ ټول څلور تصرفات او شول اتفاقا او داهم اتفاقی ده چه دي څلورو مقاماتو کښ دا منصوب دے علی الظرفة او یو بل اتفاقی صورت داهم دے چه دا اصل کښ ظرف دے او چه استثناء ته راغئ نو دا اوس ظرف نه دے.

اوس اختلافی صورت دادے چه ایا دا منصوب بالظرفیة دے کنه نو سیبویه وائی چه دا لازم الظرفیة دے د ظرفیة نه نشی وتلی اوکوفیان وائی چه دا د ظرفیة نه وتلے شی که دا مرفوع شی یا مجرور نو جائز ده لکه څنګه چه منصوب دے نو دا تغییر پکښ عند السیبویة ناروا او عند الکوفین جائز او روا دے او دلیل دپاره د کوفیانو دا شعر دے.

ولم یبقْ سوی العدوا ... ن دِناهم کما دانو

دلته داسوی العدوان مرفوع دے و زعم الاخفش دا اخفش دا خبره کوی چه دا سواء که دا ظرفیة نه خارج شی نو هم به دا منصوب وی استنکارا لرفعه او دا سواء څکه وائی چه دي کښي اعراب لفظا دے او سوی کښ خو اعراب ښکاره نشته دے نو هلته د تغییر پته نه لګی او سواء باندي خو اعراب ښکاره دے نو د تغییر پته پکښ لګی نو دابه منصوب وی ابدا مثال جاءنی سواءك دا سواء منصوب دے اګرچه په مقام د رفع کښ دے و مثل هذا فی استنکار الرفع غرض د شارح دفع د سوال ده چه په کلام د عربوکښي داسی یو مثال شته دے چه هغه شئ پکښ په محل د رفع کښ وی او ورکری شوی ورته بل اعراب وی یا داسی چه یو شئ لازم النصب وی او هغه فاعل واقع کیدلے شی.

جواب: او قران پری ګواه دے قال تعالی لقد تقطع بینکُم دلته داېین لازم النصب دے او فاعل دے نو حاصل داشو چه اخفش وائی اے کوفیانو که تاسو په سوی کښ څه تصرف کوئ نو

اوکړی خو په سواء کښ به نه کوئ نو د سیبویه په نزد دا سواء به منصوب وی په ظرفیة سابقه باندې اوکوفیان پکښ په تغییر باندې قائل دي او اخفش پکښ یعنی په کوفیانو کښ داخل وو خو ورسره ئي په سواء کښ اختلاف دے .

خبر کان و اخواتها

خبر کان و اخواتها په داسی مقاماتو کښ لا بدی وی د څو خبرو اجمالیو نه نو اجمالی خبرے دادی (١) ربط د ما قبل سره (٢) تشریح د دي عنوان مختصرا (٣)تعریف د خبر دکان و اخواتها (٤) مثال (٥) احکام.

ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د اته منصوباتو نه چه پنځه مفاعیل وو او دری ملحقات وو نو شروع ئي اوکړه په تفصیل د نهم قسم د منصوب فقال نو درے سوالات راپیدا شول (١)نفس تفصیل ولی کوئ؟ (٢) تفصیل په دي مقام کښ د نهم قسم ولی کوئ؟ (٣) تفصیل څنګه کوئ نو جوابات بتر تیب دادی چه نفس تفصیل ځکه کوی چه تفصیل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او بل داچه دا تفصل ته محتاج دے او تر دي حینه پورې ئی تفصیل نه دے شوی نو تفصیل ورله کوئ او په تفصیل کښ په نهم مقام کښ ذکر کړو یعنی د مفاعیلو او ملحقاتو نه ئی روستو کړو ځکه هغه اصل دي او اصل مقدم وی او د اسم ان و اخواتها او المنصوب بلا لتی لنفی الجنس او خبر د ما ولا مشابه بلیس باندې مقدم کړو ځکه عامل د دي فعل دے او دهغه نورو عامل حرف دے او په عمل کښ اصل فعل دے نه حرف نو فعل هم اصل شو چه داي عامل دے نو معمول ئی هم اصل شو نو اصل مقدم وی نو دائی مقدم کړو دویم داچه دا خبر د کان و اخواتها په نسبة سره هغی ته کثیر او عام الوقوع دے او هغه عام الوقوع او کثیر الوقوع نه دي او کثیر دوی مقدم کوی نو دائی په هغی مقدم کړو او تفصیل داسی کوی چه یو به د نهم قسم منصوب تعین اوکړی د خبر کان سره دویم به دهغی تعریف اوکړی هو المسند سره دریم به ورله وضاحة بالمثال اوکړی مثل کان زید قائما سره څلورم به د دي دپاره احکام بیان کړی په و امره کامر خبر المبتداء. و قد یحذف... و یجب الحذف وغیره سره او پنځم به دفع د سوال اوکړی و یتقدم معرفة سره ربط لفظی دلته هم هغه تراکیب سابقه دي (١) خبر کان و اخواتها مبتداء او باقی مانده خبر دے (٢) خبر کان و اخواتها مبتداء موخر او منها په اعتبار د متعلق سره خبر مقدم دے (٣) خبر کان و اخواتها خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف ای هذا بحث خبر کان و اخواتها .

تشریح د دې عنوان: نو دوه قسمه تشریح ده یو لفظي چه خبر مضاف او کان مضاف الیه معطوف علیه او اخواتها مضاف مضاف الیه معطوف معطوف سره د معطوف علیه نه مضاف الیه د خبر شو بیا دا مضاف او مضاف الیه کښې هغه تراکیب دې دویم معنوی تشریح ده نو دې کښې اخواتها دے نو دې کښې یو داچه دکان او اخوات مشترك نوم څه دے؟

دویم مقدار ئې څومره دے؟ دریم دا څه نه وائی؟

شارح وائي: "وستعرفها في قسم الفعل ان شاء الله تعالى" خو دومره خبره ده چه مشترك نوم د دې افعال ناقصه دے او مقدار کښې اختلاف دے څوك وائی دیارلس/۱۳ دي څوك وائی اوولس/۱۷ دي او څوك وائی شل/۲۰ دي او دا هغه دي چه اسم لره رفع او خبر لره نصب ورکوی.

سوال: اخواتها جمع د اخت ده او دا خو په ذوی الروح کښې وی او دا د ذوی الارواح نه نه دی.

جواب: اخت په معنی د نظیر دے او د مثل دے او بیا دا مثل د کان په عمل کښې او نقصان کښې دې چه د اخوات او دکان عمل یودے او څنګه چه کان په مرفوع نه تمامیږی نو دا اخوات هم داسی دي چه په مرفوع نه تمامیږی بلکه لا بدی ده ورله د منصوب نه او ددی درمیان کښې علاقه د لزوم ده څکه اخت سره مشابهة لازم دے نو ذکر د ملزوم مراد لازم .

تعریف د خبر د کان و اخواتها: نو ماتن وائی هو المسند بعد دخولها الخ

چه دا خبر د کان هغه مسند دے پس د دخول دهر واحد دکان او اخوات دکان نه هو په منزله د جنس وو المسند په منزله د فصل دے هغه منصوبات خارج شول چه هغه مسند الیه وی بعد دخولها سره احترازا اوشو د خبر دما ولا مشابه بلیس نه ای دخول کان او احدی اخواتها غرض د شارح په دې عبارت سره تعیین د مرجع د دخولها د ضمیر کوی او دویم دفع د سوال کوی چه دخولها کښې دا ضمیر چه دے نو دا کان ته راجع دے که اخواتها ته اوګا دواړو ته راجع دے یو هم نه دے صحیح په دې شان سره که کان ته راجع شی نو اخوات خارجیږی اوکه اخوات ته راجع کوی نوکان خارجیږی اوکه دواړو ته راجع شی نو مطابقة بین الراجع و المرجع نشته دے.

جواب: دا ضمیر دواړو ته راجع دے او که ته وائی چه مطابقة نشته دے نو داکان او اخواتها په کلمة دا اوسره ذکر دي او قانون داد ے چه کله مرجع د راجع معطوف او معطوف علیه وی او عطف په کلمة د او وی نو ورته ضمیر د مفرد راجع کیږی ځکه احد الامرین ترینه مراد وی بیا ماتن اخواتها وئیلی وو او شارح ورسره احدی اوی نو دا دفع د سوال ده چه خبر دکان به منصوب وی چه کله دا اخوات ټول داخل وی حالانکه خبره داسی نه ده.

جواب: داپه حذف د مضاف دے احدی مضاف دے نو چه یو داخل شی نو منصوب وی. و المراد ببعدیة غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا تعریف صحیح ندے ځکه دا مانع ندے د دخول د غیر نه اوکوم تعریف چه د دخول س د غیر نه مانع نه وی نو صحیح نه وی او دا ځکه مانع نه دے چه داخلیږی پکښ یضرب په دې ترکیب کښ چه کان زید یضرب ابوه دلته دا یضرب مسند دے پس د دخول دکان نه او دې ته ځوك خبر د کان نه وائی بلکه یضرب ابوه مجموعه ته خبر وائی دغه شان کان زید ابوه قائم کښ دا قائم شو د دې سوال نه شارح دوه جوابات دلته کوی.

جواب (۱) زمونږ مراد د مسند نه مسند جدید دے یعنی چه پس د دخول دکان نه کوم مسند الیه وی نو هغه به اسم دکان وی او کوم مسند نو هغه به خبر دکان وی او په دې امثله مذکوره ۋ کښ دا مسند وو مخکښ د دخول دکان نه نو پکښ اسناد جدید نشته دے، ترجمه اسانه ده.

ویمکن دا جواب (۲) دے هغه مونږ مخکښ وئیلی دے چه زمونږ مراد د مسند او د مسند الیه نه هغه دے چه دخول دکان او اخوات په دې باندې دپاره د ایراث الاثر شوی وی یعنی اسم دکان او خبر د کان لره اعراب ورکړی لفظا یا تقدیرا یا محلا اوس دغه امثلو کښ دکان دخول په مجموعه شوی دے نو مجموعه به خبر وی د دې پوره تفصیل مخکښ تیر شوی دے نو ځکه اختصار ذیر اوشو .

وضاحة بالمثال: کان زید قائما دا قائما مسند دے نو خبر دکان دے.

احکام : قال وامره کامر خبر المبتداء شارح خادم د امره د ضمیر مرجع متعین کوی نو دا حکم د خبر دکان مشبه دے او حکم د خبر د مبتداء مشبه به دے او کاف اداة د تشبیه دے او وجه د شبه ق اقسامه و احکامه و شرائطه اقسام داچه لکه څنګه خبر د مبتداء مفرد راڅی جمله راځی او معرفه راځی نکره راځی نو داسی خبر د کان هم دے او احکام داچه لکه

ځکه خبر د مبتداء کله واحد وی کله متعدد وی کله محذوف وی کله مذکور نو داسې خبر د کان هم دے او د شرائط مقصد داچه لکه ځنګه خبر د مبتداء جمله واقع شی نو دا شرط دے پکښې چه خبر کښې به عائد د مبتداء وی نو داسې چه خبر دکان جمله واقع شي نو عائد د مبتداء یعنی د اسم دکان به پکښې شرط وی و یتقدم معرفه غرض د مصنف دفع د سوال ده چه نه منو چه احکام د خبر د مبتداء احکام د خبر کان دے ځکه مونږ هلته دا وئیلی دي چه کله معرفه وی نو تقدیم د خبر دکان په اسم دکان باندي جائز دے اوبه مبتداخبرکښې ناجائز دے..

جواب: و یتقدم معرفة چه دا حکم د خبر دکان پشان د حکم د خبرْ د مبتداء دے په ټولو امورو کښ البته هغه امور چه د مانع د وجې نه وی نو بیا دا دهغی پشان نه دے هلته چه کله مبتداء او خبر معرفه وی نو تقدیم د خبر په مبتداء ځکه ناروا دے چه التباس راځی او دلته چه خبر دکان دے نو دا جائز دے ځکه التباس نه راځی ولی چه اعراب جدا جدا دي بیا معرفة منصوب دے شارح علت د نصب بیان کړو چه حال دے.

سوال: تا د معرفه حکم ذکر کړو او دنکره مخصصه حکم دي بیان نه کړو حالانکه حکم د دواړو یو دے؟

جوب: حقیقة او حکما دا معرفه عام ده حقیقة یا حکما وی لکه نکره مخصصه شوه.

لاختلاف اسمها و خبرها دا علت دے دپاره د دي حکم چه په اعراب کښ اختلاف دے نو التباس نه راځی نو تقدیم د خبر دکان په اسم د دي جائز دے کان المنطلق زید دا مثال دهغه دے چه په اسم دکان او خبر دکان دواړو باندي اعراب وی اوکان هذا زید کښ په یو باندي اعراب شته دے او بل باندي نشته دے . سوال په کان الفتی هذا کښ دا الفتی اسم د کان دے او هذا ورله خبر دے او خلق وائي چه دلته تقدیم د خبر دکان په اسم دکان جائز نه دے.

جواب: ولا قرینة ههنا حاصل دادے چه دلته التباس راځی نو تقدیم ناروا دے او داپه هر هغه مقام کښ وی چه اعراب په خبر او اسم دکان دواړو کښ تقدیری وی نو هلته به تقدیم ناروا وی و قد یحذف هر کله چه فارغ شو مصنف د حکم وجودی د خبر د کان نه نو شروع ئی اوکړو په حکم عدمی باندي چه طاری وی او دا حذف د عامل د خبر دکان دے او دا اصل کښ دوه حکمه دي یو صریحی دے چه کله کله عامل د خبر دکان حذف کیږی دویم ضمنی

چه ذکر دکان کثیر شائع دے ولی دې کښې فائده اکمله اشمله ده او حذف کله کله وی بیا دا حذف کله جوازا وی چه صرف قرینه وی او کله وجوبا وی چه قرینه سره سد مسد هم وی نو مصنف اول جوازی بیانوی فقال و قد یحذف عامله ای عامل خبر کان دا تعیین د مرجع شو

سوال: مخکښې چه کوم ضمائر وو نو داکان او اخواتها ته راجع وو نو دلته په عامله کښې به هم دا ضمیر کان و اخواتها ته راجع وی حالانکه حذف د اخوات دکان خو ناروا دے

جواب: دا ضمیر کان ته راجع دے فقط صحیح ده چه انتشار فی الضمائر خو راغئ خو دلوی مصیبت نه بچ شو دلته یو څو سوالات دی (۱) هر کله چه دا عامل کان وو فقط نو تعبیر ئې په کان سره ولې نه کوو؟ (۲) دا تخصیص دکان ولې اوشو دانور ولې نه حذف کیږی؟

جواب: (۱) تعبیر ئې په عامل اوکړو اشاره ده تقویة د عمل دکان ته چه دا عامل قوی دے. (۲) و انما اختصت لهذا الحرف چه داکان کثیر الاستعمال چه تقاضا د تخفیف کوی او تخفیف په حذف کښې دے او بل داچه حذف بلا دلیل ناروا دے او حذف مع الدلیل جائز دے نو داکان د کثرة استعمال د وجې نه که حذف شی نو په ما ابقی کښې دلیل په ما القی باندې شته دے نو دا حذف بلا دلیل نه دے چه ناجائز دې شی. مثل الناس الخ دا مثال پیش کوی.

سوال: د دې نه کوم موضع مراد دے؟

جواب: د دې نه هر هغه مقام مراد دے چه هلته کښې قرینه په حذف د کان باندې وی.

سوال: قواعد د فن کلی وی او دا خو یو جزی مثال دے.

جواب: دا مُصدّر دے په مثل سره نو اشاره پکښې کلیة ته ده نو کلیه مراد ده او هغه موئر اوی چه قرینه وی په حذف دکان باندې لکه دلته په ان خیر الخ کښې قرینه داده چه ان داخل شوی دے په اسم باندې حالانکه ان شرطیه په فعل داخلیږی نو معلومه شوه چه عامل فعل حذف دے چه کان دے داشوه قرینه په تعین د محذوف او په نفس حذفیة باندې قرینه نصب د خیرا دے.

بیا د اصل ترکیب داسی دے چه ﴿ان کان عمله خیرا فجزاءه خیر وان کان شرا فجزاءه شر و یجوز فی مثلها اربعة اوجه.﴾

سوال: ماتن والی و یجوز فی مثلها نو داسی ولی نه وائی چه ویجوز فیها چه ما قبل ته ضمیر راجع شی نو هغه به مراد شی.

جواب: په دې کښې اوپه هغې کښې فرق دے په دې شان سره چه هلته جواز د وجوه اربعه نشته دے او په دې مثال کښې جواز د وجوه اربعؤته دے. دلته چند سوالات دي (۱) د مثلها نه څه مراد دے (۲) اربعة اوجه څه دي (۳) مثال څه دے دهر واحد؟ (٤) علت دهر واحد دپاره څه دے؟ (٥) اوپه دې څلورو وجوه کښې کوم قوی دے؟

جوابات بالترتیب دادی عن الاول وهی ان یجیئنی الخ چه راشي پس د ان شرطیه نه اسم او بیا فاء راشي او بیا وروستو اسم وی او په ان خیرا فخیر کښې پس د ان نه اسم دے بیا فاء ده او بیا اسم دے دغه شان ان شرا فشرهم دے و عن الثانی قال نصب الاول و رفع الثانی الخ د دې دپاره مثال ان کان عمله خیرا فجزاءه خیر اوپه دې کښې علت ته هم اشاره اوشوه او مثال هم شو نو دا جواب عن الثالث شو بیا هغه علة دادے چه خیرا منصوب دے ځکه دا خبر دے دکان محذوفه سره د اسم محذوفه نه او شر ځکه مرفوع دے چه داخبر د مبتداء دے او قرینه په نفس حذفیة باندې نصب دے او په تعین د محذوف باندې دا دخول د ان دے په اسم باندې جواب عن الرابع هم اوشو چه علت څه دے. وهی اقواها دا قوی ده ځکه په دې کښې قلت حذف دے ځکه په جانب د شرط کښې کان سره د اسم نه حذف شوی دے او په جانب د جزاء کښې صرف مبتداء حذف ده دا جواب عن الخامس شو.

﴿و نصبهما لکه ان کان عمله خیرا کان جزاءه خیرا الخ﴾ دواړه منصوب دي ځکه خبر دکان دي و رفعهما لکه ان کان فی عمله خیر فجزاءه خیر علت هم معلوم دے چه اول خبر به مرفوع شی ځکه اسم دکان دے او دویم خبر د مبتداء دے و عکس الاول لکه ان کان فی عمله خیر فکان جزاءه خیرا دا ټول صورتونه په اعتبار د قوة او ضعف سره درې قسمه دي او دابه اعتبار د قلة حذف او کثرة حذف سره دي یعنی چه کوم کښې حذف لږ نو قوی او کله نو بیا ضعیف او کمزوری دے نو اول قسم داچه قوی وی نو هغه اول صورت دے ځکه قلة حذف دے یکښې په جانب د شرط کښې حذف دکان او د اسم دهغې دے او جانب د جزاء کښې صرف مبتداء حذف ده دویم قسم متوسط دے بیا هغه دا دویم او دریم صورت دے ځکه حذف پکښې متوسط دے په دې شان سره چه دویم مثال کښې په جانب د شرط کښې یو کان دے دویم اسم د دې اوپه جانب د جزاء کښې هم دا دوه دي او دریم مثال کښې په جانب

د شرط کښې یو کان دے دویم جار دریم مجرور اوپه جانب د جزاء کښې صرف مبتداء ده او دریم قسم چه ادنی دے نو هغه دا خلورم صورة دے دې کښې کثرة حذف دے په دې شان سره چه په جانب د شرط کښې یو کان دویم جار دریم مجرور او په جانب د جزاء کښې هم یو کان دویم اسم د دې و یجب الحذف هر کله چه فارغ شو مصنف د حذف جوازی نه نو شروع ئې اوکړه په حذف وجوبي باندې ښکه ترقی کوی د ادنی نه اعلی ته فقال و یجب الحذف .

سوال: دلته قد یجب ولې نه وائی؟

جواب: دا یجب په یحذف باندې عطف دے او ما قبل د معطوف اله معاد وی په معطوف کښېنو قد یجب شو ای حذف عامله اشاره ده چه الحذف کښې الف"لام"عوض د مضاف الیه نه دے فی مثل دا ورله موضع بیانوی چه دا حذف په اما انت منطلقا انطلقت کښې دے.

سوال: دا خو بیا جزی مثال دے او قواعد د فن کلی دې .

جواب: په مثل سره مُصدَّر دے نو کلیة ته اشاره ده نو مراد هر هغه ترکیب دے چه په اول دهغې کښې لفظ اما راغلی وی او روستو ترینه ضمیر منفصل راغلی وی او روستو ترینه اسم راغلی وی لکه اما انت منطلقا انطلقت یا اما هو ذاهبا ذهبت یا اما هو اکلا اکلت ډیر امثله ترینه جوړیږی ای لان کنت الخ دا ورله اصل بیانوی چه دا اصل کښې لان کنت منطلقا انطلقت وو حذفت اللام دا شارح پوره تفصیل کوی چه"لام"حذف شو قیاسا ښکه ان سره حذف دلام جاره قیاسی دے بیا دا کان هم دپاره د اختصار حذف شو نو ضمیر متصل پاتې شو او ما یتصل حذف شو نو دا منفصل شو ښکه تعذر د متصل راغلو او بیا لفظ دما پس دان نه زائده شوه دپاره د عوض دکان نه نو ان ما انت شو نو دانون په دې میم کښې داخل شو ښکه قریب المخرج دې نو اما شو او خبر باقی پاتې شو نو اما انت منطلقا انطلقت شو معنی داده چه ښکه چه ته تلونکې وې نو زه هم لاړم داتفصیل په مذهب د صریانو دے په دې سره دفع د سوال اوشوه چه مخکښې مثال هم د حذف دکان وو او دا مثال هم د حذف دکان دے نو ماتن مخکښې تقدیر راونه باسو او دلته راوباسو دا ولې؟

جواب: هلته څه اختلاف نه وو او دلته اختلاف دے نو اظهار د بصرینو د مذهب کوی او کوفیان دا ان نه وائی بلکه بالکسر ئې وائی ان نوکوفیان په دې او مخکښې کښې فرق نه کوی

دومره خبره ده چه هلته حذف دلام نه وو او دلته دے و اقتصر دفع د سوال ده چه د بصريانو مذهب دي فقط ولي راواخستو؟

جواب:مذهب د بصريانو اشهر وو نو ځکه ئې راواخستلو.

اسم ان و اخواتها

اسم ان و اخواتها ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د نهمه منصوباتو نه چه پنځه مفاعیل وو او درې ملحقات وو او يو خبر دكان و اخواتها وو نو شروع ئې اوكړه په تفصیل د لسم قسم منصوب باندې چه هغه اسم د ان و اخواتها دے نفس تفصيل د وجه دما مر نه كوى او تفصيل دې مقام كښې ځكه كوى يعنى د خبر دكان و اخواتها نه ئې روستو كړو ځكه د دې دهغې سره مناسبة دے هغه داچه د ان او اخواتها چه رفع او نصب وركوى نو د وجى د مشابهة نه د فعل متعدى سره لكه څنګه چه كان او اخوات دكان ته عمل كوى نو مشابهة د ان او اخواتها د فعل سره بلا واسطه دے او كان او اخواتها هم افعال دي نو د دي نه ځكه روستو كړو او دا المنصوب بلا التى لنفى الجنس او د خبر دما ولا المشبهتين نه ئې ځكه مقدم كړو چه د ان و اخواتها مشابهة د فعل سره بلا واسطه دے او دلا لنفى الجنس او ما ولا المشبهتين مشابهة د افعال سره بالواسطه دے نو هغه مشابهة چه بغير د واسطه نه وى دا مقدم وى په هغه چه بلا واسطه وى نو ځكه ئې مقدم كړو. او تفصيل داسى كوى چه يو به تعريف اوكړى هو المسند اليه سره او دويم وضاحة بالمثال به ورله اوكړى مثل ان زيدا قائم سره او بيا دا تفصيل دلته هم دے چه د دې نوم څه دے او د دې مقدار څومره دے او دائوم ورته ولى وائى او د دې عمل څه دے او د دې مدخول څه دے؟ دا ټولى پنځه خبرى دي او شارح وائى و ستعرفها في قسم الحرف ان شاء الله تعالى نو هلته به تفصيله وى. هو المسند اليه دا تعريف چه داهر هغه مسند اليه دے پس د دخول د ان او دهر واحد د دې نه اى بعد دخول ان او احدى اخواتها غرض د شارح تعين د مرجع كوى دپاره د ضمير د اخواتها او بيا د ان نه روستو كلمه د او ذكر كوى اشاره دي نه ده چه دخول د ټول معانه دے مراد بلكه ان يا اخواتها او احدى لفظ ئې زيات كړو اشاره ده دي خبرى ته چه دخول د اخوات هم معا نه دے مراد بلكه يو د اخوات مراد دے ان زيد الخ دا شو مثال.

سوال:دا تعریف د دخول د غیر نه مانع نه دے داخلیږی پکښ ابوه په دې ترکیب کښ چه ان زیدا بوه قائم ځکه ابوه بعد د ان نه مسند الیه دے او دې ته خو څوك اسم د ان نه وائی بلکه دې مجموعه ته اسم وائی.

جواب: شارح وائی چه و بما عرفت نو خبره خلاصه ده مخکښ خبره تیره شوی ده چه ددے نه ځلور جوابات وو. المنصوب بلا التی لنفی الجنس اجمالی خبری د دې عنوان (۱) ربط د ما سبق سره (۲) د دې عنوان وضاحة (۳) تعریف د منصوب بلا التی لنفی الجنس (٤) شرائط د دې (٥) وضاحة بالمثال (٦) تفریعات (۷) دفع د بعض اعتراضاتو (۸) ذکر د بعض احکامو (۹) ذکر د توابعو (۱۰) ذکر د یو حکم کلی په اخر کښ.

ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل د لسو اقسامو د منصوباتو نه نو شروع ئی اوکړه په یولسم قسم منصوب کښ چه المنصوب بلا التی لنفی الجنس دے ډ ری سوالات رامخی ته شول (۱) نفس تفصیل ولی کوی؟ (۲) تفصیل دې مقام کښ ولی کوی؟ (۳) څنګه تفصیل کوی؟ نو جوابات بالترتیب دادی چه نفس تفصیل د وجی د ما مر نه کوی او تفصیل په دې مقام کښ ځکه کوی چه داپه نسبة سره ما قبل ته قلیل او په نسبة سره ما بعد ته کثیر وو بیا تفصیل داسی دے د دې خبری چه د دې لا التی لنفی الجنس د ان سره تعلق دے هغه داچه د لا التی لنفی الجنس چه د فعل سره مشابهة ساق نو داپه واسطه د ان سره دے دواړه دپاره د تاکید راځی خو ان دپاره د تاکید د اثبات او دلا دپاره د تاکید د نفی یعنی حمل النقیض علی النقیض نو چه دا د ان سره متعلق شو نو که مونږ خبر د ما ولا مقدم کړے وی نو فصل راتلو په درمیان د محمول او محمول علیه کښې چه دابه نه دے او بیا مو دا ان ځکه مقدم کړو.چه هغه محمول علیه دے او محمول علیه اصل.وی. او اصل مقدم وی طبعا او وضعا هم شو او تفصیل داسی کوی چه یو به دیو ولسم قسم منصوب تعیین اوکړی

المنصوب بلا التی لنفی الجنس

د المنصوب بلا التی لنفی الجنس سره دویم دهغی تعریف به اوکړی هو المسند بعد دخولها سره دریم دهغی شرائط به ذکر کړی د یلیها نکرة مضافا سره څلورم مثال به ورله پیش کړی مثل لاغلام رجل سره پنځم تفریع به اوکړی په عدم د شرائطو فان کان مفردا سره شپږم دفع اعتراضاتو به اوکړی و بنحو قضیة ولا أباحسن لها سره اووم بعض احکام به ذکر کړی و اذا

دخلت والهمزه سره اتم توابع د دي په ذکر کري و نعت المبنی سره تهم تفریع نه اوکړی په ما قبل باندې ومن ثم لم یجز سره اولسم حکم عدمی په بیان کړی و بحذف کثیرا سره.

ربط لفظی دلته هم هغه تراکیب ثلاثه دی.

تشریح او وضاحة د دې عنوان:نو د عنوان تشریح دوه قسمه ده یو لفظی چه ترکیب دے نو الف"لام"په المنصوب کښ اسمی دے تعبیر قرینه په الذی سره کیږی او د منصوب نه تعبیر په فعل ماضی مجهول سره کیږی بلا دا باء حرف جر دے لا موصوف دے التی موصول او خادمة والا واتي صله ئی حذف ده چه استعملوها فی محاوراتهم نو موصول سره د صله نه صفة اول شو دیاره د لا او لنفی الجنس"لام"حرف جر او نفی مضاف او الجنس مضاف الیه نو مضاف او مضاف الیه مجرور د حرف جر نو دا ظرف مستقر تعلق نیوی تر الکائنة مقدر پسی نو الکائنة صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښ فاعل نو اسم فاعل سره د فاعل او متعلق نه شبه جمله صفة ثانی شو دیاره د لا نو لا موصوف سره د صفتینو نه مجرور د حرف جر باء نو جار سره د مجرور ظرف لغوی تعلق نیوی تر منصوب پوری نو تقدیر د عبارت به شی الذی نصب بلا التی استعملوها فی محاوراتهم الکائنة لنفی الجنس هو المسند الیه.

دویم تشریح معنوی ده نو دا شارح کوی نو واق ای لنفی صفة الجنس غرض د شارح دفع د سوال ده چه د منصوب دلا نه تعبیر په التی لنفی الجنس سره صحیح ندے ځکه روستو مثال دادے چه لا غلام رجل ظریف نو هلته خو نفی د ظرافة شوی ده نه نفی د جنس نو عنوان لنفی الجنس دے او مثال نفی د صفة د جنس دے نو مطابقة رانغلو.

جواب:دا عبارت په حذف د مضاف دے ای لنفی صفة الجنس.

سوال: نو بیا ماتن دامی ولی نه واق؟

جواب: اکثر او بیشتر خبر دلا التی لنفی الجنس دافعال عامه نه واقع کیږی او افعال عامه دلالت کوی په نفی د جنس باندې او افعال خاصه کم واقع کیږی چه دلالت په نفی د صفة د جنس کوی نو اکثر لره ئی اعتبار ورکړے دے.

"و اما لم یقل" غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د بل سوال ده چه تا چه کوم اقسام د مرفوعاتو او منصوباتو ذکر کړل نو دهغی نه تا تعبیر په نوم دهغه منصوب او مرفوع کړے

دے لکه خبر کان .. خبر ماولا المشبهتین بلیس وغیره نو په دي عنوان کښې ماتن ولې خلاف کوی د دغه نظائرو نه موافقة ولی نه کوی چه مخالفة کوی؟

جواب: اسم لاء لنفی الجنس دلته ځکه ماتن او نه وی چه کوم اسم د دې راځی نو دائه ټول منصوب دي او نه اکثر منصوب دي نو اطلاق د اسم خو هغه وخت کیږی چه یا ټول منصوب وی او یا اکثر منصوب وی نو اطلاق پرې نه حقیقة کیږی او نه مجازا نو ځکه ئې المنصوب بلا التی اوی په خلاف د هغه نورو بابندی.

بیا تفصیل داده چه اسم دلاء لنفی الجنس دری قسمه راځی یو قسم منصوب دے دویم مبنی بر فتح دے دریم مرفوع نو صرف یو پکښې منصوب دے نه ټول منصوب دی چه اطلاق پرې حقیقة اوشی او نه اکثر چه اطلاق پرې مجازا اوشي ولا یبعد ان یقال دلته چا اعتراض کړے دے او چا جواب کړے دے نو شارح پرې رد کوی اعتراض داده چه دا منصوب پکښې کم او اقل نه دي ځکه چه اسم مبنی بر فتح هم منصوب دے نو دا دوه شول او دوه په دریو کښې اکثر دي.

جواب: کوم اسم چه مبنی بر فتح دے نو دا منصوب لدے ځکه منصوب هغه دے چه نصب پکښې یا لفظا وی او یا تقدیرا نو اقل شو. نو شارح په دي جواب بانديې رد کوی چه دا تاته چا داسی خبره کړی ده چه منصوب لفظا او تقدیرا وی فقط بلکه منصوب محلا هم وی.

سوال: نو چه محلا هم منصوب شو نو داخو بیا هغه سوال پیدا شو چه اسم دلا منصوب اکثر شول.

جواب: بحث د معرب دے او هغه مبنی وی نو ځکه تعبیر په المنصوب بلا التی لنفی الجنس اوشو.

تعریف د منصوب بلا التی لنفی الجنس:نو داماتن کړے دے چه هو المسند الیه هو په منزله د جنس دے المسند الیه په منزله د فصل دے هغه منصوبات خارج شول چه مسند وی نه مسند الیه او بعد دخولها هم په منزله د فصل دے دي سره هغه منصوبات خارج شول چه مسند الیه وی خو پس د دخول د لا نه نه وی خرج په مثل ابوه فی الاغلام الخ دا هغه سوال او جواب دے کوم چه په تفصیل سره تیر شوی دے و هذا القدر کاف غرض د شارح په دي عبارت یو تمهید دے روستو متن ته دویم دهغې متن د ما قبل سره ربط بیانول

دې دریم دفع د سوال ده چه تعریف دپاره د جامعیة او مانعیة وی نو هغه المسند الیه بعد دخولها سره تعریف جامع مانع اوشو نو یلیها نکرة مضافا او مشبها به مستدرك دی.

جواب: دا مستدرك نه دې ځکه یو منصوب دلا التی لنفی الجنس دے او بل اسم دلا التی لنفی الجنس دے نو هو المسند الیه الخ تعریف د اسم دلا التی لنفی الجنس دے او دهغه منصوب تعریف نه دے تمام شوی نو هغه دې شرائطو سره تمام کیږی نو دا تعریف د المنصوب بلا التی لنفی الجنس شو ځکه شارح وائي ارادحد المنصوب منه اراده نی اوکړه د تعریف د منصوب د اسم دلا نه.

شرائط: نو دا ماتن بیانوی یلیها نکرة مضافا او مشبها به نو دری شرائط دي یو داچه دا اسم دلا روستو دلانه متصل بلا فصل وی دویم دا چه نکره به وی دریم مضاف یا شبه مضاف وی یلیها به ځکه وی چه دا لا به عمل کښ ضعیف ده متصل کښ عمل کوی نه په منفصل کښ او نکره به ځکه وی چه دا لا راځی دپاره د عموم د نفی او عموم په نکره کښ وی نه په معرفه کښ او مضاف شبه مضاف به ځکه وی چه چونکه دا اسم دلا متضمن وی معنی د من لره او داخو د وجوه د بناء نه یو وجه ده چه یو اسم متضمن وی معنی د حرف لره نو دابه مبنی وی نو مونږ پکښ اضافة او شبه اضافة شرط کړو ځکه متضمن کیدل معنی د من لره تقاضا د بناء کوی او اضافة و شبهة تقاضا داعراب کوی نو دې درمیان کښ تعارض راغلو او اذا تعارض الدلیلان ولا ترجیح لاحدهما تساقطا نو مونږ معرب کړو ولی چه اصل په دې کښ اعراب وو ځکه اسم دے او اصل په اسماء کښې اعراب دے یلیها ای یلی المسند اله غرض د شارح په دې عبارت داخبره کوی چه یلیها کښ دوه ضمائر دي یو ضمیر مرفوع فاعل چه راجع دے مسند الیه ته او دویم ضمیر منصوب د مفعول چه راجع دے لفظ د لا ته ای یقع بعدها دا د یلی معنی کوی مشبها به ای بالمضاف دا تعیین د مرجع شو نو اوس شبه مضاف مشبه ده او مضاف مشبه به او وجه د شبه شارح وائی چه فی تعلقه بشئ هو من تمام معناه یعنی ځنګه چه مضاف بغیر د مضاف الیه نه نه تمامیږی نو داسی دا شبه مضاف هم دے چه دا بغیر د دې متعلق نه نه تمامیږی لکه عشرین درهما شو عشرین په درهم باندې تمامیږی هذه احوال مترادفة غرض د شارح په دې عبارت سره یو د یلیها نکرة مضافا او مشبها به دپاره اعراب بیانوی چه دا احوال دي او دویم دفع د سوال ده چه دا یلیها نکرة مضافا به نه دپاره د مسند الیه صفة وائی حالانکه دې کښ مطابقة نشته په تعریف کښ.

جواب: دا صفات نه وايم احوال دي نو چه دا احوال شو نو سوال د چا نه احوال دي او څنګه احوال دي؟

جواب: دا د ضمير مجرور نه احوال دي چه المسند اليه كښ دے او دا احوال مترادفه دي يعنى ديو ذو الحال نه كثير احوال راغلى دي مترادفه د ترادف نه دے چه ركوب احد خلف الاخر ته وائى نو دا احوال هم ديو ذو الحال نه پس يو بل پسې سواره وى. او الاولى منه يعنى دا يليها حال دے د ضمير مجرور د اليه نه او يا د ضمير د دخولها چه چاته راجع دے نو دهغى نه حال دے او دا ما بقى نكرة او مضافا او مشبه به حال شى د ضمير مرفوع د يلى نه چه عبارت دے د مسند اليه نه نو په دي تركيب سره به معنى داشى چه په حال كون د دغه اسم كښ چه روستو متصل واقع وى لا نه او په حال كون د دغه اسم كښ چه نكره به وى او په حال كون د دغه اسم كښ چه مضاف يا شبه مضاف به وى

وضاحة بالمثال: مثل لا غلام رجل او لا عشرين درهما مثال لما يليها غرض د شارح يو تعين د ممثل كول دي دپاره د مثال او دويم تطبيق د مثال كوى د ممثل سره او دريم دفع د سوال ده چه مثال دپاره د وضاحة د ممثل وى نو يو مثال كافى وو كنه ددوه ؤ ته څه ضرورت دے؟

جواب: تعدد د امثلو بناء دے په تعدد د ممثلاتو نو يو مثال د هغه دے چه مضاف وى او دويم دپاره د شبه مضاف دے و فى بعض النسخ غرض د شارح دومه نسخه بيانوى چه بعض نسخ كښ لا غلام رجل ظريف فيها دے نو پهد ى سوال راځى چه دا دفيها ولى ذكر كوى؟ ظريف كافى وو كنه .

جواب: دا دپاره د دي چه كذب لازم نه شى ځكه غلام ظريف خو شته دے خو ظرافة پكښ به دے كور كښي نشته دے. (٢) دي كښ اشاره ده دي خبرى ته چه خبر دلا ظرف او غير ظرف دواړه راتلى شى و قوله لك على النسخ المشهورة دا دفع د سوال ده په دي موجوده نسخ باندي يو سوال راځى هغه داچه هر كله تا لا غلام رجل اوى نو غلام رجل اسم دپاره دلا شو خو خبر ورله نشته دے .

جواب: دا لك چه دلا عشرين درهما سره دے او دهغى تتمه ده نو دا د اول مثال دپاره هم تتمه ده نو دواړه مثاله بلا خبر نه دى.

سوال: داتى د اول مثال سره ولى ذكر نه كړو؟

جواب: عام په عرف کښې لا غلام رجل لك نه شی وئیلی نو ځکه دهغې سره ذکر نه کړونو دا په حذف د خبر سره شو نو یو مثال دهغه چه خبر ئې مذکور وی او دویم د هغه چه خبر ئې محذوف وی

سوال: نو دا مثال چه خبر ئې محذوف دے دائې ولې مقدم کړو په دې بل باندې جواب عام طور سره خبر دلا د افعال عامه نه وی او هغه حذف وی اکثر نو دا حذف الخبر مثال کثیر دے او کثیر خو مقدم وی په قلیل باندې فان کان مفردا دا تفریع ده په عدم د شرائطو باندې اووای که دا اسم دلا مفرد وی نو دابه مبنی وی په هغه حرف او حرکت چه منصوب کولی شی دغه اسم دلا په دې باندې مخکښې د دخول دلا نه په دې باندې شارح د کان د ضمیر مرجع متعین کوی.

سوال: تا اوی چه مفرد وی نو مبنی علی ما ینصب به به وی نو لا حول ولا قوة الا بالله مفرد دے او پنځه وجوه دې پکښې.

جواب: مراد د مفرد نه بلا تکرار دے او دا مفرد دے مع التکرار .

سوال: نو ماتن خو مفرد مطلقا ذکر کړے دے تکرار والا ترینه ولې اوباسې؟

جواب: کله چه خاص په مقابله د عام کښې ذکر شی نو مراد د دغه عام نه غیر د خاص وی نو ماتن دلته مفرد عام وئیلی دے خو روستو لا حول الخ خاص وائی د دې مقابله کښې نو دا مفرد غیر د لاحول الخ دے.

سوال: په لا زید فیها اولا فیها رجل کښې خو مفرد دے او مبنی علی ما ینصب نه دے بلکه مرفوع دے

جواب: بانتفاء الشرط الا خیر فقط یعنی صرف اخیری شرط عدم کیدل مراد دې او په لازید کښې او لا فیها رجل کښې خو انتفاء د شرطینو ده او د دې حکم راروان دے و قوله علی ما ینصب به دا دفع د سوال ده چه تا اوی چه مبنی علی ما ینصب به وی نو داخو په معرب کښې وی.

جواب: جدا جدا احوال مراد دې یو حالت کښې مبنی او بل حالت کښې معرب نو مبنی به وی پس د دخول د لانه او منصوب به وی قبل الدخول هو الفتح دا هغه ما ینصب به بیانوی.

سوال: تاپه على ما ينصب به كښ ياء ما قبل مفتوح او ياء ما قبل مكسور اوی نو تا خوا وی چه مفرد به وی او داخو په تثنيه او جمع كښ راځی نه مفرد جواب و يعنی بالمفرد ما ليس بمضاف مراد د مفرد نه دلته مقابل د مضاف او شبه مضاف دے دلته څند سوالات راغلل (١) دا اسم دلا چه مفرد وی نو نفس مبنی ولی دے؟ (٢) بیا مبنی على ما ينصب به ولی دے؟ (٣) مثال ورله څه دے؟ (٤) كله چه مضاف شبه مضاف وی نو هغه به مبنی ولی نه وی؟

جوابات بالترتيب (١) و انما بنی لتضمنه يعنی دا متضمن دے معنی د حرف لره نو مبنی شو.

سوال: تاته څه پته ده چه دا متضمن دے معنی لره .

جواب: لانه جواب هل من رجل فی الدار حقيقة او تقديرا نو سوال كښ من دے او جواب مطابق د سوال سره وی نو سوال كښ من نو جواب كښ هم دے تضمنا (٢) مبنی علی ما ينصب څكه دے چه ليكون يعنی چه حالة بنائيه موافق شی د حالت اعرابيه سره (٣) ولم يبن المضاف څكه هلته به معرب وی چه دليل د بناء پكښ معارض واقع شوی دے د دليل د اعراب سره نو هغه نشی مبنی كيدلے (٤) مثال لا رجل فی الدار

﴿فان كان معرفة او مفصولا بينه و بين لا﴾ هر كله چه فارغ شو مصنف د تفريع نه په عدم د شرط ثالث هغه داچه دا اسم دلا لنفی الجنس مضاف يا شبه مضاف نه وی نو اوس تفريع كوی په عدم د شرطين او لينو باندې چه يا نكرة نه وی او يا يليها نه وی فقال فان كان شارح تعيين د مرجع د ضمير دكان كوی چه راجع دے مسند اليه ته نو چه دا مسند اليه معرفه شی نو انتفاء د شرط د نكارة به راشی او يا مفصولا بينه و بين لا شی يعنی انتفاء د شرط د يليها به راشی نو حكم ئی وجب الرفع و التكرير شو.

سوال: دلته دا او راغلی دے او دا دپاره د انفصال راځی او انفصال په دری قسمه دے يو انفصال حقيقی چه د دوو شيانو په درميان كښ اجتماع او ارتفاع دواړه ممتنع وی دويم انفصال په طريقه دمانعة الجمع چه صرف اجتماع په درميان د دوه ؤ شيانو كښی ممتنع وی نه ارتفاع دريم انفصال په طريقه د منع الخلو چه ارتفاع ممتنع وی نه اجتماع يعنی د دويم صورت عكس دے نو سوال راغئ چه دلته كوم انفصال دے؟

جواب: علی سبيل منع الخلو چه خالی والی منع وی نو ټول شپږ صورتونه پكښ جوړيږی (١) معرفه وی فقط (٢) مفصول بينه و بين لا وی فقط (٣) معرفه او مفصول دواړه وی او بيا هر

واحد د دي نه به يا مضاف وی او يا شبه مضاف نو دا دری چه دوو کښ مضروب شی نو ټول شپږ شول شارح هم دا وائی چه وهی ست صور بيا امثله شارح بيانوی موږ پکښ اجراء کوو. (١) لا زيد فی الدار ولا عمرو دا مثال دپاره د انتفاء د شرط ثانی او ثالث سره د وجود د شرط اول نه ځکه چه يليها ده خو نكرة او مضافا او مشبها به نه دے (٢) ولا غلام زيد فی الدار ولا عمرو دا مثال دپاره د انتفاء د شرط ثانی سره د وجود د شرط اول او ثالث نه ولی چه يليها هم دے او مضاف هم (٣) لا فی الدار رجل ولا امرأة دا مثال دپاره د انتفاء د شرط اول او ثالث سره د وجود د شرط ثانی نه ځکه چه يليها او مضافا او مشبها به ندے او نكرة ده(۴) . لا فی الدار غلام رجل ولا امرأة دا مثال دپاره د انتفاء د شرط اول فقط سره د وجود شرط ثانی او ثالث نه ولی چه يليها نه دے او نكرة او مضاف دے (٥) لا فی الدار زيد ولا عمروا دا مثال دپاره د انتفاء د شرط اول او ثانی او ثالث دے ولی چه نه يليها او نه نكرة او نه مضاف يا شبهه دے. (٦) لا فی الدار غلام زيد ولا عمروا دا مثال دپاره د انتفاء د شرط اول او ثانی دے سره د وجود د شرط ثالث نه ولی چه نه يليها دے او نه نكرة دے البته مضاف دے دا ټول شپږ صورتونه شول او حکم فی ماتن بيانوی چه وجب الرفع و التكرير شارح وائی فی جميع هذه الصور دفع دوهم کوی چه دا حکم به حرف اخيری صورت سره لگی نو وای نه ټولو سره دے او اشاره کوی چه دا وجب جزاء دپاره د ټول شرط ده.

سوال: اسم دلائنفی الجنس به ولی په مقاماتو کښ مرفوع وی.

جواب: علی الابتداء مبتداء ده اما فی المعرفة دلا لنفی الجنس چه اسم لره نصب ورکوی نو د وجی د مشابهة نه د ان سره په مبالغه د تاكيد کښ نو دا مشابهة ضعيف دے ولی يو خو داچه دا لا د ان سره مشابهة ساقی نو عمل کوی نو دا ان هم څه مستقل عمل نه کوی بلکه هغه هم د مشابهة د وجی نه عمل کوی نو بداهة کمزوری شو دويم دا چه ان دپاره د تاكيد د اثبات راځی او لا دپاره د تاكيد د نفی نو په درميان د نفی او اثبات کښ خو منافاة دے نو د دې وجه نه اثر دلا په نكرة کښ راځی ولی چه جنس نكرة کښ وی نه معرفة کښ نو اثر هم په نكرة کښ وی نه معرفه کښ او مفصول کښ هم دا خبره ده چه کله ضعيف العمل شوه نو مفصول کښ هم اثر نه کوی نو بس مرفوع به وی بناء بر ابتداء و التكرير دا دويم جزء دے د حکم ای وجب تكرير اسمع غرض د شارح په دې عبارت سره اشاره کوی چه دا التكرير عطف دے په الرفع باندې او ما قبل د معطوف عليه نه معاد وی په معطوف کښ بيا اسمه سره اشاره کوی چه په التكرير کښ الف"لام"عوض د مضاف اليه ده دے لکن لا مطلقا دا

دفع د سوال ده چه ته وائی تکریر واجب دے نو په لازید فی الدار ولا عمرو کښ خو تکرار نشته ځکه تکرار خو اعاده د لفظ اول وی او دابه هله وی چه لازید فی الدار ولا زید .

جواب: تکرار دوه قسمه دے یو تکرار شخصی دویم تکرار نوعی دلته دا دویم مراد دے ځکه زید او عمرو دیو نوع افراد دي اما فی المعرفة دا علت بیانوی چه دا تکرار ولی واجب دے نو دپاره د معرفه دوه علته بیانوی او د مفصول دپاره یو بیانوی نو مقصد دادے چه لا لنفی الجنس چه په جنس داخل شی نو هغه د دغه جنس افراد نفی کوی نو چه معرفه شوه نو جنسیة ختم شو نو افرادهم ختم شول نو تکرار به دپاره دهغی احاد او افرادو عوض شی دایوه وجه شوه دپاره د معرفه و اما فی النکرة سره دپاره د نکره بیانوی چه دا دویم علت دپاره د معرفه هم دے حاصل ئی دادے چه نکره کښ ځکه تکرار واجب دے چه موافقة راشی د جواب د سوال سره ځکه سائل سوال کښ تکرار کوی نو ځکه به جواب کښ هم تکرار واجب وی.

دفع د بعض اعتراضاتو:قال الماتن و نحو قضية ولا ابا حسن لها.

سوال: تا سو اوی چه هر کله اسم دلا معرفه وی نو وجب الرفع و التکریر نو نقض راغلو په دي ترکیب چه قضية ولا اباحسن لها نو لا دپاره ابا حسن اسم دے چه دا معرفه ده ځکه دا کنية د علی رضی الله عنه دے نو پکار ده چه دا مرفوع شی سره د تکرار نه حالانکه دا خو منصوب دے بغیر د تکرار نه.

جواب: متاول او تاویل به راشی و نحو قضية ای هذه قضية دا هذه مبتداء ده او قضية ورله خبر دے هذا جواب دخل مقدر غرض د شارح به دي عبارت سره دما قبل سره ربط بیانوی او بیا پوره تقریر د سوال کوی لان ابا حسن کنية علی رضی الله عه نو دا معرفه ده. متاول بیا دا تاویل به دوه قسمه دے یو داچه دلته مثل مضاف مقدر دے ای ولا مثل ابی حسن لها.

سوال: تا د مثل اضافة ابا حسن ته اوکړو نو اضافة د نکرے چه معرفه ته اوشی نو مضاف معرفه ځکه مضاف کله دمضاف الیه نه تعریف کسب کوی وی نو داخو بیا هغه خبره ده چه اسم دلا معرفه شوه.

جواب: فان مثلا حاصل دادے چه دا قانون په مثل او غیر کښ نښته دے بلکه دې کښ تو غل فی الابهاک دے نو په اضافة سره معرفه نه نه معرفه کیږی نو بیا نکره پاتې شو او بناویله دا دویم تاویل بیانوی چه ذکر د ابو حسن مراد قرینه فیصل دے او دا خو نکره ده

سوال: دابه کومه طریقه؟

جواب: لاستشهاره علی رضی الله عنه په دې پاندې مشهور وو کما قال و اقضاهم علی نو د علی رضی الله عنه فیصلے به ضرب المثل وی نو داشو د قبیلی د هغه لکل فرعون موسی نه سوال دې تاویلا نو کښ کوم بهتر دے؟

جواب: و یقوی هذا التاویل یعنی داسی مقاماتو کښ خلق ابو حسن وائی مثلا نو چه کله ابو حسن شو بغیر د الف"لام"نه او د تنوین سره نو دا نکره شوه نو د نصب فی صحیح دے و فی مثل لا حول ولا قوة دا دفع د بل سوال ده هغه داچه تاسو مخکښ اوی چه کله اسم دلا مفرد او نکره وی نو دابه مبنی علی ما ینصب به وی نو په لا حول ولا قوة کښ اسم دلا نکره مفرد ده او دې کښ خو خمسة اوجه دی.

جواب: هغه خبره چه مولې کړی ده نوداپه هغه مقام کښ چه تکرار پکښ نه وی او دلته خو تکرار دے نو دا دهغی د قبیلی نه نه دے بیا په دې مقام کښ چند سوالات دې (۱) د مثل د لا حول ولا قوة نه څه مراد دے (۲) ماتن خمسة اوجه اوی نو داکوم دی؟ (۳) مثال دهر واحد څه دے؟ (٤) دهری وجی دپاره علت او دلیل څه دے؟ (٥) د دې ترکیب څه دے؟

جوابات بالترتیب داذی (۱) شارح وائی ای فیما کررت یعنی مراد د دې نه هر هغه ترکیب دے چه پکښ تکرار دلا شوی وی او بل داچه دابه طریقه دعطف سره وی او بل داچه دهر لا نه روستو نکره وی او بل داچه دا نکره بلا فصله وی نو په لا حول ولا قوة کښ تکرار دلا هم دے او په عطف دے او نکره بلا فصله هم ده اوس په دې خبری سره یو بل سوال هم دفع شو هغه داچه قواعد د فن خو کلی دې او تا خو یو جزی مثال پیش کړے دے بالفاظ دیګر دلته مثل لاحول ولا قوة راغلی دے نو اضافة د مثل لا حول نه کوم اضافة وائی اضافة ظرفیه خو نه دے صحیح څکه مضاف الیه نه زمان او نه مکان دے نو اضافة لامیه او بیانیه پاتی دے نوکه اضافة لامیه مراد وی نو هلته مقصود مضاف وی نه مضاف الیه نو دا حکم مثل د لا حول ته شامل شو او لا حول قرینه خارج شو حالانکه خبره داسی نه ده بلکه دلا حول الخ هم دا حکم دے او که مراد اضافة بیانیه وی نو هلته دا مضاف او مضاف الیه شئ واحد وی

ځکه مضاف الیه د مضاف دپاره بیان وی نو بیا خو حکم صرف لا حول ولا قوة الخ ته شامل شو او لا دار ولا مکان اولا طالب ولا ' تاذ فی المدرسة اولا دینار ولا درهم وغیره ترینه خارج شول حالانکه دا حکم د دې دپاره هم دے.

جواب: اوشو چه اضافة لامیه مراد دے خو دا ذکر د قاعده دے او دلته بیا مقصود د دواړو وی نه مضاف فقط خمسة اوجه بحسب اللفظ غرض د شارح دفع د سوال ده چه تاخو اوی چه په دې کښ خمسه اوجه دې نوپه دې کښ خو نور وجوه هم راتلے شی هغه داچه کله د اسم دلا باندې دواړو ځایونو کښ فتح شی نو دې دپاره دوه مواضع دې یو داچه کوم شارح بیانوی او اول صورة دے خو دې کښ داهم کیدلے شی چه لا اول کښ دپاره د نفی د جنس شی او دویم کښ لا زائده شی او بیا هم اسم دهغی مبنی بر فتح شی ځکه لفظ دلا خو باقی دے کنه نو په فتحهما کښ دوه صورته دې دغه شان په رفعهما کښ هم څلور صورتونه جوړیږی نو دا حصر خو بیا په خمسة اوجه کښ صحیح نه شو.

جواب: بحسب اللفظ لا بحسب التوجیه دا وجوه خمسه چه مونږ وایو نو داپه اعتبار د لفظ وایو چه لفظ به ئی بدلیږی نو پکښ پنځه وجوه دې نور وجوه په اعتبار د لفظ د بدلیدلو نشته دے مثلا اول صورة چه دے چه فتحهما دے نو دې کښ دوه توجیهات و کما قلنا او باعتبار لفظ یو صورة دے ځکه چه توجیهاتو سره خو دواړو صورتونو کښ یو حال دے لفظ په کښ نه دے بدل شوی نو داپه یو توجیه سره حسابیږی نو باعتبار اللفظ پکښ خمسة دې او توجیهات پکښ بیا ډیر دې لکه بعض وائي چه ټول پکښ یولس/۱۱ توجیهات دې او بعض وائی ټول پکښ یوسل/۱۰۰ یونوی توجیهات دې او یوکم پنځوس/۴۹ پکښ صحیح دې باقی غلط الاول فتحهما دا د دویم سوال جواب دے ای لا حول ولا قوة دا د دریم سوال جواب دے علی ان تکون لا فی دا د څلورم سوال جواب دے ولا قوة عطفا علی لا حول دا د پنځم سوال جواب دے چه ترکیب دے نو داسی جوابات په دې نورو کښ هم دې بیا دې عطف کښ لږ تفصیل دے هغه دا چه یا خو دا عطف د قبیلی دعطف د مفرد نه په مفرد دے چه لا قوة عطف دے په لا حول باندې نو دا مبتداء او خبر ورله موجود دے نو تقدیر د عبارة به شی لا حول ولا قوة موجود الا بالله او دویم داچه دا د قبیلی د عطف د جملی نه دے په جمله باندې چه لا حول دپاره خبر موجود شو نو دا جمله شوه او لا قوة دپاره هم خبر موجود شو نو دا جمله په هغه بله جمله باندې عطف ده نو تقدیر د عبارت به شی چه لا حول موجود الا بالله ولا قوة موجود الا بالله.

سوال: عطف د مفرد على المفرد يكښ جائز نه دے ځکه چه لازميږي توارد د عاملينو په معمول واحد كښ او عاملين موثر وی او معمول ئې اثر وی نو توارد د موثرين مستقلينو راځي په اثر واحد كښ او دا خو ناروا ده.

جواب: د سيبويه په نزد بانډي نه راځي ځکه هغه وائي چه لا لنفی الجنس صرف اسم كښ عمل كوی او خبر كښ نه كوی بلكه خبر به مرفوع وی بناء بر خبرية البته د نورو نحاتو په نزد بانډي لا لنفی الجنس اسم او خبر دواړو كښ عمل كوی نو دهغو د طرفه نه دا جواب دے چه لا اولی اولا ثانی به شكل كښ يو شان دی نوداپه منزله د عامل واحد دی نو عاملين نه شول او توارد د هغه عاملينو ناروا دے چه دهغی صورت جدا جدا وی او د دی خو صورت يو دے نوپه منزله د واحد دی نو داجائز دی و نصب الثانی دا دوېم وجه ده شارح وائي فتح الاول دا ځکه چه ماتن نصب الثانی اوی او د اول نه ساكت پاتي شو او سكوت په معرض د بيان كښ بيان وی نو فتح د اول مراد ده مثال لا حول ولا قوة الا بالله شارح وجه او تركيب دواړه بيانوی حاصل دادے چه اول لا لنفی الجنس ده او دوېم زائده ده او دا دوېم اسم به منصوب وی حمل دے په لفظ د اول بانډي.

سوال: نو دهغی اول اسم لفظ خو مبنی بر فتح دے دا دوېم هم مبنی بر فتح كړم كنه.

جواب: لمشابهة حركته حركة الاعراب ځکه دواړه د غير د وجې نه دی او دلته هم هغه دوه تركيبه دي و الثالث فتح الاول دا درېمه وجه ده شارح علت بيانوی او تركيب كوی و الثانی معطوف على محل الاول دلته د محل نه مراد محل بعيد دے چه رفع ده بناء بر ابتداء او تركيب كښ هغه دوه وجې دي و الرابع رفعهما دا څلورمه وجه ده او رفع ځکه چه داپه جواب د سوال كښ واقع دے او سوال كښ مرفوع وُنو دلته هم مرفوع شوډ وجې د موافقة نه او د تركيب په اعتبار هغه دوه وجې دی و الخامس پنځمه وجه داده چه رفع د اول شی ځکه لا بمعنی ليس شی او ليس دپاره اسم مرفوع وی او دوېم به مبنی بر فتح شی لا لنفی الجنس ده خو دا ضعيف دے ځکه لا بمعنی ليس كم راځي ما بمعنی ليس ډير راځي خو لا نه وضعف وجه ضعف ما تن دا خبره اوكړه چه لا بمعنی ليس بانډي كول چه اسم مرفوع شی نو دا ضعيف ده نو رضی صيب داخبره كوی چه رفع د اول بغير د ضعف نه هم راتلی شی په دی شان سره چه لا به ملغاة العمل شی او د ليس په معنی به نشی نو اول به مرفوع شی بناء بر ابتداء وضعف وجه ضعف چه نسبة د ضعف شوی دے دی ته چه دا وجه ضعيف ده.

سوال: اے رضی صیب ستا دا وجه هم ضعیف ده ځکه دلا د ملغاة العمل کیدلو دپاره دوه شرطه دي يو داچه تکرار دلا به وی دویم داچه اسم دلا چه دے نو دوارو مقاماتو کښ به یکښ توافق وی او دلته دا دویم شرط مفقود دے ځکه اول مرفوع دے او دویم مبنی بر فتح دے نو دا وجه هم ضعیف ده .

جواب: دا خبره غلطه ده بلکه د لا د ملغاة کول دپاره تکرار شرط دے ....نه دا دویم شرط شارح هم دا وائی لان شرط صحة الغاءها التکریر فقط و قد حصل ههنا.

"فهذا على التوجيه" اوس په دې کښ دوه وجوه شول نو شارح دهر يو په اعتبار سره ترکيب کوی نو که مذهب د ماتن مراد وی نو بیا عطف د جمله په جمله دے او عطف د مفرد علی المفرد ناروا دے او که مذهب د رضی مراد وی نو دوارړه وجوه جائز دي و الا يلزم دا علت بیانوی چه دماتن په مذهب عطف د مفرد على المفرد ولی ناروا دے نو دائه دے صحیح ځکه که شی نو دابه لازم شی کیدل د الا بالله منصوب او مرفوع ځکه مخکښ لا بمعنی لیس خبر منصوب غواړی او دالا لنفی الجنس خبر مرفوع غواړی او داخونه شی کیدلے.او د رضی په نزد اول لا ملغاة العمل ده نو خبر مرفوع غواړی او دا دویم لا هم خبر مرفوع نو څه مسئله نشته دے که عطف د مفرد على المفرد شی دلته طبعا سوال راځی چه معنی دلا حول ولا قوة الا بالله څه ده؟

جواب: نو معنی داده چه کله عطف د مفرد على المفرد شی نو معنی به شی چه لا حول نشته دے ګرځیدل د ګناه نه ولا قوة او نشته دے طاقت په کولو د نیکئ موجود مګر په امداد د الله سره او چه عطف د جملی په جمله وی نو لا حول الا بالله نشته دے ګرځیدل د ګناه نه مګر د الله په امداد ولا قوة الا بالله او نشته دے طاقت په نیکئ مګر په امداد د الله باندی

و اذا دخلت الهمزة لم يتغير العمل غرض د مصنف په دې عبارت سره دفع ديو وهم ده چه هر کله په دې لا باندې حرف جر داخل شی نو د دې عمل ختموی لکه خلق واني وجدته بلا مال وغیره نو چه همزه پری داخل شی نو هم به ورله عمل ختموی پشان د حرف جر باندې او بل داچه همزه سره معنی کښ هم تغییر راځی نو لفظ کښ به هم تغییر راځی نو ماتن داوهم دفع کړو چه خبره داسی نه ده او عمل به ئی نه ختمیږی فقال و اذا دخلت الهمزة شارح صیب مدخول دلا بیانوی چه لا لنفی الجنس دے بیا وائی عمل لا اشاره کوی دې خبرې ته چه په العمل کښ الف"لام"عوض دے د لا نه بیا وجه داده چه دا حروف جاره ځکه عمل

باطلوی چه دا حروف جاره عامله دي او قانون دادے چه کله یو عامل په بل عامل باندي داخل شي نو لاحق د سابق عمل ختموی نو حروف جاره عامله دي نو دالا عمل باطلوی او همزه خو عامل نه دے چه عمل دلا ختم کری بیا شارح اوی ای تاثیرها دا دفع د سوال ده چه ماتن العمل مطلقا ذکر کرے دے او عمل چه مطلق ذکر شي نو مراد تریته اعراب وی نوپه لا رجل فی الدار کښ خو اعراب نشته دے ځکه اسم ئی مبنی بر فتح دے نو په دي کښ به دا حکم نه وی څه؟

جواب: تاثیر مراد دے او دا عام دے که په اعراب سره وی او یا بناء سره و معناها الاستفهام داهم دفع د وهم ده چه واهم داوهم اوکړو چه کله عمل کښ تغییر نه راولی نو په معنی کښ به هم تغییر نه راولی نو مصنف دفع د وهم اوکړه چه نه معنی کښ به تغییر وی نو یا به استفهام وی یا عرض او یا تمنی ای معنی الهمزه تعین د مرجع کوی الداخلة علی لا التی لنفی الجنس دا دفع د سوال ده چه تا همزه نه او دانګل او خبره خو دلا لنفی الجنس شروع ده نو خروج عن البحث لازم شو.

جواب: خروج د بحث نه نشته دے هم ځکه همزه مراد د کنه چه په دي لا باندي داخل دے.

سوال: تا اوی چه معانی د دي په دری وی چه یو استفهام دے او داتی معنی حقیقی ده او دویم ئی عرض ده او دریم تمنی ده او دا دوه ئی مجازی معانی دي نو دا معانی خو تاپه "واو" سره ذکر کړی دي نو جمع په حرف د جمع پشان د جمع وی بلفظ الجمع نو چه دا دری واړه معانی راشی نو داخو جمع راغله په درمیان د حقیقة او مجاز کښ چه ناروا کار دے.

جواب: شارح اوی اما داپه اما تردید په سره دي نویوه یوه معنی به وی حقیقة داتی فرق بیان کړو په درمیان د دي معانیو کښ چه استفهام دپاره همزه وضع ده نو دا ورله معنی حقیقی شوه او دا باقی دوه معانی ورله مجازی شوی.

سوال: د حقیقة نه چه صیرورة مجاز ته کیږی نو پکښ لا بدی ده د علاقی نه دلته علاقه څه ده؟

جواب: علاقه په درمیان د استفهام او عرض کښ اتحاد د سبب دے د عرض سبب هم کیدل د شئ مجهول دے او د استفهام هم دا سبب دے نو استفهام او عرض دواړه مسبب دیو سبب

دي لو ديو مسبب په ځائے بل مسبب مستعمل شوی دے او يا علاقه پکښ داده چه په استفهام او عرض دواړو کښ طلب دے او په درميان د استفهام او تمنی کښ علاقه اتحاد د معنی دے چه څنګه استفهام کښ معنی د طلب ده نو داسې په تمنی کښ هم ده نو يو لفظ مشترك د بل سره به معنی کښ دهغی په مقام باندې استعمال شوے دے.

فنقول سره امثله بيانوی ولم يذكر سيبويه غرض د شارح دفع د سوال ده چه مصنف په اکثر مسائل کښ په سيبويه پسې اتباع کوی او دا مسئله خو سيبويه نه ده بيان کړی چه حال د لا بعد د دخول د همزه نه پدی باندې پشان د حال خپل دے قبل د دخول د همزه اګرچه معنی کښ تغيير راځی نو مصنف په دې مسئله کښ د چا اتباع کړے ده.

جواب: مصنف دې مسئله کښ اتباع د سيراق کړی ده او ورسره جزولی هم دے ورد ذلك الاندلسی اندلسی صيب د دې خبری رد کړے دے چه دا خبره غلطه ده چه کله په لا باندې همزه داخل شی نوپه خپل حال دې وی بلکه دابه پس د دخول د همزه نه د هغه حروفو نه وی چه په فعل باندې داخليږی لکه ان، لو شو نو دې نه بعد به فعل وی ملفوظا يا مقدر او ما بعد اسم به د دې فعل د وجی نه منصوب وی. لکه الا زيدا تکرمه اولا ماء اشربه شو نو دا زيدا او ماء منصوب دې په ما اضمر سره خو دا خبره صحيح نده څکه چه دا الا بغير التشديد دے او هر چه الا مع التشديد دے نو دا حرف تخضيض دے ما بعد به ترينه منصوب وی خو دا بغير د شد نه دے نو ما بعد به منصوب نه وی.' و اما التمنی دا دريمه معنی ده سوال په درميان د عرض او تمنی کښ څه فرق دے؟

جواب: دې کښ يو فرق دادے چه عرض تقاضا د مخاطب کوی او تمنی تقاضا د مخاطب نه کوی دويم داچه عرض کښ طلب وی په طريقه د رفق سره په خلاف د تمنی باندې چه داپکښ ضروری نه دے او په دې سره تبعا فرق په درميان د ترجی او تمنی کښ چه د تمنی استعمال عام دے په ممکناتو او غير ممکناتو دواړو کښ راځی او ترجی صرف په ممکناتو کښ استعماليږی او بل داچه ترجی په محبوب او غير محبوب دواړو کښ راځی او تمنی صرف په محبوب کښ و اما قوله غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه مصنف اوئ چه کله همزه داخل شی په لا لنفی الجنس باندې نو تغيير نه راولی نو نقض راغئ په دې شعر باندی،

الا رجلا جزاه الله خيرا   يدل على مُحصّلة تبيتُ

ترجل لِمّي و تُقِمّ بَيقى   و اعطيها الاتاوة اذ رضيتُ

محل د اعتراض پکښ الا رجلا دے چه لا پرې داخله ده او همزه ورله عمل متغير کړے دے ځکه چه بيا خو مبنی بر فتح پکار وو. دا اعتراض شو د شعر ترجمه روستو راځي فهذه عند الخليل غرض د شارح يو جواب کول دي د دي مذکور اعتراض نه حاصل ئ دادے چه هر سورګل شاه ګل نه وي يعنی هر لا د نفی الجنس نه وي بلکه دايو حرف مستقل دے چه حرف تحضيض دے.

سوال: نو الا حرف تحضيض خوپه فعل داخليږي او دا رجلا خو اسم دے.

جواب: فعل ئ محذوف دے اصل کښ الا ترونني دے په معنی د هلا تروننی چه تاسو ولې نه ګټرې مالره سرې او يا نه بنائی ماته سرې.

سوال: نو الا حرف تحضيض خو مشدد وي او دا خو مخفف دے.

جواب: دا تخفيف پکښ د ضرورة شعری د وجی نه راغلی دے و عند يونس لا التی غرض د شارح په د ی عبارت سره دويم جواب کول دي د دي شعر نه حاصل ئ دادے چه دا لا دپاره د نفی الجنس ده او همزه پرې داخل دے.

سوال: نو پکار ده چه بيا الا رجل وی مبنی بر فتح وی او دا خو منصوب دے جواب فکان القياس حاصل دادے دا تنوين د ضرورة شعری د وجی نه راغلی دے نو دا مبنی بر فتح دے اوس هم.

اوس معنی دهغه شعر الا رجلا کاش چه وی يو سړئ الله دي هغه لره د خير بدله ورکړی يدل ګلی محصلة او ما ته ئ ښودنه کړی وی په داسی زنانه چه هغه د کانوا نه ملغلری راالوچتوی نيت چه ددی رجل (شاعر) سره شپه تيره کړی ترجل لمتی چه زماسوندےاو کمخی ګمنزه وی او زما ګور جارو کوی و اعطيها او زه ورته ورکوم رشوة چه کله زما زره راضی شی.

و نعت المبنی کله چه فارغ شوه مصنف د تفصیل د اووه خبرونه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د اتمه خبره کښ چه هغه توابع د اسم دلا لنفی الجنس دي نو د دوه ؤ توابع حکم به بیان کړی یو د نعت او دویم د عطف.

سوال: دا ولی دلته توابع ذکر کړی روستو خو ورله پوره باب دے؟

جواب: هغه توابع د دي نه جدا دي ځکه هغه په یو اعراب باندې معرب دي او دا خو په جدا جدا باندې نو په هغی باندې ئی اکتفاء اونکړه المبنی صفة دے موصوف غواړی نو هغه ورله شارح متعین کړو چه اسم دے لا نعت اسمها دا د المبنی قید فائده ده چه په دی سره احتراز دے د نعت د اسم معرب دلا نه دهغی دپاره دا حکم ندے هغه به راشی الاول شارح د دي اعراب بیانوی چه دا مرفوع دے بناء بر صفة دپاره د نعت مرفوع لا الثانی وما بعده دا د اول قید فائده ده نو دلا رجل ظریف کریم فی الدار نه احتراز دے ځکه کریم نعت دے خو اول نه دے بلکه ثانی دے نو دلته هم دا روستو حکم نه چلیږی بلکه اعراب د رفع متعین دے. مفردا منصوب دے شارح ورله علت د نصب بیانوی چه دا حال دے د ضمیر د مبنی نه چه راجع دے نعت ته او عامل د حال دپاره دا مبنی دے ځکه دا عامل دے په ذو الحال کښ او عامل د ذو الحال عامل د حال هم وی او تقدیم د عامل لفظی په حال باندې د حال جائز دے ځکه عامل لفظی قوی دے په مقدم او متاخر دواړو کښ عمل کولے شی احتراز عن دا د مفردا قید فائده ده چه دي مفردا سره احتراز اوشو د مثل د لا رجل حسن الوجه نه ځکه حسن الوجه مفرد نه دے نو دا روستو حکم پکښ نه چلیږی پلیه شارح د دي اعراب بیانوی چه مفردا د چا نه حال دے نو داهم د هغی نه حال دے او دابه حال مترادفه شی چه د مبنی د ضمیر نه یو حال مفرد اوشو دویم پلیه شو او حال متداخله هم صحیح دے چه د مبنی ضمیر ذو الحال او مفردا صیغه د اسم فاعل ضمیر پکښ راجع دے ذو الحال ته نو دا ذو الحال او پلیه قرینه حال شو بیا دا ذو الحال او حال دهغی نه حال شو او صفة مفردا دا پکښ دویم ترکیب کوی بناء په اول معنی داده چه دا نعت په حال کون د دي کښ چه نږدی وی اسم دلا ته یعنی چه واقع وی روستو دلا نه بلا فاصل او بناء په دویم معنی داده چه هسی مفرد چه واقع وی روستو د اسم دلا نه بلا فاصل احتراز داددی پلیها قید فائده ده چه دلا غلام فیها ظریف نه احتراز اوشو ځکه فیها سره فصل راغلی د نو دي دپاره هم دا روستو حکم نه دے و هذا القید غرض د شارح اعتراض دے په ماتن باندې چه ذکر کول د پلیه مونږ لره مستغنی کوی د قید د الاول نه نو دا هغی ذکر دي سره مستدرك دے ځکه د پلیه

معنی داده چه یو شی واقع وی پس د بل نه بلا فاصل نو دلته به موثر داسی وایو چه دانعت واقع وی پس د اسم دلانه بلا فاصل نو چه بلا فاصل شو نو اول شو ځکه چه بلا فاصل نه وی نو بیا اول نه دے بیا لاندی ناکټ والی و فیه لطافة هغه داچه یا اغناء دا الاول له را ولی او یا د اول قید نه.

جواب: استدراك نشته دے ځکه استدراك به هغه وخت کښ وی چه اول مستغنی کوی تالره د دویم قید نه اوچه روسته دویم قید تالره د اول قید نه مستغنی کوی نو دا بیا استدراك نه دے نو دلته الاول اول ذکر دے او دي موثر لره نه مستغنی کولو د یلیه نه اگرچه دا یلیه موثر د هغی نه مستغنی کوی نو استدراك نه شو

اوس چه کله داسی نعت راشی چه په دي دری قیوداتو پاندې مقید وی یو چه اسم دلا مبنی وی دویم داچه دا نعت مفرد وی دریم داچه دانعت یلی وی او دانعة او منعوت چه اسم دلا دے هغه مبنی وی نو په دې تابع کښ دری وجوه ونیل جائز دي چه مبنی و معرب رفعا و نصبا لکه لا رجل ظریف ظریفا دلته دا ظریف نعت دا اسم دلا دے چه د اسم دلا مبنی دے او دانعت اول هم دے او مزد او یلیه هم دے نو بناء په فتح ئی هم جائز ده او معرب په رفع او نصب ئی هم جائز دے او بیا دا بناء ځکه چه حملا علی المنعوت په هغی حمل دے د وجی د اتحاد نه په درمیان د دي منعوت او نعت کښ او د وجی د اتصال نه نو چه هر کله دي کښ اتحاد او اتصال دے نو گویا چه دلا په دي نعت هم داخله ده ځنگه چه په منعوت داخله شوی ده نو چه په ظریف داخل شوه نو مبنی بر فتح ئی کړو توجه النفی دا دویمه وجه ده چه دا نعت قید د منعوت دے او کله چه نفی داخل شی په یو شی چه په یو قید پاندي مقید وی نو دا نفی دواړو ته متوجه کیږی نو دلته هم گویا چه دالا په دي قید پاندې داخله شوه نو هغه ئی مبنی علی الفتح کړو و المبنی فی قوله غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا ترکیب دلاماء باردا چه دے نو دلته داباردا نعت دماء دے او په دي باردا کښ ټول شرائط شته دے چه دا دویم ماء مبنی علی الفتح دے نو دا باردا هم اول دے او هم مفرد دے او هم یلیه دے حالانکه تاسو ورله دا حکم نه ورکوئ.

جواب: زمونږ مراد د اسم دلا نه هغه دے چه مبنی علی الفتح بالاصالة وی او دلته دا ماء ثانی مبنی علی الفتح دے خو بالتبعیة نه بالاصالة ځکه دا تاکید دے د ماء اول نو د دي د نعت دپاره دا حکم ندے

سوال: نو دا باردا دماء اول دپاره نعت کرم او ماء اول خو مبنى على الفتح بالاصالة دے کنه؟

جواب: ولو جعل يعنى بيا پکښ يو شرط مفقود گرځى چه يليه وے بيا پکښ فصل راځى و معرب دا دويم حکم دے لان الاصل دا ورله شارح وجه بيانوى چه معرب ځکه دے چه دا تابع دے او اصل په تبعية کښې داده چه تابع د متبوع په اعراب کښ وى نه په بناء کښ نو معرب ځکه شو بيا پکښ رفع هم جائز ده ځکه حملا على محله البعيد ځکه دا اسم د لا اصل کښ مبتداء وى او دالاء نو انسخ د مبتداء نه ده او مبتداء خو مرفوع وى نو دا به هم مرفوع وى او نصب هم جائز دے ولى چه حملا على اللفظ يعنى دا منعوت چه مفتوح دے نو دا د لا وجى نه گرځيدلے دے او کومه فتح چه د غير د وجى نه راشى نو دا مشابه ده د اعراب سره ځکه هغه هم د عامل د وجى نه وى نو هلته مبنى على الفتح شو او ما بعد به منصوب وى چه دا دهغى سره يو شان شى او على محله القريب محل قريب داچه اسم دلا وى منصوب خو دلته د افراد د وجى نه دا مبنى شو اصل اعراب ئې نصب دے و الا فالاعراب اى وان لم يکن دلته هغه مخکښ خبره ده تفصيلا چه شرط وغيره دي فالاعراب اى فحکمه دا دفع د سوال ده چه فالاعراب جزاء ده او جزاء جمله وى نو فالاعراب خو جمله نده .

جواب: داپه حذف د مبتداء سره دے بيا غرض د ماتن دا خبره ده چه هر کله پکښ دا شرائط نه وى نو يا به مرفوع وى او يا به منصوب وى بناء په حمل د محل بعيد چه رفع ده او محل قريب چه نصب دے او د دي امثله په فوائد د قيوداتو کښ تير شول .

العطف باالحرف

والعطف هر کله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د يوتابع نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د دويم تابع کښ چه عطف بالحرف دے فقال و العطف شارح واتى على اسم لا المبنى دا دفع د سوال ده چه هر کله د عطف صله کښ على راشى نو مدخول د على معطوف عليه وى او دلته خو مدخول د على لفظ او محل دے او لفظ چه مقابل د محل راشى نو مراد ترينه هياة وى او هياة خو فقط معطوف عليه نه واقع کيرى بلکه هياة مع الماده معطوف عليه واقع کيرى نو دا عبارت د والعطف على اللفظ و المحل وتيل ناروا شو.

جواب: و العطف على اسم لا حاصل دادے چه معطوف عليه دلته اسم دلا دے او على اللفظ و المحل صله د ان يحمل ده. او بيا قرينه په اسم دلا اخستلو باندي بحث دے په اسم

دلا کښ او منشا د دې سوال هم معلومه شوه چه د اعلى اللفظ ظرف مستقر دے نه ظرف لغوګنے بیا دا سوال راځی.

سوال: نوپه لا غلام لك و الفرس کښ خو الفرس عطف بالحرف دے او پکښ رفع متعین ده اګر چه غلام اسم دلا دے مبنی هم دے جواب اذا کان المعطوف نکرة او الفرس معرفه ده ځکه چه په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښ موافقة پکار دے او دلته خو مخالفة راغئ ځکه اسم دلا نکره دے او دا معطوف معرفه دے.

سوال: نو په لا حول ولا قوة کښ خو دا لا قوة عطف بالحرف دے او معطوف خو نکره ده او دې کښ خو پنځه وجوه دی.

جواب: بلا تکریر لا او دلته خو لا مکرر دے نو على اللفظ دائی حکم شو چه حمل کول ئی په لفظ او محل دواړو باندې جائز دی ولا یجوز فیه البناء دا دفع د سوال ده چه دا تابع مبنی هم کړه کنه لکه چه اسم دلا دې مبنی کړے دے.

جواب: دانشی کیدلے ځکه دا مفصول دے دلا نه.

سوال: نو دا فصل چه راغلی دے نو داپه یو"واو" سره دے نو دا خو معمولی شئ دے نو دا فصل کلا فصل دے.

جواب: ولم یجعل فی حکم المتصل حاصل دادے چه دا معمولی فصل نه دے دا په ځان پسی سامان ګرځوی نو دهغی د وجی فصل دے بیا هغه سامان ورسره زیادة دلا دے احیانا لکه لا حول ولا قوة شو مثل لاب و ابنا و ابن دائی مثال دے دلته په دې ترکیب کښ اب اسم دلا دے مبنی دے او د ابن پری عطف بالحرف تابع دے نو منصوب او مرفوع دواړه جائز دے نصب چه حمل په لفظ شی او رفع چه حمل شی په محل باندی.

سوال: دا مثال چه دے نو دا نثر دے که نظم.

جواب: نظم دے د فرزدق شعر دے چه د مروان او دهغی د بچی عبد الملك صفة کوی نو پوره شعر دادے.

ولاأب وابنا مثل مروان وابنه اذهو بالمجد ارتدی و تأزرا

ترجمه داده چه هیڅ پلار او خوی نشته دے پشان د مروان پلار او دهغه د خوی عبد الملك اذ هو څکه دي مروان په شرافة سره ارتدی څادر د څان نه تاوکړی و تازرا او لنګ یعنی دي د سر نه تر ښپو پوری په شرافة کښ پټ دے و سائر التوابع ادا دفع د سوال ده چه صیبه توابع خو پنځه دي نو ته صرف ادوه ذکر کوی او نور نه ادا ولی؟

جواب: ادا نور چانه دي ذکر کړی نو زه څان لره کار نه ګورم۔

سوال: نو ته پکښ څه وائی؟

جواب: لکن ینبغی کیدے شی چه حکم دهغی پشان د حکم د توابع د منادی وی۔

سوال: نو د څان نه لګیا ئی اثبات د لغة په عقل کوی دلیل نقلی څه دے؟

جواب: کذا ذکره الاندلسی زه څه وئیلی شم اندلسی وئیلی دی۔

و مثل لا اباله و لا غلامی له غرض د مصنف په دي عبارت سره دفع د سوال ده چه مخکښ ادا قانون تیر شو چه کله اسم دلا نکره مفرده وی نو ادا مبنی وی علی ما ینصب نه نو نقض د دي قانون راغی په لا اباله ولا غلامی له باندي څکه اب اسم دے لا دے او نکره مفرد ده نو پکار وه چه مبنی بر فتح وی او غلامی اصل کښ غلامین وو نو داهم لا غلامین پکار وو چه مبنی علی ما ینصب وی حالانکه لا ابا منصوب دے او لا غلامی کښ هم نون ساقط شوی دے نو اعراب پکښ جاری شوی دے۔

جواب: تشبیها له بالمضاف حاصل دادے چه ادا ترکیب چه دے نو دي کښ مشابهة د مضاف شته دے نو ادا مشبه او مضاف مضاف الیه مشه به شو او وجه د شبه مشارکة د دي دے د مضاف سره په اصل معنی کښ چه اختصاص دے څنګه چه په مضاف، مضاف الیه کښ اختصاص وی او داضافة اصل معنی اختصاص ده نو داسی په دي تراکیبو کښ هم دلام د وجی نه اختصاص راغلی دے نو موئږ ورله څکه اعراب ورکړو شارح وائی کل ترکیب غرض د شارح دفع د سوال ده چه ادا فن دے او فن کښ قواعد کلیه وی نه جزئیه نو دلته خو ادا امثله جزئیات دی۔

جواب: دلته مثل راغلی دے چه پکښ اشاره قانون او کلیه ته وی نو هغه قانون بیا دادے چه هر ترکیب چه په هغی کښ دلا لنفی الجنس اسم نه بعد"لام"د اضافة یعنی د اختصاص

وی او په دي اسم باندي د اضافة احکام جاری شوی وی نو دهغی دا حکم نه دے بیا هغه احکام د اضافة دلته داسی جاری شوی دی چه په لا ابالة کښ ابا منصوب دے په اثبات د الف او اسماء سته کښ د اضافة سره دا حکم وی چه اعراب بالحرف وی او په لا غلامی له کښي نون ساقط شوی دے د وجی د اضافة نه اما دا حکم چه د دي اسم سره خاص دے او کنه پکښ تعمیم دے نو بعض وائی پکښ تعمیم دے مراد د دي اسم نه چه دلا لنفی الجنس دپاره دےاو روستو تربنه "لام" راغلی دے هر هغه اسم دلا دے چه د اسماء سته سره تعلق ساتی علاوه د دونه او تثنیه او جمع مذکر سره او بعض ئی د اب او اخ سره خاص وای په اسماء سته کښ او د تثنیه سره فقط .

سوال: جائز ماتن اوی نو جائز خو خلق په هغه مقام کښ وائی چه دهغی په جانب مقابل څوك په عدم جواز قائل وی داته څوك په عدم جواز په جانب مقابل کښ قائل دی.

جواب: یعنی ان الاصل حاصل دادے چه «و جائز خو هم په دغه مقام کښ راځی خو دلته هم ذهن ته دا راتله چه دا ترکیب دي جائز نه شی د وجی د هغه خبری نه چه دا مفرد معرفه ده او اسم دلا چه مفرد معرفه وی نو مبنی علی ما ینصب وی نو باید چه دا جائز نه شی او بیا هم راغلے دے تو دوئ ورته جائز اوی نو اصل عدم جواز دے او څکه خو دا په دي انداز قلیل هم دے تشبیها له ای لاسم لا دا وجه او علت دے بیا دا خبره ده چه دا ترکیب مشبه شو او مضاف مشبه به دےاو وجه د شبه ماتن ذکر کوی خو لمشارکته جار مجرور دے نو متعلق ورله شارح متعین کوی چه و ذلك التشبیه حاصل ئی دادے چه دا د مضاف سره په اصل معنی د اضافة کښ چه اختصاص دے هغی کښ شریك وو نو دهغی حکم مو ورله ورکړو بیا فرق دومره دے چه په مضاف کښ اختصاص په تقدیر دلام سره دے او په دي کښ دلته اختصاص په ذکر دلام سره دے بیا ماتن اوی ئی اصل معناه شارح د معناه د ضمیر مرجع متعین کړه او بیا شارح من حیث هو مضاف اوی دا ددی دپاره چه چاته وهم اونښی چه د دي اسم دلا مشابهة د ذات د مضاف سره دے حالانکه د ذات سره ئی مشابهة نشته بلکه اضافة مراد دے او مراد د اختصاص هم دادے دایوه توجیه شوه حاصل ئی هم دادے چه د ماتن په کلام کښ څلور ضمائر دي (۱) تشبیها له (۲) لمشارکته (۳) له (٤) اصل معناه نو اول دوه ضمائر پکښ اسم دلا ته راجع دي او اخیری دوه مضاف ته او المعنی ان مثل دا دویمه توجیه کوی چه پکښ دا اول دوه ضمائر په مثل د ترکیبنو ته راجع شی چه په اسم دلا باندي مشتمل دي او دا روستو دوه ضمائر به هم دي ترکیبنو ته راجع شی خو چه په مضاف

مشتمل دی. نو گویا چه اول کښې مضاف او اسم دلا بالذات مراد دې او دویمه کښې په ضمن د ترکیبینو کښې مراد دې شارح هم دا وائی او رجع د دواړو توجیهاتو یو ته ده چه دا اسم دلا مشابه د مضاف سره په اصل معنی کښې چه اختصاص دے ځکه چه اضافة کښې اختصاص دے نو دلته هم دے نو ځکه په دې احکام د مضاف جاری شول.

سوال: دواړو کښې اختصاص دے نو ایا په دې کښې څه فرق شته دے او کنه؟

جواب: الا ان بین الاختصاصین حاصل دادے چه هغه اختصاص چه په ترکیب اضافی کښې دے دا اتم دے ځکه چه کوم ترکیب اضافی وی نو اضافة نه پکښې خلاصی نشته دے او په دې بل کښې دا ضروری نده چه"لام"دې ورسره خامخوا ذکر شی بل داچه هلته تخصیص د اضافة د وجې نه راځی په تقدیر دلام او دلته په ذکر دلام تخصیص راغلی دے ومن ثم لم یجز دانهمه خیره ده چه په ما قبل باندې تفریع ده بیا دا قانون مونږ وئیلی دے چه کله حرف جر داخل شی په اسم اشاره باندې نو مشار الیه د اسم اشاره به علت وی دپاره د ما بعد حکم دلته د اثم اسم اشاره للمکان ده او من حرف جر پرې داخل شوی دے نو شارح به تعین د مشار الیه کوی چه علت ثابت شی دپاره د دې روستو حکم چه لم یجز دے نو وائی چه ای لا جل ان جواز مثل هذین الترکیبن چه د وجې د جواز د مثل د دې ترکیبینو نه چه لا اباله او لا غلامی له دې چه د وجې د مشابهة د غیر مضاف د مضاف سره په اصل معنی کښې چه اختصاص دے لم یجز نو نه دې جائز دا ترکیب چه لا ابا فیها ځکه چه د جواز دپاره به دا مشابه کول شی د مضاف سره نو دې کښې اضافة ناجائز دے ځکه چه لا ابا الدار وئیل ناروا دې نو چه اضافة پکښې ناروا شو چه دا مشبه به ده چه اصل دے نو مشبه پکښې په طریقه اولی ناروا دے چه دا فرع ده بیا ماتن لم یجز لا اباهیها وئیلی دے او شارح ورسره ترکیب اوی دا ځکه چه لم یجز فعل دے او لا ابا فیها جمله ده او دا فاعل دے نو فاعل جمله نه واقع کیږی نو شارح وائی چه داپه حذف د مضاف دے چه ترکیب دے نو فاعل ترکیب دے او دا مفرد دے شارح وائی ای فی الدار دا تعین کوی د ضمیر د فیها لعدم الاختصاص غرض د شارح علت بیانوی دپاره د عام جواز د دې ترکیب حاصل دادے چه دا ترکیب ځکه صحیح ندے چه دې کښې اختصاص نشته دے ځکه چه کوم اختصاص داب نه معلومیږی یو بل شئ ته نو داپه ابوة سره دې شئ ته دے نو دا اختصاص ثابت نه دے دپاره د اب په نسبة سره دار ته بلکه داپه نسبة سره ابن ته دے نو اضافة د اب دار ته ناروا شو چه دا مشبه به ده نو ځنګه به مشبه جائز شی نو دا ترکیب ناروا دے.

سوال: خوار نه شي چه مشابه بالمضاف ورته وائي لو عين مضاف ورته ولي نه وائي؟

چه وائي په لا اباله او لا غلامي له کښې اختصاص دے وغیره لګیائي خو بس وايه چه عين مضاف دے.

جواب: داسې نه شو کولی بلکه بيا معنی خرابيګی شارح هم وائي چه وليس بمضاف حقيقة حقيقة ځکه وائي چه ظاهر اخو دے ځکه احکام د مضاف پرې جاري شوی دي خو حقيقة ندے لفساد المعنی دا وراله علت دے.

سوال: په معنی کښې څه فساد دے که موتږ لا اباه موجود او يو د وجود ديو متعين اب نفی په راشي.

جواب: المراد المفاد بهما مطلق معنى نه وايم بلکه هغه معنی چه مراد ده او حاصل کړی شوی ده په دوارو تر کبينو باندې نو هغه معنی خرابيګی بيا هغه معنی چه لا اباله کښې ده نو نفی د جنس اب ده دپاره د يو کس او لا غلامی له کښې هغه معنی هم نفی د جنس غلامينو ده دپاره د يو کس لو چه اضافة حقيقي ورته اوايو نو بيا دوه نقصانه راځي يو به لازم شي نفي ديو معين اب او غلامينو د جنس نه ځکه"لام"د مينځ نه خارج شو د دي اضافة به دغه ضمير ته اوشي نو هغه خو معرفه ده او اضافة معرفه ته کسب د تعريف کوی لو معين اب او معين غلامين به مراد شي او دويم داچه دي لره بيا لا بدی ده د خبر نه ځکه اباه او غلاميه کلام خو ناقص شو لو خبر به موجود او يا ثابت شي نو مقصود دي مقام کښې نفي د اب او غلامين ده بغير د تقدير د خبر نه او دلته خو نفي راغله خو سره د تقدير د خبر نه دا دوه فساده راغلل بيا شارح دا دويم فساد اول بيانوی او دا اول دويم بيانوی. عبارت په ترجمه سره حل دے.

خلافا لسيبويه چه خبره داده خو خلاف ثابت دے سيبويه لره .

سوال: په دي خلاف کښې د سيبويه سره خليل او جمهور هم دي دا ولې ماتن نه وائي.

جواب: و الخليل و جمهور النحاة شارح وائي دايه حذف د معطوف سره دے.

سوال: نو شارح صرف تخصيص د سيبويه ولې کوی؟

جواب: و انما خص حاصل دادے چه تخصيص ئې څکه د سيبويه اوكړو چه دا مشهور دے اگرچه خليل ئې استاذ دے او لان المقصود دا دويم جواب كوى د اصل اعتراض نه چه مقصود بيان الخلاف دے او دابه ذكر د سيبويه سره كيږى فمذهب سيبويه و الخليل دا مذهب د دوى ذكر كوى چه دوى وائى چه مثل د دې تراكيبو چه دے نو پكښ اضافة حقيقى دے په اعتبار د معنى سره چه د اب اضافة دې ضمير ته شوى دے او دغه شان د غلامى هم اضافة دې ضمير ته شوى دے.

سوال: د مضاف، مضاف اليه در ميان كښ اتصال وى او دلته خو انفصال راغځ په"لام"سره.

جواب: و اتحام اللام دا زائده دے دپاره د تاكيد د"لام"مقدره و حكم المصنف لما عرفت چه هغه دوه وجى ورله موږ تفصيلا بيان كړى د فساد.

و يحذف كثيرا دې مقام نه لسمه خبره بيانوى چه حكم عدمى دے دپاره د اسم دلا پس د احكام وجوديه نه نو وجود مقدم وى او عدم موخر نو دائى څكه موخر كړو.

سوال: موږ ته خو چا وئيلى دې چه عدم مقدم وى په وجود باندې په ممكناتو كښ.

سوال: مراد د عدم نه عارضى دے چه داپس د وجود نه وى اسم لا تعين د مرجع ئې اوكړه.

سوال: دا كثيرا ولى منصوب دے؟

جواب: دا مفعول مطلق دے.

سوال: دا څنګه مفعول مطلق دے هغى كښ اشتمال شرط دے او دلته خو نشته .

جواب: دا مفعول مطلق حقيقى ندے مجازى دے او اشتمال شرط په مفعول مطلق حقيقى كښ دے ق مثل لا عليك دا موضع د حذف بيانوى .

سوال: دا خلق كوم ځائې استعمالوى؟

جواب: چه كله يو كس غلطى اوكړى او بيا معذرة پيش كوى نو هغه ورته جوابا وائى لا عليك بيا مصنف اصل بيانوى چه لا باس عليك .

سوال: دا فن دے جزى پكښ كارنه كوى قواعد كليه دې نو جزى ولى پيش كوى؟

جواب: داپه کلمه د مثل مصدّر دے نو قاعده کلیه مراد ده نو هر هغه ترکیب قرینه مراد دے چه د لا لنفی الجنس نه روستو خبر ظرف واقع شوی وی او اسم ئی حذف وی د وجی د وجود د قرینه نه.

سوال: دلته څه قرینه ده؟

جواب: قرینه حالیه ده که چه دا متکلم په هغه حال کښ وائی چه مخاطب سره یره وی د متکلم نه د وجی د یوی غلطئ نه چه ارتکاب ئی دهغی په حق د متکلم کښ کړی وی نو متکلم ورته وائی لا علیك ولا یحذف إلا مع وجود الخبر دا دفع دیو سوال ده چه دلته اسم او خبر دواړه حذف اوګنړو کنه؟

جواب: لئلا یکون اجحافا یا خو بیخ کندی د کلام راځی په حذف د مسند او مسند الیه سره

سوال: دا لا کزید دکوم قبیلی نه دے/ اسم ئی حذف دے او که خبر؟

جواب: ستا خوښه ده د الله بنده که داکاف په معنی د مثل شی نو بیا د دواړو احتمال لری کیدے شی چه اسم حذف وی او کیدے شی چه خبر حذف وی نو داپه لا مثل زید شی نو په حذف د اسم به دا لااحد مثل زید شی او په حذف د خبر به لا مثل زید موجود شی او که داکاف حرف جر شی نو دا بیا د قبیلی د حذف د اسم نه د ے ای لااحد کزید شارح هم دا خبره کوی و قولهم لا کزید الخ.

سوال: دا فرق ولی کوی چه کاف په معنی د مثل شی نو احتمال د دواړو لری او که حرف جر شی نو بیا حذف د اسم متعین دے؟

جواب: دا ځکه چه کاف په معنی د مثل شی نو اسم به وی چه احتمال د مسند او مسند الیه دواړو لری او که حرف جر شی نو بیا داپه اعتبار د متعلق سره مسند واقع کیږی نه مسند الیه نو ځکه خبر به وی نه اسم.

خبر ما ولا المشبهتین بلیس

خبر ما ولا المشبهتین بلیس دي مقام کښ اجمالی خبری دادی (۱) ربط (۲) تشریح د عنوان مختصر (۳) تعریف د خبر د ما ولا (٤) بیان د اختلاف (٥) موانع د دي د عمل نه.

ربط:معنوى ربط دادے چه كله فارغ شو مصنف ديو لسو منصوباتو د تفصيل نه نو شروع ئى اوكړه په تفصيل د دولسم قسم كښ نفس تفصيل د وجى دما مخ نه كوى او تفصيل دې مقام كښ ځكه كوى چه داپه نسبة سره ما قبل ته قليل دے او بل داپه منزله د مركب دے ځكه دې كښ اختلاف دے او هغه نور په منزله د مفرد دې ځكه بلا اختلاف دې او مفرد مقدم وى په مركب بانديې طبعا نو وضعا هم شو دپاره د موافقة او بل داچه دا ما اولا د وجى د مشابهة نه د ليس سره عمل كوى چه هغه فعل جامد دے او دې نورو چه كوم عمل كوو نو د وجى د مشابهة نه د فعل مشتقى سره او مشتقى د جامد نه اصل وو نو مشابه د مشتقى هم د مشابه د جامد نه اصل شو او اصل مقدم وى طبعا نو مقدم شو وضعا دپاره د موافقة او تفصيل داسى كوى چه يو به تعيين اوكړى د دولسم قسم منصوب د خبر ما ولا سره دويم تعريف به ورله اوكړى هو المسند سره دريم اختلاف به پكښ بيانكړى وهى لغة حجازية سره څلورم موانع د عمل به ذكر كړى و اذا زيدت سره پنځم مانع د عمل به ذكر كړى په جانب د معطوف كښ و اذا عطف عليه سره ربط لفظى خبر ما ولا الخ مبتداء او باقى خبر جمله خبريه اسميه ده .

تشريح د عنوان:نو لفظى تشريح چه تركيب دے نو خبر مضاف ما معطوف عليه و حرف لا معطوف معطوف سره د معطوف عليه نه موصوف المشبهتين صيغه د اسم مفعول ضمير پكښ نائب فاعل باء حرف جر او ليس مجرور جار مجرور متعلق د المشبهتين سره نو صيغه د اسم مفعول سره د نائب فاعل او جار او مجرور نه شبه جمله صفة دپاره د موصوف نو موصوف سره د صفة نه مضاف اليه دپاره د خبر نو مضاف سره د مضاف اليه مبتداء او باقى مانده ورله خبر دے.

تشريح: معنوى: داده چه دا مشابه د ليس سره هم لفظا دې هم معنى او هم مدخولا دې تفصيل دادے چه لفظا مشابهة دادے چه ما اولا اول مفتوح دے لكه د ليس اول چه ځنګه مفتوح دے او دغه شان د ما اولا دويم حرف ساكن دے لكه ځنګه چه د ليس دويم حرف ساكن دے او معنى مشابهة دادے چه ليس دپاره د نفى راځى نو داسى دما اولا هم دپاره د نفى راځى او مدخول كښ مشابهة دادے چه ځنګه ليس په جمله اسميه داخليږى نو داسى داما او لا هم په جمله اسميه دا خليږى.

هو المسند تعريف دے: چه دابه مسند وى پس د دخول دهر واحد دما اولا نه پيا دخول ﻫ هغه مخکښ طريقے سره مراد دے چه هغه مشهور سوال دفع شی.

بيان الاختلاف: وهى لغة حجازية د اختلاف تفصيل پوره تير شوى دے مرفوعات کښې شارح وائی ای خبرية خبر ما ولا دا تعيين د مرجع کوی د هی ضمير او دفع د سوال دے چه هی ضمير راجع دے ما اولا ته او هغه خو تثنيه ده او داخو مفرد دے.

جواب: دا ضمير خبرية ته راجع دے.

سوال: نو دا خو اضمار قبل الذکر دے؟

جواب: اضمار قبل الذکر نشته دے بلکه دا دما اولا نه معلوميږی.

سوال: شارح وائی چه دا اختلاف په خبرية او اسمية دواړو کښ دے نو اے ماتنه ته ولی تخصيص د خبرية کوی؟

جواب: و خص الخبرية حاصل دادے چه ماتن صيب ځکه تخصيص د خبرية اوکړو چه دما اولا دپاره اسم او خبر جوړول په اعتبار د خبر سره دی چه دا عمل په خبر کښ ظاهريږی په اسم کښ نه ظاهريږی که عمل ورکوی نو خبر به منصوب وی او کنه نو خبر به مرفوع وی او اسم دواړو کښ په يو حال دے نو ذکر ئی نه کړو و اما بنو تميم دا جانب مقابل دے د دی تفصيل تير شوی دے.

سوال: ته ولی دا مختاره کوی؟

جواب: "جاء عليها التنزيل" دا د قرآن موافق دے ځکه مختاره شو.

موانع د عمل دما اولا نه:و اذا زيدت ان مع ما نو موانع د عمل نه دری شيان دی يو زيادة د ان دويم نفی په الا ماته شی دريم خبر مقدم شی نو عمل به باطل وی شارح به مثال سره وضاحة کوی.

قيل دا دفع د سوال ده چه لا ولی نه ذکر کوی؟

جواب: لا سره ان نه زياتيږی د دوی په استعمال کښ په استقراء سره.

سوال: د ا ان په کوم وی؟

جواب: نه څه شئ ئي بصری ئي که کوفي؟

که بصری ئي نو بيا زائده دے او که کوفي ئي نو بيا دپاره د تاکيد د نفي دے.

"بطل العمل" "ای عمل ما" اشاره کوی چه العمل کښې الف"لام" عوض دے د مضاف اليه نه "هذه الامور الثلاثة" دا دفع د وهم ده چه دا بطل العمل به د دې اخيری سره لګی نو وای نه د ټولو موانع سره لګی اما اذا زيدت دا تفصيل کوی او علل بيانوی،

نو حاصل د کلام دادے چه کله دې سره ان زيات شی نو دغه وخت د دې عمل باطل وی څکه داپه عمل کښې ضعيف دې څکه عمل د دې د وجې د مشابهة نه دے نو په متصل کښې عمل کوی او په مفصول کښې عمل نه کوی او کله چه په الا سره نفی زائله شوه څکه الا خو د نفي اثبات کوی او د اثبات نفی کوی نو چه د دې نفي ماته شوه نو بيا هم دا عمل نه کوی څکه چه مشابهة ختم شو چه دکوم د وجې نه دې عمل کوو چه نفي ده او هر کله چه خبر د دې مقدم شی نو بيا هم دا عمل نه کوی څکه چه داپښان د رونډ انسان دې چه رونډ انسان په برابر او نيغه لاره پاندې روان وی نو تلے شی خو چه لاردې ورته بدله کړم نو بيا نشی تللی دغه شان داچه عمل کوی نوپه هغه کښې چه په ترتيب سره وی او کله چه په ترتيب کښې تغير راشی نو بيا دا عمل نه کوی څکه مونږ دا ثابته کړه چه دا ضعيف العمل دې په مرتب کښې عمل کولے شی نه په غير مرتب کښې و اذا عطف عليه بموجب هر کله چه فارغ شو د هغه موانع نه چه په اسم او خبر کښې راځی نو شروع ئي اوکړه په هغه مانع کښې چه په معطوف کښې راځی بالفاظ ديګر هر کله چه فارغ شو موانع د معطوف عليه نه نو شروع ئي اوکړه په مانع د معطوف کښې قال و اذا عطف حاصل دادے چه هر کله په خبر دما اولا باندې عطف اوشی په حرف عاطف موجب سره نو بيا به دا معطوف مرفوع وی او نصب به پری جائز نه وی شارح تعريف دموجب کوی څکه په درميان د موجب بکسر الجيم او موجب بفتح الجيم کښې تجنيس خطی دے او دموجب بفتح الجيم معنی خو دلته غير صحيح ده هو بل ولکن دا تعيين کوی دهغه عاطف چه ايجاب راولی ما زيد مقيما بل مسافر او ما عمرو قائما لکن قاعد د مثله ئي بيان کړل څکه يو د بل دے او دويم د لکن نو سوال دفع شو بيا ماتن اوی فالرفع دائي تعيين د حکم اوکړو دپاره د دې او شارح وائی ای فحکم المعطوف الرفع دا دفع د سوال ده چه فاء جزائيه ده او جزاء خو جمله وی او فالرفع مفرد دے جواب دا خبر

دے د مبتداء محذوف چه فحكم المعطوف ده نو مبتداء خبر جمله شوه شارح وائی لكونها بمنزله الا فی نقض النفی دا علت بيانوی دپاره د دې حكم

المجرورات

﴿المجرورات هو ما اشتمل الخ﴾ په دي عنوان کښ لا بدی ده د څو خبرو نه اجمالا ثم التفصیل (۱) ربط د ما قبل سره (۲) تشریح د عنوان (۳) تعریف د مجرورات (٤) اقسام د دي (٥) تفصیل د دغه اقسامو.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف په تفصیل کښ د دوو مقاصدو نه چه یو تفصیل د مرفوعاتو وو دویم تفصیل د منصوباتو وو نو اوس ئې شروع اوکړهپه تفصیل د دریم مقصود باندې چه تفصیل د مجروراتو دے دری سوالات راغلل (۱) نفس تفصیل ولی کوی؟ (۲) تفصیل دي مقام کښ ولی کوی؟ (۳) تفصیل څنګه کوی؟

جوابات بالترتیب دادی چه نفس تفصیل د وجی دما مر غیر مرة نه کوی او په دي مقام کښ څکه د مجروراتو تفصیل کوی چه مرفوعات عمده وو نو هغه ئې مقدم کړل او منصوبات او مجرورات په فضلية کښ شریك دي خو دا منصوبات بلا واسطه فضله دي او مجرورات بالواسطه دي او فضله بلا واسطه په فضله بالواسطه مقدم وی نو هغه ئې څکه مقدم کړل او بل داچه منصوبات کثیر دي او مجرورات قلیل دي او العزة للتکاثر نو و المعزز اولی بالتقدیم نو څکه ئې منصوبات مقدم کړل او تفصیل داسی کوی چه یو به تعریف د مجرورات اوکړی په هو ما اشتمل سره دویم د دغه تعریف دیو جزء تعریف به اوکړی و المضاف الیه سره دریم به تقسیم د اضافة اوکړی دوو قسمینو ته د وهی معنویه و اضافیه سره څلورم د هغی تفصیل به اوکړی د فا لمعنویة سره پنځم احکام د اضافة به بیان کړی د ولا یضاف موصوف الی صفة. ولا یضاف اسم مماثل، و اذا اضیف الاسم الصحیح سره.

ربط لفظی ددی پوره تفصیل په المرفوعات کښ تیر شوی دے.

تشریح د دي عنوان:په دي کښ یو دا المجرورات صیغه دویم معنی لغوی د دي دریم وجه د تسمیه نو المجرورات صیغه د جمع مذکر سالم ده دا غیر عاقل دے نو جمع ئې په الف تاء سره راځی او وجه د جمع هم داده چه اشاره پکښ کثرة ته ده یعنی کثرة افرادو د مجرور ته څکه چه حروف جاره یواځی او ولس/۱۷ دي نو بیا خو مجرورات ډیر زیات دی. مجرور د جر نه ماخوذ دے راښکلو ته وائی او مجرور راښکلی شوی ته وای او مصطلح مجرور ته هم څکه مجرور وائی چه دا حرف جر فعل او شبه فعل لره خپل مدخول ته راکاږی.

تعریف اصطلاحی د مجرورات: داماتن کړے دے موږ ورله جامع او مانع ترجمه کوو نو هو ادا جنس مجرور چه دلالت کوی په دې باندې د مجرورات جمع د قبیلی د دلالت د جمع نه په جنس باندې نه د قبیلی د دلالت د جمع نه په افراد یا په فرد ما هغه اسم دے اشتمل چه مشتمل وی د قبیلی د اشتمال د موصوف نه په صفة نه د قبیلی د اشتمال د کل نه په جزء یا د ظرف نه په مظروف علی علم المضاف الیه په علامه دکون د شئ مضاف الیه.

هو په منزله د جنس دے اشتمل الخ دې سره نور ټول خارج شول.

بیا ماتن هو ما اشتمل اوی او شارح وائی: "ای اسم اشتمل" غرض د شارح دفع د سوال ده. هغه داچه داما موصوله ده اوکنه موصوفه که موصوله وی نو بیا که جنس وی نو فصل پکښ نه راځی او که فصل وی نو جنس پکښ نشته دے او که دا ما موصوفه وی نو دایه عبارت وی د شئ نه نو بیا پکښ غیر داخلیږی چه په غلام زید کښ دا دال ځکه داهم یو شئ دے او په علامه د مجرور باندې مشتمل دے چه کسره د حالانکه دا دال مجرور نه دے؟

جواب: داموصوفه ده او عبارت د اسم نه ده نو دال د زید په غلام د زید کښ اسم نه دے حرف دے.

سوال: قرینه څه ده؟

جواب: قرینه په موصوفه باندې داده چه داما په جانب د خبر کښ واقع ده او خبر کښ اصل نکارت دے نو دابه هله نکره شی چه دا موصوفه شی او قرینه په دې باندې چه دا عبارت د اسم نه دے هغه داچه دا مرفوع او منصوب او مجرور اقسام د اسم دی او هر مقسم په خپلو اقسامو کښ ملحوظ وی دویم داچه دا اسم دپاره د مجرور جنس قریب دے او دا قانون دے چه په جنس قریب باندې چرته کار کیږی نو ضرورة به جنس بعید ته نشی کیدلے نو لفظ شئ کلمة ورله اجناس بعیده دی نو لا حاجة الیها.

لخرج الحروف سره وجه بیانوی چه دا ولی د اسم نه عبارت دے.

علی علم المضاف الیه ای علامة المضاف الیه تعیین د معنی د علم ئی اوکړو ځکه د علم دپاره ګنړی معانی دی او قرینه په دې باندې عدم صحة د معانیو اخری دے.

سوال: زه درته بنایم یو اسم چه علامه د مضاف الیه په یکښ وی لکه غلام زید کښ دا زید نو حالانکه دا خو په جاهی زید او رایت زیدا کښ مجرور نه دے.

جواب: من حیث هو مضاف الیه یعنی دا زه علامه د ذات د مضاف الیه دپاره نه وایم بلکه په حیثیة د دي چه دا مضاف الیه راواخلی سواء کان بالکسره دا تفصیل د دغه علامه کوی یو کسره چه داپه اسم صحیح او جمع مکسر کښ او فتح چه غیر منصوف کښ راځی او یاء دایه اسماء سته مکبره او تثنیه او جمع کښ راځی بیا داهر واحد یو لفظا ده او دویم تقدیرا نو دری چه دوه ؤ کښ مضروب شی نو شپږ اقسام شول .

سوال: تاپه مرفوعاتو او منصوباتو کښ په رفع او نصب کښ تعمیم دری اقسامو ته کړی چه لفظا، تقدیرا، محلا وو او دلته دې صرف دوه قسمه ذکر کړل محلا دې بیان نهکړو دا ولې؟

جواب: دا محلا په تقدیرا کښ داخل دے دوارړه یټ وی نو و انما قلنا اود دا خیله د دغه قید فائده بیانوی و المضاف الیه غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا تعریف د مجرور صحیح ندے ځکه جامع نه دے خارجیږی تریته مجرور په دې ترکیب کښ چه بحسبك درهم او کفی بالله کښ دا مجرور دے ځکه دا تعریف اوکړو چه مجرور هغه دے چه هغه په علامه د مضاف الیه باندې مشتمل وی او مضاف الیه خو هغه دے چه هغی ته دیو شئ نسبة شوی وی په واسطه د حرف جر نو بحسبك کښ دا حسب مجرور دے و د ځه نسبة ورته ندے شوی او بالله هم داسی دے. ځکه دوئ کښې دایاء زائده ده داسې متعلق ورله نشته چه هغه منسوب شی په واسطه دحرف الجر

جواب: شارح اوکړو چه دا تعریف شامل دے دې ته په دې شان سره چه د مضاف الیه نه عام مراد دے که مضاف الیه وی حقیقة یا مشابه وی د مضاف الیه سره نو بحسبك او بالله حقیقة مضاف الیه نه دی خو مشابه دی نو دا بحسبك او بالله مشبه او مضاف الیه حقیقة ورله مشبه به دے او وجه د شبه دخول د حرف جر دے او مجرور کیدل د مدخول .

سوال: ماتن خو علی علم المضاف الیه وئیلی دے ته یکښ دا مشابه څنګه داخلوی؟

جواب: د دې نه معنی عام مراد ده نو ځکه ورته شامل دے. ترجمه اسانه ده اوپه دې سره یو بل اعتراض هم دفع شو چه ځوك اوائی تعریف ستا صحیح نه دے ځکه اضافة لفظیه ترینه خارج شو ځکه اضافة لفظیه کښ مضاف الیه په واسطه د حرف جر نه وی .

جواب: ماتن خو تعريف دمصاف اليه خاص كړے دے خو دلته عام مراد دے لکه چه مخکښې ذکرشو نو داپه مشابهة کښې داخل دے علاوه لا دا وايو دا اضافة لفظيه عند الماتن په مضاف اليه حقيقة کښې داخل دے ځکه ماتن قائل دے په تقدير د حرف جر بانديې په اضافة لفظيه کښې.

والمضاف اليه کل اسم هر کله چه فارغ شو مصنف د تعريف د مجرور اتو نه نو اوس د تعريف ديوجزء تعريف کوی چه مضاف اليه دے او دا ځکه چه وضاحة د کل موقوف وی په وضاحة د جزء او اجزاء بانديې نو مجرور به هله پوره واضح شی چه د مضاف اليه و ضاحة اوشی فقال و المضاف اليه .

بالفاظ ديگر اقسام د مجروراتو: نو دا عند الجمهور دوه قسمه دي (۱) مجرور بحرف الجر (۲) مجرور بالاضافة خو د ماتن په نزد بانديې صرف دايو قسم دے چه مضاف اليه دے ځکه چه په درميان د جمهورو او ماتن کښې په تعريف د مضاف اليه کښې اختلاف دے ځکه ماتن صيب د مضاف اليه داسی تعريف کوی چه دي دواړو ته شامل دے او دانور نحاة داسے تعريف نه کوی.

نو ماتن وائی کل اسم الخ .

سوال: د فصاحة او بلاغة يو قانون دے چه هغه دادے چه کله يو اسم ظاهر ذکر شی اولا او بيا چه ثانيا هغه ذکر کيږی نوپه اسم ضمير سره ذکر کيږی نو تاپه تعريف د مجرورات کښې يو ځل مضاف اليه ذکر کړو نو بيا دلته ورته ضمير راجع کړم کنه بيا ولې مضاف اليه وائی.

جواب: پاره د مکمل تصريح چه متعين شی ځکه ضمير کښې احتمالات ډير وی چرته پکښې صنعة استخدام مراد نه شی او شارح وائی چه وهو ههنا نو حاصل د جوب د شارح دادے چه د مضاف اليه تعريف جمهور نحاة يو شان کوی او مصنف دهغی خلاف کړے دے نو که مونږ اکتفاء اوکړو په ضمير بانديې نو چا به دا وئيلې وو چه د ... ف دی، نورو سره په تعريف د مضاف اليه کښې اتفاق دے حالانکه دي کښې چرته اتفاق دے بيا دنورو خلقو هغه تعريف دادے چه هغو وائی کل اسم اضيف اليه اسم اخر بواسطة حرف الجر تقديرا مرادا دا حرف جر به مقدر وی او دا به مراد وی من حيث العمل و التاثير او ماتن وائی کل اسم الخ نو دی نه معلومه شوه چه د ماتن او دنورو خلقو په درميان کښې فرق په تعريف کښې دوه ځايه يو داچه نور نحاة وائی اضيف اليه اسم او ماتن وائی نسب اليه شئ نو دنورو نحاتو په

نزد باندې صرف اسم دے او د ماتن په نزد باندې عام دے شئ که هر څه وی نو د فعل نسبة چه اوشی نو د دې نوروپه نزد دې ته مضاف الیه نه وائی او د ماتن په نزد ورته مضاف الیه وائی او دویم چه هغه نور تعمیم نه کوی صرف تقدیرا وائی او ماتن پکښې تعمیم اوکړو لفظا او تقدیرا ته.

وذهب دا دفع د سوال ده چه دا تعریف ستا اے مصنفه صحیح ندے ځکه دا خلاف دے د تعریف د جمهورونه اوکوم تعریف چه د جمهور د تعریف نه خلاف وی نو هغه صحیح نه وی ځکه هغه ډیر دې او تعریف ئې مشهور وی .

جواب: خلاف د جمهور په دوه قسمه دے یو بغیر د څه تحقیق نه چه بناء وی په مشروبتوب د دې دویم چه هغه سره د تحقیق وی نه نوکه اول ناروا دے ما کړے نه دے او که دویم م کړے دے خو ناروا نه دے بیا هغه تحقیق دادے چه دا تعریف زما د سیبویه محقق سره موافق دے.

سوال: په یوم ینفع الصادقین کښ خلق وائی دایوم مضاف دے او ینفع مضاف الیه دے او دا خو اسم نه دے فعل دے.

جواب: شارح وائی حقیقة او حکما او دا ینفع حکما اسم دے شئ شارح د شئ معنی کوی مع الامثله لفظا او تقدیرا منصوب دې شارح ورله تعین د علت کوی چه دا ځکه منصوب دې چه دا خبر دپاره دکان محذوفه دې او ذالك الحرف اسم دکان شو.

سوال: لفظا او تقدیرا مصادر دے حمل ئې په اسم دکان باندې ناروا دے.

جواب: ملفوظا او مقدرا یعنی دا مصادر مبنی للمفعول دې او دامرادا هم منصوب دے نو شارح ورله علة د نصب بیانوی چه دا حال دے او چا داهم وئیلی دې چه دا خبر بعد خبر دے او شارح چه حال کون ذالك المقدر وئیلی دے نو دا حاصل د معنی بیانوی.

سوال: دفع شو چه د مرادا حال وائی ته اے مصنفه او ذو الحال ورله دا تقدیرا وائی نو دې نه دا معلومه شوه چه مصنف په مرادا سره بیان د مقدر کوی حالانکه ظاهر دا ده چه مصنف په مرادا سره بیان د حرف جر کوی.

جواب: عبد الرحمان صیب کړے دے چه دا حاصل د معنی دے من حیث العمل غرض د شارح دفع د سوال ده چه ذکر کول د مرادا پس د تقدیرا نه مستدرك دي ځکه تقدیر وئیلی شي اسقاط في اللفظ ابقاء في النية ته نو دا تقدير مراد ته شامل دے.

جواب: دا اعتراض په هله وي چه د مرادا دلته دا معنی وي حالانکه د مرادا معنی دلته حذف في اللفظ او ابقاء في النية من حيث العمل ده او تقدير كښ من حيث العمل نشته.

سوال: ستا تعريف د دخول د غير نه مانع نه دے داخل شو پكښ يوم الجمعة په دې تركيب كښ چه قمت يوم الجمعة دے ځكه يوم الجمعة ته نسبة د شئ شوی دے په واسطه د حرف جر تقديرا.

جواب: بابقاء اثره چه د حيث العمل معنی داده چه اثر دهغه باقي وي او دلته د حرف جر اثر باقي نه دے ځكه دايوم منصوب دے نه مجرور بيا شارح دری امثله بيان كړل چه غلام زيد، خاتم فضة، ضرب اليوم ځكه چه ممثلات متعدد دي بخلاف قمت يوم الجمعة په دې باندې سوال راځي چه تاسو دلته په دې تركيب كښ حرف جر مراد كوی من حيث العمل بابقاء اثره اوپه مفعول فيه او مفعول له كښ نه مراد كوی دا ولې؟

جواب: دا ځكه چه مفعول فيه اوله كښ مخكښ فعل شبه فعل ذكر وي او داپه عمل كښ قوی دي او حرف جر په عمل كښ ضعيف دے او په وخت د وجود د قوی كښ څوك ضعيف له عمل نه وركوی.

فالتقدير غرض د مصنف په دې عبارت سره دفع د دوه ؤ وهمونو ده يو وهم دادے تا مخكښ تعميم اوكړو په نسب اليه شئ سره چه شئ دي اوی چه فعل ته هم شامل دے نو چا به داوهم كړی وو چه مضاف به فعل هم وی په تقدير دحرف جر حالانكې فعل خو مضاف نه راځي تقدير د حرف جرسره دويم وهم دادے چه تا تعميم اوكړو په كل اسم سره نو دا اسم به مع التنوين هم راځي په تقدير د حرف جر سره حالانكه په تقدير د حرف جر سره خو دالسم مع التنوين نه وي نو ماتن دا وهمو نه دفع كړه چه فالتقدير چه چرته تقدير د حرف جر وي نو دهغی دپاره څه شرائط دي نه مطلقا بيا شارح اوی ای تقدير الحرف اشاره كوی دې خبری ته چه التقدير كښ الف"لام"عوضي دے.

سوال: ماتن خو التقدير مطلقا وئيلی دے شارحه نه څنګه تقدير د حرف وائي؟

جواب: مخکښ ماتن وائي چه بواسطه حرف الجر نو دهغی نه معلومه شوه.

سوال: نو په مررت بزيد ترکيب کښ د ماتن تعريف چليږی يعنی دا مضاف اليه دے حالانکه تقدير د حرف جر پکښ نشته دے.

جواب: شرطه ان يکون المضاف اسما او دلته مضاف فعل دے چه مررت دے مجردا عنه تنوينه دا دويم شرط دے شارح اوی ای منسلخا دا دفع د سوال ده چه دا نسبة د تجرد اسم ته صحيح نه دے ځکه اسم اصل د او تنوين ورله فرع ده او نسبة د تجرد خلق فرع ته کوی نه چه اصل ته او دلته خو اصل ته شوی دے.

جواب: دا مجردا په معنی د منسلخا دے په معنی دا ايستلی شوی نو د انسلاخ نسبة اسم ته کيږی په معنی داسم مفعول سره او دويم جواب واضح دے چه عبارت کښي قلب دے ای مجردا تنوينه عنه لکه جامه چه د بدن نه اوباسلی شي نو نسبة بدن کيږی په معنی داسم مفعول سره .

سوال: ځنګه چه خالی والی د تنوين نه شرط دے نو دنون د تثنيه او نون د جمع نه خالی والی هم شرط دے داخو تاذکر نه کړو.

جواب: او ما قام مقامه من نونے التثنيه و الجمع يعنی داپه حذف د معطوف دے لاجلها ای لاجل الاضافة دائی تعين د مرجع وکړو د ضمير دهاء لان التنوين دا علت بيانوی دپاره د اشترط د دي خبری چه دا خالی والی د مضاف ولی شرط شو د تنوين او نونی التثنية والجمع نه نو حاصل دادے چه دا تنوين او قائم مقام د دي دلالت کوی په انفصال او اضافة په اتصال نو منافاة دي په درميان د دي کښ نو نښ جمع کيدلے.

ثم المتبادر غرض د شارح دفع د سوال ده چه بناء په اشتراط د شرطينو سابقيو باندي اضافة لفظيه د تعريف د مضاف اليه نه خارج دے ځکه مضاف اليه په اضافة لفظيه سره نه په ذکر د حرف جر دے او نه په تقدير د حرف جر سره دے.

جواب: "نعم کلامك بردکو ليس لکن"..... صحيح ده چه د جمهور په نزد باندي اضافة لفظيه خارج دے ځکه دوی په تقدير د حرف جر سره په اضافة لفظيه کښ نه دي قائل ليکن د مصنف په نزد باندي چه ځنګه تقدير د حرف جر په اضافة معنويه کښ دے نو هم داسی په اضافة لفظيه کښ هم دے او دا خبره مصنف صراحة هم کړی ده او هم اشارة تصريح ئ

په امالی الکافیه کښ کړی دہ څکه هلته وائی وهی ای الاضافة بتقدیر حرف الجر او بیا وائی معنویه و لفظیه نو مقسم په خپلو اقسامو کښ ملحوظ وی نو تقدیر د حرف جر په معنویه او لفظیه دواړو کښ به موجود او ملحوظ وی نو تقدیر د حرف جر په معنویه او لفظیه دواړو کښ موجود او ملحوظ دے او دلته په دې کتاب کښ ورته اشاره کوی څکه دلته ادا هی ضمیر هغه اضافة ته راجع دے چه په ضمن د مضاف الیه کښ دے او هلته خو تقدیر د حرف جر هم وو لکنه لم یبین تقدیر الحرف فیها دا دفع د سوال ده چه یره ماتن لره پکار وه چه دائے بیان کړی وی کنه څنګه چه په اضافة معنویه کښ دې بیان کوی لکه غلام زید په تقدیر دلام دے وغیره وغیره نو که دامراد وی نو ماتن به بیان کړی وی کنه؟

جواب: او ماتن داکوتاهی کړی ده الله دې ورته معاف اوکړی ولی د انسان نه غلطی کیدی شی و قد تکلف بعضهم دا د دې سوال نه دویم جواب دے حاصل ئې دادے چه یره مصنف خو دا بیان نه دې کړی خو د مصنف شاګردان د الله شه ساتی هغو دا بیان کړے دے نو ګویا چه دا مصنف بیان کړے دے تقویة للعمل دا دفع د سوال ده چه دا شاګردان وائی چه ضارب زید په تقدیر د"لام"دے نو دا ضارب متعدی دے"لام"ته څه حاجة دے؟

جواب: دا دپاره د تقویة د عمل دے فان ذکر الوجه داهم دفع د سوال ده.

هغه داچه تاسو اوی چه الحسن الوجه په تقدیر د من سره دے نو تقدیر د من نه څه ضرورت دے څکه دامن بیانیه دے او دا هغه خالی کښ وی چه چرته ابهام وی او دې سره رفع د هغه ابهام اوشی نو الحسن کښ خو ابهام نشته دے چه دې سره دفع اوشی۔

جواب: ابهام شته دے په اسناد د حسن کښ زید ته پته نه لګی چه کوم شئ به دے لاس ئې به دے که پوزه وغیره نو الوجه سره دا ابهام رفع شو فان قلت دا سوال دے چه دا خلق وائی چه اضافة لفظیه صرف د تخفیف فائده کوی نو چه دلته دا تمییز شو دما بعد نو تمییز خو تخصیص پیدا کوی څکه تخصیص قلة الافراد ته وئیلی شی نو زید طیب کښ افراد ډیر وو چه په کوم اعتبار به دے خو چه نفسا دې اوی نو تخصیص یعنی قلة الافراد راغئ نو اضافة لفظیه خو هم تخصیص فائده کوی قلنا دا جواب دے حاصل دادے چه او دلته دا تخصیص راغلی دے خو که داته مضاف نه کړی نو هم دا تخصیص شته دے او مونږ هغه فائده وایو چه فقط دا ضافة د وجې نه وی نو دلته دا تخصیص فقط د اضافة د وجې نه نه ده.

اقسام د اضافة:نو ماتن وائي وهی معنوية و لفظيه دا تقسيم دے اجمالا او بيا تفصيل دے ای الاضافة دا دفع د سوال ده چه هی ضمير مضاف اليه ته راجع دے او هغه مذکر دے او هی مونث دے.

جواب: دا اضافة مونث ته راجع دے.

سوال: نو دا خو اضمار قبل الذکر راغئ

جواب: داپه ضمن د مضاف اليه کښ شته دے ای منسوبة الی المعنی دا تعيين کوی دياء په معنوية کښ چه دا نسبتية ده لانها تفيد دا وجه د نسبة د دې معنی ته بيانوی چه تا نسبة معنی ته ولی اوکړو نو وای دا معنی فائده کوی يعنی دا اضافة د دې وجه نه شوی دے چه په درميان د منسوب او منسوب اليه کښ يو تعلق وی او هغه تعلق دلته شته دے چه يا تعلق د تخصيص يا د تعريف دے او لفظيه کښ هم دا خبره ده.

وجه د حصر داده چه يا به اضافة د صفة شوی وی او يا به اضافة د غير صفة که غير صفة وو نو معنوی او که صفة وو نو بيا به خالی نه وی يا به معمول ته وی او يا غير معمول ته که غير معمول ته وو نو بيا معنوی او که معمول ته وو نو بيا اضافة لفظی شو.

﴿فالمعنوية ان يكون المضاف غير صفة﴾ هر کله چه فارغ شو مصنف د اجمال د دوه ؤ اقسامو د اضافة نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د هغې کښ فقال فالمعنوية درې سوالات راپيدا شول. جوابات بالترتيب دادی چه نفس تفصيل ځکه کوی چه تفصيل بعد الاجمال اوقع فی الذهن وی او تفصيل ته ئې احتياج هم شته دے او تفصيل کښ معنوی مقدم کړو ځکه چه په اجمال کښ مقدم شی نو دپاره د موافقة د تفصيل د اجمال سره ئې تفصيل د معنوی مقدم کړو او په اجمال کښ ځکه مقدم وو چه په اعتبار د معنی سره دا معنوی کامل او استعمال په اعتبار سره کثير دے او دا قانون دے چه کثير الاستعمال او کامل الفائده مقدم وی په قليل الاستعمال او ناقص الفائده باندې او تفصيل داسی کوی چه يو به تعريف د اضافة معنويه اوکړی د ان يكون المضاف غير صفة سره دويم درې اقسام به ورله ذکر کړی وهی اما بمعنی اللام سره دريم دهر واحد تعريف به ورله اوکړی فيما غد جنس المضاف وغيره سره څلورم د دې اقسامو درميان کښ به فرق ذکر کړی وهو قليل سره پنځم امثله به ورله

بیان کړی نحو غلام زید سره شیرم به ورله فوائد بیان کړی د قید تعریفا سره اووم شرط به ورله بیان کړی د و شرطها سره او اتم دفع دیو اعتراض به اوکړی د وما اجازه الکوفین سره.

فالمعنویه دا فاء تفصیلیه ده شارح وائی علامتها دا دفع د سوال ده چه ترکیب کښ فالمعنویه مبتداء ده او ان یکون الخ ورله خبر دے نو دلته حمل نه دے صحیح ځکه فالمعنویه ذات دے او ان یکون په تاویل مصدر وصف دے نو دا حمل دے د صرف وصف په ذات باندې او دا خو ناروا دے.

جواب: شارح اوکړو چه حاصل ئ دادے چه دا اعتراض به هله وی چه ان یکون الخ د فالمعنویه دپاره خبر وی حالانکه دا خبر د علامتها دے نو دا دواړه اوصاف دی او بیا دا جمله خبر دے دپاره د فالمعنویه نو جمله خبر دے بیا حاصل دادے چه اضافة معنویه هغه دے چه دا مضاف صفة نه وی داسی چه اضافة ئ خپل معمول ته شوی وی نو دی نه دا خبره معلومه شوه چه اضافة معنویه هغه دے چه یا خو مضاف د سر نه صفة نه وی او یا که صفة وی خو معمول خپل ته مضاف نه وی نو دا دوه صورتونه شول فیها دا ځکه شارح راوباسو چه علامتها ان یکون الخ جمله خبر شو او جمله چه خبر واقع شی نو هغی کښ لا بدی وی دعائد نه نو دا عائد شو کاسم الفاعل دا تعین د صفة کول دی.

سوال: زه درته ښایم صفة به وی او خپل معمول ته به مضاف هم وی او تاسو به ورته اضافة معنویه وائی لکه مضارع مصر، کریم البلد، نو مضارع د اسم فاعل صیغه ده او معمول خپل ته ئ نسبة شوی دے ځکه مضاف مضاف الیه کښ عامل وی.

جواب: فاعلها او مفعولها مطلق معمول نه دے مراد بلکه چه فاعل وی یا مفعول او دلته مصر او بلد نه فاعل او نه مفعول دی بلکه دا مفعول فیه دی. قبل الاضافة دا قید ځکه لګوی چه د اضافة نه پس بیا هر یو مضاف عامل وی په مضاف الیه کښ (محققین) اوس جامع مثال ضارب زید دے د اضافة نه مخکښ دا ضارب زید وئیلی کیږی نو زیدا مفعول دے او حسن الوجه کښ الوجه فاعل دے سواء لم یکن صفة غرض د شارح یو قانون بیانول دی هغه داچه کله یو شئ مقید وی په یو قید باندې او هغی ته نفی متوجه شی نو کله انتفاء د دواړو کوی یعنی د قید او مقید او کله انتفاء د یو کوی اوس دلته دا صفة مقید دے په قید د مضافة الی معمولها او غیر نفی ورته متوجه شوی ده نوکله به داسی وی چه د قید او مقید دواړو نفی اوکړی چه نه به صفة وی او نه مضاف الی المعمول او کله د قید نفی کوی فقط چه صفة وی

خو مضاف الى المعمول نه وى او دلته هم شارح دا تعميم كوى. مثال د نتفاء د دوارو غلام زيد دے او دا انتفاء د قيد مثال مضارع مصر ده و احترز د دي قيد فائده بيانوى.

وهى اما دا دويمه خبره ده نو اقسام د اضافة معنويه چه دي نو دا درى اقسام دي يو اضافة بمعنى اللام چه ورته اضافة اختصاصى هم وائى دويم اضافة بمعنى من چه ورته اضافة بيا نيه هم وائى دريم اضافة بمعنى فى چه ورته اضافة ظرفى هم وائى اى الاضافة المعنويه دائى تعين د مرجع اوكړو چه دا ضمير اضافة معنويه ته راجع دے او دا ځكه چه يو خو بحث د اضافة معنويه روان دے او دويم روستو ماتن وائى و تفيد تعريفا او تخصيصا او په لفظى كښې دانشته بيا دا حصر په دي اقسام ثلاثه كښ استقرائى دے فيما داتعريف دهر يو دے بيا شارح دما تعين كوى بيا حاصل ئى دادے چه اضافة لاميه هغه دے چه دا مضاف اليه پكښ نه د مضاف دپاره جنس وى او نه ظرف ځكه كه مضاف اليه جنس وى د مضاف نو دا اضافة بيانيه دے او كه ظرف وو نو هغه اضافة ظرفيه دے عدا فعل دے او ضمير فاعل دے او جنس المضاف او ظرفه ورله مفعول دے.

سوال: زه درته ښايم چه مضاف اليه به جنس د مضاف وى لكه غلام زيد اوس دا زيد د غلام د جنس نه دے ولى دواړه حيوان ناطق دي او تاسو خو دي ته اضافة بمعنى اللام وائى.؟

جواب: د جنس دا معنى نه ده بلكه د جنس معنى داده چه لا يكون صادقا على المضاف وغيره دا ده نو دا زيد په غلام او په غير د غلام بانديې نه صادقيږى كنه په خلاف د خاتم فضة باندي چه دا فضة هم په خاتم صادقيږى او هم په غير د دي خاتم بانديې او بمعنى من البيانيه ځكه من په ډيرو معانيو راځى خو دلته بيانيه مراد دے فى جنس المضاف دا تعريف دے.

سوال: احد اليوم تركيب كښ خو دا مضاف اليه جنس د مضاف دے په دي معنى سره چه دا مضاف اليه صادق دے په مضاف او په غير د مضاف حالانكه دي تركيب ته خو تاسو ناجائز وائى.

جواب: بشرط ان يكون چه دا خبره ورسره هم ده چه دا مضاف هم په دي مضاف اليه بانديې صادق وى او احداليوم خو داسى نه دے ځكه احد(اتوار) په دي يوم بانديې صادق دے نه په غير بانديې فيكون دا حاصل بيانوى چه په اضافة بيانيه كښ به په درميان د مضاف او مضاف اليه كښې نسبة د عموم خصوص من وجه وى دا هغه نسبة دے په درميان د شپنو

کښې چه تا دا يو راخستې وی او يو قيد پکښې تا ذکر کړی وی چه هغه بل شئ د دې قيد نه ساکت وی او بيا هغه بل ته راغستے وی او يو قيد دې پکښې ذکر کړی وی چه دا اول شئ ترينه ساکت وی او دا درې مادې غواړی يو ماده اجتماعی او دوه افتراقی مثلا حيوان او ابيض دوه شيان دې نو ماده د اجتماع پکښې په سپين غوی صادقه ده او يوما ده د افتراق لکه تور غوی او بله ماده د افتراق لکه سپينه بکوره و اما بمعنی فی دا دريم قسم دے او دا په هغه ځائی کښې راځی چه مضاف اليه دپاره د مضاف ظرف وی مکان يا زمان و الحاصل غرض د شارح په دې عبارت سره د مضاف او مضاف اليه درميان کښې کوم نسبة وی دهغی بيان کوی او په دے سره به داهم ښکاره شی چه کوم ځائی اضافة جائز اوکوم ځائی ناجائز او چرته لاميه بيانيه او ظرفيه دے نو حاصل دادے چه مضاف اليه کښې څلور احتمالات دی يو داچه دا مضاف اليه به د مضاف سره مبائن وی او يا به ورسره مساوی وی او يا به دا مضاف اليه د مضاف نه اعم وی او يا به اخص وی بيا دا مبائن چه دے نو دی کښې به دا مضاف اليه يا د مضاف دپاره ظرف وی يا نه که ظرف وو نو اضافة ظرفيه اوکه ظرف نه وی نو دا اضافة لاميه دے او که مضاف اليه د مضاف سره مساوی وو نو دا اضافة ممتنع دے ولی بے فائده دے مگر د تاويل سره اوکه مضاف اليه اعم وی د مضاف نه نو داهم ممتنع دے مگر د تاويل سره او که مضاف اليه خاص وی نو يا به داسې وی چه دا مضاف اليه به د مضاف دپاره جنس وی او يا نه که جنس وو نو دا اضافة بيانيه دے او که نه وو نو دا بيا اضافة لاميه شو فاضافة خاتم اضافة د خاتم فضة ته بيانيه دے ځکه مضاف اليه اصل دے دپاره د مضاف او اضافة د فضة خاتم ته بمعنی اللام دے ځکه مضاف اليه دمضاف دپاره جنس اواصل نه دے واعلم غرض دشارح دفع دسوال ده هغه داچه تاوے چه په اليوم الاحد او علم الفقه او شجرالاراك کښې اضافة يعنی اللام دے نو داخبره صحيح نه ده ځکه دلته اظهار اللام دسره نه جائز نه دے او اضافة بمعنی اللام کښې خو اظهار دلام جائز وی .جوب حاصل دادے چه په اضافة بمعنی اللام کښې داخبره ضروری نه ده چه هلته دې اظهار د"لام"اوشی بلکه دا خبره ضروری ده چه افاده دلام د معنی پکښې وی نوداکافی ده بيا دلام معنی اختصاص ده نو دې کښې دا معنی د"لام"چه اختصاص دے دا پکښې شته دے نو اظهار د"لام"ته حاجة نشته و لهذا او د دې وجه نه چه مقصود په دې مقام کښې حاصليدل د معنی دلام دی نه اظهار او تصريح دلام نو د دې وجه نه مصنف بمعنی اللام اوئ نه تقدير د"لام"په دې سره يو بل اعتراض هم دفع شو هغه داچه په کل رجل او کل واحد کښې اضافة لاميه دے او اظهار دلام پکښې ناروا دے

نوکه دلته اظهار دلام نه کوی نو دا اضافة لامیه څنګه دے او که اظهار دلام کوی نو کل لازم الاضافة دے قطع د اضافة ئ راځی.

جواب: (۱) شارح هندی صیب وائی چه کل مووّل دے په افراد سره او په جزئیات سره او افراد او جزئیات خو لازم الاضافة نه دي نو اظهار د"لام"پکښ جائز دے شارح جامی جواب (۲) کوی چه افاده دلام پکښ ضروری ده نه اظهار دلام نو بس دلته دا خبره ضروری ده.

وهو قليل غرض د مصنف په دې سره څلورمه خبره ده چه فرق ذکر کول دي چه په دې د دريواړو اقسامو کښې چه کثير الاستعمال کوم دے او قليل الاستعمال کوم دے نو ماتن به د قليل الاستعمال بيان اوکړی او دا بل په معلوم شی، هو ای کون تعين د مرجع کوی و ردها .

سوال: دا تا اضافة لاميه ته رد کړو نو دا ظرفيه ته ولې نه رد کوی.

جواب: فان معنى لاميه ته څکه رد کوو چه دې درميان کښ ملابسة دے فان قلت.

سوال: دا اضافة بيانيه هم لاميه ته رد کړه څکه يو پکښ مبين وی او بل مبين او د دواړو په درميان کښ علاقه د اختصاص وی قلنا جواب يو شئ چه د بل شئ سره کيږی نو دوه شرطه دي ورله يو داچه داکوم شی ته بل شئ ته رد کوی نو د دې ورسره څه مناسبة وی او دويم داچه دا شئ چه کوم ته رد کوی او محمول کوی ئ نو دې کښ قلت وی اوس اضافة ظرفيه کښ دلاميه سره دواړه شرطه شته دے يو داچه علاقه د اختصاص پکښ هم ده او قلة هم او په بيانيه کښ قلة نشته نو هلته رد نشته دے.

غلام زيد دا پنځمه خبره ده چه امثله دې په طريقه د لف نشر مرتب سره مقصد داچه هلته کوم ممثل مقدم وونو دلته ورله مثال هم مقدم دےاوکوم چه موخر دے نو مثال ورله هم موخر دے . شارح وائی مثال الاضافة غرض د شارح يو تعيين د ممثل کول دې دويم تطبيق د مثال د ممثل سره کول دې او دريم دفع د سوال کول دې چه مثال يو کافی وی کنه؟

جواب: تعدد د امثلو الخ و تفيد دې ځائ نه شپږمه خبره ده چه فوائد د اضافة معنويه دي نو دې لره دوه فوائد دي يو داچه کسب د تعريف د مضاف دے د مضاف اليه نه چه معرفه وی دويم کسب د تخصيص کول چه قلة الاشتراك دے د مضاف اليه نه چه نکره وی تفيد ضمير پکښ راجع دے اضافة معنويه ته چه حاصلوی اضافة معنويه تعريفا ای تعريف المضاف ماتن تعريف مطلقا ذکر کړے دے نو مضاف او مضاف اليه دواړو ته شامل وو نو شارح تعين

اوکړو چه تعریف د مضاف مراد دے مع المعرفه واهم به وهم کولو چه دا معرفه به هم د مضاف سره لګی حالانکه مضاف معرفه نه وی نو شارح اوی دا د مضاف الیه سره لګی.

سوال: څه وجه ده چه کله اضافة د نکره معرفه ته اوشی نو دا مضاف ترینه تعریف کسب کوی نو شارح دا جواب کوی او دوه خبری ورسره نوری هم کوی نو یو دا خبره چه څه وجه ده چه دا تعریف کسب کوی دویم مثال بیانوی دریم رد دے په فاضل هندی باندې نو فاضل هندی وائی چه کله مضاف نکره وی او مضاف الیه معرفه وی نو دا تعریف څکه کسب کوی چه نکره عام ده او معرفه خاص او نسبة د عام چه خاص ته اوشی نو تعریف ترینه کسب کوی نو شارح پری رد اوکړو چه دا خبره غلطه ده څکه چه ضرب زید کښ ضرب عام دے او زید خاص نو دلته د ضرب نسبة زید ته شوی دے او تعریف ئی ترینه نه دے کسب کړے نو اصل وجه داده چه دا هیاة ترکیبیه د مضاف او مضاف الیه دا واضع وضع کړے په داسی طریقه چه دلالت اوکړی چه معلومیة د مضاف باندې په دلته مراد مضاف معلوم دے. فان قلت .

سوال: تا اوی چه هیاة ترکیبیه دا دلالت کوی چه مضاف معلوم دے نو چاېلی غلام زید خلق وائی او د سر نه یو معین غلام ته ذهن نه ځی.

قلنا جواب حاصل دادے چه دا هیاة ترکیبیه واضع وضع کړے دے دپاره د دې چه دلالت اوکړی په معلومیة د مضاف باندې خو که په یو موضع کښ داسی د استعمال د وجی نه اونشی نو وضع د دې نه ده ذمه دار څکه اعتبار وضع دا واضع لره دے نه استعمال د مستعمل لره .

سوال: یره داسی یو مثال شته دے چه یو شئ واضع دیو فائده دپاره وضع کړی وی او هغه ترینه خلق نه اخلی؟ جواب: او شته دے لکه دا شعر شو.

ولقد امر علی اللئیم یسبنی فمضیت ثمه و قلت لا یعنینی

نو دلته الف"لام"وضع دے دپاره د تعیین او چه څوك ترینه دانه اخلی نو وضع ذمه دارنه ده دلته محل د استشهاد د اللیئم دے معین شخص نه دے مراد بلکه یو عام مراد دے او دا څکه چه جمله ورلره صفة واقع دے او جمله د نکره صفة وی.

سوال: جاءنی رجل غیر زید دا ترکیب چه دے نو دلته دا غیر مضاف دے او مضاف الیه معرفه ده او دي مضاف خو د مضاف الیه نه تعریف نه دے کسب کړے ځکه د رجل دپاره صفة دے دغه شان جاءنی رجل مثلك هم دے.

جواب: دا قانون چه دوی پاس کړے دے نو داپه علاوه د غیر او مثل کښ دے د وجه د توغل فی الابهام نه چه داپه دي ابهام کښ مکمل بند دي نو داپه اضافة سره نه صحیح کیږی او دانه پاکیږی.

سوال: نو علیك بالحرکة غیر السکون کښ خو ئی تعریف کسب کړی دے ځکه خو غیر السکون صفة د معرفه دے.

جواب: زه وایم چه غیر او مثل تعریف نه کسب کوی خو مطلقا نه بلکه هغه وخت کښ چه اضداد د مضاف الیه د دي ډیر وی او یا په یو وصف مشهور نه وی او چه د دي د مضاف الیه ضد یو وی او یا په یو وصف مشهور وی نو بیا به تعریف کسب کوی لکه دلته غیر السکون کښ د سکون ضد یو دے چه الحرکة دے نو تعریف به دلته کسب کوی لکه شارح هم دا وائی چه الا ان یکون للمضاف الیه.

و تخصیصا دا دوېمه فائده بیانوی شارح ورسره تفید اولګو اشاره کوی چه دا عطف دے په تعریفا باندي او ما قبل د معطوف علیه الخ بیا شارح تخصیص المضاف اوی هغه خبره ده چه الف"لام"عوض دمضاف الیه نه دے مثال غلام رجل شو چه تخصیص پکښ په قلة د شرکاء سره راغلی دے ځکه غلام هر چا ته شامل وواوس خاص شو درجل سره

و شرطها تجرید المضاف من التعریف هر کله چه فارغ شو مصنف په تفصیل د اضافة معنویه کښ د شپږو خبرونه نو شروع ئی اوکړه په اوومه خبره کښ چه شرائط د اضافة معنویه دي فتال و شرطها بیا مقصد دادے چه په اضافة معنویه کښ به مضاف خالی وی د تعریف نه هر قسم تعریف چه وی بیا ماتن شرطها اوی او شارح د هاء ضمیر مرجع متعین کوی او دفع د سوال هم کوی چه زه درته شایم چه مضاف به وی او تعریف نه به خالی نه وی لکه الضاربا زید او الضاربو زید دلته په الضاربا او الضاربو مضاف باندي الف"لام"تعریفی داخل دے.

جواب: زما مراد د شرط نه دپاره د اضافة معنویه دے او تا خو اعتراض کښ اضافة لفظیه راوړی دے ځکه شارح وائی چه ای شرط الاضافة المعنویه تجرید المضاف سوال کوم وخت کښ

چه مضاف معرفه وی نو مونږ به پکښ تجرید اوکړو ځکه تجرید خالی کولو ته وائی نو سبق وجود غواړی خو چه کله مضاف نکره وی نو بیا خو تجرید نه دے متصور شارح د دې سوال دوه جوابونه کوی یو دادے چه تجرید مطلقا نه دے مراد بلکه چه کله مضاف معرفه وی نو تجرید به کیږی فان کان ذا اللام سره طریقه د تجرید بیانوی.

سوال: محشی په اذا نکر صرف کښ شارحه تا دپاره د تنکیر دوه وجوه بیان کړی وو او دلته خو تا یوه وجه بیان کړه او دویمه دې پریښوده . جواب (۱) دلته مونږ من جملة من سمی وثیلی دے نو دا دواړو ته شامل دے (۲) دا تنکیر به تولو معارفو کښ چلیږی او هغه وصف مشهور چه کوم دے نو داپه تولو معارفو کښ نه چلیږی ځکه بعض اعلامو دپاره خو وصف مشهور نه وی نو صرف په یو باندې اکتفاء کوی او المراد تجرید او دویم جواب دے د اصل سوال نه چه ذکر د تجرید دے او مراد قرینه تجرد دے نو تجرد لازم دے ته به ئې نه خالی کوی بلکه هغه به خالی کیږی او په درمیان د تجرید او تجرد کښ علاقه د لازم ملزوم ده تجرد لازم دے د تجرید سره.

سوال: دا تجرید او تجرد دیوی مادې نه ماخوذ دې نو دواړه سبق وجود غواړی.

جواب: خلوه من التعریف خالی والی په معنی دے و انما یجب التجرید غرض د شارح په دې عبارت سره دلیل ذکر کول دي دپاره د اشتراه د شرط د تجرید چه په اضافة معنویه کښ تجرید د مضاف د تعریف نه ځکه شرط دے که چرته مونږ دا خالی نه کړو او سره د تعریف نه د دې اضافة اوشی نو یا به دا مضاف وی نکره ته او یا معرفه ته که مضاف وی نکره ته نو لازمیږی حصول د ادنی په وخت د وجود د اعلی کښ او دا خو ناروا ده اوکه مضاف وی معرفه ته نو لازمیږی تحصیل د حاصل چه داهم ناروا دے تفصیل دادے ادنی تخصیص دے او اعلی تعریف دے نو نکره ته اضافة فائده د تخصیص کوی نو مضاف معرفه دے او ته قرینه طلب د ادنی کوی او دابه کارته دے قال تعالیٰ اتستبدلون الذی هو ادنی بالذی هو خیر او چه تحصیل د حاصل شی نو داهم بے فائده کار دے فان قیل دا اعتراض په دې دویم جزء دے چه تاسو اوئ تحصیل د حاصل ناروا دے نو تاسو هم د دې ارتکاب کړے دے په النجم او الثریا او ابن عباس کښ تعریف شته دے نو چه دا اعلام شی نو دا بیا تعریف شو نو داهم تحصیل د حاصل دے او تاسو ورته ناروا نه وائی ترجمه آسانه ده.

قیل جواب دے حاصل دادے چه دلته دوه صورته دي يو تعريف د معرف دے چه يو شئ کښ تعريف شته دے او ته ترينه هغه تعريف ختم کړی او بل دهغی عوض کښ راوړی او دا جائز دے نو دلته په النجم او الثريا کښ تعريف دلام وو او په ابن عباس کښ تعريف د اضافة دے نو چه دا اعلام شول نو هغه تعريف دلام او اضافة ختم شول او تعريف د علمية پکښ راغئ او دويم.

جواب: هم چا کړے دے چه دي النجم، الثريا کښ تعريف په"لام"حاصل دے او په ابن عباس کښ تعريف په اضافة حاصل دے او بيا ترينه دانه کټ کو د علمية سره ځکه چه دا دپاره د دي چه دا د دي اسماء سره لازم شي او تغيير پکښ رانشي ځکه اعلام محفوظ وی د تغيير او تبديل نه بقدر الامکان وما اجازه الکوفيون دا اتمه خبره ده چه دفع د بعض اعتراضاتو ده دلته اعتراض دادے چه تا مخکښ اوی چه په اضافة معنويه کښ دا شرط دے چه دا مضاف به د تعريف نه خالی وی نو نقض دي راغلے دے په الثلاثة الابواب نو الثلاثة مضاف دے او معرفه ده دغه شان الخمسة الدراهم او الماة الدينار شو او څه عام خلق هم نه بلکه کوفيان داخبری کوی.

جواب: ضعيف دا ضعيف دي وجه روستو شارح بيانوی.

سوال: دلته متن کښ دا من حرف جر په مرکب داخل دے او حرف جر په مفرد داخليږی .

جواب: ترکيب يعنی داپه حذف د مضاف دے او هغه مفرد دے چه ترکيب دے. شبهه من العدد يعنی اضافة د عدد اوشی خپل معدود ته ماتن العدد مطلق ونيلی وو نو ډير ابهام راتلل نو شارح دپاره د تکميل وائی چه المعرف باللام المضاف الی معدوده او ضعيف دا خبر دے دهغه ما اجازة دپاره بيا ضعف دي کښ هم قياسا هم استعمالا دے قياسا هغه تحصيل د حاصل لازميدل دي او استعمالا هغه په کلام د فصحاء او بلغاء کښ راځی لکه يو شاعر صيب چه ذو الرمة دے هغه فرمائی.

ايا منزلی سلمی سلام عليکما ۔ هل الازمن اللاتی مضين رواجع

وهل يرجع التسليم او يکشف العمی ۔ ثلاثه الاثاف و الديار البلاقع

دی شعر کښې څو خبرې ضروری دي يو غرض د شاعر دويم معنی دريم محل د استشهاد نو غرض د شاعر به د شان نزول سره معلوم شی نو د اعرب چه دې نو دې کښې داويو دير قلّة دے نو دوی به چه چرته روان وو او چرته اوبه به ئې اوليدلے نو هلته به ئې خيمې اولګولې او هلته به اباد شول بيا نور به هم راتلل او دوی سره به اوسيدل نو هلته به ئې پوره خيل سامان راوړو بيا چه هلته به اوبه په ختميدو شوې نو دوی به بيا په روانيدو شول نو کله به په کښې د محبت او عشق معاملات هم راغلل نو چه عاشقې معشوقې به پکښې تيره شوی وه او عاشق به راتلونو چه هغه ځايونه به ئې اوليدل نو روراوپخوانه وخت به ورته ياد شو نو ذو الرمة ته هم پخوانئ زمانه ياده شوی ده نو اشعار ئې وئيلی دی.

دويم معنی داده چه اے دوه ؤ منزلونو د سلمی تاسو باندې دې سلام وی ايا هغه زمانی چه تلی دی هغه به بيا راواپس شی او ايا واپس به کړی سلام لره او يا به لرې کړی ګډود والی لره نغرې او ګورونه ويران شوی.

دريم محل د استشهاد نو هغه پکښې ثلاث الاثاق دے چه کلام د فصيح کښې په ثلاث مضاف باندې تعريف نښته دے.

"و اما ما جاء فی الحديث" غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال کوی چه دا خو يواځې کوفيان نه وائی بلکه په کلام د فصيح بليغ کښې هم شته دے لکه قال النبی صلی الله عليه وسلم بالالف الدينار نو الف معرف باللام مضاف دے په اضافة معنوی سره .

جواب: و اما ما جاء حاصل دادے چه دا مضاف مضاف اليه نه دے بلکه د الالف مبدل منه دے او الدينار بدل دے او يا مبين بيان دے.

سوال: چه قياسا او استعمالا خلاف دې نو بيا ورته ممتنع وئيل پکار دے نه ضعيف ځکه ضعيف جائز مع الضعف وی.

جواب: دا مونږ تا ډيا وايو ولې چه د نبی قول کښې ظاهرا دا راتلو چه مضاف دے اګرچه حقيقة مضاف مضاف اليه نه دے خو ظاهر دے نو ادب کوو.

و اللفظية هر کله چه فارغ شو مصنف د تفصيل د اضافة معنويه نه نو شروع ئې اوکړه په تفصيل د اضافة لفظيه باندې نو دری سوالات راغلل جوابات نفس تفصيل د وجې دما مرنه کوی او تفصيل دې مقام کښې هم دما مر نه کوی او تفصيل داسې کوی چه يو به تعريف د

اضافة لفظی اوکړی دیکون صفة سره دویم امثله به ورله بیان کړی د مثل ضارب زید سره دریم فائده به ورله بیان کړی د ولا تفید الا تخفیفا سره څلورم به تفریعات اوکړی په ومن ثم سره پنځم بیان الاختلاف او یا دفع د اعتراض به اوکړی په خلافا للفراء سره. دا سوال اهم دے او دا د ټول سبق خلاصه ده.

ماتن اللفظیه اوئ نو دا صفة دے موصوف غواړی هغه ورله شارح متعین کوی علامتها د دي تفصیل په تیر سبق کښ دے مفصلا ان یکون شارح د یکون د ضمیر مرجع متعین کوی چه مضاف ته راجع دے صفة صفة نه مراد د اسم فاعل او اسم مفعول او صفة مشبه دے احتراز دا د صفة قید فائده ده چه احتراز اوشو د غلام زید نه ځکه غلام صفة نه دے مضافة الی معمولها د دي قید فائده دادهٔ چه په تیر سبق کښ وئیلی ده چه مصارع مصر البلد او کریم البلد نه پری احتراز شوی دے ځکه مضاف صفة دے خو مضاف الیه معمول نه دے مثل سره جامع مثال بیانوی ضارب زید او حسن الوجه .

سوال: یو مثال دپاره د توضیح د ممثل کافی وی دوه ولی راوړی؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وی په تعدد د ممثلاتو نو یو مثال د اضافة د اسم فاعل دے مفعول ته او دویم مثال د اضافة د صفة مشبه دے فاعل ته ځکه ضارب زیدا اصل کښ ضارب زید دے نو ضارب اسم فاعل دے او زیدا منصوب دے ولی مفعول دے او حسن الوجه اصل کښ حسن وجهه دے نو بیا د اضافة سره دا وجهه فاعل په حسن کښ ضمیر مستتر شو او د ضمیر په عوض کښې الف"لام"راغئ حاصل داچه په جانب د مضاف کښ تنوین حذف شو او عوض کښ الف"لام"راغئ او په جانب د مضاف الیه کښ ضمیر حذف شو.

ولا تفید الا تخفیفا دا فائده ده او هغه تخفیف راځی شارح به بیان اوکړی بیا ماتن ولا تفید وئیلی دی.

سوال: تقید کښ ضمیر راجع دے اضافة ته نو اضافة خو د تعریف او تخصیص فائده هم کوی نه د تخفیف فقط.

جواب: الاضافة اللفظیه مطلق اضافة ته ضمیر نه دے راجع بلکه اضافة لفظیة ته راجع دے.

سوال: الا حرف استثناء دے او تخفیفا مستثنی ده او تفید فعل مستثنی منه ده حالانکه فعل خو مستثنی منه نه راځی اسم به وی.

جواب: فائدة مستثنی منه حذف ده چه فائدة ده او دا اسم دے الا تخفیفا سوال په ضارب زید کښ د ضارب اضافة زید ته شوے دے نو مخکښ پکښ عمل د جر نه وو او اوس پکښ عمل د جر راغلی نو داهم یوه فائده ده او دغه شان دا فائده هم کوی چه دا ضرب صادر دیو کس نه دے او واقع په یو بل کس دے داهم فائده ده او تا خو اوی چه صرف تخفیف فائده کوی۔

جواب: لا تعریفا ولا تخصیصا زما مراد د دې نه چه د تخفیف نه علاوه بله فائده نه کوی هره بله فائده نه وایم په نفی کولو سره بلکه هغه فائده چه اضافة معنویه کوی چه تعریف او تخصیص دے لکونها دا علت بیانوی مقصد دادے چه اضافة معنویه لفظا او معنی دواړه اضافة وی په خلاف د اضافة لفظیه بانده دا صرف لفظ کښ اضافة وی نه په معنی کښ ځکه د اضافة نه مخکښ چه کومه معنی ده نو هغه د اضافة نه روستو هم ده نوپه اعتبار د لفظ سره دا مضاف د مضاف الیه نه جدا دے په خلاف د اضافة معنویه کښ چه هغی کښ مضاف د مضاف الیه سره متصل وی جدا نه وی فی اللفظ دا قید ولی بیانوی؟ نو بعض خلق وائی چه دا دپاره دا دې ذکر کوی چه د دې نه اضافة لفظیه ولی وائی نو وای ځکه چه لفظ کښ تخفیف فائده کوی او بعض خلق وائی لکه شارح صیب چه دا دپاره د دفع د وهم دے هغه داچه څوك داوهم اونکری چه دا تخفیف چه را ولی نو داپه معنی کښ راولی په دې شان سره چه د معنی په مقابله کښ کوم الفاظ دې نو هغه الفاظ چه کټ کیږی نو دهغی په مقابله کښ به معنی هم کټ کیږی دهغی په مقدار سره نو ماتن فی اللفظ اوی دپاره د دې وهم دفع کولو چه صرف لفظ کښ تخفیف راولی نه معنی کښ و التخفیف اللفظی دا هغه تخفیف بیانوی نو داپه دری قسمه را ولی یو داچه په جانب د مضاف کښ فقط دویم په جانب د مضاف الیه کښ فقط دریم په جانب د مضاف او مضاف الیه دواړو کښ۔

ضارب زید کښ د ضارب مضاف نه تنوین حذف دے نو دا تخفیف په جانب د مضاف کښ دے۔

سوال: زه درته بنایم چه اضافة لفظیه به وی او د مضاف نه به تنوین نه وی حذف کړی لکه حواج بیت الله کښ دا حواج مضاف دے په اضافة لفظیه سره بیت الله ته اودی نه خو تنوین نه دے حذف ځکه دا غیر منصوف دے تنوین پری نشته دے۔

جواب: حقيقة او حكما نو دلته حواج كښ حكما حذف دے او معنی د حكما داده چه كه چرته په دې حواج باندې تنوين وى نو په اضافة سره به ساقط وى او مثال دپاره د دې چه تخفيف په جانب د مضاف اليه كښ وى فقط نو هغه القائم الغلام دے اصل كښ دا القائم غلامه وو نو د غلامه نه ضمير حذف شو او په مضاف كښ مستتر شو او د قائم دې ته اضافة اوشو او په جانب د مضاف كښ دلته تخفيف نشته دے ځكه تنوين دوجې د الف"لام"نه ساقط دے نه د وجې د اضافة نه او مثال د دواړو چه په مضاف او مضاف اليه كښ په ګرده سره تخفيف راغلى وى لكه قائم الغلام اصل كښ قائم غلامه دے نو په جانب د مضاف كښ تخفيف په حذف د تنوين سره دے او په جانب د مضاف اليه كښ تخفيف په حذف د ضمير دے او بيا مستتر كيدل دې په قائم كښ ومن ثم داپه ما قبل باندې تفريعات بيانوى او دا تول څلور تفريعات دې دوه جوازى دې او دوه امتناعى دې فقال ومن ثم او دا څلورمه خبره ده بيا دا خبره مونږ ته معلومه ده چه كله من په اسم اشاره باندې داخل شى نو مشار اليه د اسم اشاره علت وى دپاره د مابعد حكم نو حكم خو جاز او امتنع دے او مشار اليه درى امور دې چه علل د دے حكم دى يو داچه اضافة لفظيه تخفيف فائده كوى دويم داچه تعريف نه فائده كوى دريم داچه تخصيص نه فائده كوى نو دا درى خبرى علت دے دما بعد حكم دپاره شارح ومن جهة وجوب سره داخبره كوى. جاز تركيب. د دې تركيب قيد فائده مخكښ تيره شوه چه دفع د سوال ده ورسره بيا مراد په دې تركيب سره هغه تركيب دے چه موصوف نكره وى او صفة مضاف وى په اضافة لفظيه سره معرفه ته لكه رجل حسن الوجه شو رجل نكره موصوف او حسن الوجه صفة دے او د حسن اضافة معرف باللام ته شوى دے او دا تركيب جائز دے ځكه چه دې كښ مضاف د مضاف اليه نه تعريف نه كسب كوى نو مطابقة په موصوف صفة كښ شته دے نو جائز دے و امتنع تركيب مراد په دې تركيب سره هر هغه تركيب دے چه موصوف معرفه وى او صفة مضاف وى په اضافة لفظيه سره معرفه ته لكه مررت بزيد حسن الوجه كښ زيد معرفه موصوف دے او حسن الوجه صفة دے چه حسن مضاف دے معرف باللام ته او داناروا دے ځكه مطابقة بين الموصوف والصفة نشته دے ولى موصوف معرفه ده او صفة نكره ده ځكه اضافة لفظيه دے تعريف نه كسب كوى المراد ان المشار غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه دمن ثم مشار اليه ته علت دپاره دما بعد حكم والى نو مشار اليه امور ثلاثه دې (۱) تخفيف راولى (۲) تعريف نه راولى (۳) تخصيص هم نه راولى او حكم روستو څلورتفريعات دې نو د دې دريو واړو امور به په دې حكم كښ دخله وى په دې تولو كښ حالانكه په دې تفريعاتو كښ امر ثالث لره دخله

نشته دے چه تخصیص دے په دې شان سره چه اول تفریع کښې تخفیف او عدم د تعریف لره دخله ده اوپه تفریع ثانی کښې هم دخله ده عدم د تعریف لره چه دا دویم تفریع تعریف نه کسب کوی نو جائز نه دے او دریم تفریع کښې دخله ده صرف تحفیف لره چه الضاربا زید دے نو دا جائز دے ځکه تخفیف فائده کوی او څلورم تفریع چه ده نو پکښې دخله ده تخفیف لره چه تخفیف پکښې نشته دے نو دا الضارب زید ترکیب ناروا دے توپه دې ټولو احکامو کښې عدم د امر ثالث لره دخله رانغله چه عدم د تخصیص دے حالانکه تفریع کښې متفرع علیه لره دخله وی وجودا یا عدما نو شارح جواب کوی چه حاصل د جواب دادے چه مشار الیه د اسم اشاره کله امور متعدد وی نو داپه دوه طریقه سره واقع وی یو مجموعه من حیث المجموعه او دویم داپه اعتبار دهر واحد وی نو چه کله مجموعه من حیث المجموعه وی نو بیا دا ضروری نه ده چه دې ټولو امورو متعدده لره به دخله وی بلکه که یولره پکښې دخله وی نو داکافی ده او چه کله هر واحد مراد وی نو بیا هر واحد لره پکښې دخله ضروری ده اوس دې مقام کښې دا امور ثلاثه هم مجموعه من حیث المجموعه مراد دي نوکه عدم د تخصیص لره پکښې دخله نشته دے نو خیر دے څه مسئله نشته دے۔

جاز ترکیب الضاربا زید و الضاربو زید دا ترکیب جائز دے ځکه تخفیف فائده کوی۔

سوال: دا الضاربا زید او الضاربو زید تفریع ده په وجود د تخفیف باندې نو دې تفریع ته ضرورت نشته ځکه په وجود د تخفیف باندې خو یو تفرّع شوی ده چه مررت برجل حسن الوجه دے۔

جواب: هلته تفریع په وجود د تخفیف وه خو مخلوط لره پکښې د خله وه چه عدم د تعریف و او دلته خالص تخفیف لره دخله ده انتفاء د تعریف لره پکښې دخله نشته دے۔

سوال: تا اوی چه الضاربا زید او الضاربو زید ترکیب جائز دے ځکه تخفیف پکښې راغلی دے په دې شان سره چه د دې نون د تثنیه او نون د جمع حذف شوی دے د وجې د اضافة نه نو دانه منم چه دانون د تثنیه او نون د جمع د اضافة د وجې نه ساقط شوی دي بلکه دا د وجې د دخول د الف"لام"د نه ساقط شوی دي ځکه چه په الف"لام"سره نون د تنوین حذف کیږی نو دانون د تثنیه او نون د جمع عوض دے د نون تنوین نه نو عوض د تنوین هم د وجې د الف"لام"نه ساقط کیږی نو هر کله چه دا تخفیف د وجې د الف"لام"نه شو نه د اضافة د وجې نو دا تفریع په ما قبل باندې صحیح نه ده ځکه چه اضافة خو فائده او نکړه۔

جواب: دا خبره مونږ منو چه نون د تثنيه او جمع عوض دي دنون د تنوين نه خو نون التنوين کښې دوه صفته دی دے يو داچه د اتمام د کلمه دا ولی دويم داچه دی کښې تنکير او سقوط د تنوين پس د د خول اللام نه رازی نو اوس دا نون په دے کښې د تثنيه او جمع په اول اعتبار د نون التنوين نه عوض دي په دويم کښ ندی نو په دي اعتبار پکښ تخفيف راغلی دے. و امتنع دا الضارب زيد ترکيب ممتنع دے ځکه دانه په جانب د مضاف کښ اونه په جانب د مضاف اليه کښ اونه دواړو کښ تخفيف فائده کوی ولا شك انه لا دخل دا دفع د سوال ده چه هغه سوال مونږ اوی چه په دي تفريعاتو کښ خو يو متفرع عليه چه انتفاء د تخصيص ده دي لره پکښ دخله نشته دے او دا خو ضروری ده .

جواب: داپه اعتبار د مجموعه دے نه په اعتبار دهر واحد سره او دويم غرض د شارح په دي عبارت سره تمهيد دے اعتراض ته و على هذا كان الانسب سره بيا اعتراض دے او لکنه اخره سره جواب دے تمهيد دادے چه دا تفريع په تخفيف باندي ده فقط سوال نو پکار ده چه دا تفريع ئې اول کړی وی ځکه چه تخفيف اول ذکر دے صراحة او انتفاء د تعريف او تخصيص ضمنا ذکر دي او تفريع کول په هغه شئ چه ذکر وی صراحة نو دا اولی دي د تفريع کولو نه په هغه شئ باندي چه ذکر وی ضمنا او دلته خو دا روستو شوی ده.

جواب: دا روستو شوی دے د وجي د كثرة لواحق نه روستو پکښ پوره اختلاف دے د فراء سره او بيا پکښ اعتراضات او جوابات دي نوروستو ئې کړه

خلافا للفراء د اضافة لفظيه تفصيل شروع دے پکښ څلور خبری بيان شوی تفصيلا اوس پنځمه خبره بيانوی چه يا دا بيان الاختلاف او يادفع د اعتراض ده بيان الاختلاف واضح دے چه مصنف وائی الضارب زيد ترکيب ممتنع دے او فراء صيب وائی داجائز دے پشان د الضارب الرجل دے او دفع د سوال داسی ده چه تا اوی چه الضارب زيد ترکيب ممتنع دے حالانکه داخو په فصيح کلام کښ راغلے دے لکه الواهب المائة الهجان و عبدها نو دا ځنګه ناجائز شو.

جواب: ضعف راشئ ضعيف دے. بيا داپه هغه لواحق کښ اول لاحق شو چه خلافا للفراء چه د فراء صيب هم په دغه ترکيب کښ اختلاف دے فانه يجوز دا د فراء دعوی ده چه دا ترکيب جائز دے او دپاره د فراء په دي دعوی باندي دری دلائل دي يو دليل داچه اما لانه توهم چه دا الف"لام"تعريفی د اضافة نه روستو راغلی دے نوپه اضافة سره تخفيف حاصل شوی

دے چه سقوط د تنوین دے د مضاف الیه نه نو په جانب د مضاف کښ تخفیف راغلی دے نو دا ترکیب جائز دے ناروا نه دے او د فراء دپاره دویم دلیل شعر دا عشی دے چه الواهب المأة الهجان و عبدها دلته دې شعر کښ دا عبدها عطف دے په الماة باندې نو دا الوهب لاندې دے نو دا الواهب عبدها شو نو الواهب معرف باللام مضاف شوی دے معرفة ته نو دایشان د الضارب زید دے او دریم دلیل هغه دپاره قیاس دے چه دا الضارب زید قیاس دے په الضارب الرجل باندې او دغه شان په الضاربك باندې او دا دواړه جائز دي نو الضارب زیدهم جائز دے.

ماتن د فراء د دویم دلیل او دریم دلیل نه جواب کړے دے یو ضعف سره دویم و انما جاز الضارب الرجل سره او د اول دلیل نه نه ماتن جواب کړے دے او نه شارح البته مصنف د اول دلیل د فراء نه جواب کړے دے په شرح د دې کتاب کښ چه هغه دلته شارح نقل کړے دے په و اجاب المصنف عنه سره چه دا قول د فراء صحیح نه دے چه په الضارب زید کښ اضافة اول شوی دے او بیا الف"لام"روستو راغلے دے ځکه داهسې دعوی ده او مخالف ده د ظاهر نه اوهره دعوی چه د ظاهر نه مخالف وی نو هغه صحیح نه وی ناروا وی. تفصیل دادے چه دا د ظاهر ځکه مخالف ده چه اول کلمه کښ الف"لام"راځی او بیا اضافة ئ بل شئ نه کیږی ځکه خو الف"لام"په کلمه کښ مقدم دے او محسوس دے په حس سره معلومیږی په خلاف د اضافة چه دانه حسی دے او نه اول وی او داخبره خو مسلمه ده چه خلاف الظاهر او خلاف الحس خبره صحیح نه وی ناروا وی. و اما لما وقع دا دویم دلیل نقل کوی بیا فان قوله و عبدها سره طریقه د استدلال بیانوی فاجاب المصنف داجواب ذکر کوی بیا دا ضعف ماتن وئیلی دے نو داخو یا صیغه د فعل ماضی معلوم ده د باب کرم یکرم (مجرد) نه او یا خو دا صیغه د فعل ماضی مجهول ده د باب تفعیل نه او دواړه د ضعف نه ماخوذ دي په اول احتمال معنی داده چه او ضعیف دے دا ترکیب چه الواهب المأة الخ اوپه دویم احتمال معنی دا ده چه نسبة د ضعف شوی دے دې ترکیب نه چه الواهب المأة الخ دے بیا دا ځکه ضعیف دے چه دانه په جانب د مضاف کښ اونه په جانب د مضاف الیه کښ اونه په دواړو کښ تخفیف فائده کوی نو چه فائده پکښ رانغله نو الضارب زید ترکیب ممتنع دے او دا شعر هم په دغه ترکیب باندې مشتمل دے نو کوم ترکیب چه مشتمل په ضعیف وی نو هغه ضعیف وی نو لهذا د ترکیب هم ضعیف شو.

سوال: چه يو تركيب په ممتنع بانديې مشتمل وی نو هغی ته هم ممتنع وئيل پكار دي نه چه ضعيف لكه دلته چه څنګه خبره ده.

جواب: دي نه دا امتناع قول څکه نه دے شوی چه په و عبدها کښ نور احتمالات دي چه هغه صحيح دي نو دلته حکم د امتناع اونشو او د ضعف حكم اوشو (غاية التحقيق) ولا يخفى ان فيه غرض د شارح په دي عبارت سره اعتراض كول دي په قول د ماتن بانديې تقرير دادے د اعتراض چه ماتن صيب خودی تركيب ته ضعيف اوئ چه الواهب المائة الهجان و عبدها دے د وجی د اشتمال د دي نه په ممتنع بانديې نو په دي كښ خلط د مصادره على المطلو ب دے او په كومه طريقه كښ چه خلط د مصادره على المطلو ب نو هغه صحيح نه وی نو بايد چه داقول د مصنف هم صحيح نشی.

بيا دلته دانوی اصطلاح ده چه مصادره على المطلوب ده نو دپاره د تفصيل په دي کښي څو خبری دي (۱) دا مصادره على المطلوب څه ده؟ (۲) بيا دا خبره چه دلته شارح عين مصادره على المطلوب ولی نه وائي؟ (۳) دلته خلط د مصادره على المطلوب څنګه دے؟ خلط د مصادره على المطلوب ولی ناروا ده؟

التفصيل الامر الاول: د مصادره على المطلوب لغوی معنی واپس كيدل په مطلوب بانديې راځی او اصطلاح کښ دايه څلور قسمه راځی (۱) مدعی عين دليل وی (۲) مدعی جزء وی د دليل نه (۳) دليل په مدعی بانديې موقوف وی (٤) مدعی بانديې جزء د دليل موقوف وی.

الامر الثانی مصنف دلته عين مصادره نه وائي څکه چه دي مقام کښ ددی څلور اقسامو نه يو هم نه دے موجود شوی نو عين مصادره څکه نه وائي.

الامر الثالث: خلط د مصادره على المطلوب په دي شان سره راغلی دے چه دلته اثبات د مطلوب موقوف دے په ابطال د دليل د خصم او ابطال د دليل د خصم موقوف دے په اثبات د مطلوب بانديې.

تفصيل دادے چه دلته د ور راغلی دے او هر دور سره خلط د مصادره على المطلوب وی نو دلته هم خلط د مصادره على المطلوب راغله بيا دور څنګه راغلی دے نو هغه داسی راغلی دے چه دعوی دلته امتناع د تركيب، د الضارب زيد ده اوس دا مدعی ئی دليل ګرځولی دے

دپاره د ابطال د دليل د خصم په خصم په دې دليل سره ځېله مدعى ثابتوي چه دليل د خصم الواهب الماة الهجان و عبدها دے او دعوی ی جواز د ترکيب د الضارب زيد دے نو ګرځول د مدعى دليل په ابطال د هغه څه چه دليل ګرځولی شوی وی دور وی حاصل ئ داشو چه دا الضارب زيد ترکيب ممتنع دے ځکه چه الواهب الماة الهجان منع او ضعيف دے او دا ځکه ضعيف او منع دے چه اضافة د معرف باللام په اضافة لفظيه سره معرفه ته منع دے.

الامر الرابع: خلط د مصادره على المطلوب ځکه ناروا دے چه دې کښ دور وی او دور خو ممتنع دے ځکه چه پکښ توقف د شئ على نفسه لازميږي او دا منع دے او دا ځکه منع دے چه حصول داشئ قبل وجوده لازميږی چه دا غير متصور دے عقلا اللهم الا ان يقال سره غرض د شارح دويم جواب کوی حاصل دادے چه مونږ دې ترکيب ته ضعيف نه وايو چه الواهب الماة الهجان و عبدها دے بلکه هر څوک چه د دې ترکيب نه استدلال کوی په جواز د الضارب زيد نو هغه استدلال ضعيف دے ځکه په دې قول ادا عشی کښ نور احتمالات هم شته دے منها[۱] يو احتمال دادے چه دا عبدها عطف شی په الماة بانديي او الواهب عبدها شی نو د الضارب زيد پشان به شی ومنها[۲] دويم احتمال دادے چه دا عبدها منصوب شی او عطف شی په محل د الماة باندې چه محل دمغی نصب دے ځکه مفعول د الواهب دے و منها[۳] دا"واو" د مفعول معه ه شی او عبدها منصوب شی د وجې د کيدلو د دې نه مفعول معه ومنها[۴] څلورم داچه دا د قبيلی د رب شاة و سخلتها نه شی يعنی ډير خله جائز وی په معطوف کښ هغه چه جائز نه وی په معطوف عليه کښ لکه رب شاة و سخلتها شو ادا سخلتها په شاة باندې عطف دے د رب لاندې دے او جائز دے خو که عين رب په دې داخل شی نو ناروا دے چه رب سخلتها دې شی ځکه رب په نکره داخليږي.نو هر کله چه دې کښ دا څلور احتمالات دې نو استدلال صحيح نه دے ځکه چه اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال بيا شارح جواب اللهم سره کړے دے .

سوال: کوم جواب چه په اللهم سره اوشی نو اشاره پکښ ضعف ته وی نو دلته څه ضعف دے؟

جواب: ضعف پکښ دادے چه صرف د ظاهر نه غير ظاهر ته دے ولی چه ضعف کښ نسبة ترکيب ته دے نه استدلال ته.

معنی کوی مرادا نو تمام بیت دادے.
والبیت بتمامه شارح خپل عادت کوی هغه داچه یو شعر راشی متن کښ نو شارح هغه پوره کوی او دهغی د مشکل الفاظ حل کوی او که اعتراضات پری وی نو جوابات ترینه کوی او بیا معنی کوی مرادا نو تمام بیت دادے.

الواهب الماة الهان و عبدها عد ذا یزجی خلفها اطفالها

ای ممدوحه دا ترکیب کوی چه الواهب خبر د مبتداء محذوف دے چه هو دے او دا راجع دے ممدوح ته الهجان معنی شارح کوی چه سپینی اوښی ترینه مراد دی۔

سوال: الهجان صفة د الماة دے نو الماة جمع ده او الهجان مفرد دے مطابقة پکښ نشته دے.

جواب: یستوی دي هجان کښ جمع او مفرد برابر دے لکه فلك شو او یا دا الهجان صفة نه بدل دے او عبدها ای راعیها .

سوال: عبدها ونیل ناروا دي څکه عبد د انسان وی نه دپاره د هجان ولی چه هجان کښ اهلیة نشته دے د ملك د عبد

جواب: مراد د عبد نه راعی دے یعنی شپونکی

سوال: د عبد او د راعی څه مناسبة دے چه په عبد سره تعبیر کوی؟

جواب: تشبیها له په خدمة کښ دواړه یو شان دي لکه څنګه چه عبد خدمت د مولی کوی داسی راعی خدمت د هجان کوی او عبدها حقیقة یعنی حقیقی عبد، مملوك مراد دے.

سوال: عبد خو د انسان وی نه د هجان .

جواب: ادنی ملابسة هغه داچه دا خو عبد د مولی وو خو دا هجان د مولی دي نو څکه ئی هجان ته نسبة اوکړو. خو ذا جمع د عائذ دے او دا منصوب دے حال د الماة نه دے معنی ئی چه نوی لنګی شوی اوښی. یزجی دي کښ دوه احتماله دي یو داچه دا صیغه د فعل مضارع معلوم د باب تفعیل نه شی نو فاعل به پکښ ضمیر مستتر وی او راجع به وی الواهب ته او دویم احتمال داچه دا صیغه د فعل مضارع مجهول شی د باب تفعیل نه نو ضمیر پکښ نشته دے بلکه نائب فاعل به ورله دا اطفالها شی په اول احتمال به معنی شی چه یزجی

بوخی دا عبد روستو د دې اوښونه بچی د دې نو اوښو سره بچی هم بخښی فقط اوښی نه اوپه دویم احتمال به معنی شی چه تزجی بوتلے شی رستو د دغه اوښونه بچی دهغی .

سوال: ته په یقین سره ولی تعین دیو صیغی نه کوی چه دوه احتمالات پکښ بیانوی.

جواب: و حقیقة الامر حاصل دادے چه اخیری حرف په اخیره کلمه کښ د شعر چه په هغی باندې قصیده جوړه وی هغی ته حرف روی وائی او هغه یو حرف وی اوپه یو حرکت متحرك وی نو اوس پته نه لګی چه دې حرف روی باندې کوم حرکت دے که هغه منصوب وو نو بیا خو متعین ده چه یزجی دے او که هغه مرفوع وو نو بیا متعین ده چه تزجی دے.

و اما لانه قاسه دا دریم دلیل د فراء بیانوی او جواب ترینه کوی حاصل دادے چه الضارب الرجل او الضاربك ترکیب جائز دے نو داهم جائز دے خکه هلته اضافة د معرفه باللام معرفه ته شوی دے تو داهم فاجاب دا جواب دے حاصل ئی دادے چه قیاس کول د الضارب زید په الضارب الرجل او الضاربك باندې قیاس مع الفارق دے چه دانارو دے حملا علی المختار اصل کښ دا الضارب الرجل و الضاربك تراکیب هم ناجائز دې قیاسا خو دا حمل دې په مختار د حسن الوجه باندې تفصیل دادے چه په الحسن الوجه کښ باعتبار الاعراب درې وجوه دې یو الحسن الوجه، الوجهُ، الوجه او مختار پکښ الحسن الوجه بالجر دے خکه دا یو مشتمل دے په ما یحتاج الیه او دویم مع التخفیف او هغه نورې دوه وجې چه دې نو دا دواړه خبرې پکښ نشته دے نو چه الحسن الوجه صحیح دے او مختار دے نو دا الضارب الرجل پرې حمل دے نو الحسن الوجه محمول علیه او الضارب الرجل محمول او وجه د حمل اشتراك د دواړو دے په جانب د مضاف او مضاف الیه دواړو کښ بیا په جانب د مضاف کښ داچه اضافة د معرف باللام شوی دے او مضاف الیه کښ اسم جنس مضاف الیه معرف باللام دے اوس الضارب زید چه دے نو دا دې سره صرف په جانب د مضاف کښ شریك دے چه اضافة د معرف باللام دے خوپه جانب د مضاف الیه کښ ورسره شریك نه دے خکه چه زید علم شخص دے جنس نه.

سوال: دا حملا منصوب دے بناء بر مفعول له او داپه تقدیر دلام سره دے او د تقدیر دلام دپاره درې شرائط دې یو شرط پکښ دادے چه د فعل معلل او د مفعول له اتحاد به وی په فاعل کښ او دلته خو د فعل معلل فاعل الضارب الرجل ترکیب دے او د حملا دپاره فاعل نحوی دے.

جواب: حملا مصدر دے او دا موئږ مبنی للمفعول اخلو په معنی د محمولیة سره ګرځونو اوس صحیح ده او معنی داشوه چه و انما جاز او یقینا جائز دے الضارب الرجل ترکیب حملا د وجی د محمول کولو د الضارب الرجل ترکیب نه علی المختار نو اوس مسند الیه یو شو فرق دومره دے چه جاز کښ مسند الیه فاعل دے او محمول کښ نائب فاعل دے و فیه دجهان اخران او هغه دواړه مختار نه دي چه پکښ اشتمال په ما یحتاج مع حصول التخفیف نشته دے و الضاربك شارح و انما جاز سره ربط بیانوی چه دا عطف دے په الضارب الرجل باندي شبهه شبه د دي داده چه اضافة اوشی د معرف باللام ضمیر منصوب ته لکه الضاربي و الضاربه شو فیمن قال ماتن وئیلی دي او شارح وائی فی قول من قال دا ځکه چه څوك داوهم اونکری چه دا جواز په من قال کښ دے ځکه جواز په قول کښ دے نه په من قال کښ اوکه دا فی بمعنی عند شی نو بیا خو دا عبارت صحیح دے عند من قال دے چه په نزد د هغه چا چه او غرض د ماتن په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه الضاربك کښ خلق وائی چه دا تنوین پکښ د اضافة د وجی نه نه دے حذف شوی بلکه دا د وجی د اتصال د الضارب نه د دغه ضمیر سره چه منصوب المحل دے نو پکښ تخفیف د اضافة د وجی نه ندے راغلے نو باید چه دا ترکیب دي هم ناروا شی او تهورته جائز وائی د وجی د حمل نه په ضاربك باندي.

جواب: دي کښ اختلاف دے او زما دا قول په هغه چا باندي بناء دے چه حذف د تنوین د اضافة د وجی نه وائی نه د وجی د اتصال د الضارب نه د ضمیر سره ځکه که دا مراد شی نو بیا پکښ حمل ته حاجة نشته دے حملا ای لمحمولية دا اشاره ده هغه سوال او جواب ته.

سوال: دا اعتراض مخکښ حملا باندي هم راتلو نو شارح هلته ولی دفع نه کوله چه دلته کوی، جواب (۱) هلته قرینه هیر شوی وو او دلته ورته یاد شو نو دفع ئی کړو (۲) هیر قرینه نه دي بلکه دلته د وجی دیوی نکتی نه هغه داچه دلته ئی قال وئیلی دي نو چا به دا وهم کړی وو چه دا حملا به د قال دپاره مفعول له وی نو دپاره د دي وهم د دفع کولو ئی اوی چه نه دا د جاز دپاره مفعول له دے او بیا مصدر مبنی للمفعول دے په معنی د محمولیة دے نو حاصل داشو چه د الضاربك حمل دے په ضاربك باندي ځکه دواړه شریك دي په دي خبره کښ چه دواړه صیغی د اسم فاعل دي او مضاف دي ضمیر متصل ته.

﴿و بیانه انهم اذا وصلوا اسماء الفاعلین و المفعولین﴾ غرض د شارح په دي عبارت سره دفع د سوال ده سوال داده چه تاسو الضاربك حمل کړو په ضاربك باندي نو دي

درمیان کښې څو مناسبة نشته دے څکه یو معرف باللام دے او بل مجرد عن اللام دے نو حمل څنګه صحیح شو نو شارح .

جواب: کوی حاصل د جواب دادے چه دلته مناسبة شته دے په یو بله طریقه بانديې هغه داچه دوی نحاتو یو قانون پاس کړے دے چه کله اسم فاعل او اسم مفعول مجرد عن اللام وی او دا ضمیر متصل ته مضاف شی نو دا اضافة به لازم وی اګرچه د دې اضافة د وجې نه تخفیف نشته دے نه په جانب د مضاف کښې څکه چه تنوین د وجې د اتصال نه ضمیر سره ساقط شوی دے او نه په جانب د مضاف الیه کښې نوسره د عدم تخفیف نه دوی په ضاربك کښې دا اضافة لازم کړو اودی ترکیب ته دوی جائز اوی نو دا الضاربك دوی حمل کړو په دې ضاربك بانديې او دې ته ئې اوئه کتل چه پکښې د اضافة د وجې نه تخفیف راغلی دے او که څو حمل ئې کړو نو مناسبة او وجه د حمل پکښې داده چه د دواړه صیغې د اسم فاعل دی او دواړه ضمیر د مفعول متصل ته مضاف دی او دواړونه تنوین د اضافة نه مخکښې حذف شوی دے نه د وجې د اضافة نه صرف دومره فرق دے چه په الضاربك کښې تنوین د الف"لام" د وجې نه ساقط شوی دے او په ضاربك کښې د وجې د اتصال نه څو دواړه په دې کښې متحد دې چه تنوین د اضافة د وجې نه ندے ساقط شوی. تدبر ههنا.

"ولم یحملوا الضارب زید" غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا الضارب زید هم حمل کړه په ضاربك بانديې څکه په دواړو کښې حصول د تخفیف د اضافة د وجې نه نه دے راغلے .

جواب: داسی نه شی کیدلے څکه چه مناسبة پکښې نشته دے څکه الضارب زید کښې مضاف الیه اسم ظاهر دے او په ضاربك ضمیر دے .

سوال: تاسره څه دلیل دے په دې خبره بانديې چه په ضاربك کښې شرط د تنوین د اتصال د وجې نه دے او نه د وجې د اضافة نه.

جواب: شارح خادم وائی: والدلیل حاصل دادے چه که په ضاربك کښې تنوین د وجې د اضافة نه ساقط شی نو بیا مناسبه داده چه تصور د دې وی اولا په داسی طریقه بانديې کیدلے چه دا ضمیر منصوب وی په مفعولیة سره او بیا روستو اضافة شوی وی لکه ضارب زید اولا ضارب زیدا دے نو داهم ضارب ك وی او حالانکه داسی خوندے متصور نو معلومه شوه چه دا تنوین د اتصال نه د ضمیر متصل سره حذف شوی دے نه د اضافة د وجې نه و لقائل ان یقول غرض د شارح اعتراض کول دي په دې دلیل مذکور بانديې چه نه ضاربك اصل کښې

ضارب اياك اوايه نو چه كله اضافة د ضارب اوشو نو بيا ضمير منفصل په متصل بدل كړه او تنوين د وجې د اضافة نه ساقط كړه نو تخفيف به كاملا حاصل شي په دې شان سره چه په جانب د مضاف كښې به سقوط د تنوين اوشي او په جانب د مضاف اليه كښې به په بدليدلو د ضمير منفصل متصل په ځكه متصل مختصر دے د منفصل نه او بيا دې الضاربك په دې باندې حمل شي ځكه دواړو كښې مضاف اسم فاعل دے چه مضاف اليه ضمير متصل دے بغير د اعتبار وركولو نه سقوط د تنوين ته چه دا مخكښې د اضافة نه ساقط شوى دے شارح جواب نه دے كړے نو جواب دادے چه قواعد د فن بناء دې په سمع د عربو باندې او د عربو نه دا سمع نه ده شوى چه ضاربك اصل كښې ضارب اياك دے او دويم داچه اضافة لفظيه دا فائده كوى چه تخفيف په جانب د مضاف كښې په سقوط د تنوين او په جانب د مضاف اليه كښې په حذف د ضمير سره دے خو دا فائده پكښې نشته چه بدلول د منفصل په متصل سره شي لكه تاچه دلته كومه اوى اعتراض كښې و اعلم غرض د شارح په دې عبارت سره دويم احتمال بيانوى دا خو ضعف الواهب وغيره چه كوم جوابات وو د استدلالاتو د فراء نه خو د دې يو بل احتمال هم كيدلے شي او هغه داچه بعض شارحينو بيان كړى دي چه په دې كښې يوى جدا جدا مسئلې ته اشاره ده چه هغه موافق وى د تركيب د الضارب زيد سره نوپه ضعف الواهب الخ كښې دې ته اشاره ده چه عطف د مجرد عن اللام په داسى معرف باللام چه مضاف وى دې ته صفة چه معرف باللام وى لكه عطف د عبدها په الماة باندې شو نو دا ضعيف دے و انما لم يحكم دا دفع د سوال ده چه الضارب زيد تركيب ممتنع دے نو پكار ده چه الواهب الماة الهجان و عبدها تركيب هم ممتنع شي حالانكه تاسو ورته ضعيف واى.

جواب: دې باندې حكم د امتناع مونږ ځكه نه لګو چه بعض وقت كښې جائز وى په معطوف كښې هغه چه جائز نه وى په معطوف عليه كښې نو دا عبدها خو عطف دے كنه نو د دې ګنجائش د وجې نه مونږ حكم د ضعف اولګو و حينئذ يندفع مافيه غرض د شارح په دې عبارت سره داخبره كوى چه هر كله و ضعف الواهب الخ ځان لره يو مستقله مسئله شوه نوپه دې سره هغه خلطية د مصادره على المطلوب هم ختم شو كوم چه په اول احتمال كښې راتلو و ارجاع كل من الصورتين غرض د شارح دا خبره ده چه د دويم او دريم قول نه ..ه مسئله مستنبط كيږى نو دا ظاهر ده لر سوچ غواړى. بيا هغه مسئله داده په دويم صورت كښې چه اضافة د صفة معرف باللام په طرف د معرف باللام باندې پشان د الحسن الوجه على المختار دے اګر كه فائده نه كوى او د دويم صورت نه دا مسئله مستنبط كيږى چه اضافة د

صفة معرف باللام په طرف د ضمير باندې جاءز دے ځکه حمل به وی په ضاربك باندی، و يتضمن الرد دا دفع د سوال ده چه د فراء د استدلالاتو نه څو جوابات اونشو .

جواب: اوشو خو دې احتمال کښ ضمنا راغلل نه صراحة

ولا يضاف موصوف الى صفة بحث د مجروراتو شروع دے چه تفصيل د اضافة معنويه او اضافة لفظيه شروع وو نو موږ يکښ څو خبرې کړې وې چه په دې طريقه به تفصيل کوی نو هغه ټولې پنځه خبرې وې نو د څلورو خبرو تفصيل اوشو د دې مقام نه د پنځمې خبرې تفصيل دے چه احکام د اضافة دي فقال ولا يضاف موصوف الى صفته دې مقام نه داخېره ذکر کوی چه اضافة په کومو مقاماتو کښ ممتنع دے نو يو داخېره ده چه د موصوف اضافة صفة ته ناروا دے او دويم روستو وائی چه اضافة د صفة هم خپل موصوف ته ناروا دے شارح وائی مع بقاء المعنى دا دفع د سوال کوی چه په ځائی غلام الفاضل کښ دا غلام موصوف دے او الفاضل صفة دے چه الغلام الفاضل دے او دلته څو اضافة د موصوف چه غلام دے صفة ته چه الفاضل دے شوی دے نه ځنګه وائی نه کيږی.

جواب: زه چه ممتنع وايم څو په هغه وخت کښ چه معنى وصفی باقی وی او اضافة اوشی او دې کښ څو معنى وصفی برقرار نه ده پاتې شوی نو اضافة جائز دے لان لکل منه باق التركيب غرض د شارح په دې عبارت سره دليل ذکر کوی د دې دعوی دپاره چه د موصوف اضافة صفة ته ولی ناجائز دے چه کله په خپله معنى وصفی برقرار وی نو دې دپاره څو وجوه دي يوه وجه شارح بيانوی حاصل ئې دادے چه په ترکيب توصيفی کښ مقصود اتصاف د شئ وی ديو شئ سره اوپه ترکيب اضافی کښ مقصود نسبة د شئ وی بل شئ ته او دا دواړه مغائر دي نو ديو دبل په مقام نغی قائمدلے دويمه وجه داده چه صفة ذات نه وی نو چه دې نه اضافة د خپل موصوف اوشی او دې کښ د خپله معنى برقرار وی نو چه دا مضاف اليه د موصوف خپل شی او مضاف اليه خو ذات هم راتلی شی نو لازميږی اجتماع د متضادينو چه ذات او غير ذات دي او داخو ناروا ده دريمه وجه داده چه په درميان د موصوف، صفة کښ اتحاد وی او د مضاف، مضاف اليه درميان کښ مغائرة وی نو چه اضافة د موصوف، صفة ته اوشی نو مقصد داچه مغائرة دے يکښ اوچه نه ورته موصوف صفة وائی نو مقصد داچه اتحاد دے يکښ نو دا بيا اجتماع د متنافينو ده ناروا ده څلورمه وجه داده چه په مضاف ، مضاف اليه کښ دا مضاف معرب وی په اعراب د عامل باندې او مضاف اليه هميشه مجرور وی د مضاف تابع نه وی اوپه موصوف ، صفة کښ دا صفة تابع وی د موصوف نو نه چه

اضافة د صفة اوکړی نو دا اضافة دا تقاضا کوی چه دا مضاف اليه دې مجرور وی چه صفة دے او صفة خو تابع د موصوف وی مرفوع. منصوب هم راتلے شی نو دا بیا اجتماع د متضادينو ده ولا صفة الى موصوفها دا د ماتن عبارت دے دویمه ضابطه بیانوی شارح ورسره ولهذا المعنى بعينه وائی دا دعوی پوره کوی فلا يقال دا تفريع کوی په ما قبل باندې چه مسجد الجامع او قطيفة جردوئيل ناروا دي چه کله پکښ لحاظ د معنی وصفی وی خلاف للكوفية دي نه دا معلومه شوه چه دا مخکښ مذهب د بصريانو دے نو وای کوفيان دي ته جائز وائی چه اضافة د موصوف دي صفة ته اوشی سره د لحاظ د معنی وصفی نه او دغه شان عکس هم دے او دوی دپاره دلیل دادے چه په اضافة سره په دې کښ تخفيف راځی نو جائز دے تخفيف په دې شان سره چه د جرد قطيفة نه په اضافة سره تنوين حذف شو او د المسجد الجامع نه په اضافة سره الف"لام"د المسجد ساقط شو نو جائز دے ولی تخفيف پرې حاصليږی.

"ويرد على القاعدة" غرض د شارح په دې عبارت سره دماتن ددے عبارت چه و مثل مسجد الجامع الخ دے د ماقبل سره ربط بیانوی حاصل ئ دادے چه دا عبارت د ماتن سوال او جواب دے په دغه قاعده اولی باندې حاصل د سوال دادے چه ماتن صيب تا اوی چه اضافة د موصوف صفة ته ناروا دے نوبه مسجد الجامع کښ خو اضافة د موصوف شوی دے چه مسجد دے صفة خيل ته چه الجامع دے او په جانب الغربي او صلوة الاولى او بقبلة الحمقاء کښ هم اضافة د موصوف خپل صفة ته شوے دے نه څنګه ناروا وائ و اجيب دا جواب دے چه ظاهر ته مه ګوره دامتاول دی. فمسجد الجامع دا شارح هغه تاويل بيانوی چه دا مسجد الجامع موول دے په مسجد الوقت الجامع سره و ذلك يحتمل معنين داپه دي کښ دوه معانی بیانوی حاصل د اول معنی دادے چه کلام کښ الوقت مقدر دے او دا مسجد ورته مضاف دے او الجامع ورله صفة دے نو مسجد الوقت الجامع شو او په دې اول معنی سره اعتراض په دوه ؤ وجهو سره دفع شو په دي شان سره چه نه اضافة د موصوف شوی دے صفة ته اونه صفة مضاف اليه واقع شوی دے بلکه اضافة د مسجد شوی دے الوقت ته چه صفة نه دے او نه صفة مضاف اليه دے چه الجامع دے بلکه صفة د الوقت دے بيا حاصل د دويمه معنی دادے چه الوقت د محذوف دے او الجامع د هغی قائم مقام دے او په دې جامع کښ د وقت هغه معنی ملحوظ هم د او داپه دې وخت کښ د صفات غالبه نه وی چه يو شئ وی صفة خو غلبه د اسمية پرې اوشی لکه الحسن صفة دے او چه د چانوم شی نو غلبه د اسمية پرې راغله نو دلته هم د الجامع صفة دے خو غلبه د اسمية پرې شوی ده. او

عين اسم نه دے بلكه قائم دے په مقام د اسم ځكه شارح بمنزلة والي عين نه والي نو دا بيا مضاف اليه واقع شوى دے دپاره د المسجد او په دې سره اعتراض په يو وجه باندې دفع شو چه الجامع خو مضاف اليه دے خو صفة د المسجد ندے بلكه صفة دے دپاره د الوقت محذوف.

و على هذا القياس نو واى په دې اعتبار سره دا دوه نور امثله هم دي يو صلوة الاولى نو داپه تاويل د صلوة الساعة الاولى سره دے او دا دويم چه بقلة الحمقاء دے چه داپه تاويل د بقلة الحبة الحمقاء دے او په دغه دوه احتمالينو سره داهم دي چه يا الساعة مقدر دے او اولى ورله صفة دے او يا دا محذوف دے قائم مقام ئ اولى دے او دغه شان الحبة هم مقدر دے او دا الحمقاء ورله صفة دے او يا دا الحمقاء دهغى قائم مقام دے او په يو صورة كښ دفع د اعتراض په وجهين ده او بل صورة كښ دفع د اعتراض په يوه وجه ده لكن هذا التاويل لا يتمشى غرض د شارح اعتراض كول دي په دغه تاويل باندې حاصل دا دے چه دا جانب الغربي په جانب المكان الغربي سره موول كول ناروا دي ځكه د مكان اطلاق په هر يو طرف كيږى نو الغربي صفة واقع كولو سره په دمكان اطلاق صرف په مغرب طرف كښ محصور شي او داخو ناروا ده. اللهم سره جواب دے او دا جواب په اللهم ځكه كوى چه ذهن ورته ډير صيرورة نه كوى بيا د اللهم دپاره خپله معنى ده چه اللهم لا مخلص من هذا الاعتراض ف وقت من الاوقات فانه صعب جدا الاوقت ان يقال هناك مكانان حاصل دادے چه دا مكان په دوه قسمه دے يو مكان جزء دويم مكان كل نو دلته په د مكان نه مراد دا مكان جزء شي دپاره د تصحيح د توصيف په الغربي سره اوهغه مكان چه دجانب دنسبة اعتبار ورته شوےدے نو هغه كل دے او اضافة بيانيه به شي نو دابه د قبيلى د اضافة د عام نه شي خاص ته ځكه مكان عام دے كل او جزء دواړو ته شامل دے او مراد تريته دلته جزء دے او بيا دا جواب چه دے نو ذهن ورته صيرورة نه كوى سرعة نه په اللهم سره ئ ذكر كړو ويرد على القاعدة الثانية غرض د شارح په دې عبارت سره ربط بيانوى د مثل جرد قطيفة و اخلاق ثياب دما قبل سره نو داهم .

جواب: د سوال دے چه واردېږى په قاعدة ثانيه باندې حاصل دادے چه اے ماتنه ته مخكښ اوى چه اضافة د صفة په موصوف ته نه كيږى نو په جرد قطيفة او اخلاق ثياب كښ داجرد او اخلاق صفات دي او اضافة ئ شوى دے موصوفاتو خپلو ته چه قطيفة او ثياب دے و اجيب عنه دا جواب چه دې كښ هم تاويل شوى دے هغه تاويل داسې چه دا اصل

کښ قطیفة جرد او ثیاب اخلاق وو خو موږ ترینه دا موصوفات حذف کړل چه قطیفة او ثیاب وو نو باقي جرد او اخلاق پاتې شو سوال: نو چه جرد او اخلاق پاتې شول نو بیا تا ولې دا جرد او اخلاق مضاف کړل قطیفة او ثیاب ته جې ؟

جواب: دلته لږه مجبوری راغله هغه داچه جرد او اخلاق خو عام وو په معنی د زوړ سره دې نو په هر زوړئ اطلاق کیدلو او مراد خو عام جرد او اخلاق نه وو بلکه خاص وو نو دپاره د خصوص پیدا کولو موږ دا جرد او اخلاق دې ته وړ مضاف کړو نو بیا دا جرد قطیفه او اخلاق ثیاب شو چه زوړ څادر او جامه مراد ده.

او د دې مثال خاتم دے چه پکښ عموم دے د فضه او حدید وغیره احتمال لرې نو دپاره د خصوص دوی اضافة د خاتم اوکړو خپل جنس ته چه فضة ده نو حاصل داشو چه اضافة دلته په حیثیت د صفة ندے شوی بلکه په حیثیت د رفع د ابهام او د پیدا کولو د خصوص شوی دے.

معانی د دے الفاظ مخصوصه نو دا څو الفاظ دي د څه معنی ظاهر ده او د څه نه (١) مسجد الجامع معنی ئې لوے او جامع جومات (٢) جانب الغربي معنی ئې طرف د ځائې او مکان چه غزلې دے (٣) صلوة الاولى معنی ئې مونځ د وخت او ساعة اول (٤) بقلة الحمقاء دا بقله هغه بوټی ته وائې چه دهغې ډنډر برحال نه پاتې کیږی بلکه یو موسم کښ ختمیږی لکه سبزئ جوار، غنم وغیره او حمقاء اصل کښ کم عقل ته وائې خو دایو خاص بوټی دے چه څوك وائې چور لائې ده څوك ورته ورخاړی وائې على کل دا هغه بوټی دے چه په هر ځائے کښ را خیزی په کندو کښ اختو کښ وغیره او څکه ورته حمقاء وائې چه کم عقل دے هر ځائې را خیژی خلق پری خپے ږدی نو ځائې نه ځائې نه ګوری که هوښیاره وی نو په محفوظ ځائې کښ به راختله (٥) جرد قطیفه معنی د جرد زوړ دے او قطیفه هغه څادر دے چه زونډی ورته وی (٦) اخلاق ثیاب معنی د اخلاق هم زوړ ده او ثیاب جامو او کپړو ته وائې.

ولا یضاف اسم مماثل دا یو بل حکم بیانوی چه دیو اسم مماثل د بل سره دهغې مضاف الیه نه واقع کیږی.

سوال: مماثل د مماثلة نه دے او مماثلة خو اشتراك د شیئینو ته وائې په نوع کښ او دا تقاضا د مغائرة کوی لکه زید او عمرو یو بل سره مغائر دي نو روستو مثال موافق نه دے څکه لیث او اسد کښ مغائرة نشته دے .

جواب: ای مشابه ذکر د مماثل مراد مشابه دے.

سوال: مشابهة خو عبارت دے د اشتراك د شیئینو نه په وصف کښ چه یو پرې مشهور وی لکه زید او اسد شو چه په وصف کښ شریك دي وصف شجاعة کښ او دلته خو په درمیان د لیث او اسد کښ داسې وصف نشته دے.

جواب: في العموم و الخصوص متشابهة په عموم او خصوص کښ مراد دے مقصد داچه دا یو چاته شامل وی نو دابل به هم شامل وی او چه دا یو کوم ځائے نه وی شامل نو دابل به هم نه وی شامل نو د داسې اسم اضافة به نشي کیدلے.

سوال: ستا مراد به مترادفین وی نو بناء په دې سره هغه دوه شیئن چه یکښ ترادف نه وی مساواة وی نو هلته به اضافة جائز وی لکه ناطق او انسان حالانکه دې کښ خو هم فائده نشته دے.

جواب: سواء کان مترادفین او متساوین مترادف د ترادف نه دے رکوب احد خلف الاخر ته وائی او عندهم هغه دے چه دیوی معنی دپاره دوه الفاظ راشی بالفاظ دیگر هغه شئن ته وائی چه یکښ اتحاد فی المفهوم وی او مساواة هغه دے چه د دوه ؤ شیئینو درمیان کښ اتحاد فی المصداق وی لا فی المفهوم لکه انسان او ناطق دپاره مصداق یو دے او مفهوم کښ مغائرة دے انسان دپاره مفهوم حیوان ناطق دے او ناط پاره مفهوم ذات من له النطق دے نوپه دوواړو کښ داحکم دے له لیث اسد منع حبس. سوال: یو مثال کافی وی دوه ولې راوړی؟

جواب: تعدد د امثلو بناء وی په تعدد ممثلاتو باندې اول مثال دا عیان او جبثت دے او دویم د معانی او احداث دپاره مثال دے لعدم الفائدة دا وجه بیانوی چه اضافة د څه فائده دپاره وی نو دلته یکښ فائده نشته دے ځکه راوړل اونه راوړل یو برابر دي نو اضافة ته څه حاجت دے وخت راله صائع کوی سوال نه درته ښایم چه مساوی به وی او اضافة به ئی شوی وی لکه کل الدراهم او عین الشئ شو کل چه په څه صادق دے نو هغه دراهم دي او دراهم کل دے دغه شان عین الشئ هم دے.

جواب: دلته مساواة نشته دے بلکه کل کښ عموم دے په هر کل باندې ئی اطلاق کیږی او الدار هم خاص دے نو اضافة د عام دے خاص ته او عین هم عام دے اطلاق ئی په موجود

عرض جوهر كيږي او الشئ خاص دے موجود في الخارج ته وائي نو داهم اضافة د عام دے خاص ته شارح هم وائي چه بخلاف كل الدراهم اى يصير خاصا غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه تا اوى يختص به يعنى دا تخصيص دا ولې نو داخو اضافة د نكره دے معرفه ته او داخو تعريف راولى نه تخصيص ته څنګه تخصيص وائي؟

جواب: حاصل دادے چه دلته د اختصاص دا معنى نه ده چه كومه مخكښ تيره ده بلكه مقصد دادے چه دا كل او عين خاص ګرځى په اضافة سره او باقى نه پاتى كيږى په خپل عموم سره چه كوم پكښ قبل الاضافة وو نو مراد د تخصيص نه مقابل د عام دے نه هغه چه مقابل د تعريف راځى نوپه دې جواب سره مونږ ته د تخصيص دوه اقسام هم حاصل شول يو مقابل د عام دويم مقابل د تعريف دلته اول مراد دے و اعمية الشئ غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض دے په ماتن صيب حاصل دادے چه په عين الشئ كښ خود امنم چه اضافة د عام خاص ته شوى دے چه كله الشئ كښ الف"لام"عهدى شى خو هر وقت كښ دانه منو چه الشئ خاص دے ځكه كه الشئ كښ الف"لام"جنسى شى نو بيا هغه هم عام دے دواړه اجناس دى.

جواب: دې نه مفصل جواب په حاشيه د عبد الغفور كښ دے چه عبد الغفور لارى ده شاګرد د شارح جامى دے خو هغه ډير دقيق دے خو حاصل دادے چه مونږ عين ته عام وايو په نسبة سره شئ ته چه الف"لام"پكښ جنسى شى نو دايه دې اعتبار وايو چه عين عام دے موجود في الخارج او في الذهن دواړو ته شامل دے اوشئ خاص دے د موجود في الخارج سره ماتو اوے قولهم سعيد كرز او شارح ورله ربط بيانوى د ما قبل سره چه دا دفع د سوال ده چه ماتن اوى لا يضاف اسم مماثل نوپه سعيد كرز كښ خو د دې خلاف شوى دے ځكه سعيد علم دے ديو شخص او كرز ورله لقب دے نو يو شئ دے فاجيب بانه متاول حاصل دادے چه دې كښ تاويل شوى دے ديونه دال مراد دے او د بل نه مدلول مراد دے.

سوال: د كوم نه دال مراد دے او كوم نه مدلول مراد دے؟

جواب: دابه په قرائنو سره مراد وى په دې شان سره چه كه نسبة سعيد كرز ته د داسى شئ اوشى چه په هغى سره مدلول موصوف كيدلو نو بيا مراد مدلول دے لكه جاءنى سعيد كرز اى مدلول هذا اللفظ اوكه نسبة د داسى شئ ورته اوشى چه په هغى دال موصوف كيدلو نو دال به مراد وى لكه تكلمت يا لفظت سعيد كرز اى بدال هذا اللفظ.

سوال: چه تا ،وی چه د یو نه مدلول او د بل نه دال اختسل جائز دي نو دي نه دا معلومه شوه چه اضافة د سعید کرز ته او دکرز سعید ته جائز دے لکه سعید کرز او کرز سعید حالانکه دا خلق او دا قوم وائي چه کرز سعید ناروا دی۔

جواب: ولم یقولوا کرز سعید حاصل دادے چه د قانون په وجه پاندې دا وئیل جائز دي لیکن که نحاتو داناجائز کړی وی نو هغه په دنورو وجوه نه وی لکه قانون دادے چه اضافة او ضع ته کیږی او سعید او کرز کښ اوضح کرز دے ځکه دالقب دے او سعید علم دے او لقب اوضح وی د علم نه ځکه علم د خپل مسمی سره خاص وی او لقب عام دے مسمی او غیر دواړو کښ وی او دویم علم پلار مور ایښودلے وی هغو ته پته وی او لقب عام مخلوق ایښودلے وی تولو ته معلوم وی غالبا ځکه کله کله شيّ الله هم وی خو نادر وی۔

و اذا اضیف الاسم الصحیح او الملحق به کله چه فارغ شو مصنف دهغه احکامو د اضافة نه چه کوم ځائے اضافة جائز دے اوکوم ځائے ناجائز دے نو اوس دا حکم بیانوی چه کله دیو اسم اضافة اوشی نوکوم اسماء کښ اخیری حرف حذف کیږی اوکوم ځائے کښ نه حذف کیږی اوکوم ځائ کښ معاد کیږی اوکوم ځائے نه معاد کیږی چه مخکښ حذف شوی وی اوکوم ځائ کښ قلب کیږی اوکوم ځائ ادغام کیږی اوکوم ځائ نه کیږی نو دهغی تفصیل ذکر کوی فقال و اذا اضیف الاسم الصحیح حاصل د دي حکم دادے چه کله د اسم صحیح یا ملحق به اضافة یاء د متکلم ته اوشی نو بیا د دي اسم اخر لره به کسره ورکولی کیږی او دایاء ساکنه او مفتوحه وئیل دواړه جائز دي دلته چند سوالات راځی (۱) اسم صحیح څه ته وائی؟ (۲) ملحق د صحیح سره څه ته وائی؟ (۳) دا ملحق ورته ولی وائی؟ (٤) دا اخر د دي ولی مکسور کیږی (٥) مثال به ددواړو دپاره څه وی؟

شارح جوابات کوی نو د اول نه وائی وهو فی عرف الخ چه اخر کښ حرف علت نه وی نو دا اسم صحیح دے عند النحاة او دي سره .

سوال هم دفع شو چه دا دری کښ دار اسم صحیح ندے او اضافة ئی یاء د متکلم ته شوی دے او دا حکم پکښ چلیدلے دے حالانکه دار اسم صحیح نه دے عین کلمه کښ حرف علت دے۔

جواب: موږ عرف د نحاتو وایو او هغو صحیح هغه ته وائی چه اخر کښ حرف علت نه وی او د دي اخر کښ حرف علت نشته دے او دا غیر صحیح په عرف د صرفیانو کښ دے ځکه

هغو صحيح هغې ته وائي چه په مقابله د فاء ، عين ،"لام" كلمه كښې حرف علت نه وي او دا ځكه چه نحاة بحث كوي د اخر د كلمه نه اعرابا و بناء نو اخر لره اعتبار وركوي او صرفيان د ذات د كلمه نه بحث كوي چه اول وسط او اخر درې واړو ته شامل دے. د دويم سوال نه جواب وهو ما في اخره الخ هغه اسم چه اخر كښې حرف علت راغلي وي خو ما قبل ترينه ساكن وي نو دا ملحق به دے د دريم سوال نه جواب و انما كان ملحقا به دي ته ملحق به ځكه وائي چه دا د صحيح سره ملحق دے د دوه ؤ وجوه نه يوه وجه داده چه حرف علت چه د سكون نه بعد واقع دے په دې باندې حركت ثقيل ندے ځكه چه سكون كښې خفت دے او دا معارض دےنو دثقل د حركت د حرف علت سره نو دا د صحيح سره ملحق شو دويم وجه داده چه حرف علت چه د سكون نه پس واقع شوى دے نو دا سكون په منزله د سكوت دے نو گويا كه دا حرف علت د سكوت نه بعد واقع شوى دے او د سكوت نه بعد خو ابتداء وى نو گويا چه دا حرف علت ابتداء كښې واقع دے نو تلفظ كول پرې سره د حركت نه ثقيل ندى ځكه چه سكوت سره ورته استراحة لسانى حاصل شى نو بيا تلفظ كول اسان وى نو ځكه مونږ دې سره ملحق كړو د څلورم سوال نه جواب د كسره ځكه وركوُ چه للمتناسب ياء د دوو كسرونه جوړه ده نو كسره ورسره مناسب ده د پنځم سوال نه جواب نو مثال نو ږي او دا ری شو او ظبى او دلوى والياء مفتوحة دا دياء خبره ده نو واى لك الخيار تا خو اختيار راكړو خو غوره كوم دے؟

و قد اختلف اختلاف پكښې شوى دے چه كوم اصل دے پته ئې نه لگى نو يره دومره علم درته نشته دے چه كوم صحيح دے؟ والصحيح انه الفتح يره اصل فتح ده نو دا ولې؟ اذا الاصل ځكه اصل حركت دے په هغه كلمه كښې چه يو حرفي وي نو دا ولې؟ لئلا يلزم چه ابتداء بالساكن رانشى كنه نو دا خو ابتداء بالساكن نه ده راغلى ځكه دارى او ثوبي كښې خو ياء اخر كښې ده؟ حقيقة او حكما دا اخر كښې راتلل عام دې حقيقة مقصد داچه اول نه راشي مكمل اول نه او حكما مقصد داچه يو كلمه سره بله كلمه مركب وى نو د دې دويمې كلمى اول هم ابتداء ده. نو بيا د افتح ولې وركوى؟ دا اصل دے كنه ځكه دا وركو او سكون خو لاجل التخفيف دے كنه فان كان اخره الالف كله چه فارغ شو مصنف د اسم صحيح او ملحق به نه چه اضافة ئې ياء د متكلم ته اوشى نو اوس ئې شروع اوكړه په هغه اسماء كښې چه صحيح نه وى او اضافة ئې ياء د متكلم ته اوشى نوكه اخر كښې الف وى د حروف علة نه نو ورته اسم مقصور وائى اوكه"واو" يا ياء وى نو اسم منقوص دے نو داسم مقصور او د اسم منقوص حكم بيانوى چه مضاف شى ياء د متكلم ته فقال فان كان اِذا فاء تفصيليه ده.

سوال: نو اجمال چرته دے؟

جواب: مخکښ ماتن صحیح اوی نو دي نه معلوم شوه چه غیر صحیح هم شته دے نو دهغی تفصیل څه دے فقال فان بیا حاصل د دي حکم دادے چه که اخر د دي اسم کښ الف وی نو دابه په خپل حال پاتے کیږی اوکه یاء وی او ما قبل ترینه کسره وی نو دایاء به په یاء د متکلم کښ مدغم کولے شي او یاء د متکلم ته به فتح ورکولے شی او که اخر کښ "واو" وی نو ما قبل ضمه به په "واو" بدله شي او "واو" به یاء شي او بیا به ادغام اوشي.

شارح وائي ای اخر الاسم المضاف دا تعیین د مرجع کوی تثبت ای الالف داهم تعیین د مرجع دے علی اللغة الفصیحة دا دفع د سوال ده چه مونږ خو عصی او رحی هم اوریدلے دے.

جواب: هغه لغت غیر فصیح دے نحو عصای و رحای دامی به وائی عصای همسازمارحای میچن زما او رحی ژرندے ته هم وائی.

وهذیل دایوه قبیله ده چه هغوی الف یاء کوی او بیا ادغام کوی نو عصی وائی بیا دلته دوه سوالات په هذیل قبیله راځی (۱) دوی دا الف ولی په یاء بدلوی؟ (۲) تثنیه کښ ولی الف نه بدلوی په یاء باندی؟ نو جواب عن الاول الف ځکه یاء سره بدلوی چه یاء د ځان نه قبل کسره غواړی او الف خو مناسب نه دے نو یاء ئی کړی بیا ادغام اوکړئ جواب عن الثانی الف د تثنیه ځکه نه بدلوی چه هلته مجبوری ده هغه داچه التباس راځی د تثنیه د حالت د رفع د حالت د نصب او جر سره ځکه حالت د رفع کښ جاءنی غلامای دے نو چه غلامی شی نو دا خو عین حالت د نصب او جر دے وان کان یاء دا د اسم منقوص حکم بیانوی نو وای که یاء وی نو یاء د متکلم کښ به مدغم شی.

سوال: د ادغام دپاره د دوه ؤ متجانسینو په یوه کلمه کښ کیدل ضروری دي او دا دوه کلمات دی؟

جواب: فیما هو کالکلمة الواحدة نو په منزله دیوه کلمه دي مثال مسلمی شو د جمع مثال او مسلمی د تثنیه مثال دے وان کان"واو" دا د اسم مقصور تفصیل او حکم بیانوی حاصل دادے چه که اخر "واو" وی نو یاء به شی او بیا به یاء کښ مدغم شی او ما قبل به کسره شی دلته څو سوالات دي (۱) "واو" به ولی یاء کیږی؟ (۲) ضمه به ولی په کسره بدلیږی (۳) مثال څه دے؟ (٤) د عبارت نه التزاما څه معلومیږی؟

جواب عن الاول الاجتماع الواو و الیاء یعنی د صرفیانو یو قانون دے چه هر کله"واو" او یاء یو ځائے راشی او اول پکښ ساکن وی نو دا"واو" به په یاء سره بدلیږی.

جواب عن الثانی لانها لما انقلبت یاء حاصل دادے چه"واو" کله بدل شو په یاء سره نو دا خو ساکن وو نو دیاء ساکن نه قبل ضمه ده چه تقاضا د تغیر د یاء کوی په"واو" سره نو لازمیږی ارجاع الشئ الی الذی سبق عنه الاعراض او دا خوښه نه ده کنه نو مناسب حرکت مو ورله ورکړو چه کسره ده جواب عن الثالث دا دے چه مسلمی اصل کښ مسلمون دے چه ما قبل د"واو" نه ضمه ده بیا کسره شوه ،

جواب: عن الرابع د دې عبارت نه داخبره معلومه شوه چه که چرته مخکښ د"واو" نه ضمه نه وه نو بیا پکښ تبدیل ته ضرورت نشته چه یاء وی او چه ضمه نه وه فتحه وه مثلا مصطفون کښ د"واو" نه ما قبل فتح ده نو مصطفی به وی په فتح د فاء سره او یا مسلمی د مسلمین نه.

و فتحت الیاء دا د دغه یاء د متکلم خبره ده او دفع دیو وهم ده هغه داچه مخکښ ماتن اوی چه یاء ساکنه او مفتوحه دواړه جائز ده نو واهم وهم اوکړه چه دې صورة کښ به هم داسی جائز وی نو ماتن داوهم دفع کړو چه دلته به یاء مفتوحه وی فقط نه سکون ای یاء المتکلم اشاره ده چه الف"لام"په الیاء کښ عوضی دے فی الصور الثلاث دفع د وهم ده چه دابه د اخیری صورة سره خاص وی نو دفع اوشو چه د دریو واړه سره دا حکم دے للساکنین دا دفع د وهم ده او علت بیانوی.

و اما الاسماء الستة غرض د ماتن دفع د سوال ده چه کله یو اسم چه نه صحیح وی او نه ملحق به نو چه اضافة ئی یاء د متکلم ته اوشی نو دری احکام شو ورله یو تثبت دویم عدغم دریم تقلب نو نقض دی راغئ په اسماء سته باندې ځکه داهم غیر صحیح دی حالانکه دا حکم پکښ نه چلیږی.

جواب: و اما الاسماء الستة حاصل دادے چه اسماء ستة چه دی نو دهغی هر ځائی مخالفة مخالفة وی نو دلته هم مخالفة دے بیا مخالفة د دې په دې شان سره دے چه کله د دې اضافة اوشی غیر د یاء د متکلم ته نو اعراب بالحرف پکښ راتلو حالانکه اصل مفرداتو کښ اعراب بالحرکت دے نو چه هلته ئی مخالفة کړے دے نو دلته هم مخالفة کوی چه اضافة ئی یاء د متکلم ته اوشی نو اوس د دې احکام مختلفه بیانوی. بیا دا اسماء ستة چه دی نو اولا

داپه دوه قسمه دي يو داچه لازم الاضافة نه دي او بل چه اضافة ئې کيږي نو هر ځه ته ئې اضافة جائز دے او دا پنځه اسماء دي چه د ذو نه علاوه دي او دويم قسم هغه دے چه لازم الاضافة هم دي او اضافة ئې هر ځه ته نه کيږي بلکه جنس ته به کيږي بيا ثانيا دلازم الاضافة درې قسمه دي يو قسم هغه دي چه رد د محذوف پکښې نه کيږي اختلافا چه يو اخې دويم ابې دے دويم قسم هغه دي چه رد د محذوف پکښې بالاتفاق نه کيږي او دا حم او هن دي دريم قسم هغه دے چه رد د محذوف پکښې کيږي بالاتفاق او هغه فم دے.

فقال و اما الاسماء الستة شارح حواله ورکوي چه دا مخکښې تير شوي دي په اصناف دا اعراب الاسم کښې نو داچه مضاف شي ياء د متکلم ته نو احکام مختلفه دي پکښې فاخي و ابي.

سوال: دا فاخي و ابي جزاء ده نو يو خو جزاء جمله وي او دا جمله نه ده دويم داچه دا اخې او ابي حمل نه صحيح کيږي په اسماء ستة ځکه هغه شپږ دي او دا دوه دي دريم خروج عن البحث راغلې ځکه بحث د اضافة روان دے .

جواب: فالحال في اخ و اب حاصل دادے چه په ظاهر مه شه دلته اصل کښې مبتداء او خبر محذوف دي چه جمله جزاء ده او دا اخې او ابي مقوله ده يو قول ده او مفعول به دے يو فعل هغه قول او فعل چه خبر دے دپاره ديو مبتداء محذوف نو تقدير د عبارت داسې دے چه فالحال في اخ و اب منها اذا اضيف الى ياء المتكلم ان يقال اخي و ابي نو فالحال مبتداء ان يقال خبر نو مبتداء خبر جمله شوه او منها سره حمل صحيح شو ځکه بعض د اسماء سته نول نه او اذا اضيف سره خروج رانغئ ځکه اضافة مراد دے .

و اجاز المبرد دا خبره مونږ کړې ده چه دا اول قسم دے د دويم تقسيم نه چه رد د محذوف پکښې نه کيږي بالاختلاف نو دلته نه دا اختلاف بيانوي نو مبرد صيب وائي چه دا"واو" په اب او اخ کښې به د اضافة سره رامعاد کيږي او بيا به هغه ياء کيږي او ياء به په ياء کښې مدغم کيږي نو ابي او اخي به ونيلې شي او دليل د مبرد دا شعر دے پوره شعر دادے.

قد راحلك ذا المجاز و قد ارى ۔۔۔۔ و ابي مالك ذو المجاز بدار

يو غرض د شاعر دويم محل د استشهاد دريم معنى او مقصد د شعر غرض د شاعر دادے چه خطاب کوي خپل نفس ته چه داته چرته راغلې ئې نو د استا د نفس سره نه شاني خو بس د تقدير فيصلې دي نو.

او محل د استشهاد د ابي دے چه مړه څه واڼي هغه پکښ شوی دے۔

او معنی د شعر به داسی معلومه شي چه لږ تفصيل اوکړو نو تفصيل دادے چه د عربو په زمانه د جاهلية کښ څه مقامات وو چه هغه به محفوظ وو او د جنګ نه به خالي وو مړی به پکښ نه کيدل نو هغی کښ به دوی بيع و شراء کوله دابه بازارونه وو دری مقامات وو يو دومة الجندل دويم عكاظ دريم ذو المجاز نو دا شاعر دي ذو المجاز ته راغلی دے او خان ته خطاب کوی نو واڼی قد احلك تقدير داخل کړی ئی اے نفسه ذو المجاز بازار ته و قد اری او زما گمان دے و ابي اوپه پلار مي دي قسم وی چه نه دے ذو المجاز مقام ستا دپاره بدار خالي د اوسيدو او لائق ستا د اوسيدو.

و حمل الاخ دا دفع د سوال ده چه دا خو ابي کښ شو ته خو اخی کښ هم واڼی؟

جواب: داپری حمل دے څکه يو شئ دے و اجاب دا جواب کوی چه يا خو دا شعر خلاف القياس دے او استعمال د فصحاء هم ندے او يا خو دا شعر په استدلال کښ متيقن هم ندے څکه ابي کښ دا احتمال هم شته دے چه دا دجمع صيغه شي اصل کښ ابين دے اضافة سره نون د جمع ساقط شو او ياء په ياء کښ مدغم شوه نو ابي شو او اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال .

سوال: داسی څرته شته دے چه اب په ابين جمع وی؟

جواب: او دا شعر دے کنه د حماسی شعر دے شاعروائی.

فلما تبين اصواتنا بكين وفدينا بالابينا

داپه جنګ کښ مخالفو زنانه بوتلی وی نو دانور وريسی جنګ له ورل نو چه شور شو نو هغو اوازونه اوريدل او په ژړا شول او پلار ئی قربان کړل ای لما سمعن الخ دا ورله معنی کوی محل د استشهاد پکښ دا بالابينا دے و تقول حمی و هنی كله چه فارغ شو مصنف د تفصيل ديو قسم نه چه پکښ اختلاف وو نو دويم قسم کښ شروع اوکړه چه رد د محذوف پکښ بالاتفاق نه کيږی فقال و تقول شارح د تقول د ضمير مرجع متعين کوی نو وای امراة قائلة ته راجع دے.

سوال: عام طور خو ضمیر مخاطب مذکر ته راجع وی دلته خو تا مونث غائبه ته راجع کړو دا ولی؟

جواب: لا متناع حاصل دادے چه حم هغه قریب د امراة ته وائی چه دجانب د رجل نه وی یعنی دالیور ته وائي اولیور د سری نه وی د زنانه دپاره وی.

و انما فصلهما دا دفع د سوال ده چه تا عبارت داسې ولی نه وائی چه و اما الاسماء الستة فاخی و ابی و حمی و هنی سره د مقصد نه په اختصار هم راغلی وو.

جواب : داماتن جدا کړل ځکه که دائ یو ځاے وئیلی و نو بیا به د مبرد اختلاف په حمی او هنی دواړو کښ هم راغلی وو حالانکه په مشهور قول کښ د مبرد اختلاف نه دے نقل په حمی او هنی کښ اګرچه په قول د ابن یعیش او ابن مالك کښ نقل دے خو هغه غیر مشهور دے لا اعتبار له.

و اذا قطعت ...: کله چه فارغ شو مصنف د تفصیل د دوه اقسامو د اسماء سته نه چه یو قسم رد المحذوف نه وو بالاختلاف او دویم بالاتفاق وو نو اوس ئی په دریم قسم کښ شروع اوکړه چه پکښ رد المحذوف کیږی بالاتفاق فقال و یقال فی نو هغه فم دے او رد د محذوف پکښ دے نو دری خبری پکښ دي یو به محذوف معاد کوی دویم"واو" به په یاء سره بدلوی دریم یاء به په یاء کښ مدغم کوی فی اکثر مواد الاستعمال اشاره ده چه الف"لام"عوض دے و فمی فی بعضها د اکثر قید فائده بیانوی اصل کښ دلته ئی تفصیل دے چه دا فم اصل کښ فوه وو نو بیا هاء حذف شوه تخفیفا نو فوشو نو"واو" اخر د کلمه واقع شو نو په اخر اعراب راځی او"واو" طاقت نه لری د اعراب نو دوی په میم بدل کړو ځکه قوی دے او"واو" سره په شفویة کښ شریك دے نو فم شو نو چه اضافة ئی کله یاء د متکلم ته اوشو نو هغه اصل حرف چه"واو" دے نو دائ معاد کړو چه صورة اخر د کلمه نه شو بیا هغه"واو" دوی په یاء بدل کړو او یاء ئی په یاء کښ مدغم کړو او ما قبل ئی کسره کړه للتناسب نو فی شو او چه څوك فمی وائی نو هغو"واو" نه معاد کوی ځکه چه وای یو خل ترینه مونږ عوضا میم راوړی دے دپاره د تقویة اعراب ته نو اوس په اضافة سره یا د متکلم مونږ هغه به"واو" واپس نه شو بد لولی ځکه چه دا خو ظلم دے چه د تکلیف وخت کښ میم او د سرورونت کښ"واو"

وذا تكون كريهة ادعى لها و اذا يحاس الحيس يدعى جندب

و اذا قطعت قبل اخ ماتن د اسماء ستة تفصيل كوو نو د اسماء خمسه احوال ئي ذكر كړل په اضافة سره ياء د متكلم ته او مخكښ په اصناف د اعراب الاسم كښ ذكر كړي وو خو په اضافة سره غير دياء متكلم ته نو طبعا دا سوال راځي چه دا اسماء خمسه به هميشه مضاف واقع كيږي اوكنه غير مضاف هم راتلی شي نو چه غير مضاف واقع شي نو بياني څه حكم دے؟ فقال جوابا او تكميلا و اذا قطعت او دابه اول قسم كښ موڼږ ونيلي وو چه دا اسماء خمسه لازم الاضافة ندى نو دهغی تفصيل كوی بيا په فم دری وارهٔ حركات په فاء باندي جائز دي او غوره پكښ فتح د فاء ده ځكه اصل كښ دا مفتوح وو و جاء حم مثل يد دانور لغات پكښ ذكر كوی چه تول مباحث ئي سرته اورسی يعنی ميلمه رورو ګوتی پنځه كوی نو حم پشان د يد راغلی دے يعنی په اضافة او قطع د اضافة كښ د دي اعراب پشان د يد دي چه محذوف پكښ نه معاد كيږی او اعراب ئي پشان د مفرد منصرف صحيح وی امثله ظاهر دي او مثل خباء يعنی د همزه سره هم راغلی دے سره د اضافة او قطع نه په شان د مفرد منصرف صحيح امثله ظاهر دي و مثل دلو د لو پشان هم راغلی دے چه د مفرد منصرف صحيح پشان اعراب دے پكښ و مثل عصا بالالف يعنی اعراب تقديری دے په دريو احوال كښ مطلقا يعنی كه اضافة اوشی يا نه وجاء هن مثل يد صرف ديد پشان مطلقا راغلی دے امثله ظاهر دي حاصل د كلام داشو چه دهن دپاره خلور قسمه اعراب شو يو چه بالحرف وی لكه اصناف داعراب الاسم كښ تير شوی دے دويم چه مضاف شي ياء د متكلم ته لكه دلته موڼږ اوی دريم چه مفرد وی نو بيا د مفرد منصرف صحيح پشان اعراب ئي دي څلورم اعراب ئي پشان د يد دي مطلقا يعنی كه اضافة سره وی غير دياء د متكلم ته او يا مفرد وی او دپاره د حم شپږ قسمه اعراب شول يو بالحرف چه اصناف د اعراب الاسم كښ تير دي دويم چه مضاف شي ياء د متكلم ته دريم چه مفرد وی نو پشان د مفرد منصرف صحيح دريم پشان د يد څلورم پشان د خب پنځم پشان د عصا شپږم پشان د عصا مطلقا يعنی كه مضاف وی غير دياء متكلم ته او يا مفرد وی و ذو هر كله چه فارغ شو ديو نه په اسماء ستة كښ نو شروع ئي اوكړه په دويم قسم كښ چه هغه صرف ذو دے چه دي كښ دوه حكمه دي يو حكم دا چه دالازم الاضافة دے دويم اضافة به ئي علاوه د ضمير ته كيږی لانه وضع سره علت بيانوی چه دا وضع شوی دے د دي دپاره چه توصيف د نكره اوكړی په اسم جنس باندي نو ضمير اسم جنس نه دے

نو نه په مضاف کيږي هغې ته مثال جاءنی رجل ذو مال نو رجل نکره ده ذو مال ورله صفة دے په اسم جنس سره صفة دے۔

سوال: زه درته ښايم چه اضافة په ی ضمير ته شوې وی شعر دے

واهنأ المعروف مالم تبتزل فيه الوجوه

انما يعرف ذا الفضل من الناس ذووه

دا د دې شعر ترجمه ده چه د فارسی دے

قدر زر زرگر شناسد قدر جوهر جوهری

قدر گل بلبل شناسد قدر دلدل شاه علی

نو دلته ذو وه راغلے دے جواب دا شاذ دے کما قال الشارح و قد اضيف الخ.

ولو قيل لا يضاف دا شارح اعتراض ته اشاره کوی چه تا الی مضمر اوی نو دې نه معلومه شوه چه د ذو اضافة په د اسم ضمير نه علاوه نورو معارفو ته کيدلے شی حالانکه داخو ناروا ده نشی کيدلے نو بيا عبارت داسی پکار وو چه الی غير اسم الجنس وکان سره جواب دے حاصل دادے چه دا اسماء چه کوم اوتيلی شو نو دغه اسماء کښ چه اضافة اوشی دياء د متکلم نه علاوه ته نو ځان لره حکم ی دے او چه ياء د متکلم ته اضافة اوشی نو د هغی خپل خصوصيات وی نو چابه وی چه د ذو دپاره به هم دا خصوصيات وی نو مصنف اوی چه د ذو اضافة د سرنه ضمير ته نه کيږی نو لا داچه ياء د متکلم ته مضاف شی چه هغه د ضمير يو قسم دے او دهغی هغه خصوصيات پکښ راشی نو د دا د سر نه ضمير ته اضافة نه کيږی نو بيا ياء د متکلم او بيا لا دهغی هغه خصوصيات داخو ډيره بعيده ده نو داخيره په دې بل انداز کښ هم وه خو صراحة نه وه بلکه ضمنا او موئږ خو تصريح کوو باقی ترجمه ده.

التوابع

التوابع كل ثان باعراب سابقه په دې عنوان كښې لا بدى ده د څو امورونه (۱) ربط دما سبق سره (۲) د التوابع عنوان تشريح (۳) اصطلاحى تعريف (٤) اقسام د توابع اجمالا مع وجه حصر (۵) تفصيل د توابع.

ربط د ما قبل سره:معنوى ربط دادے چه هر كله فارغ شو مصنف د باب اول د څلورو حصو چه يو مقدمه ده چه په لسو خبرو مشتمله وه دويم مقصد اول چه مرفوعاتو كښې وو دريم مقصد ثانى چه منصوباتو كښې وو څلورم مقصد ثالث چه مجروراتو كښې وو نو اوس ئې په پنځمه حصه كښې شروع اوكړه چه خاتم د باب اول ده چه پكښې تفصيل د توابعو خمسة دے فقال التوابع كل الخ او يا داسې هم وئيلې شو چه كله فارغ شو مصنف دهغه معرباتو نه چه دهغې اعراب اصلى وو نو شروع ئې اوكړه اوس په هغه معرباتو كښې چه دهغې اعراب تبعي دے فقال التوابع كل ثان الخ.

ربط لفظى: (۱) التوابع بتداء او كل ثان الخ خبر مبتداء خبر جمله خبريه اسميه (۲) التوابع خبر محذوف المضاف دپاره د مبتداء محذوف اى هذا بحث التوابع.

تشريح د دې عنوان:په دې كښې اول صيغه د توابع دويم معنى لغوى دريم وجه دتسميه. نو سوال دا د څه صيغه ده؟ جواب وهو جمع د جمع صيغه ده . سوال جمع د څه ده؟ نه د تابع جمع صحيح كيږى او نه د تابعة ځكه كه د تابع جمع شى نو دا فاعل وزن جمع كيږى په"واو"، نون سره نو تابعون پكار وو او كه د تابعة جمع شى نو صحيح ده د فاعلة وزن جمع په فواعل سره راځى خو دا التوابع صفة واقع د الاسماء و الاسماء جمع د اسم ده او توابع جمع د تابعة شوه نو الاسم التابعة شو او دا خو ناروا دے مطابقة نشته بين الموصوف و الصفة.

جواب: تابع جمع د تابع ده او منقول عن الوصفية حاصل دادے چه فاعل وزن دوه قسمه دے (۱) فاعل صفتى (۲) فاعل اسمى نو هغهچه جمع ئے په فواعل نه رازى هغه فاعل صفتيدے او دلته چه كوم فاعل مراد دے نو هغه فاعل اسمى دے نه صفتى ځكه دا نقل دے د وصفية نه اسمية ته يعنى معنى مشتقى ترينه زائله شوى ده اوس نوم گرځيدلے دے

دهر هغه شئ دپاره چه په مرتبه ثانی کښ واقع وی او معرب وی په اعراب د سابق د جهة واحدة نه .

سوال: داسی بل مثال شته دے؟

جواب: کاهل دے کته په کواهل جمع کیږی.

دویم جواب د اصل اعتراض نه بعض شارحین دا وائی چه داجمع د تابع ده چه دا وزن د فاعل دے او فاعل په فواعل نه جمع کیږی خو هغه چه دپاره د ذوی العقول وی اوکوم فاعل وزن چه دپاره د غیر ذوی العقول وی نو دهغی جمع په فواعل وزن بانديٖ راځی دلته داهم د دی قبیلی نه دے والمراد بها توابع المرفوعات غرض د شارح دفع د سوال ده چه روستو تاکوم تعریف اوکړو په کل ثان سره نو دا تعریف صحیح ندے خارجیږی ترینه ان،لا ضرب ضرب ځکه دا دویم ان او ضرب توابع دي دپاره د اول ان او ضرب او تعریف ورته شامل ندے په دي شان چه ته وائی باعراب سابقه او داخو د مبنیاتو نه دی.

جواب: شارح وائی چه مراد د توابع نه مطلقا ندی بلکه هغه توابع مراد دي چه دهغی متبوع اسم وی نو تابع به هم دهغی اسم وی.

سوال: نو ماتن خو توابع مطلق ذکر کړی دي ته څنګه اسم اخلی؟

جواب: دلته ماتن توابع د مرفوعات او منصوبات او مجرورات ذکر کوی او هغه اقسام د اسماء دي نو دا توابع به هم اقسام د اسماء وی نو ان او ضرب ضرب خو اسماء نه دي نو تعریف ته نقصان نشی رسولی. بیا تابع په لغت کښ وریسی کیدونکی ته وائی قال تعالیٰ: (و اتبعت ملة ابائی) او مصطلح تابع ته هم ځکه تابع وائی چه داهم د متبوع پسی وی اعراب کښ .

اصطلاحی تعریف:دا ماتن کړے دے فقال کل ثان باعراب سابقه من جهة واحدة چه هر ثانی دے.

سوال: دا تعریف صحیح نه دے ځکه جامع نه دے خارج شو ترینه تابع په دي ترکیب کښ چه جاءنی زید و عمرو وبکر نو دلته دا بکر تابع دے او دا خو ثانی نه دے بلکه ثالث دے.

جواب: ای کل متأخر چه د ثانی نه متأخر مراد دے نو دا بکر متاخر دے نو تابع دے تعریف ورته هم شامل شو.

سوال: چه هر کله د ثانی نه مراد متاخر دے نو څو نقصانات راغلل یو داچه و رحمة الله و علیکم السلام کښې دا رحمة الله تابع دے دالسلام خو متاخر نه دے بلکه مقدم دے نو خارج شو د تعریف نه دویم داچه مراد متاخر دے د ثان نه نو کل متاخر ولې نه وائی دریم په جاءنی زید و عمرو وبکر کښې دا عمرو تابع دے او تعریف ورته شامل نه شو ځکه عمرو متاخر نه دے په وسط کښې دے.

جواب: متی لوحظ مع سابقه کان فی الرتبة الخ حاصل دادے چه مراد د متاخر نه رتبة متاخر مراد دے نو ورحمة الله و علیکم السلام کښې دا رحمة الله اگرچه لفظا متقدم دے خو رتبة متاخر دے نو تعریف ورته شامل دے او په متاخر سره تعبیر ځکه اونشو چه بیا وهم راتلو چه مراد به د تاخر نه لفظا وی حالانکه خبره داسی نده نو په ثان سره تعبیر اوشو چه مرتبه ثانیه کښې وی د لحاظ دهر سابق سره او عمرو هم په جاء زید و عمرو وبکر کښې د اول سره ملحوظ شی نو هغه په مرتبه ثانیه کښې دے نه چه په وسط کښې نو تعریف ورته شامل شو بلکه هر تابع چه ثانی وی یا ثالث یا رابع ټولو ته تعریف شامل دے.

بیا ماتن باعراب سابقه اوی شارح ورسره متلبس اولګو ځکه چه باعراب سابقه جار مجرور دے او جار مجرور چه په کلام د عربو کښې واقع شی نو د متعلق نه ورله لابدی وی نو هغه متعلق ورله شارح متعین کړو او بیا په اعتبار د متعلق سره دا صفة دے دپاره د ثان او دې سره دفع د وهم هم اوشوه چه دا باعراب سابقه به د ثان سره متعلق وی چه ثانویة به په اعراب د سابق وی نو داخو مهمله خبره ده علاوه لا داچه ثان خو متعلق نشی ګرځیدلے ځکه چه مشتقی او مشتق منه خوندے او دې ته پکښې هم اشاره اوشوه چه باعراب سابقه کښې باء دپاره د تلبس ده. ای بجنس اعراب سابقه غرض د شارح په دې عارت سره دفع د سوال ده چه تا اوی چه دابه متلبس وی په اعراب د سابق نو یا خو هغه سابق بلا اعراب پاتې شو او یا خو لازم شو قیام د عرض په محلینو مختلفینو پورے چه ناروا کار دے علاوه لا دا وایو چه انتقال د عرض هم لازم شو چه کفر دے عندهم.

جواب: بجنس اعراب سابقه حاصل دادے چه دا عبارت په حذف ده مضاف سره دے چه جنس دے نو دا مقصد نه چه هم هغه اعراب به دې لره ورکو بلکه دهغی د اعراب د جنس

نه په دا اعراب هم وی چه هغه مرفوع نو داهم چه هغه منصوب نو داهم چه هغه مجرور نوداهم او دا دفع د بل سوال هم گرځیدلے شی چه ته وائی چه دایه متلبس وی په اعراب د سابق نو بناء په دې بانديې جاءني زیدو ابوه کښ دا ابوه چه دے نو دې ته تابع وئیل نه دی پکار ځکه دایه اعراب د سابق باندې نه دے متلبس ځکه اعراب د سابق بالحرکت دے او اعراب د ابوه بالحرف دے.

جواب: مراد اتحاد فی جنس الاعراب دے نه اتحاد فی نوع الاعراب نو جنس دلته رفع ده که بالحرکت وی یا بالحرف نو دلته دا دواړه مرفوع دي نا ش کلاهما من جهة واحدة ماتن من جهة واحدة وئیلی وو نو داجار مجرور وو نو شارح ورله متعلق متعین کړو چه ناش دے بیا دایه اعتبار د دي متعلق سره صفة شو. د اعراب سابقه دیاره.

سوال: داناش صفة د اعراب سابقه واقع کول صحیح ندی ځکه چه ناش نکره ده او اعراب سابقه معرفه ده نویه درمیان د موصوف صفة کښ مطابقة نشته په تعریف، تنکیر کښ.

جواب: دا ناش صفة دیاره د اعراب سابقه واقع کول صحیح دي او مطابقة هم پکښ شته دے ځکه دا اعراب سابقه هم نکره ده په دې شان سره چه سابقه اضافة لفظیه دے تعریف نه کسب کوی نو سابقه نکره ده او اعراب ورته مضاف دے نو اضافة د نکرې نکره ته معرفه نه وی نکره وی شخصیه د دې قید فائده روستو راځی مثل جاءنی زید العالم دا وضاحة بالمثال دے فان العالم داتطبیق د مثال دے د ممثل سره حاصل دادے چه العالم تابع دے ځکه چه په مرتبه ثانیه کښ واقع دے او د متبوع د اعراب په جنس متلبس دے چه رفع ده په یوجهة سره چه فاعلیة دے ولی چه دواړو ته نسبة د مجیئة یو شان شوی دے فقوله کل ثان غرض د شارح په دې عبارت سره فوائد د قیوداتو بیانوی ځکه په هر تعریف کښ د جنس او فصل نه لا بدی وی دیاره د جامعیة او مانعیة د تعریف نو حاصل دادے چه کل ثان په منزله د جنس دے تولو توابع ته شامل دے او خبر د مبتداء ته او دکان خبر ته او د باب د ظننت او اعطیت مفعول ثانی ته ځکه دې کښې هر واحد ثانی دے.

باعراب سابقه دایه منزله د فصل اول دے په دې سره احتراز اوشو د علاوه د مفعول ثانی د باب د ظننت او اعطیت او د خبر د مبتداء نه ځکه دا ټول په اعراب د سابعه وی من جهة واحدة دایه منزله د فصل ثانی دے په دې سره احتراز اوشو د دې تولو باقی نه په دې شان سره چه مبتداء او خبر دواړه په یو اعراب دي او دواړو کښ عامل ابتداء ده خو یه مبتداء کښ

په حيثية د تقاضا د مسند اليه اوپه خبر كښ په حيثية د تقاجا د مسند نو دواړو جهة جدا جدا شو او د مفعول ثانى د باب ظننت نه داسې احتراز دے چه په مفعول اول اول ثانى دواړو كښ عامل ظننت دے خوپه مفعول اول كښ په حيثية د تقاضا د مظنون فيه او مفعول ثانى كښ په حيثية د تقاضا د مظنون سره نو د دواړو جهة جدا جدا دے او د مفعول ثانى د باب اعطيت نه هم احتراز اوشو په دې شان سره چه مفعول اول او ثانى دواړو كښ عامل اعطيت دے خو په مفعول اول كښ په حيثية د تقاضا د اخذية اوپه مفعول ثانى كښ په حيثية د تقاضا د ماخوذية سره نو جهة جدا جدا دے نو ددرى دريو واړو جهات مختلف دي او زمونږه خو جهة واحدة مراد دے. داچه څنګه فوائد د قيوداتو دي نو دغه شان دا د شخصية قيد فائده هم شوه څكه چه دي امثلو كښ وحدت د اعراب نوعى دے خو وحدت د اعراب شخصى پكښ نشته دے نو خارج دى.

سوال: زيد ابوه قائم تركيب كښ ابوه مبتداء ثانى ده نو بايد چه دا دې تابع شى څكه دا متلبس ده په اعراب د سابق سره او جهة هم يو دے حالانكه دې ته څوك تابع نه وائى .

جواب: په تابع كښ معنى د فرعية ده او مبتداء ثانى خو فرع نه وى نو تابع نه ده و اعلم ان الاعراب غرض د شارح په اعلم سره يو تنبيه د مخاطب ده په يقظة د مقام بانديې چه ويښ شه اخيرى اسباق دي دويم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په تفصيل د مقام باندې دريم غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په دفع ديو سوال بانديې چه تعريف صحيح نه دے څكه چه الرجال ترينه خارجيږى په جاءنى هولاء الرجال كښ څكه چه الرجال كښ خو اعراب شته دے خو هولاء مبنى دے اعراب پكښ نشته دے او الرجال خو تابع دے بے شك .

جواب: دا اعراب عام دے كه دا لفظا وى يا تقديرا وى او يا محلا وى نو هولاء كښ محلا اعراب شته دے .

سوال: نو په يا زيد العاقل او لا رجل ظريفا كښ خلق وائى چه دا العاقل او ظريفا تابع دي حالانكه داخو په اعراب د سابق ندى.

جواب: حقيقة او حكما دا اعراب لفظى عام دے كه حقيقة وى يا حكما نو دلته په يا زيد او لا رجل كښ په زيد او رجل بانديې اعراب لفظى حكما دے په دې شان سره چه اعراب هم د عامل د وجې نه وى او دې بانديې هم د غير د وجې نه دا ضمه او فتحه راغلى ده نو دا د

اعراب سره مشابه دے په حصول كښ د عمر نه نو په يا زيد كښ اعراب محلى بعيد نصب دے اولا رجل كښ رفع ده ثم ان لفظة كل ههنا دلته يو سوال دے چه وارد دے په جانب د محدود او حد دواړو باندې نو په جانب د محدود دادے چه محدود دې مقام كښ التوابع جمع ده چه دلالت كوى په افرادو باندې حالانكه تعريف خلق د جنس او ماهية كوى نه د افرادو او په جانب د حد دادے چه حد كښ كل ثان دے او كل دپاره د افرادو راځي حالانكه تعريف په جنس سره كيږى نه په فرد سره .

جواب: په جانب د محدود كښ چه التوابع جمع ده نو الف"لام"جنسي پرى داخل دے جمعية ئې وركه باطل كړے دے نو جنس تابع مراد دے او په جانب د حد كښ كل نه دے داخل بلكه تعريف د ثان نه شروع دے چه جنس دے نو هيڅ اشكال نشته دے.

سوال: نو هر كله چه جمعية لره په محدود كښ او كل لره په حد كښ دخله نشته دے نو بيا محدود ولى جمع ذكر كوى او كل ولى راوړى.

جواب: شارح صيب د كل د اتيان دپاره وجه بيان كړى ده او د جمع دپاره نه خو دابه مونږه بيان كړو تفصيلا نو حاصل دادے چه دا التوابع محدود ځكه جمع راوړى شوه چه اشاره ده پكښ مانعية ته په دې شان سره چه صدق د محدود په ټولو افرادو د حد راشي او دغه شان اشاره ده پكښ جامعية ته په دې شان سره چه صدق د حد راشي په ټولو افرادو د محدود او دغه شان كل هم دے چه تعريف جامع او مانع شي نو دا قياس كړه په دې مخكښ باندې. تدبر.

اقسام د توابع اجمالا مع وجه حصر:اجمالي اقسام نو دا ټول پنځه دي (۱) نعت (۲) تاكيد (۳) بدل (٤) عطف بالحرف (٥) عطف بيان

وجه حصر: دا تابع به خالى نه وى يا به مقصود بالنسبة وى او يا نه كه مقصود بالنسبة وى نو بيا به خالى نه وى يا به سره د متبوع نه وى او يا علاوه د متبوع نه كه سره د متبوع نه وى نو عطف بالحرف او كه علاوه د متبوع نه وى نو بدل او كه دا تابع مقصود بالنسبة نه وى نو بيا به خالى نه وى يا به دلالت په معنى د متبوع كوى او يا نه كه كو وى نو نعت اوكنه نو بيا به خالى نه وى يا به تقرير د متبوع كوى او يا توضيح كه تقرير وو نو تاكيد اوكه توضيح وو نو بيا عطف بيان.

النعت

تفصیل د توابع د اقسامو: ماتن صیب وائی النعت تابع هر کله چه فارغ شو مصنف د اجمال د توابع نه چه په التوابع کښ ورته اشاره وه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل د توابع کښ نو دری سوالات راغلل چه سوالات معلوم دي جوابات دادی چه نفس تفصیل د وجی د ما مر نه کوی او تفصیل کښ نعت مقدم کړو چه دانعت خو یو اوقر دے په تابعیة کښ. ځکه چه نعت د متبوع په اهسو امورو کښ تابع وی او دویم اکثر دے استعمالا ځکه خلق چه دپاره د اظهار دیو معنی راوړی نو نعت وی دریم اعظم دے فائده ځکه چه ماتن ورله پینځه فوائد بیانکړی دي څلورم اکثر دے په بیان کښ ځکه ماتن وائی چه توضیح هم فائده کوی.

او تفصیل داسی کوی چه یو به تعیین د قسم اول د تابع اوکړی د النعت سره دویم د دي تعریف به اوکړی د تابع یدل سره دریم فوائد ددی به ورله بیان کړی د وفائدته سره څلورم وضاحة بالمثال به اوکړی د نفحة واحدة سره پنځم رد په بعض الناس به اوکړی د ولا فصل سره شپږم احکام به بیان کړی د و توصف... و الموصوف وغیره سره اووم دوه نوع به ورله بیانکړی دیو صف بحال الموصوف سره اتم تفصیل د هغه دوه ؤ نوعو به اوکړی د الاول یتبعه سره نهم تفریعات به اوکړی ومن ثم سره لسم دفع د بعض اعتراضاتو به اوکړی د وانما التزم وصف الخ سره النعت تابع یدل ادا تعریف دے شارح پکښ تعیین د جنس او فصل کوی نو تابع په منزله د جنس دے تولو توابع ته شامل دے یدل علی الخ داپه منزله د فصل دے باقی مانده خارج شول شارح صیب وائی بهیاة ترکیبیة غرض ئی دفع د سوال دہ چه ادا تعریف د نعت صحیح ندے ځکه داجامع نه دے خارج شو ترینه هذا په جاءنی زید هذا کښ ځکه چه هذا صفة د زید دے سره د دي نه چه ادا هذا په معنی د متبوع خپل دلالت نه کوی ځکه معنی د هذا خو اشاره ده چه زید کښ نده موجود او دغه شان مانع هم نه دے د دخول د غیر نه داخل شو پکښ العالم په جاءنی العالم کښ په دي شان سره چه ادا العالم نعت نه دے او تعریف پری صادق دے ځکه ادا العالم دلالت کوی په هغه معنی چه هغه په ذات د متبوع کښ ده چه هغه الرجل دے چه دلته ترینه په العالم سره تعبیر شوی دے.

جواب: شارح اوی چه بهیاة ترکیبیة او مع متبوعه نو هذا پکښ داخل شو ځکه چه پس د ترکیب د هذا نه د زید سره ادا دلالت کوی چه ادا زید مشار الیه دے او دغه شان العالم خارج شو په جاءنی العالم کښ ځکه چه ادا د متبوع سره ندے او مونږ خو مع متبوعه وایو.

مطلقا سوال دا ولی منصوب دے؟ جواب: دا مفعول مطلق دے.

سوال: دې کښې خو اشتمال دما قبل فعل نشته دے څنګه مفعول مطلق شو؟

جواب: داپه حذف د موصوف دے اصل کښې هغه مفعول مطلق دے او هغې کښې اشتمال شته دے غیر مقید دا د مطلقا معنی ده.

سوال: شارح وائی چه د باقی ټولو توابع نه احتراز اوشو حالانکه داخبره صحیح نده څکه چه اوس پکښې هم بدل او عطف بالحرف او تاکید داخل شول مثلا ظهرنی زید علمه کښې دا علم بدل دے د زید نه او تعریف د نعت پرې صادق دے څکه دا دلالت کوی په هغه معنی چه په متبوع کښې ده څکه زید کښې علم شته دے او دغه شان ظهر زیدو علمه کښې دا علمه شو او جاءنی القوم کلهم کښې دا کلهم شو.

جواب: "ولا یرد" جواب په لا سره دے او په یرد سره دا سوال دے او په فان الدلالة سره دلیل دے نو حاصل دادے چه ماتن صیب په تعریف کښې قید د مطلقا راوړی دے په دې سره سوال دفع دے په دې شان سره چه دا دلالت به دیو ماده سره خاص نه وی نوپه دې مذکور امثله کښې اګرچه تابع دلالت کوی په معنی د متبوع لیکن دا د دې موادو سره خاص دے که موثر د دې په ځائې نورو مواد راوړو نو بیا دلالت نه کوی مثلا د علمه په ځائې غلامه شی ای ظهر نی زید غلامه نو بیا دا تابع دلالت نه کوی په معنی د متبوع دغه شان دانور امثله هم دی.

"و فائدته" دا ورله فوائد بیانوی نو حاصل دادے چه پنځه فوائد ورکوی تخصیص، توضیح، مدح، ذم، تاکید.

بیا تخصیص مقصد قلة الاشتراك دے یعنی د موصوف افرادکم شی لکه جاءنی رجل عالم شو او توضیح مقصد دادے چه د موصوف نه ابهام ختم کړی لکه جاءنی زید الکریم شو او مدح یعنی مجرد د الثناء مقصد دادے چه موصوف ښه واضح وی او اشتراك پکښې هم نه وی او صفة ئې اوشی لکه بسم الخ دلته الله د الرحمان او الرحیم نه ښه واضح دے دغه شان ذم هم دے او تاکید مقصد دادے چه صفة سره تاکید دهغه معنی اوشی چه په موصوف کښې وی لکه نفخة واحدة نو دا وحدة د تاء د نفخة نه معلوم دے.

بیا شارح صیب د تخصیص نه مخکښ قید د غالبا لګولی دے نو دفع د سوال کوی چه دامتن دے او مبنی د متونو په اختصار وی نوپکار داسی عبارت وو چه و فائدته تخصیص او توضیح او مدح او ذم او تاکید نو دا قیدقد یکون بے ضرورة دے.

شارح جواب اوکړو غالبا سره چه په صفة کښ دا تخصیص او توضیح غالبه ده او کثیره په خلاف د دې نورو چه داپکښ قلیل ده.

سوال: ماتن د صفة دپاره فوائد پنځه بیان کړل او مثال ئی صرف دیو دپاره بیان کړی دے چه تاکید دے داڅور څه ګنهګاردی دوئ لره ولی نه بیانوی؟

جواب: دا مثال د تاکید نادر دے نو دا ئی بیان کړو او دانور مشهور وو نو پریښودل ئی.

"ولما کان غالب مواد الصفة المشتقات" دا خبره مونږه کړی ده چه په لسو طریقو باندې تفصیل کوی نو دهغی نه د خلورو تفصیل اوشو دې مقام نه تفصیل د پنځمی خبری دے چه رد په بعض الناس دے فقال ولا فصل شارح ولما کان اوی نو غرض ئی یو تمهید دے روستو متن ته دویم د روستو متن د ما قبل سره ربط بیانول دي چه رد دے په بعض الناس نو حاصل دادے چه بعض نحاتو وئیلی دي چه نعت به هغه شئ واقع کیږی چه هغه مشتقی وی بیا هر کله چه دوی داسی اسماء اولیدل چه جوامد وو او صفة واقع شوی وو نو دوی په جوامد کښ تاویل اوکړو په مشتقی سره چه داموول دي په مشتقات سره اما دا خبره دوی ولی کړی ده؟

نو دا دوی څکه کړی ده چه اکثر او بیشتر چه صفة واقع کیږی نو مشتقی وی نو دوی د وجی د غلبه نه دا خبره اوکړه خو بیا چه دوی باندې په شکل د اعتراض هغه مواضع راغلل چه صفة پکښ مشتقی نه وو نو مجبورا ئی تاویل اوکړو خو دا خبره د ماتن خوښه نه ده نو رد ئی پری اوکړو په لافصل سره بیا شارح اوی چه لا فرق نو دا دفع د سوال ده چه مصنف دلته فصل اوی نو مراد به د دې نه فصل اصطلاحی وی چه واقع کیږی په درمیان د امرینو متاثینو کښ نو شارح اوی چه معنی لغوی مراد ده نه اصطلاحی چه ګنی اعتراض راشی بیا د یکون د ضمیر مرجع شارح متعین کړه چه دانعت ته راجع دے . فی صحة وقوعه نعتا دا دفع د سوال ده چه ته خو وائی فرق نشته دے په درمیان د مشتقی او غیر د مشتقی کښ حالانکه چه مشتقی وی نو پکښ عائد وی او چه غیر وی نو عائد پکښ نه وی نو فرق خو پکښ شته دے.

جواب: فرق په اعتبار د عائد نه دے مراد بلکه فرق په اعتبار د راتلو د دوی نعت نو دا دواړه نعت واقع کیږی او غیره داواوپه معنی د"واو" سره دے په دې مره.

سوال: دفع شو چه بین کلمه په متعدد داخلیږی او او دپاره د احد الامرین راځی چه د تعدد سره منافی دے.

جواب: او په معنی د"واو" دے نو متعدد شو او حروف خو د یو بل په معنی راځی .

سوال: چه بیا"واو" ولی نه ذکر کوی

جواب: دا اشاره ده خلقو ته چه دا دواړه شیان مستقل دي دیو بل تابع نه دي او په دې باندې او دلالت کوی نه"واو" اذا کان وضعه شارح تعیین د مرجع کوی دپاره د ضمیر د وضعه نو وای وضع غیر المشتق ماتن وائی لغرض المعنی او شارح وائی ای لغرض الدلالة علی المعنی الواقع فی المتوبوع غرض د شارح په دې عبارت سره. دفع د سوال دۀ چه د وضع صله کښې دي مقام کښې"لام"واقع شوی دے او کله چه د وضع په صله کښې"لام"واقع شی نو مدخول دلام موضوع له وی نو د دې نه دا معلوم شوه چه دا غیر مشتق موضوع دے او غرض المعنی ورله موضوع له دے حالانکه غرض د شئ خارج د شئ نه وی موضوع له د شئ نه وی او بل دا چه غرض د شئ مرتب علی الشئ وی او معنی خو مرتب نه وی بلکه لفظ کښې اول معنی راځی روستو وضع جواب شارح کړی دے خو تقریر د جواب د شارح محشینو په مختلف اندازونو سره کړی دے خو په هغی کښې د قۀ دے خو مونږ به تقریر د عصام صیب ذکر کړو چه هغه وائی چه (۱)دا وضع په معنی د استعمال سره ده او (۲)بیا استعمال د دې عام دے که حقیقة وی او یا مجازا او(۳) غرض هم په دې معنی دے چه ترتب د شئ علی الشئ او(۴) په دلالت علی المعنی کښې اشاره ده دې طرف ته چه دلته مراد د معنی نه عقلی ده چه موجود وی په عقل کښې نه په خارج کښې او (۵)اضافة د غرض چه دلالت ته شوی دے نو دا اضافة بیانیه دے تولې پکښې پنځه خبرې شوی نو بناء په دې اول اعتراض داسې دفع شو چه"لام"صله د وضع ده خو وضع په معنی د استعمال سره ده نو چه وی استعمال د دې غیر مشتق دپاره د غرض د معنی او استعمال د غیر مشتق د غرض د معنی دپاره کیږی ځکه استعمال په اغراض کښې کیږی په غیر اغراض کښې نه او دویم اعتراض هم دفع شو چه او معنی مخکښې موجود ده په وضع باندې او داپه خارج کښې خو دلته مراد د وضع نه استعمال دے نو د استعمال په اعتبار سره دا معنی مرتب ده په استعمال باندې په ذهن کښې او عقل

کښ په خارج کښ نده مراد چه کنی اعتراض دې او شي عموما شارح د عموم معنی کوی چه في اکثر الاستعمالات دے بیا مصنف مثال ذکر کوی د مثل تمیمی او ذی مال سره او شارح د فان التمیمی سره تطبیق د مثال کوی د ممثل سره حاصل دادے چه دا تمیمی دلالت کوی ابدا ولی چه یاء نسبیه پکښ ده خامخوا به ئی یو ذات ته نسبة کیږی او ذو مال هم داسی دے. او خصوصا شارح د خصوصا معنی کوی په بعض الاستعمالات سره او تصویر ورکوی دې لره پان پدل سره بیا مقصد هم دادے چه د وصف دا معنی په بعض استعمال کښ وی او په بعض کښ نه وای لکه ماتن امثله بیانوی نو وی مثل مررت برجل ای رجل دلته برجل موصوف دے او ای رجل صفة دے نو دا ای رجل جامد دے خو داپه معنی دلالت کوی چه کمال فی الرجولیة دے نو دلته دا صفة واقع کیدل صحیح دي لیکن په ای رجل عندك کښ داپه دي معنی باندې دلالت نه کوی نو مونږ ئی صفة هم نه واقع کوو بیا ماتن دویم مثال پیش کوی نو بهذا الرجل وائی او شارح ورسره مثل مررت اولګو اشاره کوی چه دا عطف دے په برجل باندې او ما قبل د معطوف علیه نه معاد وی په معطوف کښ نو هلته مثل مررت وو نو دلته ئی رامعلد کړو په دې مقام کښ دا الرجل جامد دے خوپه یو معنی باندې دلالت کوی چه هغه ذات معینه دے نو د دې صفة واقع کیدل صحیح دي خوپه جاءنی الرجل کښ په ذات معینه دلالت نه کوی نو صفة ندے بیا شارح وائی ان یقع الرجل لهذا نو ناکت د لهذا لاندی وائی و فیه لطافة نو دلته لطافة دادے چه هغه داچه صفة واقع کیږی دپاره د هذا او یا صفة واقع کیږی د دې وجی نه چه مخکښ مشار الیه دے چه په ذات مبهمه دلالت کوی او الرجل په ذات معینه چه په منزله د معنی دے و ذهب بعضهم غرض د شارح په دې عبارت سره دوه نور تراکیب کوی په هذا الرجل کښي چه دا صفة واقع کیدل پکښ څه متعین ندی نو یو داچه دا الرجل بدل شي د هذانه او دویم عطف بیان و مثل مررت بزید هذا دابل مثال بیانوی شارح مثل مررت وئیلی دے نو هغه مخکښ خبره ده پکښ نو دا هذا صفة واقع شوی دے دپاره د زید نو دا هذا اګرچه جامد دے خو په یو معنی دلالت کوی چه مشار الیه ده نو صفة واقع کول ښه دي او په جاءنی هذا کښ په مشار الیه باندې دلالت نه کوی ولی چه ذکر ندے نو صفة هم ندے.

و توصف النکرة داخو داسی هم کیدلے شي چه شپږمه خبره شي چه بعض احکام د نعت دي او داسی هم کیدلے شي چه دا تقسیم د نعت دے دوه ؤ اقسام ته یو نعت مفرده دویم نعت مرکبه فقال و توصف النکرة شارح وائی لا لامعرفة دا دالنکرة قید فائده ده بالجملة الخبریة دي

مقام کښ څو سوالات دي (۱) په جمله خبریه باندې توصیف د نکره ولی جائز دے (۲) او د معرفه ولی نه؟ (۳) د جمله سره قید د خبرية ولی لګوی.

جواب: عن الاول قال التی هی فی حکم النکرة حاصل دادے چه دا جمله خبریه په حکم د نکره کښ ده نویه توصیف د نکره سره به په درمیان د موصوف او صفة کښ مطابقة راځی په تعریف او تنکیر کښ ولی چه جمله خبریه په حکم د نکری کښ ده عین نکره نه ده ځکه عین نکره قسم د اسم دے او اسم قسم د کلمه ده او ماخوذ په تعریف د کلمه کښ افراد دے او جمله خبریه قسم د کلام دے یعنی مرکب ده او په حکم د نکره کښ ځکه ده چه څنګه په نکره کښ ابهام وی نو داسی جمله کښ نسبة مبهم وی.

لان الدلالة غرض د شارح دلیل بیانوی دپاره د دې چه جمله خبریه چه صفة واقع کیږی نو باید چه دا صفة واقع نشی ولی چه د مفرد سره د دې موافقة نشته نو شارح وائی چه موافقة ئی د مفرد سره شته دے هغه داچه لکه څنګه نعت مفرد دلالت کوی په یو معنی باندې چه په متبوع کښ وی نو داسی دا جمله هم ده چه دلالت په یو معنی کوی چه په متبوع کښ ده نو زمونږ خو د جملی سره دشمنی نشته دے چه نعت ئے نه واقع کو.

جواب: عن الثانی د معرفه دپاره دا جمله خبریه صفة ځکه نه واقع کیږی چه مطابقة نه راځی په درمیان د موصوف او صفة کښ په تعریف او تنکیر کښ ځکه موصوف به معرفه وی او جمله خبریه به نکره وی.

جواب: عن الثالث بیانوی و انما قید سره چه انشائیه خو په تاویل بعید سره صفة واقع کیږی په خلاف د خبریه چه بلا تاویل صفة واقع کیږی.

سوال: په جاءنی رجل اضربه کښ خو خلق بے پروا وائی چه اضربه صفة دے د رجل دپاره او دا خو انشاء ده.

جواب: الا بتاویل بعید او دا رائی خوپه بعید تاویل سره چه مقول دے چه جاءنی رجل مقول فی حقه اضربه په وای نو دا اضربه صفة د رجل دپاره بالذات ندے بلکه صفة د رجل دپاره بالذات مقول دے چه اضربه د هغی د متعلقاتو نه دے.

سوال: نو جمله خبریه چه صفة واقع کیږی نو هم په تاویل د مفرد سره کما شار الیه الشارح بقوله فان الدلالة الخ مثلا جاءنی رجل قائم ابوه شو نو رجل موصوف او قائم ابوه جمله صفة

دے خو دا مؤوّل دے په قائم الاب مفرد سره نوپه جمله خبريه او انشائيه دواړو کښ تاويل ته حاجة دے نو يو صحيح کول او بل نه خو مسلمانی نده.

جواب: الا بتاويل بغيد حاصل دادے چه تاويل دواړو کښ دے خو يو کښ بعيد دے او بل کښ بعيد ندے نو ځکه بيا د لنشاء تاويل داسی بعيد دے چه مقول کښ مضمون د اضربه نه د ے په خلاف د اخبار چه پکښ تاويل د مضمون دے ای مستحق لان يومر دا حاصل د معنی دے.

سوال: ګپ مه لګوه د دي اصل وجه راته اوايه پريږده تاويل.

جواب: اصل وجه پکښ داده چه کوم شئ صفة واقع کيږی دپاره ديوموصوف نو دهغه صفة مفهوم او مضمون به معلوم وی مخکښ دا واقع کيدلو د دي نه دپاره ديو شئ او انشاء خو د سر نه موجود نه ده نو معلوم به څنګه شی مخکښ د واقع کيدلو نه دپاره د يو شئ په خلاف د خبر چه مخکښ موجود وی نوکه معلوم وی نو واقع او کنه نو نه و يلزم فيها الضمير.

سوال: دا ولی؟

جواب: الراجع دپاره د ربط سوال هر کله چه جمله خبريه صفة واقع شی نو نفس رابط ولی ضروری دے او بيا دا رابط به ضمير ولی وی او مثال به څه وی؟

جواب: نفس رابط ځکه ضروری دے چه جمله من حيث الجمله په قوة د وحشة او منافرة کښ وی دا جمله وائی چه زه د چا نوکری چاکری نه کوم ځکه زه پوره يم چه مشتمله په مسند او مسند اليه يم نو تختيدله نو مونږ اوتړله او دا ضمير به ځکه وی چه دامشهور دے اګرچه رابط دپاره اقسام ډير دی.

سوال: مخکښ د مبتداء دپاره چه خبر کله جمله واقع کيدله نو هلته مصنف وئيلی وو چه هر قسم رابط کار کوی نو ولی هلته دا ضمير مشهور نه وو دا ولی فرق کوی؟

جواب: دپاره د خبر چه جمله وی ځکه هر قسم رابط کار کوی چه دا خبر جزء د دي کلام وی ولی چه مسند وی نو معمولی د عائد هغه بوئی پکښ هم کار کوی او موصوف صفة ته او صفة موصوف ته محتاج ندے نو قوی رابط پکار دے چه ضمير دے او مثال جاءنی رجل ابوه قائم شو.

ويو صف بحال الموصوف د دي مقام نه اوومه خبره ده چه هغه ذکر د دوه ؤ اقسامو د نعت دے چه يو نعت بحاله دے او دويم نعة بحال متعلقة دے فقال و يوصف بحال الموصوف او روستو والی و بحال متعلقة شارح وائی بحالٍ قائمة به دا معنی کوی مثال دادے چه مررت برجل حسن نو اوس د حسن يوه معنی ده چه قائم ده تر رجل پوری و بحال متعلقة ای بحال متعلق الموصوف دا تعين د مرجع کوی يعنی بصفة اعتبارية غرض د مصنف په دي عبارت سره يو معنی د بحال متعلقة کول دي دويم دفع د اعتراض ده چه تقسيم کول د حال دي دوه ؤ اقسامو ته چه يو بحاله دويم بحال متعلقة دے دا صحيح ندے ځکه چه دا تقسيم د شئ دے الی نفسه او الی غيره ځکه تعريف د نعت دادے چه تابع يدل علی معنی فی متبوعه نو دا نعت بحاله داسی دے دا تعريف پری صادق دے نو دا تقسيم د نعت خپل نفس ته شو او دا معنی او دا تعريف په بحال متعلقة بانديی ندے صادق ځکه چه معنی ی په متبوع کښ نشته بلکه په متعلق کښ ده نو دا تقسيم د نعت شو الی غيره او تقسيم د شئ الی نفسه او الی غيره خو ناروا دے۔

جواب: يعنب يصفة حاصل دادے چه دائعة بحال متعلقة هم په هغه معنی بانديی دلالت کوی چه په متبوع کښ ده ځکه چه داخو دلالت په معنی د متعلق کوی خو دا متعلق د متبوع او موصوف دے نو د دي په واسطه سره نعت د متعلق هم نعت د متبوع او موصوف شو نهاية دومره فرق دے چه نعت بحاله کښ دامعنی په متبوع کښ حقيقة ده او په نعت بحال متعلقة کښ دا معنی په متبوع يکښ مجازا او اعتبارا ده.

مثال مررت برجل حسن غلامه نو دا حسن خو بالذات صفة د غلام دے خو دا غلام متعلق د رجل دے نو بس د رجل صفة هم شو. فالاول يتبعه دا اتمه خبره ده چه تفصيل د دغه دوو اقسامو دے فقال فالاول شارح د اول تعيين کوی چه ای النعت بحال الموصوف يتبعه فی عشرة امور لکه هغه ماتن بيانوی چه رفع، نصب، جر دری دادی تعريف تنکير تذکير،تانيث الخ نو اوه/۷ داشو او اوه/۷ سره د دری افراد تشيه جمع شی نو لس شول .

سوال: دالس امور په يکښ موجود وی حالانکه دي کښ خو تضاد دے چه نکره وی نو معرفه نه وی نو څنګه به لس واړه تول موجود وی.

جواب: يوجد منها فی کل ترکيب اربعة چه تابع به په لسو کښ وی خو بالفعل به څلور وی يو اعراب کښ بل تعريف بل مفرد بل تانيث شو مثلا .

سوال: نوپه رجل صبور، امراة صبور او رجل جريح، امراة جريح او رجل علامة، امراة علامة کښې خو دا ټول صفات بحالها دي او مطابقه په تذکير او تانيث کښې نشته.

جواب: الا مګر نه دے ضروري مطابقه په درميان د موصوف او صفة کښې په تذکير او تانيث کښې چه کله پکښې مساواة وي په تذکير او تانيث کښې لکه دا مخکښې امثله شول والثاني دا دويم تفصيل کوي شارح تعيين کوي د الثاني يتبعه دايه پنځو کښې تابع وي شارح تعيين کوي د دغه خمسه.

سوال: دايه په دې کښې ټول موجود وي نو دې کښې بعض متضاد دي.

جواب: ويوجد صرف دوه به موجود يږي.

سوال: نو دا نور باقي څه شو؟

جواب: و في البواقي .... كالفعل.

سوال: دا ولې؟

جواب: اشبهه به د وجې د مشابهة د صفة بحاله نه د فعل سره په عمل کښې.

سوال: دا فرق ولې شوی دے. چه صفة بحاله به تابع په لسو کښې وي او موجود به څلور وي او دې نورو کښې به تابع پنځو کښې وي او موجود يږي به دوه.

جواب: دا څکه چه په صفة بحاله کښې ماجري عليه او مسند اليه يو دے لکه جاءنی رجل حسن شو حسن صفة بحاله دے نو ما جرى عليه او مسند اليه دواړه رجل دے او صفة بحاله دے نو ما جرى عليه او مسند اليه دواړه رجل دے. او په صفة بحال متعلقة کښې ماجرى عليه او مسند اليه جدا جدا وي لکه مررت برجل حسن غلامه نو ما جرى عليه رجل دے او مسند اليه غلامه دے نو د دې وجې نه چه دا فرق ظاهر شي د دواړو درميان کښې ينظر دا تفصيل کوي چه واضح شي مثال د صفة بحال متعلقه چه په دې امور عشرۀ کښې په اخيرى پنځو کښې د فعل پشان دے نو واى دې نه به کنلى شي يعنى دې فاعل د صفة نه که فاعل اسم ظاهر وي نو صفة به مفرد وي برابره ده که فاعل تثنيه يا جمع يا مفرد وي لکه مررت برجل قاعد الخ دا پشان د فعل دے چه فعل دپاره فاعل اسم ظاهر وي نو فعل به

مفرد وی همیشه لکه مررت برجل یقعد غلامه الخ او دغه شان که د صفة دپاره فاعل مذکر وو نو دا صفة به هم مذکر وی لکه مررت بامرة قائم ابوها الخ پشان د فعل چه هلته هم فاعل مذکر وی نو فعل هم مذکر وی لکه مررت بامرة یقوم ابوها دغه شان که دا فاعل د صفة مونث حقیقی وو او فصل پکښ نه وو نو صفة به هم مونث وی پشان د فعل چه هلته هم دا حکم دے لکه مررت برجل قائمة جاریته او مررت برجل تقوم جاریته او دغه شان که دا فاعل د صفة مونث غیر حقیقی وو یا حقیقی مع الفصل و نو اختیار دے په مذکر او مونث راوړو کښ پشان د فعل لکه مررت برجل معمور داره یا معمورة داره او مررت برجل قائم فی الدار جاریته یا قائمة فی الدار جاریته پشان د فعل لکه مررت برجل یعمر داره یا تعمر داره او مررت برجل یقوم فی الدار جاریته یا تقوم فی الدار جاریته.

فائده: دا حاصل د کلام د شارح شو نو د شارح شرح دې مقام کښ دومره اسانه ده چه په نفس مطالعه حل کیږی ترجمه پریږده.

فان قلت اعتراض کوی چه دا اصل کښ رضی صیب داکړې دے حاصل ئی دادے چه تاسو اوئ چه دا صفة بحال متعلقه به دې پنځو اخیرو امورو کښ پشان د فعل دے نو داسی دا بحاله هم دے تاسو تفرقه ولی کوی؟

قلنا دا جواب شارح کړے دے او رضی صیب نه دے کړے حاصل دادے چه اصل کښ مقصود په دې مقام کښ داکوم نسبة د صفة بحاله چه خپل موصوف ته شوی دے او کوم نسبة د صفة بحال متعلقه چه خپل موصوف ته شوی دے نو مونږ دې کښ تفرقه راولو نو په دې وجه بالدې مونږ داکار اوکړو.

سوال: دا ولی داکار کوی؟

جواب: دا څکه کوو چه په صفة بحال متعلقه کښ دا پنځه امور دا صفة د تبعیة نه اوباسی او په صفة بحاله کښ ئی د تبعیة نه نه اوباسی شارح هم دا واتی خو عربي ده.

سوال: دا ولی دا چل کیږی

جواب: فانه غیر مضبوط دې کښ ضبط نشته دے، نو څکه شارح دهغې تفصیل اوکړو چه کله به مفردوی او مذکر او کله اختیار الی آخره.

ومن ثم حسن قام رجل قاعد غلما نه دي مقام نه نهمه خبره ده چه تفریعات دي مخکښ مصنف د نعت دپاره دوه اقسام ذکر کړل چه یو بحاله دویم بحال متعلقه بیا ئې اوئ چه دانعت بحاله به د خپل موصوف او متبوع سره په لسو امورو کښ تابع وی چه په هر ترکیب کښ به ترینه وجود د خلورو ضروری وی و دانعت بحال متعلقه به د خپل موصوف او متبوع سره په پنځو کښ تابع وی او په اخیری پنځو کښ دا د فعل پشان وی نو د دې د وضاحة دپاره دا تفریع کوی اما دا خبره خو معلومه ده چه من په اسم اشاره داخل شی نو مشار الیه د اسم اشاره علة وی دپاره هغه حکم چه روستو ذکر کیږی نو روستو دری احکام دي (۱) حسن (۲) ضعف (۳) یجوز او مشار الیه چه علت دے دا شارح متعین کوی ای ومن اجل کون الوصف الثانی فی الخمسة البواقی کالفعل حسن لو د دې وجه دا ترکیب چه قام رجل قاعد غلمانه دے دا حسن دے مراد په دې ترکیب سره هغه ترکیب دے چه د صفة بحال متعلقه دپاره فاعل اسم ظاهر جمع وی او صفة مفرد وی او وجه د حسن ورله داده چه صفة بحال متعلقه پشان د فعل دے او کله چه اسناد د فعل اسم ظاهر ته اوشی نو وحد الفعل ابدا نو دلته هم اسناد د صفة اسم ظاهر ته شوی دے نو دا صفة به مفرد وی و حسن ایضا قاعدة غلمانه دا دویم ترکیب په دې کښ بیانوی چه داماتن نه دے ذکر کړی او داهم حسن دے حکم ئې یو دے چه قاعدة غلمانه ځکه حسن دے نو قاعدة غلمانه هم حسن دے ځکه غلمان جمع مکسر ده او دایه تاویل د جماعة سره واحد مونث وی نو صفة ورته هم مونث شو چه قاعدة دے پشان د فعل چه فعل ورته هم مونث وی غیر حقیقی ځکه چه په تاویل د جماعة سره دے وضعف قام رجل قاعدون غلمانه مراد په دې سره هر هغه ترکیب دے چه اسناد اوشی د صفة اسم ظاهر جمع ته او صفة هم جمع وی نو دا ضعیف دے لانه بمنزله یقعدون غلمانه دا علت دے چه دا ځکه ناروا دے چه دا ددی ترکیب په منزله دے او په دې کښ الحاق د دوه ؤ علامو د جمع راغلی دے او قانون دادے چه الحاق د دوه ؤ علامو د تثنیه او جمع په فعل مسند کښ ظاهر ته ضعیف دے نو چه یقعدون غلمانه ضعیف شو نو د قاعدون غلمانه هم ضعیف شو ځکه وحد الفعل نه شو.

سوال: هر کله چه په دې ترکیب چه قاعدون غلمانه او یقعدون غلمانه دےب دې کښ دوه فاعله راغلل په قاعدون کښي یو"واو" او بل غلمانه او یقعدون کښ"واو" او غلمانه نو باید چه دا ترکیب ممتنع شی ته ورته ضعیف وائې نو ضعیف خو جائز مع الضعف وی حالانکه دا د سر نه جائز ندے.

جواب: شارح جواب روستو کوی الا ان تخرج الواو سره چه او دا خبره ده چه پو احتمال په دې ترکيب دادے چه قاعدون کښې هم فاعل دے او غلمانه هم نو دا ممتنع کول پکار دي خو دې کښې تراکيب ثلاثه دي يو داچه دا"واو" صرف علامه د جمع شي نه ضمير د فاعل نو دايه حرف شي نو فاعل اسم وی نه حرف دويم داچه دا"واو" فاعل دے خو دا اسم ظاهر ترینه بدل دے دريم داچه غلمانه مبتداء موخر او دا ورله خبر مقدم شي نويه دې تراکيبو سره دا صحيح دے بغير د ضعف نه نو ځکه ورته موئر ممتنع نه وايو او ضعيف وايو.

سوال: کله چه دا ترکيب بناء شو په دې نورو تراکيبو نو بيا ورته ضعيف ولی وائی دا خو جائز بلا ضعف دی.

جواب: په اعتبار د ظاهر سره د ممتنع سره مشابهة ساق نو د دې وجه نه ضعيف دی. و يجوز دا دريم حکم دے شارح وائی من غير حسن ولا ضعف دا دفع د سوال ده چه په حسن او ضعف دواړو کښې جواز شته دے نو د يجوز ذکر پس د حسن او ضعف نه مستدرك دی.

جواب: په حسن کښې جواز په مرتبه د حسن کښې دے بغير د ضعف نه اوپه ضعف کښې جواز په مرتبه د ضعف کښې دے بغير د حسن نه او دلته جواز بغير د حسن او ضعف نه مراد دے قعود غلمانه.

سوال: داهم ضعيف کول پکار دي ولی چه غلمان اسم ظاهر دے نو قعود مفرد پکار دے حالانکه داخو جمع مکسره ده.

جواب: وان کان قعود جمعا حاصل دادے چه دا جمع مکسر ده او داپه حکم د مفرد کښې وی نو چه اسم مشابه د فعل سره مکسر شو نو دا د فعل د موازنة او مشابهة نه خارج شو باعتبار اللفظ ځکه چه فعل کښې تکسير نه راځی نو دا ترکيب نه پشان د قاعد غلمانه دے او نه پشان د قاعدون غلمانه دے چه پکښې حسن يا ضعف راشي صرف نفس جائز دے الا ان تخرج شارح هغه تراکيب ثلاثه بيانوی والمضمر لا يوصف ولا يوصف به داخبره موئره کړی ده چه مصنف به احکام بيانوی نو ځه احکام مخکښې بيان شو د و توصف النکرة بالجملة الخبرية سره نو د دې مقام نه دهغه اواحکامو تکميل کوی نو نور احکام بيانوی فقال و المضمر او يا غرض د مصنف تعيين کول دي دهغه اشيا چه موصوف او صفة واقع کيدلے شي اوکوم نشي فقال و المضمر لا يوصف حاصل د دې حکم دادے چه ضمير نه موصوف واقع کيږی اونه صفة لان ضمير المتکلم دا ورله علت او دليل بيانوی حاصل دادے چه صفة دپاره د توضيح

راځي او ضمير د متکلم او مخاطب اعرف او اوضح دي توضيح ته ئې حاجة نشته دے و حمل عليهما دا دفع د سوال ده چه ضمير د متکلم او مخاطب خو اعرف دي وضاحة ته ئې حاجة نشته دے خو ضمير د غائب کښې خو ابهام وي نو دهغې توضيح ته حاجة شته دے نو هغه خو موصوف واقع کول بنه دي۔

جواب: ضمير د غائب موثر هم موصوف نه واقع کوو اګرچه ابهام پکښې شته دے خو حمل دے په ضمير د متکلم او د مخاطب طردا للباب چه حکم په يو باب کښې مختلف نه شي.

سوال: دا صفة خو دپاره د توضيح فقط نه راځي بلکه د مدح، ذم وغيره دپاره هم راځي نو دلته دې ضمير موصوف شي او صفة به ئې علاوه د توضيح نه اوشي۔

جواب: و على الوصف الموضح حاصل دادے چه صفة مادحه او ذامه اوموکده په صفة موضحه باندې محمول دي طردا للباب چه حکم د باب مختلف نه شي

فائده د غائب ضمير موصوف نه واقع کيدل مذهب د جمهور او مصنف دے البته کسائي صيب خلاف کړے دے چه هغه وائي ضمير د غائب موصوف راځي،

ولا يوصف به دا بل حکم دے چه دا ضمير صفة هم نشي واقع کيدلے لانه پس دا ورله دليل بيانوي حاصل ئې دادے چه صفة په يوه معنى دلالت کوي چه هغه د موصوف د ذات سره قائمه وي او ضمير په ذات دلالت کوي په معنى دلالت نه کوي چه د ذات د موصوف سره قائمه وي،

سوال: د دې کتاب چه متن دے دې لره يو شرح ده چه مسمى ده په الشرح الکبير سره چه په شرح رضي مشهور ده په هغې کښې فرمائي په دې مقام باندې چه ضمير صفة نه واقع کيږي او داماتن نه ده ذکر کړې خو دا د والموصوف اخص او مساو نه معلوميږي نو دا خبره خو د شارح رضي غلطه شوه ځکه چه ماتن خو دا خبره ذکر کړې ده چه ولا يصف به ده جواب شارح کوي کانه سره چه کيدلے شي رضي صيب سره داسې نسخ وه چه هغې کښې دانه وو خو پوره يقين شارح ته نشته دے نو کانه سره جواب مصدر کوي. لانه تبين ذلك بقوله والموصوف اخص او مساو چه دا د دې نه معلوميږي بيا دابه دې شان سره معلوميږي چه قانون دادے چه موصوف يا اخص وي او يا مساوي نو چه ضمير صفة واقع شي نو يا به دا صفة د ضمير وي چه هغه به موصوف وي نو ضمير موصوف نه واقع کيږي کما قلنا و الضمير لا يوصف او يا به

يا صفة وى د غير د ضمير نه نو ضمير چه صفة دے دا اخص شو ځکه ضمير اعرف المعارف دے او موصوف غير اخص شو او موصوف خو يا اخص وى او يا مساوى نو حاصل داچه ضمير په صفة نه راځى.

والموصوف اخص او مساو غرض دماتن په دې عبارت سره خلورم حکم ذکر کول دي دپاره د نعت يو حکم و توصف النكرة دويم حكم و المضر لا يوصف دريم حکم ولا يوصف به څلورم حکم و الموصوف اخص او مساو حاصل د دې حکم ذادے چه موصوف به د صفة نه اخص وى او يا مساوى وى.

سوال: حيوان ناطق دا موصوف او صفة دي حالانکه موصوف چه حيوان دے دا اعم دے او صفة چه ناطق دے دا اخص دے.

جواب: الموصوف المعرفه او دلته خو نکره دی.

سوال: نو په الحيوان الناطق کښ خو دواړه معرفه دي او بيا هم موصوف اعم دے او صفة اخص.

جواب: اشد اختصاصا بالتعريف حاصل داده چه دلته د اخص هغه معنى منطقى نه ده مراد چه افراد ئى کم وى او اعم هغه چه افراد ئى زيات وى بلکه مراد د اخص نه اعرف کيدل دي چه دا موصوف به ډير معلوم وى په نسبة سره صفة نه اوکه داسى نه وى نو کم از کم مساوى به وى نو په الحيوان الناطق کښ موصوف او صفة مساوى دي په اعرفية کښ .

سوال: دا موصوف به ولى اعرف وى؟

جواب: لانه المقصود الاصلى دا ځکه چه دا مقصود اصلى دے او مساولها سوال نو دا مساوى ولى؟

جواب: پکار خو دا ده چه دا مقصود اصلى دے نو اعرف وى اوس چه اعرف نه شو نو کم از کم مساوى خو دې شى کنه ځکه يو قانون دے چه ما لا يدرك كله لا يترك كله .

سوال: ستا د کلام نه دا معلوم شوه چه په دې معارفو کښ څه درجات دي نو دهغى تفصيل موږه ته اوکړه کنه؟

اوجواب دي مسئله کښ اختلاف دے يو مذهب د سيبويه دے مصنف هم په دي کلام بناء کړے دے دويم مذهب د مبرد دے مذهب د سيبويه دادے چه اعرف د ټولو مضمرات دي ثم الاعلام ثم اسماء الاشارة ثم المعرف باللام و الموصولات د معرف باللام او موصولاتو درميان کښ مساواة دے.

سوال: دا مضمرات ولې اعرف دي؟

جواب: دا ځکه اعرف دي چه پکښ تعين راغلے دے په يو معين ذات دلالت کوي او اعلام هم داسې دي خو تعين پکښ د مضمراتو نه کم دے او په اسماء اشاره کښ ابهام جنسي دے او د ابه د معرف باللام او موصولاتو نه ځکه اوچت دي چه اسماء اشارة کښ تعين قلبي او محسوسي دواړه دي په خلاف د معرف باللام او موصولاتو چه پکښ صرف تعين قلبي دے ومن ثم دا تفريع کوي په دي حکم باندې چه والموصوف اخص او مساو حاصل دادے چه کله قانون داشو چه موصوف به يا اخص وي او يا مساوي نو چه کله معرف باللام موصوف واقع شي نو د دي دپاره به صفة يا معرف باللام وي او يا موصول ځکه دا دواړه په درجه کښ مساوي دي نو موصوف به د صفة سره مساوي شي لکه جاءني الرجل الفاضل او جاءني الرجل الذي کان عندك امس او المضاف الى مثله او يا به صفة راځي د موصوف معرف باللام دپاره د هغه چه مضاف وي معرف باللام ته او يا موصول ته لکه جاءني الرجل صاحب الفرس او جاءني الرجل حاصب الذي مات امس .

سوال: ستا د بمثله نه څه مراد دے؟ چه ته وائي لم يوصف ذو اللام الا بمثله دوه احتماله دي پکښ او ګرده سره باطل دي يو داچه مثل په تعريف کښ شي او يا مثل په ذو اللام کيدلو کښ چه دواړه به معرف باللام وي نوکه مثل په تعريف کښ مراد وي نو بيا او بالمضاف الى مثله قيد مستدرك دےځکه چه مضاف هم مثل په تعريف کښ دے کنه نو په مثله کښ دا راغلى دے بيا مستقل ذکر کول مستدرك دي او که مراد د مثل نه په کيدلو د معرف باللام کښ وي نو بيا دوه نقصانه راځي يو داچه موصول ترينه خارج شو ځکه هغه خو معرف بالام نه دے کنه چه کوم "لام" مراد دے او دويم داچه ماتن لره بيا عبارت داسې پکار وو چه لم يوصف ذو اللام الا به بيا مثل ذکر کول مستدرك دي ځکه به نه هم دا معرف باللام مراد شو.

جواب: مونږ اختيار د شق اول کوو چه مراد د مثل نه په تعريف کښ مراد دے او استدراك نشته دے ځکه مبرد وائي چه تعريف د مضاف انقص دے د تعريف د مضاف اليه نه نو دا

بالمضاف الی مثله مودی دیاره اوی چه دا مضاف ترینه خارج نشی د مبرد په نزد باندې او یا اختیار د شق ثانی کوو او دا دوه نقصانه نه راځی په دې شان سره چه مراد د مثل نه صورة دے نو موصول پکښ داخل دے ځکه صورة هغی کښ هم"لام"وی لکه التی او الذی شو او دا مثل ذکر کول هم مستدرك نه شو ځکه چه موصول ته شامل شی که دامی نه ذکر کوو نو موصول ترینه اوځی بیا او بل داچه رد اوشی په مبرد باندې ځکه هغه وائی چه تعریف د مضاف انقص وی د مضاف الیه نه نو ماتن پری رد اوکرو چه مثل وی انقص نه وی بالواسطه دا دفع د سوال ده چه په جاءنی الرجل صاحب لجام الفرس کښ خو الرجل موصوف ذو اللام دے او صفة مضاف ذو اللام ته نه دے بلکه بغیر اللام دے.

جواب: داعام دے که مضاف معرف باللام ته په واسطه وی او یا بغیر د واسطه نه نو دلته هم صفة معرف باللام دے خوپه واسطه سره امثله شارح بیانکری دی بخلاف سائر المعارف مقصد دادے چه د معرف باللام او د موصول نه علاوه معارف چه دی نو دا اخص دی د معرف باللام او موصول نه نو که دا باقی معارف کښ یو موصوف واقع شی نو معرف باللام او موصول ورله صفة راتلی شی خو عکس نه شی کیدلے ځکه بیا د قاعدی خلاف راځی فلو وقع غرض د شارح دفع د سوال ده چه جاءنی الرجل صدیقك کښ دا الرجل موصوف ذو اللام دے او صدیقك ورله صفة دے نو دا صدیق خو نه ذو اللام دے او نه ورته مضاف دے او نه موصول دے او نه ورته مضاف دے.

جواب: دابه په بدل حمل وی نو دا نعت نه شو چه د قانون خلاف راشی نو دا خو قانون شو چه هر کله هم نعت اخص وی نو بدل به وی عند صاحب هذا المذهب چه سیبویه او مصنف دے.

و انما التزم وصف باب هذا دا لسمه خبره ده چه دفع د سوال ده تقریر د سوال دادے چه تا مخکښ قانون پیش کړو چه موصوف به اخص یا مساوی وی نو دې نه دا خبره معلومیږی چه کله موصوف اسم اشاره واقع شی نو باید چه دهغی صفة په شپږ قسمه راشی. (۱) اسم اشاره (۲) مضاف اسم اشاره ته (۳) معرف باللام (٤) مضاف الی ذی اللام (٥) موصول (٦) مضاف الی الموصول ځکه دې ټولو کښ موصوف مساوی یا اخص دے د صفة نه نو بیا تاسو ولی داخبره کوئ چه اسم اشاره موصوف وی نو صفة به صرف معرف باللام او یا موصول واقع کیږی اودانور څلور صورتونه به نه واقع کیږی.

جواب: و انما التزم وصف باب هذا حاصل دادے چه دلته څکه مونږ دا صفة په معرف باللام او موصول کښ منحصر کړی دے چه مجبوری ده بیا هغه شارح بیانوی خو حاصل دادے چه اسم اشاره څکه نشی واقع کیدلے چه پکښ ابهام دے په اعتبار د وضع سره نو چه موصوف مبهم شو نو صفة به څکه اسم اشاره واقع شی څکه مبهم به څه ابهام رفع کړی او چه کوم مضاف وی دې اسم اشاره یا دې نورته نو هغه هم نه شی واقع کیدلے څکه چه په هغی کښ تعین د وجی د سوال نه راغلی دے یعنی مضاف کښ ابهام وی خو د مضاف الیه نه ئی په سوال تعین غوښتلی دے نو اوس چه مونږ په مضاف سره دا ابهام رفع کوو نو دا سوال دے د محتاج فقیر او استعاره ده د مستعیر فقیر نه چه دا ناجائز ده عقلا ای باب اسم الاشاره دا اشاره کوی چه صرف هذا سره دا حکم خاص ندے. باقی ترجمه ده ترجمه ده.

و حمل الموصول علیه دا دفع د سوال ده چه موصول پکښ هم واقع کیږی صفة دپاره د اسم اشاره نو داپکښ تا ولی ذکر نه کړو؟

جواب: دا حمل دے په ذو اللام باندې علاوه لا دا وایو چه مونږ هلته مثل نه مراد مثل صورة دے او دا موصول نه هم شامل دے څکه چه موصول کښ الف"لام"صورة دے او امثله شارح بیانوی. ومن ثم ضعف غرض د ماتن تفریع کوی په ما قبل باندې هغه داچه هر کله مقصود رفع د ابهام ده په نعت کښ نو هر کله چه رفع د ابهام راتله نو بیا به هلته ترکیب حسن وی او چه کوم خائی رفع د ابهام نه راتله نو هلته به ترکیب ضعیف وی نو لهذا مررت بهذا الابیض ترکیب ضعیف دے څکه د هذا دا ابهام رفع الابیض نه کوی څکه پته نه لګی چه ابیض رجل مراد دے که حجر که څه او که ابیض انذا مراد ده او ومن اجل غرض د شارح اشاره کوی علت ته لانه لا یتبین سره علة د ضعف بیانوی و حسن بهذا العالم ای مررت بهذا العالم شارح اشاره کوی چه بهذا العالم عطف دے په هذا البیض او ما قبل د معطوف الخ او وجه د حسن د دې ترکیب داده چه دفع د ابهام دلته دا صفة کوی څکه علم دانسان صفة دے دنور چانه.

العطف تابع مقصود بالنسبة مع متبوعه اجمالی خبرې د دې مقام (۱) ربط (۲) تشریح د عنوان (۳) اصطلاحی تعریف (٤) وضاحة بالمثال (٥) احکام.

ربط: معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف د تفصیل دیو قسم تابع نه چه نعت وو نو شروع ئی اوکړه په دویم قسم د تابع کښ چه عطف بالحرف دے فقال العطف دری سوالات

راغلل (۱) نفس تفصيل ولي كوی؟ (۲) تفصيل كښې عطف دي مقام كښ ولي ذكركوی (۳) تفصيل څنګه كوی؟

جوابات نفس تفصيل د وجی دمامر نه کوی او تفصيل کښي عطفدی مقام کښ څکه ذکر کوی چه په نسبة سره ما قبل ته قليل او په نسبة سره ما بعد ته کثير دے او تفصيل داسې کوی چه يو به تعيين د قسم ثاني د توابع اوکړی د العطف سره دويم دهغې تعريف به اوکړی د تابع مقصود سره دريم وضاحة بالمثال به اوکړی مثل قام زيد و عمرو سره څلورم مختلف احکام به ورله بيانکړی د و اذا عطف على المرفوع او دا اذا عطف على الضمير المجرور سره او د اذا عطف على عاملين مختلفين سره او بيا پنځم به تفريعات اوکړی په بعض احکام باندې ومن ثم لم يجز سره او شپږم دفع د اعتراض به اوکړی د و اما جاز الذی يطير فيغضب زيد الذباب سره.

ربط لفظي نو العطف مبتداء باقي خبر نو جمله اسميه شوه.

تشريح د عنوان العطف: دی كښ يو صيغه د عطف دويم معنى لغوى دريم وجه تسميه څلورم تصحيح د دي عنوان.

نو عطف صيغه د مصدر ده په معنی د شفقة ، رحمة او ميلان سره راځی دلته هم دا ميلان مراد دے او مصطلح عطف ته هم څکه عطف وائي چه معطوف معطوف عليه ته مائل کوی.

تصحيح د عنوان داده چه سوال راځی چه العطف مبتداء ده او تابع خبر دے نو عطف مصدر وصف دے نو حمل د ذات راغئ په وصف او دا ناروا دے. دويم دا سوال دے چه دا تعريف هم نه دے صحيح څکه ته وائي تابع مقصود بالنسبة او هغه عطف نه دے معطوف دے څکه معطوف امر لفظي دے او عطف خو امر معنوی دے نو بل طرفته بيا د عطف اطلاق په يو فرد باندې هم نه کيږی. دريم سوال دادے چه دا خو معرب دے او معرب قسم د اسم دے او هغه د کلمه او کلمه لفظ دے او عطف خو امر معنوی دے نه لفظ.

جواب. يعنى المعطوف سل پاير ديو لور معطوف مراد دے نو حمل هم صحيح شو او افرادو باندې هم صادق شو او لفظي شو.

سوال: نو دا خو داخل شو پکښ ابو حفص عمر چه دا عطف بيان دے نو معطوف دے او تعريف ورته شامل نه دے

جواب: بالحرف او دا بالحرف ندے بلکه عطف بیان دے

تابع مقصود بالنسبة مع متبوعه تفصیل د عطف کښ دوه خبرے اوشوے دي مقام نه به تفصیل د دریمی خبری کیږی.

اصطلاحی تعریف:داماتن کړے دے شارح په وضاحة کوی نو ماتن والی تابع مقصود بالنسبة الخ چه دا معطوف بالحرف یو تابع دے چه مقصود بالنسبة وی سره د متبوع نه چه په مینځ د دې کښ به یو د حروف عشره نه وی لکه قام زید و عمرو شو دلته دا عمرو معطوف دے په یو حرف سره چه مقصود بالنسبة دے سره د زید نه ځکه د دواړو قیام مراد دے شارح والی ای قصد نسبته الی شئ و نسبة شئ الیه دا دفع د سوال کوی چه مقصود صیغه د اسم مفعول ده پکښ ضمیر دے چه راجع دے تابع ته او د تابع ضمیر راجع دے معطوف ته دابه د مقصود دپاره مفعول وی نو د متکلم قصد به په هغی باندې واقع وی او دا معطوف ذات دے او ذات مفعول نشی واقع کیدلے هغه شئ مفعول واقع کیږی چه د قبیلی د معانی او احداثو نه وی نو ذات خو د قبیلی د معانی او احداثو نه نه دے.

سوال: په سوال کښ د ذات ولی مفعول نه واقع کیږی.

جواب: ذات مقدور د متکلم ندے او مفعول خو مقدور د متکلم وی لکه کارکول وغیره چه کوم اوصاف دی نو جواب شارح اوکړو په ای قصد نسبته حاصل د جواب دادے مونږ چه دا اعتراض به هله وی چه دا مقصود صفة د تابع وئیلی بحاله حالانکه دا صفة د تابع بحال متعلقه دے یعنی د مقصود دپاره مفعول اسم ظاهر دے نه ضمیر او هغه ظاهر نسبة دے او بیا شارح د مقصود نه تعبیر په قصد فعل مجهول سره اوکړو خه نو اوس نسبة خو د قبیلی د معانی او احداثو نه دے قائم بالغیر ته نسبة والی نو معنی هم داسی وی یعنی قایم باالغیر نو مفعول واقع کیدل ئی صحیح شو.

بیا شارح دا او دپاره د تنویع راوری دے دپاره د دې چه دا د عطف هغه دواړه اقسامو ته شامل شی یو قسم هغه دے چه د معطوف نسبة بل شئ ته شوی وی لکه زید قائم و ذاهب نو دا ذاهب معطوف دے او نسبة ئی بل شئ ته شوی دے چه زید دے او دویم قسم هغه چه د بل شئ نسبة معطوف ته شوی وی لکه جاءنی زید و عمرو نو دي معطوف ته چه عمرو دے د بل شئ نسبة شوی دے چه مجیئة دے بالنسبة الواقعة فی الکلام غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه هر کله په مقصود کښ مفعول نسبة مقدر شو او روستو

وریمی بیا بالنسبة دے نو معنی به شی چه قصد کری شوی نسبة په نسبة نو لازم شو قصد د شئ په خپل نفس سره چه دااروا وی.

جواب: دا اعتراض به هله وی چه دا دواړه نسبتونه یو وی حالانکه دی دواړو کښ فرق دے په دی شان سره چه کوم نسبة په مقصود کښ دے نو دا د محکی عنه په مرتبه کښ دے او هغه نسبة چه بالنسبة کښې دے لوداپه مرتبه د حکایة کښ دے یعنی دا نسبة به په کلام کښ واقع وی او دهغه نسبة د مقصود نه به خبر ورکوی.

فقوله بالنسبة غرض د شارح په دی عبارت سره یو متعلق د جار مجرور بالنسبة بیانوی او دویم دفع د سوال ده چه اصل په ظرف کښ ظرف لغو دے نو دا بالنسبة جار مجرور به د مقصود سره متعلق وی چه ظرف لغو شی نو بیا خو په معنی کښ فساد راځی ځکه معنی به شی چه معطوف یو تابع دے چه قصد کړے شوی وی په نسبة یعنی مقصود بالنسبة وی او دا معنی ځکه ناروا دهدامعطوف بنفسه مقصود بالنسبة دے بلکه مقصود باالنسبة هغه نسبة المعطوف دے

جواب: دا بالنسبة د مقصود سره متعلق ندے بلکه د قصد سره متعلق دے کما قال متعلق بالقصد .

سوال: دا خو اضمار قبل الذکر دے.

جواب: المفهوم من المقصود یعنی ضمنا ذکر دے اگرچه صراحةً ندے ذکر اوس معنی داشوه چه معطوف یو تابع دے چه قصد کری شوی وی نسبة ده یو شئ ته یا نسبة دیو شئ ده ه ته او دا قصد په هغه نسبة سره دی چه واقع وی په کلام کښ مع متبوعه شارح د دې معنی کوی چه ای کما یکون یعنی ځکه چه تابع مقصود وی په هغه نسبة سره چه واقع دے په کلام کښ نو داسی دا متبوع هم په د :. نسبة سره مقصود وی نحو جائنی زید و عمرو دا وضاحة بالمثال کوی فعمرو تابع دا تطبیق کوی چه دا عمرو تابع دے چه معطوف دے او دا مقصود دے په هغه نسبة سره چه واقع دے په کلام کښ چه هغه نسبة د مجئ دے نو داسی دا معطوف الیه چه متبوع دے دا زید داهم په دې نسبة سره مقصود دے فقوله مقصود بالنسبة غرض د شارح په دې عبارت سره دقیوداتو فوائد ذکر کوی حاصل دادے چه دا تابع په منزله د جنس دے تولو توابع ته شامل دے مقصود بالنسبة په منزله د فصل اول دے په دې سره نور توابع خارج شول علاوه د بدل نه ځکه چه دانور توابع مقصود بالنسبة

نه وی بلکه متبوعات ئی مقصود وی او بدل یکښ باقی دے ځکه هغه مقصود بالنسبة وی مع متبوعه دایه منزله د فصل ثانی دے په دې سره بدل هم خارج شو ځکه چه په بدل کښ متبوع نه وی مقصود بلکه دایه طور د توطیه او تمهید وی مقصود بدل وی فقط قیل یخرج غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض کول دي چه دا تعریف جامع ندے نو صحیح ندے جامع ځکه ندے چه حروف عاطفه کښ یو لا دویم بل دریم لکن ځلورم ام پنځم اما شپږم او چه دې نوبه دې سره چه عطف اوشی نو مقصود بالنسبة معطوف تابع وی فقط نه معطوف علیه او متبوع او تاخو مع متبوعه اوی.

جواب: شارح اجیب سره وائی حاصل دادے چه د مقصود بالنسبة معنی داده چه دا تابع او متبوع به دواړه مقصود بالنسبة وی یعنی دا متبوع به توطیة او تمهیدا نه وی ذکر او تابع به فرع نه وی بلکه د دواړو قصد به شوی وی مثلا جاءنی عمرو بل زید دلته دا عمرو او زید دواړه مراد دي چه دا عمرو توطیة او تمهیدا ندے او دا زید فرع نه ده ولها ثم الحد غرض د شارح په دې عبارت سره یو زوستو متن ته تمهید ذکر کول دي او دویم دهغی دما قبل سره ربط دریم دفع د سوال ده چه تعریف مع متبوعه پوری جامع او مانع شو نو دا یتوسط الخ ذکر کول مستدرك دي ځکه نه جامعیة او نه مانعیة راولي؟

جواب: دا چا وئیلی دي چه تعریف کښ به الفاظ فقط دپاره د جامعیة او مانعیة بلکه کله دپاره د وضاحة هم څه الفاظ راځی لکه دلته دا شو چه تعریف خو پوره شو جمعا او منعا خو دائی روستو راوړو للتوضیح بینه ای بین ذالك التابع دا تعیین د مرجع کوی احد الحروف العشرة دا حروف عشره لا څه دی؟ و سیاق رابه شی څه شئ به راشي؟ تفصیل د دي کنه نو چرته؟ فی قسم الحروف کنه نو دابه کله وی؟ ان شا الله تعالیٰ.

وضاحة بالمثال: ماتن وائی مثل قام زید و عمرو.

ولم یکتف بقوله تابع دا شارح بیرته وضاحة د تعریف ته رامعاد شو نو غرض ئی دفع د سوال ده چه داکافیه متن دے او مبنی د متونو په اختصار وی او بیا په تعریف کښ خو انتهائی اختصار پکار دے نو ماتن لره پکار وو چه یو د متن اختصار ئی کړی وی او دویم د تعریف نو عبارت به ئی داسی وئیلی وی چه العطف تابع یتوسط بینه و بین متبوعه احد الحروف العشرة نو د اختصار سره به مقصد هم حاصل شوی وی.

جواب: لان الحروف حاصل دادے چه ستاً د اعتراض نه قربان شم چه اختصار په متن کښ ضروري وي خو هغه اختصار هم نه چه د هغې د وجې نه فساد راځي اوس دلته هم فساد راځي هغه داچه که په دې تعريف مونږه اکتفاء اوکړو داتا چه کوم بيانکړو نو کله کله دا حروف عاطفه د صفاتو په درميان کښ واقع کيږي نو هغه پکښ داخليږي حالانکه دا معطوف معطوف عليه نه وي ځکه چه هلته مقصود متبوع وي فقط او دا صفات دپاره د وضاحة د متبوع راغلي وي لکه جاءنی زيد العالم و الشاعر و الدبير ای الکاتب نو دلته دا الشاعر او الدبير صفات دي نه معطوف نودپاره د اخراج د دې مونږ اوئ مقصود بالنسبة مع متبوعه نو داپرې خارج شو ځکه دا صفات مقصود بالنسبة نه دي فالصفة الداخل عليها غرض د شارح په دې عبارت سره دفع د سوال ده چه داسې کار دے چه زما په دې لنډ تعريف باندې څوک دا سوال نشي کولی چه صفات پکښ داخليږي ځکه چه زه وايم تابع يتوسط بينه و بين متبوعه احد الحروف العشرة نو حرف عطف به په درميان د تابع او د متبوع کښ متوسط وي نو ستا په دې مثال کښ حرف عطف په درميان د تابع او متبوع کښ نه دے متوسط ځکه چه په جاءنی زيد العالم و الشاعر و الدبير کښ تابع العالم، الشاعر او الدبير دے او متبوع زيد دے نو د زيد او د دې صفاتو درميان کښ حرف عطف نشته دے بلکه حرف عطف د صفاتو په خپل درميان کښ راغلي دے.

جواب : فالصفة حاصل دا دے چه د دې صفاتو دپاره دوه جهة دي يوجهة داچه دا صفة او تابع د زيد شي په داسې طريقه سره چه دا معطوف او زيد ورله معطوف عليه دے او دويم جهة پکښ دادے چه دا الشاعر او الدبير عطف شي په دې مخکښ صفة باندې او دهغې تابع شي نو په دې دويم جهة باندې سوال نه راځي خوپه اول جهة باندې سوال راځي چه دا صفة د زيد شي نو هغه مراد دے.

سوال: دا جهة ثانيه دلته متعين دے نه اولی ځکه چه کوم حرف عطف په کوم معطوف راغلی دے نو د دې مقصد دا وي چه داپه دې دويم عطف کوي نه په اول باندې او دلته عطف"واو" د دبير کوي په شاعر او"واو" د شاعر عطف د شاعر کوي په عالم باندې نه په زيد باندې نو واضحه شوه چه دا دويم صورة متعين دے ځکه حرف عطف راځی دپاره د عطف د ثاني په اول باندې او دلته عطف په شاعر او عالم شوی دے نه په زيد باندې.

جواب: لان توسط حرف العطف حاصل دادے چه دا خبره ضروري نه ده چه حرف عاطفه به دپاره د دې راځي چه عطف د ثاني اوکړي په اول باندې فقط بلکه کله حرف عاطفه دپاره د

نورو مقاصدو هم راځی لکه زمخشری هغه ذکر کړی دي و قیل قد جوز غرض د شارح په دې عبارت سره دپاره د خپل قول تائید ذکر کول دي چه کو قول ده مخکښې اوی چه ذکر کول د حرف عاطف ضروری نه دي چه دپاره د عطف د ثانی شی په اول باندې بلکه کله دنورو مقاصدو دپاره هم راځی فقال قد جوز. حاصل هم دا دے چه زمخشری په کشاف کښې داخبره په متعدد و مقاماتو کښې کړی ده چه"واو" د موصوف او صفة په درمیان کښې اتصال د صفة د موصوف سره هم راځی حکم المصنف وی مصنف هم په شرح د مفصل کښې داخبره کړی ده په بحث د استثناء کښې په قول د الله کښې چه وما اهلکنا من قریة الا ولها منذرون دے په دې کښې ولها منذرون دپاره د قریة صفة دے او په درمیان کښې دا"واو" حرف عطف راغلی دے نوکه مصنف اکتفاء کړی وی په یتوسط بینه ، بین الا او دا مقصود بالنسبة نه وی بیا نکړی نو دا قسم صفات پکښې داخلیدل .

سوال: نو دابه د زمخشری مذهب وی او د مصنف به نه وی .

جواب: مصنف هم په شرح د مفصل کښې بیان کړی ده .

سوال: نو دابه ئې تابعداری د زمخشری کړی وی خپل مذهب به ئې دانه وی او یا دغه قول به ئې شاذ وی.

جواب: ونقل عن المصنف نه ښه پوره خبره ئې کړی ده او رضاپری هم دے په امالی الکافیه کښې داخبره کړی ده نو توجیه بما یرضی به قائله ده.

سوال: هر کله چه په جائی د زید العالم و العاقل کښې دا العاقل صفة دے پس د"واو" حرف عطف نه پشان د هغه صحیح چه بغیر د حرف عاطف نه وی نو بیا خو ذکر کول د حرف عاطف مستدرك شو.

جواب: و انما حسن حاصل دادے چه دا مستدرك نه دے بلکه د دې فائده شته دے هغه داچه د صفاتو او معطوفاتو درمیان کښې مشابهة دے لکه څنګه چه په درمیان د معطوف او معطوف علیه کښې تغاير وی نو داسی د صفة موصوف درمیان کښې هم دے نو دا فائده ئې ورکړی ده په دې عبارت د شارح باندې ملا عصام صیب یو اعتراض کړے دے هغه دا چه دلته شارح تکرار کړے دے په دې شان سره چه ولم یکتف بقوله تابع سره کوم اعتراض وو او

لان الحروف قد تتوسط سره چه جواب وو هغه ئی دلته بیا رامعاد کړے دے چه فلو اکتفی بقوله تابع یتوسط لدخل دے نو تکرار خو شنیع دے۔

جواب: عصام صیب تکرار نشته دے په عبارت د شارح کښې ځکه چه په دې یتکف سره کوم سوال او جواب دے نوداد شارح خپل کلام دے او روستو چه دا فلو اکتفی وائی نو دا د زمخشری صیب کلام دے چه کوم جرجانی صیب نقل کړے دے دهغی په راوړو سره ئی بیا دا سوال او جواب کړے نوپه دې سره دا سوال هم دفع شو چه عصام صیب وائی چه مخکښې مصنف کوم کلام کړے دے نو فرق ئی داسې کړے دے چه حرف عاطف ذکر دے خو من وجه مغائرة دے او من وجه اتحاد دے او دلته من کل الوجوه مغائرة ... نو داهم دفع شو ځکه کلام جدا جدا دے. و قال بعضهم غرض د شارح په دې عبارت سره اعتراض کول دي په دې خپل قول او داجرجانی چه کوم نقل کړی دے حاصل دادے چه په صفاتو کښې کوم حرف عاطف راځی نو داهم دپاره د عطف دے ولې چه معنی پکښې شته دے هغه داچه مثلا دا "واو" دپاره د جمع راځی نو دا معنی په صفاتو او غیر د صفاتو دواړو کښې راځی نو چه دا معنی په دواړو کښې ده اوپه صفاتو کښې دا غیر عاطفه ګرځول او په غیر صفاتوکښې دا عاطفه ګرځول خو ترجیح بلا مرجح ده چه ناروا کار دے. ارتکاب امر بعید من غیر ضرورة داعیة الیه مقصد د دې عبارت دادے چه یو شئ د څه دپاره وضع وی نو هم په هغی په محمولیږی نو اوس دا حرف عطف پکار ده چه په خپله معنی محمول شی او تاخو دلته بغیر د څه ضرورة نه داپه خپله معنی حمل نه کړو دهغی نه دې خارج کړو.

جواب: جی داخبره خو ده چه تاخه اوی خو دلته په معطوف او معطوف علیه کښې مغائرة پکار دے نو یواځې داخبره نه کافی ګیری چه رالتل د معنی د حروف عاطفه دې بلکه رالتل د معنی سره د مغائرة نه ضروری دې نوپه صفاتو کښې خو معنی شته دے خو دا دویمه خبره پکښې نشته دے چه مغائرة دے پکښې بلکه صفة موصوف یو وی مصداقا نو د دې وجه نه په صفاتو کښې دا معطوف ، معطوف علیه نه ګرځو

و اذا عطف علی المرفوع المتصل اکد بمنفصل ربط د دې عبارت دما قبل سره په دوه قسمه دے یو داچه دې مقام نه احکام د عطف دې نو بیا دا عطف کله د اسم ظاهر په اسم ظاهر وی او کله د اسم ضمیر په اسم ضمیر وی ا کله د اسم ظاهر په اسم ضمیر وی او کله د اسم ضمیر په اسم ظاهر وی تول پکښې څلور صورتونه دې نو د دې دپاره احکام بیانوی او دویم قسم ربط دا دے چه عطف خو په دغه څلور صورته دے خو د بعضو دپاره پکښې څه

شرائط دي نو دهغه بعضو د شرائطو بيان كوى فقال و اذا عطف شارح الضمير اوى دا ځكه چه المرفوع صفة وو تقاضا د موصوف ئ كوله نو شارح ورله هغه معين كړو لا المنصوب و المجرور دا د المرفوع قيد فائده ده المتصل شارح په دي كښ تعميم كوى بارزا كان او مستترا سره لا المنفصل دا د متصل قيد فائده ده.

سوال: اذا عطف شرط دے او اكد بمنفصل ورله جزاء ده او قانون دادے چه جزاء مرتب وى په شرط باندي او دلته ترتب د جزاء په شرط ندے صحيح ځكه چه كله عطف اوشى نو اول تاكيد راځى او بيا عطف كيږى او دلته ظاهرا اول عطف اوشو او بيا تاكيد راځى.

جواب: اولا حاصل دادے چه دا كلام په ظاهر ندے حمل بلكه دلته دا اذا عطف په معنى د اذا اريد دے نو دا اراده نه بعد به تاكيد راځى او بيا ثم عطف دے.

سوال: ماتن خو اذا عطف مطلقا وئيلى دے تا ځنګه اذا اريد ورسره وائى دا خو تقييد د مطلق دے قرينه غواړى نو دلته څه قرينه ده؟

جواب: دا عطف كول فعل اختيارى د عبد دے او هر فعل اختيارى د عبد مسبوق بالارده وى و ذالك لان المتصل غرض د شارح دليل بيانول دي چه بغير د تاكيد نه دا عطف ولى ممتنع دے نو دا ځكه چه ضمير مرفوع متصل چه دے نو داچه د څه سره متصل دے نو دا دهغى د جزء پشان دے لفظا او معنى بيا لفظا داسى چه دا كله د فعل سره متصل شى نو بيائى انفصال دهغى نه جائز ندے ځكه خو چه دا كله د فعل سره متصل شى نو دهغى د وجى نه اخر هم ساكن كيږى لكه ضربت شو او دا ځكه چه توالى دا اربع حركاتو متواليات راشى په هغه څه كښ چه ديوى كلمه پشان وى او معنى داسى چه دا فاعل وى او فاعل د فعل نه جزء وى فلو عطف نوكه عطف اوشى بغير د تاكيد نه نو دابه پشان د عطف شى په بعض حروفو د كلمه چه دانارو دے لهذا په دغه ضمير متصل باندي هم عطف بلا تاكيد ه په منفصل سره نارو دے فاكد اولا نو تاكيد به اول په ضمير متصل سره كيږى او بيا به عطف كيدلے شى ځكه چه په تاكيد سره به دا ظاهر شى چه دا مرفوع متصل اګرچه پشان د جزء دے ليكن په حقيقة كښ منفصل او مستقل دے بدليل جواز په دي دليل سره چه بعض وخت كښ دا د فعل نه جدا راوړل جائز وى نو د تاكيد سره به داپشان مستقل كلمه شى نو بيا به په دي باندي عطف مكمل جائز شى و لا يجوز ان يكون غرض د شارح دفع د سوال ده چه داسى كار اوكړه

چه دا عطف په دې تاکید باندې اوکړم کنه لکه ضربت انا و زید کښې دا زید په انا باندې عطف کړم .

جواب: داسې نه شو کولی ځکه چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښې وی نو په دې اعتبار به لازم شی کیدل د معطوف تاکید چه دا زمونږ مقصود ندے ځکه چه معطوف او معطوف علیه کښې مغائرة وی او موکد او تاکید خو متحد وی نو دا باطل دے فان کان الضمیر منفصلا غرض د شارح دفع د سوال دے چه تاسو په قید د متصل سره احتراز د منفصل نه اوکړو او د مرفوع سره د منصوب او مجرور نه نو دې ته څه حاجة دے نو دا حکم دې په منفصل او منصوب او مجرور کښې هم شی کنه ځنګه چه په مرفوع متصل کښې دے؟

جواب: شارح وائی داسې نه شی کیدلے ځکه دې حکم دپاره دوه علته کیدل ضروری دې یو کون د ضمیر کالجزء من الفعل لفظا دویم کون د ضمیر کالجزء من الفعل معنًی نو منفصل کالجزء دے خو لفظا نه دے او منصوب او مجرور کالجزء دې خو معنی ندی مثل سره وضاحة بالمثال دے چه ضربت انا و زید دے دا مثال دپاره د ضمیر مرفوع متصل بارز دے او شارح د مستتر دپاره مثال پیش کوی چه و زید ضرب هو و غلامه.

سوال: نوپه ضربت الیوم و زید کښې دا زید عطف دے په ضمیر متصل د ضربت او روره دلته خو تاکید په منفصل سره نه دے راغلی.

جواب: الا ان یقع فصل حاصل دادے چه کله د ضمیر مرفوع متصل او دهغی د معطوف کښې فصل راشی نو بیا تاکید ترک کول جائز دې عام د دې نه که دا حرف عاطف مخکښې د فصل نه وی یا بعد لانه قد طال د ادفع د سوال دے چه دالا ځنګه کار دے هغه علت د لزوم د تاکید خو اوس هم شته دے چه کون د ضمیر دے کالجزء من الفعل لفظا او معنی نو بیا ولی تاکید متروک دے.

جواب: کلا مك برد کویس لاکن دلته مانع راغلے دے او قانون خودادے چه کون د دې لفظ دے کالجزء من الفعل لفظا او معنی مقتضی د تاکید د عطف په منفصل سره وی خو بغیر د مانع نه او دلته مانع دے چه فصل دے نو چه کلام اوږد شو نو بیا په تاکید سره طول در طول راځی سواء کان الفصل دا شارح هغه تعمیم ته اشاره کوی چه که دا فصل د حرف عطف نه روستو وی او که د حرف عطف نه مخکښې لکه ضربت الیوم و زید شو دلته د حرف

عطف نه مخکښ فصل راغلی دے او د دويم دپاره شارح مثال بيانوی چه ما اشركنا ولا اباءنا د حرف نه روستو فصل راغلی دے.

سوال: په دې مثال کښ چه ما اشركنا ولا اباءنا دے نو د الا پکښ مستدرك دے ځکه بغير د دې نه هم نفی د اشتراك راځی .

جواب: لتاكيد النفی دا د نفی دپاره نده بلکه دپاره د تاكيد د نفی ده.

سوال: دا فيجوز تركه ولی راوړی په الا ان يقع فصل باندې اكتفاء اوكړه كنه؟

جواب: و انما قال دا مو ځکه ذکر کړو چه که په الا ان يقع فصل سره اكتفاء اوشی نو سادګانو به داوهم کړے وی چه کله د ضمير مرفوع متصل او د معطوف په درميان کښ فصل واقع شی نو د هغی تاكيد به په منفصل سره د سر نه جائز نه وی حالانکه خبره دانه ده بلکه دواړه جائز دې که تاكيد اوشی او يا نه نو ځکه ئې دا فيجوز اوی. بالفاظ ديګر د سوال داسی هم کيدلے شی چه ماتن يجوز تركه وائی نو يجب تركه ولی نه وائی؟ جواب فانه قد يوكد حاصل دادے چه بعض وخت کښ سره د فصل نه تاكيد په منفصل سره کيږی لکه فكبكبوا فيها هم و الغاون دلته سره د فصل نه چه فيها دے تاكيد شوی دے په هم سره او کله کله د فصل سره تاكيد نه کيږی لکه ضربت اليوم و زيد شو نو د دې مساواة د وجی نه ماتن يجوز اوی نه يجب. هذا ای خذ هذا چه دا واخله يو طرفه ئې اونيوه دلته دا هذا ئې راوړو فائده داده چه فصل ظاهر شی چه دامابعد کلام جدا دے دما قبل نه و اعلم ان مذهب البصرين غرض د شارح په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په يقظة د مقام باندې دويم په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په بيان الاختلاف دريم په اعلم سره تنبيه د مخاطب ده په دفع ديو سوال چه وار دے په ماتن چه مونږه خو اوريدلے دې چه بصريان وائی چه عطف په مرفوع متصل سره د تاكيد بالمنفصل نه اولی دے او عطف بغير د تاكيد او فصل نه په مرفوع متصل باندې جائز دے خو سره د قبح نه اوكوفيان وائی چه د تاكيد او فصل نه بغير هم جائز دے بغير د قبح نه نو داماتن کوم مذهب بيانوی دې خو د لزوم خبره کوی چه تاكيد لازم دے يو مذهب هم نه راځی.

جواب: ماتن دې فن کښ مستقل امام دے چه د سره مذهب د چا موافق شی نو هغه راځلی او كنه نو نه ئې اخلی نو حاصل دادے چه دې کښ تول دری مذاهب شول .

سوال: تا اوی چه مذهب د ماتن دادے چه تاکید بمنفصل واجب دے چه کله فصل نه وی او که فصل وی نو بیا جائز دے نو تاته څه پته ده چه ماتن په نزد خبره داسی ده؟

جواب: دا خبره خو واضح ده چه کله فصل وی نو بیا تاکید بالمنفصل جائز دے ځکه ماتن دلته یجوز وائی او دا خبره چه کله فصل نه وی نو بیا تاکید بالمنفصل واجب دے داپه بحث د مفعول معه کښ تیره شوی ده هلته ماتن وائی چه و الا ای وان لم یجز العطف بل یمتنع تعین النصب نو دې دپاره بیا مثال پیش کوی چه جئت و زیدا نو دې نه معلومیږی چه عطف دلته جائز نه دے ځکه فصل او تاکید نشته دے نو دا فصل او تاکید واجب دے ځکه دې نه علاوه عطف ممتنع شو.

و اذا عطف علی الضمیر المجرور دایو بل حکم دے او یا دیو بل حکم دپاره شرط بیانوی چه هغه داچه کله عطف اوشی په ضمیر مجرور باندې نو په معطوف کښ اعاده د حرف جر واجب ده فقال و اذا عطف دلته هم هغه سوال او جواب دے چه دلته دا عطف په معنی د ارید دے حرفا کان او اسما غرض د شارح تعمیم کول دې په خافض کښ ځکه خافض عام طور سره په اعراب بالحرکة کښ استعمالیږی او دا دفع د سوال هم ګرځیدلے شی. تدبر.

لان اتصال الضمیر المجرور غرض د شارح په دې عبارت سره غلث د دې حکم بیانوی چه حاصل ئې دادے چه عطف کول دیو شئ په بل شئ باندې سره د تاکید او د فصل نه ځکه واجب دے چه دا معطوف علیه کالجزء وی د ما یتصل به نه لکه دا مخکښ حکم شو چه عطف په مرفوع متصل باندې وو نو اوس په ضمیر مجرور متصل باندې عطف کول سره د تاکید نه په طریقه اولی سره واجب دې ځکه دا د مرفوع متصل نه اشد دے په اتصال کښ ځکه چه مرفوع متصل فاعل وی دپاره د دغه فعل چه دا ورسره متصل دے او فاعل کله اسم ظاهر هم راتلی شی نو بیا خو انفصال جائز دے نوپه دې مرفوع متصل کښ کله کله انفصال دما یتصل به نه راځی او هر چه ضمیر مجرور متصل دے نو دهغی دسر نه انفصال دما یتصل به نه جائز نه دے برابره ده که دا مجرور ضمیر وی یا ظاهر خو انفصال ئې دما یتصل نه ناروا دے نو په اتصال کښ د مرفوع نه اشد شو نو هلته ناروا وو چه هغه شدید دے نو په دې اشد کښ خو په طریقه اولی ناروا دے.

ولیس للمجرور ضمیر غرض د شارح دفع د سوال ده چه داسی ولی نه کوی چه اول د ضمیر مجرور تاکید په منفصل سره اوکړی او بیا پری عطف اوکړی نو اعاده د خافض ته به حاجة رانشی.

جواب: دا خبره خو ښه ده او زمونږ هم دې ته اراده وه خو د مجرور ضمیر دپاره منفصل ضمیر نشته دے چه تاکید پری اوشی و فی استعارة المرفوع له مذلة غرض د شارح دفع د بل سوال ده چه داپه طور د مشوری دے حاصل دادے چه په دنیا کښې داپو قانون دے چه دچا سره یو شئ نه وی نو دبل نه په استعاره سره هغه غواړی نو اوس د ضمیر مجرور سره منفصل نشته دے نو د مرفوع او منصوب نه دې په استعاره راواخلی او بیادے په دې سره د ضمیر مجرور متصل تاکید او شی نو روستو دې بیا په دې عطف اوشی بغیر د خافض نه.

جواب: مشوره دې ډیره ښه ده خو عمل پری نشو کولې مجبوری ده هغه داچه که مونږه مرفوع سره تاکید مجرور متصل اوکړو او بیا پری عطف اوکړو نو د مجرور کار اوشو خو د مرفوع بے عزتی اوشوه ذلیل شو او مثال د دې داسې دے چه یو کشر خپل مقصد پوره کړی خو د مشر خپل به ذلت سره نو دا خو عقول سلیمه والا نه غواړی. او هر چه منصوب دے نودا د مجرور سره شریک دے په فضلیة کښې نو څه ذلت پکښې نشته دے خو دلته یو بل مانع دے هغه داچه عام طور سره دا ضمیر مجرور متصل او منصوب متصل په شکل کښې یو شان وی لکه مررت بك کښې دا ك او انك کښې داك یو مجرور او بل منصوب دے خو شکلا یو دې نوکه مونږ په استعاره سره منصوب منفصل راوړو نو څوك به داهم اوکړی چه دا که څه ضمیر مجرور منفصل دے څکه چه دا متصل په شکل کښې یو شان دې نو هغه منفصل به هم شکل کښې یو شان وی او حالانکه ضمیر مجرور منفصل خو شته دے هم نه اصلا نو دې وجه نه مونږ استعاره نه د مرفوع او نه د منصوب منفصل نه اوکړه.

سوال: لکه څنګه چه فصل راشی په درمیان د معطوف او د مرفوع متصل کښې نو بیا تاکید ته ضرورت نشته ده نو دلته دې هم داسې شی کنه چه فصل راشی په درمیان د معطوف او مجرور متصل کښې نو اعاده د حرف جر دې ضروری نشی.

جواب: ولا یکتفی بالفصل حاصل د جواب دادے چه مونږ اوی چه که فصل واقع شی په درمیان د معطوف او د مرفوع متصل کښې نو ترك د منفصل جائز دے نوکه دلته هم مونږ داسی حکم اولګونو دلته خو د سر نه منفصل شته دے نه نو متروك به څه شی نو لا بدی شوه

دا عاده د حرف جر نه بالفاظ ديگر دا فصل خليفه دے د تاكيد بالمنفصل او تاكيد بالمنفصل ورله اصل دے نو چه اصل عديم الوجود شي نو خليفه به څنګه متصور شي چه ترتب د حكم پرې اوشي نو دابه په طريقه اولى سره ممكن نه وي نو اعاده د حرف جر واجب شوه لا تاثير له الا في يعنى د تاكيد بالمنفصل ترك سره دپاره د فصل تاثير وو چه ترتب د حكم دے اوس دلته خو منفصل نشته دے نو دهغې ترك به څه راشي او بيا ترك سره به فصل څنګه اثر اوكړي چه ترتب د حكم پرې اوشي مثال مررت بك و بزيد دا مثال دپاره د حرف خافض دے او شارح د اسم دپاره دهم مثال پيش كوي چه و المال بينى و بين زيد دے فالمعطوف هو مجرور غرض د شارح دفع د سوال ده چه دا زيد عطف دے په ك ضمير بانديې په بك كښ نو عامل دواړو كښ داباء شوه نو بيا اعاده د باء كول مستدرك دى.

جواب: چه او دا زيد عطف دے په ك بانديې او دواړو كښ باء عامل ده خو دا اعاده د باء ثانى مستدرك نده څكه ديه دي مقام كښ دپاره د جواز د عطف ده څكه دي نه علاوه عطف ناروا دے نو دپاره د عمل نشوه چه جر وركړي مدخول لره.

سوال: نوپه زيد معطوف كښ عامل دا اول باء واني كنه ثاني او كه نه دواړه كه اول شي نو دوېمه باء مستدرك شوه او كه ثاني واني نو معطوف به حكم د معطوف عليه كښ نه ګرځي او كه دواړه شي نو بيا توارد د عاملينو مستقلينو راځي په معمول واحد چه دانارو دے.

جواب: و جره بالاول دا عامل اول باء وايم او دا باء ثانى كالعدم ده معنى.

سوال: څه دليل دے؟

جواب: بدليل قولهم حاصل دادے چه دليل دا قول د عربو دے بيني و بينك نو دا بين ثاني كالعدم دے څكه دا بين په متعدد داخليږى نو كه كالعدم نشي نو بيا خو د دي اضافة غير متعدد ته كيږي چه ك ضمير د مفرد دے نو معلومه شوه چه زائده دے. و قيل جره ذا دويم جواب دے د دي اعتراض نه چه دا رضي صيب كړے دے حاصل ئى دادے چه عامل په معطوف كښ دا باء ثاني ده لكه كفى بالله كښ دا باء زائده ده او بيا هم جر وركوى نو دلته هم دا باء ثانى زائده ده خو عمل د جر ئى كړے دے.

سوال: نو داخو لازم شو توارد د عاملينو مستقلينو په معمول واحد او دانارو دے.

جواب: توارد د عاملينو مستقلينو په معمول واحد هغه وخت ناروا دے چه دا عامل لفظا او معنی دواړه مؤثرين وی حالانکه دلته خو معنی دا مؤثر ندے ځکه زائده دے و هذا الذی غرض د شارح په دې عبارت سره بيان الاختلاف دے په دې مسئله کښې چه کله په ضمير مجرور باندې ديو اسم عطف اوشی نو ايا په معطوف به خافض معاد کول لازم وی او کنه لازم ندی؟ نو دلته دوه مذاهب دي يو د بصريانو دويم دکوفيانو دے او مصنف هم کلام په مذهب د بصريانو بناء کړے دے بيا حاصل دادے چه کلام دوه قسمه دے يو نثر دويم نظم يعنی يو حالت د سعة او فراختيا دے چه داپه نثر کښې وی او دويم حالت اضطرار دے چه دانظم کښې وی نو بصريان وائی چه په کلام نثری کښې په هغه معطوف چه معطوف عليه ئی ضمير مجرور متصل وی نوپه دې معطوف باندې اعاده د خافض لازم ده البته په کلام نظمی کښې اعاده د خافض لازم نده نو که کلام نثری کښې اعاده د خافض نه وه نو دا ضعيف دے او کلام نظمی کښې که اعاده د خافض نه وه نو دا جائز دے بغير د ضعف نه او کوفيان وائی چه په کلام نثری او کلام نظمی دواړو کښې حکم يو دے چه اعاده لازم نده مستدلين بالاشعار دا دليل د کوفيانو بيانوی نو دليل ورله څه اشعار دي او د الله قول هم دے

فاليوم قربت تهجونا و تشتمنا　　فاذهب فما بك و الايام من عجب

ترجمه: نن ورځ که ته راغلی ئی او زمونږ هجوه کوی او کنځل کوی نو څه تاته څه ګناه نشته ځکه ته او زمانه الله روان ئی او محل د استشهاد پکښې دا والايام دے چه عطف دے په ضمير مجرور باندې بغير د اعاده د خافض نه دغه شان شعر د سعدی هم ندے اګرچه د متاخرينو نه دے

بلغ العلی بکماله　　كشف الدجی بجماله

حسنت جميع خصاله　　صلوا عليه و اله

دلته محل د استشهاد و اله دے چه عطف دے په مجرور متصل بغير د اعاده د خافض نه او دغه شان قول د الله تعالی هم دے قال تعالی .

تسآءلون به و الارحام نو دا ارحام په ضمير مجرور بغير د اعاده د خافض نه عطف دے.

جواب: من جانب البصرين حاصل دادے چه په اشعارو کښ خو موږ هم په جواز بانديې قائل يو او هر چه ايت دے نو دهغې نه جواب (۱) و الارحام دا "واو" للقسم دے (۲) دا په مقدر عطف دے ای و بالابوين و الارحام (۳) دلته حرف جر مقدر دے ای و بالارحام (٤) داکسره او جر خو ستاسو په قراة کښ دے چه حمزه کوفی دا قراة کړے دے (٥) عند البعض دا و الارحام منصوب دے نو اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال فان قيل غرض د شارح اعتراض دے چه دا عطف څنګه تابع دے نو تاکيد او بدل هم توابع دي نو دا هم پشان د عطف دي نو تاسو چه عطف په ضمير مرفوع متصل کوئ او يا دهغې نه بدل واقع کوئ نو هلته ولی اعاده د خافض نه کوئ لکه جاؤنی کلهم شو چه کلهم بدون التاکيد بالمنفصل تاکيد واقع دے او دغه شان اعجبتنی جمالك شو دا جمالك بدل دے د مرفوع متصل نه او داخو بغير د تاکيد نه په منفصل سره بدل واقع دے او دغه شان تاسو چه کله تاکيد د ضمير مجرور متصل کوئ او يا ترينه بدل واقع کوئ نو هلته هم اعاده د خافض نه کوئ لکه مررت بك نفسك کښ دا نفسك تاکيد دے د ك ضمير مجرور متصل او دا نفسك خو بغير د اعاده د خافض نه واقع دے دغه شان اعجبت بك جمالك کښ دا جمالك بدل دے دك ضمير مجرور متصل نه او داخو بغير د اعاده د خافض نه دے قلنا سره شارح جواب کوئ حاصل دادے چه دا تاکيد او بدل اګرچه په شان د عطف دي په دي اعتبار چه ټول توابع دي خو د دي درميان کښ فرق شته دے په دي شان سره چه تاکيد عين موکد وی او بدل اکثر يا بدل الکل وی يا بدل البعض او يا بدل الاشتمال وی چه دي کښ هم په بدل مبدل منه کښ عينية دے او بدل الغلط نادر دے نو کالعدم دے او په درميان د معطوف او معطوف عليه کښ مغائرة وی نو معطوف او معطوف عليه متغائرين دي نو دپاره د تحصيل د مناسبة پکښ لا بدی ده د تاکيد بالمنفصل نه په مرفوع متصل کښ او لابدی ده اعاده د خافض نه په مجرور متصل کښ او هر چه تاکيد اوموکد او بدل مبدل منه دي نو دا متغائرين نه دي بلکه دا عينين دي نو حاجة نشته دے په درميان د دي کښ تاکيد بالمنفصل او يا اعاده د خافض دپاره د مناسبة.

سوال: دا ولی معطوف معطوف عليه متغائرين دي او دانور عينين دی.

جواب: لعدم تخلل فاصل بينهما حاصل دادے چه د معطوف معطوف عليه درميان کښ حرف عطف راغلی دے او په دي نورو کښ هيڅ نشته دے ليخرج المتصل المرفوع مقصد د دي عبارت دادے چه په عطف کښ موږ دا حکم څنګه لګوچه تاکيد بالمنفصل دے په مرفوع کښ او اعاده د خافض ده په مجرور کښ چه دا ضمير مرفوع متصل د محض اتصال نه خارج

شی په ذریعه د منفصل سره او دهغه اسم سره مناسب شی چه کوم معطوف دے په تاکید بالمنفصل سره اوپه مجرور کښې څکه اعاده د خافض کوو چه د دې مجرور مناسبة قوی شی د جار د پیوست کیدلو سره

﴿و المعطوف فی حکم المعطوف علیه﴾ احکام د عطف ذکر کیدل دوه حکمه په طریقه د شرطیه سره ذکر شو د دې مقام نه بل خالص حکم بیانوی فقال و المعطوف فی حکم المعطوف علیه مقصد دادے که معطوف علیه فاعل وو نو معطوف به هم فاعل اوکه مفعول ؤ نو مفعول به وی او که مبتداء نو مبتداء شارح وائی فیما یجوز له و یمتنع دایو قید شو او من الاحوال العارضة له دا دویم قید شو نظرا الی ما قبله دا دریم قید شو بشرط الا یکون ما یقتضیها منتفیا فی المعطوف دا څلورم قید شو نو د بعض قیوداتو فوائد شارح بیان کړی دي او د څو به موږ اوایو.

نو اول قید فیما یجوز له و یمتنع دے نو فائده داده چه که معطوف علیه فاعل وی نو معطوف به هم فاعل واقع کیدل جائز وی او په دغه وخت کښې مفعول د معطوف واقع کول ممتنع دی. و انما قلنا من الاحوال دا دویم قید فائده بیانوی چه دا دفع د سوال ده چه په جاءنی بقر و انسان کښې معطوف د معطوف علیه په حکم کښې ندے فیما یجوز له و یمتنع کښې څکه د بقر معطوف علیه دپاره نطق ممتنع دے او دا انسان معطوف دپاره نطق غیر ممتنع دے نوپه حکم دما یجوز له و یمتنع کښې نه شو .

جواب: شارح وائی چه مراد د فیما یجوز له و یمتنع نه هر شئ ندے بلکه په احوال عارضه کښې او نطق دپاره د انسان او عدم نطق دپاره د بقر احوال عارضه نه دي بلکه احوال ذاتیه دي نظرا الی ما قبله احترازا عن الاحوال دا د دویم قید فائده ده چه داهم دفع د سوال ده چه په جاءنی زید و موسی یا جاءنی زید و هذا دي کښې زید معطوف علیه دے او موسی او هذا ورله معطوف دے حالانکه دلته دا معطوف په حکم د معطوف علیه کښې ندے فیما یجوز له و یمتنع من الاحوال العارضة کښې څکه اعراب تقدیرا او لفظا او بناء د احوال عارضه نه دي نو زید باندې اعراب لفظی دے او موسی باندې تقدیری دے او زید معرب دے او هذا مبنی دے نو د زید دپاره اعراب لفظی جائز دے نه دپاره د موسی او هذا بلکه دې دپاره اعراب لفظی ممتنع دے نو دا څنګه فیما یجوز له و یمتنع کښې شو.

جواب: دایه نظر سره ما قبل ته مراد دے او دا اعراب ، بناء، تعریف، تنکیر، افراد، تثنیه او جمع دایه نظر سره ما قبل ته ندی بلکه دایه نظر سره خپل نفس ته دي نو داهم ندی مراد نو اعتراض کښ چه کوم امثله دي نودایه نظر سره ما قبل ته ندی نو خارج دي اګرچه امور عارضه دي.

سوال: ته وائی دا اعراب او بناء معطوف او معطوف علیه ته د نفس نه عارضیږی نو دا خبره نه منم بلکه دا د ما قبل ته عارضیږی. زید چه معرب دے نو د ماقبل عامل د وجی نه معرب دے چه جاءنی دے.

جواب: اوپه دي اعتبار خو دا د ما قبل نه ارض دے خو مونږ ورته چه دنفس نه وایو نودایه دي اعتبار چه په دي نفس کښ صلاحیة د اعراب وی نو چه کوم نفس کښ صلاحیة د اعراب وی نو د عامل د وجی نه ورته اعراب راشی اوپه کوم نفس کښ چه صلاحیة د اعراب نه وی نو د عامل د وجی نه پکښ اعراب نشی راتلی و انما قلنا بشرط ان لا یکون دا د خلورم قید فائده ده چه داهم دفع د سوال ده چه ته وائی چه معطوف په حکم د معطوف علیه کښ وی فیما یجوز له و یمتنع د احوال عارضه نه په نظر سره ما قبل ته نو نقض دي راغئ په یا رجل و الحارث بانديې دا الحارث معطوف دے په رجل معطوف علیه بانديې او په معطوف کښ خو تجرد د الف"لام"نه نشته دے او معطوف علیه کښ تجرد د الف"لام"شته دے.

جواب: معطوف په حکم معطوف علیه کښ دے خو مطلقا نه بلکه په دي شرط چه مقتضی د احوال عارضه د معطوف علیه په معطوف کښ منتفی نه وی او دلته منتفی دے ځکه معطوف علیه چه رجل دے نو د رجل دیا حرف نداء سره جمع کیدل تقاضا د تجرد عن اللام کوی او دایه معطوف کښ نفی دے چه الحارث دے ځکه دلته اجتماع د حرف نداء سره نه راځی نو تقاضا د تجرد عن اللام هم نه کوی.

و اما نحو رب شاة و سخلتها غرض د شارح د فع دیو سوال ده چه په رب شاة و سخلتها سره دا قاعده متقوضه شوه په دي شان سره چه دا سخلتها معطوف دے په شاة بانديې نو دلته په معطوف کښ خو مقتضی د حال د معطوف علیه منتفی ندے چه هغه جر په رب سره دے او بیا هم معطوف په حکم د معطوف علیه کښ ندے ځکه دا معطوف علیه نکره ده او معطوف خو معرفه ده.

جواب: فبتقدير التنكير حاصل دادے چه دا سخلتها کښ اضافة حمل دے په اضافة ذهنية سره او اضافة ذهنية د تعريف فائده نه کوی نو معطوف عليه چه څنګه نکره ده نو معطوف هم نکره ده. (۲) او محمول على نكارة حاصل دادے چه دا ضمير په سخلتها کښ نکره دے نو اضافة د نکری نکره ته نکره وی نو معطوف هم نکره شو.

سوال: داسی ضمیر شته دے چه نکره وی؟

جواب: ګربه رجلا دلته په رُبه کښ ضمير د غائب بلا مرجع دے نو نکره دے ځکه خو روستو ورله رجلا تمييز واقع شوی دے.

سوال: دا سخلتها په ربه رجلا قياس کول صحيح ندی ځکه د ربه ضمير بلا مرجع دے او د سخلتها ضمير بلا مرجع ندے بلکه دا ضمير شاة ته راجع دے نو اعتراض بيا وارد شو چه هغه ضمير نکره وی چه بلا مرجع وی او دا خو مع المرجع دے نو معرفه ده نو بيا معطوف معرفه شوه.

جواب: على الشذوذ حاصل دادے چه نکره وئيل ضمير د سخلتها ته حمل په شذوذ دے اګرچه ضمير چه راجع وی مرجع ته نو په هغی باندې اطلاق د نکارة کول شاذ دي او بيا هغه شذوذ جمال الدين صيب بيان کړے دے چه دا ضمير د سخلتها چه شاة ته راجع دے نوداپه حيثية د کون د مرجع نکره نه په حيثية د کون د مرجع معلوم چه دا مرجع نکره ده معلوم نده نو د نکارة په حيثية ورته راجع دے او بيا دا معنى ذهن ته نه راځی نو شاذ ده ځکه خو شارح وائی رب شاة و سخلة شاة نوکه مقصود دي مقام کښ د سخلتها د ضمير مرجع په حيثية د معلومية وی نو بيا به شارح رب شاة و سخلة تلك الشاة وئيلی وی خو دا مقصود ندے. و كذا المعطوف فى حكم المعطوف عليه فى احوال عارضة له بالنظر الى نفسه و غيره غرض د شارح دفع د سوال ده چه تا دا خبره اوکړه چه معطوف په حکم د معطوف عليه کښ دے خوپه هغه احوالو کښ چه دغه معطوف او معطوف عليه ته عارض وی دما قبل نه نه په هغه احوالو کښ چه د نفس نه ورته عارض وی نو نقض دي راغئ په يا زيد و عمرو باندې په دي شان يا زيد کښ دا زيد مبنى على الضمه دے او عمرو يری عطف دے داهم مبنى على الضمه دے حالانکه دابناء خو داسی حال دے چه عارضږی معطوف او معطوف عليه ته د حيثية د نفس نه نه دما قبل نه نو بيا ولی تاسو معطوف په حکم د معطوف عليه کښ ګرځوئ.

جواب: حاصل دادے چه داخبره په هغه وخت کښ ده چه دامعطوف پشان د معطوف عليه نه وی او کله چه معطوف د معطوف عليه پشان وی نو دا معطوف په حکم د معطوف عليه کښ دے په هغه احوالو کښ چه عارض وی د نفس د دې نه لکه څنګه چه دا معطوف په حکم د معطوف عليه کښ دے په هغه احوالو کښ چه عارض وی د ما قبل نه و امتنع دايو قسم تفريع ده په ما قبل باندې چه بناء په دغه خبره چه کله معطوف پشان د معطوف عليه وی نوپه هغه حکم کښ چه عارض وی دهغه احوالو نه چه فی نفسه دې په هغې کښ هم دا معطوف په حکم د معطوف عليه کښ وی نو بناء په دې ممتنع ده بناء د عبد الله په يا زيد و عبد الله کښ ځکه چه عبد الله معطوف دے په حکم د معطوف عليه يا زيد کښ ندے ځکه يا زيد کښ زيد مفرد معرفه ده او عبد الله خو مفرد ندے مضاف دے نو معطوف په شان د معطوف عليه نه شو چه په حکم دهغې کښ دې شی په هغه احوالوکښې چه عارض دې د نفس نه ومن ثم لم يجز غرض د ماتن تفريعات کوی په ما قبل باندې لکه مونږ وتيلی وو چه تفصيل داسی کوی چه دمن ثم سره په ما قبل تفريعات دې شارح وائی ای ومن اجل الخ دا تعيين د متفرع عليه کوی. بيا حاصل دادے چه ما قبل مونږه اوی چه معطوف په حکم د معطوف عليه کښ وی په ما يجوز له و يمتنع کښ نو دا ترکيب چه ما زيد بقائم ولا ذاهب عمرو او ما زيد قائما ولا ذاهب عمرو په دې کښ دا ذاهب به مرفوع وی نصب او جر پری جائز ندے ځکه که دا ذاهب منصوب شی نو دابه عطف شی په قائما باندې او که مجرور شی نو عطف به شی په قائم باندې او خبر د زيد مبتداء او اسم دما به شی حالانکه خبر واقع کول دا ذاهب ممتنع دې ځکه چه په معطوف عليه کښ خو ضمير شته دے چه زيد ته راجع دےخو په معطوف کښ خو ضمير نشته بلکه فاعل ورله اسم ظاهر دے نودابه مرفوع وی.

سوال: دا رفع په کوم اعتباره ده؟

جواب: "على ان يكون" دا خبر مقدم دے دپاره د مبتداء موخر چه عمرو ده او دابه د قبيلی د عطف د جملی نه شی په جمله باندې او څه قباحة پکښ نشته دے ځکه دواړه جملی اسميی دې او عطف د اسميه په اسميه باندې د عطف د محسناتو نه دے نه د قباحتو نه ولما كان لقائل غرض د شارح يو تمهيد دے روستو متن ته او دويم دهغې ارتباط ذکر کوی دما قبل سره او داهغه دفع د اعتراض ده چه کوم وتيلی وو په تفصيل کښ چه تفصيل څنګه کوی نو داپکښ دفع د سوال ده نو تقرير د سوال دادے چه تاسو دا خبره اوکړه چه معطوف په حکم د معطوف عليه کښ وی نو دا قاعده منقوضه شوه په دې قول د عربو چه الذی يطير

فيغضب زيد الذباب سره په دي شان چه يطير معطوف عليه كښې ضمير شته دے چه راجع دے موصول ته او په يغضب كښې ضمير نشته دے چه راجع شي موصول ته او داخو معطوف دے فاجاب عنه بقوله. لانها اى الفاء فى هذا التركيب دا اول جواب دے حاصل ئې دادے چه دا فاء په فيغضب كښې دپاره د عطف نه ده بلكه دا سببيه ده او زمونږ خبره خو عطف كښې ده نو دا بيا يوه جمله ده څكه چه شرط او جزاء دي او داخو يوه جمله وي او يوه جمله كښې يو عائد كافي دے او معنى داشوه چه الذى اذا يطير هغه شي چه الوزى كله فيغضب زيد او دهغې په سبب زيد غصه كيږي نو الذباب هغه ذباب دے شارح وائى اى فاء لها نسبة دا تعين كوي چه په السببية كښې دلياء دپاره. نسبة ده نو دا فاء منسوب ده سبب ته څكه چه معنى د دي سببية دے او هر شئ خپل معنى ته منسوب وي او يكون معناها دا جواب ثانى دے د اعتراض نه حاصل دادے چه دافاء عاطفه ده او معطوف په حكم د معطوف عليه كښې وي خو دي فاء كښې معنى د عطف خالص نده بلكه خلط د سببية ورسره راغلى دے او زمونږ مراد خالص عطف دے نو دا صورة چه عطف سره خلط د سببية وي داپه طريقه د استثناء شو د ماقبل قاعدى نه سوال نو بيا هم دا جمله چه ده چه يغضب ده او دا صله شوه دپاره د موصول په طريقه د عطف سره نو د موصول دپاره پكښې عائد ضروري دے او دلته خو نشته

جواب: "لكنها تجعل الجملتين" حاصل دادے چه داپه منزله ديوى جملى گرځيدلے نو يو عائد كافي دے او معنى شوه چه الذى اذا يطير هغه شئ چه كله الوزى فيغضب زيد او زيد پرى هم غصه كيږي نو الذباب دا زباب دے او يفهم منها غرض د شارح جواب ثالث دے حاصل دادے چه فاء دپاره د خالص عطف ده ليكن د تركيب نه دا فهم كيږي چه اول جمله دپاره د جمله ثانيه سبب دے نو فرق هم معلوم شو په درميان د دويم جواب او دريم كښې چه دويم جواب كښې خالص عطف دپاره د افاء نده او دريم جواب كښې خالص عطف دپاره ده نو معنى داشوه چه الذى يطير فيغضب زيد بسببه الذباب و يمكن ان يقدر دا څلورم جواب دے حاصل دادے چه فاء دپاره د عطف ده او معطوف كښې ضمير مقدر دے راجع دے موصول ته نو معنى داشوه.

﴿الذى يطير فيغضب زيد يطير انه الذباب و اذا عطف على عاملتين﴾ دا څلورم حكم بيانوي دي كښې اختلاف دے نو څكه ئې موخر كړو بيا حاصل دادے چه په يو حرف عطف سره د دوه ؤ عاملانو په معمولينو باندي د دوه ؤ اسمينو عطف كول جائز دي او كنه

نو دری مذاهب دي يكښ . (۱) فراء وائي يجوز مطلقا (۲) سيبويه وائي لا يجوز مطلقا (۳) جمهور وائي چه جائز دے په هغه مواضعو كښ چه سماع پكښ وي من العرب او چه سماع پكښ نه وي نو لا يجوز بيا سماع په هغه ځائے كښ ده چه مجرور پكښ مقدم وي.

سوال: ماتن اوئ اذا عطف نو اذا عطف صيغه د فعل ماضي مجهول ده نائب فاعل ورله د دي هغه مصدر دے نو په دي اعتبار سره خو معنى مهمله ده.

جواب: اي اذا وقع حاصل دادے چه كله اسناد د فعل خيل مصدر ته اوشي نو دافعل په معنى د وقوع او ايقاع سره وي نو معنى داده چه كله واقع كري شي عطف.

سوال: ماتن اوئ على عاملين نو كله چه د عطف صله كښ على راشي نو مدخول دهغې معطوف عليه وي نو معطوف عليه خو معمولين دي نه عاملين

جواب: اول دادے چه دا على صله د عطف نده بلكه دا صله د بناء ده او دا عاملين په حذف د مضاف دے چه وجود دے او داجار مجرور متعلق دے د بناء سره او دا بيا مفعول له دے نو معنى شوه چه كله واقع كري شي عطف د وجي د بناء كولو نه په وجود عاملينو باندي بان عطف اسمان د اباء تصوريه ده شكل او تصوير پيش كوئ و قال بعض شارحي ادا جواب ثاني دے حاصل دادے چه دلته د عطف اصطلاحي معنى نده مراد بلكه معنى لغوي مراده چه اماله ده او داباء په معنى د نحو دے نو معنى شوه چه اماله الاسمين نحو العاملين بان داباء تصوريه د شكل پيش كوئ و اكثر الشارحين على داجواب ثالث دے حاصل دادے چه د مصنف عبارت په حذف د مضاف دے اصل عبارت دادے اي معمولي عاملين نو هيڅ نشته دے و انما قال على غرض د شارح فوائد د قيوداتو بيانوي نو حاصل دادے چه عاملين قيد سره مصنف احتراز د عامل واحد نه كوئ چه عامل د معمولينو يو وي ځكه دا اتفاقا جائز دے لكه ضرب زيد عمرو و بكر خالدا دلته عامل واحد دے چه ضرب دے او په دوه ؤ معمولينو د دي چه زيد او عمرو دي عطف شوے دے د دوه ؤ اسمينو چه بكر او خالد دي دغه شان دا احتراز د اكثر د عاملينو د معمولينو نه هم شو چه هغه بالاتفاق ناجائز دے. مختلفين د دي معنى كوئ په اي غير متحدين سره دان لا يكون سره تصوير پيش كوئ و ذالك لدفع داد مختلفين قيد فائده ده چه ماتن دي سره دفع د وهم اوكړه هغه داچه ضرب ضرب زيد عمروا و بكرا خالدا به هم د دي باب نه وي نو دي ته ناجائز وئيل پكار دي حالانكه داخو جائز دے نوماتن اوئ نه داجائز دے ځكه عامل يو دے دويم ضرب تاكيد دے د اول دپاره

او موکد تاکید متحد وی و ذالك العطف دا اوس امثله بیانوی د نثر او نظم دواړو نه نو یو مثال دادے چه ما کل سواءا تمرة و بیضاء شحمة تطبیق دادے چه ماماشابه د لیس سره کل مضاف دے او داعامل دے په سوداء ك چه عل دجر ئی پکښ کړی دے او تمرة منصوب دے خبر دے دما دپاره هغه پکښ عامل دے نو عاملین خو مختلفین شول اوس یو اسم بیضاء دے چه دا عطف دے په معمول د کل عامل چه سوداء دے او دویم اسم شحمة دے چه دا عطف دے په معمول دما عامل چه تمرة دے دایوکس وفاة شوی وو نو هغه لره مال وو نو یو بل شخص دهغه مال او خوړو نو دهغه وارثان راغلل او د مړئ نه ئی اوینوډ او داګ ورته اوی چه ماکل الخ یعنی مال راکوه نو دا هغه ځائ استعمالیږی چه یو انسان وائی هغه به کیږی چه زما ځنګه ګمان دےنو ته ورته به دے دسره جواب ورکړے. او دویم مثال دا شعر دے

اکل امرء تحسبین امرأ ونار توقد باللیل نارا

تطبیق دادے چه یو عامل "کل" دے او معمول ئی "امرإ" مجرور دے او دویم عامل تحسبین دے چه معمول ئی امرأ منصوب دے نوپه دې یو معمول باندې عطف دنار مجرور دے او بل باندې دنار منصوب دے او دایوی ښځی دیو سړی فضیلة بیان کړی وو نو خاوند ورته دا اوئ چه ته په هر سړی باندې ګمان د سړی کوی مه کوه او په هر اورچه د شپې بلیږی نو د اور د سخاوت ګمان به پری کوی دامه کوه بعض ډاکوان وی ماتن خو لم یجز ونیلی دے او شارح وائی فهذا وان کان بحسب الظاهر جائز لاکنه لم یجز عند الجمهور بحسب الحقیقة نو دا دفع د سوال دہ چه اذا عطف شرط دے او لم یجز ورله جزاء ده نو ترتب د جزاء صحیح ندے په شرط باندې ځکه تناقض دے پکښ اذا عطف نه جواز معلومیږی او لم یجز عدم جواز دے.

جواب: تناقض نشته دے بلکه جهات مختلف دي یو چه جواز دے نو دا ظاهرا دے او بل چه عدم جواز دے نو دا حقیقة دے نوکه جهة واحدوو نو بیا به تناقض وو. لان الحرف الواحد غرض د شارح علت د عدم جواز بیانول دی. حاصل دادے چه دا حرف عطف قائم مقام د عامل راځی خو چه کله عامل یو وی او دلته خو دا دوه عاملین دي او مختلفین هم دي نو نشی قائمیدے خلافا للفراء دي ورته جائز وائی بحسب الحقیقة دا دفع د سوال ده چه جمهور ورته هم جائز وائ نو د خلافا څه مقصد دے.

جواب: جمهورو ته ته ظاهرا جائز وائي او فراء حقيقة نو فرق شته اوس د فراء په نزد باندې دا مطلقا جائز دے بغير د څه تاويل نه لکه چه سيبويه کوم تاويل کوی و دا فراء په سماع باندې هم اکتفاء نه کوی بل دهغه په نزد باندې دا حکم عام دے الا في نحو دا دويم مذهب دے د جمهورو

سوال: دا الا في نحو استثناء ده او حکم خو بعد د استثناء نه قام ګرځي نو پکار داده چه مصنف دا لم يجز بعد د استثناء نه وئيلې وی او بل داچه دې سره وهم هم پيدا کيږی هغه داچه دا استثناء د خلافا سره لګی نه دعدم جواز سره

جواب: و عدم جواز حاصل دادے چه دا مونږ ځکه موخر کړو چه دا استثناء د مجموعه نه ده توهم د خلافا او هم د لم يجز سره لګی نو بيا مقصد د دې دادے چه داخو د جمهو په نزد باندې ناروا دے او د فراء په نزد د جائز البته يو صورت داسې شته دے چه هلته اتفاق دے هغه داچه مجرور پکښ مقدم وی په مرفوع منصوب باندې لکه في الدار زيد و الحجرة عمرو. تطبيق اسان دے.

سوال: دا خو جزی مثال دے کلي خبره کوه.

جواب: کلی خبره هم داده چه مجرور پکښ په مرفوع او منصوب مقدم وی لمجيئه في کلامهم دا علت د جواز بيانوی حاصل دادے چه دا ځکه جائز دے چه داسې په کلام د عربو کښ ډير راغلي خو دا خلاف القياس دے نو د سماع سره خاص دے او ماخالف القياس خو د خپل مور د سره خاص وی خلافا لسيبويه دا د سيبويه مذهب بيانوی نو حاصل دادے چه د سيبويه په نزد باندې هم دا عطف بحسب الحقيقة ناجائز دے نو هغه دې کښ تاويل کوی نو په في الدار زيد و الحجرة عمرو کښ دا الحجرة نه مخکښ تقدير د في بيانوی او په اول مثال کښ چه ما کل الخ نو هلته وائي چه م کل سوداء تمرة و کل بيضاء شحمة او دغه شان د ابل مثال هم دے نو هغه وائی چه بيا دا مضاف او حرف جر حذف شو او مضاف په خپل حال مجرور پاتې شو.

سوال: داسې چرته بل مثال شته دے چه مضاف حذف شی او مضاف اليه مجرور پاتې شی.

جواب: نحو تریدون او شته دے دادے کنه چه تریدون عرض الحیوة الدنیا و الله یرید الاخرة په جر د الاخرة سره په یو قراة کښ نو اصل کښ عرض الاخرة دے خو بیا عرض حذف شو او دا الاخرة په حال د جر باندې باقی شو.

التاکید

﴿التاکید تابع یقررامرالمتبوع فی النسبة﴾ دې عنوان کښې یو څو خبرې اجمالی دادی (۱)ربط (۲)لغوی تحقیق(۳)اصطلاحی تعریف (۴)اقسام (۵)تفصیل داقسامو

(۱)ربط :ربط معنوی دادے چه کله فارغ شو مصنف علیه الرحمة دتفصیل دی دووتوابعنه جی یو نعت اوبل عطف بالحرف (عطف نسق)ووئو شروع ئې اوکړه په تفصیلددریم تابع کښې جی هغه تاکیددے فقال التاکید تابع یقررامرالمتبوع :دری سوالات راپیداشول (۱)نفی تفصیل ولی کوې ؟(۲)تفصیل کښې تاکید په دریم مقام کښې ولی ذکرشو؟اودعطف نه ئې روستو متصل ولی ذکرکړو؟(۳)تفصیل څنګه کوی؟جوابات بالترتیب دادی

(۱)نفس تفصیل څکه کوی چه تفصیل بعدالاجمال اوقع فی الذهن وی اوبل داچه داتفصیل ته محتاج وواوکوم شئ چی تفصیل ته محتاج وی خلق دهغی تفصیل کوی او ددې تفصیل تردې وخته نه ووشوی نو اوس ئې کوی

(۲)تفصیل کښې دا په دریم مقام کښې ذکرکړو څکه داپه نسبة سره ما قبل ته قلیل او مابعد ته کثیر و واودعطف ده ئې روستومتصل څکه ذکر کړو چه دتاکید یو قسم تاکیدلفظی دے دهغې دعطف سره مناسبةدے په دېکښې چه دغه تاکید لفظی کله په حرف سره هم راځی

لکه قران کښې الله فدمائی کلاّ سوف تعملون ثمّ کلاّسوف تعلمون نو دا سوف تعلمون ثانی دپاره د سوف تعلمون اوّل تاکید دے او درمیان کښې ثمّ حرف عطف راغلے دے

(۳)تفصیل داسی کوی چه یو به تعیین اوکړی دقسم ثالث دتوابع په التاکید سره دویم دهغی تعریف به اوکړی په تابع یقررامرالمتبوعسره دریم اجمالا دهغی قسمین به ذکرکړی په مفظی ومعنوی سره څلورم به تفصیل دقسم اول اوکړی دفالفظی تکریراللفظ سره پنځم به تفصیل دقسم ثانی اوکړی د والمعنوی بالفاظ محصرة سره

ربط لفظی (ترکیب)التاکید مبتداء اوباقی ورله خبردے نو مبتداء خبر جمله اسمیه ده

(۲)لغوی تحقیق دې عنوان کښې دری امور پیژندل ضروری دی (۱) صیغه (۲) معنی لغوی

(۳) وجه تسمیه دمناسبة دمعنی لغوی دمعنی اصطلاحی سره توالتاکید صیغه د مصدرده دباب تفعیل نه او یامهموزالفاءدے ای اکدیؤکد تاکیدا اویا دامثال"واو" ی دے چه وکّد یوکّد توکیداً نو په دواړوباندې نی معنی یوه ده چه دامضبوط والی ته وائی نو مصطلح تاکید ته هم ځکه تاکید وائی چه پښې دمضبوط والی معنی شته

(۳)اصطلاحی تعریف :ماتن صاحب وائی تابع یقررامرالمتبوع فی النسبةاوفی الشمول شارح وائی ای حاله وشانه غرض دشارح پدې عبارت سره معنی دامرکول دی اودفع دسوال ده چه امر په لغة ښې فرموده کارے ته وائی اوپه اصطلاح کښې قول القائل لغیره علی سبیل الاستعلاءافعل نودې مقام کښې خودادواړه معانی صحیح ندی ستاکومه معنی مرادده ؟ جواب :دلته دامر معنی حال دے سوال حال خو هم مشترک دے په درمیان داوو۷/ معانی کښې دلته کومه معنی مرادده ؟ تواب ای شانه دلته شان معنی مرادده مکه حلق وائی کیف امرک ؟ یعنی ستاحال او شان څنگه دے؟سوال دحال اوشان خو بغیردتکرار او تاکید نه متکلم ته متقرر وی نو تاکید ته څه حاجة دے ؟ جاب : عید السامع داتقریر عند السامع دے. یعنی یجعل حاله ثابتا مقرراعنده غرض دشارح دفع دسوال ده چه یقرردتقریر نه دے او تقریر خواظهاردافی الضمیر ته وائی او دلته خو دامعنی مناسب نده ځکه چه اظهاردمافی الضمیر دمتکلم سره تعلق ساتی او تاکید خوصفة دلفظ دے بل داچه اظهاردمافی الضمیر دذوی الارواح اوذویالعقول صفة دے اوتاکیدخوددی دقبیلی نه ندے جواب دلته دتقریر دغه معنی نده بلکه دلته معنی لغوی مرادده چه معنی دثبوت اوجعل دثبوت سره ده نوګرخوی حال دسامع ثابت ډ ویانفس ثبوت اویاجعل د شئ ثابتاپه معنی سره دے.فی النسبةای فی مونه منسوباًاومنسوب الیه غرٔ دشارح پدې عبارت سره دفع دسوال مول دی چه ته وائی یقررامرالمتبوع فی النسبة نوکوم شئ چه نسبة کښې دیوشیئ تقریرکوی نو دهغی تعلق دمنسوب (مسند)سره وی لکه زیدٌ قائم زید مسندالیه دےاو قائم مسند نو ددې قیام نسبة په زیدته مرادوی ده نسبةدزید قیام ته ځکه زید اعلی دے اوقائم ادنی اونسبةدادنی اعلی ته کیری نه عکس نو بناءپدی باندی هغه تاکید چه په مسند کښې راځی هغی ته تعریف شامل شو لکه ضرب زید قائم قائم لیکن هغه تاکید چه کوم په منسوب الیه (مسند الیه)کښې راځی هغی ته تعریف نه شاملیږی لکه زید زید قائم جواب شارح اوی چه دنسبة دغه معنی نده مراد کوم چه په اعتراض کښې ذکرده بلکه دنسبة نه معنی عام مرادده ای فی کونه منسوتًاومنسوبًاالیه نو داتعریف دواړوته شامل دے اوثابت به شی سامع ته چه منسوب یا منسوب الیه په دی نسبة کښې هم دغه متبوع ده وذالک اماالدفع ضررالغفلة

غرضدشارح پدی عبارت سره دتاکیدفوائدذکرکولدی نودتاکیددپاره خلور/۴ فوائددی فائده أولی شارح وائی امالدفع حاصل دادے چه داتاکید دپاره ددفعکولو دضررد غفلت دسامع راخی چه هغه غافلوی نودغفلت ضرر په دی سره دفع شی فائده ثانیه شارح وائی اولدفع ظنه حاصلدادے چه په تاکیدسره به هغه گمان دسامع په متکلم باندی دغلطئ په نسبة کښي هم دفع شی اودادفع په تکرار دلفظ سره وی لکه ضرب زید زید اویاضرب ضرب زید نو په عبارت دشارح چه وذالک لدفع دے دې کښي اشاره ده دی خبری ته چه دادوه/۲ فوائد دتاکید لفظی سره خاص داپه تاکید معنوی کښي نه راځی بیاشارح دوه/۲ مثاله ذکر کړی دی یو مثال دپاره دتاکید دمنسوب الیه اودویم دمنسوب اوپه دواړو کښي دا دواړه فوائد چلیدلے شی فائده ثالثه شارح وائی اولدفع ظن حاصل دادے چه داتاکید دسامع هغه گمان په متکلم باندی به نسبة کښي دفع کوی چه متکلم به په کلام کښي معنی حقیقی پریښودلے وی اومجازبه ئی مراد وی برابره ده که داگمان په منسوب کښي وی لکه زید قتیل قتیل دلته دا قتیل ثانی تاکید داول دے دپاره ددفع دگمان دسامع چه مراد به متکلم ۔قتیل نه ضرب شدید وی نو داگمان دفع شو چه قتیل مراددے نه ضرب شدید اویاداگمان په منسوب الیه کښي وی څکه چه بعض وقت کښي یو شئ ته دفعل نسبة اوشی اومرادنسبة بعض متعلقاتو دشئ ته وی لکه قطع الامیراللص دلته دقطع نسبة امیر ته شوی دے حالانکه مرادغلام دامیردے څکه امیرنو حکم کوی اوقطع خوجلادکوی نو دی مقام دپاره ددی گمان چه دلته به هم دانسبة ددي قبیلی نه وی ددي ددفع کولو دپاره تاکید راځی بیداتکرار عام دے که لفظا وی لکه ضرب زید زید او یا معنی لکه ضرب زید نفسه او یا عینه بیادادریمه فائده چه دفع دوهم دسامع ده به متکلم دمجاز نو په منسوب کښي هم دادتاکید لفظی سره خاص ده اوپه منسوب الیه کښي په تاکید معنوی اولفظی دواړو کښي راتلی شی .سوال په اوّله اودویمه فائده اوپه دریمه فائده کښي په منسوب ولی دتاکید لفظی سره خاص دی اوپه منسوب الیه کښي دواړوکښي راتلی شی جاب که اوله او دیمه اودیدریمه کښي په منسوب کښي مونږتاکید معنوی اوکړونو دادفع دوهم اودغه گمان دسامع نه کوی.

فائده رابعه مائن وائی او فی الشمول شارح وائی چه داعطف دے به فی النسبة نو مقصد دادے چه تاکید هغه تابع دے چه حال دمتبوع ثابت کړی نسبة کښي یا شمول کښي بیا دشمول مقصد دادے چه که متبوع خپلو تولوافرادو ته په حکم کښي شامل کړی

دفعالتوهم دا هغه خلورمه فائده ده حاصل دادے چه په بعض وخت كښې دفعل نسبة دمنسوب اليه تولوافرادوته شوې وي ليكن مراديعض افرادوته وي نو داهم مجازوې نو سامع داګمان په متكلم كړې وي نو په تاكيد سره داګمان دسامع دفع شي لكه جآءني القوم كلهم كلهم تاكيد سره داوهم دفع شو دغه جآءني الجلان كلاهما سامع داګمان كوي چه مراد دمتكلم په رجل وي نو كلاهما سره دا وهم دفع شو واذاعرفت هذافنقول غرض دشارح پدې عبارت سره فوائد دقيوداتو د تعريف دتاكيد بيانوي او تعريف جامع مانع ګرځوي خكه هر تعريف كښې لابدي ده دجامعية اومانعية نه نو حاصل دادے چه تابع په منزله دجنس دے تولوتوابع ته شامل دے اويقرر امرالمتبوع په منزله دفصل دے په دې سره بدل او عطف بالحرف خارج شول خكه دادواړه دمتبوع تقرير نه كوي او تاكيد خووضع دے دپاره دتقريردمتبوع نو په بدل خومتبوع مقصودنه وي بلكه تمهيد وي تابع ته او عطف بالحرف كښېدواړه مقصود وي خنفرير پكښې نه وي او صفة هم پدې سره خارج شو خكه وضع دے دپاره ددې چه دلالت اوكړي په هغه معنى چه متبوع كښې ده نو دپاره دتقرير دمتبوع ندے

"وافادتهاتوضيح" غرض دشارح دفع دسوال ده چه صفة خودپاره دتوضيح دمتبوع هم راځي لكه جآءني زيد العقل دلته داوهم وو چه نسبة د مجيئة په زيد غيرعاقل ته وي نو العقل سره داوهم دفع شو او وضاحة او شو چه دانسبة عاقل ته دے نو داهم يقررامرالمتبوع شو.نو داخنګه خارج شو ؟جواب:زمونږ مراد ديقررامرالمتبوع نه وضعادے او داخو صرف پدې ماده كښې دے نو داترينه خارج دے داخل نه دے

"او في الشمول" په منزله دفصل ثاني دے پدې سره عطف بيان خارج شو خكه عطف بيان دمتبوع وضاحة كوي خكه ددېعطف بيان نه مخكښې نسبة غيرته هم كيدلےشوخو چه كله عطف بيان راغلو نو هغه غير خارج شو اوتاكيداوشوخودابه شمول كښې نه كوي بلكه په ذات كښې كوي نو خكه داهم دتعريف دتاكيد نه خارج شو

تقسيم دتاكيداجمالا: ماتن وائي هو لفظي نودوه اقسام دى دپاره دتاكيديولفظي دويم معنوي شارح هوضميرمرجع متعين كوي اوتعيين كوي د"ياء"په لفظ كښې چه داد پاره دنسبة ده ولې "ياء"نسبة ګڼوى ملحوق خپل مضاف اليه داالمنسوب په واسطه دالي سره خكه شارح منسوب الى اللفظ اوى

سوال:دمعنوی نسبة خوهم لفظ ته کیږی نو دی ته هم لفظی ونیل پکاردی؟

جواب :لحصوله بتکریراللفظ حاصل دادے چه ددی لفظی دلفظ سره خاص مناسبة دے اوهغه په معنوی کښې نیشته اوهغه حصول ددې تاکیددے په تکرارد لفظ سره ومعنوی ای منسوف الی المعنی غرض دشارح تعیین د"یاء"دمعنوی دکوی.

سوال :لفظی کښې نو هم نسبةالی المعنی وی ځکه لفظ بغیرد معنی نه مهمل وی نو لفظی ته هم معنوی ونیل پکاردی ؟

جواب لحصوله الخ حاصل دادے چه دمعنوی ددې معنی سره خاص مناسبة دے چه هغه مناسبة دلفظی نیشته دے چه هغه حصول ددی دے دملاحظه دمعنی ددی نه.

فاللفظی هرکله چه فارغ شو مصنف داجمال نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل کښې نو قال فاللفظی نو دری/۳سوالات داپیداشول (۱)نفس تفصیل ولی کوی؟(۲)تفصیل دی مقام کښې ولی کوی ؟(۳)تفصیل څنګه کوی ؟

جوابات بالترتیب دادی (۱)نفس تفصیل دوجی دمامر نه مراراکوی(۲)تفصیل کښې لفظی ځکه مقدم کوی چه اجال کښې مقدم وونو تفصیل کښې مقدم کرودې دپاره چه تفصیل داجمال سره موافق شی اما داخبره چه اجمال کښې ولی مقدم شو؟نو داځکه چه لفظی په منزله دمفرددے او معنوی په منزله دمرکب دے او عین مفرد مقدم وی په عین مرکب باندی طبعانو چه په منزله دمفردوی داهم مقدم وی په هغه چه په منزله دمرکب وی طبعانو موثره وضعاهم مقدم کړوچه وضع دطبع سره موافق شی (۳)او تفصیل داسی کوی چه یو به تعریفدتاکیدلفظی اوکړی دتکریراللفظ الاولسره دونم به ورله مثال بیان کړی د جآءنی زیدزید سره او دریم به ورله حکم بیان کړی ویجری فی الالفاظ کلها سره بیاماتن فاللفظی اوی شارح منه اوی غرض دشارح پدی سره دفع دسوال ده چه خبره دتاکید شروع ده اوته خو لفظی ته لاړی ؟

جواب خروج عن البحث نیشته دے ځکه داهم دتاکید قسم دے او دشیئ د قسم نه بحث کول دهغی شیئ نه بحث دے ؟ تکریراللفظ الاول سوال (۱)فاللفظی معرف دے او تکریراللفظ الاول خو تعریف دے او تعریف محمول وی په معرب باندی او لته حمل صحیح ندے ځکه فاللفظی حواسم منسوب دے ذات مع الوصف دے او تکریراللفظ فقط وصف

دےاو حمل دصرف وصف په ذات مع الوصف ناروادے (۲) مثال دممثل سره مطابق ندےځکه ممثل کښي تکرير ذکر دے او مثال کښي داهم زيد زيد مکرر دے

جواب:داسوال به هله وي چه دتکرير مصدرمبنى للفاعل وي حالانکه دخو مبنى للمفعول دے.ومعاده حقيقة دادفع دسوال ده چه زه به درته اوښايم چه تاسو به ورته تاکيد لفظي وائى حالانکه تکراردلفظ اول به پکښي نه لکه ضربت انت اوضربت انا دلته اول ت دے اوانت تاکيد لفظي دے حالانکه عغه اول لفظ خوندے دغه شان اناهم دے

جواب:حقيقةاو حکمادا تکراردلفظ اول عام دے که حقيقةوي لکه جآء زيد زيد او که حکما وي لکه ضربت انت او ضربت انا سوال دداولى په حکم دتاکيد لفظي کښي گرځوي ؟

جواب:اذ ضرورةالداعى حاصل دادے چه ضرورت دے هغه داچه دات ضربت کښي ضمير متصل دےاو دابغيردمايتصل نه نشى راتلے نو ددى وجى داموښږه په ضمير منفصل سره بدل کړو چه انت دے ويجرى فى الالفاظ کلها داحکم دتاکيد لفظي بيانوى نو حاصل دادے چه داتاکيد په هر څه کښي راځى که اسمآءدى او افعال اوحروف وغيره سوال ديجرى ضميرچاتهداجع دے مطلق تاکيد ته او کنه تاکيد اصطلاحى ته په هر يو اعتراض دے په دې شان که مطلق تاکيد ته راجع شى نو بيا خو خروج عن البحث راځى چه داشنيع دے اوکه تاکيد اصطلاحى ته راجع شى نو خروج دبحث نه خو نه داځى خو داروستو تعميم ورسره موفقة نه خورى چه فى الالفاظ کلها دے ځکه تاکيد اصطلاحى کښي داتعميم نه جارى کيږى؟

جواب(۱):دامطلق تاکيد ته راجع دے او خروج عن البحث نيشته دے ځکه دمطلق تاکيد په ضمن کښي تاکيداصطلاحى پروت دے ځکه سمدست متبادرداذهن ته راځى نو داهر چاته شامل شو يعنى تعميم ورسره هم مناسبة خورى (۲) ولا يبعد سره بل جواب وے حاصل دادے چه داراجع دے تاکيد اصطلاحى ته اومرادد فيالالفاظ کلها نه الفاظ داسمآءدى نو ذکر دعام مرادخاص.سوال:هر کله چه مراد دالفاظ کلها نه خاص مراد وي نو بيا خاص الفاظ ذکر کړه کنه ددى عام ذکرکولو څه فائده؟جواب ويکون المقصود يعنى دادفع دوهم دپاره چه خاص الاظ ذکروونو چابه مهم کړےوو چه تاکيد لفظي به هم دتاکيد معنوى پشان وي په الفاظ محصوره کښي به راځى نوداوهم دفع شو چه نه داعام دے او عام معنوى نشى کيدلے.والتاکيد المعنوى هرکله چه فارغ شو د تفصيل دتاکيد لفظي نه نو شروع ظى اوکړه په

تفصیل دتاکید معنوی کښې فقال والتاکید المعنوی بیاهغه دری/۳ موالات داغلل (۱)نفس تفصیل ولی کوی؟(۲)تفصیل دی مقام کښې ولی کوی ؟(۳)تفصیل څنګه کوی ؟

جوابات بالترتیب:(۱)نفس تفصیل دوچی دمامرنه کوی غیرمره (۲)تفصیل دی مقام کښې څکه کوی چه اجمال کښې دی مقام کښې وو نو دپاره دموافقة د اجمال سره داسی کوی (۳)اهم سوال نه جواب دادے چه تفصیل داسی کوی چه یو به دتاکید معنوی تعریف اوکړی دبالفاظ محصورة سره دویم ددی تعریف تو ضیح به اوکړی وهی نفسه وعینه سره دریم ددی تو ضیح تفصیل به اوکړی دفالاولان سره څلورم دتاکید معنوی دپاره خاص الفاظ دی نو دهغی دبعضو خاص احکام به ذکرکړی دولایوکد بکل واجمع الاذواجزآء.......واذااکدالضمیرالمرفوع المتصل....واقطع وابتع سره فقال والمعنوی شارح ورسره التاکید اوی اشاره کوی چه داالمعنوی صفة دے موصوف غوادی چه هغه التاکید دے بیاماتن بالفاظ محصورخ وئیلی وو شارح ورسره مختص راوباسو داتعیین دمتعلق کوی دپاره دجارمجرور او قرینه پری شته دے څکه دامتعلق دالفاظ خاصه نه دے او قرینه هم داخبره ده چه دامعنوی تاکید دالفاظ محصورة سره خاص دے ای معدودة محودة داتفسیر دلفظ غیر مشهورده په مشهورسره اواشاره کوی چه دامحصورة مستلزم دے عدداومعددودیة مره وهی نفسه وعینه داهغه توضیح ده دالته ۸/ الفاظمذکوردی خودا نهه/۹ دی (۱)نفسه (۲)عینه

(۳)کلا(۴)کلتا(۵)کل(۶)اجمع(۷)اکتع(۸)ابتع(۹)ابصع بالصارالمهمله داپه ابصع کښې دوه لغات دی یو په صاد سره او دویم په ضاد سره ابضع اوس طبعاداسوال راځی چه داخو تاڅه دپیرانو زبان ذکر کړو آیا ددی څه معنی شته دے او که ؟نو قیل سره دی جواب کوی چه دیکښې اختلاف دے بعض وائی چه دی لره په حین دانفراد کښې څه معنی نیشته دے او په حین داجتماع کښې ورله معنی شته دے چه تاکید دے یعنی په حالة انفراد کښې پشان دتکیه کلام دی لکه کتاب متاب سبق مبق خوب موب ډوډی موډی کتاب شتاب تراویح شراویح وغیره و قیل وئیلی شوی دی چه دااکتع مشتق دے دحول کتیع نه ای تام دتام په معنی راځی دباب فتح نه او ابصع چه پ ه صاد شی نو په معنی د سال یعنی پهیدولوسره داځی او چه ضاد سره شی نو دسیراب کولو دوی په معنی راځی اوابتع من البتع وهو طول العنق اوږدوائی دځټ(ګردن)سره دسخت وائی دخاے دنالولو ددی نه چه داپه کوم خاے کښې نال شوی دے نو دغه خاے سخت وی اواوږدوی لکه داوښ ځټ شو یا دادشاول پشان هغه څیز چه دی غرونوکښې لګیاوی ګتی ماتوی اوتک تک کوی نو که په دی څوک ښپه کیږدی نو

څه پروانه وی او مجازادری لفظ اطلاق په نوروځنونو هم کیږی نو حقیقة دغه دی چه قوی وی

سوال:دلته ولی استعمالیږی؟جواب:ویمکن استنباط حاصل دادے چه مناسبة شته دے لکه اکتع په معنی دتام دے نو مناسبة دادے چه تاکید کښی افراد وشمول وی نو دا شمول تمام افرادوته وی اوداهم دتام په معنی دے او ابصع بمعنی سیلان دے او سیلان دډیرو وی چه شیئ ډیروی اوتاکید کښی هم شمول دډیرو افرادووی اوکه ابضع بالضادثی نو دتام معنی پکښي ده اوابتع کښي دضدة معنی ده چه داهم دتاکید معنی ده

"فالاولان یعمان" دی مقام نه دهغه تو ضیح تفصیل اووضاحة کوی بالفاظ دیگر دتاکید معنوی دهغه الفاظ محصوره احکام بیانوی فقال فالاولان شارح ددي تعیین کوی چه نفس اوعین دے یعمان ای یفعان حاصل دادے چه داالفاظ محصوره دتاکید په خپل کورکښي په دری/۳ قسمه دی (۱) دهغی اطلاق په ټولو باندي کیږی واحد،تثنیه وغیره(۲) چه دتثنیه سره خاص دی (۳)چه دمفرداوجمع سره خاص دی په تثنیه کښي نه راځی

سوال یعمان عموم خوعبارة دے دشمول دافرادونه نو داعموم خوپه مفس او عین کښي نیشته دے جواب یفعان دلته عموم په هغه معنی ندے بلکه واقع کیدلو په معنی سره دے سوال چه په هر واقع کیږی نو داخو التباس راځی چه دامفرد دے تثنیه ده څه دی ؟ جوال باختلاف صغیتهما حاصل دادے چه په اختلاف د صیغه سره په التباس دفع وی دمفردسره دمفردصیغه او تثنیه سره دتثنیه او جمع سره جمع و دضمیرهما په اختلاف دضمیر سره چه ضمیر به هم مختلف وی بیا شارح ورسره احتلاف اولګواشره کوی چه دایه صیغتهما عطف دے داختلاف لاندی دے او ما قبل دمعطوف علیه نه معاد وی په سر دمعطوف کښي بیا داضمیرته په اعتبار دموکدسره وی چه موکد مفرد نو ضمیر مفرد اوکه موکد تثنیه نو ضمیرهم تثنیه اوکه موکد جمع نو ضمیر هم جمع تئول سره وضاحة بالمثال دے نو دمفدرمثال په مذکر کښي نفسه دے او مویث کښي نفسهادے او تثنیه کښي او جمع کښي به انفسهما اوانفسام واتی سوال دلته په انفسهما په خاے نفساهما پکاروو څکه داتثنیه ده نو صیغه دتثنیه ورسره پکارده ؟

جواب:دلته مونږ داجمع کړه څکه چه اضافة د تثنیه دتثنیه ته لازم نښی څکه داعندالعرب مستکره دے دوجې داتصال ددی دواړونه هغه داچه یو مضاف دے دی بل ته نو

دااتصال دے لفظا او مضاف جزدے د مضاف الیه نه نو دااتصال دے معنی فقد صغت قلوبکما کښي داقلوب شونو داصیغه دوی جمع کوی او چودکه ناروانه دے نو وعن البعض العرب نقساهماهم شته دے

والثانی هر کله چه فارغ شومصنف په تشریح ددغه الفاظو کښي ددوو/۲ نه چه نفس او عین وو نو اوس ئی په دویم قسم ددي شروع اوکره چه کلاهماوکلتاهمادے

سوال :پکارده چه مصنف والثالث وئیلی وی څکه دادریمه مرتبه کښي دے نه دویمه کښي؟

جواب:لما یسمی النفس حاصل دادے چه هرکله مصنف دنفس او عین نه تعبیر په اولان سره کړے دے تغلیبا لکه قمرین عمرین نو داکلا پخپله په دویمه مرتبه کښي پاتی شو للمثنی دادذي حکم شو چه کلا دپاره دتاکید دتثنیه مذکراو کلتا دمونث دے لکه جآءنی الرجلان کلاهما اوجآءتنی المرآتان کلتاهماوسدریم قسم پاتی شو نو هغه داباقی ټول دی والباقی چاداوهم اوکروچه باقی به ددواړونه مرادوی نو شارح وائی نه ددی دریو/۳ نه باقی مراددی لغیرالمثنی داددی حکم دے شارح دغیر دمثنی تعیین کوی چه مفرداکان او جمعاً

سوال:داخوالتباس دے په مفرداوجمع کښي؟

جواب:باختلاف الضمیر یعنی په اختلاف دضمیر سره به داالتباس دفع کیری لکه قرأت کښي الکتاب کله او قرأت الصحیفة کلها او اشتریت العبید کلیه او طلقت النسآء کلهن والصیغ اوباقی مانده چه دکل نه علاوه دی نو دابه په اختلاف دصیغ وی اوس مصنف دهغی باقی مانده تعیین کوی چه اجمع ابتع اکتع البصع دی تقول سره وضاحة بالمثال دے چه احمع به په واحدمذکر کښي او جمعآء په واحد مونث او جمع کښي هم چه په تاویل دجماعة سره وی څکه مطابقة ئی شته دے او اجمعون به په جمع مذکرکښي او جمع به په جمع مونث کښي وائی بیا ماتن مثال ددي یو ذکرکړی وو څکه دااصل وو شارح ورسره د کذالک سره ددی توابع هم بیانوی ولایوکدبکل واجمع غرض دمصنف پدي عبادت سره دبعضو الفاظو خصوصی احکام بیانوی په هغی کښي یو کل او بل احمع دے نو دی دپاره داحکم بیانوی چه په دی

سره یه تاکید دهغه موکد کښی ئي چه هغه ذواجزاءوییاداعام دے که مفردوی اوکه کمع وی

سوال:داولی خاص شول په دی حکم سره ؟

جواب:اذاالکلیة والاجتماع یعنی دکلیة تول وایی او اجتماع راغونډول داپه هغه کښی وی چه ذواجزاء وی چه ذواجزاء نه وی نو پکښی به تول والی اوراغونډوالی دچرته نه راشی ولاحاجة عرض دشارح دفع دسوال ده چه څنګه په کل او احمع سره تاکید دهغه موکد کیږی چه ذواجزاء وی نو دهغه موکد تاکید هم پدی سره کیږی چه هغه ذوافراد وی لکه جاءنی القوم کلهم کښی داقوم شو چه ذوافراد دے نو مصنف لره پکاروو چه ذوافراد ئی هم وئیلی وو حالانکه دظاهر نه دمعلومیږی چه دذوافرادتاکید پره نه کیږی ددی اعتراض مذکور نه یو جواب فاضل هندی صیب کړے دے حاصل ئی داده چه دی مقام کښی د ذواجزاء نه هغه ذواجزاءندےچه مقابل دذوافرادذدے څکه جزءمفهوی چه دهغه شیئ تالیف ترینه کیږی د هغه شیئ حمل پری نه کیږی لکه زه یو شیئ دے کل دے اوس دده دبدن اجزاءدی لاس،ښپه،پوزه او غوږ وغیره دزید دبدن تالیف ترینه شوی دے خددی کل حمل په دی باندی نه کیږی چه الید زید ،الرجل زید وغیره داناروادے داذواجزاء دے او ذوافراد هغه دے چه دهغی نه تالیف د یو شزئ نه کیږی او حمل دیو شیئ پدی کیدلے شی لکه انسان شو ذوافراددے لاندی زید ،عمرو ،بکر دی اوس انسان ددی نه جوړندے بلکه دحیوان او ناطق نه جوړدے البته دانسان حمل پری صحیح دے زید انسان وغیره نو دلته دامعنی نده مراد بلکه دلته مراد ذوامود دے نو دواړوباندی ددی اطلاق کیدلی شی.انتهی جوابه داجواب شارح ته خوښ نه وو څکه پکښی انتقال راځی دحقیقة نه مجاز ته بغیر دتعذر نه هغه دا چه دا پخپله معنی شی نو هم اعتراض پری دفع کیږی نو ولی کجازته څو چه ذواموراخلو بیاهغه اعتراض داسی دفع کیږی چه افرادپه کلی کښی داخی چه نو تر څو پوری چه ددی کلی افرادغونداواجزاءمتصور نه شی نو ددی تاکید په کل اواجمع سره نه کیږی لکه تاءنی القوم کلهم کښی داقوم ذوافراددے خوداموئرذواجزاءمتصورکړواوبیاموورله تاکیدپه کل سره

اوکړو شارح هم وائی مالم تلاحظ مجتمعة

سوال :نو جاءنی کښي دازید ذواجزاءدے ولی لاس ،ښپهوغیره ئی اجزاء دی او تاسو دائی چه

دلته ددی تاکید په کل سره ناروادے

جواب یصح افتراقه حاصل دادے چه هر ذواجزاء نه دے مراد بلکه هغه چه دهغی افتراق

واثلی شی اودلته دطید اقتراق په مجینم کښي نشی راتلی چه دزید لاس دی داغلی وی او

باقی نه

سوال :نو اشتریت العبد کله کښي نو عبد دزید پشان دے او تاکید ئی په کل شوی دے او

تاسوورته جائز هم وائی

جواب :حساً او حکماًدافتراق عام دے که حساً وی لکه افتراق دقوم اوکه حکما وی لکه اجزاء

دعبد په اعتبارقیمة او دشراء سره چه قیمة دعبد فرضا لس/۱۰ لاکه روپۍ دے نو بعض

پکښي ددوو لاکهوواخلی څوک دڅو وغیره .باقی ترجمه اوس حاصل داشو چه په کل سره

دذواجزاءتاکید کیری نو چه اقتراق ئی صحیح وی بیا داافتراق عام دے که حساً وی کما هو

الظاهر او که حکما وی یعنی په اعتبار دفعل سره چه دی ته ئی نسبة شوی دے.

واذاکدالضمیر دایو بل حکم بیانوی دپاره دنفس اوعین حاصل دادے چه هرکله داتاکیدواقع

شی دمرفوعمتصل ضمیر چه مستتر وی ایا بارزنو اول به ددی په منفصل سره تاکید راوستلی

شی چه التباس دانشی شارح وائی اذارید دادفع دسوال ده چه اذااکد شرط دے او اکد

منفصل ورله اجزاءده او جزاءمرتب وی په شرط یعنی دشرط نه روستووی حالانکه دلته عکس

خبره ده څکه اول تاکید دے او بیا ورپسی روستو فعل دے منفصل سره جواب اذاارید

حاصل دادے چه دلته اصل کښي شرط مقدردے چه اذارید دے او په دي باندی جزاءمرتب

ده

سوال نو ماتن نو اذااکد مطلق ذکرکړے دے نه ترینه څنګه اذاارید اخلی

جواب دافعل اختیاری دعبد دے اوهر فعل اختیاری دعبد مسبوق بالارادة وی .مثال لکه ضربت انت نفسک شارح فنفسک سره تطبیق دمثال کوی دممثل سره

سوال: داتاکید په منفصل ولی ضروری دے؟

جواب:ولوځ یوکړ ضاصل داده ځکه تاکید اوله شی نو التباس راځی هغه داچه کله فاعل واقع شی لکه زید اکرمنی نفسه شو اوس که موږه زید اکرمنی هونفسه اوایونوالتباس نیشته اوکه زیه اکرمنی نفسه اوایونو التباس راځی چه دانفسه فاعل داکرمنی دے او کنه داتاکید دے فاعل ضمیر مستتر دے نو چه مونږ لقو اوی نو داالتباس دفع شو ولما وقع دادفع دسوال ده چه کله ضمیر مستتر وی نو داالتباس راځی اوچه کله ضمیر بارز وی نو بیا نو التباس نه راځی حالانکه هلته هم تاسوداحکم بیانوی؟

اوپه دی کښی خوالتباس نه راځی کلامک بردکویس لکن مونږ داهم په دی حمل کوو چه حکم دباب مختلف نشی ځکه قواعد دفن کلی دی نو چه داحکم هم کلی شی وانماقید غرض دشارح فوائد دقیوداتو بیانوی نو یو قید دمرفوع دے په دی سره منصوب او مجرور متصل خارج شول لکه ضربتک نفسک او مررت بک نفسک ځکه دلته التباس نه راځی دفاعل سره ځکه داکالجزءمن الفعل نه دی او بل داچه دامنصوب او مجرورنه مستتر کیږی په خلاف دمرفوع چه هغه مستترګرځی بیادویم قید دمتصل دے دی سره منفصل خارج شو لکه انت نفسک قائم ځکه دلته هم التباس نیشته دے نو په ځان بوج نه راولو چه غورددې بل اړخ نه رانیو

سوال:داحکم دنفس او عین سره ولی خاص شو؟اودی نورسره نه

جواب:داځکه چه دانفس او عین دفعل نه روستو دیرواقع کیږی اوداتو ردیرنه واقع کیږی نو التباس دیکښی راځی نو دپاره ددفع دالتباس داحکم شو.

سوال :داولی چه دفعل نه بعد ډیرداراځی او التباس پکښی راځی؟

جواب:داځکه چه دامستقل دی دفاعل کارکوی او دانور چه کل اجمع دی داخه توابع شانته

دی نو دانهراخی مکردیرکم نو التباس هم نیشته ترجمه اسانه ده ؟اوس باقی اکتع ،ابتع او ابصع پاتی دی نو اوس ددی حکم بیانوی دااتباع دی داجمع دپاره شارح تعریف لفظی داتباع کوی نو وی دابفتح الهمزه دے جمع دتابع ده او دا مشهوردےاو چاوئیلی دی چه دامصدردباب افعال دے نو داغیر مشهوردے ځکه چه که دامصدردباب افعال شی نو دابه په تاویل دمتبوعات سره مصدرمبنی للمفعول وی اوکه اتباع بفتح الهمزه شی نو دابه بغیر دتاویلنه شی او اتیان په عبارة بغیر تاویلها بهتر اواشهر وی داتیان دعبارة مع تاویلهانه فلایتقدم دااوس تفریعاً ددی دپاره دوه/۲ احکام بیانوی یو حکم دادے چه ددی تقدیم په ا جمع نروادے ځکه داتوابع دی او هغه متبوع او متبوع مقدم وی او توابع موخَر دویم حکم دادے چه دابه علاوه داجمع نه نه راځی ځکه دابغیر دهغی نه دلالت نه کوی نو دهغی سره به راځی ځکه دادهغی پسی انختلی دی او لازم دی ورسره .

البدل

البدل تابع احمالی خبری ددی مقام (۱)ربط(۲)تحقیق لغوی دبدل(۳)اصطلاحی تعریف(۴)اقسام(۵)تفصیل

(۱)ربط:معنوی ربط دادے چه کله فارغ شو مصنف دتفصیل ددریو/۳ توابعونه نو شروع ئې اوکړه په تفصیل دڅلوم قسم کښې چه بدل دے فقال البدل تابع دری/۳ سوالات داپیداشول (۱)نفس تفصیل ولې کوی؟(۲)تفصیل دی مقام کښې ولې کوی؟ (۳) تفصیل څنګه کوی ؟

جوابات بالترتیب:(۱)نفس تفصیل دوجې دمامُر نه کوی (۲)تفصیل دی مقام کښې څکه کوی چه په نسبةسره ماقبل ته قلیل اوپه نسبة سره مابعد ته کثیر دے البته په تاکید پسی متصل څکه راوړوچه ددی دتاکید سره تقابل تضاد دے پدی شان سره چه تاکید کښې متبوع مقصودوی نه تابع او دلته بدل کښې تابع مقصودنه متبوع (۳)تفصیل داسی کوی چه یو به تعیین اوکړی دڅلورم قسم تابع په لفظ دالبدل سره دویم دهغی تعریف به اوکړی دتابع مقصود بمانسب الی المتبوع دونه سره. دریم :دی کښې بیادری/۳ تقسیمات بیانوی اول تقسیم دوهوبدل الکل والبعض والاشتمال والغلط سره دویم تقسیم ص۲۰۸ کښې دویکونان معرفتین ونکرتین ومختلفین سره دریم تقسیم ص۲۰۹ کښې دویکونان ظاهرین ومضمرین و مختلفین سره څلورم دتقسیم اول داقسامو تعریف به اوکړی فلاول مدلوله مدلول الاول والثانی جزءه والثالث نینه وبین الاول سره پینځم روستو دبعض اقسامو امثله بیانوی لکه بالناصیة ناصیة کاذبة ص۲۰۹ اوروستونحووضربته زیداسرهړ

ربط لفظی:البدل مبتداء او تابع الخ ورله خبر دے جمله خبریه اسمیه ده

(۲)دالبدل معنوی تحقیق:دی عنوان کښې دری/۳ خبری پېژندل ضروری دی (۱)صیغه (۲)معنی مغوی(۳) وجه تسمیه یعنی مناسبة په درمیان دمعنی لغوی او اصطلاحی کښې نو

بدل صیغه دمصدر ده دباب نصر نه لغة کښې داعبارة دے د الخلف عن شیئ نه او مصطلح بدل ته هم ځکه بدل وائی چه مبدل منه په مکان په مسبة کښې دابدل خلیفه شوی دے ځکه مقصودبدل دے

(۳)تعریف اصطلاحی دبدل :دامصنف کړے دے وی تابع مقصود بمانسب الی المتبوع دونه یعنی دهغه تابع دے چه مقصود او مطلوب دے په هغه نسبة سره چه متبوع ته شوی دے او متبوع به مقصود بالنسبة نه وی ای تقصد النسبة الیه وائی چه غرض دشارح پدی عبارة سره دفع دسوال ده هغه داچه مقصود ضمیر دے تابع ته راجع دے او تابع کښې ضمیر راجع دے بدل ته نو مقصود کښې هم بدل ته ضمیر راجع شو نو قصد به دبدل کولی شی حالانکه قصد دمتکلم چه متعلق کیږی نو دهغه اش"یاء"وسره متعلق کیږی چه هغه مقدور دمتکلم وی .اوبدل خو دیو نوع نوم دے ذات وے او ذات خو مقدور دمتکلم نه وی بلکه مقدور دمتکلم اعراض او معانی دی چه افعال ورته وئیلی شی نو دلته تا غیر مقدورشیئ مقصود کړو؟

جواب:شارح وائی چه مقصود مبنی ضمیربدل ته نه دے راجع بلکه دی دپاره نائب فاعل محذوف دے اودامقصود دتابع دپاره صفة بحاله ندے بلکه صفة بحال متعلقه دے نو داسم مفعول نه ئی تعبیر په فعل مجهول سره اوکړو اونائب فاعل ئی ورله ښکاره کړو نو وی ای تقصد النسبة الیه مقصود دے دانسبة دی تابع ته په نسبة دهغه څیز نُسب چه دهغی نسبة شوی دے متبوع ته مثلاً درابلونسبة متبوع ته شوی دے نو دانسبة به مقصوداًتابع ته وی نه متبوع ته قصد به ئی دتابع وی دونه ای دون المتبوع غرض دشارح تعیین دمرجع کول دی الی تکون النسبة غرض دشارح خیو حاصل دمعنی بیانوی دویم دفع دسوال ده خو داسوال شارح روستوصراحةً بیانوی د ولایصدق الحدّ المعطوف سره نوحاصل دادے چه دانسبة اول متبوع ته مقصودنه وی بلکه داتابع ته وی اودی متبوع ته به توطیةًاوتمهیدآوی په

نسبة سره تابع ته لپ تکوی النسبة توطية غرض دشارح دفع دسوال ده چه هر کله مقصود بالنسبة تابع دے نو متبوع ولی ذکر کوی ؟

جواب:داتوطية او تمهيداً ذکرکوو.سوال:دی ته څه ضرورت دے ؟جواب:هرکله چه نسبة ددغه شيئ دی متبوع ته اوضو او دامعلوم ته وو نو دانه منزله داجمال شواو بياچه تابع ذکرشونوداپه منزله دتفصيل شولودادپاره دتفصيل بعدالاجمال دے او داواقع بی الذهن وی .

سوال:ستامراديه دنسبه نه په طريقه داسنادوی نو ضربت زيداخاك برينه خارج شو ځکه دضرب نسبة دلته په طريقه داسنادنه دے بلکه په طريقه دوقوع اوتعلق سره دے

جواب:سوالگان حاصل دادے چه دانسبة عام دے که داپه طريقه داسنادوی لکه جاءنی زيداخوك اوکه په طريقه دغيراسناد وی لکه ضربت زيداخاك واحترزغرض دښا ح

دقيوداتوفوائدبيانوی اوجامعية،مانعية ښکاره کوی نو مقصود قيد سره احتراز اوسو عن النعت والتاکيد وعطف البيان ځکه چه دی کښي تابع مقصود نه وی بلکه ددی متبوع مقصودوی اوتابع دپاره دتاکيد يادوضاحة يادپاره ددلالت علٰی المعنٰی وی دونه سره احتراز اوشو دعطف باحرف ن ځکه دی ښي دواړه مقصودوی تابع مع المتبوع ولايصدق الحد دادهغه قيد دابتداء فائده ده او دفع دهغه سوال هم ده او داسوال نه منعية دے چه داتاچه گوم تعريف اوکړو داصحيح ندے ځکه دامانع ندے داخليږی پکښي معطوف په کلمه دبل سره لکه جاءنی زيد بل عمرو زيد راغی ماته وی توبه عمرو راغی اوس دلته مقصود بالنسبة دامعطوف (تابع) دے نه معطوف عليه (متبوع) حالانکه دا خو بدل نه دے.جواب دلته اولاً مقصودبالنسبة متبوع وی نو بيا دخطادوجی نه تابع مقصد شی يعنی داول وهلة نه تابع مقصود نه وی او په بدل کښي اولاً مقصود بالنسبة تابع وی يعنی داول وهلة نه تابع مقصودوی نو دخارج دے.فان قيل دايو بل سوال دے په جامعية باندی حاصل دسوال داد، چه ستادتعريف نه د امثال خارج شو چه ماقام احدالازيد مراد ددی مثال نه هر هغه ترکيب دے چه مستثنٰی راشی په طريقه دبدلية سره نو دلته دی مذکور مثال کښي دازيد بدل دے داحد نه نو مبد

منه ته نسبة دنفی دے او بدل ته نسبة داثبات دے ولی چه الامابعد خپل دماقبل ضد
گرځویبو هغه نسبة چه متبوع ته کیدلوهغه دنفی وو او هغه نسبة کوم چه تابع ته کیدلو
هغه داثبات دے نو تابع مقصود بالنسبة نه شو بلکه دهغه په ضد باندی شو.جواب:قلنا
حاصل ددے چه نسبة چه تابع او متبوع ته شوی دے نو هغه یو دے چه نسبة دقیام دے
فرق دومره دے چه یو کښې نسبة اثباتاً او بل کښې نفیا دے او مرادزمونږ ددغه نسبة
دشیئ نه اتحاد فی الجنس دے نه اتحاد فی الشخص یعنی مراد نسبة د فعل دے بیا که
نفی وی یا اثبات داضروری نه ده چه دی کښې دې هم متحدوی.سوال:تاخو داخبره اوکړه چه
دامتبوع به توطية او تمهیداً وی نو چه متبوع نفیا ده او تابع اثباتاً ده نو نفی داثبات دپاره
څنگه تو طیه او تمهید گرځی؟جواب ویمکن حاصل دادے چه ولی نه گرځی داکیدلے شی په
دی شان سره چه مقصود دمتکلم اثبات د یو وی او منفی کول ددی بل وی نو چه کوم نفی
کوی هغه توطئة او تمهیداً ذکرکړی اوداپل مقصوداً.

اقسام دبدل یعنی تقسیمات ثلاثة:نو دی کښې دری/۳ تقسیمات دی او هر یو کښې
څلور/۴ اقسام دی نو داتول دولس شول اول تقسیم کښې اقسام اربعه(۱)بدل الکل من
الکل(۲)بدل البعض من الکل (۳)بدل الاشتمال (۴)بدل الغلط بیا دویم تقسیم کښې
(۱)معرفتین(۲)نکرتین(۳)نکره معرفه(۴)معرفه نکره بیا دریم تقسیم کښې
(۱)ظاهرین(۲)مضمرین(۳)ظاهر مضمر(۴)مضمر ظاهر

فائده:داتقسیم ثانی او تقسیم ثالث په دی اول هر قسم کښې راځی نو پی اعتبارپیاتول اقسام
څلور شپیته/۶۴ جوړیږی.مثلاً بدل الکل کښې معرفتین نکرتین نکره معرفه معرفه نکره نو
اول څلورلره په څلور کښې ضرب سره شپاړس/۱۶ او بیاداهرواحد په دی نوروڅلوروکښې نو
شپاړسولره په څلورکښې ضرب سره څلور شپیته/۶۴ شول.

وهو بدل الکل هرکله چه فاغ شو مصنف دتعریف دبدل نه نو شروع ئی اوکړه په تقسیم
دبدل کښې نفس تقسیم څکه کوی چه په تعریف سره د شیئ وجود ذهنی معلومیږی

اوتقسیم سره وجود خارجي تو اوس ورله وجود خاجي معلوموی نو په تعریف سره ئې لحاظ داذکـ"یاـ" اوکړواو په تقسیم سره دغیر اذکیاؤخکه طالبان دعلم ټول یو شان نه وی

بیاداتقسیم اول دے یکښې څلور/۴ اقسام دی (۱) بدل الکل(۲) بدل البعض(۳)بدل الاشتمال(۴)بدل الغلط

وجه حصر په دی څلورواقساموکښې :دبدل او مبدل منه په درمیان کښې به یامناسبة وی اویانه که مناسبة نه وو نو بدل الغلط اوکه مناسبة وو نو دامناسبة نه یا دملابسة وی او یاغیر ددی که دملابسة وو نو بدل الاشتمال هو که غیر دملابسة وی نو یابه دکلیة وی یاجزئیة که د کلیة وی نو بدل الکل نو که دجزئیة وی نو بدل البعض.

ماتن اوی هو شارح وائي ای بدل الکل غرض دشارح تعیین دمرجع کوی .انواع ارتعة کابلی صاحب ددی عبارة فائده دابیانوی چه مصنف اشاره کوی چه عطف مقدم دے په ربط باندی څکه چه کله مبتداء مفردوی او اخباورله متعدد وی نو دهغی نه تعبیر په شئ واحد سره کیږی څکه شارح انواع اربعة اوی . خو داخبره موټره تفصیلاً وتیلی ده چه کله مبتداءمفردوی او اخبارمتعددنو هلته ربط مقدم وی په عطف باندی لکه دلته ربط مقدم دے څکه هرواحد ددی اخبارونه صلاحیة دخبریة لری.

سوال :نو ددی انواع اربعة فائده څه شوه ؟جواب:داپه منزله داجمال دے او روستو تفصیل دے او تفصیل دعدالاجمال خو اوقع فی الذهن وی. ای بدل هو کل المبدل غرض دشارح په دی عبارت سره یو تعیین کول داضافة دبدل وی کل ته نووی اضفة بیانیه دے دویم اشاره کوی چه په الکل کښې الف"لام"عوض دے اصل عبارت کل المبدل منه دے بیاچه قطع دترکیب اضافی په حذف دمضاف الیه او شوه نو عوض کښي الف لم داغئ ماتن اوی والبعض او شارح وائی وبدل البعض داشاره کوی دی خبری ته چه داالبعض عطف دے په الکل باندی او ماقبل دمعطوف علیه نه معادوی په معطوف کښې بیا شارح اوی ای بدل هو بعض المبدل منه هغه زره خبره ده .فالاضافة فیهما مثلها فی خاتم فضة غرض دشارح پدی عبرت سره

تعیین کول دی چه دی دواړوکښې اضافة بیانیه دے . وبدل الاشتمال ای بدل مسبب غالبا عن اشتمال احد المبدلین علی الاخر غرض د شارح په دی عبارت سره یو تعیین داضافة کوی دبدل اشتمال ته چه داضافة لامیه دے دویم غرض دشارح اشاره کوی دی خبری ته چه په الاشتمال کښې الف "لام" عوضو دے دریم غرض دشارح دفع دسوال ده هغه داچه مخکښې په دی دوه ۲/ کښې دبدل اضافة بینیه وو نو دلته به هم داسی وی خکه عبارت په یو ترتیب سره منسلک کول بهتر دی ددی نه چه منسلک شی په مختلفو طریقو سره نو دلته هم داعبارت داسی پکاردے حالانکه شارح خو څه بل څه وائی .جواب:آو داقانون خودے خو دامشروط دے په دی شرط چه فساد فی المعنی نه راځی اودلته خو فساد فی المعنی لازمیږی هغه داچه که داضافة بیانیه شی نو دی کښې به عینیة راځی حالانکه دمبدل منه او اشتمال درمیان کښې غیر عینیة دے نو داضافة لامی دے . ای بدل مسبب علاقة دسببیة او مسببیة ده پکښې اوهغه مضاف الیه احدالمبدلین علی الاخردے یو دمبدلینو نه به مشتمل نوی په دی بل داندی په دی سره سوال دفع شو چه مراد به دلته اشتمال دبدل وی په مبدل منه باندی نو نقض دی راغلوبه دی قول دالله دندی ﴿یسئلونك عن الشهر الحرام قتال فیه﴾ خکه رلته دا الشهرالحرام مبدل منه دے او قتال بدل دے او دلته خو قتال نه دے مشتمل په شهرحرام باندی بلکه معامله عکس ده خکه دې شهر حرام په دی قتال باندی احاطه کړی ده په دی مناسبة سره چه په دی وقت کښې کوم شیئ واقع شی نو داوقت په هغی محیط دے .جواب :دامضاف الیه زه عام وایم بدل نه وایم چه احدالمبدلین دے نو اوی دادواړو صورتونو ته شامل شو سوال :اعیبنی زید علمه کښې خلق وائی زید مبدل منه دے او علمه بدل دے الانکه نه زید په علم مشتمل دے او نه عکس چه علم مشتمل شی په زید باندی عدم اشتمال دعلم په زید واضح دے اوهر چه عدم اشتمال دزید په علم دے نو هغه داسی چه اشتمال عبارة دے داحاطه نه او زید خوپه علم احاطه نشی کولے خکه داخوامرمعنوی دے.

جواب:غالباًقید پکښي معتبر دے یعنی دااشتمال دیو دمبدلینو نه به وی خو غالباً نه په هر یو ترکیب کښي او دو مره قدر دوجه تسمیه دپاره کافی دے .سلب زید ثوبه دامثال دے دپاره دبدل الاشتمال دلته زید مبدل منه دے او ثوبه بدل دے نو دلته ثوب مشتمل دے په زید اویابالعکس .... فالاول هرکله چه فارغ شو مصنف داجمال داقسام اربعه د بدل نه شروع ئی اوکړه په تفصیل ددی کښي او داتفصیل په اعتباردتعریف سره دے ماتن الاول اوی شارح اوی بدل الکل غرض د شارح تعیین داول کول دی اودویم دفع د وهم کوی چه مرادبه داول نه اول اضافی وی چه د هغی اطلاق په بدل الاشتمال هم کیږی ځکه هغه اول دے په نسبة دبدل الغلط سره نو شارح داوهم دفع کړوچه مراداول نه حقیقی دے نه اضافی مدلوله مدلول الاول شارح وائی متمدان ذاتا غرض دشارح په دی عبارة سره دفع دسوال ده چه مدلول مفهوم او معنی الفاظ مختلفه دی او مقصد ئی واحد دے یعنی دلفظ نه چه کوم فهم کیږی نو په اعتبادفهم سره ورته مفهوم وائی او په اعتباددلالت سره مدلول او په اعتبادقصد سره مقصود او معنی ده نو دی کښي اتحاد ذاتی او فرق اعتباری دے نو مقصد داچه معنی ددی به یووی او هغه لفظین چه معنی ئی یووی نو هغه منزارفین وی حالانکه مصنف چه کوم مثال پیش کړی دے چاءئی زید اخوک نو دی کښي دزید اواخوک په درمیان کښي ترادف نیشته دے ځکه زید حیوان ناطق مع هذاالتشخص دے اواخوک ای د مخاطب غیر معین دی نودی کښي نو مغائرة دے نه ترادف .جواب :مدلول په هره معنی ندے مراد بلکه رلته مراد ددی نه اتحاد فی الذات اواتحاد فی المصداق دے دانه چه معنه به ئی یووی فزید سره مصنف تطبیق کوی قال الشارح الرضی:یو غرض دشارح رضی دے اودویم غرض دشارح جامی دے؟غرض دشارح رضی صیب اعتراض دے په نحاتو باندې اوغرض دشارح جامی په دی عبارة سره جواب کول ددی اعتراض نه دی په خله د سیدالسند صیب حاصل داعتراض داده چه رضی صیب وائی چه زه سوچ او فکرکوم نو دادبدل کل او عطف بیان یو شیئ راته ښکاری فرق ددی په درمیان کښي نه معلومیږی مثلا جاءنی زید اخوک او جاءنی عمر ابو حفص

دایوشیئ دے لهذادی ځاتو لره پکار دی چه یاخوتوابع خلوراوګرځوی اوعطف بیان بدلکل کښي داخل کړی اویاخواقسام دبدل دی دری اوګرځوی اوبدل کل دی په عطف بیان کښي داخل کړی نو یو طرفته تغییر پکاردے .وماقالواداشارح رضی رد کوی په یو جواب باندی چاورته ددې مذکوراعتراض نه جواب اوکړو چه دی درمیان کښي فرق شته دے هغه داچه عطف بیان کښي مقصود متبوع وی اوبدل کښي تابع مقصودوی نو دضی صیب په دی جواب رد کوی چه داهم لانسلم نه منم ځکه دواړوکښي مقصود متبوع وی صرف دبدل په یو قسم کښي چه بدل الغلط دے هغه کښي مقصود تابع وی له چه متبوع نو اعتراض درضی صیب په خپل ځائے باقی پاتی شو.وقال بعض المحقیقن اوس ځانی صیب جواب کوی رضی صیب ته په خله دسید السند صیب باندی اوداجواب په حاشیه درضی هم شته دے حاصل داده چه په بدل کل او عطف بیان کښي فرق شته دے هغه داچه بدل کښي مقصودبالنسبة اصالةً تابع وی اوتبعاً متبوع وی اوپه عطف بیان کښي مقصود بالنسبة اصالةً متبوع وی اوتابع تبعاً وی.نو فرق واضح شو.والحاصل سره حاصل بیانوی او فرق واضح کوی چه که اول توطیه وه په منزله داجمال اوثانی مقصودوی اوپه منزله دتفصیل وی نو دابدل دے اوکنه اول مقصود وی او ثانی دپاره دوضاحة وی نو عطف بیان دے والثانی جزءه هرکله چه فارغ شو مصنف دتفصیل داول قسم دبدل نه چه بدل کل دے اوس ئی شروع اوکړه په تفصیل دبدل البعض کښي شارح وائی ای بدل البعض غرض دشارح تعیین دثانی کول دی جزءه ای المبدل منه داتعیین دمرجع کوی دضمیر دجزءه سوال په عطف بالحرف کښي مونږه یو قانون وئیلی دے چه عطف دَاسمینو په معمولینودعاملینومختلفینو باندی په حرف عطف واحد سره ناروادے نو دلته خو ددی ارتکاب اوشوپه دی شان سره چه الثانی عطف دے په الأوّل باندی اوجزءه عطف دے په مدلول الأوْل باندي و عاملین ددواړه مختلف دی الاوْل کښیعاملِ ابتدآء ده او مدلول الاول کښي اضافة دے او حرف عطف یو دے چه"واو" دے .جواب:دلته ژه عطف دمنفرد علی المفرد نه وایم بلکه عطف دجمله په جمله باندی وایم په دی شان سره چه الثانی

مبتداءاوجزءه خبر مبتداءخبر جمله معطوفه ده اوماقبل جمله معطوف عليه ده .

سوال:تاآوی ثانی په جزء وی چه بدل بعض دے نو ثانی خو دابدل دے اوبدل خو لفظ وی اولفظ دماقبل نه جزءنه وی بلکه مدلول اومفهوم دماقبل نه جزءوی اودلته خومدلول او مفهوم دسره نه شته دے نه څکه داعطف دجملې په جمله شوه ؟جواب:دلته مقدر عبارة دے ای والثاني مدلوله مدلول جزءهو مدلول يکښې راغلو او قرينه پدې باندي دا لفظ دَ مدلول دے چه اول کښې ذکردے مثال ضرب زيد رأسه نو رأس دزيد نه جزء دے

والثالث:ای بدل الاشتمال بينه وبين الاول ملابسة داتفصيل ددريم قسم کوی شارح تعيين داثالث کوی .نو دهغه دے چه په درميان دمبدل منه او بدل کښې ملابسة او تعلق دمالکية او مملوکية شته دے حالانکه دی ته خو ک بدل الاشتمال نه وائي .جواب:بحيث حاصل دادے چه مراد مطلق ملابسة نه دے بلکه هغه تعلق مراددے چه کله ته هغه متبوع ته نسبة اوکړی نو په اجمالي طريقې سره دغه تابع ته نسبة کيږی لکه اعجبنی زيد دلته داتعجب نسبة زيد ته او شو نو داخبره خو ضاهرهده چه په تعجب کښې انسان لره ذات دزيد نه اچوی څکه ذات دزيد خوحيوان ناطق مع مذاالتشخص دے نو اوس ددی نسبة نه اجمالاً خبره ذهن ته راځي چې په دی زيد کښې به څه اوصاف اوڅه کمالات وی چه دهغې دوجې نه به داتعجب راغلي وی نو چه هرکله تاروستو علمه اوی نو خبره واضح شوه اوس دغه مثال مذکورچه جآءني زيد غالمه دے دی کښې مجيئ نسبة زيد ته شوی دے اودانسبة تام دے بل چاته پکښې اجمالاً نسبة نيشته دے څکه دامجئ تعلق دذات دزيد سره ساتی نه داوصافو دزيد سره نو چې تا غلامه اوی نو موږ ته معلومه شوه چه سری غلط شوی دے زيد ئی نه مراد بلکه غلام دزيد ئی مراددے نو هرملابسة نه دے مراد سلب زيد ثوبه دامثال دے اوس تطبيق داسی دے چه هرکله سلب زيد ذکرشو نو اجمالً دا خبره ذهن ته راغله چې داسلوب زيد نه دے بلکه يو بل شيئ دے چې دزيد سره ملابس دے څکه زيد خو نه شي مسلوب کيدلے خو چې هرکله تا ثوبه اوی نو معلومه شوه چې زيد نه دے مراد بلکه

مشتمل دزيد مراددے يې ثوب دے په خلاف د ضربت زيداً محار هاو ضربت زيدًاغلامه سره سوال دملابسة په درميان دمتبوع اوتابع كښې په بدل كل او بدل بعض كښې هم شته دے متبوع كل او تابع كل يا متبوع كل او تابع بعض دے دَ يو دَ ذكركيدوسره اجمالاً هغه بل ته راځي نو داولې نه داخلوی دي كښې ؟جواب:بغيرهما هغه دواړه نه دي مراد فيدخل ی دشارح دفع دسوال ده چه حصر داقسامو دبدل په دې څلور كښې صحيح نه دے دوجې دوجود دقسم خامس نه هغه داچه مبدل منه جزءاوبدل كل وی .جواب:مونږوايوچه په درميان دبدل او مبدل منه علاقه دملابسة وی خو علاوه ددغه مخكښې كلية.جرئية نه نو ددی نه علاوه چه څومره دی نو داپه بدل الاشتمال كښې داخل دی لهذاداقسم خامس چه تاكوم اوی چه مبدل منه جزءاوبدل كل داپه بدل الاشتمال كښې داخل دے مثال نظرت الی القمر فلكه دلته قمر مبدل منه دے اوداجزءدے او فلك بدل دےاوداكل وے.والمناقشة دى كښې اشاره ده اعتراض ته او مناقشة فی المثال كښې اشاره ده جواب ته اعتداض دادے چه ته وائې چه قمر جزء دے او فلك ورله كل دے نو داخبره زه نه منم ځكه داقمر دفلك نه جزءنه دے بلكه دا قمر په دې فلك كښې مركوزدے لكه قدماءفلاسفر څنگه وائې جواب:دامناقشه ده په مثال باندې او مناقشه په مثال باندې داب محصلينونه دے ځكه چهمثال دممثل څيل دپاره مضع وی نه مثبت نو كه ته په مثال باندې مناقشه كوې نو هغه په داسې مثال پيش كړې چه بيا به پرې ته مناقشه نه شې كولې ويمكن ان يورد لكه دايو بل مثال دے ددی دپاره چه رأيت درجة الاسد برجه دي مقام كښې دادرجة الاسد مبدل منه جزء دے او برجه بدل كل دے.وضاحة ددیخبرې دادے چه ونيلې شوی دی چه دكال داسمان دپاره ۱۶۰ درجات دی او ۱۴ برجه دی او په هر برج كښې ۳۰ درجات دی نو دادرجةالاسد يكښې جزءدے او برج ورله كل دے.خه نو اوس دی مثال كښې څوك مناقشه نه شی كولې .سوال داخان سره مستقل قسم ولې نه گرځوی چه په بدل الاشتمال كښې ئې داخلوی؟جواب:واثماثم دانادردے اوقليل دے او هدوواقع نه دے نو دي لره څه اعتبادے

څکه دامثله دځان نه جوړشوی دی.والرابع هرکله چه فارغ شو مصنف دتفصیل ددریواقسامو دبدل نه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل دڅلورم قسم دبدل کښې فقال والرابع شارح تعیین داربع کوی چې بدل الغلط دے ان تقصد ای یکون بان تقصد غرض دشارح په دې عبارت سره دفع دسوال ده چه رابع عبات دے دبدل الغلط نه اوبدل الغلط صفة دلفظ اواسمدے او ان تقصد صفة دمخاطب دے اوبل طرفه خوی سوونیلی دی چه تعریف په معرف باندی حمل وی نو رلته حمل نه دے صحیح یو خو ددی وجې نه چې داصفة دمخاطب څنګه ته تفسیر دلفظ دپاره وقع کوی اوبل حمل دمبائن په مبائن راځی دواړه ناروادی ؟جواب:دلته پکښې یکون پروت دے اوان تقصد په تقدیر دباءحرف جرسره دے یعنی په سبب دقصد ستاتو یکون کښې ضمیرراجع دےبدل ته او هغه صفة دلفظ وو اوبان تقصد داقصد سبب ګوځول هم صفة دلفظ دے نو هیڅ نقصان رانغلو.

فائده:دی نسخه کښې دیکون نه مخکښې داان راغلی دے نو داغلط دے اصل عبارت دادے ای یکون بان تقصد ان پکښې نه دے صحیح الیة ای الی البدل تعیین دمرجع اوشو من غیره ای من غیر البدل داهم تعیین دمرجع دے او بیامردهغه مبدل منه دے.مثال تاوی جاءنی زید اومراد ستا جاءنی حروونو ته اوائی جاءنی زید حمار نو داحماربدل الغلط دے دزید نه هغه ورله مبدل منه دے.

ویکونان هرکله چه فارغ شو مصنف دتفصیل دتقسیم اول نه په اعتبار دذات سره نو اوس ئی شروع اوکړه په تفصیل دتقسیم ثانی کښې چه داپه اعتبارداحوال دے فقال ویکونان معفتین لکه ضرب زید اخوک دلته زید او اخوک دواړه معرفی دی نکرتین لکه جاءنی رجل غلام لک دواړه نکری دی مختلفین دی کښې بیاودوه/۲ صورته دی صورت اولی چه مبدل منه معرفه وی اوبدل نکره لکه بالناصیة ناصیة کاذبة صورت ثانیه چه عکس ددی وی یعنی مبدل منه نکره وی اوبدل معرفه وی لکه جاءرجل غلام زید شو.اوس داتول متعمل وو خو دادریم قسم چه مبلدمنه معرفه اوبدل نکره وی دائه وو مستعمل مګرپه یو شرط سره نو هغه شرط ورله

بیانوی فقال واذاکان البدل نکره مبدلة عن المعرفة فالنعت حاصل دادے چه لکه مبدل منه معرفه وه اوبدل نکره وه نو دبدل دپاره واجب دے دنعت نه ای نعت البدل النکرة واجب غرض دشارح یو اشاره کوی دي خبری ته چه الف"لام"په النعت کښي عوضی دے اوبل دفع دسوال ده هغه داچه فالنعت جزاء ده ځکه فآء پری داخله ده او جزاء خو جمله شوله.سوال:کله چی بدل نکره وي او مبدل منه معرفه وی نو دبدل دپاره نعت او صفة واقع کیدل ولی واجب دی؟جواب: لئلایکون المقصود انقص من غیرالمقصود چه مقصود دغیر مقصود نه من کل وجه کم نه شی ځکه معرفه اوچته ده دنکری نه نکره لاندی ده دلته غیر مقصود چه مبدل منه دے دااعلی واقع شو او مقصود چه بدل دے داناقص واقع شو نو نعت سره به تکمیل راشی .سوال:نو په نعت باندی خو دغه نکره دنکارت نه نه اوځی؟نو څه فائده شوه؟

جواب:فاتوابه دوی راتلل کړی دی په دی باندی اگرچه نکارة پری نه ختمیږی خو دهغه نقسان دپاره به ښتیّ شی مثال ئی بالناصیة ناصیة کاذبة دے.

"ویکونان" دااوس تفصیل دهغی دریم تقسیم کوی داهم په اعتبارداحواوسره دے اودی کښي هم خلور/۴ اقسام دی اول ظاهرین که جآءنی زید اخوک دلته زید اواخوک دواړه اسم ظاهر دی دویم مضمرین لکه الزیدون تقیتهم ایاهم شو.اومختلفین کښي دوه صورته دی یو داچه مبدل منه اسم ضمیر وی او بدل اسم ظاهر لکه اخوک ضربته زیداً او بدل اسم ظاهر لکه اخوکضرتبه زیداً اودویم دا چه عکس ددی صورت وی یعنی مبدل منه اسم ظاهراو بدل اسم ضمیر لکه اخوک ضربت زیداایاه بیارلته هم دایو قسم دپاره شرط دے نو هغه بیانوی نووی الایبدل ظاهر من مضمر بدل الکل الامن الغائب یعنی هغه ضمیر چه دغائب وی دهغه نه بدل کل اسم ظاهر واقع کولے شي خو ددی نه علاوه چه ضمیر دمتکلم او مخاطب دے نو دهغی نه اسم ظاهر په بدل کل سره نه شی راتلی سوال داولی ؟جواب لان المضمر المتکلم ضمیر دمتکلم او مخاطب اقوی دیاوخاص دی دلالة په اعتبار ددلالت سره دظاهر نه

نو که بدل واقع شی اسم ظاهر ددواړونه په بدل کل نو لازم به شی انقص والی دمقصود دغیرمقصود نه سره ددی نه چه ددواړو مدلولین یو دی موال نو بیادی دهپه بدل بعض او غلط او اشتمال کښې هم ناروانشی حالانکه هلته خوتاسودصحة عول کوی؟جواب :هلته مدلول د مبدل منه او دبدل جدادے نو همته انقصیه دمقصوددغیرمقصود نه نه راځی دوجی دمخالفة دمعنی نه نو اشتریتک نصفک وئیل جاتزدی داپه بدل البعض کښې چه داسم ظاهر بدل وی دضمر دمخاطب نه اشترینتی نصفی دابدل تعض دے اسم ظاهر دے دضمیر دمتکلم نه اعجبتنی علمک دابدل اشتمال دے چه اسم ظاهر واقع شوی دے دضمیر دمخاطب نه اعجتک علمی دابدل اشتمال دے چه اسم ظاهر واقع شوی وی دضمیر دمتکلم نه وضربتک الحمار دابدل غلط دے چه اسم ظاهر واقع شوی دضمیر دمخاطب نه وضربتنی الحمار دابدل غلط دے اسم ظاهر واقع شوی وی دضمیر دمتکلم نه .

عطف البیان

عطف البیان تابع غیر صفة :اجمالی خبری ددی معام(۱)ربط(۲)مغوی تحقیق دعطف البیان(۳)اصطلاحی تعریف(۴)وضاحة بالمثال(۵)لفظی فرق په درمیان دعطف بیان اوبدل کښې.

(۱) ربط:معنوی دبط دادے کوم چه مختصر دے نو هر کله چه فارغ شو مصنف دتفصیل د خلوروتوابعونه نو شروع ئی اوکړه په تفصیل دپینځم قسم دتوابعو کښې چه عطف بیان دے فقال عطف البیان نو دری سوالات راپیداشول(۱)نفس تفصیل ولی کوی؟(۲) تفصیل په دی مقامکښې ولی کوی ؟(۳)تفصیل څنګه کوی؟جوابات بالترتیب داسی دی(۱)نفس تفصیل څکه کوی چه تفصیل بعدالاجمال اوقع فی الذهن وی اوبل داتفصیل نه محتاج هم دے اومحتاج الی التفصیل خلق تفصیل کوی(۲)تفصیل دی مقام کښې څکه کوی چه داپه نسبة سره مابعد نه قلیل وو نو دتولو توابعونه پئی روستو په آخر کښې ذکرکړو البته دبدل پس

متصل څکه ذکر کړو چه ددی او دبدل په درمیان کښې دومره فرق نه وو څکه خو رضی صیب سوچ کښې واقع شوی دے اواعتراض ئی کړی دے چی دانحاۃ ولی عطف بیان مستقل قسم دتوابع ګرځوی.

(۳)تفصیل داسی کوی چه یو به تعیین اوکړی دبینځم تابع په لفظ دعطب البیان سره دریم به تعریف ددی اوکړی تابع غیر صفة توضح متبوعه سر دریم مثال به ورله بیان کړی مثل اقسم بالله ابوحفص عمر سره څلورم دعطل البیان او بدل درمیان کښې به لفظی فرق بیان کړی وفصله من البدل لفظاً فی مثل انا ابن التارك سره او هر چه ربط تفصیلی دے نو هغه دادے چه داکتاب په دری/۳ حصو باندی مشتمل وو (۱)خطبه(۲)مقدمه(۳)مقصود په خطبه دکتاب کښې دری/۳ خبری وی یو صراحةً وی چه څغه تسمیه ده اودوه اشارةً چه هغه حمراوصلوة وو او به مقدمه دا کتاب کښې پینځه خبری وی یو تعریف دکلمی دویم اجمال اقسام دکلمی دریم وجه دحصر په اقسام دکلمه کښې څلورم تعریف دکلام او پینځم اقسام دکلام او په مقصود دکتاب کښې دری/۳ مباحث وو بحث اول په بیان دایم کښې بحث ثانی په بیان دفعل کښې بحث ثالث په بیان دحرف کښې بیا په بحث الاسم کښې دری●خبری دی یو مقدمه دزیم معصود دریم خاتمه بیا په مقدمه کښې دری خبری دی تعریف داسم او خواص داسم او تقسیم داسم اجمالاً معرب او مبنی ته او مقصود کښې دوه/۲ بابه دی باب ول فی المعرب او باب ثانی فی المبنی دے او خاتمه په سو خبروباندی مشتمل ده بیا په اول کښې پینځه خبری دی یو مقدمه مقاصد ثلاثه او خاتمه نو مقدمه کښې لس دا خبری دی مقصد اول کښې اوو/۵ مرفوعات دی مقصد ثانی کښې دولس/۱۲ منصوبات دی مقصد ثالث کښې دوه مجرورات دی او په خاتمه کښې پینځه توابع دی نو هر کله چه فاغ شو مصنف په خاتمه کښې دتوابع اربعه نه نو شروع ئی اوکړه په تابع خامص کښې چه هغه عطف بیان دے فقال عطف لابیان ربط لفظی دادے عطف البیان مبتداءده او تابع الخ ورله خبر دے

نو مبتداء او خبر جمله اسمیه شوه.

لغوي تحقیق په عطف البیان کښي :په دې عنوان کښي عام طور سره ددریو/۳ جیزونو واکیدے شي یو صیغه دویم معنی لغوي دریم وجه تسمیه یعنی مناسبة په درمیان دمعنی لغوی او اصطلاحی کښي نو عطف صیغه دمصدر ده په معنی دمیلان سره او بیان هم صیغه دمصدر ده په معنی دوضاحة سره نو عطف البیان معنی هغه میلان چه په طریقه د وضاحة وی نو مصطلح عطف البیان ته هم ځکه عطف البیان وائی چه بکښي میلان وی په طرف دمتبوع په طریقه دتوضیح سره نه په طرقه دمقصودیة بانسبة سره .

(۳)اصطلاحی تعریف:داماتن کوی چه عطف البیان تابع غیر صفة یوضح متبوعه شارح په حرف فوائد دقیوداتو بیانوی نو وی تابع په منزله جنس ده شامل لجمیع التوابع تولو توابع ته شامل ده .غیرصفة په منزله دفصل اول دے احترز به عن دي سره اترازاوشو دصفة نه ځکه هغه غیر صفة نه وی بلکه یو معنی وی چه په متبوع کښي وی یوضح متبوعه داپه منزله دفصل ثانی دے احترزبه عن البدل و عطف بالحرفیه دي سره احتراز او شو دبدل نه ځکه په بدل کښي تابع مقصود وی دپاره دوضاحة د متبوع نه وی او دعطف بالحرف نه هم احتراز او شو ځکه دی کښي تابع او متبوع دواړه مقصود وی فقط تابع نه وی مقصود او دتاکید نه ځکه هغه تقریر د امر دمتبوع کوی دتوضیح دمتبوع ولایلطم من ذالک غرض دشارح په دی عبارت سره دفع دسوال کول دی هغه داچه مستاددی تعریف نه دامعلومه شوه چه عطف بیان کښي به داتابع اوضح وی دمتبوع نه حالانکه مونږه خو داسی امثله هم لیدلی دی چه په یو سره نه شی راتلی انفراداً نو داشیئ عام دے کله به دواړه اوضح وی او کله به دواړه مساوی وی او کله تابع اوضح متبوع غیر اوضح او کله تابع غیر او ضح متبوع اوضح وی .

سوال:نو په مساوی او یاادنی سره خو وضاحة او توضیح نه راځی؟جواب:کله کله انفراداًیو شیئ ذکرشی نو وضاحة دهغی نه راځی خو چه بل ورسره یو ځاے کړے شی اګرکه ورسره

مساوی وی او پابرینه ادنی وی نو دهغی بیا وضاحة پوره پوره راځی

(۴)وضاحة بالمثال:اقسم بالله ابو حفص عمر دلته داابو حفص تابع دے او عمر ورله متبوع عطف بیان دے پابو حفص سره غرض دشارح تطبیق دمثال کول دی دممثل سره .سوال ماتن مثال کښې قسم ولی ذکرکوی؟جواب:داخویوه قیصه ده کنه قصة انه اتی الی عمر بن الخطاب یو دیهاتی راغۍ عمررضی الله عنه ته ئی اوی زماالښ لرے دے بعید دے اوماسره داسی اوښه ده چه شاه کښۍ زخمی ده او خواره ده او دهغی سوی سورے شوے دی اوزمی شوی دی نو طلب د سورلیے ئی اوکرو د عمر نه فظنه انه کاذب چه داخودروغ وائی نو سورلیے ورنکړه او بعض روایاتو کښې دی چی قسم ئی او خوړوچه ته دروغ وائی نو دااعرابی روان شو او دااوښه ئی روانه کړه او بطحاءته لاړو یعنی کاږڼ مقام پانوم ددغه مقام بطحاء وو نو روان وو اوداشعرئی داځان سره وی

اقسم بالله ابوحفص عمر مامسها من نقب والدبر

اغفرله اللّٰهُمَّ ان کان فجر

ترجمه:قسم اوخوړو ابوحفص عمر په الله چی نه دی نرمی شووی سوی ددی سورلوی اونه ئی ملا زخمس ده نو بخښنه ورته اوکړی یاالله که دې صادق نه وی .

نو عمررضی الله عنه رامخامخ کیدونکی دجانب ددغه دادی نه نو چی اعرابی نه وی اغفرله نو عمررضی الله عنه به وی اللهم صدق صدق بیادیوبل سره ملاوشو نو دهغه سورلی ئی اوکتله هغه خرابه وه نو خپل اوښ ئی ورله ورکړو او توښه ئی ورمله هم ورکړه نو داقسم ددی دوجه نه خوړلے شوی دے.

(۵)فرق په درمیان دبدل او عطف بیان کښې لفظاً : وفصله ګوره فرق معنوی موثر په درمیان ددی دواړوکښې وئیلی دے هغه داچه په عطف بیان کښې مقصودبالنسبة اصالة

متبوع وی اوتابع د
پاره دتوضیح وی او په بدل کښې متبوع تو طیهٔ وی او مقصود بالنسبة تابع ووی اوس فرق لفظی څنګه دے نو هغه ماتن بیانوی وفصله ای فرقه دادفع دوهم ده چه فصل به دلته په معنی اصطلاحی سره وی نو داخونه صحیح کیږی نو شارح اوی نه داپه معنی مغوی سره دے په معنی دجدائی سره .لفظاً ای من حیث الاحکام اللفظیة غرض دشارح وجه دنصب دلفظاً بیانوی ی داتمیز دے څکه خو په دی حیث راوړو.واقع فی مثله ماتن فی مثل وئیلی وو او شارح ورسره واقع اوی یو خوداتعیین دمتعلق دجارمجرور شو او دویم اشاره کول دی اعراب ددی ته چه دامرفوع دے په اعتباردمتعلق سره چه واقع دے اوخبر دے دپاره دفصله مبتداء.انابن التارک الخ فان قوله ددی مقام نه داشرح چی تر المبنی بوری ده نو ددی خلاصه داده چه شارح په درمیان دعطف بیان او بدل کښې فرق ذکرکوی چه دلته په شعر کښې عطف بیان واقع کیدل صحیح دی او بدل واقع کیدل صحیح نه دی .دایوه خبره شوی.دویمه خبره داچی ددی شعر تکمیل به اوکړی دزیمه دشعر ترکیب به اوکړی څلورم دشعربعض الفاظو معنی به اوکړی او پینځم مرادددمثل داانابن التارک الخ به بیان کړی څکه قواعد دفن کلیه دی داپینځه خبری ددی حاصل او خلاصه ده .تفصیل داسی دے.اول خبره داده اوس دلته که دابشر مونږ دالبکری دپاره عطف بیان کړو نو څه قباحة پکښې نیشته اوکه داالبکری نه بدل شی نو بیاپکښې قباحة راځی په دی شان سره ه که دابدل شی نو مخکښې مونږه یوقاون وئیلی دے چه دابل په حکم دتکرار دعامل دمبدل منه کښې وی نو البکری کښې عامل التارک دے نو داپه بشر کښې هم عامل شو نو دابه التارک بشر شئ نو داترکیب پشان دالضرب زید شو او داخوناروادے اګرچه فرآءزور لګولی چه صحیح شی خو صحیح نه دے او داپه عطف بیان کښې نه راځی نو معلومه شوه چه عطف بیان دے نه بدل دویمه خبره عدت دشارح په دی جاری دے چه کله ماتن یو شعر غیر تام ذکرکړی نو دی هغه شعر تام او مکمل کوی نو داشعردمراراسدی شعر دے پوره دادے.

انا ابن التارک البکری بشر علیه الطیر ترقبه وقوعاً

دریمه خبره ترکیب:انا مبتداءابن مضاف التارک صیغه اسم فاعل معرف باللام البکری مبن بشر عطف بیان مبین سره د عطف بیان نه مفعول د التارک شو چه داپه معنی دقاطع سره شی .او که داپه معنی دمصیر سره شی نو دابیااوه مفاعیل غواړی نو داالبکری به ددی دپاره مفعول اول شی او داعلیه الطیر به ورله دویم مفعول شی.په دواړوترکیبوباندی التارک دقبیلی دااضافة د صفة نه ګرځی خپل مفعول ته ه ترقبه حال دے دالطیر ګه داد پاره دمتعلق دعلیه دپاره فاعل شی چی کائناعلیه الطیر نو کائنا سره علیه متعلق دے اوالطیر به ذوالحال شی او ترقبه به حال شی اوکه دالطیر مبتداء شی او علیه خبر مقدم شی په اعتباد متعلق چی کائن نو داترقبه بیاحال دے دهغه ضمیر مستترنه چه په متعلق دعلیه کښې دوی نو ترقبه په هراعتبارسره حال دے .وقوعاجمع دواقع ده داحال دے دفاعل دترقبه نه چی ضمیر دے او

راجع دے الطیر ته تو التارك اسم فاعل دے او البکری مفعول اول دے او علیه الطیر ورله مفعول ثانی دے ترقبه حال اووقوعاً حال بعد حال نو داټول به دالتارك دپاره مضاف الیه شی نو مضاف سره دمضاف الیه نه مضاف الیه شو داابن دپاره ابن مضاف اومضاف الیه مبتداءشو چی انا مبتداء دے او خبر جمله اسمیه شوه
اوکه التارك په معنی دمصیر سره شی نو دالبکری دبه ورله مفعول اول شی او علبه الطرز به ورله مفعول ثانی شی باقی ترکیب به خپل حال باندی دے .
خلورمه خبره:مراداسدی شعر وئیلی دےنو دي پکښې خپل شجاعت ښکاره کو نو موټر پوره معنی کوو نو التارك چی په معنی دقاتل سره شی نو معنی داده انا زه څوی دقاتل دبکری بشریم دابکری بشر په داسی حال کښې چی وی په ده باندی مارغان ترقبه وقوعاً داماغان په داسی حال کښې چه انتظارکوی دوتلودروحدده وقوعاً او دامارغان په داسی حال کښې چه واقع کیدونکی دی چرچبیره ددی نه اوکه تارك په معنی دمصیر سره شی نو معنی داده چه انازه څوی یم ګرځونکی بکری بشر لره علیه الطیر په ده باندی مارغانو لره ترقبه دامارغان په داسی حال کښې چه انتظارکوی دوتلو دروح دده وعوعاً داماغان په داسی حال کښې چه واقع کیدونکی دی چارچاپیره ددنه مقصد یو دے

لان الانسان داولی انتظارکوی ؟ ځکه چه په انسان کښې معمولی شان ساخ وی رمق وی ساه نو بیاورته مارغان نشی نزدی کیدلے.

پینځمه خبره:والمرادبمثل اودادفع دسوال هم ګرځی چه داخو فن دے او قواعد دفن کلی وی نو فن کښې کلیات ذکر کیږی نو دلته خو تاجزئ شیئ راوری دے؟جوال آو خو دامصدر دے په مثل سره اشاره ده پکښې کلیه ته تو هغه کلیه داده چه هر هغه ترکیب چه تابع عطف بیان واقع شوی وی دپاره یوداسی متبوع چه هغه معرف باللام وی او مضاف الیه وی دپاره دیو داسی صفة چه څغه هم معرف باللام وی .لکه دلته بشرتابع دے په خصورة دعطف بیان کښې دپاره دالکری چه معرف باللام دے او مضاف الیه دے دالتارك صفة باللام نوداپشان دالضارب الرجل او ګرځیدلواوداجائزدے ناروانه دے ویمکن ان یرادبه اد دویمه قاعده پیش کوی چه داسی هم ممکن ده چه هر هغه ترکیب مراددے چه تابع واقع شوی وی په هغی کښې چی موټر لی عطف بیان کرو نو یو حکم ئی وی او چه بدل شی نو بل حکم ئی وی فیتناول دافائده بیانوی چی داصورة دندآئله هم شاملیږی دلته .... که عطف بیان شی نو حکم جواز دے اوکه بدل شی نو حکم ئی عدم جوازدے .یاغلام زیدوزیداً دلته دازید که موټردغلام دپاره عطف بیان کرونوتنوین پری جائز دے که رفع ورکوی یانصب که رفع شی نو حملاً علی لفظه اونصب حملاً علی محله لیکن که دازید ډ یاغلام نه بدل شی نو بیا تنوین نه شی ورکولی بلکه مبنی برضمه به وی ځکه داپه حکم دتکرار دعامل کښې دے نو بآورسره

داغله نو دامفردمعرفه ده نو مبنی علی الضمه به شی .ترجمه اسانه ده .
سوال: ددی دواړاڅه حکم دے؟جواب:معنی الاول ظاهر والثانی افید څکه دی کښې عموم دے اود فن قواعدهم عام وی.

"تمت"

فہرست

"""تمت"""